سَرِيرِ الْمُلْك اسْتِوَاء يَلِيق بِهِ {يُغْشِى اللَّيْلَ النَّهَارَ} مُخَفَّفًا وَمُشَدَّدًا أَيْ يُغَطِّي كُلًّا مِنْهُمَا بِالْآخَرِ {يَطْلُبُهُ} يَطْلُب كُلّ مِنْهُمَا بِالْآخَرِ طَلَبًا {حَثِيثًا} سَرِيعًا {وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ} بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى السَّمَاوَات وَالرَّفْع مُبْتَدَأ خَبَره {مُسَخَّرَات} مُذَلَّلَات {بِأَمْرِهِ} بِقُدْرَتِهِ {أَلَا لَهُ الْخَلْقُ} جَمِيعًا {وَالْأَمْرُ} كُلّه {تَبَارَكَ} تَعَاظَمَ {اللَّهُ رَبُّ} مَالِك {الْعَالَمِينَ} {ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا} حَال تَذَلُّلًا {وَخُفْيَةً} سِرًّا {إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} فِي الدُّعَاء بِالتَّشَدُّقِ وَرَفْع الصَّوْت {وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ} بِالشِّرْكِ وَالْمَعَاصِي {بَعْدَ إِصْلَاحِهَا} بِبَعْثِ الرُّسُل {وَادْعُوهُ خَوْفًا} مِنْ عِقَابه {وَطَمَعًا} فِي رَحْمَته {إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ} الْمُطِيعِينَ وَتَذْكِير قَرِيب الْمُخْبَر بِهِ عَنْ رَحْمَته لِإِضَافَتِهَا إِلَى اللَّه {وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ} أَيْ مُتَفَرِّقَة قُدَّام الْمَطَر وَفِي قِرَاءَة بِسُكُونِ الشِّين تَخْفِيفًا وَفِي أُخْرَى بِسُكُونِهَا وَفَتْح النُّون مَصْدَرًا وَفِي أُخْرَى بِسُكُونِهَا وَضَمّ الْمُوَحَّدَة بَدَل النُّون أَيْ مُبَشِّرًا وَمُفْرَد الْأُولَى نُشُور كَرَسُولٍ وَالْأَخِيرَة بَشِير {حَتَّى إِذَا أَقَلَّتْ} حَمَلَتْ الرِّيَاح {سَحَابًا ثِقَالًا} بِالْمَطَرِ {سُقْنَاهُ} أَيْ السَّحَاب وَفِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة {لِبَلَدٍ مَيِّتٍ} لَا نَبَات بِهِ أَيْ لِإِحْيَائِهَا {فَأَنْزَلْنَا بِهِ} بِالْبَلَدِ {الْمَاءَ فَأَخْرَجْنَا بِهِ} بِالْمَاءِ {مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ كَذَلِكَ} الْإِخْرَاج {نُخْرِجُ الْمَوْتَى} مِنْ قُبُورهمْ بِالْإِحْيَاءِ {لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} فَتُؤْمِنُونَ {وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ} الْعَذْب التُّرَاب {يَخْرُجُ نَبَاتُهُ} حَسَنًا {بِإِذْنِ رَبِّهِ} هَذَا مَثَل لِلْمُؤْمِنِ يَسْمَع الْمَوْعِظَة فَيَنْتَفِع بِهَا {وَالَّذِي خَبُثَ} تُرَابه {لَا يَخْرُجُ} نَبَاته {إِلَّا نَكِدًا} عَسِرًا بِمَشَقَّةٍ وَهَذَا مَثَل لِلْكَافِرِ {كَذَلِكَ} كَمَا بَيَّنَّا مَا ذُكِرَ {نُصَرِّفُ} نُبَيِّن {الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَشْكُرُونَ} اللَّه فَيُؤْمِنُونَ

ترجمه: په حقیقت کښې ستاسو رب هم الله تعالی دې چاچې آسمانونه او زمکه دَ دنیا دَ ورځو دَ اندازې په اعتبار سره په شپږو ورځو کښې پیدا کړل ځکه چې هغه وخت نمر نه وو او که هغه غوښتل نو په یوه لمحه کښې به ئې پیدا کړی وو او په یوه لمحه کښې ئې نه پیدا کول خلقوته دَ تادئې نه کولو دَ تعلیم ورکولو دَ پاره دی. بیا (په خپل) **تخت شاهی باندې جلوه فرماشو** (عرش) په لغت کښې تخت شاهی ته وائی او په تخت باندې جلوه فرمائی نه مراد دَ هغه دَ شان سره مناسب جلوه ئې او فرمائیله، **هغه شپه ورځ یو بل داسې پټوی چې په دې کښې هر یو بل پسې شاته په منډه روان وی چاچې نمر سپوږمئی او ستوری پیدا کړل کوم چې دَ هغه د حکم تابع دی** (په دریواړو باندې) نصب دې سموات باندې عطف کولو سره، او رفع ده مبتداء کیدو دَ وجې خبر دَ دې مسخراتٌ، **خبردار اوسئ! ټول مخلوق هم دَ هغه دې او ټول دَ هغه امر دې، الله تعالی دَ لوئې برکت والا دې چې دَ ټولو جهانونو پروردګار دې تاسو خپل رب په ژړا ژړا پټ پټ رابلئ بیشکه الله تعالی بې احتیاطئ سره په زوره زوره په دعا کښې دَ حد نه تجاوز کونکی نه خوښوی او** دَ شرك او ګناه په ذریعه **په زمکه کښې فساد مه خوروئی،** دَ رسول دَ بعثت په ذریعه **دَ هغې د اصلاح کولو نه پس، دَ هغه د سزا او د رحمت په امید او ویرې سره هغه رابلئ، بیشکه دَ الله تعالی رحمت نیکانو حکم منونکو خلقوته نیزدې دې** او (لفظ) قریب کوم چې دَ رحمت مخبر به دې دَ

Scanned with

الله تعالی طرف ته دَ رحمت دَ اضافت دَ وجې نه مذکرراوړلې شوې دې اوهغه الله تعالی دې چې هواګانې دَ خپل رحمت نه وړاندې وړاندې وړاندې دَ زیری سره لیږی یعنی دَ باران نه وړاندې وړاندې خورې، او په یوقرآءت کښې دَ شین په سکون سره دَ تخفیف په توګه او دویم قراءت کښې دَ شین په سکون اود نون فتحې سره په توګه دَمصدر اودریم قراءت کښې شین په سکون او په ځائی دَ نون دَ باء په ضمې سره یعنی خوشخبری ورکونکې اود ړومبی مفرد نَشُور په وزن دَ رسول دې اودَدویم بشیرٌ دې اوبیاچې کله هواګانې دَاوبونه ډکې اوريځې اوچتوی نوموني دغه اوريځې دَ يومړې (اوچې) زمکې طرف ته ورشړو په دې کښې دَ غیبت نه التفات دې په کوم چې څه شینکې یا واښه وغیره نه وی، دَهغې دَ ژوندئی کولو (شنه)کولودَپاره، بیاموني په دې زمکه کښې اوبه راورُوو بیاموني دَ دغه اوبوپه ذریعه هرقسم میوې راوباسو، هم دغه شان به موني مړی ژوندی کولوسره دَ قبرونونه راوباسو دې دَپاره چې تاسو سبق حاصل کړئی اوایمان راوړئی اوکومه زمکه چې ښه وی (شور نه وی) نودَهغې نه دَخپل رب په حکم سره ښه پیداوار کیږی دادَمومن مثال دې چې هغه نصیحت اوری بیادَهغې نه نفع اوچتوی اودکومې زمکې خاوره چې خرابه وی دَهغې نه دَخراب پیداوارنه علاوه هیڅ نه حاصلیږی (اوهغه هم) په ډیره خوارئی سره، اوداد کافرمثال دې دغه شان څنګه چې موني مذکوره مثال بیان کړو دَ الله تعالی شکراداکونکو قومونودَپاره مثالونه بیانوو نوهغوی ایمان راوړی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اسْتِوَاءً يَلِيقُ بِه، په دې کښې اشاره ده چې استوٰی علی العرش دَ متشابهاتو نه دې دَدې حقیقی مراد هَم الله تعالی بهترپیژنی، يُغشي،أي يغطي، خوريدل پټول، هم دې نه دې غَشِيَتْهُ الحُمّى هغه له تبه راغله.

قوله: حثيثًا، داد حثّ نه مشتق دې اوداد طلبًا مصدرمحذوف صفت دې.

قوله: بالتَّشَدُّقِ، أي إظهار الفصاحة بالتكلف، تَشَدُّق، په تکلف سره فصاحت ښکاره کولودَپاره وښکی کولاوول، تَشَدُّق بالكلام وفيه، بغيردَاحتياط نه هرقسم خبرې کول.

قوله: وَتَذْكِيْرُ قَرِيْبُ الْمُخْبَرِبِه عَنْ رَحْمَةٍ لِاضَافَتِهَاإِلَى اللهِ، دَمذکوره عبارت اضافه دَ یوسوال جواب دې.

سوال: رحمة الله، إنَّ اسم دې او قريبٌ دَدې خبردې، اسم مؤنث دې اوخبرمذکردې په دواړوکښې مطابقت نشته قرينة پکاردی؟

جواب: رحمة الله، کښې مضاف اليه یعنی دَ لفظ الله د رعایت دَ وجې نه مذکرراوړلې شوې دې یعنی مضاف ته ئې دَمضاف اليه حکم ورکړې دې، نوروډ لغت او اعراب اماموندَې مختلف جوابونه ورکړی دی په هغې کښې یوڅو دی:

① زجاج رحمه الله وئيلي دی چې رحمة دَ معافئ اوعفواو غفران په معنی کښې دَ کیدودَ وجې دَ رحَم په معنی کښې دې نحاس رحمه الله دا تاویل خوښ کړې دې. ② نضربن شمیل رحمه الله وئیلی دی چې رحمة مصدر په معنی په ترحم دې. ③ اخفش سعید رحمه الله وئیلی دی چې رحمة نه مطر مراد دې. ④ بعض حضراتو وئیلی دی چې رحمة چونکه مؤنث غیرحقیقی دې لهذا مذکراومؤنث دواړه شان استعمالیدې شی. (فتح القدیر شوکانی)

قوله: اَقَلَّتْ، أی حملت ورفعت دَدې ماخذ اشتقاق إقلال دې.

قوله: نکدًا، أی الذی لا خیرفیه، أولذی اشتدَّ وعسُرَ.

قوله: ثقالًا: **سوال:** ثقالاً جمع راوړلوڅه مطلب دې؟

جواب: دَدې دَپاره چې سحابًا معنیً دَ سحابة جمع ده ځکه چې په معنی کښې دَ سحائب دې.

[ایاتونه: ٥٩ - ٦٤]

{لَقَدْ} جَوَاب قَسَم مَحْذُوف {أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ} بِالْجَرّ صِفَة لِإِلَهٍ وَالرَّفْع بَدَل مِنْ مَحِلّه {إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ} إنْ عَبَدْتُمْ غَيْره {عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة {قَالَ الْمَلَأُ} الْأَشْرَاف {مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ} بَيِّن {قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ} هِيَ أَعَمّ مِنْ الضَّلَال فَنَفْيهَا أَبْلَغ مِنْ نَفْيه {ولكني رسول من رب العالمين} {أُبَلِّغُكُمْ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنْصَحُ} أُرِيد الخير {لكم وأعلم من الله مالا تعلمون} {أَ} كَذَّبْتُمْ {وَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ} مَوْعِظَة {مِنْ رَبِّكُمْ عَلَى} لِسَان {رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ} الْعَذَاب إنْ لَمْ تُؤْمِنُوا {وَلِتَتَّقُوا} اللَّه {وَلَعَلَّكُمْ ترحمون} بها {فَكَذَّبُوهُ فَأَنْجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ} مِنْ الْغَرَق {فِي الْفُلْكِ} السَّفِينَة {وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} بِالطُّوفَانِ {إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ} عَنْ الْحَقّ

ترجمه: قسمیه خبره ده چې مونږ حضرت نوح علیه السلام دَهغه دَ قوم طرف ته اولیږلو هغه اووئیل چې اې زماقومه تاسودَ الله تعالی بندګی کوئی دَهغه نه علاوه بل څوک ستاسو معبودنشته (لقد) دَ قسم محذوف جواب دې (غیره) په جرسره دَ اله صفت دې او رفع دَ (اله) دَ محل نه دبدل کیدودَ وجې نه ده که چرې تاسو دَهغه نه علاوه دَ بل چا بندګی کوئی نوما سره ستاسو په حق کښې دَ لوئې ورځې دَ عذاب ویره ده اوهغه لویه ورځ دَ قیامت ورځ ده، دَهغه دقوم سردارانو اووئیل مونږ تا په ښکاره (ګمراهی) غلطئ باندې وینو، هغه جواب ورکړو زه په هیڅ قسم ګمراهئ کښې نه یم، ضلالت دَضلال نه عام دې، دَضلالت نفی دَنفی نه اَبلغ ده بلکه زه دَ رب العالمین رسول یم، تاسوته دَخپل پروردګارپیغام دررسوم (اُبلّغ) په تخفیف او تشدید سره دې، او ستاسو خیرخواهی کوم یعنی ستاسو ښیګړه غواړم اوماته دَالله تعالی دَ طرف نه هغه څه معلوم دی کوم چې تاسو ته معلوم نه دی، آیا تاسوتکذیب کوئی اوآیا تاسوته په دې خبره باندې

Scanned with

حیرانیاده چې تاسو له ستاسو د رب د طرف نه هم ستاسو د یو سړي په ذریعه نصیحت راغلو دې د پاره چې تاسو د عذاب نه اوویروي که چرې تاسو ایمان رانوړودې د پاره چې د الله (د عذاب) نه اوویرېږئ او چې د تقوی د وجې نه په تاسو رحم اوکړې شي مگر هغه خلقو د هغه هم تکذیب کولونو مونږ حضرت نوح علیه السلام او هغه خلق کوم چې د هغه سره په کشتئ کښې وو د ډوبیدو نه بچ کړل او کوم خلقو چې زمونږ آیاتونه دروغ اوگڼړل مونږ هغوی د طوفان په ذریعه غرق کړل یقیناً هغه خلق د حق نه ړانده وو.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: جواب قسم محذوف، په دې اضافې سره یې اشاره اوکړده چې په لَقَدْ کښې لام په جواب قسم باندې داخل دې.

قوله: وَالرفع بَدَلٌ مِنْ مَحَلِّه تقدیرد عبارت دادې مالکم اله من زائده دې إلٰهٌ مبتداء او لکم خبر مقدم دې.

قوله: هِيَ أَعَمُّ مِنَ الضَّلَالِ فَنَفْيُهَا أَبْلَغُ مِنْ نَفْيِه، د حضرت نوح علیه السلام قوم إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَلٍ مبین وئیلو سره د حضرت نوح علیه السلام طرف ته د هر قسم ضلالت نسبت اوکړو، د دې په جواب کښې حضرت نوح علیه السلام لیس بی ضلالة، وئیلو سره د هر قسم گمراهئ نفی اوکړه او نه صرف دا چې د هر قسم گمراهئ نفی ئې اوکړه بلکه ولکنی رسول من رب العالمین وئیلو سره یې دا دعویٰ هم اوکړه چې د رب العالمین د طرف نه د عزت او شرافت د ټولونه په لویه مرتبه د رسالت باندې فائزیم. اَلضَّلَالَةُ أَعَمُّ مِنَ الضَّلَالِ، ځکه چې ضلالت په وحدت غیرمعینه باندې دلالت کوي او د فرد غیرمعین نفی عام ده په خلاف د ضلال چې دا مصدر دې کوم واحد او تثنیه جمع ته شامل دې. د مصدر په نفی سره دا ضروري نه دی چې یقیني طور سره د عام نفی اوشي، مطلب دادې چې د ضلالة نفی د ضلال نفی لره مستلزم ده ولا بالعکس، ځکه چې د عام نفی د خاص نفی لره مستلزم وي نه چې د دې عکس او لیس بی ضلالة، نکره د تحت النفی د وجې نه د عموم فائده ورکوي.

قوله: بِهَا، ای بالتقوی.

[ایاتونه: ۶۵-۷۲]

{و} أَرْسَلْنَا {إِلَىٰ عَادٍ} الأُولَى {أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ} وَحْدُوهُ {مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلَا تَتَّقُونَ} تَخَافُونَهُ فتؤمنون {قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ} جَهَالَة {وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ} في رسالتك {قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ} {أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ} مامون على الرسالة {أَوَعَجِبْتُمْ أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ عَلَىٰ} لِسَان {رَجُلٍ مِنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ} فِي الأَرْض {مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِي الْخَلْقِ بَسْطَةً} قُوَّة وَطُولًا وَكَانَ

Scanned with

طَوِيلهمْ مِائَة ذِرَاع وَقَصِيرهمْ سِتِّينَ {فَاذْكُرُوا آلاءَ اللّٰه} نِعَمه {لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} تَفُوزُونَ {قَالُوا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰه وَحْدَهُ وَنَذَرَ} نَتْرُك {مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا} بِهِ مِنَ الْعَذَاب {إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ} فِي قَوْلك {قَالَ قَدْ وَقَعَ} وَجَبَ {عَلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ رِجْس} عَذَاب {وَغَضَب أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا} اي سميتم بها {أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ} أَصْنَامًا تَعْبُدُونَهَا {مَا نَزَّلَ اللّٰه بِهَا} أَيْ بِعِبَادَتِهَا {مِنْ سُلْطَان} حُجَّة وَبُرْهَان {فَانْتَظِرُوا} الْعَذَاب {إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ} ذٰلِكُمْ بِتَكْذِيبِكُمْ لِي فَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الرِّيح الْعَقِيم {فَأَنْجَيْنَاهُ} أَيْ هُودًا {وَالَّذِينَ مَعَهُ} مِنَ الْمُؤْمِنِينَ {بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ} الْقَوْم {الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} أَيْ اسْتَأْصَلْنَاهُمْ {وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ} عَطْف على كذبوا

ترجمه: او مونږ دَ عاد اولی طرف ته دَ هغوئ رور حضرت هود علیه السلام اولیږلو هغه اووئیل اې زما قومه دَ الله تعالی بندګی اوکړئ (یعنی) دَهغه دَتوحید اقرار اوکړئ دَهغه نه سوا ستاسو هیڅوک معبود نشته آیا تاسو دَهغه نه نه ویرېږئ چې ایمان راوړئ، دَهغه دَ قوم کافرانو سردارانو اووئیل مونږ تا په حماقت او جهالت کښې مبتلا وینو او مونږ تا دَ رسالت په دعویٰ کښې دروغژن ګڼړو، هغه جواب ورکړو اې زما قومه زه لږ شان هم په حماقت کښې اخته نه یم زه خو دَ رب العالمین دَطرف نه رالیږلې شوې رسول یم زه تاسو ته دَخپل رب پیغام دررسوم (أبلغكم) کښې تخفیف او تشدید دواړه قراءتونه دی او ستاسو رښتوني خیرخواه یم دَ رسالت باره کښې امین یم، آیا تاسو ته په دې خبره کښې حیرانتیا کیږی چې ستاسو دَ پروردګار نصیحت تاسو له هم تاسو نه دَیوسړی په ذریعه راغلې دې دې دَپاره چې تاسو خبر کړی اودا خبره یاد ساتئ چې په دنیا کښې دَ قوم نوح علیه السلام نه پس یئ تاسو (دَهغه) جانشین جوړ کړی یئې او په ډول ډال کښې یئ تاسو جسامت هم زیات درکړو یعنی دَ لوئی قدوالا ئی جوړ کړئی او طاقت ئی درکړو، په هغوی کښې دَټولونه لوړ سړې سل لاسه وو او دَټولونه ټیټ سړې شپیته لاسه وو دَ الله تعالی نعمتونه یاد کړئ چې تاسو کامیاب شئ، هغوی جواب ورکړو چې آیا ته مونږ له دَدې دَپاره راغلې ئی چې یواځې هم دَ یو الله عبادت اوکړو او هغه څه پرېږدو دَ کوم عبادت چې زمونږ پلارانو او نیکونو کړې دې، که چرې ته په خپله خبره کښې رښتونې ئی نو هغه عذاب راوړه دَ کوم چې ته مونږ ته دهمکی راکوې هغه اووئیل ښه ده اوس به ستاسو دَپاسه دَ رب عذاب او غضب راغې تاسو ماسره دَهغه نومونو په باره کښې جنګ جګړې کوئی چې تاسو او ستاسو پلارانو او نیکونو دَ ځان نه جوړ کړی دی یعنی هغه بتان د کومو چې تاسو عبادت کوئی دَ کوم باره کښې چې الله تعالی نه څه سند رالیږلې دې او نه څه دلیل، ښه ده تاسو هم انتظار کوئی او زه هم تاسو سره انتظار کونکو کښې شامل یم، ستاسو زه دروغژن ګڼړلو دَ وجې نو په هغوی باندې بې فائدې هوا (سیلئ) اوچلولې شوه، چنانچې مونږ هود علیه السلام او هغه مؤمنان کوم چې هغه سره وو په خپل رحمت سره بچ کړل او مونږ د هغه خلقو دَ جرړې اوویستل، کومو چې زمونږ ایاتونه دروغ اوګڼړل او هغوی ایمان راوړونکی نه وو دَ دې په کذبوا باندې دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: أَرْسَلْنَا: په دې كښې اشاره ده چې دَ وَإِلَىٰ عَادٍ عطف په نوحًا الى قومه باندې دې اوداد عطف قصه على القصه دَ قبيل نه دې.

قوله: الْأُولَىٰ، دَعاد صفت الاولى، راوړلوسره يې اشاره اوكړه چې عادثانيه مرادنه دى ځكه چې عادثانيه دَحضرت صالح عليه السلام دَ قوم نوم دې.

قوله: اخاهم هُودًا، هودًاداخاهم نه بدل دې كوموخلقوچې عادد محلى (حق) نوګرځولې دې هغه دې ته منصرف وائى اودَڅوك يې چې د قبيلې نوم ګرځوى هغه دې ته دَتانيث اوعلميت دَ وجې نه غيرمنصرف وائى. او په حقيقت كښې دَ قوم عاد دَ جداكبرنوم دې، سلسله نسب ئى داسې ده عادبن عوص بن ارم بن سام بن نوح.

سوال: دَحضرت نوح عليه السلام په واقعه كښې فقال ياقوم، دفاء سره يې اووئيل اودلته قال بغيردَ فاء اووئيل په دې كښې څه نكته ده؟

جواب: حضرت نوح عليه السلام خپل قوم ته دَالله تعالى طرف ته دعوت وركولوكښې بغيردَ سستئى او توقف مسلسل لګيا وو څنګه چې دَحضرت نوح عليه السلام قول قال رب انى دعوت قومى ليلاً ونهارًا نه معلوميږى، لهذا دَهغې دَپاره فاء تعقيبيه راوړل مناسب دى دَحضرت هود عليه السلام دا صورت حال نه وو په دې وجه دلته فاء ترك كړې شوه.

قوله: من العَذَابِ داذَ عائد محذوف بيان اوتَعِدُنَا جمله كيدوسره صله ده، اوصله چې كله جمله وى نوعائدَ ضرورى وى، مفسرعلام بِهِ وئيلوسره عائد ښكاره كړو من العذاب هم دَدې ضمير بيان دې.

قوله: وَجَبَ: **سوال:** دَ وَقَعَ تفسيرپه وَجَبَ سره په كوم مصلحت سره كړې شوې دې؟

جواب: دې دَپاره چې دَ الله تعالى په خبركښې كذب لازم رانه شى ځكه چې هغه وخته پورې عذاب نه وو واقع شوې.

قوله: سَمَّيْتُمُوهَا: **سوال:** سَمَّيْتُمُوهَا كښې دَ اسماء دَپاره اسماء كيدل لازم راځى ځكه چې هَا ضمير دَاسماء طرف ته راجع دې مطلب به داشى چې تاسو دَ نومونو نومونه كيخودل حالانكه دا يوبې معنې خبره ده اوكله چې په هَاباندې باء داخله شى كوو نودا اعتراض به نه كيږى ځكه چې دَ ها ضمير به اسماء طرف ته راجع شى او د سَمَّيْتُمْ مفعول به مقدر شى اى سَمَّيْتُمْ مسميات تلك الأسماء بها.

[اياتونه:٧٣-٨٤]

{و} أَرْسَلْنَا {إِلَىٰ ثَمُودَ} بِتَرْكِ الصَّرْفِ مُرَادًا بِهِ الْقَبِيلَة {أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ} مُعْجِزَة {مِّن رَّبِّكُمْ} عَلَى صِدْقِي {هَٰذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ آيَةً} حَال عَامِلهَا مَعْنَى

Scanned with

الْإِشَارَة وَكَانُوا سَأَلُوهُ أَنْ يُخرجهَا لَهُمْ مِن صَخْرَة عَيَّنُوهَا {فَذَرُوهَا تَأْكُل فِي أَرْض اللَّه وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوء} بِعَقْرٍ أَوْ ضرب {فيأخذكم عذاب أليم} {وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاء} فِي الْأَرْض {مِنْ بَعْد عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ} أَسْكَنَكُمْ {فِي الْأَرْض تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولهَا قُصُورًا} تَسْكُنُونَهَا فِي الصَّيْف {وَتَنْحِتُونَ الْجِبَال بُيُوتًا} تَسْكُنُونَهَا فِي الشِّتَاء وَنَصَبَهُ عَلَى الحال المقدرة {فاذكروا آلاء الله ولا تعثوا فى الأرض مفسدين} {قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمه} تَكَبَّرُوا عَنْ الْإِيمَان بِهِ {لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ} أَيْ مِنْ قَوْمه بَدَل مِمَّا قَبْله بِإِعَادَةِ الْجَار {أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَل مِنْ ربه} إليكم {قالوا} نعم {إنا بما أرسل به مؤمنون} {قال الذين استكبروا إنا بالذي آمنتم به كافرون} وَكَانَتْ النَّاقَة لَهَا يَوْم فِي الْمَاء وَلَهُمْ يَوْم فَمَلُّوا ذَلِكَ {فَعَقَرُوا النَّاقَة} عَقَرَهَا قُدَار بِأَمْرِهِمْ بِأَنْ قَتَلَهَا بِالسَّيْفِ {وَعَتَوْا عَنْ أَمْر رَبّهمْ وَقَالُوا يَا صَالِح ائْتِنَا بِمَا تَعِدنَا} به من العذاب على قتلها {إن كنت من المرسلين} {فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَة} الزَّلْزَلَة الشَّدِيدَة مِنَ الْأَرْض وَالصَّيْحَة مِنَ السَّمَاء {فَأَصْبَحُوا فِي دَارهمْ جَاثِمِينَ} بَارِكِينَ عَلَى الرُّكَب ميتين {فتولى} اعرض صالح {عنهم وقال يا قوم لقد أبلغتكم رسالة ربي ونصحت لكم ولكن لا تحبون الناصحين} {و} اُذْكُرْ {لُوطًا} وَيُبْدَل مِنْهُ {إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَة} أَيْ أَدْبَار الرِّجَال {مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَد مِنَ الْعَالَمِينَ} الْإِنس والجن {أئنكم} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال الْأَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ وَفِي قِرَاءَة إِنَّكُمْ {لَتَأْتُونَ الرِّجَال شَهْوَة مِنْ دُون النِّسَاء بَلْ أَنْتُمْ قَوْم مُسْرِفُونَ} مُتَجَاوِزُونَ الْحَلَال إِلَى الْحَرَام {وَمَا كَانَ جَوَاب قَوْمه إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوهُمْ} أَيْ لُوطًا وَأَتْبَاعه {مِنْ قَرْيَتكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاس يَتَطَهَّرُونَ} مِنْ أَدْبَار الرِّجَال {فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْله إِلَّا امْرَأَته كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ} الْبَاقِينَ فِي الْعَذَاب {وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ مَطَرًا} هُوَ حِجَارَة السِّجِّيل فَأَهْلَكَتْهُمْ {فانظر كيف كان عاقبة المجرمين}

ترجمه: اومونږ دَ قوم ثمود طرف ته دَهغوئ رور صالح عليه السلام اوليږلو كه چرې دَ قبيلې نوم وى نو غير منصرف، هغه اوفرمائيل اې زما قومه دَالله تعالى بندګئى اوكړئى دَهغه نه سوا بل څوك معبود نشته، زما په صداقت باندې ستاسو دَ رب دَ طرف نه واضحه دليل، معجزه راغلې ده، دا اوښه دَ الله تعالى ده (آيَةً) حال دې دَدې عامل دَ اسم اشاره معنى (أشِيرُ) دې هغوى دَحضرت صالح عليه السلام نه دَ يو خاص كاڼي (غر) نه كوم چې هغوى متعين كړې وو (دَ اوښې) راويستو مطالبه كړې وه، پس هغه پريږدئى چې دَالله په زمكه كښې خوراك كوى ګرځى په خراب نيت قتل او وهلو په اراده سره دې ته لاس هم مه اوړئى داسې نه وى چې تاسو دردناك عذاب راګير كړى اوتاسو هغه وخت ياد كړئى كوم وخت چې الله تعالى تاسو دَعاديانو نه پس دَ زمكې مالكان جوړ كړى وئى اوتاسو ته ئى په زمكه باندې دَ اوسيدو ځائى دركړې وو نو دَهغه په هواره زمكه به تاسو ښكلى محلونه جوړول دَ ګرمئ په موسم كښې به تاسو په هغې كښې اوسيدلئ او دَ غرونو په تراشلو سره به تاسو مكانات جوړول چې په يخ موسم كښې به تاسو په هغې كښې سكونت اختيارولو. (بيوتًا) دَ حال مقدره په توګه منصوب دې نو دَالله تعالى نعمتو نه

Scanned with

یادکړئ دَهغه په زمکه کښې فسادمه خوروئ، دَهغه دَ قوم کبرژنو سردارانو چاچې په صالح علیه السلام باندې دایمان په مقابله کښې کبراوکړو دکمزوری طبقې دَهغه خلقو نه ئې تپوس اوکړو چې ایمان ئې راوړې وو (آمَنَ مِنهم) دَ جار اعادې سره، ماقبل یعنی د لِلَّذِيْنَ استضعفوا، نه بدل دې آیا تاسو واقعی دا پیژنئ چې صالح علیه السلام ستاسو طرف ته دَ خپل رب پیغمبردې؟ هغوی جواب ورکړو بیشکه په کوم پیغام سره چې هغه رالیږلې شوې دې په هغې باندې مونږ ایمان لرو، تکبرکونکو اووئیل کوم چې تاسو منلې دې مونږ خو دَ هغې منکریو اودا دَدې دَپاره چې یوه ورځ به دَ اوښې دَ اوبوڅکلو وار وو اویوه ورځ دَهغوی (دَ څناورو) دَپاره وه هغوی دَدې نه تنگ شو نوهغوی دغه اوښه مړه کړه، دَ قوم په وینا باندې قدار نومې سړی دا اووژله یعنی دا ئې په توره باندې قتل کړه او په پوره سرکشئ سره ئې دَ خپل رب دَ حکم خلاف ورزی اوکړه او صالح علیه السلام ته ئې اووئیل اې صالح دَدې په قتل چې به تا دَ کوم عذاب دهمکی ورکوله هغه راوله که چرې ته واقعی دَ پیغمبرانونه ئې آخر هغوی دَ یوتباه کونکې دَ زمکې سختې زلزلې او آسمانی چغې راگیرکړل اوهغوی په خپلو کورونو کښې پړمخې پراته پاتې شو یعنی دَ زنگونو په طرف مړه شو او صالح علیه السلام دَهغوی دکلی نه په وتو سره اووئیل اې زما قومه ما دَ خپل رب پیغام تاسو ته اورسولو اوما ستاسو دیره خیرخواهی اوکړه لیکن تاسو خیرخواهی کونکی نه خوښه وئ، اودَ لوط علیه السلام ذکر اوکړه چې مونږ هغه پیغمبر جوړکړې لیګلې دَ اذکرلوطاً نه اذقال بدل دې اوداخبره یاده کړئ کوم وخت چې هغه خپل قوم ته اووئیل چې تاسو داسې دَ بې حیایئ کارونه کوئ یعنی چې سړو سره هم جنس پرستی کوئ چې په دنیاکښې تاسو نه مخکښې په پیریانو اوانسانانو کښې چاهم نه دې کړې آیا تاسو ښځې پریږدئ او دَ سړو نه خپل شهوت پوره کوئ. (ءانّکم) کښې دَدوارو همزاؤ تحقیق او د دویمې تسهیل سره اودَدوارو په مینځ کښې په دوارو صورتونو کښې الف داخلولو سره حقیقت دادې چې تاسو دَ حلال نه دَحرام طرف ته تجاوز کولو سره دَحدنه تیریدونکی خلق یئ، دَهغه قوم سره دَدې نه علاوه بل هیڅ جواب نه وو چې هغوی اووئیل دې (یعنی) لوط علیه السلام اودَ ده اتباع کونکی دَ دې کلی نه اوباسئ دې، د سړو سره د هم جنسئ په باره کښې دیرځان پاک گڼړی، آخر مونږ لوط علیه السلام اودَهغه دکور والا بغیردَ هغه دَ بی بی چې هغه په شاته پاتې کیدونکو کښې وه بچ کولو سره اوویستل (یعنی) هغه په عذاب کښې گیریدونکو کښې وه بیا مونږ په هغوی باندې یوخاص قسم باران اوورولو چې په هغې کښې هغه کودکانړی سره ملاؤشوی کانړي وو اودَهغې په ذریعه مو هغوی هلاک کړل نو غور اوکړه چې دَ دغه مجرمانو څه انجام شو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: والی ثَمُوْدَ اَخَاهم صَالِحًا، دَدې عطف په ماقبل باندې دعطف قصه علی القصه دَ قبیل نه دې ثمود دَیوې قبیلې نوم دې کوم چې دَهغوی دَجداکبر په نوم باندې دې، په دې وجه

ثمود غير منصرف دې. د دوئ نسب داسې دې، ثمود بن عاد بن ارم بن شالخ بن أر قحشذ بن سام بن نوح د صالح، اخاهم عطف بيان دې. دَحضرت صالح شجرهٔ نسب داسې دې صالح بن عبيدبن آسف بن ماشح بن عبيد بن حاذربن ثمود، کوموخلقوچې ثمود دَ قبيلې نوم گرځولې دې هغوی دا دَ علميت اوتانيث دَ وجې نه غيرمنصرف لوستلې دې اوکوموخلقو چې د سړی نوم وئيلې هغوی دې ته منصرف وائی.

قوله: هٰذِهٖ نَاقَةُ الله، جمله مستانفه ده مقصددَمعجزې دکيفيت بيان کول دی، لکه چې اووئيلې شو هذه البينة؟، جواب ورکړې شو هذه ناقة الله.

قوله: حَالٌ عَامِلُهَا معنى الإشارة آية دناقه، نه حال دی دَدې عامل هذه د اشيرُ په معنی کښې دې.

قوله: سُهُولِهَا، سهول دَ سَهْلٌ جمع ده نرمې زمکې ته وائی.

قوله: نَصْبُهٗ عَلَى الحَالِ المُقَدَّرَةِ، بيوتًا د تنحتون نه حال مقدره دې، يعنی تاسو غرونه څکه تراشئ چې ستاسو دَپاره په دې کښې اوسيدل مقدرشوی دی. په دې وجه چې تراشل په سکونت اختيارولو باندې مقدم دې، حالانکه دَحال ذوالحال زمانه هم يوه وی.

قوله: تعثَوْا، (س) عِثِيٌّ او عُثِيٌّ نه جمع مذکرحاضر تاسو فساداوکړئ.

قوله: الملأ، اسم جمع معرف باللام (ج) املاءٌ سردار لوئی خلق.

قوله: بِأَمْرِهِمْ، دا اضافه دې سوال جواب دې چې قتل کونکې قدار نومې يوسړې وو او عقروا کښې دَ قتل نسبت دَ پوره قوم طرف ته شوې دې جواب دادې چې دا اسناد مجازی دې چونکه دَ قدار په قتل ټول قوم متفق وو په دې وجه دَ پوره قوم طرف ته دَ قتل نسب اوکړې شو.

قوله: هو حِجَارَةُ السِّجِّيْل، هغه کانړې په کوم کښې چې څه قدرې دَخاورې ملاوټ وی کوم ته چې کود کانړې وئيلې شی وئيلې شی چې دا د سنگ گل معرب دې.

[اياتونه: ۸۵ - ۸۷]

{و} أرْسَلْنَا {إِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ} مُعْجِزَة {مِنْ رَبِّكُمْ} عَلَى صِدْقِي {فَأَوْفُوا} أتِمُّوا {الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا} تُنْقِصُوا {النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ} بالكُفْرِ وَالمَعَاصِي {بَعْدَ إِصْلَاحِهَا} بِبَعْثِ الرُّسُل {ذَٰلِكُمْ} المَذْكُور {خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} مُرِيدِي الإِيْمَان فَبَادِرُوا إِلَيْهِ {وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ} طَرِيق {تُوعِدُونَ} تُخَوِّفُونَ النَّاس بِأَخْذِ ثِيَابِهِمْ أَوْ المَكْس مِنْهُمْ {وَتَصُدُّونَ} تَصْرِفُونَ {عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} دِينه {مَنْ آمَنَ بِهِ} بِتَوَعُّدِكُمْ إِيَّاهُ بِالْقَتْلِ {وَتَبْغُونَهَا} تَطْلُبُونَ الطَّرِيق {عِوَجًا} مُعْوَجَّة {وَاذْكُرُوا إِذْ كُنْتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ وَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ} قَبْلَكُمْ بِتَكْذِيبِ رُسُلهمْ أَيْ آخِر أَمْرهمْ مِنَ الهَلَاك {وَإِنْ كَانَ طَائِفَةٌ مِنْكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي

Scanned with

أُرْسِلْت بِهِ وَطَائِفَة لَمْ يُؤْمِنُوا} بِهٖ {فَاصْبِرُوا} انْتَظِرُوا {حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰه بَيْنَنَا} وَبَيْنكُمْ بِإِنْجَاءِ الْمُحِق وَإِهْلَاك الْمُبْطِل {وَهُوَخَيْرُالْحَاكِمِيْنَ} أَعْدَلهمْ

ترجمه: او مونږ دَمدين طرف ته د هغوئ رور شعيب عليه السلام اوليږلو هغه اووئيل اې زما قومه تاسو دَ الله تعالى عبادت اوکړئ دَهغه نه بغير ستاسو بل څوک معبودَ نشته تاسو ته زما دَ صداقت ستاسو دَ پروردګار دَ طرف نه دَمعجزې په شکل کښې واضحه دليل راغلې دې تاسو ناپ تول پوره پوره کوئ خلقو ته څيزونه کم مه ورکوئ، او رسولان ليږلو سره دَ زمکې د اصلاح کولو نه پس دَ کفر او ګناه په ذريعه په زمکه کښې فساد مه خورئ هم په دې مذکور کښې ستاسو دَپاره خير دې که چرې ستاسو دَ ايمان اراده وى نو دَهغې طرف ته تادى اوکړئ اوتاسو په لارو کښې دې دپاره مه کيني چې دَخلقونه دَهغوى کپړې واخلئ يا دَهغوى نه ټيکس وصولولو سره ويروئى او دَ الله تعالى په دين باندې يقين لرونکو له دقتل دهمکيانې ورکولو سره دَ الله تعالى دَ دين نه مه منع کوئ او په دې لار کښې کوګوالې مه لټوئ هغه زمانه ياده کړئ کوم وخت چې تاسو لږشان وئ الله تعالى تاسو ډير کړئ، اوسترګې کولاؤ کړئ اوګورئ چې تاسو نه وړاندې دَ رسولانو تکذيب کولو سره دَ فساد خورونکو څه حشر شو يعنى دَهغوى انجام هلاکت شو او که چرې يوه ډله په تاسو کښې په هغه څه په څه چې څه راليږلې شوي يم ايمان راوړو او يوې ډلې ايمان رانوړو نو تاسو انتظار کوئ تردې چې الله تعالى حق پرستو ته نجات ورکړى او باطل پرسست هلاك کړى او زمونږ او ستاسو په مينځ کښې فيصله اوکړى هم هغه دَ ټولونه بهتره فيصله کونکې دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: مدين، يا مديان دَحضرت ابراهيم دَدريمې بى بى قطورا نه دَ ابراهيم عليه السلام څوئ دې داد بنى اسرائيلونه نه دى څکه چې دَ بنى اسرائيلو سلسله دَحضرت ابراهيم عليه السلام نمسي يعقوب بن اسحاق عليه السلام نه ده. د حضرت يعقوب عليه السلام يو نوم اسرائيل هم وودَدې وجې نه دَهغه اولاد ته بنى اسرائيل وائى، مدين دَ يو ښار نوم دې او دَ مديان اولاد ته هم بنى مدين وئيلې شى، دَحضرت شعيب عليه السلام تعلق هم دَدغه قوم سره دې، حضرت شعيب عليه السلام دَحضرت موسى عليه السلام سخر وو حضرت موسىٰ عليه السلام دَ مصرنه هجرت اوکړو مدين ته اورسيد و حضرت شعيب عليه السلام سره ئې قيام اوکړو او لس کاله موده ئې هلته تيره کړه، په دې دوران کښې دَ حضرت شعيب عليه السلام لور سره دَ حضرت موسىٰ عليه السلام واده اوشو.

قوله: مُرِيْدِى الْإِيْمَانِ دا دَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: دَحضرت شعيب عليه السلام مخاطب مؤمنان نه وونودوى ته دَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ دماضى په صيغې سره ولې خطاب اوکړو؟

Scanned with

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې چونکه حرف شرط هم دَماضی صیغه دَ ماضی نه نه شی ویستلې په دې وجه دَمرېدی لفظ مقدر اومنلې شوَدې دَپارچې معنی صحیح شی، مطلب دادې چې که سُتاسو دَایمان راوړلوارادہ ده نودَ دغه مذکوره کارونونه منع شئ.

قوله: فَبَادِرُوْاالیه په دې کښې اشاره ده چې اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (دَ شرط) جزاء محذوف ده نه چې ماقبل جمله جزاء ده. (ترویح الارواح)

قوله: المکس، خراج، ټیکس، عشر، المکاس،العشار، عشروصول کونکې.

پاره نمبر ۹ [قَالَ الْمَلَاُ]

[ایاتونه:۸۸-۹۳]

{قَالَ الْمَلَاُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِه} عَنْ الْإِيمَان {لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْب وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَك مِنْ قَرْيَتنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ} تَرْجِعُنَّ {فِي مِلَّتنَا} دِيننَا وَغَلَّبُوا فِي الْخِطَاب الْجَمْع عَلَى الْوَاحِد لِأَنَّ شُعَيْبًا لَمْ يَكُنْ فِي مِلَّتهمْ قَطّ وعلى نحوه اجاب {قَالَ أ} نعود فيها {ولوكُنَّاكَارِهِينَ} لَهَا اسْتِفْهَام إنكار {قَدْ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّه كَذِبًا إنْ عُدْنَا فِى ملتكم بعد إذ نجانا الله مِنْهَا وَمَا يَكُون} يَنْبَغِي {لَنَا أَنْ نَعُود فِيهَا إلَّا أَنْ يَشَاء اللَّه رَبّنَا} ذَلِكَ فَيَخْذُلنَا {وَسِعَ رَبّنَا كُلّ شَيْء عِلْمًا} أَيْ وَسِعَ عِلْمه كُلّ شَيْء وَمِنْهُ حَالِي وَحَالكُمْ {عَلَى اللَّه تَوَكَّلْنَا رَبّنَا افْتَحْ} أُحْكُمْ {بَيْننَا وَبَيْن قَوْمنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْر الْفَاتِحِينَ} الْحَاكِمِينَ {وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمه} أَيْ قال بعضهم لبعض {لئن} لام قسم {اتبعتم شعيبا إنكم إذا لخاسرون} {فَأَخَذَتْهُمْ الرَّجْفَة} الزَّلْزَلَة الشَّدِيدَة {فَأَصْبَحُوا فِي دَارهمْ جَاثِمِينَ} بَارِكِينَ عَلَى الرُّكَب مَيِّتِينَ {الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا} مُبْتَدَأ خَبَره {كَأَنْ} مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ كَأَنَّهُمْ {لَمْ يَغْنَوْا} يُقِيمُوا {فِيهَا} فِي دِيَارهمْ {الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمْ الْخَاسِرِينَ} التَّأْكِيد بِإِعَادَةِ الْمَوْصُول وَغَيْره لِلرَّدِّ عَلَيْهِمْ فِي قَوْلهمْ السَّابِق {فَتَوَلَّى} أَعْرَضَ {عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْم لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَات رَبِّي وَنَصَحْت لَكُمْ} فَلَمْ تُؤْمِنُوا {فكيف آسى} احزن {على قوم كافرين} اسْتِفْهَام بِمَعْنَى النَّفْي

ترجمه: دَحضرت شعیب علیه السلام دَ قوم سردارانو کوموچې دَایمان په مقابله کښې تکبراوکړو اووئیل اې شعیب مونږ تا اوهغه خلق چې تاسره ئې ایمان راوړلې دې دَخپل کلی نه به خامخا اوباسو اِلَّا دا چې ته زمونږ دین (مذهب) ته واپس راشې په خطاب کښې یې جمع ته په واحدباندې غلبه ورکړې ده ځکه چې حضرت شعیب علیه السلام دَهغوی په دین باندې هیڅ کله نه وو اوهم دا (تغلیب الجمع علی الواحد) په توګه حضرت شعیب علیه السلام هم په جواب کښې اوفرمائیل آیا مونږ هغه دین طرف ته واپس راؤګرځو سره دَدې چې مونږ هغه ناخوښه کوو (دا) استفهام انکاری دې والله که چرې ستاسو دین ته واپس راغلو نومونږ په الله تعالی باندې دَ دروغو تهمت اولګولو پس دَهغې نه چې الله تعالی مونږ ته دَدې نه خلاصې راکړو، هیڅ کله زمونږ دَپاره جائزنه دی

Scanned with

چي مونږ ستاسو دين ته واپس راشو إلأ دا چي زمونږ پروردگار الله تعالى ته دا منظوروی چي هغه مونږ رسوا کړی زمونږ دَرب علم خو هرېوشى ته محيط دې هم په دې کښې زمونږ او ستاسو حال هم شامل دې، مونږ هم په الله تعالى باندې بهروسه ساتو اې زمونږ پروردگار ته زمونږ او زمونږ دَ قوم په مينځ کښې صحيح فيصله اوکړې او ته دَټولونه بهتر فيصله کونکې ئې، دَ شعيب عليه السلام دَ قوم کافرانو سردارانو اووئيل يعنى په خپل مينځ کښې ئى يوبل ته اووئيل قسم دې که چرې تاسو دَ شعيب عليه السلام خبره او منله نو تاسو به لوئى نقصان سره مخ شى نو هغوى يوې سختې زلزلې راونيول نو هغوى په خپلو کورونو کښې پرمخې پراته پاتې شو (يعنى) دَ زنګونو په طرف مرِه پراته پاتې شو (الذين كذبوا شعيبًا) مبتداء دې او كان الخ دَدې خبر دې كأن مخففه دې او دَدې اسم محذوف دې أى كأنهم چا چې دَ حضرت شعيب عليه السلام تكذيب كړې وو هغوى په نقصان کښې پريوتل دَ موصول وغيره اعاده کولو سره تاکيد دې دَهغوى دَ سابقه قول دَ ترديد دَپاره، هغه وخت شعيب عليه السلام مخ وارولو لاړو او هغوى او فرمائيل اې زما قومه ما دَ خپل رب پيغام تاسو ته رسولې دې او ما ستاسو خيرخواهى کړې ده بيا هم تاسو ايمان رانوړو او س زه په کافرانو خلقو باندې څنګه افسوس اوکړم چې (قبول دحق نه) منکر دى استفهام په معنى دَنفى دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وَغَلَّبُوافى الخِطَابِ الجمع على الوَاحِدِ، دا دَ يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: سوال دا دې چې دَ قوم شعيب عليه السلام دَ سردارانو قول أَوْلَتَعُوْدُنَّ نه معلوميږى چې حضرت شعيب عليه السلام دَ نبوت دَ دعوىٰ نه وړاندې دَ خپل قوم په مذهب باندې وو څکه چې عود سابقه حالت ته راګرځيدو ته وائى حالانکه دَنبى نه دکفر صدور محال دې؟

جواب: دَ جواب حاصل دا دې چې په حضرت شعيب عليه السلام باندې کومو خلقو ايمان راوړې وو هغوى دَ ايمان راوړو نه مخکښې په خپل قومى مذهب بت پرستئ باندې وو په دې وجه دَهغوى په اعتبار سره دَقوم سردارانو تغليبًا حضرت شعيب عليه السلام هم دهغوى سره شريك كړو او دَ لَتَعُوْدُنَّ جمع صيغه ئى استعمال كړه ګنى دَ شعيب عليه السلام نه هيڅ كله دكفر صدور نه دې شوې.

قوله: وَعَلٰى نَحْوِهٖ أَجَابَ دا هم دَ يو مقدر سوال جواب دې سوال دا دې چې حضرت شعيب عليه السلام إن عدنا او فرمائيل پخپله ئى اقرار اوكړو چې هغه پخپله هم دَ قوم په مذهب باندې وو؟ دَدې جواب مفسر علام وعلى نحوه أجاب وئيلو سره وركړې دې مطلب دا چې څنګه دَ قوم سردارانو حضرت شعيب عليه السلام تغليبًا په قوم کښې شاملولو سره لتعودنّ وئيلى وو هم دغه شان حضرت شعيب عليه السلام هم تغليبًا إِنْ عُدنا او فرمائيل.

قوله: يَخْذُلَنَا: په دې کښې اشاره ده چې د يَشَاء مفعول محذوف دې او هغه خذلان دې نه

Scanned with

چه مطلق شئ.

قوله: أي وسع علمه: په دې کښې اشاره ده چه علماً د فاعل نه منقول شوې دې او تميز دې.

قوله: التَّاكِيْدُ بِإِعَادَةِ الْمَوْصُوْلِ په دې عبارت کښې ئې دا شبه لرې کړې چې اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا وئيلو په ځائې أَنَّهُمْ كَانُوا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ وئيلې وې نو ډيره به بهتره وه د اعاده موصول ضرورت نه وو ضمير کافي وو، د جواب حاصل دادې چې د هغوی صفت د کفر د تاکيد د پاره د موصول اعاده کړې شوې ده، په ضمير کښې به دا خبره نه وه.

قوله: وَغَيْرِهِ لِلرَّدِّ عَلَيْهِمْ فِي قَوْلِهِمُ السَّابِقِ، يعنې د موصول په اعادې سره د هغوی د صفت د کفر تاکيد شوې دې د غه شان د سابقه جملې په شان دا جمله هم مستقل او اسميه راوړلو سره د سابقه جملې د مضمون نور تاکيد اوشو.

[ايا تونه: ۹۴-۹۹]

{وَمَا أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِنْ نَبِيٍّ}. فَكَذَّبُوْهُ {إِلا أَخذنا} عاقبنا {أهلها بالبأساء} بشدة الْفَقْر {وَالضَّرَّاء} الْمَرَض {لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ} يَتَذَلَّلُونَ فَيُؤْمِنُونَ {ثُمَّ بَدَّلْنَا} أَعْطَيْنَاهُمْ {مَكَانَ السَّيِّئَةِ} الْعَذَاب {الْحَسَنَةَ} الْغِنَى وَالصِّحَّة {حَتَّى عَفَوْا} كَثُرُوا {وَقَالُوا} كُفْرًا لِلنِّعْمَةِ {قَدْ مَسَّ آبَاءَنَا الضَّرَّاءُ وَالسَّرَّاءُ} كَمَا مَسَّنَا وَهَذِهِ عَادَة الدَّهْر وَلَيْسَتْ بِعُقُوبَةٍ مِنَ الله فكونوا على ما انتم عليه قال تعالى {فَأَخَذْنَاهُمْ} بِالْعَذَابِ {بَغْتَةً} فَجْأَة {وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ} بِوَقْتِ مَجِيئِهِ قَبْله {وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى} الْمُكَذِّبِينَ {آمَنُوا} بِاللَّهِ وَرُسُلهمْ {وَاتَّقَوْا} الْكُفْر وَالْمَعَاصِي {لَفَتَحْنَا} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {عَلَيْهِمْ بَرَكَات مِنَ السَّمَاء} بِالْمَطَرِ {وَالْأَرْض} بِالنَّبَاتِ {وَلَكِن كَذَّبُوا} الرسل {فأخذناهم} عاقبناهم {بما كانوا يكسبون} {أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى} الْمُكَذِّبُونَ {أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا} عَذَابنَا {بَيَاتًا} لَيْلًا {وَهُمْ نَائِمُونَ} غَافِلُونَ عَنْهُ {أَوَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى} نَهَارًا {وهم يلعبون} {أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ} اسْتِدْرَاجه إِيَّاهُمْ بِالنِّعْمَةِ وَأَخْذهمْ بغتة {فلا يأمن مكر الله إلا القوم الخاسرون}

ترجمه: او کله داسې نه دی شوی چې مونږ يو کلی ته نبی ليږلې وی او هغوی د هغه تکذيب کړې وی مگر دا چې د هغه کلی او سيدونکی مونږ د محتاجئی په سختئ او د مرض په تکليف کښې راگير کړې نه وی دې د پاره چې هغوی عاجزی اوکړی او ايمان راوړی، بيا مونږ د هغوی بدحالی عذاب په خوشحالئ د غنٰی اوصحت سره بدله کړه تردې چې د هغوی ښه ترقی اوشوه (يعنی د هغوی په ځان اومال کښې زياتوالې اوشو) او د نعمت ناشکری کولو سره ئی اووئيل چې څنگه په مونږ راغلی دی دغه شان زمونږ په مشرانو هم ښې بدې راغلی دی د زمانې هم دغه دستور دې دا د الله تعالی د طرف نه سزا نه ده لهذا په کوم مذهب چې تاسو يئې هم په هغې باندې قائم اوسيږئی الله تعالی اوفرمائيل نو مونږ هغوی ناڅاپه راواينول هغوی ته د دې

دَ راتلودَ اول نه خبر هم اونه شو اوكه چرې تكذيب كونكى دكلى خلق په الله اودَهغه په رسول باندې ايمان راوړلې اود كفر اوګناه نه ئې ځان ساتلې وى نومونږبه په هغوى دَآسمان دَ باران په صورت كښې اودَ زمكې دَ شينكى (راټوكيدو) په شكل كښې دَ بركتونو دروازې كولاو كړې وى (لفتحنا) په تخفيف اوتشديدسره دې مګر هغوى رسولان دروغ اوګڼل نومونږ دَهغوى دَ عمل دَوجې نه هغوى رااونيول، آيا بياهم دَ دغه كلوتكذيب كونكى اوسيدونكى دَدې خبرې نه په امن كښې شو چې زمونږعذاب په هغوى باندې دَ شپې راشى اوهغوى اوده وى (يعنى) غافل وى اوآيا دَدغه كلوخلق دَدې خبرې نه بې فكره شو چې په هغوى زمونږعذاب دَ ورځې راشى اوهغوى په لوبوكښې مشغول وى آيا داخلق دَالله تعالى دَ چال (يعنى) دَ نعمت په ذريعه وخت په وخت نيول اود ناڅاپى رانيولونه بې ويرې شوى دى، نودَالله تعالى دَچال نه بغيردَ هغه چانه څوک بې ويرې نه شو چې څوک تاوان اوچتونكى دى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَمَآ اَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٍ داجمله مستانفه ده دَ مخصوص امتونو واقعات بيانولونه پس دَدې ځائى نه دَالله تعالى عام عادت اوعام دستور بيانولې شى.

قوله: يَضَّرَّعُوۡنَ په اصل كښې تاء په ضادبدله كړې شو اودَ ضادپه ضادكښې ادغام اوكړې شو يَضَّرَّعُوۡنَ شو.

قوله: اِسۡتِدۡرَاجَهُ اَيَاهم استدراج يوكار وار په وار كول دَمكر معنى دهوكه ، فريب دې دَالله تعالى طرف ته دَدې نسب كول صحيح نه دى، دلته دَ مكر نه استدراج بالاستعاره مراد دې يعنى وارپه واردَ نعمت اوصحت په ذريعه هغوى ته مهلت وركولوسره ګيرول چې كوم كس راګيرولې شى هغه ته احساس نه وى.

قوله: عَفَوۡا (ن) عَفۡوٌ ديرول ماضى جمع مذكرغائب، دَدې معنى دكميدلوهم راځى داداَضدادنه دې، عفَوْا، كثروا نموافي انفسهم واموالهم يقال عفا النبات، وعفا الشحم والوبر إذا كثرت ويقال، عفا، كثر، وعفا: درس هو من أسماء الأضداد. (اعراب القرآن للدرويش)

قوله: البأس او بؤسٌ غريبى اولګه، ضرٌّ او ضرّاء بدنى تكليف مرض دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه هم دغه نقل دى.

[اياتونه: ١٠٠ - ١٠٧]

{أولم يهدِ} يَتَبَيَّن {لِلَّذِينَ يَرِثُونَ الْأَرْضَ} بالسُّكْنَى {مِنْ بعد} هلاك {أهلها أن} فاعل مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ أَنَّهُ {لَوْ نَشَاء أَصَبْنَاهُمْ} بِالْعَذَابِ {بِذُنُوبِهِمْ} كَمَا أَصَبْنَا مَنْ قَبْلهمْ وَالْهَمْزَة فِي الْمَوَاضِع الْأَرْبَعَة لِلتَّوْبِيخِ وَالْفَاء وَالْوَاو الدَّاخِلَة عَلَيْهِمَا لِلْعَطْفِ وَفِي قِرَاءَة بِسُكُونِ الْوَاو في الموضع الأول عطفا بأو {وَ} نحن {نطبع} نَخْتِم {عَلَى قُلُوبهمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ} الْمَوْعِظَة سماع تدبر {تِلْكَ الْقُرَى}

Scanned with

الَّتِي مَرَّ ذِكْرهَا {نَقُصّ عَلَيْك} يَا مُحَمَّد {مِنْ أَنْبَائِهَا} أَخْبَار أَهْلهَا {وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلهمْ بِالْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات الظَّاهِرَات {فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا} عِنْد مَجِيئِهِمْ {بِمَا كَذَّبُوا} كَفَرُوا بِهِ {مِنْ قَبْل} قَبْل مَجِيئِهِمْ بَلْ اسْتَمَرُّوا عَلَى الكفر {كذلك} الطبع {يطبع الله على قلوب الكافرين} {وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ} أَيْ النَّاس {مِنْ عَهْد} أَيْ وَفَاء بِعَهْدِهِمْ يَوْم أَخْذ الْمِيثَاق {وَإِنْ} مخففة {وجدنا أكثرهم لفاسقين} {ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدهمْ} أَيْ الرُّسُل الْمَذْكُورِينَ {موسى بآياتنا} التسع {إلى فرعون وملإه} قَوْمه {فَظَلَمُوا} كَفَرُوا {بِهَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَة الْمُفْسِدِينَ} بِالْكُفْرِ مِنْ إهْلَاكهمْ {وَقَالَ مُوسَى يَا فِرْعَوْن إنِّي رَسُول مِنْ رب العالمين} إليك فكذبه فقال انا {حَقِيق} جَدِير {عَلَى أَنْ} أَيْ بِأَنْ {لَا أَقُول عَلَى اللَّه إلَّا الْحَقّ} وَفِي قِرَاءَة بِتَشْدِيدِ الْيَاء فَحَقِيق مُبْتَدَأ خَبَره أَنْ وَمَا بَعْده {قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِنْ رَبّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِي} إلَى الشَّام {بَنِي إسْرَائِيل} وَكَانَ اسْتَعْبَدَهُمْ {قَالَ} فِرْعَوْن لَهُ {إنْ كُنْت جِئْت بِآيَةٍ} عَلَى دَعْوَاك {فَأْتِ بِهَا إنْ كُنْت مِنْ الصادقين} فيها {فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَان مُبِين} حَيَّة عظيمة {وَنَزَعَ يَده} أَخْرَجَهَا مِنْ جَيْبه {فَإِذَا هِيَ بَيْضَاء} ذَات شُعَاع {لِلنَّاظِرِينَ} خِلَاف مَا كَانَتْ عَلَيْهِ مِنْ الْأُدْمَة

ترجمه: اوآيا په هغه خلقوچې دَزمكې دَسابقه مالكانودَ هلاكت نه پس دَ سكونت په اعتبارسره دَزمكې وارثان جوړشو داخبره واضحه نه شوه چې كه چرې مونږ اوغواړو نوهغوی به دهغویٔ دَ گناهونو په سبب په عذاب كښې راگيركړو أن دَ خپل مابعد (لونشاءُ) سره دَ يَهْدِ فاعل دې اوأن مخففه عن الثقيله دې اود(أن) اسم محذوف دې تقديری عبارت أنَّهُ دې څنگه چې مونږ دَهغوی نه وړاندې خلق نيولی وو همزه په څلورو واړو ځايونوكښې دَتوبيخ دَپاره ده اوكوم فاء او واؤ چې په دې باندې داخل دې دَعطف دَپاره دی په يوقراءت كښې دَ واؤ په سكون سره دې په ړومبی ځائی كښې دَ اَوْ په ذريعه دَعطف كولوسره اودَهغوی په زړونوباندې مهر(بنديز)اولگووچې هغوی نصيحت دَ غور اوفكرپه خيال سره وانوريدې شی، اې محمد ﷺ دَ مذكوره ښاريو دَ اوسيدونكو څه واقعات مونږ تاته اوروو دَهغوی رسولانو هغوله ښكاره ښكاره معجزې راوړې وې مگردكوم څيزچې هغوی دَ اول نه انكار اوكړو بيادَهغه څيزدَ راتلونه پس دَهغه څيزمنونكی نه وو بلكه هغوی دَهغې نه هم انكاركولو، الله تعالىٰ هم دغه شان دكافرانو په زړونوباندې مهر لگوی اوپه اكثروخلقو كښې مونږدَ عهد(خيال) نه ساتل اوموندل يعنی دَ يوم ميثاق دَ ورځې د عهدپوره والې اونه ليدلو اومونږ اكثر خلق دَحدنه تجاوز كونكی اواوموندل. اِنْ مخففه عن الثقيله دې دَ مذكوره رسولانونه پس مونږحضرت موسىٰ عليه السلام ته زمونږ نهه نخښې وركړې اودَ فرعون اودَهغه دَ قوم سردارانوله مواوليږلو نوهغه خلقو دَهغې نه انكار اوكړو نوته گوره چې دَ كفردَ وجې نه دَدغه مفسدانو څه انجام شو (يعنی) دَهغوی هلاكت، موسىٰ عليه السلام اوفرمائيل اې فرعون زه دَ رب العالمين دَ طرف نه ستاطرف ته راليږلې شوې يم مگرفرعون دَحضرت موسىٰ عليه السلام تكذيب اوكړو نوموسىٰ عليه السلام اووئيل

Scanned with

زمادَپاره هم دغه مناسب دی چې بغیردَ ربنتیاؤنه دَالله تعالی طرف ته څه خبره منسوب نه کړم او په یوقراءت کښې دَعَلی په ځائی عَلَیَّ په تشدید سره دې په دې صورت کښې به حقیق مبتداء وی او اَن اودَدې مابعد دَدې خبر، ما تاسوله ستاسودَرب دَطرف نه یولوئی دلیل راوړې دې ته بنی اسرائیل ماسره شام ته اولیږه او (فرعون) هغوی غلامان جوړ کړی وو، فرعون اووئیل چې که تا په خپله دعوی باندې څه دلیل راوړې وی نوپیش یې کړه که چرې ته په خپله دعوی کښې ربنتونې ئې نوموسی ﷺ خپله همسا اوغورزوله نوهغه ناڅاپی یوه لویه اژدها جوړه شوه او موسی ﷺ (په ګریوان کښې خپل لاس ورکړو) چې راوئی ویستلو نوهغه ناڅاپی دَکتونکو په نظر کښې دَخپل غنم رنګی په ځائی روښانه پړقیدونکی وو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یَتَبَیَّنَ: **سوال:** دَیَهۡدِ صله لام نه راځی دلته په لِلَّذِیۡنَ کښې دَ یَهۡدِ صله لام استعمال شوې دې.

جواب: مفسرعلام دَ یَهۡدِ تفسیرپه یَتَبَیَّنَ سره کولو کښې هم دَدې شبهې جواب ورکړو یعنی یَهۡدِ دَ یَتَبَیَّنَ په معنی کښې دې او دَیَتَبَیَّنَ صله لام راځی.

قوله: بِالسُّکنٰی: **سوال:** لفظ سکنی دَ اضافه کولو څه مقصد دې؟

جواب: چونکه دَ ملك تحقق صرف دَ سابق قوم په هلاکت سره نه کیږی ددې دپاره سکونت اوقبضه ضروری ده هم دې طرف ته اشاره کولو دَپاره مفسرعلام دَلفظ سکنی اضافه کړې ده.

قوله: اَن فَاعِلٌ اَن دخپل مابعدسره دَ یَهۡدِ فاعل دې یَهۡدِ په نون سره هم لوستلې شوې دې دَنون دَ قراءت په صورت کښې به الله تعالی فاعل وی اودَ یَهۡدِ مفعول به اَنۡ لَّوۡ نَشَآءُ اَصَبۡنٰهُمۡ بِذُنُوۡبِهِمۡ شی، ای اَنَّ الشان هوهذا، او یَهۡدِ دَ یاء دَ قرآءت په صورت کښې فاعل، اَنۡ لَّوۡ نَشَآءُ اَصَبۡنٰهُمۡ بِذُنُوۡبِهِمۡ دې . (تسهیل) اَنۡ مخففه عن الثقیله دې دَدې اسم ۀ ضمیر شان محذوف دې ای اَنَّهٗ او جمله لَوۡنَشَاءُ دَدې خبر، اَنۡ او دَدې مابعد دَ یَهۡدِ فاعل دې اوداهم جائزدی چې دَ یَهۡدِ فاعل په دې کښې ضمیر مستتروی اودَدې ضمیرمرجع به هغه وی کوم چې دَ سیاق کلام نه مفهوم وی. ای اَوَلَمۡ یَهۡدِ ماجری للامم السابقة، په دې صورت کښې به اَن اودَدې مابعد په تاویل دمصدر په محل کښې دمفعول دې، په ړومبی صورت کښې به تقدیری عبارت دا شی اَوَلَمۡ یَهۡدِ الله ویبین للوارثین ماهم وعاقبة امر هم اصابتنا اِیّاهم بذنوبهم ویکون المفعول به محذوفاً کما قدرناه، اودویم صورت کښې به تقدیر عبارت داشی اَوَلَمۡ یُبَیِّن فی وضح الله ماجری للامم اصابتنا اِیّاهم لونشاءذلك.

قوله: اَلۡوَاوُ الدَّاخِلَةُ عَلَیۡهَا الۡعَطۡفُ:

Scanned with

سوال: دَهمزه استفهام په خرف عطف باندې داخليدل منع دى؟

جواب: ممانعت په عطف مفردعلى المفرد كښې دې نه چې په عطف جمله على الجمله كښې ځكه چې جمله بعد الجمله كلام مستانف وى.

[اياتونه: ۱۰۸ - ۱۲۶]

{قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ} فَائِق فِي عِلْم السِّحْر وَفِي الشُّعَرَاء أَنَّهُ مِنْ قَوْل فِرْعَوْن نَفْسه فَكَأَنَّهُمْ قالوه معه على سبيل التشاور {يريد ان يخرجكم من أرضكم فماذا تأمرون} {قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ} أَخِّرْ أَمْرهمَا {وَأَرْسِلْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ} جَامِعِينَ {يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَاحِرٍ} وَفِي قِرَاءَة سَحَّار {عَلِيمٍ} يَفْضُل مُوسَى فِي عِلْم السِّحْر فَجَمَعُوا {وجاء السحرة فرعون قالوا أئن} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا على الوجهين {لنا لأجرا إن كنا نحن الغالبين} {قال نعم وإنكم لمن المقربين} {قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ} عَصَاك {وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ} مَا مَعَنَا {قَالَ أَلْقُوا} أَمْر لِلْإِذْنِ بِتَقْدِيمِ إلْقَائِهِمْ تَوَصُّلًا بِهِ إلَى إظْهَار الْحَقّ {فَلَمَّا أَلْقَوْا} حِبَالهمْ وَعِصِيّهمْ {سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاس} صَرَفُوهَا عَنْ حَقِيقَة إدْرَاكهَا {وَاسْتَرْهَبُوهُمْ} خَوَّفُوهُمْ حَيْثُ خَيَّلُوهَا حَيَّات تَسْعَى {وجاءوا بسحر عظيم} {وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ} بِحَذْفِ إحْدَى التَّاءَيْنِ فِي الْأَصْل تَبْتَلِع {مَا يَأْفِكُونَ} يُقَلِّبُونَ بِتَمْوِيهِهِمْ {فَوَقَعَ الْحَقُّ} ثَبَتَ وَظَهَرَ {وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} مِنْ السِّحْر {فَغُلِبُوا} أَيْ فِرْعَوْن وَقَوْمه {هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ} صاروا ذليلين {وألقى السحرة ساجدين} {قالوا آمنا برب العالمين} {رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ} لِعِلْمِهِمْ بِأَنَّ مَا شَاهَدُوهُ مِنْ الْعَصَا لَا يَتَأَتَّى بِالسِّحْرِ {قال فرعون أأمنتم} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَإِبْدَال الثَّانِيَة أَلِفًا {بِهِ} بِمُوسَى {قَبْلَ أَنْ آذَنَ} أَنَا {لَكُمْ إِنَّ هَذَا} الَّذِي صَنَعْتُمُوهُ {لَمَكْرٌ مَكَرْتُمُوهُ فِي الْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا مِنْهَا أَهْلَهَا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ} مَا يَنَالكُمْ مِنِّي {لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ} أَيْ يَد كل واحد اليمنى ورجله اليسرى {ثم لأصلبنكم أجمعين} {قَالُوا إِنَّا إِلَى رَبِّنَا} بَعْد مَوْتنَا بِأَيِّ وَجْه كَانَ {مُنْقَلِبُونَ} رَاجِعُونَ فِي الْآخِرَة {وَمَا تَنْقِمُ} تُنْكِر {مِنَّا إِلَّا أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا} عِنْد فِعْل مَا تَوَعَّدْنَا بِهِ لِئَلَّا نرجع كفارا {وتوفنا مسلمين}

ترجمه: دَ فرعون په قوم كښې چې كوم خلق سرداران وو هغوى اووئيل چې واقعى دا سړې لوئى ماهرجادوګردې يعنى دَسحرپه علم كښې ماهردې او په سورت الشعراء كښې داقول دَفرعون طرف ته منسوب دې نوكيدې شى چې خلقو فرعون سره دَ مشورې په توګه وئيلى وى دَدې مقصدخودادې چې تاسو ستاسودَ ملک نه بهراوباسى نوتاسو خلق څه مشوره وركوئى؟ هغوى مشوره وركړه چې ته ده ته اوده رور ته مهلت وركړه يعنى (فى الحال) دَهغوى معامله روستوكړه او په ښارونوكښې جمع كوكى هركاران اوليږئى چې هغوى تاله هرماهر جادوګر راولى حاضرئى كړى او په يو قراءت كښې سَحّاردې په علم سحركښې چې كوم

Scanned with

فوقیت لری نوهغوی راجمع شو، هغه جادوګرفرعون له راغلل او عرض ئې اوکړو که چرې مونږ غالب راغلونو آیامونږ ته به څه لویه صله (انعام) ملاویږی (فرعون) اووئیل او تاسو به په مقربینو کښې شامل کړې شئ (جادوګرو) موسی علیه السلام ته اووئیل اې موسی (همسا) ته وړاندې غورځوې یا څه چې مونږ سره دی مونږ هغه اوغورځوو، موسی علیه السلام جواب ورکړو چې هم تاسوئې اوغورزوئې (اَلْقُوْا) امرهغوئ ته دَغورځولودَ اجازت دَپاره دې دې دَپاره چې وړاندې غورزول دَ حق دَ اظهار وسیله جوړه شي (دا امردَ حکم دَپاره نه دې) کوم وخت چې هغوی خپلې رسئی اولرګی اوغورزول نودَخلقو نظربندی ئې اوکړه یعنی حقیقت باندې د پوهیدلونه یئ بند کړل اوهغوی ئې اویرول یعنی هغوی ئې داسې اوویرول چې هغوی (دغه لرګی او رسئی) منډې وهونکی ماران اوګنړل (دغه شان) هغوی یولوئې جادوپیش کړو، اومونږ موسی علیه السلام ته حکم ورکړوچې ته هم خپله همسا اوغورزوه نوناڅاپی هغې دَ جادوجوړشوی څیزونه تیرول شروع کړه (تلقف) په اصل کښې دَ یوتاء په حذف سره دې په معنی د ژوندی تیرولو (مَايَأْفِكُوْنَ) مرادڅه چې هغوی دَ لاس صفائی پیش کوله حق ثابت اوښکاره شو اوکوم جادوی چې هغوی پیش کړې وو هغه لاړو. فرعون اودَهغه قوم هم په موقع باندې ماتې اوخوړلواو (ښه) ذلیل واپس شو یعنی ښه (ذلیل اوخوار) شو او جادګرپه سجده پریوتل (جادوګرو) اووئیل مونږ په رب العالمین باندې ایمان راوړو کوم چې دَ موسی علیه السلام او هارون علیه السلام هم رب دې هغوی ته دَدې خبرې دَعلم کیدودَ وجې نه څه چې هغوی دَ حضرت موسی علیه السلام په همساکښې مشاهده کړو هغه دَ جادو په ذریعه ممکن نه وو، فرعون اووئیل آیا تاسو زما دَاجازت نه بغیرپه موسی علیه السلام باندې ایمان راوړو بیشکه دا یوپټ سازش وو کوم ته چې تاسو په دې ښارکښې عملی جامه واغوسته دې دَپاره چې تاسو دَ ښار اوسیدونکی دَدې ځائې نه بې دخل کړئې ښه اوس به تاسو ته ډیره زر هغه نتیجه معلومه شي کومه چې زمادَ طرف نه ښکاره کیدونکې ده، زه به ستاسو خپې لاسونه دَ مخالف طرف نه کټ کړم یعنی دَهریوښې لاس اوګسه خپه بیابه تاسو ټول په سولئ کړم، هغوی جواب ورکړو بهرحال زمونږ دَمرګ نه پس په کوم حال کښې چې هم وی دَخپل رب طرف ته په آخرت کښې واپس کیدل دی یو اوته چې په کومه خبره زمونږ نه انتقام اخستل غوارې هغه دَدې نه سوا هیڅ هم نه دی چې زمونږ دَ رب نخښې کله چې زمونږ مخې ته راغلې (واضحه شوې) نومونږ هغه اومنلې اې زمونږ ربه ته په مونږ باندې دَصبر فیضان اوکړه کله (چې فرعون) خپلې دړکې ته عملی جامه اغوندی دې دَپاره چې مونږ دکفرحالت ته واپس نه شو اومونږ ته (دَ دنیانه) په داسې حال کښې اوچت کړې چې مونږ حکم منونکی یو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: علی سَبِیْلِ التَّشَاوُرِ دَدې اضافې مقصددَ سورت الشعراء اودَدې ځائې په مضمون کښې تطبیق ورکولوسره تعارض لرې کول دی. اٰخرامرها، أی لاتعجل فی قتله.

قوله: مَّا مَعَنَا په دې کښې اشاره ده چې دَالملتين مفعول محذوف دې.

قوله: تَوَسُّلاً دادې سوال جواب دې چې سحر يوممنوع وناخوښه کړې شوې څيز دې حضرت موسى عليه السلام ولې دَدې حکم ورکړو؟ دَجواب حاصل دادې چې دا امر نه دَ ادب په توګه دې او نه د په توګه بلکه داامر دَاجازت دَپاره دې اودَدې اجازت مقصد هم دادې چې دَدې په ذريعه دَ باطل ابطال اودَ حق اظهار اوشى، يأفكون، دا إفك (ض) نه جمع مذکرغائب دې يعنى واپس کيدل، الافك صرف الشيء عن جهه.

قوله: أَرْجِهْ دا دَ إرجاء نه واحدمذکرحاضر صيغه ده هغه ته مهلت ورکړه په دې کښې هٔ ضميرمفعولى دې چې موسى عليه السلام ته راجع دې.

[اياتونه:١٢٧-١٢٩]

{وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ} لَهُ {أَتَذَرُ} تَتْرُكُ {مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ} بِالدُّعَاءِ إِلَى مُخَالَفَتِكَ {وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ} وَكَانَ صَنَعَ لَهُمْ أَصْنَامًا صِغَارًا يَعْبُدُونَهَا وَقَالَ أَنَا رَبُّكُمْ وَرَبُّهَا وَلِذَا قَالَ أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَى {قَالَ سَنُقَتِّلُ} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ {أَبْنَاءَهُمْ} الْمَوْلُودِينَ {وَنَسْتَحْيِي} نَسْتَبْقِي {نِسَاءَهُمْ} كَفِعْلِنَا بِهِمْ مِنْ قَبْلُ {وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ} قَادِرُونَ فَفَعَلُوا بِهِمْ ذَلِكَ فَشَكَا بَنُو إِسْرَائِيلَ {قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا} عَلَى أَذَاهُمْ {إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا} يُعْطِيهَا {مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ} الْمَحْمُودَةُ {لِلْمُتَّقِينَ} اللهِ {قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ} فِيهَا

ترجمه: دَ فرعون دَ قوم سردارانو فرعون ته اووئيل آيا ته به موسى عليه السلام اودَهغه قوم داسې پرېږدې چې ستادَ مخالفت دعوت ورکولوسره په ملک کښې فسادخورکړى اوتا اوستامعبودان پرېږدى دَهغوئ دَپاره ئى واړه بتان جوړکړى ووچې دَهغې به هغوئ عبادت کولو اوفرعون دَدې خبرې دعوى کونکې ووچې زه ستاسوهم رب يم او اودَ دغه بتانو هم، اوهم په دې وجه هغه اووئيل چې زه ستاسو لوئى خدائى يم، فرعون اووئيل چې زه به دَهغوى ځامن قتل کوم (سَنُقَتِّلُ) تشديد اوتخفيف سره دې اودَهغوى ښځې به ژوندئى پرېږدم لکه څنګه چې مونږ هغوى سره دغه شان مخکښې هم کړى دى اويقينًا مونږ په هغوى قدرت لرو، فرعون هغوى سره هم دغه معامله اوکړه نوبنى اسرائيلوشکايت اوکړو موسى عليه السلام خپل قوم ته اووئيل دَالله تعالى نه امداد غواړئى اودَدوى په تکليفونورسولوصبرکوئى زمکه دَالله تعالى ملک دې اوهغه چې خپلو بنديګانوکښې چالره غواړى وارث به ئې جوړکړى، وربه ئى کړى، او بهترانجام دَ الله تعالى نه دَ ويريدونکودې، دَ موسى عليه السلام دَ قوم خلقو اووئيل ستاسو دَ راتلونه وړاندې به هم مونږ تنګولې شو اوستاسو دَ راتلو نه پس هم مونږ تنګوى، موسى عليه السلام

Scanned with

اوویل چې هغه وخت نیزدې دې چې ستاسو رب به ستاسو دښمن هلاک کړي اوتاسو به په زمکه کښې خلیفه جوړکړي بیا به تاسو ګوري چې تاسو په زمکه کښې څنګه عمل کوئ؟

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وَيَذَرَكَ دَ دې عطف په يُفْسِدُوْا باندې دې په اَتَذَرُ موسیٰ کښې استفهام انکاري دې مقصدفرعون لره دَ موسیٰ علیه السلام اودَهغه دَ قوم خلاف راؤچتول دي او وَيَذَرَكَ کښې واؤ معیت دَپاره دې او يَذَرَكَ دَ واؤنه پس دَ أن مقدره دَ وجې نه منصوب دې جواب دَاستفهام کیدودَ وجې نه.

قوله: يَذَرَكَ، يَذَرُ، وَذَرٌ نه مضارع واحد مذکرغائب دا په اصل کښې يَوْذِرُ وو (ض) دَمضارع عمومي تلفظ (س) نه کولې شي په معنی د پریخودلو.

[ایاتونه:۱۳۰-۱۴۱]

{وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ} بِالْقَحْطِ {وَنَقْصٍ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ فَيُؤْمِنُونَ {فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ} الْخِصْبُ وَالْغِنَى {قَالُوا لَنَا هَذِهِ} أَيْ نَسْتَحِقُّهَا وَلَمْ يَشْكُرُوا عَلَيْهَا {وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ} جَدْبٌ وَبَلَاءٌ {يَطَّيَّرُوا} يَتَشَاءَمُوا {بِمُوسَى وَمَنْ مَعَهُ} مِنَ الْمُؤْمِنِينَ {أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ} شُؤْمُهُمْ {عِنْدَ اللَّهِ} يَأْتِيهِمْ بِهِ {وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} أَنَّ مَا يُصِيبُهُمْ مِنْ عِنْدِهِ {وَقَالُوا} لِمُوسَى {مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ} فَدَعَا عَلَيْهِمْ {فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ} وَهُوَ مَاءٌ دَخَلَ بُيُوتَهُمْ وَوَصَلَ إِلَى حُلُوقِ الْجَالِسِينَ سَبْعَةَ أَيَّامٍ {وَالْجَرَادَ} فَأَكَلَ زَرْعَهُمْ وَثِمَارَهُمْ كَذَلِكَ {وَالْقُمَّلَ} السُّوسَ أَوْ نَوْعٌ مِنَ الْقُرَادِ فَتَتَبَّعَ مَا تَرَكَهُ الْجَرَادُ {وَالضَّفَادِعَ} فَمَلَأَتْ بُيُوتَهُمْ وَطَعَامَهُمْ {وَالدَّمَ} فِي مِيَاهِهِمْ {آيَاتٍ مُفَصَّلَاتٍ} مُبَيِّنَاتٍ {فَاسْتَكْبَرُوا} عَنِ الْإِيمَانِ بِهَا {وَكَانُوا قَوْمًا مُجْرِمِينَ} {وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ} الْعَذَابُ {قَالُوا يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ} مِنْ كَشْفِ الْعَذَابِ عَنَّا إِنْ آمَنَّا {لَئِنْ} لَامُ قَسَمٍ {كشفت عنا الرجز لنؤمنن لك ولنرسلن معك بني إسرائيل} {فَلَمَّا كَشَفْنَا} بِدُعَاءِ مُوسَى {عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَى أَجَلٍ هُمْ بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ} يَنْقُضُونَ عَهْدَهُمْ وَيُصِرُّونَ عَلَى كُفْرِهِمْ {فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ} الْبَحْرِ الْمِلْحِ {بِأَنَّهُمْ} بِسَبَبِ أَنَّهُمْ {كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ} لَا يَتَدَبَّرُونَهَا {وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ} بِالِاسْتِعْبَادِ وَهُمْ بَنُو إِسْرَائِيلَ {مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا} بِالْمَاءِ وَالشَّجَرِ صِفَةٌ لِلْأَرْضِ وَهِيَ الشَّامُ {وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ الْحُسْنَى} وَهِيَ قَوْلُهُ تَعَالَى {وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ} الخ {عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا} عَلَى أَذَى عَدُوِّهِمْ {وَدَمَّرْنَا} أَهْلَكْنَا {مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ} مِنَ الْعِمَارَةِ {وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ} بِكَسْرِ الرَّاءِ وَضَمِّهَا يَرْفَعُونَ مِنَ الْبُنْيَانِ {وَجَاوَزْنَا} عَبَرْنَا {بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتَوْا} فَمَرُّوا {عَلَى قَوْمٍ يَعْكُفُونَ} بِضَمِّ الْكَافِ وَكَسْرِهَا {عَلَى أَصْنَامٍ لَهُمْ} يُقِيمُونَ عَلَى عِبَادَتِهَا {قَالُوا يَا مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا} صَنَمًا نَعْبُدُهُ {كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ} حَيْثُ قَابَلْتُمْ نِعْمَةَ

Scanned with

اللّٰه عَلَيْكُمْ بِمَا قُلْتُمُوهُ {إن هؤلاء متبر} هالك {ما هم فيه وباطل ما كانوا يعملون} {قَالَ أَغَيْرَ اللّٰهِ أَبْغِيكُمْ إِلٰهًا} مَعْبُودًا وَأَصْله أَبْغِي لَكُمْ {وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعَالَمِينَ} فِي زَمَانِكُمْ بِمَا ذَكَرَهُ فِي قوله {وَ} اذْكُرُوا {إِذْ أَنْجَيْنَاكُمْ} وَفِي قِرَاءَة أَنْجَاكُمْ {مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ} يُكَلِّفُونَكُمْ وَيُذِيقُونَكُمْ {سُوءَ الْعَذَابِ} أشده وهو {يقتلون أبناءكم ويستحيون} يستبقون {نساءكم وَفِي ذَٰلِكُمْ} الْإِنْجَاء أَوْ الْعَذَاب {بَلَاءٌ} إِنْعَام أَوْ ابْتِلَاء {مِنْ رَبِّكُمْ عَظِيمٌ} أَفَلَا تَتَّعِظُونَ فَتَنْتَهُوا عَمَّا قُلْتُمْ

ترجمه: مونږ دَفرعون خلق په قحط اود پيداوار په كمى كښې (دَ څوكالوپورې) راګيركړل دي دَپاره چې هغوى نصيحت قبول كړى اوايمان راوړى، (مګرحال دا وو) چې كله به دَخوشحالۍ آبادئى او مالدارئى زمانه راغله نووئيل به ئى مونږ هم دَدې حقداريو او په دې به ئى دَالله تعالى شكرنه كولو، اوكله چې به په هغوى باندې بدحالى او اوچ كالى او دَمصيبت زمانه راتله نو په موسى عليه السلام اودَهغه په مؤمنانو ملګروبه ئى دَ سپيره والى الزام لګولو (حالانكه حقيقت خودادې چې دَهغوى نحوست دالله تعالى سره دې هم دَهغه دَطرف نه راځى خو په دوى كښې اكثرخلق دَدې نه ناخبره وو چې څه راځى نوهم دَالله تعالى دَطرف نه راځى، هغوى موسى عليه السلام ته اووئيل چې زمونږ دَمسحوركولودَپاره هرڅنګه نخښى راوړې مونږ ستادَ خبرې يقين كونكى نه يو، موسى عليه السلام دَهغوى دَپاره خيرې اوكړې نومونږ په هغوى باندې طوفان راوليږلو او هغه دومره زياتې اوبه وې چې دَهغوى په كورونو كښې داخل شوې او دَ ناست خلقو دَ مرئى پورې اورسيدلې، اودا صورت حال تر اووه ورځوپورې وو. او ملخان مو راوليږل چې دَهغوى فصلونه اوميوې ئى اوخوړلې اوسپګې مو اوليږلې يا مراد دَ كونو په شان څه قسم دې مطلب داچې دَ ملخانونه څه پاتې شو نو هغه سپګو صفاكړل اوچيندخې مو راوليږلې چې دَهغوى كورونه او خوراكونه ترې ډك شو اودَهغوى په اوبو كښې مو دَ وينې ګډوالې اوكړو (دا ټولې) ښكاره ښكاره معجزې وې په دغه معجزو باندې دَايمان راوړلو نه يې ددې اوكړه اوداخووهم مجرمان خلق، اوكله چې به په دوى باندې مصيبت نازليدلو نووئيل به ئى اې موسى عليه السلام ته زمونږ دَپاره دَ خپل رب نه دَهغه عهد په ذريعه دكوم چې هغه تاسره عهدكړې دې چې كه مونږ ايمان راوړو نومونږ نه مصيبت اخوا كړى دعااوكړئى لټن كښې لام دَ قسم دَپاره دې كه چرې ته زمونږ نه دامصيبت اخوا كړې نو مونږ به په تاباندې ضرور ايمان راوړو او خامخا به بنى اسرائيل تاسره اوليږو، اوكله چې به مونږ دَ موسى عليه السلام په دعاسره دَ يو محدود وخت پورې په كوم كښې چې به هغوى ته دغه عذاب رسيدونكې وو دَ رسيدونه پس اخوا كولونو زر به ئى خپل عهد ماتولو او په خپل كفربه ولاړوو بيا مونږ دَهغوى نه انتقام واخستونومونږ هغوى په دريائې شوركښې غرق كړل په دې وجه چې هغوى به زمونږ آياتونه دروغ ګڼړل اودَهغې نه به ئى غفلت كولو يعنى په هغې كښې به ئى غوراوفكرنه كولو اودَهغوى په ځائى مونږ هغه خلق كوم چې

کمزورې کړې شوی وو يعنی غلامان جوړکړې شوی وو هغه بنی اسرائيل وو دَهغه زمکې دَ مشرق نه ترمغرب پورې وارثان جوړکړل کومه چې مونږدَ اوبواو ونوپه ذريعه دَ برکتونونه ډکه کړې وه ﴿الَّتِیۡ بٰرَکۡنَا فِیۡهَا﴾ دَ ارض صفت دې اوهغه دَ شام ملك دې، دغه شان دَ بنی اسرائيلوپه حق کښې ستادَ رب وعده دَ خير دَهغوی دَ دښمن په تکليف رسولوباندې دَ صبر په وجه پوره شوه. اوهغه وعده دَ الله تعالی قول ﴿وَنُرِیۡدُ اَنۡ نَّمُنَّ عَلَی الَّذِیۡنَ اسۡتُضۡعِفُوۡا﴾ الخ دې، فرعون اودَهغه قوم چې اوچت اولوړ عمارتونه جوړکړی وو هغه مونږ بربادکړل، ﴿یَعۡرِشُوۡنَ﴾ دَ راء په کسرې او ضمې سره اوچت عمارتونه جوړول، اومونږبنی اسرائيل دَ درياب نه پورې ويستل نودَ هغوی په يوداسې قوم باندې تيريدل اوشو چې خپلو يوڅو بتانوسره انختې وو ﴿یَعۡکُفُوۡنَ﴾ دکاف په ضمې اوکسرې سره، يعنی دَهغې په عبادت باندې کلك ولاړوو وئی وئيل اې موسی علیه السلام زمونږ دَپاره هم يوداسې معبود (يعنی) بت جوړکړه دَ کوم چې مونږبندګی اوکړو لکه څنګه چې دَدې خلقو دی، موسی علیه السلام اوفرمائيل تاسو خلق دلوې جهالت خبرې کوئی څکه چې تاسو په خپل ځان باندې دَ نعمتونو په صله کښې داسې خبرې کوئی، داخلق چې په کوم کارکښې اخته دی هغه به يقيناً تباه کړې شی اوڅه چې کوی هغه سراسر باطل دی، موسی علیه السلام اووئيل(آيا) ولې زه ستاسودَپاره دَ الله تعالی نه بغيرېل څوک معبود اولټوم، دَ ﴿اَبۡغِیۡکُمۡ﴾ اصل اَبۡغِیۡ لَکُمۡ وو حالانکه هغه هم الله تعالی دې چا چې تاسو ته دَخپلې زمانې په قومونو باندې فضيلت درکړې دې کوم ﴿فضیلت﴾ چې په خپل قول ﴿وَاِذۡ اَنۡجَیۡنٰکُمۡ﴾ کښې ذکر کړې دې او﴿الله تعالی فرمائی﴾هغه وخت يادکړئی کوم وخت چې مونږ تاسو ته دفرعونيانونه خلاصې درکړو او په يوقراءت کښې اَنۡجٰکُمۡ دې چې تاسو ئی په تکليف اخته کړی وئی او تاسوته ئی دَ خراب عذاب ﴿خوند﴾ درڅکلو اوهغه دا وو چې ستاسو ځامن به ئی قتلول او ستاسو ښځې به ئی ژوندئی پريخودلې او په دې نجات يا عذاب کښې ستاسو دَ رب دَ طرف نه امتحان انعام عظيم دې يا ابتلاء ده دې آيا تاسو نصيحت نه حاصلوئی چې دَ دغه خبرونه منع شئ کومې چې تاسواوکړی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: سِنِیۡنَ، دَ سَنَةٌ جمع ده، کال، قحط، اوچ کالی.

قوله: نَسۡتَحِقُّهَا مونږ دَدې مستحق يو په دې کښې اشاره ده چې په لَنَا هٰذِهٖ کښې لام دَاستحقاق دې.

قوله: مَهۡمَا ددې اصل مَامَا مکرر وو ړومبې ما شرطيه او دويمه دَتاکيددَپاره، دَثقل ختمولودَپاره دَړومبی الف په هاء سره بدل کړې شو مَهۡمَا شو.

قوله: یَتَشَاءَمُوۡنَ، ديطيرُوا تفسيرپه يتشاء مون سره کولوکښې يئ اشاره اوکړه چې يتطيرُّ طيران نه ماخوذ نه دې بلکه دتَطَيُّرٌ نه ماخوذ دې، دَدې دوه معنې راځی نصيبب که

دَخیروی اوکه دَشر، یعنی خوش نصیبی اوبدنصیبی دواړو معنوکښې استعمالیږی، دویمه معنی یې دَ تشاؤم ده دَدې معنی دَ نحوست ده مفسرعلام يَطَّيَّرُتفسير په تشاؤم سره کولو کښې دَ معنی تعین اوکړو.

قوله: هُمْ بِالْغُوَّةِ الخ: اى إلى نهاية من الزمان.

قوله: إذاهم دا دَ لمّا جواب دې.

قوله: عَبَرنا، داددې سوال جواب دې چې په جَاوَزَ صله باء نه راځی ځکه چې جاوز متعدی بنفسه دې حالانکه دلته باء صله راغلې ده. جواب دادې چې جَاوَزَدعَبَرَ معنی لره متضمن دې لهذا دَدې صله باء راوړل صحيح شو.

قوله: هو: هُو مقدرمنلوسره یې اشاره اوکړه چې يقتلون جمله مستانفه ده په ماقبل باندې دَدې عطف صحيح نه دې.

[اياتونه:۱٤۲ - ۱٤۷]

{وَوَاعَدْنَا} بِأَلِفٍ وَدُونِهَا {مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً} نُكَلِّمُهُ عِنْد انْتِهَائِهَا بِأَنْ يَصُومهَا وَهِيَ ذُو الْقَعْدَة فَصَامَهَا فَلَمَّا تَمَّتْ أَنْكَرَ خُلُوف فَمه فَاسْتَاكَ فَأَمَرَهُ اللّٰه بِعَشَرَةٍ أُخْرَى لِيُكَلِّمهُ بِخُلُوفِ فَمه كما قال تعالى {وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ} مِنْ ذِي الْحِجَّة {فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّه} وَقْت وَعْده بِكَلَامِهِ إيَّاهُ {أَرْبَعِينَ} حَال {لَيْلَةً} تَمْيِيز {وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ} عِنْد ذَهَابه إلَى الْجَبَل لِلْمُنَاجَاةِ {اُخْلُفْنِي} كُنْ خَلِيفَتِي {فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ} أَمْرهمْ {وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيل الْمُفْسِدِينَ} بِمُوَافَقَتِهِمْ عَلَى الْمَعَاصِي {وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا} أَيْ لِلْوَقْتِ الَّذِي وَعَدْنَاهُ بِالْكَلَامِ فِيهِ {وَكَلَّمَهُ رَبّه} بِلَا وَاسِطَة كَلَامًا سَمِعَهُ مِنْ كُلّ جِهَة {قَالَ رَبّ أَرِنِي} نَفْسك {أَنْظُرْ إلَيْك قَالَ لَنْ تَرَانِي} أَيْ لَا تَقْدِر عَلَى رُؤْيَتِي وَالتَّعْبِير بِهِ دُون لَنْ أُرَى يُفِيد إمْكَان رُؤْيَته تَعَالَى {وَلَكِنْ اُنْظُرْ إلَى الْجَبَل} الَّذِي هُوَ أَقْوَى مِنْك {فَإِنْ اسْتَقَرَّ} ثَبَتَ {مَكَانه فَسَوْفَ تَرَانِي} أَيْ تَثْبُت لِرُؤْيَتِي وَإِلَّا فَلَا طَاقَة لَك {فَلَمَّا تَجَلَّى رَبّه} أَيْ ظَهَرَ مِنْ نُوره قَدْر نِصْف أُنْمُلَة الْخِنْصَر كَمَا فِي حَدِيث صَحَّحَهُ الْحَاكِم {لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا} بِالْقَصْرِ وَالْمَدّ أَيْ مَدْكُوكًا مُسْتَوِيًا بِالْأَرْضِ {وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا} مَغْشِيًّا عَلَيْهِ لِهَوْلِ مَا رَأَى {فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانك} تَنْزِيهًا لَك {تُبْت إلَيْك} مِنْ سُؤَال مَا لَمْ أُؤْمَر بِهِ {وَأَنَا أَوَّل الْمُؤْمِنِينَ} فِي زَمَانِي {قَالَ} تَعَالَى لَهُ {يَا مُوسَى إنِّي اصْطَفَيْتُك} اخْتَرْتُك {عَلَى النَّاس} أَهْل زَمَانك {بِرِسَالَاتِي} بِالْجَمْعِ وَالْإِفْرَاد {وَبِكَلَامِي} أَيْ تَكْلِيمِي إيَّاكَ {فَخُذْ مَا آتَيْتُك} مِنْ الْفَضْل {وَكُنْ مِنْ الشَّاكِرِينَ} لِأَنْعُمِي {وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاح} أَيْ أَلْوَاح التَّوْرَاة وَكَانَتْ مِنْ سِدْر الْجَنَّة أَوْ زَبَرْجَد أَوْ زُمُرُّد سَبْعَة أَوْ عَشَرَة {مِنْ كُلّ شَيْء} يَحْتَاج إلَيْهِ فِي الدِّين {مَوْعِظَة وَتَفْصِيلًا} تَبْيِينًا {لِكُلِّ شَيْء} بَدَل مِنْ الْجَار وَالْمَجْرُور قَبْله {فَخُذْهَا} قَبْله قُلْنَا مُقَدَّرًا {بِقُوَّةٍ} بِجِدٍّ وَاجْتِهَاد {وَأْمُرْ قَوْمك يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا سَأُرِيكُمْ دَار الْفَاسِقِينَ} فِرْعَوْن وَأَتْبَاعه وَهِيَ مِصْر لِتَعْتَبِرُوا بِهِم {سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِي} دَلَائِل قُدْرَتِي مِنْ الْمَصْنُوعَات

Scanned with

وَغَيْرهَا {الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ} بِأَنْ أَخْذَلهمْ فَلَا يَتَكَبَّرُونَ فِيهَا {وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ} طَرِيق {الرُّشْدِ} الْهُدَى الَّذِي جَاءَ مِنْ عِنْد الله {لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا} يَسْلُكُوهُ {وَإِنْ يَرَوْا سَبِيلَ الْغَيِّ} الضَّلَال {يَتَّخِذُوهُ سَبِيلًا ذَلِكَ} الصَّرْف {بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ} تقدم مثله {وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَلِقَاءِ الْآخِرَةِ} الْبَعْث وَغَيْره {حَبِطَتْ} بَطَلَتْ {أَعْمَالُهُمْ} مَا عَمِلُوهُ فِي الدُّنْيَا مِنْ خَيْر كَصِلَةِ رَحِم وَصَدَقَة فَلَا ثَوَاب لَهُمْ لِعَدَمِ شَرْطه {هَلْ} مَا {يُجْزَوْنَ إِلَّا} جَزَاء {مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} مِنَ التَّكْذِيب وَالْمَعَاصِي

ترجمه: اومونږ موسی عليه السلام سره دَ دیرشو شپو وعده اوکړه چې دَدې مودې پوره کیدونه پس به هغه ده سره کلام کوی (وَاعَدْنَا) په الف سره او بغیرد الف نه (وعدنا) په دې توګه چې موسیٰ عليه السلام په دغه موده کښې روژه اوساتی اودا د ذوالقعده میاشت وه، حضرت موسی عليه السلام دَدغه مودې روژې اوساتلې کله چې (دیرش ورځې) پوره شوې، نوحضرت موسیٰ عليه السلام ته دَخپلې خلې دَ بوئی کرکه محسوس شوه نوهغه مسواك اوکړو نوالله تعالی دَنورو لسو ورځوحکم اوکړو چې موسی عليه السلام دَ خلې د بوئی سره دالله سره کلام اوکړی لکه چې الله تعالی اوفرمائیل اومونږ دَ دغه دیرشو ورځوموده دَ ذی الحجه نورو لسو ورځوسره پوره کړه نو دَالله تعالی سره دَ کلام کولودَهغه دَ رب دَ وعدې څلویښتوشپو موده پوره شوه، أربعين (دمیقات) نه حال دې لَيْلَة تمیز دې په غرباندې د مناجات له تللوپه وخت کښې حضرت موسی عليه السلام خپل رور هارون عليه السلام ته اوفرمائیل زما په قوم کښې زمادَ جانشینئ فرائض پوره کوه او دَهغوی دَمعاملاتو اصلاح کوه او په معاصی کښې موافقت کولوسره دَ مفسدانو اتباع مه کوه اوکله چې موسی عليه السلام زمونږ په مقرروخت یعنی په هغه وخت کوم چې مونږ د هغه سره دکلام کولودَپاره مقرر کړې وو راغلواودَهغه رب هغه سره بلاواسطه کلام اوکړو داسې کلام چې دَهرطرف نه به اوریدلې شو نو (موسی عليه السلام) عرض اوکړو اې زما پروردګار ته ماته خپل دیدار اوکړه دې دَپاره چې تاأووینم، ارشاد اوشو چې ته ما هیڅ کله نه شې لیدلې یعنی ته زما دَ لیدلو طاقت نه لرې دَ (لَنْ ترانی) تعبیردَ الله تعالی دَ امکان رؤیت فائده ورکوی نه چې لَنْ أُرى لیکن ته دغه غرته ګوره چې تانه ډیر قوی دې که هغه په خپل ځائی باندې پاتې شو نو ته به ما اولیدلې شې یعنی ته به زمادَ دیداردَپاره ثابت پاتې شې ګنی په تاکښې دَدې طاقت نشته، کله چې دَهغه رب په غرباندې تجلی اوفرمائیله یعنی دهغه نور دَ کچې ګوتې دَ نیم بند هومره ظاهرشو لکه چې په حدیث کښې دی (او) حاکم دا (حدیث) صحیح ګرځولې دې نو هغه غریئ ذره ذره کړو (دَکًّا) په قصر اومد سره دې یعنی چوری یئ کړو زمکې سره یئ یوشان کړو او موسی عليه السلام چې څه اولیدل دَهغې دَ خطرناکی د وجې بې هوشه پریوتلو، بیاچې کله موسی عليه السلام په هوش کښې راغلو نو عرض ئې اوکړوستادَ پاره (دَهرنقص) نه پاکوالې

Scanned with

دي زه دَهرداسې سوال کولونه دَ کوم چې ماته حکم نه دې راکړې شوې تاته توبه کوم او زه دَخپلې زمانې د اول ایمان والونه یم الله تعالی موسی علیه السلام ته ارشاد اوفرمائیلو اې موسی ماته ستاپه زمانه کښې په ټولوخلقوکښې دَخپل رسالت او کلام کولودَپاره منتخب کړې ئې (رسالاتي) د جمع اوافرادسره دې یعنی زما تاسره کلام کولودَپاره، نوکوم څه چې ماتاته دَخپل فضل نه درکړی دی هغه واخله اوزمادَنعمتونو شکراداکره اوموني موسی علیه السلام دَپاره دَ تورات په یو څو تختوکښې چې دَ جنت دَ بیرې دَ ونې یا زبرجد یا زمرد اووه یالس وې هرقسم نصیحت دکوم چې په دین کښې ضرورت وی اودَهرڅیزتفصیل اولیکلو (موعظة او تفصیلاً) دخپل ماقبل جارمجرور د (محل) نه بدل دې (مونږ اووئیل) دا په پوره طاقت او کوشش سره اونیسه (فخذها) نه وړاندې قلنا مقدر دې اوخپل قوم ته حکم اوکړه چې دَدې ښه (یعنی دَ عزیمت) احکام کلک اونیسئ زه به ډیر زر دَحد نه تجاوزکونکو (یعنی) دفرعون اودَ هغه داتباع کونکوکور دراوښایم اوهغه مصردې دې دَپاره چې تاسو دَهغې نه عبرت حاصل کړئ په خپلو ایاتونو مصنوعات وغیره دَ خپل قدرت دلائلو داسې خلق لرې ساتم چې په زمکه کښې ناحق کبرکوی په داسې توګه چې زه به هغوی ذلیل کړم بیابه هغوی په دغه دلائلوکښې غور اوفکر اونه کړې شی اوکه چرې هغوی ټولې نخښې اووینی بیابه هم په دې باندې ایمان رانوړی اوکه چرې هغوی دَ هدایت طریقه اوګوری چې دَالله تعالی دَ طرف نه راغلې ده نوهغوی دا نه خپلوی یعنی په دې به تګ اونه کړی اوکه دَ ګمراهئ لار اوګوری نوهغه خپله کړی اودا لرې کول دَدې وجې نه دی چې هغوی زمونږ آیاتونه دروغ اوګنړل اوهغوی دَدې نه غافل وو هم دَدې په شان آیت وړاندې تیرشوې دې اوهغه خلق چاچې زمونږ آیاتونه او دَآخرت ملاقات یعنی بعث وغیره دروغ اوګنړلو نودَهغوی په دنیاکښې کړې شوې اعمال دَ نیکئ مثلاً صله رحمی اوصدقه بې ځایه لاړل هغوی ته به هیڅ اجرنه ملاویږی دَدې دَ شرط مفقودکیدودَوجې نه هغوی ته به هم هغه څه سزا ورکولې شی کوم څه چې هغوی کول تکذیب او معاصی وغیره.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: بِأَلِفٍ وَدُوْنِهَا، کله چې په الف سره وی نوباب مفاعله به وی وَوٰعدنا کښې واؤ استینافیه دې کلام مستانف دې سورت بقره کښې چې کوم وَاِذْ وٰعدنا موسیٰ اربعین لیلة فرمائیلې شوې وو دادَهغې تفصیل دې واعدناموسیٰ فعل بافاعل اومفعول به دې او ثلثین مفعول به ثانی دې دَثلثین مضاف محذوف دې تقدیردادې تمام ثلثین لیلةً، لیلة تمیز دې دَ أتممناها عطف په واعدناباندې دې.

قوله: وَقْتُ وَعْدِهٖ، دَمیقات تفسیرپه وخت سره کولوکښې ئې اشاره اوکړه چې د میقات نه

حال دي.

قوله: وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ واؤ ترتيب اوتعقيب دپاره نه دي ځکه چې مذکوره مقوله جبل دتللو نه وړاندې ده.

قوله: بكلامه اياهُ دادیو سوال مقدر جواب دي.

سوال: سوال دادې چې ميقَاتُ رَبِّهِ نه معلوميږي چې درب وخت حالانکه د رب څه وخت نشته دي.

جواب: دجواب حاصل دادې چې مضاف محذوف دې تقديري عبارت دادې وقت كلامه اياه.

قوله: حَالٌ تقدير عبارت به داشي فتم بالغا هذا العدد لهذا دحمل دعدم صحت اعتراض ختم شو.

قوله: مِنْ كُلِّ جِهَةٍ ددې اضافي مقصد كلام قديم اوكلاحادث كښې فرق بيانول دی چې د كلام حادث دپاره جهت وی او دكلام قديم دپاره نه وی ځکه چې د قدیم څه متعین جهت نه وی هغه همه جهت وی.

قوله: نَفْسَكَ، په دې کښې اشاره ده چې د أرِنِي مفعول ثاني محذوف دې لهذا د فعل قلب په یو مفعول باندې اقتصار لازميږي.

قوله: والتَّعْبِيرُ به دُوْنَ لَنْ أُرَى يُفِيدُ اِمْكَانَ رؤيته تعالى، ددې عبارت د اضافي مقصد داخودل دی چې لَنْ تَرَانِی، او لَنْ أُرى کښې څه فرق دې؟ فرق دادې چې لَنْ تَرَانِي د الله تعالى د رؤيت په امکان باندې دلالت كوی ځکه چې دلن ترانی نه معلوميږی چې دعدم رؤيت علت په رائی کښې دې نه چې په مرئی کښې اوهغه علت عدم قوت اوعدم صلاحيت دې اوکه د لن ترانی په ځائی لن أرى وی نو مطلب به داوی چې دعدم رويت علت په مرئی کښې دې د رائی عدم صلاحيت په صلاحيت او عدم قوت په قوت سره بدلولې شو ځکه چې رائی ممکن اوحادث دې اوممكن اوحادث تصرف قبلوی، په خلاف د مرئی چې هغه د قديم كيدو د وجې نه تصرف نه قبلوی.

قوله: مَدْكُوكًا په دې کښې اشاره ده چې دَكًّا مصدر د مركوكا په معنى کښې دې لهذا د دَكًّا حمل په جبل باندې صحيح دې.

قوله: تَكْلِيمِي اِيَّاكَ، ددې مقصد تخصيص بيانول دی ځکه چې مطلق كلام حضرت موسى عليه السلام سره خاص نه دې.

قوله: بَدَلٌ مِنَ الجَارِ والمَجْرُوْرِ قَبْلَه، يعنى موعظة د تفصيلاً مِن كل شئ دمحل نه بدل دې ځکه چې من كل شئ د كتبنا مفعول دې د كوم د وجې نه چې محلاً منصوب دې.

Scanned with

قوله: بأحسنها، يعنى په عزيمت باندې عمل لازم اونيسئى نه چې په رخصت، مطلب دادې چې په تورات كښې عزيمت، رخصت، مباح، فرض، واجب ټول دي مګر تاسو په رخصت باندې دعمل كولو په ځائې په عزيمت باندې عمل اوكړئ، مثلاً صبر، تحمل، معافى كول وغيره.

قوله: ذلك، مبتداء او بأنهم د دې خبر دې.

[اياتونه:۱۴۸-۱۵۱]

{وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوسَى مِن بَعْدِهِ} أَيْ بَعْد ذَهَابه إِلَى الْمُنَاجَاة {مِنْ حُلِيِّهِمْ} الَّذِي اسْتَعَارُوهُ مِنْ قَوْم فِرْعَوْن بِعِلَّةِ عُرْس فَبَقِيَ عِنْدهمْ {عِجْلًا} صَاغَهُ لَهُمْ مِنْهُ السَّامِرِيّ {جَسَدًا} بَدَل لَحْمًا وَدَمًا {لَهُ خُوَارٌ} أَيْ صَوْت يُسْمَع انْقَلَبَ كَذَلِكَ بِوَضْعِ التُّرَاب الَّذِي أَخَذَهُ مِنْ حَافِر فَرَس جِبْرِيل فِي فَمه فَإِنَّ أَثَره الْحَيَاة فِيمَا يُوضَع فِيهِ وَمَفْعُول اتَّخَذَ الثَّانِي مَحْذُوف أَيْ إِلَهًا {أَلَمْ يَرَوْا أَنَّهُ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيهِمْ سَبِيلًا} فَكَيْفَ يُتَّخَذ إِلَهًا {اتَّخَذُوهُ} إِلَهًا {وَكَانُوا ظَالِمِينَ} بِاتِّخَاذِهِ {وَلَمَّا سُقِطَ فِي أَيْدِيهِمْ} أَيْ نَدِمُوا عَلَى عِبَادَته {وَرَأَوْا} عَلِمُوا {أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا} بِهَا وَذَلِكَ بَعْد رُجُوع مُوسَى {قَالُوا لَئِن لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا} بِالْيَاءِ وَالتَّاء فِيهِمَا {لنكونن من الخاسرين} {وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَى إِلَى قَوْمِهِ غَضْبَانَ} مِنْ جِهَتهمْ {أَسِفًا} شَدِيد الْحُزْن {قَالَ بِئْسَمَا} أَيْ بئس خلافة {خلفتموني} ها {مِن بَعْدِي} خِلَافَتكُمْ هَذِهِ حَيْثُ أَشْرَكْتُمْ {أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ} أَلْوَاح التَّوْرَاة غَضَبًا لِرَبِّهِ فَتَكَسَّرَتْ {وَأَخَذَ بِرَأْسِ أَخِيهِ} أَيْ بِشَعْرِهِ بِيَمِينِهِ وَلِحْيَته بِشِمَالِهِ {يَجُرُّهُ إِلَيْهِ} غَضَبًا {قَالَ} يا {ابْنَ أُمَّ} بِكَسْرِ الْمِيم وَفَتْحهَا أَرَادَ أُمِّي وَذِكْرهَا أَعْطَف لِقَلْبِهِ {إِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُونِي وَكَادُوا} قَارَبُوا {يَقْتُلُونَنِي فَلَا تُشْمِتْ} تُفْرِح {بِيَ الْأَعْدَاءَ} بِإِهَانَتِك إِيَّايَ {وَلَا تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ} بِعِبَادَةِ الْعِجْل فِي الْمُؤَاخَذَة {قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي} مَا صَنَعْت بِأَخِي {وَلِأَخِي} أَشْرَكَهُ فِي الدُّعَاء إِرْضَاء لَهُ وَدَفْعًا للشماتة به {وأدخلنا في رحمتك وأنت أرحم الراحمين}

ترجمه: او دموسى عليه السلام قوم (بني اسرائيل) دموسى عليه السلام دمناجات دپاره د تللونه پس دهغه د سرو زروكالو كوم چې هغوئ دفرعون دَ قوم (قبطيانو) نه دَ واده په بهانه قرض اخستي وو بياهغه هم ددوئ سره پاتې شوى وو دَ غوښې او دځرمن (ويني) **سخى يوه وانچې** (معبود) سامرى دهغوى دپاره دهغه كالونه جوړكړو، جَسَدًا، د عجلاً نه بدل دې په معنى كښې دَ غوښې اووينې دي دهغه دَ غوائى په شان آواز ووكوم چې به اوريدې.شو دا شان قلب ماهيت دَ هغه ډانچې په خله كښې دهغه خاورې اچولود وجې نه راغلې ووكومه چې سامرى دحضرت جبرائيل عليه السلام دَ اَس دَ قدم دلاندې نه اخستې وه دَ دغه خاورى اثر ژوندون به په هرهغه شى باندې ښكاره كيدلو په كوم كښې چې به هغه اچولې شوه، د اتخذمفعول محذوف دې او هغه اِلْهًا دې، آياهغوى ته نه ښكارى چې هغه نه دوى سره خبرې

Scanned with

کوی؟ نه په څه معامله کښې دَهغوی رهنمائی کوی داځنګه معبود جوړولې شی خو بیاهم هغوی دامعبود جوړ کړو، دې لره معبود جوړولوسره ئې ډیردَبې انصافۍ کاراوکړو اوکوم وخت چې هغوی دَ سخی په بندګئی باندې خپیمانه شو اودَهغوی په پوهه کښې راغله چې هغوی په حقیقت کښې دَدې وجې نه ګمراه شوی دی اودا دَموسی علیه السلام دَ واپس راتلونه پس اوشو، نوونئی وئیل که زمونږ رب په مونږ باندې رحم اونه کړو اومونږ ئې معاف نه کړو نومونږ به یقیناً دَ تاوانیانو نه شو.

او (بل طرف ته) چې کله موسی علیه السلام په هغوئ باندې غصه شو او د سخت غم نه ډک خپل قوم طرف ته واپس شو نوهغوی ته ئې اوفرمائیل تاسو خلقوزمانه پس ډیره خرابه جانشینی اوکړه ستاسو داجانشینئ چې تاسو په شرك کښې اخته شوئ ولې تاسو نه دومره صبراونه شوچې دخپل رب دَحکم انتظارموکړې وې؟ او په تادئی سره ئې تختئی یوطرف ته کیخودې (یعنی) دَالله تعالی دَپاره په غصه کښې یئ دَ تورات تختئی (یوطرف ته کیخودې) چې ماتې شوې اودَ خپل رور دَ سر ویښته په ښی لاس سره اودَهغه ږیره یئ په ګس لاس اونیوله او په غصه کښې ئې خپل طرف ته راښکلو (هارون علیه السلام) اووئیل اې زما روره دې خلقو زه کمزورې اولیدلم (یعنی زه ئې دباؤ کړم) اونیزدې وه چې زه ئې قتل کړې وې، نوته دَخپل طرف نه زما توهین کولوسره دښمنانوته په ماباندې دَخنداکولوموقع مه ورکوه، اومادَ سخی عبادت کولودَ وجې نه په مواخذه کښې په ظالمانوخلقو کښې مه شمیره، (موسی علیه السلام) اووئیل اې زما ربه کوم څه چې ما خپل رور سره اوکړل دامعاف کړه اوزما رور هم معاف کړه، په دعاکښې یئ خپل رور خوشحاله کولواو دَ دښمن خوشحالی لرې کولودَپاره شریك کړو، او مونږ دواړه په خپل رحمت کښې داخل کړه اوته دَ ټولو رحم کونکونه زیات رحم کونکې ئې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: حُلِیِّهِم، حُلِيّ، دَحَلْیٌ جمع ده لکه ثُدِیٌ دَ ثَدْیٌ جمع ده، حُلِيّ په اصل کښې حُلُوْیٌ وو، واؤ او یاء په یوځائی جمع شو ساکن واؤ ئې یاء کړو اودَیاء په یاء کښې ادغام اوکړې شو، اودَ یاء د رعایت د وجې دَ لام ضمې په کسرې سره بدله کړې شو، حُلِيّ شو.

قوله: صَاغَهُ لهم السامريُ، سامريُ دَصاغ فاعل دې او ۂ ضمیرد عجلاً طرف ته راجع دې دَلهم ضمیردَ قوم طرف ته راجع دې اودَ منه ضمیر دَ سرو زرو کالوطرف ته راجع دې، مطلب دادې چې سامری دَ سرو زرو دکالونه دَ بنی اسرائیلو دَپاره یوسخې جوړ کړو.

تنبیه: دَجلالین په نسخو کښې صَاغَهُ په ځائی صَاغَهُمْ دې کومه چې دَقلم غلطی معلومیږی.

قوله: جسدًا، بَدَلٌ: **سوال:** عجلاً د جسدًا بدل راوړلو څه ضرورت پیښ شو؟

جواب: په دې بدل سره ئې شبه لرې کړه چې کیدې شی چې عجل نقش علی الحائط په توګه سره جوړ کړې وی اوکله چې دَدې بدل جسدًا راغلونومعلومه شوه چې دانچې ئې جوړه

Scanned with

کړې وه په دیوال باندې نقش نه.

قوله: لحمًا ودمًا په دې کښې اشاره ده چې دا سخې دَ حقیقی سخی په شان دَ غوښې څرمن او وینې وغیره نه مرکب وو (خودا تفسیر مرجوح دې)

قوله: وَمَفْعُوْلُ اِتَّخَذَ الثَّانِی مَحْذُوْفٌ ای اِلهًا په دې کښې اشاره ده چې اتخذ په معنی صَنَعَ نه دې چې په یو مفعول باندې اقتصار جائزوی ځکه چې مطلق صنع هغه دَ معبود جوړولو بغیر دَ مذکوره سزا مستحق کیدې نه شو، لهذا دَ اخذ مفعول ثانی کوم چې اِلهًا دې محذوف دې.

قوله: أی نَدِمُوْا، ولَمَّا سُقِطَ فِیْ اَیْدِیْهِمْ، په محاوره کښې دَدې معنی دَ خپیمانه کیدو ده، سُقِطَ فِیْ اَیْدِیْهِمْ، أی ندموا، (جوهری) تَقُوْلُ، العرب لکل نادم علی أمر، قد سُقِطَ فِیْ یَدَیْهِ (معالم)

قوله: بِئْسَ خلافة دا بِئْسَمَا کښې دَمَا نکره تمیز دې.

قوله: خَلَفْتُمُوْنِیْ هَا: **سوال:** هَا مقدر منلو څه ضرورت دې؟

جواب: دادَدې شبهې جواب دې چې مَا موصوله یا موصوفه ده او خلفتمونی دَدې صله یا صفت دې حالانکه صله او صفت چې کله جمله وی نو دَعائد موجود کیدل ضروری وی، هَا، مقدر منلو سره یې اشاره اوکړه چې عائد محذوف دې.

قوله: خِلَافَتُکُمْ هٰذِهٖ دا مخصوص بالذم محذوف دې.

قوله: غضبًا لربّه: دادَ ممنوع غضب نه اعتذار دې. یعنی مطلقًا غضب ممنوع دې مګر دَالله تعالی دَپاره عداوت محبوب دې. وئیلې شی الحب فی الله والبغض فی الله هم دَالله تعالی دَپاره محبت او هم دَالله تعالی دَپاره عداوت.

قوله: ذِکْرُهَا اَعْطَفُ لِقَلْبِه، دادَدې سوال جواب دې چې د یابن أمّ، نه معلومیږی، چې حضرت هارون علیہ السلام دَ حضرت موسیٰ علیہ السلام خپل رور نه دې حالانکه دواړه خپل رونړه دی، دَدې جواب دادې چې دَ مور خوئی وئیل زړه ډیر نرمونکې دې په نسبت دَدې په عکس یعنی په یابن ام کښې ډیر شفقت او نیزدیکت معلومیږی په نسبت دَیابن ابی.

[ایاتونه: ۱۵۲ - ۱۵۷]

قال تعالی {إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ} إلهًا {سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ} عَذَاب {مِنْ رَبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} فَعُذِّبُوا بِالْأَمْرِ بِقَتْلِ أَنفُسِهِمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَة {وَكَذَٰلِكَ} كَمَا جَزَيْنَاهُمْ {نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ} عَلَى اللّٰه بِالْإِشْرَاكِ وَغَيْره {وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ ثُمَّ تَابُوا} رَجَعُوا عَنْهَا {مِنْ بَعْدِهَا وَآمَنُوا} بِاللّٰهِ {إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا} أَيْ التَّوْبَة {لَغَفُورٌ} لَهُمْ {رَحِيمٌ} بِهِمْ {وَلَمَّا سَكَتَ} سَكَنَ {عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ} الَّتِي أَلْقَاهَا {وَفِي نُسْخَتِهَا} أَيْ مَا نُسِخَ فِيهَا أَيْ كُتِبَ {هُدًى} مِنَ الضَّلَالَة {وَرَحْمَةٌ لِلَّذِينَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُونَ} يَخَافُونَ وَأَدْخَلَ اللَّام عَلَى الْمَفْعُول لِتَقَدُّمِهِ {وَاخْتَارَ مُوسَى قَوْمَه} أَيْ

Scanned with

مِنْ قَوْمِه {سَبْعِينَ رَجُلًا} مِمَّنْ لَمْ يَعْبُدُوا الْعِجْل بِأَمْرِهِ تَعَالَى {لِمِيقَاتِنَا} أَيْ لِلْوَقْتِ الَّذِي وَعَدْنَاهُ بِإِتْيَانِهِمْ فِيهِ لِيَعْتَذِرُوا مِنْ عِبَادَة أَصْحَابِهِمْ الْعِجْل فَخَرَجَ بِهِمْ {فلما أخذتهم الرجفة} الزلزلة الشديدة قال ابن عبّاس لِأَنَّهُمْ لَمْ يُزَايِلُوا قَوْمهمْ حِين عَبَدُوا الْعِجْل قَالَ وَهُمْ غَيْر الَّذِينَ سَأَلُوا الرُّؤْيَة وَأَخَذَتْهُمْ الصَّاعِقَة {قَالَ} مُوسَى {رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ} اي قبل خروجي بهم ليعاين بنو إسرائيل ذلك ولا يتهموني {وَإِيَّايَ أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا} اسْتِفْهَام اسْتِعْطَاف أَيْ لَا تُعَذِّبنَا بِذَنْبِ غَيْرنَا {إِنْ} مَا {هِيَ} أَيْ الْفِتْنَة الَّتِي وَقَعَ فِيهَا السُّفَهَاء {إِلَّا فِتْنَتُكَ} ابْتِلَاؤُك {تُضِلُّ بِهَا مَن تَشَاءُ} إضلاله {وَتَهْدِي مَن تَشَاءُ} هِدَايَته {أَنتَ وَلِيُّنَا} متولي امورنا {فاغفر لنا وارحمنا وأنت خير الغافرين} {وَاكْتُبْ} أَوْجِبْ {لَنَا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ} حَسَنَة {إِنَّا هُدْنَا} تُبْنَا {إِلَيْكَ قَالَ} تعَالَى {عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاءُ} تَعْذِيبه {وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ} عَمَّتْ {كُلَّ شَيْءٍ} فِي الدنيا {فسأكتبها} في الآخرة {للذين يتقون ويؤتون الزكاة والذين هم بآياتنا يؤمنون} {الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ} مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ} بِاسْمِهِ وَصِفَته {يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ} مِمَّا حَرُمَ فِي شَرْعهمْ {وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ} مِنْ الْمَيْتَة وَنَحْوهَا {وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ} ثِقَلهمْ {وَالْأَغْلَالَ} الشدائد {الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ} كقتل النفس من التوبة وقطع أثر النجاسة {فالذين آمنوا به} منهم {وعزروه} ووقروه {ونصروه واتبعوا النور الذي أنزل معه} اي القرآن {أولئك هم المفلحون}

ترجمه: بیشکه کومو خلقو چې سخی معبود جوړ کړو په هغوی باندې به دَ هغوی دَرب دَ طرف نه غضب عذاب او ذلت هم په دنیاوی ژوندون کښې پریوځی، چنانچې خپل ځانونه په خپله قتل کولو حکم سره په عذاب کښې اخته کړې شو او دَ قیامته پورې په هغوی باندې ذلت مسلط کړې شو او څنګه چې مونږ هغوی ته سزا ورکړه هم دغه شان دَ شرك وغیره په ذریعه په الله تعالی باندې افتراء کونکو ته مونږ سزا ورکوو او کومو خلقو چې بدعملونه اوکړل بیا هغوی دَ د بدعملونو نه پس بدعملونه منع شو او په الله تعالی باندې یې ایمان راوړو بیشکه ستارب دَ دغه توبې نه پس دَ هغوی معاف کونکې او په هغوی رحم کونکې دې او کله چې دَ موسی علیه السلام غصه یخه شوه نو هغه تختۍ راوچتې کړې کومې چې یې غورزولې وې دَ کومو په تحریر کښې یعنی چې په هغې کښې کوم لیکلې شوې وو دَ ګمراهئی نه هدایت وو دَ هغه خلقو دَپاره چې دَ خپل رب نه ویرېږی او په مفعول (لربهم) باندې یې لام داخل کړو دَی دَ مقدم کیدو دَ وجې نه او موسی علیه السلام دَ خپل قوم نه دَ الله تعالی په حکم دَ هغه خلقو نه چې دَ سخی عبادت ئې نه وو کړې اویا کسان منتخب کړل دې دَپاره چې هغوی زمونږ مقرر کړې شوې په هغه وخت حاضر شی کوم وخت چې هغوی ته دَ راتلو دَپاره وئیلې شی دې دَپاره چې دَ خپلو ملګرو دَ سخی په عبادت باندې معذرت اوکړی، چنانچه هغه خلق د حضرت موسی علیه السلام سره روان شو او کله چې هغه خلق یو سختې زلزلې راګیر کړل، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی دَ دې وجه

Scanned with

هم داوه چې دَهغوئ قوم دَ سخی عبادت کړې وو نودغه خلقود هغوی سره تعلق نه وو پریخودې (هغوی سره یوځائې اوسیدل) او (حضرت ابن عباس ﷠ اوفرمائیل دادَهغه خلقو نه علاوه دی چاچې دَالله تعالی دَ لیدلومطالبه کړې وه اوهغوی دَ تندر ګړز راګیر کړی وو نو موسی ﷺ اووئیل اې زما پروردګار که چرې تاغوښتل نودوی اوزه دې دَاول نه یعنی دَ دوی زما سره دَ وتلونه وړاندې هلاک کولې شو دې دَپاره چې بنی اسرائیلو دَدوی دَهلاکت پخپله مشاهده کړې وه او په ماباندې یئ تهمت نه لګولو آیا ته مونږ په هغه تصور باندې کوم چې زمونږ یوڅو بوهانوکړې دې مونږ ټول هلاک کوې؟ استفهام دَ رحمت دَ طلب پاره دې یعنی دَ نورو دَ قصوردَ وجې نه مونږ مه هلاکوه، داخوستادَ طرف نه ازمیښت وو په کوم چې تا ناپوهه مبتلا کړل، دَدې په ذریعه چې ته څوک ګمراه کول غواړې ګمراه ئې کړه اودَ چادَ پاره چې هدایت غواړې هدایت ورکړې زمونږ ولی (کارساز) خوهم ته ئې نومونږ معاف کړه او په مونږ باندې رحم اوکړه ته دَ ټولونه لوئې معافی کونکې ئې اوزمونږ دَپاره په دې دنیاکښې ښیګړه مقدرکړه او په آخرت کښې هم نیکی مقدر کړه مونږ ستاطرف ته رجوع اوکړه، الله تعالی ارشاد اوفرمائیلو چې زماعذاب به هر هغه کس ته رسی چاته چې زه عذاب ورکول غواړم اوزما رحمت په دنیاکښې په هریوڅیز راخور دې او دابه زه په آخرت کښې صرف دَهغه خلقو په حق کښې مقدرکړم څوک چې پرهیزګاری اختیاروی زکوة ورکوی او زمونږ په آیاتونوباندې ایمان راوړی. (دارحمت دَهغه خلقوحصه ده) څوک چې د رسول نبی امی محمد ﷺ تابعداری اختیاره کړی دَچاذکرچې هغوی سره په تورات اوانجیل کښې دَهغه دَنوم اوصفت سره لیکلې شوې دې اوچې هغوی ته به امر بالمعروف کوی اوهغوی دَ بدو نه منع کوی دَهغوی دَپاره پاک څیزونه حلالوی کوم چې دَهغوی په شریعت کښې حرام کړې شوی دی او په هغوی باندې خبیث څیزونه حراموی (مثلاً مردار وغیره اودَهغوی نه دَ هغوی بوجونه کوزوی (کوم چې په هغوی باندې بارشوی وو) اوبندشونه کولاووی په کوم کښې چې هغوی راګیرشوی وو لکه دَتوبې دَپاره خپل ځان قتلول اودَ نجاست اثر (یعنی مقام نجاست) پرې کول لهذا کوموخلقو چې دَهغوی نه په دې ایمان راوړی اودَ هغه حمایت اونصرت اوکړی اودَدې قرآن دنورتابعداری اوکړی کوم چې دهغه سره نازل کړې شوې دې هم هغه نجات موندونکی دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: مَا نُسِخَ فِيهَا، په دې کښې اشاره ده چې مصدر په دمعنی مفعول دې لکه خطبة په معنی مخطوب لهذا معنی صحیح ده.

قوله: كُتِبَ، دَدې لفظ اضافه دتعیین معنی دَپاره ده ځکه چې دَنسخ متعددمعانی راځی مثلاً اوچتول، وړانول، بدلول، نقل کول دلته دَ لیکلوپه معنی کښې دې.

قوله: وَأُدْخِلَ اللامُ عَلَى المَفْعُوْلِ، دادَ یوسوال مقدرجواب دې، سوال دادې چې رَهَبَ

Scanned with

متعدی بنفسه وی لهذا دَدې په مفعول باندې دَ لام داخلولو ضرورت نه وی حالانکه دلته دَدې په مفعول باندې کوم چې لِرَبِّهِمْ دې لام داخل دې. دَ جواب حاصل دادې چې دَفعل مفعول چې کله په فعل باندې مقدم شی نو فعل په عمل کښې ضعیف کیږی هم ددې وجې نه دَدې په مفعول باندې لام داخلولې شی. (ترويح الارواح)

قوله: مِنْ قَوْمِه، دادَ یو اعتراض جواب دې.

اعتراض: دادې چې اِخْتَارَ لازم دې نه چې متعدی بنفسه، او اختارَ قَوْمَهُ کښې متعدی بنفسه استعمال شوې دې. من قومه وئیلو سره یئ دَدې جواب ورکړو چې دادَ حذف او ایصال دَقبیل نه دې. حرف جر حذف کولو سره فعل د قوم سره متصل کړې شو او دا طریقه چې په یو څو افعالو کښې اوریدلې شوې ده هم دَدې نه اختارَ، اَمَرَ، زوّج، استغفر، صَدَقَ، عَادَ، انبأ دی.

قوله: وَاِيَّايَ، دَدې عطف دَ اَهْلَكْتَهُمْ په هم ضمير باندې دې.

قوله: تُبنا، مفسر علام دَ هُدْنَا تفسیر په تُبنا سره کولو کښې دا اوخودل چې هُدْنا دهادَ يَهُوْدُ نه مشتق دې دَ کوم معنی چې رجوع کول او توبه کول دی نه چې د هدی يهدی هداية نه په معنی دلالت کول، لارخودنه کول.

قوله: اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ په دې کښې درې ترکيبونه دی، ① الذين يتبعون مبتداء، يأمرهم ددې خبر ② الذين يتبعون دمبتداء مقدر خبر وی تقديری عبارت به داشی هم الذين يتبعون ③ الذين يتبعون د الذين يتقون نه بدل کل وی.

[اياتونه: ۱۵۸-۱۶۲]

{قُلْ} خِطَاب لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {يٰأيها النَّاس اِنِّی رَسُول اللّٰه اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا اَلَّذِي له ملك السماوات وَالْأَرْض لَا إِلٰه اِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيت فَاٰمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُوله النَّبِيّ الْأُمِّيّ الَّذِي يُؤْمِن بِاللّٰهِ وَكَلِمَاته} الْقُرْآن {وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} تَرْشُدُونَ {وَمِنْ قَوْم مُوسَى أُمَّة} جَمَاعَة {يَهْدُونَ} النَّاس {بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ} فِي الْحُكْم {وَقَطَّعْنَاهُمْ} فَرَّقْنَا بَنِي إِسْرَائِيل {اثْنَتَيْ عَشْرَة} حَال {أَسْبَاطًا} بَدَل مِنْهُ أَيْ قَبَائِل {أُمَمًا} بَدَل مِمَّا قَبْله {وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى إِذْ اسْتَسْقَاهُ قَوْمه} فِي التِّيه {أَنْ اضْرِبْ بِعَصَاك الْحَجَر} فَضَرَبَهُ {فَانْبَجَسَتْ} انْفَجَرَتْ {مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَة عَيْنًا} بِعَدَدِ الْأَسْبَاط {قَدْ عَلِمَ كُلّ أُنَاس} سِبْط مِنْهُمْ {مَشْرَبهمْ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمْ الْغَمَام} فِي التِّيه مِنْ حَرّ الشَّمْس {وَأَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ الْمَنّ وَالسَّلْوَى} هُمَا التَّرَنْجَبِين وَالطَّيْر السُّمَانَى بِتَخْفِيفِ الْمِيم وَالْقَصْر وقلنا لهم {كلوا من طيبات ما رزقناكم وما ظلمونا ولكن كانوا أنفسهم يظلمون} {و} اذْكُرْ {إِذْ قِيلَ لَهُمْ اُسْكُنُوا هٰذِهِ الْقَرْيَة} بَيْت الْمَقْدِس {وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا} أَمْرنَا {حِطَّة وَادْخُلُوا الْبَاب} أَيْ بَاب الْقَرْيَة {سُجَّدًا} سُجُود انْحِنَاء {نَغْفِر} بِالنُّونِ وَالتَّاء مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُولِ {لَكُمْ خَطِيئَاتكُمْ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ} بِالطَّاعَةِ ثَوَابًا {فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْر الَّذِي قِيلَ

Scanned with

لَهُمْ} فَقَالُوا حَبَّةٌ فِي شَعْرَةٍ وَدَخَلُوا يَزْحَفُونَ عَلَى أَسْتَاهِهِمْ {فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا} عَذَابًا {مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ}

ترجمه: ته ورته اووایه دا نبی ﷺ ته خطاب دې اې خلقو زه تاسو ټولو طرف ته دَهغه الله تعالی رالیږلې شوې یم دَ چابادشاهی چې په ټولو آسمانونواوزمکوکښې ده دَهغه نه بغیرېل څوک معبودنشته هم هغه مړه کول کوی نو په الله تعالی باندې ایمان راوړئی اودَهغه په رسول نبی امی باندې، څوک چې په الله تعالی باندې اودَهغه په کلماتو قرآن باندې ایمان لری اودَهغه تابعداری اوکړئی دې دَپاره چې تاسو په هدایت شئ. اودَ موسی ﷺ په قوم کښې یوجماعت داسې هم دې چې دَحق مطابق دَ خلقو لارخودنه کوی اوهم دَدې مطابق په فیصله کښې انصاف کوی اومونږ بنی اسرائیل په دولسو حصوکښې تقسیمولوسره دولس قبیلې جوړې کړې (اثنتی عشرة) حال دې او (أسباطا) دَ (اثنتی) نه بدل دې اسباط په معنی دَ قبائل دې. (أُمَمًا) دَماقبل نه بدل دې (یعنی دبدل نه بدل دې) اوکله چې دَموسی ﷺ قوم په میدان تیه کښې دَ موسی ﷺ نه اوبه اوغوښتې نومونږ موسی ﷺ ته حکم ورکړو چې خپله همساباندې کاڼړې اووهه هغه په همساکاڼړې اووهلونوزر دَهغې نه دولس چینې دَ قوم دَ شمیر مطابق راووتلې. هرې قبیلې دَ خپلو اوبوځکلو ځائې متعین کړوپه مقام تیه کښې د نمردَ ګرمئ نه د بچ کیدودَپاره مونږپه هغوی باندې دَاوریځو سورې اوکړو اومونږ دَهغوی دَپاره من اوسلویٰ رانازل کړل او هغه ترنجبین او مرزان وو اومونږ هغوی ته اووئیل پاک صفا څیزونه خورئی کوم چې مونږ تاسوته درکړی دی لیکن هغوی زمونږ هیڅ نقصان اونه کړو بلکه هم پخپله ئې دَخپل ځان نقصان کولو، اوهغه وخت یادکړه کوم وخت چې هغوی ته اووئیلې شو چې دې کلی بیت المقدس ته لاړشی (او هلته) اوسیږئی اوهلته دَخپلې خوښې مطابق څه چې غواړئی خورئی اوځکځ اودا وینا کوئی چې زمونږ توبه ده او دکلی په دروازه کښې په ټیټه ټیټه داخل شئی مونږ به ستاسو غلطیانې معاف کړو. (نغفر) نون سره دې اودَمجهول په صورت کښې تاء سره دې اودَ ثواب دَپاره دَاطاعت په ذریعه نیکه رویه لرونکوته به مونږ نور زیات ورکړو لیکن په هغوی کښې ظالمانو چاته چې داخبره خودلې شوې وه په بله خبره بدله کړه نو حَبَّةٌ فِي شعيرة وئیل ئې شروع کړه (اودَ سرښکته کولوسره داخلیدلو په ځائې) په کوناټوباندې راښکونکې داخل شو نومونږ په هغوی باندې دَهغوی دَ ظلم په وجه آسمانی عذاب راولیګلو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: إِلَيْكُمْ جَمِيعًا، جَمِيعًا دَ اليكم ضمیرنه حال دې.

قوله: لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ دا لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ سره بدل دې.

قوله: أَسْبَاطًا بَدَلٌ، أَسْبَاطًا، اثنتی عشرة سره بدل دې نه چې تمیز لکه چې بعضو وئیلې دی ځکه چې دَ لسو نه پورته تمیز مفرد راځی.

قوله: فضربَهُ، دې کښې اشاره ده چې کلام کښې اختصار دې مطلب دادې چې الله څنګه ئې په کاڼړی باندې همسا وهلو حکم ورکړو نو فوراً حضرت موسیٰ عليه السلام په همسا کاڼړی او وهلو.

قوله: سِبْطٍ منهم، دَدې اضافه مقصد دا شبه لرې کول دی چې قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ نه معلومیږی چې دَ بنی اسرائیل دَ هریو کس دَپاره چینه راوتې وه او هریو کس خپله چینه متعین کړې وه حالانکه دا صورت نه و، جواب دادې چې اناس نه دَ بنی اسرائیلو دولس قبیلې مرادی دی چې هرې قبیلې خپله چینه متعین کړه.

قوله: وقلنالهم، که چرې دا جمله محذوف اونه منلې شی نو بلاوجه التفات من التکلم الی الغیبت به لازم راځی حالانکه دَدې هیڅ ضرورت نشته دَدې التفات نه دَ بچ کیدلو دَپاره قُلنا لهم محذوف منلې دې.

قوله: اَمَرْنَا، اَمَرْنا اضافه دَ یوسوال مقدر جواب دې.

سوال: دادې چې دَقال مقوله جمله وی مګر دلته حطة مفرد دې دَدې څه تاویل کیدې شی؟

جواب: حِطّة مبتداء محذوف خبردې، مبتداء خبرسره ملاوُشوه جمله کیدوسره مقوله ده لهذا اوس هیڅ اعتراض نشته، مګردلته دَدې خبرې خیال ساتنی چې امرنا مقدر منلو په ځائی مسئلتنا مقدرکیدل پکاردی څکه چې امرنا مقدر منلو په صورت کښې تقدیری عبارت داسې دې امرنا ان نسحط فی هذه القریة دَدې ترجمه به شی زمونږ کار په دغه قریه یعنی کلی کښې داخلیدل دی وړاندې دَمغفرت ذکر دې حالانکه دَ کلی داخلیدل او مغفرت خپلو کښې څه جوړنه معلومیږی، بهتربه وه چې اَمَرْنا مقدرمنلوپه ځائی مسئلتنا مقدر منلې وې نو په دې صورت کښې به تقدیر عبارت مسئلتنا حِطّةٌ وې. الله تعالی بنی اسرائیلو ته حکم ورکړو چې تاسو دَ شام په ملك کښې دَمعافئی درخواست کولوسره په عاجزئی او سرښکته داخل شئی نومونږ به ستاسو خطاء معاف کړو مګر بنی اسرائیلو داهدایت اونه منلو اودَالله تعالی خودلې شوې خبرې ئی بدلې کړې حطة په ځائی حَبّة فی شعيرة اوکړو او دَسرښکته کولو سره داخلیدو په ځائی په کوناتو باندې راښکونکې داخل شو.

قوله: بِالتاءِ مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُوْلِ یعنی تغفر کښې یو قراءت تُغفر مجهول صیغې سره هم دې مګر په دې صورت کښې حطیئتکم نائب فاعل کیدو دَ وجې نه مرفوع وی.

قوله: يَزْحَفُوْنَ (ف) په مزه مزه په کوناتو باندې ورخوئیدل.

قوله: اَسْتَاهِهِمْ، اَسْتَاهٌ، دَ سَهٌ جمع کوناتو ته وائی.

قوله: فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ دَ بدلون مطلب دې دَیو په ځائی باندې بل کیخودل، دَ

بدلون دپاره ددوو كيدل ضروري دی په دې كښې به يومتروك وی او دويم ماخوذ كوم چې متروك وی په هغې باندې باء داخله وی او په ماخوذ باندې باء داخل نه وی. ياداسې اووايه چې لفظ بَدَّلَ ددوو طرف ته متعدی وی د يوطرف ته د باء په ذريعه او ددويم طرف ته بغيرد باء، په كوم چې باء داخليږی هغه متروك وی او دويم ماخوذ، ددې نه معلومه شوه چې په كلام كښې حذف دې، تقديری عبارت دا دې فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا بالذى قيل لهم قولا غيرالذى.

[اياتونه: ۱۶۳ - ۱۷۱]

{وَاسْأَلْهُمْ} يَا مُحَمَّد تَوْبِيخًا {عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ} مُجَاوِرَة بَحْر الْقُلْزُم وَهِيَ أَيْلَة مَا وَقَعَ بِأَهْلِهَا {إِذْ يَعْدُونَ} يَعْتَدُونَ {فِي السَّبْتِ} بِصَيْدِ السَّمَك الْمَأْمُورِينَ بِتَرْكِهِ فِيهِ {إِذْ} ظَرْف لِيَعْدُونَ {تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا} ظَاهِرَة عَلَى الْمَاء {وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ} لَا يُعَظِّمُونَ السَّبْت أَيْ سَائِر الْأَيَّام {لَا تَأْتِيهِمْ} ابْتِلَاء مِنَ اللَّه {كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ} وَلَمَّا صَادُوا السَّمَك افْتَرَقَتْ الْقَرْيَة أَثْلَاثًا ثُلُث صَادُوا مَعَهُمْ وَثُلُث نَهَوْهُمْ وَثُلُث أَمْسَكُوا عَنِ الصَّيْد وَالنَّهْي {وَإِذْ} عَطْف عَلَى إِذْ قَبْله {قَالَتْ أُمَّةٌ مِنْهُمْ} لِمَ تَصِدْ وَلَمْ تَنْهَ لِمَنْ نَهَى {لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا قَالُوا} مَوْعِظَتنَا {مَعْذِرَةً} نَعْتَذِر بِهَا {إِلَىٰ رَبِّكُمْ} لِئَلَّا نُنْسَب إِلَى تَقْصِير فِي تَرْك النَّهْي {وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ} الصَّيْد {فَلَمَّا نَسُوا} تَرَكُوا {مَا ذُكِّرُوا} وُعِظُوا {بِهِ} فَلَمْ يَرْجِعُوا {أَنْجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا} بِالِاعْتِدَاءِ {بِعَذَابٍ بَئِيسٍ} شَدِيد {بما كانوا يفسقون} {فَلَمَّا عَتَوْا} تَكَبَّرُوا {عَنْ} تَرْك {مَا نُهُوا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ} صَاغِرِينَ فكانوها وهذا تفصيل لما قبله قال بن عبّاس مَا أَدْرِي مَا فَعَلَ بِالْفِرْقَةِ السَّاكِتَة وَقَالَ عِكْرِمَة لَمْ تُهْلَك لِأَنَّهَا كَرِهَتْ مَا فَعَلُوهُ وَقَالَتْ لِمَ تَعِظُونَ إلخ وَرَوَى الْحَاكِم عن بن عَبَّاس أَنَّهُ رَجَعَ إِلَيْهِ وَأَعْجَبَهُ {وَإِذْ تَأَذَّنَ} أَعْلَمَ {رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ} أَيْ الْيَهُود {إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ} بِالذُّلِّ وَأَخْذ الْجِزْيَة فَبَعَثَ عَلَيْهِمْ سُلَيْمَان وَبَعْده بُخْتُنَصَّر فَقَتَلَهُمْ وَسَبَاهُمْ وَضَرَبَ عَلَيْهِمْ الْجِزْيَة فَكَانُوا يُؤَدُّونَهَا إِلَى الْمَجُوس إِلَى أَنْ بَعَثَ نَبِيّنَا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَهَا عَلَيْهِمْ {إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ} لِمَنْ عَصَاهُ {وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ} لِأَهْلِ طَاعَته {رَحِيمٌ} بِهِمْ {وَقَطَّعْنَاهُمْ} فَرَّقْنَاهُمْ {فِي الْأَرْضِ أُمَمًا} فِرَقًا {مِنْهُمُ الصَّالِحُونَ وَمِنْهُمْ} نَاس {دُونَ ذَٰلِكَ} الْكُفَّار وَالْفَاسِقُونَ {وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ} بِالنِّعَمِ {وَالسَّيِّئَاتِ} النِّقَم {لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} عن فسقهم {فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ} التَّوْرَاة عَنْ آبَائِهِمْ {يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَٰذَا الْأَدْنَىٰ} أَيْ حُطَام هَذَا الشَّيْء الدَّنِيء أَيْ الدُّنْيَا مِنْ حَلَال وَحَرَام {وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا} مَا فَعَلْنَاهُ {وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِثْلُهُ يَأْخُذُوهُ} الْجُمْلَة حَال أَيْ يَرْجُونَ الْمَغْفِرَة وَهُمْ عَائِدُونَ إِلَى مَا فَعَلُوهُ مُصِرُّونَ عَلَيْهِ وَلَيْسَ فِي التَّوْرَاة وَعْد الْمَغْفِرَة مَعَ الْإِصْرَار {أَلَمْ يُؤْخَذْ} اسْتِفْهَام تَقْرِير {عَلَيْهِمْ مِيثَاقُ الْكِتَابِ} الْإِضَافَة بِمَعْنَى فِي {أَنْ لَا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ

{إِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوا} عطف على يؤخذ قرأوا {مَا فِيهِ} فَلِمَ كَذَّبُوا عَلَيْهِ بِنِسْبَةِ الْمَغْفِرَةِ إِلَيْهِ مَعَ الْإِصْرَارِ {وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ} الْحَرَامَ {أَفَلَا يَعْقِلُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاءِ أَنَّهَا خَيْرٌ فَيُؤْثِرُونَهَا عَلَى الدُّنْيَا {وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيفِ {بِالْكِتَابِ} مِنْهُمْ {وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ} كَعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ وَأَصْحَابِهِ {إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ} الْجُمْلَةُ خَبَرُ الَّذِينَ وَفِيهِ وَضْعُ الظَّاهِرِ مَوْضِعَ الْمُضْمَرِ أَيْ أَجْرَهُمْ {وَ} اُذْكُرْ {إِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ} رَفَعْنَاهُ مِنْ أَصْلِهِ {فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ وَظَنُّوا} أَيْقَنُوا {أَنَّهُ وَاقِعٌ بِهِمْ} سَاقِطٌ عَلَيْهِمْ بِوَعْدِ اللّٰهِ إِيَّاهُمْ بِوُقُوعِهِ إِنْ لَمْ يَقْبَلُوا أَحْكَامَ التَّوْرَاةِ وَكَانُوا أَبَوْهَا لِثِقَلِهَا فَقَبِلُوا وَقُلْنَا لَهُمْ {خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ} بِجِدٍّ وَاجْتِهَادٍ {وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ} بالعمل به {لعلكم تتقون}

ترجمه: اي محمد ﷺ توبيخًا دَدوی نه دَدغه کلي باره کښې تپوس اوکړه کوم چې بحرقلزم سره نيزدې واقع وو چې دَ هغې په اوسيدونکوباندې څه تيرشو؟ اوهغه کلې آيله وو کوم وخت چې هغوی دَهفتې په ورځ دکبانو په ښکارکولو کښې دَحدنه تجاوزکولو. حالانکه په دغه ورځ په ښکار نه کولوباندې ماموروو او کبان به دَهفتې په ورځ ښه ډيرډير دَ اوبوسر ته راتلل، اِذْ، دَيَعْدُوْنَ ظرف دې اودَ هفتې نه علاوه ورځوکښې دکوموچې به هغوی دَهفتې دَ ورځې په شان تعظيم نه کولو يعنی دُهفتې نه علاوه په باقی ورځوکښې به دَالله تعالی دَ طرف نه دَ ازميښت په توګه نه راتلل، دُحد نه تجاوزکونکومونږ داسې ازميښت کوو، اوکوم وخت چې هغوی دَ هفتې په ورځ دَ کبانوښکار اوکړو نوهغه کلې په دريوډلوکښې تقسيم شو په دوی کښې دريمه حصه هغوی سره ښکار اوکړو او په دريوکښې يوې حصې هغوی منع کول او بلې دريمې حصې نه ښکارکولو او نه ئې (ښکارکونکې) منع کول، اوکله چې دَدوی نه دغه ډلې کومې چې نه ښکاراوکړواونه ئې (نور) منع کړل هغه خلقوته اووئيل چاچې منع کول تاسودوی ته ولې نصيحت کوئې؟ څوک چې الله تعالی هلاک کونکې دې ياهغوی ته سخت عذاب ورکونکې دې اِذْ دَماقبل په اِذْباندې معطوف دې نوهغوی جواب ورکړو زمونږ نصيحت دَعذرخواهئې دَپاره دې کوم چې به مونږ ستاسو دَ رب په وړاندې پيش کوو دې دَپاره چې دَترك نهی کوتاهی زمونږ طرف ته منسوب نه کړې شی اودې دَپاره چې هغوی دَښکار نه منع شی، آخرکارچې هغوی دغه نصيحتونه بالکل په خيال کښې رانه وستل کوم چې هغوی ته کړې شوې وو نوهغوی منع نه شو نومونږ هغه خلق بچ کړل چاچې دَ بدئې نه منع کوله اومونږ هغه خلق چاچې تعدی کولوسره ظلم اوکړو په سخت عذاب کښې راګيرکړل ځکه چې هغوی حکم نه منلو. بيا چې هغوی په منهی عنه ترک باندې سرکشی اوخودله نومونږ هغوی ته اووئيل ذليل بيزوګان شئې نوهغوی بيزوګان شو اودادَماقبل تفصيل دې. (يعنی فَلَمَّا کښې فاء تفصيليه ده نه چې تعقيبيه) حضرت ابن عباس رضی الله عنهما اوفرمائيل زه نه وايم چې خاموشی اختيارونکی ډلې سره څه معامله اوشوه؟ اوعکرمه رضی الله عنه وئيلی هغوی نه دی

Scanned with

هلاك كړي شوی څكه چې هغوی دَتعدی كونكوفعل ناخوښه كړو اوَوئی وئيل لِمَ تَعِظُونَ
قَوْمًا الخ اوحاكم رحمه الله دَ ابن عباس رضی الله عنه نه روايت كړي دي چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ
توقف نه پس دَحاكم دَ قول طرف ته رجوَع اوكړه اودائی خوښ كړو. اوياد ساتئی كوم وخت
چې ستاسو رب اعلان اوكړو چې هغه به په دې يهودو باندې دَ قيامت پورې داسې خلق مسلط
كوی چې هغوی باندې به دَ ذلت سره ټيكس (جزيه) لګولوسره په سخت عذاب كښې راګيره
وی چنانچې په هغوی باندې سليمان عليه السلام مسلط كړې شواودَهغې نه پس بخت نصر
نوهغه دوی قتل كړل اوقيدئی كړل او په هغوی باندې (جزيه) ټيكس اولګولو كوم چې به
هغوی مجوسيانوته وركولوتردې چې زمونږ نبی محمد صلی الله عليه وسلم مبعوث كړې شو
نوحضورپاك هم په دوی باندې جزيه مقرر كړه يقيناً ستارب نافرمانی كونكوته په سزاوركولو
كښې تيز دې اودَاهل طاعت دَپاره غفور اورحيم هم دې، اومونږ هغوی دَ زمكې ټكړې كولوسره
مختلف ډلې جوړ كړل په هغوی كښې څه نيكان شو اوڅه دَدې برعكس كافران فاسقان شو،
اومونږ هغوی دَ نعمت اونقمت په ذريعه په ښه او خرابو حالاتوسره په امتحان كښې ازميښت كړل دې
دَپاره چې هغوی دَخپل فسق نه منع شی بيادَ وړاندې خلقو نه داسې ناخلف جانشين شو چې دَخپلو
پلارانونه دكتاب (يعنی) د تورات وارثان شو چې هغوی دَ دې فانی دنيا فائدې راغونډوی
يعنی دَدې وركړې شوې دنيا سپك څيزونه كه هغه حلال وی كه حرام (راغونډوی) اووائی
چې زمونږ حركتونه معاف كړې شی اوكه هم دغه شان دَدنيا سامان بيا مخې ته راشی نو بيا هغه هم
اخلی. اوَيَقُوْلُوْنَ الخ جمله حاليه ده يعنی حال دا چې هغوی دَمغفرت اميد هم لری سره
دَدې چې هغوی دَخپلو حركتونو بار بار اعاده كوی او په هغې باندې اصرار كوی او په
تورات كښې اصرار كولوسره دَمغفرت هيڅ وعده نشته، ولې دَهغوی نه دكتاب عهد نه دې
اخستې شوې استفهام تقريری دې اضافت په معنی د فی دې. چې هغوی دَالله تعالی په باره
كښې هم هغه خبره اوكړی كومه چې حق وی (او آيا) دَهغوی په كتابونو كښې چې څه دی هغه ئی نه
دی لوستلې دَ دَرَسُوْا عطف په يوخَذ باندې دې نو بيا سره دَاصرار نه دَهغه طرف ته دَمغفرت
نسبت كولوسره بهتان ولې تړی اوكور دَآخرت خو دَحرامو نه دَبچ كيدونكو دَپاره بهتردې ولې
هغوی په دې نه پوهيږی چې دار آخرت بهتردې، په ياء اوتاء سره چې آخرت ته په دنيا باندې
ترجيح وركړی اوهغه خلق چې دَهغوی نه ئی كتاب مضبوط نيولې دې (يمسكون) په تشديد او
تخفيف سره دې اودَ مونځ پابندی كوی لكه چې عبد الله بن سلام اودَهغه ملګری يقيناً مونږ
به دَ نيكانو خلقو اجر نه ضائع كوو. دا جمله دَالذين خبر دې او په دې كښې دَ ضمير په ځائې
اسم ظاهر راوړلې شوې دې ای اجرهم او هغه وخت ياد كړه كوم وخت چې مونږ غرد بيخ نه
راوچت كړو اودَهغوی دَپاسه موداسې راخوركړې وو لكه چې هغه چهترئی ده او هغوی دَدې

Scanned with

خبرې يقين كړې وو چې دا به دهغوى دپاسه راپريوځى، دالله تعالى دهغوى سره ددې (غر) په (هغوى باندې) د ورغورزولو دوعدې دوجې نه، كه چرې هغوى دتورات احكام قبول نه كړې اوهغوى ددې (احكامو) دسختوالى (مشكل كيدو) دوجې نه (د قبلولو نه) انكاركړې وو نوهغوى (هغه وخت) قبول كړو اومونږ هغوى ته وئيلى وو كوم كتاب چې مونږ تاسو ته دركوو دا كلك اونيسئ يعنى په كوشش اومحنت سره اوځه چې په دې كښې ليكلى دى هغه په عملى توګه سره يادساتئ اميد دې چې تاسو به (دغلطې لارې نه) بچ شئ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ، حضورپاك ته چونكه دكلى والوحالات معلوم وو په دې وجه سوال دعلم دپاره كولو څه مقصدنشته په دې وجه دا سوال سوال دتوبيخ او تقريع اوګرځولې شو.

قوله: حَاضِرَةَ الْبَحْرِ اى بجوار البحر، ددغه كلى باره كښې مختلف اقوال دى بعضو أيلة وئيلى دى او بعضو طبريه، او بعضو مدين او بعض ايليا او وئيلې شوى دى چې په شام كښې د سمندرغاړه مراد ده، وئيلى شى كنتُ بحضرة الدار اى بقربها. (فتح القدير شوكانى)

قوله: شُرَّعًا دادَ شارع جمع ده معنى يې ده ښكاره كيدل.

قوله: مَوْعِظَتَنَا، دادَ يوسوال مقدرجواب دې. سوال دادې چې مَعْذِرَةً دَ قَالُوا مقوله ده اودَ مقوله جمله كيدل ضرورى وى حالانكه معذرة مفرد دې ددې ئى دا جواب وركړو چې دادَ قَالُوا مقوله نه ده بلكه دَمبتداء محذوف خبردې اوهغه موعظتنا دې اودادَ معذرةُ دَ رفع دَ قرات په صورت كښې دې اودَ نصب په صورت كښې به دَ فعل محذوف مفعول له وى تقديرى عبارت به داشى عظناهم معذرة اى لمعذرة.

قوله: وهذا تفصيل: دادَ يوسوال مقدرجواب دې. سوال دادې چې فَلَمَّا عَتَوْا باندې فاء داخليدونه معلوميږى چې الله تعالى هغوى ته اول سزا وركړه مګر هغوى بياهم سركشى اوكړه دهغې په سزاكښې ئى هغوى دَ بيزوګانو په شكل كړل حالانكه هغوى ته هم دغه دمسخ يوعذاب وركړې شو ددې نه علاوه بل هيڅ عذاب نه دې وركړې شوې او فَلَمَّا كښې فاء دَ تفصيل ده نه چې دَ تعقيب.

قوله: أُمَمًا: ياخودَ قطعنا دَضميرنه حال دې يادَ قطعنا مفعول ثانى دې.

قوله: نَاسٌ منهم خبرمقدم دې دون ذلك دموصوف محذوف صفت دې اوهغه مبتداء ده. تقديرى عبارت داسې دې ومنهم ناسٌ قوم دون ذلك.

قوله: الْجُمْلَةُ حَالٌ وَّاِن يَّاْتِهِمْ عرض مثله يأخذوه، دا جمله دَ يقولون دَ ضميرنه حال دې او يقولون په معنى د يعتقدون دې.

[ایاتونه:۱۷۲-۱۸۱]

{وَ} اذكُرْ {إِذْ} حِين {أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ} بَدَل اشْتِمَال مِمَّا قبله بإعادة الجار {ذُرِّيَّاتِهِمْ} بِأَنْ أَخْرَجَ بَعْضَهُمْ مِنْ صُلْب بَعْض مِنْ صُلْب آدَم نَسْلًا بَعْد نَسْل كَنَحْوِ مَا يَتَوَالَدُونَ كَالذَّرِّ بِنُعْمَانَ يَوْم عَرَفَة وَنَصَبَ لَهُمْ دَلَائِل عَلَى رُبُوبِيَّته وَرَكَّبَ فِيهِمْ عَقْلًا {وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ} قَالَ {أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى} انت ربنا {شَهِدْنَا} بذلك والإشهاد ل {أَنْ} لَا {يَقُولُوا} بِالْيَاءِ وَالتَّاء فِي الْمَوْضِعَيْنِ أَيْ الْكُفَّار {يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا} التوحيد {غَافِلِينَ} لا نعرفه {أَوْ يَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْلَنَا {وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ} فَاقْتَدَيْنَا بِهِمْ {أَفَتُهْلِكُنَا} تُعَذِّبنَا {بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ} مِنْ آبَائِنَا بِتَأْسِيسِ الشِّرْك الْمَعْنَى لَا يُمْكِنهُمْ الِاحْتِجَاج بِذَلِكَ مَعَ إِشْهَادهمْ عَلَى أَنْفُسهمْ بِالتَّوْحِيدِ وَالتَّذْكِير بِهِ عَلَى لِسَان صَاحِب الْمُعْجِزَة قَائِم مَقَام ذِكْره فِي النفوس {وَكَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ} نُبَيِّنهَا مِثْل مَا بَيَّنَّا الْمِيثَاق لِيَتَدَبَّرُوهَا {وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} عَنْ كُفْرهمْ {وَاتْلُ} يَا مُحَمَّد {عَلَيْهِمْ} أَيْ الْيَهُود {نَبَأَ} خَبَر {الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا} خَرَجَ بِكُفْرِهِ كَمَا تَخْرُج الْحَيَّة مِنْ جِلْدهَا وَهُوَ بلعم بْن بَاعُورَاءَ مِنْ عُلَمَاء بَنِي إِسْرَائِيل سُئِلَ أَنْ يَدْعُو عَلَى مُوسَى وَأُهْدِيَ إِلَيْهِ شَيْء فَدَعَا فَانْقَلَبَ عَلَيْهِ وَانْدَلَعَ لِسَانه عَلَى صدره {فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ} فادركه فصار قرينه {فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ} {وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ} إِلَى مَنَازِل الْعُلَمَاء {بِهَا} بِأَنْ نُوَفِّقهُ لِلْعَمَلِ {وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ} سَكَنَ {إِلَى الْأَرْضِ} أَيْ الدُّنْيَا وَمَالَ إِلَيْهَا {وَاتَّبَعَ هَوَاهُ} فِي دُعَائِهِ إِلَيْهَا فَوَضَعْنَاهُ {فَمَثَلُهُ} صِفَته {كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ} بِالطَّرْدِ وَالزَّجْر {يَلْهَثْ} يَدْلَع لِسَانه {أَوْ} إِنْ {تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ} وَلَيْسَ غَيْره مِنْ الْحَيَوَان كَذَلِكَ وَجُمْلَتَا الشَّرْط حَال أَيْ لَاهِثًا ذَلِيلًا بِكُلِّ حَال وَالْقَصْد التَّشْبِيه فِي الْوَضْع وَالْخِسَّة بِقَرِينَةِ الْفَاء الْمُشْعِرَة بِتَرْتِيبِ مَا بَعْدهَا عَلَى مَا قَبْلهَا مِنْ الْمَيْل إِلَى الدُّنْيَا وَاتِّبَاع الْهَوَى وَبِقَرِينَةِ قَوْله {ذَلِكَ} الْمَثَل {مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ} عَلَى الْيَهُود {لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ} يَتَدَبَّرُونَ فِيهَا فيؤمنون {سَاءَ} بِئْسَ {مَثَلًا الْقَوْمُ} أَيْ مَثَل الْقَوْم {الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَأَنْفُسَهُمْ كَانُوا يَظْلِمُونَ} بِالتَّكْذِيبِ {مَنْ يَهْدِ اللَّهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِي وَمَنْ يُضْلِلْ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ} {وَلَقَدْ ذَرَأْنَا} خَلَقْنَا {لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا} الْحَقّ {وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا} دَلَائِل قُدْرَة اللَّه بَصَر اعْتِبَار {وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا} الْآيَات وَالْمَوَاعِظ سَمَاع تَدَبُّر وَاتِّعَاظ {أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ} فِي عَدَم الْفِقْه وَالْبَصَر وَالِاسْتِمَاع {بَلْ هُمْ أَضَلُّ} مِنْ الْأَنْعَام لِأَنَّهَا تَطْلُب مَنَافِعهَا وَتَهْرُب مِنْ مَضَارّهَا وَهَؤُلَاءِ يَقْدَمُونَ عَلَى النَّار معاندة {أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} {وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى} التِّسْعَة وَالتِّسْعُونَ الْوَارِد بِهَا الْحَدِيث وَالْحُسْنَى مُؤَنَّث الْأَحْسَن {فَادْعُوهُ} سَمُّوهُ {بِهَا وَذَرُوا} اُتْرُكُوا {الَّذِينَ يُلْحِدُونَ} مِنْ أَلْحَدَ وَلَحَدَ يَمِيلُونَ عَنْ الْحَقّ {فِي أَسْمَائِهِ} حَيْثُ اشْتَقُّوا منها اسماء لآلهتهم كاللات مِنْ اللَّه وَالْعُزَّى مِنْ الْعَزِيز وَمَنَاة مِنْ الْمَنَّان {سَيُجْزَوْنَ} فِي الْآخِرَة جَزَاء {مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ {وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ} هُمْ أُمَّة مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا فِي حَدِيث

Scanned with

ترجمه: او یاد کړه هغه وخت چې کوم وخت ستا رب دَاولاد آدم دَ شاګانو نه دَهغوئ اولاد راویستلو
مِنْ ظُهُوْرِهِمْ دَخپل ماقبل (مِنْ بَنِیْ آدم) نه په اعادې دَجار سره بدل دې په داسې توګه چې په
وادئ نعمان کښې دَعرفې په ورځ بعض دَ بعضو دشا نه دصلب آدم نه دَ میږو په شکل
کښې راوویستل نسلاً بعد نسلٍ دَهغې مطابق چې څنګه به پیداکیږی او په خپل ربوبیت
باندې دَهغوی دَپاره دلائل قائم کړل او په هغوی کښې ئې عقل ترتیب کړو، او پخپله ئې هم
هغوی په هغوی باندې ګواه جوړ کړل (الله) اوفرمائیل آیا زه ستاسو رب نه یم؟ نو ټولو جواب ورکړو
بیشکه ته زمونږه رب ئې اودا دَ ګواه کولو کارموځکه اوکړو دې دَپاره چې تاسو دَ قیامت په
ورځ داسې اونه وایئ چې مونږ خو دَ دغه توحید نه ناخبره وو یعنی مونږ ته دَدې علم نه وو،
یادا وئیل شروع نه کړئی چې شرک خوزمونږ نه وړاندې زمونږ پلارانو کړې وو دوارو
ځایونو کښې په یاء او تاء سره (دَیاء په صورت کښې به) کافران مراد وی او مونږ خو روستو
دَهغوی دَاولاد نه پیدا شو دَ کوم په وجه چې مونږ دَهغوی اقتداء اوکړه ولې ته مونږ ته دَهغوی
دَ قصور په بدله کښې سزا راکوې چې زمونږ دَ پلارانو نه غلط کار و خلقو دَ شرک بنیاد کیخودو
اوکړی یئ وو، مطلب دادې چې هغوی په خپل ذات باندې ګواه جوړولو نه پس دَدې قسم
احتجاج به ممکن نه وی او صاحب دَ معجزې (حضرت نبی ﷺ) په ژبه یاداشت ورکول
پخپله هم دَ هغوی په زړونو کښې دَ یاد پاتې کیدو په ځائی دی او مونږ هم دغه شان واضحه
نخښې بیانوو لکه څنګه چې مونږ عهد الست بیان کړو دې دَپاره چې دا خلق په هغې کښې
غور اوفکر اوکړی چې دَ کفر نه منع شی. اې محمد ﷺ یهودو ته دَهغه سړی خبر واوروه چاته
چې مونږ خپلې نخښې (کرامتونه) ورکړې وؤ نو هغه کفر دَ وجې نه دَ هغه کراماتونه اووتلو
لکه څنګه چې مار دَخپل پټ نه اوځی او هغه دَبنی اسرائیلو دَ علماؤ نه بلعم بن باعور وو.
ده ته درخواست اوکړې شو چې حضرت موسی علیه السلام او دَهغه ملګرو ته بد دعا اوکړه او ده
ته څه هدیه هم ورکړې شوه نو هغه بددعا اوکړه خو هغه خیرې هم په هغه باندې
راؤګرځیدې او دَهغه ژبه راووتله او دَهغه په سینه باندې زوړند شوه، بیا شیطان هغه پسې
شو هغه ئې رالاندې کړو او دَهغه دوست جوړ شو نو هغه په لارخطاکونکو (ګمراهانو) کښې
شامل شو، که چرې مونږ غوښتل نو دَ دغه آیاتونو په ذریعه به مونږ هغه ته اعلی درجات
ورکړې وو په داسې طریقه چې هغه ته به مو دَعمل توفیق ورکړې وې مګر هغه دپستی یعنی
دَدنیا طرف ته ټیټ شو او دَهغې طرف ته مائل شو او دَ خواهشاتو طرف ته رابللو کښې ئې
دَخپل خواهش تابعداری اوکړه نو مونږ هم هغه پست (ذلیل) کړو نو دَهغه مثال دَهغه سپی په شان
دې چې که چرې ته دَ شړلو په ذریعه په هغه سختی کوې نو هغه ژبه راوویستې وی او که چرې
پرېږدې نو بیائی هم ژبه راویستې وی، دَ سپی نه علاوه په بل ځناور کښې داخاصیت نشته

Scanned with

اودواړه شرطيه جملې حال دی. يعنی لاهثًا ذليلا، حال دادې چې هغه ژبه زوړندکړې په هرحال کښې ذليل دې او مقصدپه پستی. اوذلت کښې تشبيه ورکول دی (او) قرينه فاء ده کوم چې مشعردې دَخپل مابعدپه ماقبل باندې کوم چې دَدنيا طرف ته دَميلان اوخواهش اتباع ده، دَمرتب کيدودَوجې نه دَهغه قول ذلك المثل په قرينې سره، دامثال دې دَهغه خلقوچاچې زمونږآياتونه دروغ ګڼړلی دی نوتاسو يهودوته قصې واوروئی چې په هغې کښې غور او فکراوکړی او ايمان راوړی، اودَهغه خلقو مثال چاچې زمونږآياتونه دروغ ګڼړلی خراب مثال دې هغه خلق دَ تکذيب په وجه هم خپل نقصان کوی الله تعالی چې چاته هدايت کوی هم هغه خلق هدايت يافته دی اوڅوک چې بې لارې کړی هم هغه دَتاوانيانونه دی اودا حقيقت دې چې مونږ ډير پيريان اوانسانان دَ دوزخ دَپاره پيداکړی دی دَهغوی داسې زړونه دی چې په هغې سره دَ حق پيژندګلونه کوی اودَهغوی سترګې دی خو په هغې سره دَالله تعالی دَ قدرت دلائل دَ عبرت په نظرسره نه ګوری اودَ هغوی غوږونه شته خو دَهغې په ذريعه آياتونه اونصيحتونه دَتدبراونصيحت دَپاره نه اوری داخلق په نه پوهيدوکښې نه کتوکښې اونه په اوريدوکښې دَ څناورو په شان دی بلکه دَهغې نه هم زيات خراب دی ځکه چې څناور دَ خپلې فائدې څيز طلب کوی اودَ تکليف رسونکوڅيزونونه (لرې) تختی اوداخلق خو دَعناد دَ وجې نه دوزخ طرف ته ورورانډې کيږی. داهغه خلق دی چې په غفلت کښې پراته دی اودَ الله تعالی يوکم سل ښکلې نومونه دی کوم چې په حديث کښې واردشوی دی حُسنیٰ دَأحْسَنُ مؤنث دې لهذا هغه په هم دغه نومونوسره رابلئی اوهغه خلق پريږدئی چې دَ الله تعالی په نومونوکښې کوږوالې (الحاد) اختياروی دا دَ اَلْحَدَ او لَحَدَ نه مشتق دې په داسې توګه چې هغوی دَالله تعالی نومونونه دَ خپلو معبودانو نومونه جوړکړی دی مثلاً لات دَالله نه، العزی دَعزيز نه اومنات دَ منان نه، ديرزر به هغوئ په آخرت کښې دهغه څه بدله اومومی څه چې هغوی کول، داحکم دَ جهاددَ حکم نه وړاندې دې اوزمونږپه مخلوق کښې يوجماعت داسې هم دې چې دَحق مطابق هدايت اوهم دَحق مطابق انصاف کوی اوهغه دَمحمد ﷺ امت دې لکه چې په حديث کښې راغلی دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: بَدَلُ اشتمالٍ مما قبله، يعنی من ظهورهم، دبنی آدَمَ نه بدل الاشتمال دې داقول دکواشی په اتباع کښې دې، صاحب کشاف وئيلی دی چې بدل البعض عن الکل دې اوهم دَغه ظاهردی، لکه چې ضربت زيدًا ظهرَه ته چابدل الاشتمال نه دی وئيلی، تقديری عبارت به داسې شی وَاِذْاَخَذَ رَبُّكَ من ظهوربنی آدم.

قوله: مَنْ صُلْبٍ بَعْضٍ مِنْ صُلْبِ آدَمَ، من صلب بعض موصوف دې اومن صلب آدم يئ

صفت دي يعنى راوويستلو اولاد دَ صلب بعض نه كوم چې صلب آدم دي.

قوله: نسلاً بعد نسلٍ، يعنى هم په دې ترتيب سره په دنياكښې ظهوركيدونكې وو، يعنى اول ئې دَحضرت آدم عليه السلام دَ شانه دَ آدم عليه السلام بلا واسطه ذريت راوويستلو اوبيا يې دَ ذريت آدم دَ شانه دَهغوى اولاد راوويستلو.

قوله: قَالَ، لفظ قَالَ ئې دَدې وجې نه مقدرمنلې دې چې بلاضرورت التفات عن الغيبت الى التكلم لازم نشي.

قوله: اَنْتَ رَبُّنَا، دااضافه دَ يوسوال مقدرجواب دې چې بلى دَ قَالو مقولې ده. اودَ مقوله دَ پاره جمله كيدل ضرورى دى حالانكه بلى (حرف) مقوله واقع ده، جواب دادې چې په عبارت كښې حذف دې. تقديرى عبارت دادې بلى أنت ربنا لهذا اوس هيڅ اشكال پاتې نه شو.

قوله: والاشهادُ، لاشهادُ اودلام په تقدير سره ئى اشاره اوكړه چې أن تقولوا، دَ شَهِدْنَا مفعول له دې. (تسهيل)

قوله: شَهِدْنَا، په دې كښې درې احتمالات دى ① داچې دَ ملائكه كلام وى كومې چې الله تعالى دَ ذريت آدم په اقراربانديې ګواه جوړې كړې، په دې صورت كښې به وقف په بلى باندې وى. ② داهم احتمال دې چې دَ ذريت كلام وى په دې صورت كښې به معنى داوى مونږ دَدې اقرار اوكړو، ګواهى وركړه، په دې صورت كښې به په بلى باندې وقف صحيح نه وى بلكه په شهدنا باندې به موقف وى. ③ دَالله تعالى كلام وى، أى شهدنا على إقراركم كراهة أن تقولوا، أولئلاً تقولوا يعنى مونږ تاسو نه ځكه اقرار واخستو دې دَپاره چې تاسو دَ لاعلمئ عذر اونه كړې شئ يا داخبره مو ناخوښه كړه چې تاسو دَلاعلمئ عذر اوكړئ.

قوله: المَعْنى لايُمْكِنُهُمُ الاحْتِجَاجُ بذلك مطلب دادې چې دَ ذريت آدم نه اقرار اخستلونه پس به هغوى سره دَ لاعلمئ او غفلت عذرباقى پاتې نه شى اودابه نه شى وئيلې، يا إله العالمين دَدې عهداوميثاق باره كښې مونږ ته هيڅ علم نه وو دَ كوم دَ وجې نه چې مونږ په غفلت كښې پاتې شو.

قوله: وَالتَّذْكِيْرُبه عَلى لِسَانِ صَاحِبِ المُعْجِزَةِ قَائِمٌ مَقَامَ ذِكْرِه فِى النُّفُوْسِ دا عبارت دَ يوسوال مقدرجواب دې،

سوال: دادې چې دَ ازل په ورځ اخستې شوې اقرار دنياته دَراتلونه پس نسامنسيا شو اوس چاته هم عهد اَلَسْتُ يادنه دې نودَداسې عهددَ څه فائده چې دَسره يادنه وى او نه دَدې وجې نه مواخذه كول پكاردى.

جواب: داهيركړې شوې عهد الست دياد ولودَپاره خو انبياء كرام مبعوث كولې شى چې

بار بار ئې دَدې عهد ياد ګيرنه کړې ده، لهذا اوس دَ عدم مواخذه څه وجه نشته دې.

قوله: التَّذْكِيْرُ مُبْتَدَاء ده او قائمقام ذكره في النفوس دَدې خبر دې.

قوله: سَكَنَ په دې کښې اشاره ده چې أَخْلَدَ دَ خلود نه مشتق نه دې دَ کوم معنى چې دوام يعنى هميشه والې دې بلکه أَخْلَدَ په معنى دَ مالَ دې، أَخْلَدَ إلى الأرض، أى مالَ إليهَا.

قوله: في دعائه اليها أى دعاء الهوى اياه، يعنى دَنفسْ خواهش بلعم دَدنيا طرف ته راوبللو په دې کښې مصدر مضاف فاعل ته دې.

قوله: فَوَضَعْنَاه، اى ذَلَّلْنَاه.

قوله: أَوْإِنْ تَتْرُكْهُ، په بعض نسخو کښې إِنْ پاتې شوې دې کوم چې دَ کاتب سهو ده. مفسر علام إِنْ مقدر منلو سره اشاره اوکړه چې دَدې عطف په تحمل باندې دې نه چې لَنْ تَحْمِلْ باندې لهذا دَتترکه جزم ښکاره شو.

قوله: جُمْلَتَا الشَّرْطِ حَالٌ، يعنى معطوف او معطوف عليه دواړه جملې حال دى، مطلب داد ې چې سپې په هر حال کښې لاهث وى که دَ شدت حالت وى او که دَ راحت.

[اياتونه:١٨٢-١٨٨]

{وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} الْقُرْآن مِنْ أَهْل مَكَّة {سنستدرجهم} نأخذهم قليلا قليلا {من حيث لا يعلمون} {وَأُمْلِي لَهُمْ} أُمْهِلهُمْ {إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ} شَدِيد لا يطاق {أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا} فَيَعْلَمُوا {مَا بِصَاحِبِهِمْ} مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {مِنْ جِنَّة} جُنُون {إِنْ} مَا {هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ مُبِينٌ} بَيِّن الْإِنْذَار {أولم ينظروا في ملكوت} ملك {السماوات وَالْأَرْض وَ} فِي {مَا خَلَقَ اللَّهُ مِنْ شَيْء} بَيَان لِمَا فَيَسْتَدِلُّوا بِهِ عَلَى قُدْرَة صَانِعه وَوَحْدَانِيّته {و} فِي {أَنْ} أَيْ أَنَّهُ {عَسَى أَنْ يَكُون قَدْ اقْتَرَبَ} قَرُبَ {أَجَلهمْ} فَيَمُوتُوا كُفَّارًا فَيَصِيرُوا إِلَى النَّار فَيُبَادِرُوا إِلَى الإيمان {فبأي حديث بعده} أي القرآن {يؤمنون} {مَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ وَيَذَرُهُمْ} بِالْيَاءِ وَالنُّون مَعَ الرَّفْع اسْتِئْنَافًا وَالْجَزْم عَطْفًا عَلَى مَحَلّ مَا بَعْد الْفَاء {فِي طُغْيَانهمْ يَعْمَهُونَ} يَتَرَدَّدُونَ تَحَيُّرًا {يَسْأَلُونَك} أَيْ أَهْل مَكَّة {عَنْ السَّاعَة} الْقِيَامَة {أَيَّانَ} مَتَى {مُرْسَاهَا قُلْ} لَهُمْ {إِنَّمَا عِلْمهَا} مَتَى تَكُون {عِنْد رَبِّي لَا يُجَلِّيهَا} يُظْهِرهَا {لِوَقْتِهَا} اللَّام بِمَعْنَى فِي {إِلَّا هُوَ ثَقُلَتْ} عَظُمَتْ {فِي السَّمَاوَات وَالْأَرْض} عَلَى أَهْلهَا لِهَوْلِهَا {لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَة} فَجْأَة {يَسْأَلُونَك كَأَنَّك حَفِيّ} مُبَالِغ فِي السُّؤَال {عَنْهَا} حَتَّى عَلِمْتهَا {قُلْ إِنَّمَا عِلْمهَا عِنْد اللَّه} تَأْكِيد {وَلَكِنَّ أَكْثَر النَّاس لَا يَعْلَمُونَ} أَنَّ عِلْمهَا عِنْده تعالى {قُلْ لَا أَمْلِك لِنَفْسِي نَفْعًا} أَجْلُبهُ {وَلَا ضَرًّا} أدفعه {إِلَّا مَا شَاءَ اللَّه وَلَوْ كُنْت أَعْلَم الْغَيْب} مَا غَابَ عَنِّي {لَاسْتَكْثَرْت مِنْ الْخَيْر وَمَا مَسَّنِيَ السُّوء} مِنْ فَقْر وَغَيْره لِاحْتِرَازِي عَنْهُ بِاجْتِنَابِ الْمَضَارّ {إِنْ} مَا {أَنَا إِلَّا نَذِير} بِالنَّارِ لِلْكَافِرِينَ {وَبَشِير} بِالْجَنَّةِ {لقوم يؤمنون}

Scanned with

ترجمه: دَاهل مکه نه چې کوم خلقو زمونږ آیاتونه یعنی قرآن دروغ اوګنړلو مونږ هغوی وار په وار په ګرفت کښې اخلو په داسې طریقه چې هغوی ته پته هم نه لګی اوهغوی ته زه مهلت ورکوم بیشکه زما تدبیر ډیر مضبوط دې دَ کوم په چا کښې هیڅ طاقت نشته، آیادې خلقوغوراونه کړو؟ چې پوهه شوې وې چې دَهغوی ملګرې محمد ﷺ ته هیڅ یوقسم جنون نشته هغه خوصرف صفا صفاویرونکې دې ولې دغه خلقو دَ زمکې اوآسمان په عالم کښې اوپه (نورو) څیزونوکښې کوم چې الله تعالی پیداکړی دی (من شئ) دَمَابیان دې، چې دَهغې دَ جوړونکی په قدرت اودَهغه په وحدانیت باندې استدلال کړې وې او په دې خبره کښې چې ممکن دی چې دَهغوی دَ مرګ وخت نیزدې راغلې وی اوهغوی هم دکفر په حالت کښې مړه شی او اور ته به اورسی. لهذا دَایمان طرف ته وړاندې کیدل پکاردی. بیابه دَ قرآن په ځائې په کومه خبره ایمان راوړی. څوک چې الله تعالی ګمراه کړی هغه هیڅوک په لارنه شی راوستې او الله تعالی هغوی دَهغوی په ګمراهئ کښې په حیرانتیاسره حیران پریږدی، دَیاء اونون په صورت کښې دَاستیناف په توګه په رفع سره، او په جزم سره دَ مابعدالفاء په محل باندې دَعطف دَ وجې نه، اهل مکه ستانه دَ قیامت په باره کښې سوال کوی چې دابه کله واقع کیږی؟ ته هغوی ته اووایه چې قیامت به کله واقع کیږی، دَدې علم صرف هم زما رب سره دې، هغه دَهغې په خپل وخت باندې هم هغه ښکاره کولې شی هغه به دَ آسمانونو او زمکې والوباندې دَهغې دَخطرناك کیدو دَ وجې ډیر دروندوخت وی، هغه (قیامت) به په تاسو ناڅاپی راشی، داخلق دَقیامت متعلق تانه داسې سوال کوی لکه چې تادَهغې تحقیق کړې دې تردې چې تاته دَهغې علم اوشو، ته ورته اووایه چې ددې علم صرف هم الله تعالی سره دې داتاکید دې لیکن اکثر خلق نه پوهیږی چې دَدې علم صرف الله تعالی سره دې. ته ورته اووایه چې زه پخپله دَخپل ذات دَپاره دَ څه نفع چې زه یې حاصله کړې شم اختیارنه لرم اونه دَنقصان چې هغه لرې کړې شم مګرصرف هم دومره څومره چې الله تعالی غواړی. که چرې ماد َغیبو خبرې پیژندلې نومابه ډیرې منافع راجمع کړې وې اوماته به دَفقر وغیره هیڅ تکلیف نه رارسیدلو زما دَهغې نقصان نه دَ بچ کیدلو دَ وجې دَ مضر څیزونونه د اجتناب په سبب، زه خو کافران دَ اور نه ویرونکې یم اواهل ایمان ته دَ جنت زیرې ورکونکې یم.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: نَأخذُ، دَنَسْتَدْرِجُ تفسیر په نَأخذُ سره دکولو کښې یې مراد دی معنی طرف ته اشاره اوکړه، دَاستدراج لغوی معنی ده درجه په درجه ختل، (الاستصعاد درجةً بعددرجةٍ) چونکه دکافرانودَپاره څه اصعادنشته څکه دَدې نه مرادی معنی مراد ده، یعنی وار په وار ګرفت کښې اخلی.

قوله: اَمُلِيْهِمْ، دا اضافه هم دَمرادی معنی بیانولودَپاره ده. څکه چې دَاُملی معنی

دَاملاءکولو ده کومه چې دلته مراد نه ده.
قوله: فَيَعْلَمُوْنَ داد َیو سوال جواب دي.
سوال: فیعلمون مقدرمنلو څه ضرورت پیښ شو؟
جواب: فیعلمون مقدر منلو سره یې اشاره اوکړه چې مابصاحبهم دیعلمون مقدرمفعول دې نه چې دَ یتفکروا ځکه چې یتفکروا، لازم دي دې ته دَمفعول ضرورت نشته حالانکه مفعول موجود دې. لهذا اعتراض ختم شو چې یتفکروا مفعول طرف ته متعدی نه دې.
قوله: جُنُوْنٌ، دَجنة تفسیر په جنون سره کولوکښې یې اشاره اوکړه چې دَ جنة نه جن قوم مراد نه دې ځکه چې دادکافرانو په جواب کښې واقع دي کافرانوبه وئیل إنَّ صاحبکم لمجنون که دَ جنةنه قوم جن (جنات) مراد واخستې شی نو په سوال اوجواب کښې به مطابقت پاتې نه شی.
قوله: وفی دَدې تقدیر مقصددې خبرې ته اشاره ده چې دَماخلق الله عطف په ملکوت باندې دې نه چې په قرب (الأرض) باندې ځکه چې په دې صورت کښې به معنی صحیح نه وی.
قوله: أي أَنَّهُ په دې تقدیرکښې اشاره ده چې أنْ مخففه عن الثقیله دې نه چې مصدریه لکه چې دَبعض حضراتو داخیال دې ځکه چې أنْ مصدریه په افعال غیرمتصرفه باندې نه داخلیږی ځکه چې دهغې مصادرنه وی.
قوله: فَيَتَبَادَرُوْا: داد َأَوَلَمْ ینظروا جواب کیدودَ وجې نه مجزوم دې.
قوله: مع الرَّفْعِ استِئْنَافًا، أی وهونذرهم.
قوله: وبالجَزْمِ عَطْفًا عَلٰی مَحَلِّ مَابَعْدَ الفَاءِ دا په نذرهم کښې دویم ترکیب ته اشاره ده. په نذر کښې دوه اعراب دی رفع په وجه دَ استیناف او جزم په سبب دَ جواب نهی، لاهادی له جواب شرط کیدودَ وجې نه محلاً مجزوم دې.
سوال: په محل باندې یې عطف کړو په لفظ باندې یې عطف نه دې کړې دَدې څه وجه ده؟
جواب: دَدې دَپاره چې په دې صورت کښې دَفعل په اسم باندې عطف لازم راځی کوم چې مستحسن نه دې، تقدیری عبارت دادې من یضلل الله فلاهادیه أحد ونذرهم.
قوله: مُرْسٰهَا، إِرْسَاءٌ نه مصدرمیمی دې په معنی دَ استقرار اواثبات، مجرد، رَسَا، بمعنی ثبت رست السفینة أی وقفت عن الجری.
قوله: حَفِيٌّ په سوال کښې مبالغه کونکې یعنی دَمسئلې بیخ ته درسیدو کوشش کونکې، څوک چې داسې مبالغه کوی هغه دَ حقیقت حال نه واقف کیږی اوهم دَدې نه إحفاءالشارب دې.

[آیاتونه:۱۸۹-۲۰۶]

{هُوَ} أَيْ اللّٰه {الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ} أَيْ آدم {وَجَعَلَ} خَلَقَ {مِنْهَا زَوْجَهَا} حَوَّاء {لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا} وَيَأْلَفهَا {فَلَمَّا تَغَشَّاهَا} جَامَعَهَا {حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا} هُوَ النُّطْفَة {فَمَرَّتْ بِهِ} ذَهَبَتْ وَجَاءَتْ لِخِفَّتِهِ {فَلَمَّا أَثْقَلَتْ} بِكِبَرِ الْوَلَد فِي بَطْنهَا وَأَشْفَقَا أَنْ يَكُون بَهِيمَة {دَعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ آتَيْتَنَا} وَلَدًا {صَالِحًا} سَوِيًّا {لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ} لَك عَلَيْهِ {فَلَمَّا آتَاهُمَا} وَلَدًا {صَالِحًا جَعَلَا لَهُ شُرَكَاء} وَفِي قِرَاءَة بِكَسْرِ الشِّين وَالتَّنْوِين أَيْ شَرِيكًا {فِيمَا آتَاهُمَا} بِتَسْمِيَتِهِ عَبْد الْحَارِث وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يَكُون عَبْدًا إِلَّا لِلّٰهِ وَلَيْسَ بِإِشْرَاكٍ فِي الْعُبُودِيَّة لِعِصْمَةِ آدَم وَرَوَى سَمُرَة عَنْ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا وَلَدَتْ حَوَّاء طَافَ بِهَا إِبْلِيس وَكَانَ لَا يَعِيش لَهَا وَلَد فَقَالَ سَمِّيهِ عَبْد الْحَارِث فَإِنَّهُ يَعِيش فَسَمَّتْهُ فَعَاشَ فَكَانَ ذَلِكَ مِنْ وَحْي الشَّيْطَان وَأَمْره رَوَاهُ الْحَاكِم وَقَالَ صَحِيح وَالتِّرْمِذِيّ وَقَالَ حَسَن غَرِيب {فَتَعَالَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ} أَيْ أَهْل مَكَّة بِهِ مِنَ الْأَصْنَام وَالْجُمْلَة مُسَبَّبَة عَطْف عَلَى خَلَقَكُمْ وَمَا بَيْنهمَا اعتراض {أيشركون} به في العبادة {ما لا يخلق شيئا وهم يخلقون} {وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ} أَيْ لِعَابِدِيهِمْ {نَصْرًا وَلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ} بِمَنْعِهَا مِمَّنْ أَرَادَ بِهِمْ سُوءًا مِنْ كَسْر أَوْ غَيْره وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّوْبِيخِ {وَإِنْ تَدْعُوهُمْ} أَيْ الْأَصْنَام {إِلَى الْهُدَى لَا يَتَّبِعُوكُمْ} بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد {سَوَاءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ} إِلَيْهِ {أَمْ أَنْتُمْ صَامِتُونَ} عَنْ دُعَائِهِمْ لَا يَتَّبِعُوهُ لعدم سماعهم {إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ} تَعْبُدُونَ {مِنْ دُونِ اللّٰهِ عِبَادٌ} مَمْلُوكَة {أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ} دُعَاءَكُمْ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّهَا آلِهَة ثُمَّ بين غاية عجزهم وفضل عابديهم عليهم فقال {أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ} بل أ {لَهُمْ أَيْدٍ} جمع يد {يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ} بل أ {لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا} اسْتِفْهَام إِنْكَارِيّ أَيْ لَيْسَ لَهُمْ شَيْء مِنْ ذَلِكَ مِمَّا هُوَ لَكُمْ فَكَيْفَ تَعْبُدُونَهُمْ وَأَنْتُمْ أَتَمّ حَالًا مِنْهُمْ {قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّد {ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ} إلى هلاكي {ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنْظِرُونِ} تمهلون فإني لا أبالي بكم {إِنَّ وَلِيِّيَ اللّٰهُ} مُتَوَلِّي أُمُورِي {الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ} الْقُرْآن {وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ} {وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَا أَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ} فَكَيْفَ أُبَالِي بِهِمْ {وَإِنْ تَدْعُوهُمْ} أَيْ الْأَصْنَام {إِلَى الْهُدَى لَا يَسْمَعُوا وَتَرَاهُمْ} أَيْ الْأَصْنَام يَا مُحَمَّد {يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ} اي يقابلونك كالناظر {وَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ} {خُذِ الْعَفْوَ} الْيُسْر مِنْ أَخْلَاق النَّاس وَلَا تَبْحَث عَنْهَا {وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ} بِالْمَعْرُوفِ {وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ} فَلَا تُقَابِلهُمْ بِسَفَهِهِمْ {وَإِمَّا} فِيهِ إِدْغَام نُون إِنْ الشَّرْطِيَّة فِي مَا الْمَزِيدَة {يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ} أَيْ إِنْ يَصْرِفك عَمَّا أُمِرْت بِهِ صَارِف {فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ} جَوَاب الشَّرْط وَجَوَاب الْأَمْر مَحْذُوف أَيْ يَدْفَعهُ عَنْك {إِنَّهُ سَمِيعٌ} لِلْقَوْلِ {عَلِيمٌ} بِالْفِعْلِ {إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ} أَصَابَهُمْ {طَيْفٌ} وَفِي قِرَاءَة طَائِف أَيْ شَيْء أَلَمَّ بِهِمْ {مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا} عِقَاب اللّٰه وَثَوَابه {فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ} الْحَقّ مِنْ غَيْره فَيَرْجِعُونَ {وَإِخْوَانُهُمْ} أَيْ إِخْوَان الشَّيَاطِين مِنَ الْكُفَّار {يَمُدُّونَهُمْ} أَيْ الشَّيَاطِين {فِي الْغَيِّ ثُمَّ} هُمْ {لَا يُقْصِرُونَ} يَكُفُّونَ عَنْهُ بِالتَّبَصُّرِ كَمَا تَبَصَّرَ الْمُتَّقُونَ {وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ} أَيْ أَهْل مَكَّة {بِآيَةٍ} مِمَّا اقْتَرَحُوا

Scanned with

{قَالُوا لَوْلَا} هَلَّا {اجْتَبَيْتَهَا} انشاتها مِنْ قِبَل نَفسك {قُلْ} لَهُمْ {إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي} وَلَيْسَ لِي أَنْ آتِي مِنْ عِنْد نَفْسِي بِشَيْءٍ {هَٰذَا} القرآن {بصائر} حجج {من ربكم وهدى ورحمة لقوم يؤمنون} {وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا} عَنْ الْكَلام {لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ} نَزَلَتْ فِي تَرْك الْكَلام فِي الْخُطْبَة وَعَبَّرَ عَنْهَا بِالْقُرْآنِ لِاشْتِمَالِهَا عَلَيْهِ وَقِيلَ فِي قِرَاءَة الْقُرْآن مُطْلَقًا {وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ} أَيْ سِرًّا {تَضَرُّعًا} تَذَلُّلًا {وَخِيفَةً} خَوْفًا مِنْهُ {و} فَوْق السِّرّ {دُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ} أَيْ قَصْدًا بَيْنهمَا {بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ} أَوَائِل النَّهَار وَأَوَاخِره {وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ} عَنْ ذِكْر اللّٰه {إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ} أَيْ الْمَلَائِكَة {لَا يَسْتَكْبِرُونَ} يَتَكَبَّرُونَ {عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ} يُنَزِّهُونَهُ عَمَّا لَا يَلِيق بِهِ {وَلَهُ يَسْجُدُونَ} أَيْ يَخُصُّونَهُ بالخضوع والعبادة فكونوا مثلهم

ترجمه: هغه يعنى هم الله تعالى دے چې تاسوئى ذَ يونفس يعنى حضرت آدم ﷺ نه پيدا كړئى اوهم ذَدغه نفس نه ئى ذَهغه جوړه بى بى حواء پيدا كړه دې ذَپاره چې په هغې سره سكون حاصل كړى اود هغې سره محبت اوكړى چنانچې په هغې راخورشو يعنى هغې سره ئې مجامعت اوكړو. نوذَهغې سپک غوندې حمل شو. هغوى په دې خبره اوويريدل چې دغه (حمل) چرته څه ښناورنه وى نوهغوى خپل رب الله تعالى نه دعااوغوښتله كه چرې ته مونږ ته نيک صحيح سالم بچې راكړې نومونږ به په هغې باندې ستا شكرګذاريو، نوچې كله الله تعالى هغوى ته صحيح سالم اولادوركړونودواړو (بى بى) ذَ (الله تعالى) ذَ وركړې شوى بچى نوم عبد الحارث كيخودوسره ذَالله تعالى شريک اوګرځولو اوپه يوقراءت كښې ذَ شين په كسرې سره اودكاف په تنوين سره دې (شركً) دې حالانكه داقطعًا صحيح نه دې چې ذَالله تعالى نه علاوه ذَچا بنده وى، اودا (شرك فى التسميه دى) شرك فى العبادت نه دې. ذَحضرت آدم ﷺ معصوم كيدوذَ وجې او (حضرت) سمره ﷺ ذَ رسول الله ﷺ نه روايت كړې دې چې حضورپاك ﷺ اوفرمائيل كوم وخت چې ذَ حواء بى بى بچې پيدا شو نوابليس هغوى له چكرې وهل شروع كړې اوذَ حواء بى بى بچې به ژوندې نه پاتې كيدو ابليس هغې ته اووئيل چې ته ذَ ده نوم عبد الحارث كيږده نودې به ژوندې پاتې شى. نوحضرت حواء ذَهغه نوم (عبد الحارث) كيخودو نوبچې ژوندې پاتې شو اوداهرڅه ذَ شيطان په اشاره اوذَهغه په حكم سره اوشو. دا حاكم روايت كړې دې او دې ته ئى صحيح وئيلى دى اوترمذى ورته حسن غريب وئيلې دې. پس الله تعالى ذَ اهل مكه ذَهغه سره ذَ بتانوذَ شريک كولونه پاک دې. او (فتعلى الله عما يشركون) جمله مسببه ده اوپه خلقكم باندې عطف ده او ذَ دواړوپه مينځ كښې جمله معترضه ده آيا هغوى په عباددت كښې ذَهغه (ذَ بتانو) شريک ګرځوى چې هيڅ نه شى پيدا كولې اوهغه پخپله مخلوق دې اوهغوى ذَ خپل عبادت كونكو ذَهيڅ قسم امدادنه شى كولې اونه خپل ځان پخپله بچ كولې شى ذَهغه سړى نه چې په بدنيتئى

Scanned with

سره دَهغوی دَ ماتولو وغیره اراده اوکړی. او استفهام دَتوبیخ دَپاره دې اوکه تاسو بتان دَ هدایت (لارخودنې) دَپاره رابلې نوهغوی به ستاسو خبره نه منی (یتبعوکم) په تشدیداوتخفیف سره دې ستاسودَپاره برابر دی چې تاسوهغوئ دَ لارخودنې دَپاره رابلئ اوکه نه ئی رابلئ دَهغوی دَ نه اوریدودَ وجې نه ستاسو په آواز به غوږ نه خوزوی. دَالله تعالی پریخودوسره چې تاسو دَچابندګی کوئی هغه هم ستاسو په شان مخلوق دې نوتاسو هغوی ته آواز کولوسره اوګورئی هغوی له پکاردی چې ستاسو په آوازباندې جواب درکړی، که چرې تاسو په خپله وعده کښې رښتونی یئې چې دا معبودان دی بیا دَ بتانو ډیره زیاته عاجزی او دَهغوی دَ عبادت کونکو په هغوی باندې فضیلت بیانولوسره فرمائی آیا دَ دوی خپې شته چې په هغې تګ اوکړې شی؟ یادَ دوی لاسونه شته چې په هغې نیول اوکړی؟ ایډ دَ ید جمع ده یادَ دوی سترګې شته په کوم سره چې هغوی لیدل اوکړې شی یادَدوی غوږونه شته چې په هغې سره واوریدې شی؟ (په دې ټولو ځایونو کښې) استفهام انکاری دې یعنی په ذکرشوو څیزونو کښې هغوی سره یوهم نشته کوم چې تاسو سره دی نوبیاتاسو په کوم بنیاددَهغوی بندګی کوئی حالانکه تاسودَهغوی نه دَ حالت په اعتبارسره (بهرحال) بهتر یئ. اې محمد ﷺ دوی ته اووایه زمادَ هلاکت دَپاره خپل شریکان راوُغواړئی بیا زماباره کښې تدبیراوکړئی او ماته مهلت مه راکوئی زه ستاسو هیڅ پرواه نه کوم بیشکه زما امدادی الله تعالی دې چاچې کتاب (یعنی) قرآن نازل کړو اوهغه په خپله نګرانئ کښې دَ نیکانوخلقو حفاظت کوی اودَ چاچې تاسو الله تعالی پریخودوسره بندګی کوئی هغه ستاسو امداد نه شی کولې اونه هغوی په خپل امدادباندې قادر دی، نوزه ولې دَهغوی پرواه اوکړم؟ اوکه چرې تاسو بتان دَ لارخودنې دَپاره رابلئ نوهغوی نه اوری. او اې محمد ﷺ که چرې ته دې بتانوته اوګورې نو داسې به معلومیږی چې هغه ستاطرف ته ګوری یعنی دَ کتونکوپه شان ستا په مخامخ دی حالانکه هغوی هیڅ نه شی لیدلې ته معافی اختیارکړه (یعنی) دَ خلقو دَ اخلاقو باره کښې دَ آسانئ نه کار واخله (دَهغوی دَ عیبونو) په لټون کښې مه پریوځه اودَ نیکوحکم کوه اودَ جاهلانونه ځان ددې ته کړه اودَهغوی دَ بیوقوفتوب مقابله مه کوه اوکه چرې دَ شیطان دَ طرف نه څه وسوسه راشی یعنی که تادَ مامور به نه څوك اړونکې اړوی نودَالله تعالی پناه غواړه. (اِمّا) په مازائده کښې دَنون شرطیه ادغام دې. (فاستعذبالله) جواب شرط دې. او جواب امر محذوف دې اوهغه یَدْفعه عنكَ دې بیشکه هغه دَ خبرې اوریدونکې اودَعمل لیدونکې دې بیشکه کوم خلق چې دَالله تعالی نه ویریږې کله چې دَ شیطان دَطرف نه هغوی ته خطره مخې ته کیږی نوهغوی دَالله تعالی سزا اوثواب رایادوی او په یوقراءت کښې دَ طیف په ځائې طائف دې یعنی که دَ شیطان دَ طرف نه څه وسوسه راځی نوهغوی زر حق او ناحق ته ګوری (یعنی په دواړو کښې فرق کوی) نوهغوی دَ دغه وسوسې نه منع کیږی، او دَ کافرانونه چې څوك دَ شیطان ملګری دی نوشیطانان هغوی

په گمراهئ کښې راکاږي بيا هغوئ (دشيطان ملګرې) دغه گمراهئ نه سترګې کهولاويدو يعنې دَ پوهيدلونه باوجود نه منع کيږي لکه چې متقي دَ نظرنه کاراخلي اوکوم وخت چې تاسو دَ اهل مکه په مخکښې دَهغوی تجویزکړې شوې (فرمائشي) معجزې رانوړې نو وائي تادَخپل طرف نه دا معجزه ولې رانوړه؟ ته هغوی ته اووايه چې زه خو صرف دَهغه حکم اتباع کوم چې ماله زما دَ رب دَ طرف نه راليږلې شي زما په اختيارکښې نه دی چې زه دَخپل ځان نه څه راوړلې شم. دا قرآن دَ خلقو دَپاره ستاسودَ رب دَ طرف نه دلائل دی او هدايت دې او رحمت دې دَايمان راوړونکودَپاره اوکوم وخت چې قرآن لوستلې کيږی نودا په غورسره اورئی او خبرې اترې مه کوئی چپ کينئ دې دَپاره چې په تاسورحم اوکړې شی. دا آيت دَخطبې په وخت دَ خبرو نه کولو باره کښې نازل شوې دې او خطبه ئی په قرآن سره ځکه تعبيرکړې ده چې خطبه په قرآن باندې مشتمل وی او وئيلی شوی دی چې مطلقًا دَ قرآن په باره کښې نازل شوې دې او (اې مخاطب) خپل رب پټ پټ په عاجزئی سره او دَالله تعالى نه په ويره سره يادوه يعنى دَ ژبې لاندې نه پاس اوجهرفی الکلام نه لاندې، يعنی دَ پټ او ښکاره په مينځ کښې اراده کولوسره سحرماښام يعنی په اول ورځ کښې او په آخرد ورځ کښې اودَالله تعالى دَ ذکرنه غفلت کونکوکښې مه کيږه، بيشکه هغه دمخلوق يعنی کوم چې ستا رب سره دې دَهغه دَ عبادت نه تکبرنه کوی اوکوم څيزچې دَهغه دَ شان لائق نه دې دَهغې نه دَهغه پاکی بيانوی اودَهغه دَپاره سجده کوی يعنی دَعاجزئی اوعبادت دَپاره هغه خالص کوی نوتاسوهم دَهغوی په شان شئ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وَجَعَلَ مِنْهَا، ضمير مجرور دنفس طرف ته راجع دې په اعتبار دَ لفظ اودَ لِيَسْكُنَ ضميرهم دَ نفس طرف ته راجع دې په اعتباردَمعنې، اومراد د نفس نه آدم عليه السلام دې.

قوله: وفي قِرَاءَةٍ بِكَسْرِ الشِّيْنِ وَالتَّنْوِيْنِ أي شِرْكًا، دا په شرکاء کښې دَدويم قرامت بيان دې شرکاء دَ شريك جمع ده مګر مرادهم مفرددې دَدې قرينه دويم قرامت او هغه شِرکًا دې دَ شين په کسرې او راء په سکون او دکاف په تنوين سره.

قوله: أي شريکا، دَدې اضافې مقصدداخودل دی چې شِرکًا مصدرد اسم فاعل شريکًا په معنی کښې دې دې دَپاره چې حمل صحيح شی.

قوله: جَعَلَا لَهُ، په جَعَلَا کښې ضميردَ تشنيه چا ته راجع دې؟ بعض مفسرين دې طرف ته تلی دی چې دَآدم اوحواء طرف ته راجع دې، ليکن محقق قوله دادې چې د بنی آدم نه هرنفس او زوج نفس مراددې. دَبعض تابعينونه هم دغه قول نقل دې. قال الحسن وقتادة الضمير في جعلا عائد إلى النفس وزوجه من ولد آدم لا إلى آدم وحوا، (جصاص) جعل الزوج والزوجة شركاء (کبير عن القفال) امام رازی رحمه الله دَ قفال په حواله سره ليکلی دی چې دا قصه دَ تمثيل په توګه دَ

مشركانوعام حالت بيانوى اودا تفسير ډيرخوښ كړې شوې دې. هذا جوابٌ فى غاية الصحة والسداد (كبير) اومحققينودا هم وئيلى دى چې په آيت كښې ضميرد آدم او حواء طرف ته راجع كولوځه تائيدنه دقرآن نه ملاويږى او نه دَ حديث صحيح نه اوداسې قصې دَ پيغمبرانو لائق نه دى. (بحر، بيضاوى)

قوله: بِتَسْمِيَتِه: أى بتسمية الولد، حارث، بتسمية شركاء په معنى دَ شريك متعلق دې.

قوله: وَلَيْسَ بِإِشْرَاكٍ فِى الْعُبُوْدِيَّةِ لِعَصْمَةِ آدَمَ دَدې اضافې مقصد دَ انبياء كرامو دَ عصمت دفاع ده.

قوله: الْعُبُوْدِيَّةِ، ډير بهتربه وې چې العبودية په ځائى العبادة يا معبودية ئى فرمائيلې دې (حاشيه جلالين)

قوله: أَهْلُ مَكَّةَ، په دې كښې دَدې خبرې تائيددې چې دَ جَعَلاَ مرجع آدم او حواء نه دى بلكه هرنفس او دَهغه زوج دې. اودَدې قرينه دَالله تعالى قول فتعالى الله عما يشركون دې، يشركون صغيه يې جمع سره راوړې ده حالانكه آدم اوحواء جمع نه دى.

قوله: والجُمْلَةُ مُسَبَّبَةٌ، يعنى فتعالى الله عما يشركون دَدې عطف په خَلَقكم من نفسٍ واحدة باندې دې. معطوف عليه دَ معطوف سبب دې يعنى كوم ځيزونه چې تاسو دَهغه شريك ګرځوئى هغه دَهغې نه لوئى دې ځكه چې هغه تاسو پيدا كړى ئى اومخلوق دَخالق شريك كيدې نه شى لكه چې په دې كښې دَ فاء تعقيبيه فائدې ته اشاره ده اوپه مينځ كښې جمله معترضه ده.

قوله: يُقَابِلُوْنَكَ په دې كښې اشاره ده چې كلام دَ تشبيه په توګه دې، لهذا اوس به دا اعتراض نه وى چې دَ اصنامو نه ليدل ممكن نه دى.

قوله: طَيْف، دې نه داهم احتمال دې چې طَيْف، طيفًا نه اسم فاعل وى اى طاف به الخيال، طائف وسوسه خطره.

قوله: أَلَمَّ بهم أى مَسَّ بهم.

....

[٨] سورة الأنفال

مدنية او الا واذ يمكر بك الايات السبع فمكية خمس اوست اوسبع وسبعون اية

سورت انفال مدنی دې مګر د واذيمکربك نه اووه آياتونه مکی دی ٧٥ يا ٧٦ يا ٧٧ آياتونه دی.

[اياتونه: ١-٨]

بسم الله الرحمن الرحيم لَمَّا اخْتَلَفَ الْمُسْلِمُونَ فِي غَنَائِم بَدْر فَقَالَ الشُّبَّان هِيَ لَنَا لِأَنَّنَا بَاشَرْنَا الْقِتَال وَقَالَ الشُّيُوخ كُنَّا رِدْءًا لَكُمْ تَحت الرَّايَات وَلَوْ انْكَشَفْتُمْ لَفِئْتُمْ إِلَيْنَا فَلَا تَسْتَأْثِرُوا بِهَا فَنَزَلَ {يَسْأَلُونَكَ} يَا مُحَمَّد {عَنِ الْأَنْفَالِ} الْغَنَائِم لِمَنْ هي {قُلْ} لَهُمْ {الْأَنْفَالُ لِلَّهِ} يَجْعَلهَا حَيْثُ شَاءَ {وَالرَّسُولِ} يَقْسِمهَا بِأَمْرِ اللّه فَقَسَمَهَا صَلَّى اللّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنهمْ عَلَى السَّوَاء رَوَاهُ الْحَاكِم فِي الْمُسْتَدْرَك {فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ} أَيْ حَقِيقَة مَا بَيْنكُمْ بِالْمَوَدَّةِ وَتَرْك النِّزَاع {وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} حَقًّا {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ} الْكَامِلُونَ الْإِيمَان {الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ} أَيْ وَعِيده {وَجِلَتْ} خَافَتْ {قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا} تَصْدِيقًا {وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ} بِهِ يَثِقُونَ لَا بِغَيْرِهِ {الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ} يَأْتُونَ بِهَا بِحُقُوقِهَا {وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ} أَعْطَيْنَاهُمْ {يُنْفِقُونَ} فِي طَاعَة اللّه {أُولَئِكَ} الْمَوْصُوفُونَ بِمَا ذُكِرَ {هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا} صِدْقًا بِلَا شَكّ {لَهُمْ دَرَجَاتٌ} مَنَازِل فِي الْجَنَّة {عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ} فِي الجنة {كَمَا أَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِأَخْرَجَ {وَإِنَّ فَرِيقًا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ لَكَارِهُونَ} الْخُرُوج وَالْجُمْلَة حَال مِنْ كَاف أَخْرَجَك وَكَمَا خَبَر مُبْتَدَأ مَحْذُوف أَيْ هَذِهِ الْحَال فِي كَرَاهَتهمْ لَهَا مِثْل إِخْرَاجك فِي حَال كَرَاهَتهمْ وَقَدْ كَانَ خَيْرًا لَهُمْ فَكَذَلِكَ أَيْضًا وَذَلِكَ أَنَّ أَبَا سُفْيَان قَدِمَ بِعِيرٍ مِنَ الشَّام فَخَرَجَ النَّبِيّ صَلَّى اللّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابه لِيَغْنَمُوهَا فَعَلِمَتْ قُرَيْش فَخَرَجَ أَبُو جَهْل وَمُقَاتِلُو مَكَّة لِيَذُبُّوا عَنْهَا وَهُمْ النَّفِير وَأَخَذَ أَبُو سُفْيَان بِالْعِيرِ طَرِيق السَّاحِل فَنَجَتْ فَقِيلَ لِأَبِي جَهْل ارْجِعْ فَأَبَى وَسَارَ إِلَى بَدْر فَشَاوَرَ النَّبِيّ صَلَّى اللّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابه وَقَالَ إِنَّ اللّه وَعَدَنِي إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ فَوَافَقُوهُ عَلَى قِتَال النَّفِير وَكَرِهَ بَعْضهمْ ذَلِكَ وَقَالُوا لَمْ نَسْتَعِدّ له كما قال تعالى {يجادلونك في الحق} القتال {بعد ما تبين} ظهر لهم {كأنما يساقون إلى الموت وهم ينظرون} إليه عيانا في كراهتهم له {و} اذْكُرْ {إِذْ يَعِدُكُمُ اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ} الْعِير أَوْ النَّفِير {أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ} تُرِيدُونَ {أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ} أَيْ الْبَأْس وَالسِّلَاح وَهِيَ الْعِير {تَكُونُ لَكُمْ} لِقِلَّةِ عَدَدهَا وَمَدَدهَا بِخِلَافِ النَّفِير {وَيُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُحِقَّ الْحَقَّ} يظهره {بكلماته} السابقة بظهور الإسلام {ويقطع دابر الكافرين} آخِرهمْ بِالِاسْتِئْصَالِ فَأَمَرَكُمْ بِقِتَالِ النَّفِير {لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ} يَمْحَق {الْبَاطِلَ} الْكُفْر {وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ} الْمُشْرِكُونَ ذَلِكَ اذْكُرْ {إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ} تَطْلُبُونَ مِنْهُ الْغَوْث بِالنَّصْرِ عَلَيْهِمْ {فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي} أَيْ بِأَنِّي {مُمِدُّكُمْ} مُعِينكُمْ {بِأَلْفٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ} مُتَتَابِعِينَ يُرْدِف بَعْضهمْ بَعْضًا وَعَدَهُمْ بِهَا أَوَّلًا ثُمَّ صَارَتْ ثَلَاثَة آلَاف ثُمَّ خَمْسَة كَمَا فِي آل عِمْرَان وَقُرِئَ بِآلُف كَأَفْلُس جَمْع {وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ} أَيْ الْإِمْدَاد {إِلَّا بُشْرَى ولتطمئن به قلوبكم وما النصر إلا من عند الله إن الله عزيز حكيم}

Scanned with

ترجمه: زه شروع کوم په نوم دَ الله چې ډیر مهربان او ډیر رحم کونکې دې کله چې دَ بدر مال غنیمت
١ د (تقسیم) په باره کښې په مسلمانانو کښې اختلاف پیداشو ځوانانو اووئیل دا زمونږ حق
دې ځکه چې مونږ نیغ په نیغه جنګ کړې دې او بوډاګانو اووئیل دَ جهنډولاندې مونږ
ستاسو امدادیان وو که چرې (الله دې نه کړی) تاسو ماتې خوړلې وه نو تاسو به هم مونږ
ته واپس راتلئ لهذا تاسو دَ مال غنیمت دَترجیح دعویٰ مه کوئی. اې محمد ﷺ خلق تا نه
دَ مال غنیمت په باره کښې سوال کوی چې دَدې مستحق څوك دی ته هغوی ته اووایه چې مال
غنیمت دَ الله تعالی او دَهغه دَ رسول دې هغه چې چاله غواړی ورد ې کړی. چنانچې رسول الله
ﷺ هغه مال دَغنیمت په ځوانانو اوبوډاګانوکښې برابر تقسیم کړو. دا حاکم په
مستدرك کښې روایت کړی دی تاسو خلق دَالله تعالی نه اوویریږئی او دَخپل مینځ تعلقات
صحیح کړئی او دَ الله تعالی او دَهغه دَ رسول تابعداری اوکړئی که چرې تاسو رښتونی مؤمنان
یئې کامل اهل ایمان خو هم هغه خلق دی کوم وخت چې دَهغوی په وړاندې دَالله تعالی دَ
وعید ذکر کولې شی نو دَهغوی زړونه دَ ویرې نه لړزیږی او کله چې دَهغوی په وړاندې دالله تعالی
آیاتونه لوستلې شی نو دَهغویٔ په تصدیق کښې اضافه کیږی او هغوی هم په خپل رب باندې توکل
کوی یعنی په هغه باندې اعتماد کوی نه چې دَهغه نه علاوه په بل چا باندې څوک چې مونځ
قائموی یعنی مونځ دَهغې دَ حقوقو سره اداکوی او کوم (مال) چې مونږ هغوی ته ورکړې دې
دَهغې نه دَالله تعالی په اطاعت کښې خرچ کوی هم دغه شان خلق څوك چې په مذکوره
صفاتو سره متصف وی بیشکه رښتونی مؤمنان دی دَهغوی دَپاره په جنت کښې دَهغوی د رب
سره لوئی مرتبې دی او مغفرت دې او په جنت کښې بهترین رزق دې (په مال غنیمت کښې چې
کوم اختلاف دې هغه هم داسې دې) لکه څنګه چې ستا رب تا له کور (مدینې) په نه حق سره
اوویستئ (بالحق) دَ اَخرَجَ سره دې او واقعه ده چې دَمؤمنانو یو جماعت دا وتل سخت ګنړل جمله
د اَخرَجَ دضمیر کاف نه حال دې او دکَمَا هٰذِهِ مبتداء محذوف خبر دې یعنی دَ مال غنیمت
موجوده حالت په کراهت کښې هم داسې دې لکه چې دَهغوی (دَمدینې) نه دَ وتلو حالت،
او لکه څنګه چې دغه (وتلو) کښې دَهغوی دَپاره خیر وو دغه شان په دې کښې هم خیر دې
او دَهغوی دا (دمدینې) نه وتل هغه وخت اوشو کوم وخت چې ابوسفیان تجارتی قافلې
سره دَشام نه اووتلو، نو حضور پاك او دَهغه صحابه کرام رضی الله عنهم د دې (قافلې) دَ مال غنیمت
دَ اخستلو دَپاره اووتل، دَدې (کاروائی) خبر قریشو ته اوشو نو ابوجهل او دَمکې جنګ
باز خلق را اووتل دې دَپاره چې دَ تجارتی قافلې حفاظت اوکړی او دا جنګی لښکر وو. او
ابوسفیان تجارتی قافله دَ سمندر دَ غاړې په لار اوویستله او (تجارتی) قافله بچ اووتله.
ابوجهل ته اووئیلې شو چې واپس شه مګر هغه انکار اوکړو او دَ بدر طرف ته روان شو. بل
طرف ته رسول الله ﷺ صحابه کرامو سره مشوره اوکړه او حضور پاك اوفرمائیل الله

Scanned with

تعالى ماسره دَ دوو جماعتونو نه دَ يو وعده کړې ده لهذا اکثر دَ جنګی لښکر سره د مقابلې کولو دَپاره متفق شو او څه خلقو دا رائې ناخوښه کړه او عذرئې دا پيش کړو چې مونږ ددې دَپاره تيارې نه دې کړې لکه چې الله تعالى اوفرمائيل تاسو سره داخلق دَحق يعنى جنګ په باره کښې جګړې کوى پس دَهغې نه چې دَ دې حق کيدل په هغوى باندې ښکاره شوى دى لکه چې هغوى دَمرګ طرفته په راښکلو سره بوتلې شى حال دا چې هغوى مرګ ښه په ښکاره سترګو وينى دَهغوى دَ جنګ نه خوښولو دَوجې نه، او هغه وخت ياد کړئى کوم وخت چې الله تعالى تاسو سره په دوو جماعتون عيراو نفير (تجارتى قافله او جنګى لښکر) نه دَيو وعده کړې وه چې په هغوى کښې به يو جماعت ستاسو په لاس راځى وو او تاسو دا غوښتل چې تاسو ته کمزورې جماعت ملاؤشى دَهغوى دَ شمير او وسلو دَ کموالى دَ وجې نه يعنى بغير قوت او بغير وسلو والا جماعت او هغه تجارتى قافله وه په خلاف دَ جنګى لښکر، مګر دَالله تعالى اراده دا وه چې دَخپلو سابقه خبرو په ذريعه حق ښکاره کړى اسلام ته غلبه ورکړى او دکافرانو جرړه بالکل پرې کړى، لهذا تاسو ته ئې دَ جنګى لښکر سره دَ جنګ کولو حکم درکړو دې دَپاره چې هغه حق محقق کړى او باطل کفر ختم کړى سره دَدې چې مشرکان دا ناخوښه ګڼړى او هغه وخت يادکړئى کوم وخت چې تاسو خپل رب ته فرياد کولو يعنى دَالله تعالى نه په مشرکانو باندې امداد غوښتلو نو الله تعالى تاسو ته جواب درکړو چې زه به مسلسل دَ زرو فرښتو سره ستاسو امداد کوم چې مسلسل راروانې وې اول ئې هغوى سره دَ زرو وعده اوکړه بيا دَ دريو زرو او بيا د پنځو زرو لکه چې په سورت آل عمران کښې دى او (الف) الف لوستلې شوې دې لکه چې دَ فَلْسٌ جمع اَفْلُسٌ ده او دَ دې امداد الله تعالى د خوشخبرئى په توګه خبرورکړو او دې دَپاره چې ستاسو زړونه مطمئن شى او امدادخو صرف هم دَالله تعالى دَ طرف نه وى يقينًا الله تعالى زبردست او دانا دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: سورة الانفال په ترکيب اضافى مبتداء ده. دَ دې دوه خبرونه دى اول مَدَنِيَّةٌ او دويم خُمُسُ الخ مبتداء او خبر مستثنى منه او اِلاَّ حرف استثنى ويمکريك مستثنى، او دَ بيان اختلاف دَپاره دې اګرچې دَسورت په عنوان کښې اووه آياتونوته مکى وئيلې شوى دى مګر صحيح خبره داده چې پوره سورت مدنى دې.

قوله: عَنِ الْاَنْفَالِ، اَنْفَال د نَفَل په وزن دَ سَبَبٌ جمع ده په معنى د زائد، او په سکون فاء سره هم وئيلې شوې دې دَدې معنى هم زائد ده. مال غنيمت چونکه دَ سابقه امتونو دَپاره حلال نه وو صرف دَدې امت دَپاره دَ خصوصيت په توګه حلال کړې شوى دى په دې وجه په نفل سره تعبير کړې شو.

Scanned with

سوال: يسئلونك عن الأنفال، كښې دَيسئلونك صله عَنْ راوړلې شوې دې حالانكه دا فعل متعدى بنفسه دې لكه چې وئيلى سألتُ زيداً مالاً.

جواب: كه چرې سوال د تعيين اوتوضيح دَپاره وى نوسوال په متعدى په عَنْ سره وى اوكه چرې په معنى دَ طلب وى نومتعدى بنفسه به وى. كوم خلق چې دلته سوال دَ طلب دَپاره منى هغوئ عن زائده ګرځوى.

قوله: لَوِالْكَشَفْتُمْ، اى انهزمتم وانتشرتم، كه چرې تاسو ماتې خوړلو او خواره واره شو.

قوله: فلاتَسْتَأْثِرُوْا، اى فلاتختاروا، يعنى ستاسودَ بيان كړې شوى دليل دَ وجې نه تاسوته ترجيح نه شي دركولې دَ ايثارمعنى ده ترجيح وركول، مال غنيمت ته دنفل وئيلويوه وجه داهم ده چې دَ جهاد اصل مقصد اعلاء كلمة الله دې اوحصول مال شئ زائددې.

قوله: لِمَنْ هِيَ، په دې كښې اشاره ده چې د مال غنيمت حكم معلومول مقصوددى نه چې دَهغې ذات ځكه چې ذات ټولوته معلوم دې.

قوله: اي حَقِيْقَةَ مَابَيْنَكُمْ: دادَ ذات بينكم تفسيردې په دې كښې داخودلى شوى دى چې ذات په معنى د حقيقت دې او بين په معنى د وصل دې او دَ لغت مطابق دې، په خلاف دَدې چې چاحال يا حالت اخستې دې ځكه چې دامعنى د لغت اواستعمال دَدواړوخلاف ده.

حاصل معنى داده كونوا مجتمعين على أمرالله ورسوله بالمواساة والمساعدة فيما رزقكم الله.

قوله: الْكَامِلُوْنَ دَدې قيددَ اضافې مقصددَ يوسوال مقدرجواب دې.

سوال: الله تعالى إنّما كلمه حصر سره فرمائيلى دى چې مؤمن هم هغه دې دَچاپه وړاندې چې دَالله تعالى ذكر اوكړې شي نودَهغوى زړونه دَ الله تعالى دَ ويرې نه لړزيږى نوداسې كسان خو به ډيركم وى.

جواب: دادَ كامل مؤمن صفت دې نه چې دَ مطلق مؤمن.

قوله: تصديقاً، دَدې اضافې مقصددَ يوسوال جواب دې.

سوال: دادې چې ستاسو مسلك دې چې په ايمان كښې كمې زياتې نه راځى حالانكه زادتهم ايمانا نه معلوميږى چې په ايمان كښې كمې زياتې راځى.

جواب: دَ جواب حاصل دادې چې دلته دَايمان نه مراد تصديق او اطمينان قلب ده او په دې كښې كمې زياتې راځى.

قوله: بِه يَثِقُوْنَ لا بِغَيْرِه دَدې اضافې مقصدد تقديم متعلق دَ فائدې بيانول دى كوم چې حصردې يعنى هم په الله تعالى باندې بهروسه كوى نه چې په غيرباندې.

قوله: الْخُرُوْجَ، اى خروجك وخروجهم داهم دَ يوسوال مقدرجواب دې. سوال دادې چې حال كله

Scanned with

جمله وی نو په هغې کښې دَعائد کیدل ضروری وی حالانکه دلته هیڅ عائد نشته. جواب حاصل دادې چې تقدیرد عبارت خروجك وخروجهم دې لهذا اوس هیڅ اعتراض نشته.

قوله: كما، خبرمبتداء محذوف الخ، دَدې جملې مقصدپه دوارو جملوکښې مشابهت بیانول دی یعنی دَ مال غنیمت په تقسیم باندې دَ ناخوښۍ اظهار هم داسې دې لکه چې خروج إلى النفير (لښکر) طرف ته وتل ناخوښه وو حالانکه څنګه چې دَهغوی په حق کښې خروج بهتروو هم دغه شان دَمال غنیمت په تقسیم کښې هم خیردې.

قوله: عُدَدُهَا، ای اسبابُها.

قوله: بألفٍ یعنی اَلْفٌ په الف سره یعنی اُلُفٌ هم لوستلې شوې دې په الف باندې مداوپه لام باندې ضمه په وزن دَ اَفْلُسٌ یعنی څنګه چې دَ فَلْسٌ جمع اَفْلُسٌ راځی دغه شان دَ اَلْفٌ جمع اُلُفٌ راځی دَاُلُفٌ اصل أألف وو دویم همزه په الف سره بدل کړې شو نو اُلُفٌ شو.

[ایاتونه: ۱۱-۱۹]

اذكر {إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاس أَمَنَةً} أَمْنًا مِمَّا حَصَلَ لَكُمْ مِنَ الْخَوْف {مِنْهُ} تَعَالَى {وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ} مِنَ الْأَحْدَاث وَالْجَنَابَات {وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَان} وَسْوَسَته إِلَيْكُمْ بِأَنَّكُمْ لَوْ كُنْتُمْ عَلَى الْحَقّ مَا كُنْتُمْ ظَمْأَى مُحْدِثِينَ وَالْمُشْرِكُونَ عَلَى الْمَاء {وَلِيَرْبِطَ} يَحْبِس {عَلَى قُلُوبِكُمْ} بِالْيَقِينِ وَالصَّبْر {وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَام} أَنْ تَسُوخ فِي الرَّمْل {إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَة} الَّذِينَ أَمَدَّ بِهِمْ الْمُسْلِمِينَ {أَنِّي} أَيْ بِأَنِّي {مَعَكُمْ} بِالْعَوْنِ وَالنَّصْر {فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا} بِالْإِعَانَةِ وَالتَّبْشِير {سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْب} الْخَوْف {فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاق} أَيْ الرُّءُوس {وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَان} أَيْ أَطْرَاف الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ فَكَانَ الرَّجُل يَقْصِد ضَرْب رَقَبَة الْكَافِر فَتَسْقُط قَبْل أَنْ يَصِل إِلَيْهِ سَيْفه وَرَمَاهُمْ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْضَةٍ مِنَ الْحَصَى فَلَمْ يَبْقَ مُشْرِك إِلَّا دَخَلَ فِي عَيْنَيْهِ مِنْهَا شَيْء فَهُزِمُوا {ذَلِكَ} الْعَذَاب الْوَاقِع بِهِمْ {بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا} خَالَفُوا {اللّٰهَ وَرَسُولَه وَمَنْ يُشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُولَه فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيدُ الْعِقَاب} لَهُ {ذَلِكُمْ} الْعَذَاب {فَذُوقُوهُ} أَيُّهَا الْكُفَّار فِي الدُّنْيَا {وأن للكافرين} في الآخرة {عذاب النار} {يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا} أَيْ مُجْتَمِعِينَ كَأَنَّهُمْ لِكَثْرَتِهِمْ يَزْحَفُونَ {فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَار} منهزمين {وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ} أَيْ يَوْم لِقَائِهِمْ {دُبُرَه إِلَّا مُتَحَرِّفًا} مُنْعَطِفًا {لِقِتَالٍ} بِأَنْ يُرِيهِمْ الْفَرَّة مَكِيدَة وَهُوَ يُرِيد الْكَرَّة {أَوْ مُتَحَيِّزًا} مُنْضَمًّا {إِلَى فِئَة} جَمَاعَة مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَسْتَنْجِد بِهَا {فَقَدْ بَاءَ} رَجَعَ {بِغَضَبٍ مِنَ اللّٰه وَمَأْوَاهُ جَهَنَّم وَبِئْسَ الْمَصِير} الْمَرْجِع هِيَ وَهَذَا مَخْصُوص بِمَا إِذَا لَمْ يَزِدْ الْكُفَّار عَلَى الضِّعْف {فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ} بِبَدْرٍ بِقُوَّتِكُمْ {وَلَكِنَّ اللّٰهَ قَتَلَهُمْ} بِنَصْرِهِ إِيَّاكُمْ {وَمَا رَمَيْتَ} يَا مُحَمَّد أَعْيُن الْقَوْم {إِذْ رَمَيْتَ} بِالْحَصَى لِأَنَّ كَفًّا مِنَ الْحَصَى لَا يَمْلَأ عُيُون الْجَيْش الْكَثِير بِرَمْيَةِ بَشَر {وَلَكِنَّ اللّٰهَ رَمَى} بِإِيصَالِ ذَلِكَ إِلَيْهِمْ فعل ذلك لِيَقْهَر الْكَافِرِينَ {وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً} عَطَاء {حَسَنًا} هُوَ الْغَنِيمَة

Scanned with

{إِنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ} لِأَقْوَالِهِمْ {عَلِيمٌ} باحوالهم {ذٰلِكُمْ} الإِبْلَاء حَقٌّ {وَأَنَّ اللّٰهَ مُوهِنُ} مُضْعِف {كيد الكافرين} {إِنْ تَسْتَفْتِحُوا} أَيُّهَا الْكُفَّار إِنْ تَطْلُبُوا الْفَتْح أَيِ الْقَضَاء حَيْثُ قَالَ أَبُو جَهْل مِنْكُمْ اللّٰهُمَّ أَيُّنَا كَانَ أَقْطَع لِلرَّحْمٰنِ وَأَتَانَا بِمَا لَا نَعْرِف فَأَحِنْهُ الْغَدَاة أَيْ أَهْلِكْهُ {فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ} الْقَضَاء بِهَلَاكِ مَنْ هُوَ كَذٰلِكَ وَهُوَ أَبُو جَهْل وَمَنْ قُتِلَ مَعَهُ دُون النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُؤْمِنِينَ {وَإِنْ تَنْتَهُوا} عَنِ الْكُفْر وَالْحَرْب {فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا} لِقِتَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {نَعُدْ} لِنَصْرِهِ عَلَيْكُمْ {وَلَنْ تُغْنِيَ} تَدْفَع {عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ} جَمَاعَاتكُمْ {شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ} بِكَسْرِ إِنَّ اسْتِئْنَافًا وَفَتْحهَا على تقدير اللام

ترجمه: هغه وخت یادکړه کوم وخت چې الله تعالی په خپله مهربانۍ باندې هغه ویره کومه چې ستاسو مخې ته وه دخوب د جوتې په مشکل کښې په تاسو سکون او تسلی راوسته اود آسمان نه ئې ستاسو دپاره اوبه نازل کړې دې د پاره چې تاسو د حدث أصغر او اوحدث اکبرنه پاک کړې او تاسو نه هغه شیطانی وسوسه لرې کړی که چرې تاسو په حق باندې وئې نو په تاسو به (داسې) تنده او بې طهارتی نه وه او مشرکان به په اوبو باندې قابض نه وې اودې دپاره چې ستاسو زړونه په یقین او صبر سره مضبوط کړی اودې دپاره چې د باران په ذریعه ستاسو قدمونه کلک کړی چې په شګه کښې نه خښیږی (اوهغه وخت یادکړئی) کوم وخت چې ستا رب هغه فرښتو ته وئیلې وو د کومو په ذریعه چې ئې د مسلمانانو امداد کړې وو او په نصرت سره زه تاسو سره یم (او) آئی په اصل کښې بائی دې تاسو اهل ایمان په امداد او زیری سره ثابت قدم اوساتئ زه دکافرانو په زړونو کښې هم اوس ویره اچوم او تاسو دهغوی په ستونو یعنی سرونو باندې وارونه اوکړئی اودهغوی په اندام اندام باندې ګزار اوکړئی یعنی د لاسونو او پښو طرفونه . چنانچه (مسلمانان) سرې به د کافر په ستې باندې د وارکولو اراده کوله نو دهغوی توره به د کافر ستې ته د رسیدونه وړاندې د هغه (تن د سر نه جدا کیدو سره) پریوتلو او حضورپاک دهغوی طرف ته یو موټې خاوره اوویشتله چې دهغې څه نه څه حصه د هر مشرك سترګو ته رسیدلې وه او مشرکانو ته شکست اوشو ، دا عذاب کوم چې په هغوی باندې واقع شو ددې وجې نه چې هغوی د الله تعالی اودهغه د رسول مخالفت اوکړو او څوک چې د الله تعالی اودهغه د رسول ﷺ مخالفت کوی نو الله تعالی دډیر سخت دې عذاب ورکوونکې دهغه دپاره، دا عذاب دې، نو اې کافرانو هم په دنیا کښې د دغه عذاب مزه اوڅکئ او یقینی خبره ده چې دکافرانو دپاره په آخرت کښې عذاب مقرر دې. اې ایمان والو کله چې تاسو کافرانو سره په جنګ کښې مخامخ شئ حال دا چې هغوی دخپل کثرت د وجې نه په مزه مزه شاته کیږی نو بیا هم دهغوی نه ماتې خوړلو سره په شا مه تختئ او کوم کس چې د مقابلې په ورځ دهغوی طرف ته شاکړې او تختی مګر دا چې د جنګی چال په توګه وی په داسې توګه چې هغوی

ته دَ چال په توګه دا ښکاره کړي چې ګنې تختي او حال دا چې واپس تاوېدو سره دَ حملې کولو اراده لري يا دَ مسلمانانو دَ جماعت سره إمداد اخستلو دَپاره دَ يو ځائي کېدو په توګه وي نو هغه دَدغه (وعيد) نه مستثنى دى (ددې نه علاوه) چاچې دداسې اوکړل هغه دَالله تعالى غضب اخستلو سره واپس شو دَهغه مقام دوزخ دې او دَ هغه دَ اوسېدو ځائې ډېر خراب دې او دا هغه صورت سره خاص دې چې دکافرانو (تعداد) دَمسلمانانو په مقابله کښې دَ ډبل نه زيات نه وي (حقيقت دا دې) چې په جنګ بدر کښې تاسو هغوى لره په خپل طاقت سره نه دى قتل کړي ليکن الله تعالى ستاسو امداد اوکولو سره هغوى لره قتل کړل او اې محمد ﷺ دَ قوم په سترګو کښې تا نه دى غورزولى کوم وخت چې تا کودکانړي اوغورزول ځکه چې يو انسانى موټې کودکانړي دَ يو لوئې لښکر سترګې نه شي ډکولې ليکن دغه قوت کانړي دَهغوى سترګو ته رسول په حقيقت کښې الله تعاى غورزولى دى او هغه دا ځکه اوکړل چې کافران مغلوب کړي او دې دَپاره چې مسلمانانو ته دَخپل طرف نه بهترصله ورکړي او هغه (مال دَ غنيمت دې. يقينًا الله تعالى دَدوې دخبرو اورېدونکې او دَهغوى احوال پېژندونکې دې او دا ورکړه دَ صلې حق ده او الله تعالى دکافرانو چالونه کمزورې کونکې دې اې کافرانو که چرې تاسو دَ فتح فيصله غواړئ ځکه چې په تاسو کښې ابوجهل وئيلى وو اې الله په مونږ کښې چې څوك زيات تعلق(صله رحمي) پرېخودونکې وى او مونږ له ئې داسې څيز راوړلې وى کوم چې مونږ نه پېژنو نو هغه خو ته صبا هلاك کړې نو تاسو له فيصله راغله هغه چا لره هلاك کولو سره څوك چې داسې دى او هغه هم ابوجهل دې او هغه دى کوم چې هغه سره قتل کړې شو نه چې محمد ﷺ او مؤمنان، او که چرې تاسو دکفر او جنګ نه منع شئ نو دا ستاسو دَپاره بهتر ده او که تاسو د نبى سره دَ جنګ کولو اعاده کوئى نو مونږ به په تاسو باندې دَهغه دَ فتح اعاده اوکړو اُو ستاسو دا ګڼړه به ستاسو هيڅ په کار رانه شى که هرڅو مره زيات وى او بيشکه الله تعالى دَ ايمان والو سره دې د إنَّ کسرې سره د استيناف په صورت کښې او دَ فتحې سره دَلام دَتقدير په صورت کښې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: اذيُغَشِّيْكُمُ دا أذكر فعل ظرف دې يا سابق إذيَعِدكم نه بدل دې.

قوله: أَمَنًا، دَ أَمَنَة تفسير په أَمَنًا سره کولو يې کښې اشاره اوکړه چې أَمَنَةٌ مصدر دې. يقال أَمِنَ أَمْنًا وأَمَانَةً نه چې جمع لکه چې بعض حضراتو وئيلى دى او أَمَنَةً يُغَشِّيْكُمْ مفعول له هم کېدې شى، يعنى الله تعالى ستاسو دَسکون دَپاره په تاسو باندې د خوب جوټې راولى.

قوله: مِنْهُ ضمير الله طرف ته راجع دې.

قوله: ان تَسْتَفْتِحُوا اى مِن أنْ تسوخ، اى تدخل.

Scanned with

قوله: لَهُ: **سوال:** مفسرعلام لَهُ ولې مقدر او منلو؟

جواب: مَنْ مبتداء متضمن دې معنى د شرط لره او يشاقق الله ورسولهٗ فان الله شديد العقاب، جمله د مبتداء خبر دې، او خبرچې كله جمله وى نو ضمير عائد ضرورى وى كوم چې دلته نشته، هم ددې دپاره مفسرعلام دَ لَهُ ضمير مقدر منلې دې.

قوله: العَذَابُ، ذلكم مبتداء، العذاب ددې خبرمحذوف، مفسرعلام العذابُ محذوف منلوسره هم دې طرف ته اشاره كړې ده، او اسم اشاره ذالكم دَمبتداء محذوف خبرهم گرځولې شى اى العذاب ذالكم، لهذا ذالكم فذوقوهُ، كښې دَ انشاء دخبر واقع كيدو اعتراض ختم شو.

قوله: فذوقُوْهُ، فاء شرطيه ده، ذوقوهُ، دشرط محذوف جزاء ده أى إن كان كذلك فذوقوهُ.

قوله: وَاَنَّ الكفرين، ددې عطف په ذلكَ دې، او د واعلموا مقدرُ وجې نه منصوب هم كيدې شى.

قوله: زَحْفًا (ف) مصدردې دَ رش دَ وجې نه په مزه مزه تلل، دَ ماشوم په شان ورخوئيدل.

قوله: مُتَحَرِّفًا، متعطفًا، واپس حمله كول، (الى الكرّ بعد الفرّ).

قوله: مُتَحَيِّزًا، د (تفعّل) نه اسم فاعل، واپس خپل جماعت طرف ته راتلونكې دې دپاره دَ ملگرونه امداد واخلى دوباره حمله اوكړې شى، اصل ماده حوزٌ ده.

قوله: يَسْتَنجِدُوا، استنجاد مدد طلب كول.

قوله: هِيَ مخصوص بالذم دې.

قوله: فَلَمْ تَقْتُلُوْهم، فاء جزائيه دا جزاء شرط محذوف ده تقديرى عبارت دادې إن افتخرتم بقتلهم فانتم لم تقتلوهم.

قوله: لِيُبْلِيَ، أى يعطى الله تعالى المؤمنين إعطاء حسنًا.

قوله: حَقٌّ په دې كښې اشاره ده چې ذالكم الابلاء مبتداء ده حَقٌّ يې خبرمحذوف دې.

[اياتونه: ۲۰ - ۲۸]

ترجمه: ددې سورت په شروع کښې بسم الله ليکلې شوې نه ده، ځکه چې حضورپاک ﷺ ددې حکم نه دې فرمائيلې، لکه چې د حديث نه معلوميږي کوم چې حاکم روايت کړې دې، او هم دې هم معنی د حضرت علی رضي الله عنه روايت دې، چې بسم الله امان دې او دا سورت د توری (جهاد) په ذريعه د امن د اوچتولو د پاره نازل شوې دې، او د حذيفه رضي الله عنه نه روايت دې چې تاسو دې سورت ته سورة توبه وايئ حالانکه دا سورة عذاب دې، او امام بخاری د براء ابن عازب نه روايت کړې دې چې دا آخری سورت دې چې نازل شو، دا **د الله او د رسول د طرف نه د بيزارئ اعلان دې چې ددې مشرکانو په باره کښې دې، چې هغوی** سره تاسو مطلق (بغير نيتې) يا د څلور مياشتو نه کم او زيات **عهد** کړې وی، او مشرکانو د عهد مات کړی وی. د بېزارئی د اظهار د الله تعالی په **قول** (فسيحوا الخ) کښې ذکر دې، يعنی اې مشرکانو! **تاسو څلور مياشتو پورې** امن سره، **او گرځئ**، چې د هغې شروعات به د شوال نه کيږي، د راروان دليل په وجه، او ددې نيتې نه پس به ستاسو د پاره امن نه وی، **ياد ساتئ تاسو الله تعالی لره عاجز کولو والا نه يئ**، يعنی د هغه د عذاب نه بچ کيدلې نشئ، **او دا چې الله تعالی منکرينو** د (حق) **لره رسوا کوونکې دې**، يعنی دوی لره په دنيا کښې د قتل په ذريعه او په آخرت کښې د اور په ذريعه ذليل کونکې دې، **او عام اعلان دې د الله او د هغه د رسول د طرف نه د ټولو خلقو د پاره د حج اکبر** يعنی د قربانی په ورځ **دا چې الله تعالی د مشرکانو نه** او د هغوی د معاهدو **نه بری دې او د هغه رسول هم بری دې**، او خضورپاک ﷺ

Scanned with

هم په دغه کال باندې حضرت علی رضی الله عنه مکې ته اولیږلو،او دا د هجرت نهم کال وو،چنانچه حضرت علی رضی الله عنه د نحر په ورځ د منی میدان کښې ددې آیتونو اعلان اوفرمائیلو،او دا چې ددې کال نه پس به یو مشرک هم حج نه کوی،او نه به څوک د بیت الله نه بربنډ طواف کوی(رواه البخاری) **پس که چرې تاسو د کفر نه توبه اویستله نو دا به ستاسو** د پاره ښه وی او که تاسو د ایمان نه مخ اړوئی نو یاد ساتئ چې تاسو الله تعالی لره عاجز کوونکې نه یئ،او کافرانو ته د دردمند عذاب خبر ورکړه،او هغه قتل او قید دې په دنیا کښې او اور دې په آخرت کښې سوا د هغې کافرانو نه چې کومو سره تاسو وعدې کړې دی،او بیا هغوی ستاسو د وعدې یو شرط مات کړې نه وی او نه ئې ستاسو خلاف د یو کافر مدد کړې وی،نو داسې خلقو سره تاسو هم د هغوی د کړې شوې وعدې د مدت پورې وفا اوکړئ ځکه چې الله تعالی وفا والا پرهیزګار خلق خوښوی پس هر کله چې (اشهرحرم) حرام میاشتې ختمې شی،او هغه د معاهدې آخری مدت دې،نو مشرکان قتل کړئ کوم ځائې کښې چې مومئ په حل کښې یا په حرم کښې،او دوی قید کړئ او دوی په قلعو کښې بند کړئ تردې چې قتال یا اسلام ته مجبور شی،او ددوی خبر اخستلو د پاره په هر مورچه کښې نخښه لګونکښې کینئ یعنی ددوی په لارو کښې کینئ او د "کل" نصب د جار د حذف په وجه دې،بیا که دوی د کفر نه توبه اوباسی او مونځ قائم کړی او زکواة ورکړی نو د هغوی لار پرېږدئ او دوی سره مقابله مه کوی بېشکه الله تعالی توبه ویستونکې معاف کولو والا او رحم کولو والا دې او که په مشرکانو کښې تاسو نه څوک پناه او غواړی، یعنی د قتل نه تاسو نه پناه اوغواړی نو هغه ته د قتل نه امن ورکړئ احد ددې فعل محذوف د وجه نه مرفوع دې چې د هغې تفسیر استجارک کوی چې هغوی د الله کلام قرآن واوری بیا هغه د هغې مامن یعنی پناه ګاه پورې اورسوی یعنی که چرې دوی ایمان راونړو نو هغوی د هغوی د امن ځائې ته اورسوئی او دا د هغوی د قوم علاقه ده چې دوی په خپله معامله کښې غور اوکړی،او دا ذکر شوې خبره ځکه ضروری ده چې دا خلق پوره توګه باندې خبر نه دی،

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: عن حذیفة: ددې اضافې مقصد د حضرت علی رضی الله عنه د قول تائید دې:

قوله: هذه: ددې اضافې مقصد دې خبرې ته اشاره ده چې "براءة هذه" د مبتدأ محذوف خبر دې په دې سره رد اوشو د هغه حضراتو چې هغوی وئیلې دی چې براءة مبتدأ ده او الی الذین عاهدتم الخ پورې د براءة خبر دې،ځکه چې براءة نکره ده او د هغې مبتدأ واقع کیدل صحیح نه دی:

قوله: واصلة: مفسر علام واصلة محذوف ګنړلو سره اشاره اوکړه چې من الله کښې "من" ابتدائیه دې چې واصلة محذوف سره متعلق دې،تقدیری عبارت دا دې هذه براءة واصلة الی

الذين عاهدتم من الله ورسوله

قوله: فسيحوا الخ دلته "قولوا" محذوف دي تقديری عبارت دا دي فقولوا لهم سيحوا. سيحوا کښې امر د اجازت د پاره دي يعنی صرف د څلورو مياشتو د امن سره دلته د اوسيدلو اجازت دي؟

قوله: بدليل ما سيأتي: دلته امر د اباحت او اجازت د پاره دي ددې دليل دا راروان آيت فاذا انسلخ الاشهر الحرم فاقتلوا المشركين دي، ځکه چې د الله تعالى قول فسيحوا اربعة اشهر" په شوال کښې نازل شوي وو، او د اشهر حرم اخرى مياشت محرم دي، د شوال د شروع نه د محرم آخرې پورې څلور مياشتې جوړيږي.

قوله: يوم النحر

سوال: د "يوم الحج الاكبر" تفسير په "يوم النحر" سره ولې اوشو؟

جواب: عمرې ته چونکې حج اصغر وئيلې شی نو حج ئې دعمرې نه د جدا کولو د پاره دحج اكبر تفسير ئې په يوم النحر سره اوکړو، ځکه چې يوم النحر هم په حج کښې وی، نه چې په عمره کښې، دحضرت علی رضي الله عنه د روايت نه هم کوم چې ترمذی روايت کړې دې، دا معلوميږی چې د حج اكبر نه مراد هم حج دي،

قوله: بریء أيضاً په دې کښې اشاره ده چې "رسوله" مبتدأ ده او "بریء" ئې خبر محذوف دي، د ايضا لفظ سره دا فائده اوشوه چې درسوله عطف د بریء په ضمير مستتر باندې دي نه چې د انّ د اسم په محل باندې، او بعضې حضراتو وئيلې دی چې د انّ د اسم په محل باندې عطف دې او هغه د باء محذوف د وجه مجرور دي، حالانکه هغه مرفوع دي.

قوله: إلا الذين عهدتم من المشركين په دې کښې دوه وجه دی، اول دا چې "إلا الذين" مستثنى منقطع اوګرځولې شی او إلا په معنى د "لكن" وی په دې صورت کښې "فالذين" مبتدأ او "فأتمو إليهم" الخ جمله به د مبتدأ خبر شی، دويم دا صورت دي چې "الا الذين الخ" مستثنى متصل اوګرځولې شی نو په دې صورت کښې به د براءة من الله ورسوله إلى الذين عهدتم من المشركين، کښې به د المشركين نه مستثنى وی، خو په دې صورت کښې به فصل په اجنبى سره راشی کوم چې منع دې، که په المشركين کښې الف لام د عهد واخستلې شی، نو د خاص مشرکينو نه به مراد هغه مشركين وی چا چې وعده ماته کړې نه ده.

قوله: وهي مدة التأجيل: ددې عبارت په اضافه کښې دې خبرې ته اشاره ده چې د اشهر حرم نه معروف اشهر حرم مراد نه دی چې رجب، ذوالقعده، ذوالحجه او محرم دی، بلکه اربعة اشهر نه هغه څلور مياشتې مراد دی چې په هغې کښې مشرکينو ته د قيام کولو اجازت ورکړې شوې وو، مطلب دا دې چې دمذکوره آيت د نازليدو په وخت چې کوم څلور

Scanned with

میاشتو پورې په مکه کښې د قیام اجازت ورکړې شوې وو داسې چې د شوال نه واخله د محرم د آخره پورې مشرکینو ته په مکه کښې د قیام اجازت دې، ددې نه پس که څوک اومندلې شول نو هغه به گرفتارولې شی او قتل کولې به شی، د اشهر حرم نه هم دغه څلور میاشتې مراد دی.

قوله: مرفوع بفعل یفسره استجارك: دا د سوال مقدر جواب دې

سوال: إن أحد من المشركين کښې إن په اسم باندې داخل دې، حالانکه إن په اسم باندې نه داخليږی؟

جواب: دلته د "إن" نه پس استجارک فعل محذوف دې، او د هغې تفسیر ورپسې استجارک کوی لهذا اوس څه اعتراض نشته.

[اياتونه: ۷ - ۱۶]

{كَيْفَ} أَيْ لَا {يَكُونَ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْد عِنْد اللَّه وَعِنْد رَسُوله} وَهُمْ كَافِرُونَ بِهِمَا غَادِرِينَ {إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} يَوْم الْحُدَيْبِيَة وَهُمْ قُرَيْش الْمُسْتَثْنَوْنَ مِنْ قَبْل {فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ} أَقَامُوا عَلَى الْعَهْد وَلَمْ ينقضوه {فاستقيموا لهم} على الوفاء به وما شرطية {إن الله يحب المتقين} وَقَدْ اسْتَقَامَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَهْدهمْ حَتَّى نَقَضُوا بِإِعَانَةِ بَنِي بَكْر على خزاعة {كَيْفَ} يَكُون لَهُمْ عَهْد {وَإِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ} يظفروا بكم {لَا يَرْقُبُوا} يُرَاعُوا {فِيكُمْ إِلًّا} قَرَابَة {وَلَا ذِمَّة} عهدا بل يؤذوكم ما استطاعوا وجملة الشرط حال {يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ} بِكَلَامِهِمْ الْحَسَن {وَتَأْبَى قُلُوبهمْ} الْوَفَاء بِهِ {وَأَكْثَرهمْ فَاسِقُونَ} نَاقِضُونَ لِلْعَهْدِ {اشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّه} القرآن {ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنْ الدُّنْيَا أَيْ تَرَكُوا اتِّبَاعهَا لِلشَّهَوَاتِ وَالْهَوَى {فَصَدُّوا عَنْ سَبِيله} دِينه {إِنَّهُمْ سَاءَ} بِئْسَ {مَا كَانُوا يعملون} هـ عملهم هذا {لا يرقبون فى مؤمن إلا ولا ذمة وأولئك هم المعتدون} {فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاة وَآتَوْا الزَّكَاة فَإِخْوَانكُمْ} أَيْ فَهُمْ إِخْوَانكُمْ {فِي الدِّين وَنُفَصِّل} نُبَيِّن {الْآيَات لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} يَتَدَبَّرُونَ {وَإِنْ نَكَثُوا} نَقَضُوا {أَيْمَانهمْ} مَوَاثِيقهمْ {مِنْ بَعْد عَهْدهمْ وَطَعَنُوا فِي دِينكُمْ} عَابُوهُ {فَقَاتِلُوا أَئِمَّة الْكُفْر} رُؤَسَاءَهُ فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر {إِنَّهُمْ لَا أَيْمَان} عُهُود {لَهُمْ} وَفِي قِرَاءَة بِالْكَسْرِ {لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ} عَنْ الْكُفْر {أَلَا} لِلتَّحْضِيضِ {تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا} نَقَضُوا {أَيْمَانهمْ} عُهُودهمْ {وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُول} مِنْ مَكَّة لَمَّا تشاوروا فيه بدار الندوة {وهم بدؤوكم} بِالْقِتَالِ {أَوَّل مَرَّة} حَيْثُ قَاتَلُوا خُزَاعَة حُلَفَاءَكُمْ مَعَ بَنِي بَكْر فَمَا يَمْنَعكُمْ أَنْ تُقَاتِلُوهُمْ {أَتَخْشَوْنَهُمْ} أَتَخَافُونَهُمْ {فَاَللَّه أَحَقّ أَنْ تَخْشَوْهُ} فِي ترك قتالهم {إن كنتم مؤمنين} {قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبهُمْ اللَّه} بِقَتْلِهِمْ {بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ} يُذِلّهُمْ بِالْأَسْرِ وَالْقَهْر {وَيَنْصُركُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُور قَوْم مُؤْمِنِينَ} بِمَا فَعَلَ بِهِمْ هُمْ بَنُو خُزَاعَة {وَيُذْهِب غَيْظ قُلُوبهمْ} كَرْبهَا {وَيَتُوب اللَّه عَلَى مَنْ يَشَاء} بِالرُّجُوعِ إِلَى الْإِسْلَام كَأَبِي سُفْيَان {والله عليم حكيم} {أَمْ} بِمَعْنَى هَمْزَة الْإِنْكَار {حَسِبْتُمْ أَنْ

Scanned with

تُتْرَكُوا وَلَمَّا} لَمْ {يَعْلَمِ اللّٰهُ} عِلم ظُهُور {الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ} بِإخْلَاصٍ {وَلَمْ يَتَّخِذُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ وَلَا رَسُولِهِ وَلَا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً} بِطَانَةً وَأَوْلِيَاءَ الْمَعْنَى وَلَمْ يَظْهَرِ الْمُخْلِصُونَ وَهُمُ الْمَوْصُوفُونَ بِمَا ذُكِرَ مِنْ غَيْرِهِمْ {وَاللّٰهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ}

ترجمه: د مشرکانو د پاره د الله او د هغه رسول سره هیڅ عهد نشته، یعنی نشی کیدي، مراد ترې نه هغه مشرکین دي کومو چې الله او د هغه رسول سره د وعدې ماتولو سره غداری اوکړه البته چې کوم خلقو سره تا د مسجد حرام حرم سره نزدې د حدیبیه په مقام باندې معاهده اوکړه، او هغه قریش دي چې د هغوی مخکښې استثناء شوې ده، نو ترڅو چې هغوی تاسره په عهد کښې قائم وي او معاهده نه ماتوي. نو ته هم هغوی سره د عهد په پورا کولو باندې قائم اوسه، او ما شرطیه ده ځکه چې الله تعالی نیکانو خلقو سره مینه کوي، او رسول هغوی سره په معاهده باندې قائم وو، تر دې چې قریشو د خزاغه خلاف د بني بکر مدد کولو سره وعده ماته کړه، او دې مشرکانو سره وعده څنګه برقرار پاتې کیدې شي چې د دوی حال داسې دې که چرې دوی په تاسو باندې غلبه حاصله کړې یعنی فتح اومومي نو نه به ستاسو د رشته دارئی خیال ساتي او نه د عهد بلکه چې څومره ئې وس وي تاسو ته به تکلیف در رسوي او جمله شرطیه حال دې، هغوی په خپلو خبره سره یعنی دژبې په خوږو خبرو سره ستاسو د خوشحالولو کوشش کوي حالانکه د دوی زړونه د عهد د پورا کولو نه انکار کوي او په دوی کښې اکثر د وعدې ماتولو سره د حد نه اوړیدنکي دي، دې خلقو د الله د آیتونو په بدله کښې د دنیا سپک قیمت اخستې دې، یعنی د آیتونو اتباع ئې د خواهشاتو او شهوتونو په بدله کښې پریښودلې ده، بیا د الله په لار کښې یعنی د دین په لار کښې دلارې رکاوټ جوړ شوې دي، ډیر خراب کارونه دي چې دوی ئې کوي، یعنی دا اعمال، د یو مومن په معامله کښې نه د رشته دارئی خیال ساتي او نه د عهد ذمه دارئی، هم دا دوی زیاتې کوونکي او که چرې دې خلقو توبه اویستله او مونځ ئې قائم کړو او زکواة ئې ورکړو نو ستاسو دیني رونړه دي، او پوهه خلقو د پاره یعنی د غوروفکر کونکو د پاره مونږ احکام ښکاره بیانوو، او که دوی د عهد نه پس خپلو قسمونو لره عهدونو لره مات کړي او ستاسو په دین کښې طعنه زني عیب جوئي کوي نو تاسو د کفر دې مشرانو سره قتال اوکړئ، په دې کښې اسم ضمیر په ځائې اسم ظاهر راوړې دې یعنی د قاتلوهم په ځائې قاتلوا ائمة الکفر اووئیلې شو ځکه د دوی د قسمونو معاهدو هیڅ اعتبار نشته او په یو روایت کښې ایمان د کسرې سره دې یعنی د دوی د ایمان هیڅ اعتبار نشته ممکنه ده چې دوی داسې د کفر نه منع شي، آیا تاسو به داسې خلقو سره جنګ نه کوئی چې هغوی خپلې وعدې ماتې کړې او رسول لره ئې د مکې نه د اویستلو قصد اوکړو، کله چې هغوی په دارالندوه کښې دې باره کښې مشوره هم اوکړه او هم دوی په اول ځل په تاسو باندې د قتال ابتداء اوکړه، په داسې طریقې سره چې خزاعه سره چې ستاسو حلیف وو، بني بکر

Scanned with

سره میلاوېدو سره قتال اوکړو، نو تاسو د پاره کوم څیز منع کونکې دې چې تاسو دوی سره قتال او نه کړئ، آیا تاسو ددوی نه ویرېږئ یعنی په ویره کښې ترې راڅئ که چرې تاسو مومنان یئ نو الله ددې زیات مستحق دې تاسو چه دوی سره د جنګ نه کولو په باره کښې د هغه نه ویرېږئ تاسو دوی سره جنګ او کړئ الله به ستاسو په لاس په قتلولوسره دوی ته سزا ورکړي او د قید او غلبې د وجې به دوی رسوا کړي او ددوی په مقابله کښې به ستاسو مدد اوکړي او څه چې دوی سره کینې نو دهغې په ذریعه به د ډیرو مومنانو زړونه یخ کړي او هغه بنوخزاعه دی او ددوی د زړونو بې چینی به لرې کړي او الله چې چاته غواړي اسلام ته مائله کیدو سره د توبې توفیق به ورکړي لکه چې ابوسفیان ته او الله تول هر څه پېژندلو والا او حکمت والا دې، آیا تاسو خلقو دا خیال کړې دې چې تاسو به داسې پرېښودلې شئ؟ ام همزه استفهام د انکار په معنی کښې دې حالانکه اوس الله تعالی خوا دا ظاهره کړې هم نه ده چې په تاسو کښې هغه کوم خلق دی چا چې په اخلاص سره جهاد اوکړو او چا الله او د هغه رسول ﷺ او مومنانو نه علاوه بل څوک د زړه راز دار دوست جوړ نه کړو، مطلب دادې چې مخلصان ئې لا د غیر مخلصو نه جدا کړې نه دی، او مخلصان هغه دی چې په ذکر شوې صفاتو باندې پوره وی، او الله ستاسو په کارونو باندې ډیر ښه خبردار دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ای لا په دې کښې اشاره ده چې کیف استفهام تعجبی په معنی د نفی دې، او دغه وجه ده چې ددې نه پس په الا سره استثناء صحیح ده کیف یکون خبر مقدم دې، او عهد اسم مؤخر دې کیف ئې د صدارت د کلام غوښتلو د وجې مقدم کړه، د للمشرکین ثابتًا یا باقیًا متعلق شو د عهدٌ حال مقدم دې.

او که للمشرکین عهد نه موخر وو نو ددې صفت به وو، او دا هم کیدې شی چې یکون تامه شی او کیف د حال کیدو د وجه په محل د نصب کښې وی.

قوله: ما شرطیة ما شرطیه ده نه چې موصوله او فاستقاموا لهم جزاء ده.

قوله: کیف کیف نه پس یکون محذوف دې چې کوم مفسر علام ذکر کړې دې، د ماقبل د قرینې د وجې فعل حذف کړې شوې دې.

سوال: کیف ئې ولې مکرر راوړو؟

جواب: د مشرکینو په عهد باندې د پاتې کیدو لرې والې ظاهرولو د پاره او عدم ثبات د علت بیان کولو د پاره، او علت وان یظهروا دې

قوله: الا د "ال" ډیرې معنې دی رشته داری، وعده، ګاوند، دشمنی، کینه او حسد.

قوله: وجملة الشرط حال یعنی وان یظهروا علیکم شرط دې او "لا یرقبوا" الخ جزاء جمله شرطیه د کیف

Scanned with

يكون لهم نه حال دي، لهذا دا اعتراض ختم شو چې دجمله شرطيه عطف په جمله حاليه باندې صحيح نه دي.

قوله: اي فهم اخوانكم دا د سوال مقدر جواب دې.

سوال: دادې چې د "فهم" مقدر منلو ته څه ضرورت راغلې دې؟

جواب: دا دې چې "اخوانكم" چونكه د "فان تابو" جزاء ده او د جزاء دپاره جمله كيدل شرط دى، مفسر علام "هم" محذوف منلو سره جمله تامه جوړه كړه.

قوله: خزاعة حلفاءكم خزاعة موصوف دې او حلفاءكم ئې صفت دې.

قوله: هم بنو خزاعة، ددې مقصد د مومنينو مصداق ښكاره كول دى ددې نه دا معلومه شوه چې بنوخزاعة په غائبانه طور سره ايمان راوړې وو.

قوله: وليجة، دا د ولوج نه اخستې شوې دې په معنى د "داخليدو" او د "خوږ راز دار ملګرى" مفسر علام د "وليجة" ترجمه په "بطانة" سره كړې ده، بطانة "استر" ته وئيلې شى چې كوم پټه وى.

[اياتونه: ۱۷ ـ ۲٤]

{مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ} بِالْإِفْرَادِ وَالْجَمْعِ بِدُخُولِهِ وَالْقُعُود فِيهِ {شَاهِدِينَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ} بَطَلَتْ {أَعْمَالُهُمْ} لِعَدَمِ شرطها {وفي النار هم خالدون} {إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يخش} احدا {إلا الله فعسى أولئك أن يكونوا من المهتدين} {أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ} أَيْ أَهْل ذَلِكَ {كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَوُونَ عِنْدَ اللَّهِ} فِي الْفَضْل {وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ نَزَلَتْ رَدًّا عَلَى مَنْ قَالَ ذَلِكَ وَهُوَ الْعَبَّاس أَوْ غَيْره {الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً} رُتْبَة {عِنْدَ اللَّهِ} مِنْ غَيْرهمْ {وَأُولَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ} الظَّافِرُونَ بِالْخَيْرِ {يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُقِيمٌ} دَائِم {خالدين} حال مقدرة {فيها أبدا إن الله عنده أجر عظيم} وَنَزَلَ فِيمَنْ تَرَكَ الْهِجْرَة لِأَجْلِ أَهْله وَتِجَارَته {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إن استحبوا} اختاروا {الكفر على الإيمان ومن يتولهم منكم فأولئك هم الظالمون} {قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ} أَقْرِبَاؤُكُمْ وَفِي قِرَاءَة عَشِيرَاتكُمْ {وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا} اكتسبتموها {وتجارة تخشون كسادها} عدم نفاقها {وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُوله وَجِهَاد فِي سَبِيله} فَقَعَدْتُمْ لِأَجْلِهِ عَنْ الْهِجْرَة وَالْجِهَاد {فَتَرَبَّصُوا} انْتَظِرُوا {حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ} تهديد لهم، {والله لا يهدي القوم الفاسقين}

ترجمه: مشركين د دې لائق نه دى چې مسجدونو ته د تلو راتلو په ذريعه سره مسجدونه آباد

Scanned with

کړي مساجد مفرد او جمع سره دې حال دادې چې هغوی په خپله په ځان باندې د کفر گواهي ورکوي دا هغه خلق دي چې ددوی اعمال دصحیح کیدلو شرائط نه موندو د وجه ضائع شول،او هغوی به په دوزخ کښې همیشه د پاره پراته وي، د مسجدونو آبادول خو بس د هغه خلقو کار دې چې په الله باندې او په آخرت باندې ایمان ساتي،او زکواة ورکوي او سوا د الله نه د بل چانه ویرېږي نه،امید دې چې داسې خلق به په صحیح لار شي،آیا تاسو حاجیانو ته اوبه ورڅکول او مسجد حرام اباد کوونکو عمل د هغه سړي عمل برابر گڼرلې دې چې په الله باندې او په اخرت باندې ایمان لري،او هغه د الله په لار کښې جهاد هم کړې دې،دا خلق د الله په نیز په فضل کښې برابر کیدې نشي،او الله ظالمانو کافرانو ته لار خودنه نه کوي دبرابرئ ویناکونکي قول د رد کولو د پاره دا راروان آیت نازل شو،او هغه ویناکونکي حضرت عباس ﷺ دې یا دده نه علاوه دې،چې کومو خلقو ایمان راوړو او هجرت ئې اوکړو او د الله په لار کښې ئې د جان او مال سره جهاد اوکړو دا خلق د الله په نیز د نورو نه مرتبه کښې لوئې دي او د هم دا خلق پورا کامیاب دي او هغوی ته د هغوی رب د خپل طرف نه د رحمت او رضامندئ او د داسې باغونو چې په هغې کښې به دوی د پاره همشیگیر نعمتونه وي خوشخبري ورکوي،دوی به په هغې کښې د همیشه دپاره اوسیږي بې شک الله تعالی سره لوئې اجر دې او دا راروان آیت د هغه سړي په باره کښې نازل شو چې هغه هجرت د خپل چم او د تجارت د وجه پریښودلو اې ایمان والو تاسو خپل پلاران او ځامن دوستان مه جوړوئی که چرې دوی کفر له په ایمان باندې ترجیح ورکوي او په تاسو کښې چې څوک دوی دوست جوړوي نو داسې خلق ظالمان دي اې نبي اووایئ دوی ته چې ستاسو پلاران ستاسو ځامن ستاسو ښځې او ستاسو رشته دار او په یو روایت کښې عشیراتکم دې او ستاسو هغه مالونه کوم چې تاسو گټلي دي او ستاسو هغه تجارت چې د هغې د ختمیدلو تاسو ویره کوی،او ستاسو هغه کور کوم چې ستاسو خوښ دې تاسو ته د الله،رسول او د هغه په لار کښې دجهاد نه زیات خوښ دي نو انتظار کوئ تر دې چې الله ستاسو په مخکښې خپله فیصله راوړي دا د هغوی د پاره زورنه ده او الله د فاسقانو رهنمائي نه کوي

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله:ما کان للمشرکین ان یعمروا مساجد الله " "کان" فعل ناقص للمشرکین ینبغی د محذوف متعلق کیدو سره خبرمقدم او ان یعمروا مسجد الله جمله کیدو سره د کان اسم مؤخر شاهدین دیعمروا دضمیر نه حال. او د شاهدین علی الکافرین دپاره متعلق اول دې،او بالکافرین متعلق ثاني یعني ما کان ینبغي للمشرکین ان یعمروا مسجد الله شاهدین علی انفسهم بالکفر.

د جمهورو په نیز "یعمروا" د عمر یعمر نه دې یعني اباد ئې کړي او ابن السمیفع "یعمروا" د باب افعال نه وئیلي دې،حضرت ابن عباس او سعید بن جبیر ﷺ وغیره "مسجد" د افراد سره وئیلي دې،او باقیو مساجد د جمع سره لوستلي دې(فتح القدیر شوکاني)

قوله: اى اهل ذلك ددې اضافي مقصد د يو سوال جواب دې

سوال: "عمارة" او "سقاية" دواړه مصدرونه دی چې يو معنوی څيز دې لهذا دې لره د جسم او څيز سره تشبيه ورکول صحيح نه دی لکه چې ذکر شوې مصدورونو ته د "من" سره تشبيه ورکړې شوې ده کوم چې د جسم څيز دې.

جواب: دا دې چې د "العمارة" او "السقاية" نه مخکښې مضاف محذوف دې او هغه "اهل" دې يعنى اهل العمارة واهل السقاية لهذا اوس څه اعتراض باقى پاتې نه شو.

قوله: نزلت رداعلى من قال په دې کښې اشاره ده چې اجعلتم سقاية کښې همزه استفهام انکارى ده او هم ددې نه د راروان آيت شان نزول طرف ته اشاره هم اوشوه.

قوله: ذلك مشار اليه مهاجرين او مجاهدينو لره ددوی د غير سره برابر ګرځول دی.

قوله: من غيرهم ددې نه مراد هغه خلق دی چې ذکر شوې صفاتو باندې پوره نه دی چې په هغې کښې د سقايه او عماره خلق هم شامل وو، د لفظ "اعظم" نه شک پيدا کيږی چې د سقايه او عماره خلق اګرچې د ډيرې اوچتې درجې قابل نه دی خو د اوچتې درجې قابل دی، حالانکه د ايمان نه بغير هر قسم نيکی کوونکی د پاره په آخرت کښې هيڅ درجه به نه وی.

قوله: نفاقها نفاق بفتح النون رواج، يقال السكة النافقة رائجه سکه.

[اياتونه: ۲۵ _ ۲۹]

{لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِي مَوَاطِنَ} لِلْحَرْبِ {كَثِيْرَةٍ} كبدر وقريظة والنضير {و} واذكر {يَوْمَ حُنَيْنٍ} وَادٍ بَيْن مَكَّة وَالطَّائِف أَيْ يَوْم قِتَالكُمْ فِيهِ هَوَازِن وَذَلِك فِي شَوَّال سَنَة ثَمَان {إِذْ} بَدَل مِنْ يَوْم {أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ} فَقُلْتُمْ لَنْ نُغْلَب الْيَوْم مِنْ قِلَّة وَكَانُوا اثْنَيْ عَشَرَ أَلْفًا وَالْكُفَّار أَرْبَعَة آلَاف {فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ} مَا مَصْدَرِيَّة أَيْ مَعَ رَحْبهَا أَيْ سِعَتهَا فَلَمْ تَجِدُوا مَكَانًا تَطْمَئِنُّونَ إِلَيْهِ لِشِدَّةِ مَا لَحِقَكُمْ مِنْ الْخَوْف {ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ} مُنْهَزِمِينَ وَثَبَتَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَته الْبَيْضَاء وَلَيْسَ مَعَهُ غَيْر الْعَبَّاس وَأَبُو سُفْيَان آخِذ بِرِكَابِهِ {ثُمَّ أَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ} طُمَأْنِينَته {عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ} فَرَدُّوا إِلَى النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا نَادَاهُمْ الْعَبَّاس بِإِذْنِهِ وَقَاتَلُوا {وَأَنْزَلَ جُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا} مَلَائِكَة {وَعَذَّبَ الَّذِينَ كفروا} بالقتل والأسر {وذلك جزاء الكافرين} {ثُمَّ يَتُوبُ اللّٰهُ مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ عَلَى من يشاء} منهم بالإسلام {والله غفور رحيم} {يأيها الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ} قَذِر لِخُبْثِ بَاطِنهمْ {فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ} أَيْ لَا يَدْخُلُوا الْحَرَم {بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا} عَام تِسْع مِنْ الْهِجْرَة {وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً} فَقْرًا بِانْقِطَاعِ تِجَارَتهمْ عَنْكُمْ {فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهِ إِن شاء} وقد اغناهم بالفتوح والجزية {إن الله عليم حكيم} {قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ} وَإِلَّا لَآمَنُوا بِالنَّبِيّ

Scanned with

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُولُه﴾ كَالْخَمْرِ ﴿وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ﴾ الثَّابِت النَّاسِخ لِغَيْرِهِ مِنَ الْأَدْيَان وَهُوَ دِين الْإِسْلَام ﴿مِنْ﴾ بَيَان لِلَّذِينَ ﴿الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَاب﴾ أَيْ الْيَهُود وَالنَّصَارٰى ﴿حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَة﴾ الْخَرَاج الْمَضْرُوب عَلَيْهِمْ كُلّ عَام ﴿عَنْ يَد﴾ حَال أَيْ مُنْقَادِينَ أَوْ بِأَيْدِيهِمْ لَا يُوَكِّلُونَ بِهَا ﴿وَهُمْ صَاغِرُونَ﴾ أَذِلَّاء مُنْقَادُونَ لِحُكْمِ الْإِسْلَام

ترجمه: بې شكه الله تعالى د جنګ په ډيرو موقعو كښې ستاسو مدد كړې دې مثلا د بدر، بنوقريظه، او بنو نضير په مقابله كښې او د حنين ورځ ياده كړې دا د مكې او طائف په مينځ كښې وادى ده يعنى په دغه ورځ هوازن سره جنګ ياد كړئ او دا شوال ۸ هجرئى كښې شوې وو هركله چې تاسوته په خپل زياتوالى باندې فخر شوې وو نو تاسو وئيلې وو چې نن به مونږ ته د كموالى د وجه شكست نه كيږى او د مسلمانانو تعداد دولس زره وو او كافران څلور زره وو "اذ" د يوم نه بدل دې خو دې زياتوالى تاسو ته څه فائده درنكړه او زمكه سره د پراخوالى په تاسو باندې تنګه شوه "ما" مصدريه ده يعنى باوجود د پورا طاقت تاسو ته يو داسې ځائې ميلاؤ نه شو چې تاسو پكښې پناه اونيسئ د هغه سختې ويرې نه كومه چې په تاسو راغلې وه، بيا تاسو شكست خوړونكې په شا كولو سره اوتښتيدئ او حضورپاك ﷺ په خپل سپين خچر باندې په خپل ځائې ايسار وو حالانكه هغوى سره سوا د عباس او ابوسفيان نه كوم چې د حضورپاك ﷺ د خچر پيدان نيولې وو، څوك باقى پاتې نه وو دې نه پس الله تعالى په خپل رسول او مومنانو باندې سكينت تسلى نازله كړه كله چه حضرت عباس رضى الله تعالى عنه دهغوى ﷺ په فرمان سره تاسو ته آواز دركړو نو تاسو نبى كريم ﷺ طرف ته واپس راغلئ او (مشركانو سره مو) قتال اوكړو او د فرشتو هغه لښكرئې نازل كړو كومه چې تاسو ته په نظر نه راتله او الله كافرانو لره دقتل او قيد سزا وركړه او هم دا د كافرانو سزا ده بيا دې نه پس په دوى كښې الله چې څوك اوغواړى د اسلام توفيق وركولو سره توبه ورنصيب كړى او الله ډير بخښونكې او رحمت والا دې، اې ايمان والو مشركين د باطن د پليتوالى د وجه سر نه خپو پورې پليت دى لهذا دې كال نه پس به مسجد حرام ته نزدې هم نه تيريږى يعنى مسجد حرام ته به نه داخليږى، او په ۹ هجرئى كښې دا حكم نازل شو او كه چرې تاسو ته دوى سره د تجارت د ختميدو د وجه د غريبۍ ويره وى نو كه الله اوغواړى نو الله به په خپل فضل سره تاسو لره ددوى نه بې نيازه كړى چنانچه الله مسلمانانو لره په فتح او جزيې سره بې نيازه كړل الله ښه پوهيدونكې لوئې حكمت والا دې، هغه خلقو سره قتال اوكړه چې په الله باندې او په ورځ د آخرت باندې ايمان نه راوړى كه چرې دوى په الله باندې او په ورځ د آخرت باندې ايمان لرلو نو په نبى ﷺ باندې به ئې ايمان راوړې وو او نه هغه څيز حرام ګڼرى كوم چې الله او د هغه رسول حرام كړې دى مثلا شراب او نه رشتونې دين قبلوى چې

Scanned with

همیشگیر او د نورو دینونو دپاره ناسخ دې او هغه اسلام دې او هغه اهل کتاب يهود و نصاری دی،من بيانه دې د "الذين" بيان دې دې د پاره چې لګيدلې شوې کاليزه ټيکس جزيه په تابعداری سره په خپل لاس بغير چاته د ورکړې نه ادا کړی،په داسې حال کښې چې هغوی ذليل وی يعنی د اسلام د حکم تابع وی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:مواطن، دموطن جمع ده په معنی د موقع،مقامات، مفسر علام د "للحرب" اضافه کولوسره اشاره اوکړه چې د موطن نه مراد ځائې د اوسيدونه دې بلکه د جنګ ميدان دې.

قوله:اذکرمفسر علام "اذکر" فعل محذوف منلو سره اشاره اوکړه چې "يوم" د فعل محذوف مفعول دې نه چې مواطن باندې عطف دې،لکه چې وئيلې شوی دی ځکه چه "يوم حنين" ظرف زمان دې او "مواطن" ظرف مکان دې،او د زمان عطف په مکان باندې صحيح نه دې،دويمه وجه دا چې اذا أعجبتکم د يوم حنين نه بدل دې،او که د "يوم حنين" عطف په مواطن باندې اوکړې شی نو "اذ اعجبتکم" به هم د "مواطن" نه بدل منلې شی،او دا باطله ده، ځکه چه ددې مطلب به دا شی چې په ټولو موقعو باندې عجب (حيرأنتيا) شوې وه.

قوله:هوازن په غشی وشتلو کښې مشهوره د يوې قبيلې نوم دې چې د حليمه سعديه قبيله وه.

قوله:حنين حنين د مکه او طائف په مينځ کښې د مکې نه په اتلس ميله فاصله کښې يو وادی ده.

قوله:بما رحبت رحبة په ضمه د راء سره،په معنی د کشادګئی او فراخوالی، او رحبة بالفتح فراخ مکان او باء په معنې د "مع ما"مصدريه دې لهذا د عدم عائد اعتراض به نه کيږی

قوله:فلم تجدوامکاناً ددې عبارت د اضافې مقصد د يو سوال جواب دې.

سوال:دا دې چې ضاقت عليکم الارض بما رحبت نه معلوميږی چې زمکه سره د فراخوالی تنګه شوه،حالانکه زمکه په خپل حالت باندې باقی وه.

جواب: دادې چې د زمکې د تنګوالی نه مراد مجازا عدم وجود المکان المطمئن دی

قوله:لخبث بأطنهم:دا د يو سوال مقدر جواب دې.

سوال: سوال دادې چې "نجس" مصدر دې او د مصدر حمل په ذات باندې صحيح نه دې.

جواب:حاصل دادې چې د نجس نه مراد "نجس والا" دې يا بطور مبالغه حمل دې،د نجاست په بيانولو کښې د مبالغې د پاره،ګويا چې مشرک سراسر پليت دی.

دويم سوال:دا دې چې المشرکون جمع دې او "نجس" مفرد دې چې د هغې د وجې په مبتدأ

خبر كېنې مطابقت نشته.

جواب: د جواب حاصل دا دې چې د نجس مصدر كيدو د وجه په واحد، تثنيه او جمع ټولو باندې وئيلې كيږى، يقال رجل نجس رجلان نجس رجال نجس بعضې ظاهريه او زيديه مشرك نجس العين گڼرى.

قوله: عيلة الفقر دا د عال يعيل (ض) مصدر دې په معنى د محتاج كيدولو

قوله: والاآمنوا بالنبى ﷺ دا د سوال مقدر جواب دې.

سوال: دا دې چې قاتلوا الذين لا يومنون بالله ولا باليوم الآخر دې نه د اهل كتابو نه د ايمان بالله او ايمان بالآخرة نفى اوشوه، حالانكه دا دواړه فرقې په الله او په ورځ د آخرت باندې ايمان ساتى؟

جواب: خلاصه داده كه چرې دې خلق په صحيح معنو كېنې په الله او په ورځ د آخرت باندې ايمان ساتلو نو په حضرت محمد ﷺ باندې به ئې ضرور ايمان راوړې وو، چې كله په هغوى باندې ايمان نه راوړى نو ددوى په الله او په ورځ د آخرت باندې هم ايمان نشته.

قوله: دين الحق اى الدين الحق په دې كېنې اضافت الموصوف الى الصفت دى.

قوله: عن يد حال يعطوا د ضمير نه حال دې، د "يد تفسير "منقادين" نه تفسير بالازلام دې، وئيلې شى: أعطى فلان بيده أي أسلم وانقاد

قوله: بأيديكم په دې كېنې اشاره ده چه په "عن يد" كېنې "عن" په معنى د باء دې او دا د "عن يد" دويم تفسير دې.

قوله: يوكلون دا د توكيل نه د مضارع جمع مذكر غائب صيغه ده، په معنى د سپارلو او وكيل جوړولو.

قوله: وهم صاغرون په داسې حال كېنې چې هغوى سره د خپل زيردستئ احساس وى، الصاغر الراضى بالمنزلة الدنية (راغب) امام شافعى رحمه الله فرمائيلې دى صغار د اسلام د قانون بالادستى قبلول دى.

[اياتونه: ٣٠ - ٣٧]

{وقالت اليهود عزير بن الله وقالت النصارى المسيح} عيسى {بن الله ذلك قولهم بأفواههم} لَا مُسْتَنِد لَهُمْ عَلَيْهِ بَلْ {يُضَاهِئُونَ} يُشَابِهُونَ بِهِ {قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ} مِنْ آبَائِهِمْ تَقْلِيدًا لَهُمْ {قَاتَلَهُمُ} لَعَنَهُمْ {اللَّهُ أَنَّى} كَيْفَ {يُؤْفَكُونَ} يُصْرَفُونَ عَنِ الْحَقِّ مَعَ قِيَامِ الدَّلِيلِ {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ} عُلَمَاءَ الْيَهُودِ {وَرُهْبَانَهُمْ} عُبَّادَ النَّصَارَى {أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} حَيْثُ اتَّبَعُوهُمْ فِي تَحْلِيلِ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَتَحْرِيمِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ {وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا} فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ {إِلَّا لِيَعْبُدُوا} أَيْ بِأَنْ يَعْبُدُوا {إِلَٰهًا وَاحِدًا لَا إِلَٰهَ إِلَّا

هو سبحانه} تنزيها له {عما يشركون} {يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ} شرعه وبراهينه {بِأَفْوَاهِهِمْ} بأقوالهم فيه {وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ} يظهر {نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ} ذلك {هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ} محمدا صلى الله عليه وسلم {بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ} يعليه {عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ} جميع الأديان المخالفة له {وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ} ذلك {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ} يأخذون {أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ} كالرشى في الحكم {وَيَصُدُّونَ} الناس {عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} دينه {وَالَّذِينَ} مبتدأ {يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا} أي الكنوز {فِي سَبِيلِ اللَّهِ} أي لا يؤدون منها حقه من الزكاة والخير {فَبَشِّرْهُمْ} أخبرهم {بِعَذَابٍ أَلِيمٍ} مؤلم {يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ} تحرق {بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ} وتوسع جلودهم حتى توضع عليها كلها ويقال لهم {هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ} اي جزاءه {إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ} المعتد بها للسنة {عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ} اللوح المحفوظ {يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا} أي الشهور {أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ} محرمة ذو القعدة وذو الحجة والمحرم ورجب {ذَٰلِكَ} أي تحريمها {الدِّينُ الْقَيِّمُ} المستقيم {فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ} أي الأشهر الحرم {أَنْفُسَكُمْ} بالمعاصي فإنها فيها أعظم وزرا وقيل في الأشهر كلها {وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً} جميعا في كل الشهور {كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} بالعون والنصر {إِنَّمَا النَّسِيءُ} أي التأخير لحرمة شهر إلى آخر كما كانت الجاهلية تفعله من تأخير حرمة المحرم إذا أهل وهم في القتال إلى صفر {زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ} لكفرهم بحكم الله فيه {يُضَلُّ} بضم الياء وفتحها {بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ} أي النسيء {عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِيُوَاطِئُوا} يوافقوا بتحليل شهر وتحريم آخر بدله {عِدَّةَ} عدد {مَا حَرَّمَ اللَّهُ} من الأشهر فلا يزيدوا على تحريم أربعة ولا ينقصوا ولا ينظروا إلى أعيانها {فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ} فظنوه حسنا {والله لا يهدي القوم الكافرين}

ترجمه: يهودو اوئيل چې عزيز دالله ځوئې دې او نصارى اوئيل عيسى مسيح د الله ځوئې دې دا د هغوى د خولې نه وتلې بې حقيقته خبرې دى، چې په هغې باندې دوى سره هيڅ دليل نشته، دا هم دهغه خلقو په تقليد كښې هم د هغوى پشان خبرې كوى، كوم چې د دوى په پلار نيكه كښې مخكښې كافران شوې دى، د الله دې په هغوى باندې وهل لعنت وى دليل د قائم كيدو باوجود كوم خوا روكيږى؟ يهودو خپل عالمانو او نصارى خپل درويشانو لره د الله نه علاوه رب جوړ كړې دې په داسې طريقه چې د حلالو په حرامولو كښې او د حرامو په حلالو كښې ددوى اتباع اوكړه، او دغه شان مسيح ابن مريم ئې هم رب جوړ كړې دې اوپه تورات او انجيل كښې دوى ته صرف دا حكم وركړې شوې وو چې هغوى د صرف د يو معبود بندگى اوكړى، هغه معبود چې د هغه نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته، او هغه ددوى د شرک نه پاک دې. دا كافران دا غواړى چې دالله نور په پوكو باندې مړ كړى يعنى د هغه په شريعت او براهينو كښې په خبرو اترو سره شک پيدا كړى او الله دا رڼرا مكمل ښكاره كيدو نه بغير نه منى اگر

Scanned with

چې کافرانو ته دا خبره ناخوښه وي چنانچه هغه الله داسې دې چې هغه خپل رسول محمد ته ددې نور د پوراکولو د پاره هدایت او حق دین ورکولو سره راولیږو.چې دې دین لره په ټولو دینونو باطلو باندې غالب کړي اګر چې مشرکانو ته دا خبره ناخوښه وي اې ایمان والو د یهودو او عیسایانو اکثر عالمان او راهبان د خلقو مالونه په باطله طریقې سره خوري اخلي یعنې په فیصله کښې د رشوت په ذریعه سره او خلقو لره د الله د دین نه لرې ساتي او هغه خلق الذین مبتدأ دې چې کوم سره او سپین زر جمع کوي،اودې جمع شوې مال نه د الله په لار کښې نه خرچ کوي یعنې د زکوٰة په ذریعه ددې حق نه ادا کوي فبشرهم د مبتدأ خبر دې نو دوی ته د دردناک عذاب خبر واوروه،چې په کومه ورځ ددوی جمع شوي مال به په اور کښې سور کړې شي بیا به په دې باندې ددوی تندی او اړخونه داغ کولې شي ددوی څرمنې به فراخ کړې شي چې په دې باندې به ددوی هغه ټول مال کیخودلې شي او دوی ته به اوئیلې شي چې دا هغه مال دې کوم چې تاسو جمع کړې وو یعنې دا د هغې سزا ده او واخلئ اوس د خپل جمع شوې خزانې مزه اوڅکئ،حقیقت دادې چې د میاشتو تعداد چې د هغې په ذریعه د کال حساب کولې شي د الله په نیز په لوح محفوظ کښې دولس میاشتې دی.کله نه چې الله زمکه او اسمانونه پیدا کړې دی هم دولس دی په دې میاشتو کښې څلور میاشتې محترم دی ذوالقعده،ذوالحجه،محرم او رجب،دا یعنې ددې میاشتو حرمت د دین صحیح طریقه ده لهذا په دې څلور میاشتو کښې د ګناه په وجه په خپل ځان باندې ظلم مه کوي ځکه چې ددې څلورو میاشتو بې قدری کول لویا ګناه ده او وئیلې شوې دی چې پورا دولس میاشتې مراد دې او ټول مشرکانو سره په ټولو میاشتو کښې جنګیږئ ځنګه چې هغوی تاسو سره جنګ کوي او ښه پوه شئ چې الله تعالی د مدد او نصرت په ذریعه د نیکانو سره دې او نسي یعنې په دې میاشتې حرمت دویمې میاشتې ته روستو کول ځنګه چې د جاهلیت د زمانې خلقو به د محرم د میاشتې حرمت به دویمې میاشتې یعنې د صفر میاشتې ته منتقل کولو کله به چه د محرم میاشت سپوږمۍ به ددوی د جنګ په دوران کښې په نظر راغله،او دا حرکت په کفر کښې یو اضافه ده ددې میاشتې په باره کښې د الله د حکم نه د انکار د وجه چې د هغې د وجه کافر خلق په ګمراهۍ کښې مبتلا کیږي یضل د یاء په ضمې او کسرې سره دې نسي یعنې روستو کول په څه کالونو کښې حلال کوي او په څه کښې حراموي چې یو میاشت حلال کړي او دویمه میاشت د هغې په بدله کښې حرام کولو سره د الله حرام کړې شوې یعنې د الله د طرف نه عزت ورکړې شوې میاشتو شمیر پورا کړي چنانچه څلور قدردانې میاشتو کښې به ئې نه زیاتې کولو اونه کمې البته ددې د مقررتیا خیال به ئې نه ساتلو چنانچه هغوی دغه شان د الله حرام کړې شوې میاشت حلالوي او د هغوی خراب عملونه د هغوی د پاره خیسته کړې شوی دی چې د هغې د وجې هغوی به دا اعمال ښه ګڼړل الله تعالی د حق نه انکار کونکي ته هدایت نه ورکوي.

Scanned with

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: عزیر، د یو مشهور اسرائیلی بزرگ نوم دې چې د هغه متعلق د بعضو عربو خیال وو چې هغه د الله ځوئې دې "عزیز" بعضو منصرف او بعضو غیر منصرف لوستلې دې، دده په نبی کیدو کښې اختلاف دې په روح المعانی کښې دی اختلف فی عزیز هل هو نبی أم لا والأکثرون علی الثانی" علامه سیوطی هم په الإتقان فی علوم القرآن کښې دې ته ترجیح ورکړې ده. مولانا سید سلیمان ندوی لیکلې دی چې د عزیر نه مراد عزراء کاهن مراد دې چې هغه تورات په خپل اعجاز سره دوباره ژوندې کړې وو.

قوله: یضاهئون: دا د مضاهاة (مفاعلة) نه د مضارع جمع مذکر غائب صیغه ده، په معنی د "مشابهت پیدا کوی" ضَهِیٌ مثل، په شان، شبیه ضهیا مصدر (س) د ښځې د سړی په شان کیدل چه نه ورته حیض راځی، نه ئې سینې راخیژی او نه حامله کیږی، ضَهْیَاءُ (د سړی په شان ښځه)

قوله: یؤفکون افك (ض) نه جمع مذکر غائب مضارع، (کوم خوا ګرځی)؟

قوله: بأن یعبدوا، په دې کښې اشاره ده چې "لیعبدوا" کښې لام په معنی د باء دې، لهذا دا اعتراض ختم شو چې د "الامر" صله "لام" نه راځی.

سوال: "أن" ئې ولې مقدر اوګرځولو؟

جواب: چې د حرف جر دخول صحیح شی.

قوله: شرعة

سوال: د نور تفسیر په "شرع" او "برهان" سره کولو کښې څه مصلحت دې؟

جواب: ددې سره هم د یو سوال مقدر جواب مقصود دې.

سوال: دا دې چې نور خو د الله ذات سره قائم دې نو هغوی د دې نور د مړ کولو اراده څنګه کولې شی، حالانکه هغوی عاقلان دی؟

جواب: دا دې چې د نور نه مراد د الله شریعت دې.

قوله: بأفواههم فیه په دې کښې اشاره ده چې محل ذکر کولو سره حال مراد دې ځکه چې په خلې سره د شریعت د مړ کولو هیڅ مطلب نشته، مراد ترې نه اقوال دی یعنی نکته چینی او طعنه زنی.

قوله: ذلك ذلك دګره مفعول محذوف دې

قوله: یأخذون د یأکلون تفسیر په یأخذون سره کولو کښې دې طرف ته اشاره ده چې په کلام کښې استعاره ده یعنی د "اکل" نه "اخذ" مراد دې، د "اکل" ذکر خاص طور کول د

لوئی مقصود کیدو د وجې شوې دې.

قوله: الکنوز، په دې کښې اشاره ده چې د "ینفقونها" ضمیر "کنوز" ته راجع دې، چې د یکنزون نه ئې پته لګی، دا شبه ختم شو چې په ماقبل کښې د "ذهب" او "فضة" د دوو څیزونو ذکر دې لهذا "ینفقونهما" پکار وو.

قوله: أي لا یؤدون منها حقه من الزکوة، دا اضافه ددې سوال جواب دې چې په "لا ینفقونها فی سبیل الله" کښې مطلقا په "عدم انفاق" باندې وعید دې، په دې د نفاق مقدار بیان کړې شوې نه دې، معلومه شوه چې د ټول مال په نه خرچ کولو باندې هم وعید دې، حالانکه ټول مال خرچ کول ضروری نه دی ددې سوال جواب ته ئې په "لا یؤدون الخ" لفظ سره اشاره اوکړه چې "کل" ذکر دې "جزء" مراد دې.

قوله: یوم یحمی علیها فی نار جهنم: أی النار توقد علیها وهی ذات حمی وحر شدید ولو قال یوم یحمی أی الکنوز لم یعط هذا المعنی فجعل الإحماء للنار مبالغة ثم حذف النار وأسند الفعل الی الجار.

قوله: أخبرهم دا اضافه ددې سوال جواب دې چې "فبشرهم" د مبتدأ خبر واقع دې، حالانکه د انشاء خبر واقع کیدل صحیح نه وی، د جواب حاصل کوم ته چې مفسر علام په "وأخبرهم" سره اشاره کړې ده هغه دا ده چې "فبشرهم فی حقهم" په تاویل سره د مبتدأ خبر دې (نوټ): زمونږ مخې ته چه د جلالین کومه نسخه ده هغې "الخیر" ذکردې چې د کتابت غلطی ده، په اصل کښې "الخبر" دې.

قوله: تکوی، داغ به ورکولې شی (ض) داد "کیّ" نه مضارع مجهول واحد مونث غائب صیغه ده.

قوله: ای جزاءه د مضاف حذف کولو سره دې خبرې ته اشاره ده چې "کنز" د څکلو څیز نه دې مطلب د خرچ نه کولو سزا تیرول دی.

قوله: للسنة ای المعتد لحساب السنة، دلته په اصل کښې "الحساب" مضاف محذوف دې یعنی د الله په نیز دولس میاشتې دی چې د هغې په ذریعه د کال حساب کیږی قمری سال ۳۵۵ ورځو وی، او شمسی کال ۳۶۵ ورځو په ذریعې سره حساب کیږی، قمری کال د شمسی کال نه لس ورځې وړوکې وی.

قوله: حرمة: **سوال:** "حُرُم" مصدر دې لهذا ددې حمل په "أربعة" باندې صحیح نه دې؟

جواب: حرم، محرمة، د اسم مفعول په معنی دې لهذا اوس څه اعتراض پاتې نه شو.

قوله: النسئ: دا د نسأ مصدر دې "روستو کول یا اخوا کول" یقال نَسأه نَسأ ونَسِيأ ونَسَاءَ دې لره ئې روستو کړو څنګه چې وئیلې شوې دی مسه مسا ومساسا ومسیسا، مسح کول او بعضې حضراتو "نسئ" په معنی د "منسوء" په وزن د فعیل په معنی د مفعول هم اخستې دې.

[ایاتونه:٣٨ - ٤٢]

وَنَزَلَ لَمَّا دَعَا النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاس إِلَى غَزْوَةِ تَبُوك وَكَانُوا فِي عسرة وشدة حر فشق عليهم {يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ} بإدغام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الْمُثَلَّثَة وَاجْتِلَاب هَمْزَة الْوَصْل أَيْ تَبَاطَأْتُمْ وَمِلْتُمْ عَنِ الْجِهَاد {اِلَى الْاَرْضِ} والقعود فيها والاستفهام للتوبيخ {أرضيتم بالحياة الدنيا} ولذاتها {مِنَ الْاٰخِرَةِ} أَيْ بَدَل نَعِيمهَا {فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي} جَنْب مَتَاع {الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ} حقير {اِلَّا} بإدغام لا فِي نُون إنْ الشَّرْطِيَّة فِي الْمَوْضِعَيْنِ {تَنْفِرُوْا} تخرجوا مَعَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْجِهَادِ {يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا} مُؤْلِمًا {وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ} أَيْ يَأْتِ بِهِمْ بَدَلَكُمْ {وَلَا تَضُرُّوْهُ} أَيْ اللّٰه أَوْ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {شَيْئًا} بِتَرْكِ نَصْره فَإِنَّ اللّٰه نَاصِر دِينه {وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ} وَمِنْهُ نَصْر دِينه وَنَبِيّه {اِلَّا تَنْصُرُوْهُ} أَيْ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ} حِين {اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا} من مكة اي الجؤوه إِلَى الْخُرُوج لَمَّا أَرَادُوا قَتْله أَوْ حَبْسه أَوْ نَفْيه بِدَارِ النَّدْوَة {ثَانِيَ اثْنَيْنِ} حَال أَيْ أَحَد اثْنَيْنِ وَالْآخَر أَبُو بَكْر الْمَعْنَى نَصَرَهُ اللّٰه فِي مِثْل تِلْكَ الْحَالَة فَلَا يَخْذُلهُ فِي غَيْرهَا {اِذْ} بَدَل مِنْ إِذْ قَبْله {هُمَا فِي الْغَارِ} نَقْب فِي جَبَل ثَوْر {اِذْ} بَدَل ثَانٍ {يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ} أَبِي بَكْر وَقَدْ قَالَ لَهُ لَمَّا رَأَى أَقْدَام الْمُشْرِكِينَ لَوْ نَظَرَ أَحَدهمْ تَحْت قَدَمَيْهِ لَأَبْصَرَنَا {لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا} بِنَصْرِهِ {فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ} طُمَأْنِينَته {عَلَيْهِ} قِيلَ عَلَى النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقِيلَ عَلَى أَبِي بَكْر {وَاَيَّدَهٗ} أَيْ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا} مَلَائِكَة فِي الْغَار وَمَوَاطِن قِتَاله {وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا} أَيْ دَعْوَة الشِّرْك {السُّفْلٰى} الْمَغْلُوبَة {وَكَلِمَةُ اللّٰهِ} أَيْ كَلِمَة الشَّهَادَة {هِيَ الْعُلْيَا} الظَّاهِرَة الْغَالِبَة {وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ} فِي مُلْكه {حَكِيْمٌ} فِي صُنْعه {اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا} نِشَاطًا وَغَيْر نِشَاط وَقِيلَ أَقْوِيَاء وَضُعَفَاء أَوْ أَغْنِيَاء وَفُقَرَاء وَهِيَ مَنْسُوخَة بِآيَةِ [لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاء] {وَجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ} أَنَّهُ خَيْر لَكُمْ فَلَا تَثَّاقَلُوا ونزل في المنافقين الذين تخلفوا {لَوْ كَانَ} ما دعوتهم إليه {عَرَضًا} مَتَاعًا مِنَ الدُّنْيَا {قَرِيْبًا} سَهْل الْمَأْخَذ {وَّسَفَرًا قَاصِدًا} وَسَطًا {لَّاتَّبَعُوْكَ} طَلَبًا لِلْغَنِيمَةِ {وَلٰكِنْ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ} الْمَسَافَة فَتَخَلَّفُوا {وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ} إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ {لَوِ اسْتَطَعْنَا} الْخُرُوج {لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ} بِالْحَلِفِ الْكَاذِب {وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ} فِي قَوْلهمْ ذَلِكَ

ترجمه: او دا راروان آیت هغه وخت نازل شو کله چه حضور پاک ﷺ خلقو ته عزوه تبوک د پاره دوتلو اوفرمائیل، او حال دا وو چې خلق ډیر په تنګئ کښې وو، او د سختئ ګرمئ موسم وو نو د هغوی ته وتل مشکل محسوس شو، اې ایمان والو تاسو باندې څه چل شوې دې چې کله تاسو ته د الله په لار کښې د وتلو د پاره اوویلې شو نو تاسو په زمکه باندې اونختئ، تاء په اصل کښې یه ثاء مثلثه کښې ادغام شوې ده، او په شروع کښې د همزه وصل اضافه

Scanned with

شوي ده "اثاقلتم اصل کښې تثاقلتم) وو ،تاء په ثاء مثلثه سره بدلولو سره او ثاء په ثاء کښې ادغام کولو سره، همزه وصل مو شروع کښې راوړه، یعنی تاسو ناراسته شوئی او د جهاد په مقابله کښې په وطن کښې ناسته مو خوښه کړه (مالکم) کښې استفهام د توبیخ د پاره دې آیا تاسو د دنیا زندګۍ له او ددې لذتونه دآخرت په مقابله کښې یعنی د هغې د نعمتونو په بدله کښې خوښ کړې دې (نو تاسو ته معلومیدل پکار دی)چې د دنیا دا د عیش سامان د آخرت د عیش سامان په مقابله کښې ډیر لږ سپک دې الا کښې د "ان" شرطیه په لا کښې ادغام دې دوارو ځایونو کښې(دلته او مخکښې راروان ځاې کښې) که چرې تاسو نبی ﷺ سره اونه وتلئ نو الله به تاسو ته دردناک عذاب درکړی او تاسو په ځائې به یو بل قوم رابدل کړی. یعنی دویم قوم به ستاسو په ځائې راولی،او تاسو د هغه مدد پریښودلو سره هغه ته یا نبی ته هیڅ نقصان نشئ ورکولې. ځکه چه الله د خپل دین په خپله مدد کوونکې دې هغه په هر څیز باندې قدرت لری او په دې کښې د هغه د دین او د هغه د نبی مدد هم شامل دې که چرې تاسو د هغه د نبی مدد نه کوی نو هیڅ پرواه نشته الله هغه وخت د هغه مدد کړې دې کله چې کافرانو هغه لره د مکې نه ویستې وو یعنی هغه ئې په وتلو باندې مجبور کړې وو او په دار الندوه کښې ئې د هغه د قید یا د قتل یا د وطن نه د ویستو مشوره کړې وه،هر کله چې هغه په دوو کښې دویم وو دا حال دې، او دویم ابوبکر ؓ وو مطلب دادې چې د هغه ئې په دې نازک وخت کښې مدد اوکړو نو هغه به په نورو وختونو کښې هم بې یار و مدد ګار نه پریږدی،هر کله چې هغه جبل ثور غار کښې وو، دویم "اذ" د اول "اذ" نه بدل دې هر کله چې هغه خپل ملګری ابوبکر ؓ ته وئیل دا "اذ" دویم بدل دې او ابوبکر ؓ د مشرکینو قدمونه اولیدل نو رسول الله ﷺ ته ئې اوفرمائیل که چرې دوی کښې څوک هم د خپل قدمونو لاندې طرف ته اوګوری نو یقینی طور سره به مونږ اوینی،غم مه کوه یقینا الله د خپل مدد په ذریعه مونږ سره دې دغه وخت الله په هغه باندې خپل سکون یعنی د زړه اطمینان نازل کړو دعلیه ضمیر باره کښې وئیلې شوې دی چې نبی ﷺ طرف ته راجع دې او دا هم وئیلې شوې دی چې ابوبکر ؓ ته راجع دې او د ده یعنی د نبی ﷺ مدد ئې په غار کښې یا د جنګ په میدان کښې د فرشتو داسې لښکرو سره اوکړو چې تاسو ته په نظر نه راتلې او د کافرانو خبره یعنی ددوی د شرک دعوې ئې ښکته کړې یعنی مغلوبې ئې کړې او د الله خبره خو هم اوچته ده یعنی (غالب)کلمه شهادت الله په خپل ملکیت کښې زبردست او باحکمت دې په خپل کارونو کښې اوځئ اګرچې سپک یئ یا درانه یعنی خوشحاله یئ او یا خفا،او ووئیلې شوی دی که طاقتور یئ او که کمزورې،مالداره یئ یا غریب. دا حکم په "لیس علی الضعفاء" سره منسوخ شوې دې،او دالله په لار کښې په مالونو سره او ځانونو سره جهاد اوکړئ

Scanned with

دا ستاسو د پاره بهتره ده که تاسو دې خبرې نه خبر يئ چې دا ستاسو د پاره ښه ده نو تاسو ناراسته کيږئی مه(يعنی ځان مه پټوئی) او راروان آيت د هغه منافقينو باره کښې نازل شو چې په غزوه کښې شريک شوې نه وو(اې نبی ﷺ)که چرې هغه خبره چې د کومې تاسو دوی ته دعوت ورکوی د دنيا فائدې حاصلول آسان وې او سفر درميانه وې نو دوی به د مال غنيمت حاصلولو د پاره خامخا تا سره تلل خو په دوی باندې دا لاره ډيره گرانه سخته شوې ده چې د هغې د وجه نه دوی روستو پاتې شوې دی هرکله چې تاسو واپس دوی لره راشئ نو دوی به په الله قسمونه خوړلو خوړلو سره وائی چې که مونږ وتلې شوې د وتلو په حالت کښې وو نو تاسو سره به ضرور وتلو،دوی خپل ځان په دروغو قسمونو سره هلاکت کښې غورزوی،الله ته ښه پته ده چې دوی په خپله خبره کښې دروغژن دی.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:بإدغام التاء في الأصل في المثلثة په اصل کښې د ادغام مطلب دادې چې د تعليل نه مخکښې "تا" مو "ثا" کړه او "ثا" مو په "ثا" کښې مدغمه کړه،او ابتداء بالسکون لازميدو د وجه مو همزه وصل په شروع کښې راوړله.

قوله:اثاقلتم په اصل کښې "تثاقلتم" وو،د ذکرشوې عبارت راوړلو مقصد په "اثاقلتم"کښې د "ثاء". دتشديد او په شروع کښې همزه وصل راوړلو بيان کول دی،باوجود ددې نه چې دا د باب د تفاعل نه دې.

قوله:تباطئتم، دبطوءنه اخستلې شوې دې په معنی د ناراستيا سره،دا د تيزوالی ضد دې

سوال: مفسر علام د "اثاقلتم" تفسير په "ملتم" سره ولې اوکړو؟

جواب: چونکه د "تثاقل" صله "الی" نه راځی،ځکه مفسر علام د "ملتم" اضافې کولو سره اشاره اوکړه چې "تثاقل" د "ميل" معنې لره متضمن دې،لهذا اوس څه اعتراض نشته.

قوله:والقعود فيها، دا د سوال جواب دې

سوال: "القعود فيها" د اضافې څه فائده ده؟

جواب: ددې اضافې فائده داده که په جهاد کښې شريک شوې وو نو هم به په زمکه باندې به وو،په جهاد کښې د نه شريک کيدو په صورت کښې په زمکه باندې د اوسيدو څه مطلب؟ مفسر علام د "القعود فيها" اضافه کولو سره اشاره اوکړه چې دلته د "اثاقلتم إلى الأرض" معنی بزدلی ده. **قوله:اي بدل نعيمها،** ددې اضافې مقصد دې خبرې ته اشاره ده چې په "من الاخرة" کښې "من" د مقابلې د پاره دې،نه ابتدائيه،لهذا اعتراض ختم شو چې دآخرت نه د حيات دنيا ابتدا کولو هيڅ معنی نشته،د نعيمها د اضافې سره اشاره اوشوه چې مطلق آخرت پرينښودل مراد نه دی،بلکه ددې نه ددې نعمتونه پرينښودل مراد دی.

Scanned with

قوله: جنب متاع په دې کښې اشاره ده چې په "فما" کښې "ما" د مقابلې د پاره ده، نه د ظرفيت د پاره، لهذا د متاع دنيا د پاره د آخرت ظرف واقع كيدلو اعتراض ختم شو.

قوله: حال: يعني ثاني اثنين حضور پاک ﷺ ته د راجع ضمير نه حال دې،

قوله: اى احد الاثنين، دا ددې سوال جواب دې چې كله د "ثانى" اضافت عدد ته كيږي، نو غير د مضاف اليه مراد وى، ددې قاعدې نه معلومه شوه چې نبى عليه السلام د دوه نه علاوه دريم وو، حالانكه واقعه داسې نه ده، "احد الاثنين" ونيلو سره نې اوفرمائيل چې مراد په دوو كښې يو دې، نه په دوو كښې دريم.

قوله: جبل ثور جبل ثور د مكې نبى طرف ته د يو گهنټې په سفر سره واقع دې.

قوله: انه خبير لكم دا د "تعملون" محذوف مفعول دې.

قوله: فلا تثاقلو دا د شرط جزاء ده.

[اياتونه: ۴۳ - ۵۹]

وَكَانَ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذِنَ لِجَمَاعَةٍ فِي التَّخَلُّف بِاجْتِهَادٍ مِنْهُ فَنَزَلَ عِتَابًا لَهُ وَقَدَّمَ الْعَفْو تَطْمِينًا لِقَلْبِهِ {عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ لِمَ أَذِنْتَ لَهُمْ} فِي التَّخَلُّف وَهَلَّا تَرَكْتهمْ {حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ صَدَقُوا} فِي الْعُذْر {وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ} فِيهِ {لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} فِي التَّخَلُّف عَنْ {أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ} {إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ} فِي التَّخَلُّف {الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ} شَكَّتْ {قُلُوبُهُمْ} فِي الدِّين {فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ} يَتَحَيَّرُونَ {وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ} مَعَك {لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً} أُهْبَة مِنَ الْآلَة وَالزَّاد {وَلَكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْبِعَاثَهُمْ} أَيْ لَمْ يُرِدْ خُرُوجهمْ {فَثَبَّطَهُمْ} كَسَّلَهُمْ {وَقِيلَ} لَهُمْ {اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ} الْمَرْضَى وَالنِّسَاء وَالصِّبْيَان أَيْ قَدَّرَ اللّٰه تَعَالَى ذَلِكَ {لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا} فسادا بِتَخْذِيلِ الْمُؤْمِنِينَ {وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ} أَيْ أَسْرَعُوا بَيْنَكُمْ بِالْمَشْيِ بِالنَّمِيمَةِ {يَبْغُونَكُمْ} يَطْلُبُونَ لَكُمْ {الْفِتْنَةَ} بِإِلْقَاءِ الْعَدَاوَة {وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ} مَا يَقُولُونَ سَمَاع قبول {وَاللّٰهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ} {لَقَدِ ابْتَغَوُا} لَك {الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ} أَوَّل مَا قَدِمْت الْمَدِينَة {وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ} أَيْ أَجَالُوا الْفِكْر فِي كَيْدك وَإِبْطَال دِينك {حَتَّى جَاءَ الْحَقُّ} النَّصْر {وَظَهَرَ} عَزَّ {أَمْرُ اللّٰهِ} دِينه {وَهُمْ كَارِهُونَ} لَهُ فَدَخَلُوا فِيهِ ظَاهِرًا {وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ ائْذَنْ لِي} فِي التَّخَلُّف {وَلَا تَفْتِنِّي} وَهُوَ الْجَدّ بْن قَيْس قَالَ لَهُ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَك فِي جِلَاد بَنِي الْأَصْفَر فَقَالَ إِنِّي مُغْرَم بِالنِّسَاءِ وَأَخْشَى إِنْ رَأَيْت نِسَاء بَنِي الْأَصْفَر ان لا اصبر عنهن فافتتن قال تعالى {أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا} بِالتَّخَلُّفِ وَقُرِئَ سَقَطَ {وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ} لَا مَحِيص لَهُمْ عنها {إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ} كنصر وغنيمة {تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ} شِدَّة {يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا} بِالْحَزْمِ حِين تَخَلَّفْنَا {مِنْ قَبْلُ} قَبْل هَذِهِ الْمُصِيبَة {وَيَتَوَلَّوْا وَهُمْ فَرِحُونَ} بِمَا أَصَابَك {قُلْ} لَهُمْ {لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا} إِصَابَته {هُوَ مَوْلَانَا} نَاصِرنَا وَمُتَوَلِّي

Scanned with

امورنا {وعلى الله فليتوكل المؤمنون} {قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ} فِيهِ حَذْف إِحْدَى التَّاءَيْنِ مِنَ الأَصْل أَيْ تَنْتَظِرُون أَنْ يَقَع {بِنَا إِلَّا إِحْدَى} الْعَاقِبَتَيْنِ {الْحُسْنَيَيْنِ} تَثْنِيَة حُسْنَى تَأْنِيث أَحْسَن النَّصْر أَوْ الشَّهَادَة {وَنَحْنُ نَتَرَبَّص} نَنْتَظِر {بِكُمْ أَنْ يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِهِ} بِقَارِعَةٍ مِنَ السَّمَاء {أَوْ بِأَيْدِينَا} بِأَنْ يَأْذَن لَنَا فِي قِتَالِكُمْ {فَتَرَبَّصُوا} بِنَا ذَلِكَ {إِنَّا مَعَكُمْ مُتَرَبِّصُونَ} عَاقِبَتَكُمْ {قُلْ أَنْفِقُوا} فِي طَاعَة اللّٰه {طَوْعًا أَوْ كرها لن يتقبل منكم} ما انفقتموه {إنكم كنتم قوما فاسقين} وَالأَمْر هُنَا بِمَعْنَى الْخَبَر {وما منعهم أن تقبل} بالياء والتاء {منهم نفقاتهم إلا أنهم} فَاعِل وَأَنْ تُقْبَل مَفْعُول {كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَى} مُتَثَاقِلُونَ {وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ} النَّفَقَة لِأَنَّهُمْ يعدونها مغرما {فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُمْ} أَيْ لَا تَسْتَحْسِن نِعَمنَا عَلَيْهِمْ فَهِيَ اسْتِدْرَاج {إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ} أَيْ أَنْ يُعَذِّبهُمْ {بِهَا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} بِمَا يَلْقَوْنَ فِي جَمْعهَا مِنَ الْمَشَقَّة وَفِيهَا مِنَ الْمَصَائِب {وَتَزْهَقَ} تَخْرُج {أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ} فَيُعَذِّبهُمْ فِي الآخِرَة أَشَدّ الْعَذَاب {وَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ إِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ} أَيْ مُؤْمِنُونَ {وَمَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَفْرَقُونَ} يَخَافُونَ أَنْ تَفْعَلُوا بِهِمْ كَالْمُشْرِكِينَ فَيَحْلِفُونَ تَقِيَّة {لو يجدون ملجأ} يلجاون إِلَيْهِ {أَوْ مَغَارَاتٍ} سَرَادِيب {أَوْ مُدَّخَلًا} مَوْضِعًا يَدْخُلُونَهُ {لَوَلَّوْا إِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُونَ} يُسْرِعُونَ فِي دُخُوله وَالِانْصِرَاف عَنْكُمْ إِسْرَاعًا لَا يَرُدّهُ شَيْء كالفرس الجموح {ومنهم من يلمزك} يعيبك {في} قسم {الصدقات فإن أعطوا منها رضوا وإن لم يعطوا منها إذا هم يسخطون} {وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ} مِنَ الْغَنَائِم وَنَحْوهَا {وَقَالُوا حَسْبُنَا} كَافِينَا {اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ} مِنْ غَنِيمَة أُخْرَى مَا يَكْفِينَا {إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ} أَنْ يُغْنِينَا وَجَوَاب لَوْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ

ترجمه: حضور پاک ﷺ په خپل اجتهاد سره يو ټولګی ته په جهاد (عزوه تبوک) کښې د نه شريکيدو اجازت ورکړو، نو د ناراضتيا ښکاره کولو د پاره د راروان آيت نازل شو، او د حضور پاک ﷺ د زړه اطمينان د پاره معافی ئې مخکښې بيان کړه، (اې نبی) الله دې تا معاف کړی تا هغوی ته د شرکت نه کولو ولې اجازت ورکړو؟ او تاسو هغوی ولې په حالت باندې پرې نخودل؟ چه تا باندې ښکاره شوې وې چه کوم خلق په عذر کښې رښتونې دی؟ او د عذر په معامله کښې به دې دروغجن هم معلوم کړې وې کوم خلق چه په الله باندې او په ورځ د آخرت باندې ايمان لری هغوی خو به ستا نه کله هم درخواست اونکړی چه هغوی په خپل ځان او مال سره د جهاد کولو نه معاف اوساتلې شی، الله متقيان ښه پيژنی، داسې د نه شريکيدو درخواست خو صرف هغه خلق کوی څوک چه په الله او په ورځ د آخرت باندې ايمان نه لری، او د هغوی زړونه د دين په معامله کښې په شک کښې مبتلا دی او هغوی په خپل شک کښې حيران وی که چرې د هغوی (په رښتيا) تاسو سره د وتلو څه اراده وې نو هغوی به د دې د پاره ستاسو په وړاندې د وتلو آلات او د سفر د توښې په ذريعه څه تياری کړې وې ليکن الله ته (جهاد د پاره) د هغوی پاڅيدل خوښ نه وو، يعنی الله د هغوی (د جهاد د پاره) وتل نه غوښتل، په دې وجه الله هغوی

Scanned with

سست کړل او ورته اووئيلی شو چه د ناست خلقو سره (يعنی) مريضانو او ښځو سره کينئ، يعنی الله تعالی دا مقدر کړل، که چرې هغوی په تاسو کښې شامل شوې وې او وتلې وې نو په تاسو کښې به ئې مؤمنان ذليل کړی وې (په بزدلئ ښکاره کولو سره) د فساد نه علاوه دهيڅ څيز اضافه نه وې کړې او په تاسو کښې به ئې فتنه اچولو دپاره ښه منډې وهلې په تاسو کښې به ئې فتنه اچولې وې يعنی په تاسو کښې به ئې چغل خوری کولو دپاره ښه کوششونه کول، او دهغوی خبره منونکی خلق په تاسو کښې موجود دی، الله دغه ظالمان ښه پيژنی، ددې نه مخکښې هم (يعنی) کله چه تاسو مدينې ته راغلی وئ هغوی د فتنې اچولو کوششونه کړی دی تاسو سره د مکر کولو او ستاسو دين باطل کولو دپاره دوی هرقسم تدبيرونه او چل ول کړې دې تردې پورې چه حق يعنی نصرت راغې تردې پورې چه او د الله امر (يعنی) دهغه دين غالب شو حالانکه هغوی دا ناخوښه گڼړلو ليکن هغوی په دې (اسلام) کښې په ښکاره داخل شوا و په هغوی کښې بعضې خلق داسې هم شته چه هغوی وائی چه ماته (په جهاد کښې) د نه شريکيدو اجازت راکړئ او ما په فتنه کښې مه اچوئ او هغه جد بن قيس دې ددوی نه نبی ﷺ تپوس اوکړو چه آيا ته دخپل اصفر سره دقتال (جهاد) دپاره تيار ئې؟ نو هغه جواب ورکړو چه زه د ښځو شوقين يم ماته خطره ده چه که زه دخپل اصفر ښځې اووينم نه به ځان قابو نه کړې شم چه ددې په وجه به زه په فتنه کښې مبتلا شم ښه واؤرئ دوی په شرکت نه کولو سره په فتنه کښې مبتلا شوی دی او سقط، هم وئيلې شوی دی، يقين اوکړئ د کافرانو جهنم احاطه کړې ده، هغوی ته ددې نه خلاصې نشته، که تاسو ته څه خير در اورسيږی، مثلاً مدد او مال غنيمت نو هغوی خفه کيږی او که تاسو ته څه مصيبت در اورسيږی نو وائی چه مونږ خپله معامله په نه شريکيدو سره احتياطاً دمخکښې نه درست کړې وه، يعنی ددې مصيبت د راتلو نه مخکښې او ستاسو په مصيبت باندې خوشحاليدو سره مخ اړونکی روانيږی هغوی ته اووايه مونږ ته (خير يا بدی) بالکل نه رارسيږی خو هغه رارسيږی کوم چه الله زمونږ دپاره ليکلی دی هم هغه زمونږ مولا (يعنی) مددگار او زمونږ دکارونو والی (کارساز) دې او ايمان والو ته هم په هغه باندې بهروسه پکار ده ته هغوی ته اووايه تاسو چه دکوم څيز زمونږ باره کښې منتظر يئ هغه ددې نه سوا نور څه دی چه هغه د دوه خيرونو (فائدو) نه يو خير دې الحسنيين، حسنی د احسنُ د تانيث تثنيه ده (او هغه دوه څيزونه) غلبه يا شهادت دې او مونږ ستاسو په معامله کښې چه دکوم څيز منتظر يو هغه دادې چه الله تاسو ته د آسمانی بجلئ په ذريعه په خپله سزا درکوی يا به ئې زمونږ په لاس درکوی په دې طريقه چه مونږ ته ستاسو دقتلولو اجازت راکوی تاسو ددې زمونږ باره کښې انتظار کوئ مونږ تاسو سره ستاسو د انجام انتظار کوی په ترَبَّصُون کښې اصل کښې حذف د تاء دې، يعنی تاسو د واقع کيدو انتظار کوئ تاسو هغوی ته اووايئ تاسو د الله په اطاعت کښې که په خوشحالئ خرچ کوئ او که په ناخوښئ هغوی ستاسو خرچ

کول بالکل نه قبلوی ځکه چه تاسو فاسقان یئ او دلته امر د خبر په معنی کښې دې دهغوی د خرچ کړې شوی مال د نه قبلولو د دې نه سوا بله هیڅ وجه نشته چه هغوی د الله او دهغه د رسول انکار کړې دې (یقبل) په یاء او تاء سره دې، د الا انهم منعهم فاعل دې او ان تقبل دهغې مفعول دې مونځ له راځی نو په کسالت سستئ سره راځی، او (د الله په لار کښې) هغوی په ناخوشئ خرچ کوی ځکه چه هغوی دا تاوان ګنړی دهغوی مالونه او دهغوی اولاد (زیاتوالې) تاسو په تعجب (دهوکه) کښې وانه چوی، یعنی زمونږ هغوی ته خوشحالی (مالداری) ورکول دې تاسو ته ښه معلوم نه شی ځکه چه دا مهلت ورکول دی الله خو دا غواړی چه هم د دې څیزونو په ذریعه دوی ته د دنیا په ژوند کښې د لیعذبهم تقدیر یعذبهم دې په عذاب کښې ګرفتار کړی دهغې مشقتونو او مصیبتونو په ذریعه کوم چه دوی په مال جمع کولو کښې برداشت کوی او دوی ساه هم ورکړی نو د حق نه د انکار په حالت کښې ئې ورکړی چه دهغې په وجه الله هغوی ته په آخرت کښې سخت ترین عذاب ورکړی، هغوی د الله قسم خوری او وائی چه هغوی تاسو سره دی یعنی د مؤمنانو سره حالانکه هغوی بالکل تاسو سره نه دی، اصل کښې هغوی داسې خلق دی چه ستاسو نه ویرېږی، هغوی د دې خبرې نه ویرېږی چه چرته تاسو دهغوی سره هم د مشرکانو په شان معامله اوکړئ نو د تقیه (ښودنې) په طور قسمونه خوری که چیرته هغوی داسې د پناه ځائې بیاموِمی چه په هغې کښې هغوی پناه واخلی یا چرته سورنګ بیاموِمی یا چرته د پټیدو ځائې بیاموِمی نو هغوی په هغې کښې زر پټ شی یعنی په داخلیدو کښې د جلتئ نه کار واخلی په داسې جلتئ سره ستاسو نه واوړی چه څه څیز هغوی لره ستاسو طرف ته واپس نه کړی لکه چه سرکش اس وی، او (اې نبی) دهغوی نه بعضې خلق د صدقاتو د تقسیم باره کښې تاسو باندې اعتراضات کوی (عیبونه لګوی) پس که چرې په صدقاتو کښې (دهغوی د مرضئ مطابق) هغوی ته ملاوېږی نو خوشحالیږی او که د دې صدقاتو نه (دهغوی دخواهش مطابق) نه ملاوېږی نو هغوی خفه کیږی څومره به ښه وې چه کوم څه الله او دهغه رسول د غنیمتونو وغیره نه هغوی ته ورکړی دی په هغې باندې راضی کیدلې او وئیل ئې چه الله زمونږ دپاره کافی دې دیر زر به الله د خپل فضل نه او دهغه رسول د مال غنیمت وغیره نه دومره راکړی چه زمونږ دپاره به کافی وی، په تحقیق سره مونږ د الله طرف ته رغبت کونکی یو. او د لَو جواب لکان خیرًا لهم محذوف دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: عفا الله عنك: جمله دعائیه ده، د ناراضګئ په مقام کښې د شفقت د اظهار دپاره مقدم کړې شوې دې.

قوله: لِمَ: دا په اصل کښې لِمَا، جار مجرور وو، په دې قاعدې سره چه کله حرف جر په ما

Scanned with

استفهامیه باندې داخل شی نو الف غورځیږي، لهذا الف غورځیدلې دې، په لِمَ کښې لام تعلیلیه دې او لهم تبلیغیه، لهذا د دواړو أذنت سره متعلق کیدل صحیح دی.

قوله: الذین صدقوا : دا د یتبین فاعل دې، جمله صدقوا صله ده، تعلم په یتبین باندې عطف دې، کاذبین مفعول له دې.

قوله: لم یرد خروجهم : کراهة : إنقباض النفس للعلم بنقصانه، ته وائی او داد الله تعالی دپاره محال دې، لهذا په کرهَ الله کښې د کراهت نسبت الله تعالی طرف ته صحیح نه دې؟

جواب: مفسر علام د کرهَ تفسیرپه لم یرد خروجهم سره کړې دې، په دې سره ئې ددې سوال جواب ورکړې دې چه دلته د کراهت لازم معنی مراد ده څکه چه کوم شئ مکروه او ناخوښه وی دهغې اراده نه شی کولې.

قوله: ثبطهم : (تفعیل) تثبیطاً منع کول، ایسارول، ماضی واحد مذکر غائب ، هم ضمیر دجمع مذکر غلئب دې

جواب: تثبیط» معنی منع کول دی او دالله تعالی دپاره دا مناسب نه دی چې بندګان د فرائضو څخه منع کړی، نومجازاً دمنع نسبت کسل ته کړې شوې دې. چې د الله تعالی د تقدیر مطابق دهغوی کسل هغوی منع کړل.

قوله: أي قدّر الله ذلك :سوال: الله تعالی فرمائیلی دی ((اقعدوا مع القاعدین)) په دې کښې د قعود عن الجهاد حکم ورکړې شوې دې اومامور ماحود وی نه چې مذموم.

جواب: د جواب حاصل دا دې چې ازلی تقدیرمراد دې دې جواب ته د اشارې کولو دپاره ئې د ((قدر الله تعالیٰ ذلك)) اضافه اوکړه. بعضې حضراتو بل جواب ورکړې دې.

دویم جواب: دا دې چې دا امر تهدیدی دې، د ((اعملوا ما شئتم)) د قبیلې څخه دې.

قوله: إلا خبالًا :دا مستثنی مفرع ده یعنی مثتثنی منه محذوف ده. ((اي ما زادوکم شیأ الا خبالا)) **قوله:** خبالاً : په معنی دفساد ،شردې.دا د ،،خبل یخبل،، څخه ماخوذ دې.دا شراوفساد چې دهغې په وجه په څناور کښې جنون اواضطراب پیدا شی،((خبالاً)) مستثنی متصله ده.

قوله: اوضعوا أي لسعوا بینکم بالنمیمة :((اي لسعوا بینکم بالنمیمة ،)) ایضاع په معنی د اسراع اوجلتی. کولو کښې استعمالیږی. ((وضع البعیر وضعاً اذا اسرع)) معلومه شوه چې دلته وضع په معنی د کیخودلو نه ده.

قوله: وفیکم سماعون : ښه غوږ کیښودنکي ،جاسوس،(سماع) کله خو د جاسوس په معنی راځی.اوکله د تابعدار په معنی کښې استعمالیږی.دلته دواړه معانی مراد کیدې شی.

قوله: بني الأصفر اصفر د روم د اطراف د رئیس نوم وو. هغه د یوې رومی ښځې سره نکاح کړې وه دهغې څخه چې کوم بچی پیدا شوی وو هغوی ته ئې بنی الاصفر وئیل. دا نسل ډیر ښکلې وو. دا هم دغه نسل طرف ته اشاره ده.

قوله: جلاد:

کورې وهونکې، توره چلونکې، جلاد هم ددې څخه ماخوذ دې. دلته قتال بالسیف مراد دې. په بعضې نسخو کښې د جلادو په ځائې جهاد دې. دکومې معنی چې واضحه ده.

قوله: انفقوا طوعًا او كرهًا ..إلخ:

دا امر په معنی دخبر دې. معنی ئې دا ده ((نفقتكم طوعا او كرها غير مقبولة))

قوله: فاعل منعهم:

یعنی ((الا انهم)) دمنع فاعل دې. تقدیر دعبارت داسې دې ((ما منعهم قبول نفقاتهم الا كفرهم)) قبول مفعول ثانی دې. او په «منعهم» کښې هم مفعول اول دې.

قوله: استدراج: په مزه باندې نزدې کول په مزه باندې مهلت ورکول.

قوله: تقيةً: دباطن خلاف ښکاره کول، دا لفظ د اهل تشیع اصطلاح ده یعنی دخپلې مذهبی عقیدې خلاف ښکاره کول

قوله: مدّخلاً: په اصل کښې مدتخلاً وو، تاء په دال باندې بدل شوې او دال په دال کښې مدغم شو. ځائې د داخلیدو.

قوله: يجمحون: دا دجمح څخه ماخوذ دې. دا هغې خودسره اس ته وائی کوم چې په واګی لګولو سره هم په قابو کښې نه راځی. او په تیزه سره منډه وهی. دلته مطلقاً تیزتلل او تیزه منډه وهل مراد دی.

[اياتونه: ٦٠ ـ ٦٦]

{إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ} الزَّكَوَات مَصْرُوفَة {لِلْفُقَرَاءِ} الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يَقَع مَوْقِعًا مِنْ كِفَايَتهمْ {وَالْمَسَاكِينِ} الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يَكْفِيهِمْ {وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا} أَيْ الصَّدَقَات مِنْ جَابٍ وَقَاسِم وَكَاتِب وَحَاشِر {وَالْمُؤَلَّفَة قُلُوبهمْ} لِيُسْلِمُوا أَوْ يَثْبُت إسْلَامهمْ أَوْ يُسْلِم نُظَرَاؤُهُمْ أَوْ يَذُبُّوا عَنْ الْمُسْلِمِينَ أَقْسَام و الْأَوَّل وَالْأَخِير لَا يُعْطَيَانِ الْيَوْم عِنْد الشَّافِعِيّ رَضِيَ اللّٰه تَعَالَى عَنْهُ لِعِزِّ الْإِسْلَام بِخِلَافِ الْآخَرَيْنِ فَيُعْطَيَانِ عَلَى الْأَصَحّ {وَفِي} فَكّ {الرِّقَاب} أَيْ الْمُكَاتَبِينَ {وَالْغَارِمِينَ} أَهْل الدَّيْن إنْ اسْتَدَانُوا لِغَيْرِ مَعْصِيَة أَوْ تَابُوا وَلَيْسَ لَهُمْ وَفَاء أَوْ لِإِصْلَاحِ ذَات الْبَيْن وَلَوْ أَغْنِيَاء {وَفِي سَبِيل اللّٰه} أَيْ الْقَائِمِينَ بِالْجِهَادِ مِمَّنْ لَا فَيْء لهم ولو اغنياء {وابن السَّبِيل} الْمُنْقَطِع فِي سَفَره {فَرِيضَة} نُصِبَ بِفِعْلِهِ الْمُقَدَّر {مِنْ اللّٰه وَاللّٰه عَلِيم} بِخَلْقِهِ {حَكِيم} فِي صُنْعه فَلَا يَجُوز صَرْفهَا لِغَيْرِ هَؤُلَاءِ ولا منع صِنْف مِنْهُمْ إذَا وُجِدَ فَيَقْسِمهَا الْإِمَام عَلَيْهِمْ

Scanned with

عَلَى السَّوَاء وَلَهُ تَفْضِيل بَعْض آحَاد الصِّنْف عَلَى بَعْض وَأَفَادَتْ اللَّام وُجُوب اسْتِغْرَاق أَفْرَاده لَكِنْ لَا يَجِب عَلَى صَاحِب الْمَال إِذَا قَسَمَ لِعُسْرِهِ بَلْ يَكْفِي إِعْطَاء ثَلَاثَة مِنْ كُلّ صِنْف وَلَا يَكْفِي دُونهَا كَمَا أَفَادَتْهُ صِيغَة الْجَمْع وَبَيَّنَتْ السُّنَّة أَنَّ شَرْط الْمُعْطَى مِنْهَا الْإِسْلَام وَأَنْ لَا يَكُون هَاشِمِيًّا وَلَا مُطلبيا {وَمِنْهُمُ} أَيْ الْمُنَافِقِينَ {الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ} بِعَيْبِهِ وَبِنَقْلِ حَدِيثه {وَيَقُولُونَ} إِذَا نُهُوا عَنْ ذَلِكَ لِئَلَّا يَبْلُغهُ {هُوَ أُذُنٌ} أَيْ يَسْمَع كُلّ قِيل وَيَقْبَلهُ فَإِذَا حَلَفْنَا لَهُ أَنَّا لَمْ نَقُلْ صَدَّقَنَا {قُلْ} هُوَ {أُذُنُ} مُسْتَمِع {خَيْرٍ لَّكُمْ} لَا مُسْتَمِع شَرّ {يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَيُؤْمِنُ} يُصَدِّق {لِلْمُؤْمِنِينَ} فِيمَا أَخْبَرُوهُ بِهِ لَا لِغَيْرِهِمْ وَاللَّام زَائِدَة لِلْفَرْقِ بَيْن إِيمَان التَّسْلِيم وَغَيْره {وَرَحْمَةٌ} بِالرَّفْعِ عَطْفًا عَلَى أُذُن وَالْجَرّ عَطْفًا على خير {للذين آمنوا منكم والذين يؤذون رسول الله لهم عذاب أليم} {يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ} أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ فِيمَا بَلَغَكُمْ عَنْهُمْ مِنْ أَذَى الرَّسُول أَنَّهُمْ مَا أَتَوْهُ {لِيُرْضُوكُمْ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنْ يُرْضُوهُ} بِالطَّاعَةِ {إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ} حقا وَتَوْحِيد الضَّمِير لِتَلَازُمِ الرِّضَاءَيْنِ أَوْ خَبَر الله او رسوله محذوف {أَلَمْ يَعْلَمُوا} بِ {أَنَّهُ} أَيْ الشَّأْن {مَنْ يُحَادِدِ} يُشَاقِقْ {اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَأَنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ} جزاء {خالدا فيها ذلك الخزي العظيم} {يحذر} يخاف {الْمُنَافِقُونَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ} أَيْ الْمُؤْمِنِينَ {سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِي قُلُوبِهِمْ} مِنْ النِّفَاق وَهُمْ مَعَ ذَلِكَ يَسْتَهْزِئُونَ {قُلِ اسْتَهْزِئُوا} أَمْر تَهْدِيد {إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ} مُظْهِر {مَا تَحْذَرُونَ} إخراجه من نفاقكم {وَلَئِنْ} لَام قَسَم {سَأَلْتَهُمْ} عَنْ اسْتِهْزَائِهِمْ بِك وَالْقُرْآن وَهُمْ سَائِرُونَ مَعَك إِلَى تَبُوك {لَيَقُولُنَّ} مُعْتَذِرِينَ {إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ} فِي الْحَدِيث لِنَقْطَع بِهِ الطَّرِيق وَلَمْ نَقْصِد ذَلِكَ {قُلْ} لهم {أبالله وآياته ورسوله كنتم تستهزئون} {لَا تَعْتَذِرُوا} عَنْهُ {قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ} أَيْ ظَهَرَ كُفْرُكُمْ بَعْد إِظْهَار الْإِيمَان {إِنْ يُعْفَ} بِالْيَاءِ مَبْنِيًّا لِلْمَفْعُولِ وَالنُّون مَبْنِيًّا لِلْفَاعِلِ {عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ} بِإِخْلَاصِهَا وَتَوْبَتهَا كَمخشي بْن حمير {تعذب} بِالتَّاءِ وَالنُّون {طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ} مُصِرِّينَ عَلَى النِّفَاق وَالِاسْتِهْزَاء

ترجمه: صدقات (واجبه) مثلا زکواة صرف د هغې فقیرانو د پاره دی چې دومره اندازه کښې هم نه مومی چې خپل حاجت کښې ئې اولګوی (یعنی دوی سره مال بالکل نه وی او مسکینانو د پاره دی څه چې د ضرورت په قدر مال نه مومی او په صدقاتو کښې کار کوونکو د پاره او صدقات (زکواة) وصول کوونکو د پاره دی او په مستحقینو باندې تقسیم کوونکو د پاره او لیکوالو د پاره او (د ارباب اموال) نه د جمع کوونکو د پاره دی، او د هغه خلقو د پاره چې د چا د زړه مائله کول مقصود وی چې هغوی اسلام راوړی یا په خپل اسلام باندې کلک اوسی، یا د دوی په شان نور خلق اسلام راوړی یا د مسلمانانو دفاع اوکړی، دا څلور قسمونه دی، اول او آخری قسم ته به د امام شافعی رحمه الله په نیز نن صبا نه ورکړې کیږی ځکه چې اسلام طاقت ور شوې دې، په خلاف د باقی دوارو قسمونو د صحیح مذهب مطابق به دوی ته ورکولې شی، او مکاتبینو آزادولو د پاره او قرضدارانو د پاره دی چا چې د غیر معصیت د پاره قرض اخستې وی یا د ګناه د پاره اخستې وی خو د ګناه نه ئې توبه

Scanned with

کړې وي او دوی سره د قرض د ورکولو مطابق مال نه وي، او په خپل مینځ کښې د روغې د پاره، اګرچې مالدار وي او مجاهدینو د پاره یعنی داسې مجاهدینو د پاره چې په جهاد کښې مشغول وي، او هغه خلقو د پاره چې د هغوی په مال غنیمت کښې حصه نه وي اګرچې دوی مالدار ولې نه وي، او داسې مسافرو د پاره چې هغوی ته د مال د ختمیدو د وجه سفر جاری ساتل ګران وي او دا د الله د طرف نه فرض کړې شوې حکم دې (فريضة) فعل مقدر د (فرض) د وجه نه منصوب دې الله د مخلوق د ضرورتونو نه ډیر ښه خبردار دې او په خپل صنعت کښې حکمت والا دې لهذا د ذکر شوې مصارفو نه علاوه کښې خرچ کول جائز نه دی، او د مذکوره قسمونو د موجودګئ په وخت کښې به دوی کښې یو هم پاتې کوی نه، لهذا د وخت امام له پکار دی چې په دوی کښې برابر تقسیم اوکړی او امام ته اختیار دې چې یو قسم له په بل باندې ترجیح ورکړی، او د لام نه د ټولو کسانو د استغراق وجوب معلومیږی خو د مال والا د پاره د تقسیم په وخت کښې د ټولو کسانو ته د رسیدلو د ګرانوالی د وجې واجب نه دی بلکه په دې اتو قسمونو کښې هر قسم کښې صرف دریو تنو (افرادو) ته ورکول کافی دی، ددې نه په کم کښې به کافی نه وی، لکه چې د جمع د صیغو نه دا فائده اخستې شی، او سنت دا خبره واضحه کړه چې چاته د زکواة مال ورکیږی د هغه مسلمان کیدل شرط دی، او دا هم شرط دی چې هاشمی او مطلبی سید نه وی او په دې منافقینو کښې داسې خلق هم دی چې نکته چینی او رازونه ښکاره کولو سره نبی ﷺ ته تکلیف سوی کله چه دوی په خپلو کښې په دې خیال د دې نکته چینئ نه منع کړې شی چې هسې نه داسې او شی چې د دې خبرو هغوی ﷺ ته اطلاع ورکړې شی نو وائی چې هغه خو غوږونه دی هر یو خبره اوری او رشتیا ئې ګڼړی، او چې مونږ هم قسم خوړلو سره اووایو چې مونږ داسې خبره کړې نه ده نو زمونږ خبره به هم رشتیا اوګڼړی، او دوی ته اوویه چې ستاسو د خیر خبرې اوری نه چې ستاسو د نقصان، په الله باندې ایمان لری او د مومنانو په دې خبره کښې تصدیق کوی چې د هغې ورته خبر ورکوی نه د نورو، او په (للمؤمنين) کښې لام زائده دې چې د ایمان تسلیم او ایمان تصدیق د فرق د پاره دې، او په تاسو کښې چې څوک ایمان راوړی د هغوی د پاره رحمت دې رحمة په رفع سره په "اذن" باندې عطف دې، او جر سره دې په "خير" باندې عطف دې. او کوم خلق چې د الله رسول ته تکلیف رسوی ددوی د پاره دردناک عذاب دې اې ایمان والو! د رسول د ایذا دا خبره چې د دوی د طرف نه تاسو ته رارسیدلې ده ستاسو په مخکښې په الله قسم خوری چې مونږ داسې خبره کړې نه ده ې د پاره چې دوی تاسو خوشحاله کړی حالانکه الله او رسول د هغه زیات مستحق دی چې هغوی د تابعدارئی په ذریعه خوشحاله کړی که چرې دوی په رشتیا مسلمانان وی د دواړو د رضامندئ د لازم او ملزوم کیدو د وجه (د يرضوه ضمير ئې واحد راوړو، یا د الله او یا د

Scanned with

رسول خبر محذوف دې،آيا دوی ته معلومه نه ده چې څوک الله او رسول سره دشمنی کوی د هغوی سزا د جهنم اور دې چې په هغې کښې به دوی همیشه وی، دا ډیره د رسوائی خبره ده منافقان د دې خبرې نه ویریږی چې دې مومنانو باندې څه سورت نازل نه شی چې د دوی دا منافقت ښکاره کړی چې کوم د دوی په زړونو کښې دې او دوی د دې باوجود توقې کوی (اې نبی ﷺ اووایه او توقې اوکړئ دا امر د تهدید دې الله دې نفاق لره ښکاره کونکې دې چې د څه د ښکاره کولو نه تاسو ویریږئ او که چرې ته ددوی نه د ستاسو او د قرآن په باره کښې د توقو ټپوس اوکړې په داسې حال کښې چې دوی تاسره تبوک ته روان دی قسمیه خبره ده چې دوی عذر پیش کولو سره یقینا دا خبره به اوکړی چې مونږ خو هسې د توقو مسخرو خبرې کولې چې په خندا خوشحالئی سره مزل لنډ شی او دا توقې مسخرې زمونږ مقصد نه وو ته دوی ته اووایه چې آیا تاسو الله، د هغه آیتونو او د هغه رسول پورې توقې کوی دې باره کښې عذر مه بیانوی تاسو د ایمان نه پس کفر اوکړو د ایمان د ښکاره کیدو نه پس ستاسو کفر ښکاره شو که په تاسو کښې یو جماعت د هغوی د اخلاص او د توبې د وجه معاف کړې شی لکه مخشی بن حمیر نو یو جماعت ته به مونږ ضرور سزا ورکوو ځکه چې دوی مجرمان دی تعذب "تا" او "نون" سره دې او "نعف" یاء سره مبنی للمفعول دې،او نون سره مبنی للفاعل دې،یعنی نفاق او استهزاء باندې کلک دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: انما الصدقات للفقراء والمساکین، انما کلمه د حصر ده،دلته قصر موصوف علی الصفت د پاره استعمال شوې دې یعنی د صدقاتو (زکواة) مصرف صرف دا ذکر شوې خلق دی،ددې نه علاوه بل څوک نشته، په للفقراء کښې د لام باره کښې ډیرې خبرې شوې دی،بعضو وئیلې دی چې لام د تملیک د پاره دې،لکه چې د امام شافعی رحمه الله دغه مسلک دې او بعضو وئیلو دی چې اختصاص او استحقاق د پاره دې،ددې قائل امام ابوحنیفه رحمه الله دې(بحر) الفقراء والمساکین د دواړو لفظونو په تعبیر او تفسیر کښې ډیر اقوال نقل شوې دی.

ابوحنیفه وئیلې دی چې "فقیر" هغه ناداره دې چې سوال نه کوی او مسکین هغه نادار دې چې سوال کوی، او دابن عباس رضی الله عنهما،حسن بصری، جابر بن زید ، او زهری(رحمهم الله) نه هم دا نقل دی،د امام ابو حنیفه رحمه الله قول ددې حضراتو د قول مطابق دې(جصاص) د لفظ د فقیر او مسکین په تشریح او تعبیر کښې اگر چې هر څومره اختلاف ولې نه وی،د زکواة په مسئله باندې اثر نه غورزیږی،زکواة دواړو ته ورکول جائز دی،البته د وصیت په مسئله کښې به فرق راځی،که د فقیرانو د پاره ئې وصیت کړې وی نو هغوی به مستحق وی او که مسکینانو د پاره ئې کړې وی نو صرف هغوی به مستحق وی.

Scanned with

[اياتونه: ٦٧ _ ٧٢]

{الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَات بَعْضهمْ مِنْ بَعْض} أَيْ مُتَشَابِهُونَ فِي الدِّين كَأَبْعَاضِ الشَّيْء الْوَاحِد {يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ} الْكُفْر وَالْمَعَاصِي {وَيَنْهَوْنَ عَنْ الْمَعْرُوف} الْإِيمَان وَالطَّاعَة {وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيهمْ} عَنْ الْإِنْفَاق فِي الطَّاعَة {نَسُوا اللَّه} تَرَكُوا طَاعَته {فَنَسِيَهُمْ} تَرَكَهُمْ مِنْ لُطْفه {إن المنافقين هم الفاسقون} {وَعَدَ اللَّه الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَات وَالْكُفَّار نَار جَهَنَّم خَالِدِينَ فِيهَا هِيَ حَسْبهمْ} جَزَاء وَعِقَابًا {وَلَعَنَهُمْ اللَّه} أَبْعَدهمْ عَنْ رَحْمَته {وَلَهُمْ عَذَاب مُقِيم} دائم أَنْتُمْ أَيّهَا الْمُنَافِقُونَ {كَالَّذِينَ مِنْ قَبْلكُمْ كَانُوا أَشَدّ مِنْكُمْ قُوَّة وَأَكْثَر أَمْوَالًا وَأَوْلَادًا فَاسْتَمْتَعُوا} تَمَتَّعُوا {بِخَلَاقِهِمْ} نَصِيبهمْ مِنْ الدُّنْيَا {فَاسْتَمْتَعْتُمْ} أَيّهَا الْمُنَافِقُونَ {بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ} فِي الْبَاطِل وَالطَّعْن فِي النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {كَالَّذِي خَاضُوا} أَيْ خوضهم {أولئك حبطت أعمالهم فى الدنيا والآخرة وأولئك هم الخاسرون} {أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأ} خَبَر {الَّذِينَ مِنْ قَبْلهمْ قوم نوح وعاد} قوم هود {وثمود} قوم صالح {وَقَوْم إِبْرَاهِيم وَأَصْحَاب مَدْيَن} قَوْم شُعَيْب {وَالْمُؤْتَفِكَات} قُرَى قَوْم لُوط أَيْ أَهْلهَا {أَتَتْهُمْ رُسُلهمْ بِالْبَيِّنَاتِ} بِالْمُعْجِزَاتِ فَكَذَّبُوهُمْ فَأُهْلِكُوا {فَمَا كَانَ اللَّه لِيَظْلِمهُمْ} بِأَنْ يُعَذِّبهُمْ بِغَيْرِ ذَنْب {وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسهمْ يَظْلِمُونَ} بِارْتِكَابِ الذَّنْب {وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَات بَعْضهمْ أَوْلِيَاء بَعْض يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنْكَر وَيُقِيمُونَ الصَّلَاة وَيُؤْتُونَ الزَّكَاة وَيُطِيعُونَ اللَّه وَرَسُوله أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمْ اللَّه أَنَّ اللَّه عَزِيز} لَا يُعْجِزهُ شَيْء عَنْ إنْجَاز وَعْده وَوَعِيده {حَكِيم} لَا يَضَع شَيْئًا إلَّا فِي محله {وَعَدَ اللَّه الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَات جَنَّات تَجْرِي مِنْ تَحْتهَا الْأَنْهَار خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِن طَيِّبَة فِي جَنَّات عَدْن} إقَامَة {وَرِضْوَان مِنْ اللَّه أَكْبَر} اعظم من ذلك كله {ذلك هو الفوز العظيم}

ترجمه: منافقان سړی او منافقې ښځې ټول یو شان دی یعنی د دین په معامله کښې د یو څیز د جزونو په شان دی، د بدئ یعنی د کفر او د ګناه حکم ورکوی او د ښیګړې یعنی د ایمان او د تابعدارئ نه منع کوی او تابعدارئ کښې خرچ کولو نه خپل لاسونه بندوی، الله ئې هیر کړې دې، یعنی د هغه تابعداری ئې پریښودې ده، نو الله هم دوی هیر کړل، یعنی د خپل رحم او کرم نه ئې محروم کړل، یقینا دا منافقان هم فاسقان دی دې منافقانو سړو او ښځو سره الله تعالی د دوزخ د اور وعده کړې ده، چې په هغې کښې به دوی همیشه اوسیږی هم هغه د سزا او بدلې په اعتبار سره د دوی د پاره دې، الله په دوی باندې لعنت کړې دې، یعنی د خپل رحمت نه ئې لرې کړی دی، او د دوی د پاره همیشه عذاب دې اې منافقانو ستاسو چال چلن هم هغه شان دې څنګه چې ستاسو نه مخکښې خلقو وو، هغوی ستاسو نه زیات طاقت والا وو او په مال اولاد کښې ستاسو نه مخکښې وو، هغوی په دنیا کښې د خپلې حصې مزې اوکړې بیا اې منافقانو! تاسو هم د خپلې حصې مزې هم هغهٔ شان وکړې څنګه چې ستاسو نه مخکښې خلقو کړې وې او تاسو هم په نبی ﷺ باندې په طعنې او ناحقه بحثونو کښې داسې ورننوتئ څنګه چې هغوی ورننوتی وو، هم

دغه خلق دي چې د هغوی اعمال د نیکۍ په دنیا او په آخرت کښې ضائع شول او هم دوی په تاوان کښې دی،آیا دوی ته د هغې خلقو تاریخ رارسیدلې نه دې چه د دوی نه مخکښې تیر شوی دی؟ مثلا قوم د نوح او عادیان،چې د هود علیه السلام قوم وو،او د ثمود تاریخ چې د صالح علیه السلام قوم وو،او د ابراهیم علیه السلام قوم او د اصحاب مدین چې د شعیب علیه السلام قوم وو.او د هغه کلو د خلقو کوم چې اولټه کړې شوې وو او هغه د قوم لوط علیه السلام کلي والا وو.د دوی رسولان دوی ته ښکاره ښې معجزات راوړلو سره راغلې وو خو دوی هغه دروغ اوګڼړل او دغه شان دوی هلاک کړې شول دا د الله کار نه وو چې په ظلم اوکړی په داسې طریقې سره چې بغیر د څه وجه دوی هلاک کړی خو حقیقت دا دې چې دوی په خپله د ګناهونو په وجه په خپل ځان باندې ظلم کوونکی وو مومنان سړی او مومنانې ښځې د یو بل ملګری دی، د نیکو حکم کوی او د ګناهونو نه منع کوی مونځ قائموی او زکواة ادا کوی او د الله او د رسول اطاعت کوی او هم دغه خلق دی چې الله به ډیر زر په دوی باندې رحم اوکړی،الله تعالی غالب دې هغه له خپله وعده پوره کول او وعید باندې عمل کولو نه څوک منع کولې نشی د حکمت والا دې هر څیز د هغې په موقع او محل باندې کوی مومنانو سړو او ښځو سره د الله تعالی وعده ده چې هغوی ته به داسې جنتونه ورکوی چې د هغې لاندې به نهرونه جاری وی په هغه کښې به دوی همیشه اوسیږی، په هغه باغونو کښې د دوی د پاره پاک کورونه دی، او د ټولو نه زیات دا چې دوی ته به د الله تعالی رضا حاصله وی،چې د دې ټولو نعمتونو نه لوئي نعمت دې،هم دغه لویه کامیابی ده.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: ترکوا طاعته،دا د دې سوال جواب دې چې په هیره باندې هیڅ نیول نشته،او نه هیره د مذمت قابله ده،څکه چې دا د الله د طرف نه وی نو بیا ئې دا د مذمت په ځائې کښې ولې ذکر کړه؟

جواب: دلته او راروان ځائې کښې د نسیان نه د دې لازم معنی مراد ده څکه چې د نسیان سره پرېښودل لازم دی د الله تعالی د هیرولو مطلب د خپل خاص رحمت نه محرومول دی

قوله: انتم ایها المنفقون، انتم محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چې کالذین من قبلکم د مبتدأ محذوف خبر کیدو د وجه محلا مرفوع ده،نه چې د فعل محذوف د وجه منصوب،څکه چې په دې صورت کښې به د کثرت د حذف راشی، حالانکه په حذف کښې کموالی اولی دې،

قوله: نصیبهم،په دې کښې د خلاق معنی طرف ته اشاره ده،دا د "خلق" نه وتلې دې په معنی د تقدیر.

سوال: فکذبوهم د اضافې څه فائده ده؟

جواب: چې د فما کان الله لیظلمهم عطف د فاء تعقیبیه په ذریعه صحیح شی.

قوله: اقامة، په دې کښې اشاره ده چې "عدن" په معنی د "همیشه والی" دې لهذا د تکرار اعتراض ختم شو،

قوله: رضوان من الله، رضوان کښې تنوین د تنکیر د پاره دې، یعنی د الله تعالی لږه رضامندی هم لوئې څیز دې.

[ایاتوله: ۷۳ ـ ۸۰]

{يٰأَيُّهَا النَّبِيّ جَاهِدِ الْكُفَّار} بِالسَّيْفِ {وَالْمُنَافِقِينَ} بِاللِّسَانِ وَالْحُجَّة {وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ} بِالِانْتِهَارِ وَالْمَقْت {وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِير} الْمَرْجِع هِيَ {يَحْلِفُونَ} أَيْ الْمُنَافِقُونَ {بِاللّٰهِ مَا قَالُوا} مَا بَلَغَك عَنْهُمْ مِنَ السَّبّ {وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْر وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ} أَظْهَرُوا الْكُفْر بَعْد إِظْهَار الْإِسْلَام {وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا} مِنَ الْفَتْك بِالنَّبِيّ لَيْلَة الْعَقَبَة عِنْد عَوْده مِنْ تَبُوك وَهُمْ بِضْعَة عَشَرَ رَجُلًا فَضَرَبَ عَمَّار بْن يَاسِر وُجُوه الرَّوَاحِل لَمَّا غَشُوهُ فَرُدُّوا {وَمَا نَقَمُوا} أَنْكَرُوا {إِلَّا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ مِنْ فَضْلِهِ} بِالْغَنَائِمِ بَعْد شِدَّة حَاجَتهمْ الْمَعْنَى لَمْ يَنَلْهُمْ مِنْهُ إِلَّا هَذَا وَلَيْسَ مِمَّا يُنْقَم {فَإِنْ يَتُوبُوا} عَنِ النِّفَاق وَيُؤْمِنُوا بِك {يَكُ خَيْرًا لَهُمْ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا} عَنِ الإِيمان {يُعَذِّبْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا} بِالْقَتْلِ {وَالْآخِرَة} بِالنَّارِ {وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيّ} يَحْفَظهُمْ مِنْهُ {وَلَا نَصِير} يَمْنَعهُمْ {وَمِنْهُمْ مَنْ عَاهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ آتَانَا مِنْ فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ} فِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الصَّاد {وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ} وَهُوَ ثَعْلَبَة بْن حَاطِب سَأَلَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَدْعُو لَهُ أَنْ يَرْزُقَهُ اللّٰه مالا ويؤدي منه إِلَى كُلّ ذِي حَقّ حَقَّه فَدَعَا لَهُ فَوَسَّعَ عَلَيْهِ فَانْقَطَعَ عَنِ الْجُمُعَة وَالْجَمَاعَة وَمَنَعَ الزَّكَاة كما قال تعالى {فَلَمَّا آتَاهُمْ مِنْ فَضْلِهِ بَخِلُوا بِهِ وَتَوَلَّوْا} عن طاعة الله {وهم معرضون} {فَأَعْقَبَهُمْ} أَيْ فَصَيَّرَ عَاقِبَتهمْ {نِفَاقًا} ثَابِتًا {فِي قُلُوبِهِمْ إِلَى يَوْمِ يَلْقَوْنَهُ} أَيْ اللّٰه وَهُوَ يوم القيامة {بِمَا أَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ} فيه فَجَاءَ بَعْد ذَلِكَ إِلَى النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَكَاتِهِ فَقَالَ إِنَّ اللّٰه مَنَعَنِي أَنْ أَقْبَلَ مِنْك فَجَعَلَ يَحْثُو التُّرَاب عَلَى راسه ثم جاء بها إِلَى أَبِي بَكْر فَلَمْ يَقْبَلهَا ثُمَّ إِلَى عُمَر فَلَمْ يَقْبَلهَا ثُمَّ إِلَى عُثْمَان فَلَمْ يَقْبَلهَا وَمَاتَ فِي زَمَانه {أَلَمْ يَعْلَمُوا} أَيْ الْمُنَافِقُونَ {أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ} مَا أَسَرُّوهُ فِي أَنْفُسهمْ {وَنَجْوَاهُمْ} مَا تَنَاجَوْا بِهِ بَيْنهمْ {وَأَنَّ اللّٰهَ عَلَّامُ الْغُيُوب} مَا غَابَ عَنِ الْعِيَان وَلَمَّا نَزَلَتْ آيَة الصَّدَقَة جَاءَ رَجُل فَتَصَدَّقَ بِشَيْءٍ كَثِير فَقَالَ الْمُنَافِقُونَ مُرَاءٍ وَجَاءَ رَجُل فَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ فَقَالُوا إِنَّ اللّٰه غَنِيّ عَنْ صَدَقَة هَذَا فَنَزَلَ {الَّذِينَ} مبتدا {يَلْمِزُونَ} يَعِيبُونَ {الْمُطَّوِّعِينَ} الْمُتَنَفِّلِينَ {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَات وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ} طَاقَتهمْ فَيَأْتُونَ بِهِ {فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ} وَالْخَبَر {سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ} جازاهم على سخريتهم {وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيم} {اسْتَغْفِرْ} يَا مُحَمَّد {لَهُمْ أَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ} تَخْيِير لَهُ فِي الِاسْتِغْفَار وَتَرْكه قَالَ صلى الله عليه وسلم إني خيرت فاخترت يَعْنِي الِاسْتِغْفَار رَوَاهُ الْبُخَارِيّ {إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَنْ يَغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ} قِيلَ الْمُرَاد بِالسَّبْعِينَ الْمُبَالَغَة فِي كَثْرَة الِاسْتِغْفَار وَفِي الْبُخَارِيّ حَدِيث لَوْ أَعْلَم أَنِّي لَوْ زِدْت عَلَى السَّبْعِينَ غُفِرَ لَزِدْت عَلَيْهَا وَقِيلَ الْمُرَاد

Scanned with

العدد المخصوص لحديثه ايضا وسازيد على السبعين فبين له حسم المغفرة بآية {سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لهم أم لم تستغفر لهم ذلك بأنهم كفروا بالله ورسوله والله لا يهدي القوم الفاسقين}

ترجمه: اې نبي كافرانو سره په توره باندې او منافقانو سره په ژبه او په دليل سره جهاد اوكړه او دې منافقانو سره په غصه او خفګان په سختئ سره پيښ شه اخركار ددوى ځائې د اوسيدو جهنم دې او هغه ډيره خرابه ټهكانه ده، او منافقان د الله قسم خوړلو سره وائي چې د كنځلو كومه خبره زمونږ د طرف نه تاسو ته دررسيدلې ده هغه مونږ وئيلې نه ده حالانكه يقينا هم دغه كافرانه خبره هغوى وئيلې ده، او اسلام راوړلو نه پس د كفر مرتكب شول يعنى د اسلام ښكاره كولو نه پس دوى كفر اوكړو او دوى هغې نه هيڅ حاصل نكړل كوم چې دوى د حضورپاک ﷺ د قتل په ارادې د تبوک نه واپس كيدو په وخت په ليلية العقبه كښې كول غوښتل، او دوى د لسو نه زيات خلق وو، او عمار بن ياسر د هغوى سورلئ په مخ مخ وهلو سره د هغوى رخ واړوو، هر كله چې دوى د نبي عليه السلام په يوځائې راچاپيره شو، او دې منافقانو ته چې كومه خبره ناخوښه راغله هغه صرف داوه چه الله او رسول دوى لره په خپل فضل وكرم سره د مال غنيمت په ذريعه د سخت حاجت په وخت كښې غنيان كړل حاصل دادې چې دې منافقانو ته چې د دې د طرف نه څه اورسيدل هغه د دې نه سوا بل څه نه وو، او دا داسې خبره نه ده چې دې سره خفګان ښكاره كړې شي كه دا خلق د نفاق نه توبه اوباسى او ايمان راوړي نو دوى د پاره به ښه وي او كه دا خلق د ايمان نه مخ واړوي نو الله به دوى له په دنيا كښې د قتل په ذريعه او په آخرت كښې د اور په ذريعه دردناک عذاب وركړي او په دنيا كښې به نه ددوى څوک دوست وي چې هغه د عذاب نه ئې حفاظت اوكړي او نه مددګار چې دوى بچ كړي او په دوى كښې بعضې هغه دي چې هغوى الله سره عهد اوكړو چې كه چرې مونږ ته الله په خپل فضل سره دولت راكړي نو مونږ به خامخا صدقه او خيرات اوكړو (لنصدقن) په اصل كښې د تاء په صاد كښې ادغام دې او د نيكانو نه به شى او دا سړې ثعلبه بن حاطب وو چې ده نبي كريم ﷺ ته درخواست كړې وو چې تاسو زما د پاره دعاء اوكړئ چې الله مالره ډير مالداره كړي او څه ددې مال نه د هر حقدار حق پورا وركړم، چنانچه هغوى دعاء اوكړه چې د هغې د وجه نه دده د پاره فراخوالي اوشو نو هغه د جمع او د جمع پريښودونكې جوړشو، او زكواة وركول ئې بند كړو څنګه چې الله تعالى فرمائيلې دى هر كله چې هغه ده ته په خپل فضل سره مال وركړو نو په هغې كښې ئې شومتوب شروع كړو او د الله تعالى د فرمانبردارئى نه ئې هم مخ واړولو، حال دادې چې دوى هر حالت كښې مخ اړونكى دى ددې شومتوب نتيجه دا شوه چې ددوى په زړونو كښې د الله په مخكښې د مخامخ كيدو وخته پورې منافقت پيوست كړې شو او هغه د قيامت ورځ ده او دا ددې وجه اوشول چې دوى د الله تعالى سره وعده خلافى اوكړه او ددې وجه نه چې دوى د عهد په باره كښې دروغ وئيل بيا هغه د دې نه پس د حضورپاک ﷺ په

خدمت کښې د زکواة مال راوړلو سره حاضر شو ،نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چې الله تعالی څه منع کړې یم چې څه ستا مال قبول کړم، نو هغه په سر خپل باندې خاورې اچول شروع کړل، بیا دې مال لره د ابوبکر ﷺ په خدمت کښې راوړو ،نو هغوی هم د قبلولو نه انکار اوکړو ،بیا د حضرت عمر ﷺ په خدمت کښې مال راوړلو سره حاضر شو نو هغوی هم قبول نکړو ،دې نه پس د حضرت عثمان ﷺ په خدمت کښې حاضر شو،نو هغوی د قبلولو نه انکار اوکړو ،دده انتقال د حضرت عثمان ﷺ په دور خلافت کښې اوشو. آیا منافقان پوهیږی نا چې الله تعالی د دوی د راز خبرې کوم چې دوی په خپلو زړونو کښې پټې کړې دی او هغه پټې خبرې کوم چې دوی خپل مینځ کښې کوی پیجنی، یقینا الله تعالی هغه غیبو خبرو باندې هم پوهه دې کومې چې د خلقو د نظرونو نه پټې دی او هر کله چې دا آیت "خذ من اموالهم" نازل شو نو یو سړې (حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ) راغلو او ډېر مقدار (څلور زره دیناره) ئې صدقه کړل نو منافقانو اووئیل چې ریاکار دې او یو بل سړی (حضرت ابوعقیل انصاری) راغلو هغوی یو صاع کهجورې صدقه کړې نو منافقانو اووئیل چې د الله تعالی ددې لږ څیز محتاجه نه دې،نو راروان آیت (الذین یلمزون) نازل شو او دا دولت مند منافقانان هم ښه پیژنی الذین مبتدأ چه په خوشحالئ سره ورکونکو د مومنانو قربانو (صدقاتو) پسې ئې خبرې کوی او نکته چینی کوی او هغه خلقو پسې توقې کوی چا سره چې د الله په لار کښې د ورکولو د پاره د دې نه سوا بل څه نشته کوم چې هغوی د محنت مزدورئ کولو نه پس راوړی نو دا دولتمند هغوی پسې توقې کوی، الله هم دوی پسې توقې ورکړه یعنی ددوی د توقو ئې بدله دوکړه، (سخر الله منهم) د مبتدأ خبر دې او ددوی د پاره دردناک عذاب دې اې محمد ﷺ ته ددوی د پاره معافی غواړې یا نه غواړې دا نبی علیه السلام د استغفار کولو یا نه کولو اختیار دې، هغوی ﷺ اوفرمائیل ماته د استغفار کولو یا نه کولو اختیار راکړې شو نو ما استغفار خوښ کړو(رواه البخاری) که ته اویا ځله د دې خلقو د معاف کولو درخواست اوکړې نو الله دوی هیڅ کله نه معاف کوی او د اویا عدد سره په استغفار کښې د ډیروالی مبالغه مراد ده،او بخاری شریف کښې یو حدیث دې که ماته معلومه وه چې څه د اویا ځله نه زیات استغفار اوکړم نو دوی به معاف کړې شی نو ما به دې نه زیات کړې وو ،او وئیلې شوې دی چې د اویا نه خاص عدد مراد دې،د بخاری د حدیث د وجه نه چې څه به د اویا ځله نه زیات استغفار اوکړم،هغوی ﷺ ته سواء علیهم استغفرت لهم ام لم تستغفر لهم په ذریعه اووئیلې شول چې ددوی نه بخښنه ختمه شوې ده،او دا د دې وجه نه چې دوی الله او د هغه رسول ﷺ باندې کفر کړې دې، الله تعالی فاسقانو ته لار نه ورښائی.

....

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: المنٰفقون، (مفاعلة) اسم فاعل جمع مذکر غائب مرفوع،دومخیزي، د شریعت په اصطلاح کښې هغه سړی ته وائی چې په ژبه باندې د اسلام اقرار اوکړی خو په زړه کښې ئې ددې خلاف وی،د نفق معنی په اصل کښې د خرچ کیدو او د تلو دې،نفقت الدراهم، روپئ تولې ختمې شوې، نافقاء (ضب) د سمسرې سوړه،چې د هغې کم ازکم دوه خلې وی په یو باندې راوځی او په بل باندې ننوځی،ښکاری دې سوړې طرف ته متوجه وی او سمسره په بله سوړه باندې بهر اوځی،منافقان هم د ژبې اقرار سره په اسلام کښې داخل شی خو د زړه د عقیدې د وجه نه د اسلام نه بهر وی،د حضورپاک ﷺ په زمانه کښې د منافقانو سړو شمیر درې سوه او د منافقانو ښځو تعداد یو سل اوویا وو.

قوله: بعضهم من بعض،بعضهم مبتدأ ده او "من بعض" ددې خبر دې او "من" اتصالیه دې.

قوله: یقبضون ایدیهم.د ید قبض کول د بخل نه کنایه ده،په حقیقت کښې موټې بندول مراد نه دی دې طرف ته مفسر علام په عن الانفاق فی الطاعة وئیلو سره اشاره اوکړه.

قوله: ترکوا طاعته،په دواړو ځایونو کښې د نسیان نه ددې لازم معنی یعنی پرېښودل مراد دی.په اول ځائې کښې ځکه چې په نسیان باندې نیول نشته او نه د مذمت قابل دې، او دویم ځائې کښې ځکه چې د نسیان نسبت الله تعالی طرف ته ناممکن دې.لهذا لازم معنی یعنی محرومول مراد دی.

قوله: کخوضهم.دا د یو سوال جواب دې

سوال: د منافقینو خوض لره د کفارو ذواتو سره تشبیه ورکول صحیح نه دی،ځکه چې خوض صفت دې او کافران ذوات؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې دلته مضاف محذوف دې او هغه مصدر دې ای خضتم خوضاً کخوضهم

قوله: المؤتفکٰت،دا د مؤتفکة جمع ده، ایتفاك (افتعال) مصدر دې افك ماده ده "الته کړې شوې" تس نس شوې مراد ترې نه د قوم لوط کلی دی،چې د بحرمردار په غاړه باندې آباد دی،چې د هغه مرکزی ښار سندوم یا سدوم وو.

قوله: فکذبوهم ددې اضافې مقصد د فما کان لیظلمهم عطف صحیح کول دی،چې د فاء تعقیبیه په ذریعې سره عطف صحیح شی.

[ایاتونه: ۸۱ ـ ۸۹]

{فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ} عَنْ تَبُوك {بِمَقْعَدِهِمْ} أَيْ بِقُعُودِهِمْ {خِلَافَ} أَيْ بَعْد {رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا} أَيْ قَالَ بَعْضهمْ لِبَعْضٍ {لَاتَنْفِرُوا} لا تَخْرُجُوا إِلَى الْجِهَاد {فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا} مِنْ تَبُوك فَالْأَوْلَى أَنْ يَتَّقُوهَا بِتَرْكِ التَّخَلُّف {لَوْكَانُوا يَفْقَهُونَ} يَعْلَمُونَ ذَلِكَ مَا تَخَلَّفُوا {فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا} فِي الدُّنْيَا {وَلْيَبْكُوا} فِي الْآخِرَة {كثيرا جزاء بما كانوا يكسبون} خَبَر عَنْ حَالهمْ بِصِيغَةِ الْأَمْر {فَإِنْ رَجَعَكَ} رَدَّك {اللَّه} مِنْ تَبُوك {إِلَى طَائِفَةٍ مِنْهُمْ} مِمَّنْ تَخَلَّفَ بِالْمَدِينَةِ مِنَ الْمُنَافِقِينَ {فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ} مَعَك إِلَى غَزْوَة أُخْرَى {فَقُلْ} لَهُمْ {لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ} الْمُتَخَلِّفِينَ عَنْ الْغَزْو مِنَ النِّسَاء وَالصِّبْيَان وَغَيْرهمْ وَلَمَّا صَلَّى النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على بن أُبَيّ نَزَلَ {وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ} لِدَفْنٍ أَوْ زِيَارَة {إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ} كَافِرُونَ {وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ} تَخْرُج {أنفسهم وهم كافرون} {وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ} أَيْ طَائِفَة مِنَ الْقُرْآن {أَنْ} أَيْ بِأَنْ {آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رسوله استأذنك أولو الطول} ذوو الغنى {منهم وقالوا ذرنا نكن مع القاعدين} {رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ} جَمْع خَالِفَة أَيْ النِّسَاء اللَّاتِي تَخَلَّفْنَ فِي الْبُيُوت {وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ} الْخَيْر {لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ} فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة {وأولئك هم المفلحون} اي الفائزون {أعد الله لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذلك الفوز العظيم}

ترجمه: دغزوه تبوک نه روستو پاتې شوي خلق د رسول الله ﷺ د وتلونه پس خپل کورونو کښې په ناسته باندې حوشحاله شول او دوی ته دا خبره ناخوښه شوه چې هغوی په خپل مال او ځان سره د الله په لار کښې جهاد اوکړی او دوی خپلو کښې يو بل ته او وئيل په ګرمئ کښې جهاد د پاره مه اوځئ ته دوی ته اوويه چې دجهنم اور د تبوک د ګرمئ نه ډير سخت دې لهذا ښه داده چې تاسو روستو پاتې کيدل پريږدئ ځان ددې اور نه بچ کړئ، که چرې دوی دا حقيقت پيژندلو نو په غزوه تبوک کښې به شرکت کولو نه نه روستو کيدل، لږې ورځې په دنيا کښې اوخاندئ په آخرت کښې به اوجاړی او دا جړا به ددوی د اعمالو په وجه وی دا (خبر) په صيغه د امر ددوی د حالت خبر دې او که الله تاسو د تبوک نه دې منافقانو په مينځ کښې چې په مدينه کښې روستو پاتې شوې وو (په خير) واپس راولی او په دوی کښې څوک په يو بله غزوه کښې تاسو سره د شريکيدو اجازت اوغواړی نو ته دوی ته اوويه چې تاسو ماسره هيڅ کله وتلې نشئ، او نه ځما سره چرته يو دشمن سره جنګ کولې شئ، تاسو په اول ځل ناسته خوښه کړې ده او اوس روستو پاتې شوې ښځو ماشومانو وغيره سره ناست اوسئ او هر کله چې هغوی ﷺ په عبدالله بن ابی باندې جنازه کول اوغوښتل نو دا آيت نازل شو که ييا دوی کښې څوک وفات

Scanned with

شول نو د دوی د جنازې مونځ هیڅ کله مه کوه او دفن یا زیارت د پاره ددوی په قبر باندې هم مه اودریږه، دې خلقو الله او د هغه رسول باندې کفر اوکړو او د کفر په حالت کښې مړه شول او ددوی د مال او د اولاد ډیروالې دې تا په حیرانتیا کښې وانچوی الله اراده کړې ده چې مال او دولت د وجه په دنیا کښې عذاب ورکړی او ددوی ساهګانې په داسې حالت کښې اوځی چې دوی کافران وی او هر کله چې به د قرآن څه حصه په دې مضمون باندې نازله شوه چې په الله باندې ایمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتیا کښې جهاد اوکړئ، تا اولیدل چې دوی کښې څوک قدرت والا وو هم هغوی تانه په غزوه کښې د نه شریکیدو اجازت اوغښتلو چې دوی دې په جهاد کښې د شرکت نه معاف کړې شی، دې خلقو په کور باندې ناستې خلقو سره شاملیدل اوغښتل خوالف» د خالفة جمع ده یعنی هغه ښځې چې کورونو کښې ناستې وی او د دوی په زړونو باندې تاپه لګولې شوی ده چې د هغې د وجه نه دوی د خیر خبره نه پوهیږی، او د دې مقابله کښې رسول الله او هغه خلقو چې د هغوی سره ئې ایمان راوړو او په خپل مال او ځان سره ئې جهاد اوکړو په دنیا او آخرت کښې ټولې نیکئ د هغوی د پاره دی، او هم هغوی کامیابی موندونکی دی الله د دوی د پاره داسې باغونه تیار کړې دی چې په هغې کښې نهرونه بهیږی په هغه کښې به دوی همیشه اوسیږی، دا ده لوې شان والا کامیابی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: المخلفون (تفعیل) اسم مفعول جمع مذکر غائب، روستو پاتې کړې شوی خلق، تخلیف څوک روستو کول، روستو پریښودل، دلته هغه دولس سړی مراد دی چې په غزوه تبوک کښې د سستئ او د منافقت د وجه حضورپاک ﷺ سره نه ووتلی.

قوله: خلف رسول الله ای خلفه خلف ① یا خو د مفعول له کیدو د وجه منصوب دې ای قعدوا لمخالفته ② یا د حال کیدو د وجه منصوب دې ای مخالفین له، ③ او د فعل مقدر د وجه هم منصوب کیدې شی ای تخلفوا خلاف رسول الله او دا هم جائز دی چې د ظرفیت د وجه منصوب وی ای بعد رسول الله، علامه سیوطی رحمه الله هم دا ترکیب اختیار کړې دې

قوله: بقعودهم دې سره ئې اشاره اوکړه چې مقعد مصدر میمی دې نه چې ظرف.

قوله: وکرهوا ان یجاهدوا: ددې عطف په فرح المخلفون باندې دې او ان یجاهدوا د کرهوا مفعول دې

قوله: ما تخلفوا دا د "لو" جواب دې کوم چې محذوف دې

قوله: خبر عن حالهم دا دې سوال جواب دې چې الله تعالی د خندا حکم نه کوی حالانکه دلته فلیضحکوا د امر صیغه استعمال شوې ده چې د هغې نه معلومیږی چې الله تعالی د ضحک (خندا)، حکم فرمائیلې دې؟

جواب: جواب دا دې چې امر په معنی د خبر دې یعنی ددوی د حالت خبر ورکول مقصود

Scanned with

دی نه چې د خندا حکم ورکول.

قوله: طائفة من القرآن، دا دې خبرې ته اشاره ده چې دلته د سورت نه مراد پورا سورت مرادنه دې بلکه د قرآن یوحصه مراد ده، په دې کښې پوره اودهغې نه کم دواړه داخل دی.

[ایاتونه: ۹۰ - ۹۳]

{وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ} بِإِدْغَامِ التَّاءِ فِي الْأَصْلِ فِي الذَّالِ أَيْ الْمُعْتَذِرُونَ بِمَعْنَى الْمَعْذُورِينَ وَقُرِئَ بِهِ {مِنَ الْأَعْرَابِ} إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {لِيُؤْذَنَ لَهُمْ} فِي الْقُعُودِ لِعُذْرِهِمْ فَأَذِنَ لَهُمْ {وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ} فِي ادِّعَاءِ الْإِيمَانِ مِنْ مُنَافِقِي الْأَعْرَابِ عَنِ الْمَجِيءِ للاعتذار {سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} {لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ} كَالشُّيُوخِ {وَلَا عَلَى الْمَرْضَى} كَالْعُمْيِ وَالزَّمْنَى {وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ} فِي الْجِهَادِ {حَرَجٌ} إِثْمٌ فِي التَّخَلُّفِ عَنْهُ {إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ} فِي حَالِ قُعُودِهِمْ بِعَدَمِ الْإِرْجَافِ وَالتَّثْبِيطِ وَالطَّاعَةِ {مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ} بِذَلِكَ {مِنْ سَبِيلٍ} طَرِيقٍ بِالْمُؤَاخَذَةِ {وَاللَّهُ غَفُورٌ} لَهُمْ {رَحِيمٌ} بِهِمْ فِي التَّوْسِعَةِ فِي ذَلِكَ {وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ} مَعَكَ إِلَى الْغَزْوِ وَهُمْ سَبْعَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ وَقِيلَ بَنُو مُقَرِّنٍ {قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ} حَالٌ {تَوَلَّوْا} جَوَابُ إِذَا أَيْ انْصَرَفُوا {وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ} تَسِيلُ {مِنَ} لِلْبَيَانِ {الدَّمْعِ حَزَنًا} لِأَجْلِ {أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ} فِي الْجِهَادِ {إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ} فِي التَّخَلُّفِ {وَهُمْ أَغْنِيَاءُ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} تقدم مثله

ترجمه: او راغلل عذر کوونکی حضورپاک ﷺ له د عربو څه باندچیان په اصل کښې د "تاء" په "ذال" کښې ادغام شوې دې یعنی معتذرین کښې او (معتذرون) په معنی د "معذورین" کښې دې او په یو قراءت کښې معتذرون هم لوستلې شوې دې، د پاره ددې چې دوی ته مدینه کښې د ناستې اجازت میلاؤ شی ددوی د عذر د وجه نه دوی ته اجازت ورکړې شو، اوباندچیان د منافقانو نه چې هغوی د ایمان په دعوی کښې الله او دهغه رسول ته ئې دروغ وئیلې دی، نو هغه د عذر نه هم کیناستل یعنی د عذر د پاره هم رانغلل هغوی نه چې چا کفر اوکړو دوی ته به دردناک عذاب ورسیږی او په کمزورو یعنی بوډهاګانو او مریضانو باندې یعنی روند او شل او هغه خلقو باندې چا سره چې د جهاد خرچه نه وی د جهاد نه په روستو کیدو کښې هیڅ ګناه نشته په دې شرط چې دا خلق الله او د هغه رسول سره اخلاص اوساتی یعنی په کو ر کښې د ناستې په وخت کښې څه فتنه خوره نکړی او خلق د جهاد نه منع نکړی او عبادت کښې لګیا اوسی، په دې نیکانو باندې ددې ناستې د وجه د الزام څه لار نشته (نیول نشته) او الله دوی لره معاف کوونکې دې. په دې معامله کښې دوی ته وسعت ورکولو سره په دوی باندې رحم کوونکی دې، دغه شان په هغه خلقو هم الزام نشته چې تاسو ته راغلل چې تاسو دوی ته سورلۍ ورکړئ او خان سره ئې د غزوې د پاره بوځئی، او دا اووه انصار وو، او

Scanned with

ونیلې شوي دی چې دا د بنو مقرن خلق وو نو تا دوی ته اووئیل چې ما سره سورلئی نشته، او "قلت" د "اتوک" د ضمیر نه حال دې، نو هغوی مجبورا واپس لاړل په داسې حال کښې چې د هغوی د سترګو نه اوخکښې روانې وې "من" بیانیه دې او هغوی ته ددې خبرې ډیر غم وو چې هغوی سره ته هغه فراخوالې نشته چې هغه په جهاد کښې خرچ کړی البته الزام په هغه خلقو دې چې مالداره دی بیا هم تا ته د روستو پاتې کیدو درخواست کوی، دوی په کور کښې د ناستو ښځو کښې شامليدل خوښ کړل، او الله د دوی په زړونو باندې مهر لګولې دې ځکه اوس دوی هیڅ باندې نه پوهیږی داسې آیت مخکښې هم تیر شوې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:المعذرون: (تعذیر تفعیل نه) اسم فاعل جمع مذکر، دروغو عذرونه پیش کونکی، مفسر علام د "معذرون" اصل "معتذرون" خودلو سره اشاره اوکړه چې "معذرون" د باب افتعال نه دې، په دغه وخت کښې به ددې معنی شی په حقیقت کښې معذور. "المعذرون" د باب افتعال نه ګرځولو کښې دوه مقصدونه دی اول داچې باب تفعیل متعدي دې حالانکه دلته غیر متعدی استعمال شوې دې، د جواب حاصل دادې چې "معذرون" هم د باب افتعال نه دې په دې کښې "تاء" په "ذال" سره بدل شوه او "ذال" په "ذال" کښې ادغام کړې شو لهذا اوس څه اعتراض نشته. دویم دا شک هم ختم شو چې "عذّر" (تفعیل) معنی ده "د دروغو عذر ښکاره کول" حالانکه راتلونکې خلق په خقیقت کښې معذور وو، دې شک لره په "المعتذرون" په معنی د معذورین، ددې ذکر په مخکښې جمله وقعد الذین کذبوا الخ کښې راروان دې.

قوله:الزمنی: دا د "زمانه" نه اغستلې شوې دې، ددې معنی ده "شل، ګوډ، عاجز"

قوله:ارجاف: افواه خورول، شر خورول، په مومنانو کښې بد خبر خورول.

قوله:بعدم الارجاف: د "نصحوا" متعلق دې.

قوله:التثبیط: منع کول، بندول

قوله:والطاعة: ددې عطف په عدم الارجاف باندې دې نه چې په ارجاف باندې لهذا اوس معنی صحیح شوه

قوله:حال: یعنی قلت لااجد، د "اتوک" د کاف نه په تقدیر د "قد" سره حال دې لهذا دا اعتراض ختم شو چې ماضی بغیر د "قد" نه حال نه واقع کیږی.

پاره نمبر ۱۱ [یَعْتَذِرُونَ] [ایاتونه: ۹۴ - ۹۹]

{یَعْتَذِرُونَ اِلَیْکُمْ} فِي التَّخَلُّف {اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَیْهِمْ} مِنَ الْغَزْوِ {قُلْ} لَهُمْ {لَا تَعْتَذِرُوا لَنْ نُّؤْمِنَ لَکُمْ} نُصَدِّقُکُمْ {قَدْ نَبَّأَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِکُمْ} اَیْ اَخْبَرَنَا بِاَحْوَالِکُمْ {وَسَیَرَی اللّٰهُ عَمَلَکُمْ وَرَسُوْلُه ثُمَّ تُرَدُّوْنَ}

Scanned with

بِالْبَعْثِ {إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ} أَيِ اللّٰه {فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} فيجازيكم عليه {سَيَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ} رَجَعْتُمْ {إِلَيْهِمْ} مِنْ تَبُوك أَنَّهُمْ مَعْذُورُونَ فِي التَّخَلُّف {لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ} بِتَرْكِ الْمُعَاتَبَة {فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ} قذر لخبث باطنهم {وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} {يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضَىٰ عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ} أَيْ عَنْهُمْ وَلَا يَنْفَع رِضَاكُمْ مَعَ سَخَط اللّٰه {الْأَعْرَابُ} أَهْل الْبَدْو {أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا} مِنْ أَهْل الْمُدُن لِجَفَائِهِمْ وَغِلَظ طِبَاعهمْ وَبُعْدهمْ عَنْ سماع القرآن {وَأَجْدَرُ} اولى {أَ} ن أَيْ بِأَنْ {لَا يَعْلَمُوا حُدُودَ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ} مِنَ الْأَحْكَام وَالشَّرَائِع {وَاللّٰهُ عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {حَكِيمٌ} فِي صُنْعه بِهِمْ {وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ} فِي سَبِيل اللّٰه {مَغْرَمًا} غَرَامَة وَخُسْرَانًا لِأَنَّهُ لَا يَرْجُو ثَوَابه بَلْ يُنْفِقهُ خَوْفًا وَهُمْ بَنُو أَسَد وَغَطَفَان {وَيَتَرَبَّصُ} يَنْتَظِر {بِكُمُ الدَّوَائِرَ} دَوَائِر الزَّمَان أَنْ تَنْقَلِب عَلَيْكُمْ فَيَتَخَلَّص {عَلَيْهِمْ دَائِرَةُ السَّوْءِ} بِالضَّمِّ وَالْفَتْح أَيْ يَدُور الْعَذَاب وَالْهَلَاك عَلَيْهِمْ لَا عَلَيْكُمْ {وَاللّٰهُ سَمِيعٌ} لِأَقْوَالِ عِبَاده {عَلِيمٌ} بافعالهم {وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَنْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ} كَجُهَيْنَة وَمُزَيْنَة {وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ} فِي سَبِيل اللّٰه {قُرُبَاتٍ} تقربه {عِنْدَ اللّٰهِ وَ} وسيلة إلى {صَلَوَاتِ} دَعَوَات {الرَّسُولِ} لَهُ {أَلَا إِنَّهَا} أَيْ نَفَقَتهمْ {قُرْبَةٌ} بِضَمِّ الرَّاء وَسُكُونهَا {لَهُمْ} عِنْده {سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِي رَحْمَتِهِ} جَنَّته {إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ} لِأَهْلِ طَاعَته {رَحِيمٌ} بِهِمْ

ترجمه: چې کله تاسو د غزوې نه واپس لاړ شئ نو دوی به د روستو پاتې کيدو قسمه قسم عذرونه پيش کوی، خو ته ورته اووايه چې بهانې مه کوئی مونږ ستاسو د خبرو اعتبار نه کوو، الله تعالی مونږ ته ستاسو حالات بيان کړی دی يعنی ستاسو د حالاتو نې مونږ ته خبر راکړی دی اوس به الله او د هغه رسول ستاسو طرزعمل ته گوری بيا به د قبر نه د پاڅيدو نه پس تاسو داسې ذات طرف ته واپس کيږئی چې پټ او ښکاره باندې پوهيدونکې دی يعنی الله د طرف ته او هغه به تاسو ته اوښائی چې تاسو به څه کول، چې د هغې سزا به هغه تاسو ته درکړی، اوس چه تاسو د کله تبوک نه واپس کيدو نه پس د هغوی خوا له لاړشئ نو هغوی به ستاسو مخکښې د الله قسمونه خوری چې مونږ په روستو پاتې کيدو کښې مغذوره وو، دې د پاره چې ته د خفگان اظهار پريښودلو سره ددوی نه مخ واړوې نو ته د دوی نه مخ واړوه يعنی دوی سره تعلق ختم کړه دا خلق بالکل گنده دی د خبث باطن د وجې نه نجس دی او ددوی ځائې جهنم دې او دا د دوی د اعمالونو سزا ده، دوی دې د پاره قسمونه خوری چې تاسو دوی نه راضی شئ که چرې تاسو دوی نه راضی هم شئ نو الله د فاسقانو خلقو نه راضی کيږی نه، يعنی د دوی نه ستا رضامندی د الله د غضب په موجودگئ کښې به څه فائده ورنکړی اعرابی يعنی بانديچيان په کفر او منافقت کښې د سخت زړه او د طبيعت د سختئ او د قرآن د اوريدو نه د لرې کيدلو د وجې په نسبت د ښاريانو زيات سخت وی او دا خبره ډيره قياس ته نزدې ده چې دوی دهغه حدودو (احکام) نه واقف نه وی کوم چې الله په خپل رسول باندې نازل کړی دی يعنی احکام او شرائع او

الله د خپل مخلوق نه خبردار او دوی سره د خپل کار په معامله کښې باحکمت دې او په دې باندېچیانو کښې بعضې داسې دی چې د الله په لار کښې خرچ کوی او دا جرمانه او نقصان گڼړی ځکه چې دوی ددې د ثواب امید نه ساتی بلکه د ویرې د وجې نه خرچ کوی او دا بنو اسد او بنو عطفان دی، او دوی ستاسو د پاره دخراب وخت په انتظار کښې دی یعنی د زمانې بدلیدل په تاسو باندې په مصیبتونه سره راشی او دوی د چرچ کولو نه خلاصې اومومی، خراب وخت هم په دوی باندې پرېوتونکې دې (السوء) د ضمې او فتحې سره دې یعنی عذاب اوهلاکت به په دوی باندې راځی نه چې په تاسو باندې الله د خپلو بندیگانو خبرو لره اوریدونکې او ددوی په عملونو باندې پوهیدونکې دې او بعضې باندېچیان داسې دی چې په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان راوړی لکه جهینه او مزینه او څه چې د الله په لار کښې خرچ کوی هغه د الله ته د نزدیکیدو ذریعه او د رسول د دعاء وسیله گڼړی، یاد ساتئ چې ددوی دا خرچ د دوی د پاره د الله په وړاندې بې شک د رحمت واجب کونکې دې دوی به الله خامخا په خپل جنت کښې داخل کړی، الله تابعداری کونکو لره ډیر معاف کونکې او په دوی باندې رحم کونکې دې،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یعتذرون الیکم اذا رجعتم الیه: دا جمله مستانفه ده الله په دې آیت کښې د منافقینو د راتلونکی حالاتو پیشن گوئی کړې ده چې کله منافقانو سره ستاسو ملاقات اوشی نو دوی به عذورنه پیش کوی دلته د (قل) مخاطب که رسول الله ﷺ وی ځنکه چې ظاهره ده نو (کم) ضمیر جمع احتراما او تعظیما راوړلې شوې دې او د که (کم) ضمیر نه صحابه د رسول الله ﷺ مراد وی نو په خطاب کښې د حضور ﷺ خاص والې د مشر په حیثیت سره به وی.

قوله: نصدقکم: سره اشاره ده چې په (لکم) کښې لام زائده دې.

قوله: ورسوله: ددې عطف په لفظ الله باندې دې او په مینځ کښې د روئت مفعول ددې ښکاره کولو دپاره راوړې دې چې د اجر اوثواب اود سزا تعلق دالله تعالی روئت سره دې،

قوله: الاعراب: دا اسم جمع په صورت د جمع کښې دې دا د عرب جمع نه ده ځکه چې عرب، عربی ویونکو ته وائی، اگرچه هغه کلی وال وی یا ښاری، او (أعراب) د اعرابی جمع ده، کلی وال ته وائی.

قوله: جفاء: قساوت قلبی، ظلم او ستم

قوله: الدوائر: د دائرة جمع ده په معنی د بلاء، مصیبت، د زمانې اوړیدل راوړیدل، د زمانې حوادث، مصیبتونه.

Scanned with

[ایاتونه: ١٠٠ ـ ١١٠]

{وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ} وَهُمْ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا أَوْ جَمِيعِ الصَّحَابَةِ {وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ} إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ {بِإِحْسَانٍ} فِي الْعَمَلِ {رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ} بِطَاعَتِهِ {وَرَضُوا عَنْهُ} بِثَوَابِهِ {وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ} وَفِي قِرَاءَةٍ بِزِيَادَةِ مِنْ {خالدين فيها أبدا ذلك الفوز العظيم} {وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ} يَا أَهْلَ الْمَدِينَةِ {مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ} كَأَسْلَمَ وَأَشْجَعَ وَغِفَارٍ {وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ} مُنَافِقُونَ أَيْضًا {مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ} لَجُّوا فِيهِ واستمروا {لا تعلمهم نحن نعلمهم سنعذبهم مرتين} بِالْفَضِيحَةِ أَوِ الْقَتْلِ فِي الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ {ثُمَّ يُرَدُّونَ} فِي الْآخِرَةِ {إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ} هو النار {و} قَوْمٌ {آخَرُونَ} مبتدأ {اعْتَرَفُوا بِذُنُوبِهِمْ} مِنَ التَّخَلُّفِ نَعْتُه وَالْخَبَرُ {خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا} وَهُوَ جِهَادُهُمْ قَبْلَ ذَلِكَ أَوِ اعْتِرَافُهُمْ بِذُنُوبِهِمْ أَوْ غَيْرُ ذَلِكَ {وَآخَرَ سَيِّئًا} وَهُوَ تَخَلُّفُهُمْ {عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ} نَزَلَتْ فِي أَبِي لُبَابَةَ وَجَمَاعَةٍ أَوْثَقُوا أَنْفُسَهُمْ فِي سَوَارِي الْمَسْجِدِ لَمَّا بَلَغَهُمْ مَا نَزَلَ فِي الْمُتَخَلِّفِينَ وَحَلَفُوا ان لَا يَحُلَّهُمْ إِلَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَلَّهُمْ لَمَّا نزلت {خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا} مِنْ ذُنُوبِهِمْ فَأَخَذَ ثُلُثَ أَمْوَالِهِمْ وَتَصَدَّقَ بِهَا {وَصَلِّ عَلَيْهِمْ} أَيِ ادْعُ لَهُمْ {إِنَّ صَلَاتَكَ سكن} رحمة {لهم} وقيل طمانينة بقبول توبتهم {والله سميع عليم} {أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عن عباده ويأخذ} يقبل {الصَّدَقَاتِ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ} عَلَى عِبَادِهِ بقبول توبتهم {الرحيم} بهم وَالِاسْتِفْهَامُ لِلتَّقْرِيرِ وَالْقَصْدُ بِهِ هُوَ تَهْيِيجُهُمْ إِلَى التوبة والصدقة {وَقُلْ} لَهُمْ أَوْ لِلنَّاسِ {اعْمَلُوا} مَا شِئْتُمْ {فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ} بِالْبَعْثِ {إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ} أَيِ اللَّهِ {فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ {وآخرون} من المتخلفين {مرجون} بِالْهَمْزِ وَتَرْكِهِ مُؤَخَّرُونَ عَنِ التَّوْبَةِ {لِأَمْرِ اللَّهِ} فِيهِمْ بِمَا يَشَاءُ {إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ} بِأَنْ يُمِيتَهُمْ بِلَا تَوْبَةٍ {وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {حَكِيمٌ} فِي صُنْعِهِ بِهِمْ وَهُمُ الثَّلَاثَةُ الْآتُونَ بَعْدُ مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ وَكَعْبُ بْنُ مَالِكٍ وَهِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ تَخَلَّفُوا كَسَلًا وَمَيْلًا إِلَى الدَّعَةِ لَا نِفَاقًا وَلَمْ يَعْتَذِرُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَغَيْرِهِمْ فَوَقَفَ أَمْرَهُمْ خَمْسِينَ لَيْلَةً وَهَجَرَهُمُ النَّاسُ حَتَّى نَزَلَتْ توبتهم بعد {و} مِنْهُمْ {الَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا} وَهُمُ اثْنَا عَشَرَ مِنَ الْمُنَافِقِينَ {ضِرَارًا} مُضَارَّةً لِأَهْلِ مَسْجِدِ قُبَاءَ {وَكُفْرًا} لِأَنَّهُمْ بَنَوْهُ بِأَمْرِ أَبِي عَامِرٍ الرَّاهِبِ لِيَكُونَ مَعْقِلًا لَهُ يَقْدَمُ فِيهِ مَنْ يَأْتِي مِنْ عِنْدِهِ وَكَانَ ذَهَبَ لِيَأْتِيَ بِجُنُودٍ مِنْ قَيْصَرَ لِقِتَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ} الَّذِينَ يُصَلُّونَ بِقُبَاءَ بِصَلَاةِ بَعْضِهِمْ فِي مَسْجِدِهِمْ {وَإِرْصَادًا} تَرَقُّبًا {لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْلَ بِنَائِهِ وَهُوَ أَبُو عَامِرٍ الْمَذْكُورُ {وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ} مَا {أَرَدْنَا} بِبِنَائِهِ {إِلَّا} الْفِعْلَةَ {الْحُسْنَى} مِنَ الرِّفْقِ بِالْمِسْكِينِ فِي الْمَطَرِ وَالْحَرِّ وَالتَّوْسِعَةِ عَلَى الْمُسْلِمِينَ {وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ} فِي ذَلِكَ وَكَانُوا سَأَلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلِّيَ فِيهِ فَنَزَلَ {لَا تَقُمْ} تُصَلِّ {فِيهِ أَبَدًا} فَأَرْسَلَ جَمَاعَةً هَدَمُوهُ وَحَرَقُوهُ وَجَعَلُوا مَكَانَهُ كُنَاسَةً تُلْقَى فِيهَا الْجِيَفُ {لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ} بُنِيَتْ قَوَاعِدُهُ {عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ} وُضِعَ

Scanned with

يَوْم حَلَلْت بِدَارِ الْهِجْرَة وَهُوَ مَسْجِد قُبَاءَ كَمَا فِي الْبُخَارِيّ {أَحَقّ} مِنْهُ {أَنْ} أَيْ بِأَنْ {تَقُومَ} تُصَلِّي {فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ} هُمْ الْأَنْصَار {يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ} أَيْ يُثِيبهُمْ فِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الطَّاء رَوَى ابْن خُزَيْمَةَ فِي صَحِيحه عَنْ عُوَيْمِر بْن سَاعِدَة أَنَّهُ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُمْ فِي مَسْجِد قُبَاءَ فَقَالَ إِنَّ اللَّه تَعَالَى قَدْ أَحْسَنَ عَلَيْكُمْ الثَّنَاء فِي الطُّهُور فِي قِصَّة مَسْجِدكُمْ فَمَا هَذَا الطُّهُور الَّذِي تَطَّهَّرُونَ بِهِ قَالُوا وَاللَّه يَا رَسُول اللَّه مَا نَعْلَم شَيْئًا إِلَّا أَنَّهُ كَانَ لَنَا جِيرَان مِنْ الْيَهُود وَكَانُوا يَغْسِلُونَ أَدْبَارهمْ مِنْ الْغَائِط فَغَسَلْنَا كَمَا غَسَلُوا وَفِي حَدِيث رَوَاهُ الْبَزَّار فَقَالُوا نَتْبَع الْحِجَارَة بِالْمَاءِ فَقَالَ هُوَ ذَاكَ فَعَلَيْكُمُوهُ {أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى تَقْوَى} مَخَافَة {مِنَ اللَّهِ وَ} رَجَاء {رِضْوَانٍ} مِنْهُ {خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَى شَفَا} طَرَف {جُرُفٍ} بِضَمِّ الرَّاء وَسُكُونهَا جَانِب {هَارٍ} مُشْرِف عَلَى السُّقُوط {فَانْهَارَ بِهِ} سَقَطَ مَعَ بَانِيه {فِي نَارِ جَهَنَّمَ} خَيْر تَمْثِيل لِلْبِنَاءِ عَلَى ضِدّ التَّقْوَى بِمَا يَئُول إِلَيْهِ وَالِاسْتِفْهَام لِلتَّقْرِيرِ أَيْ الْأَوَّل خَيْر وَهُوَ مِثَال مَسْجِد قُبَاءَ وَالثَّانِي مثال مسجد الضرار {والله لا يهدي القوم الظالمين} {لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً} شَكًّا {فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَنْ تَقَطَّعَ} تَنْفَصِل {قُلُوبُهُمْ} بِأَنْ يَمُوتُوا {وَاللَّهُ عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {حَكِيمٌ} فِي صنعه بهم

ترجمه: هغه مهاجرين او انصار چا چې (د ايمان دعوت طرف ته) د ټولو نه مخکښې لبيک وئيلو کښې مخکښې والې اوکړو، او د هغه خلق دی چه غزوه بدر کښې شريک شوې وو يا ټول صحابه مراد دی. او هغه خلق چې په عمل کښې په صحيح طريقې سره د قيامت پورې د دوی په نقش قدم باندې روان وی الله تعالی د دوی د تابعدارئی نه راضی شو او هغوی د الله د اجر نه راضی شول، الله تعالی ددوی د پاره داسې باغونه تيار کړې دې چې په هغې کښې به نهرونه بهيږی، او په يو قرامت کښې د (من) د زيات والی سره دې او دوی به په هغې کښې هميشه وی هم دا ډيره لويه کاميابی ده أې مدينې والو ستاسو ګير چاپيره چې کوم بانډيچيان اوسيږی په هغوی کښې ډير منافقان دی لکه اسلم، اشجع او غفار او د مدينې په اوسيدونکو کښې هم منافقان موجود دی چې په نفاق کښې ماهره او چالاک ته دوی نه پيژنې دا نبی ﷺ ته خطاب دې مونږ دوی پيژنو مونږ به ډير زر دوی ته د رسوائی يا د قتل په دنيا کښې او د عذاب قبر دوچنده عذاب ورکړو بيا به غټې سزا د پاره آخرت ته راوستې شی هغه اور دې او څه خلق نور دی چا چې د روستو پاتې کيدلو د قصور اعتراف اوکړو، آخرون مبتدأ ده (اعترفوا بذنوبهم) صفت دې (خلطوا عملا صالحا) خبر دې ددوی عمل مخلوط دې څه نيک دې او هغه نيک عمل د دې مخکښې د دوی په جهاد کښې شريکيدل دی او د خپل قصور اعتراف کول دی او څه بد او هغه ددوی د جهاد نه روستو پاتې کيدل دی د الله نه اميد دې چې ددوی توبه به قبوله کړی بې شکه الله ډير بخښونکې او ډير رحمت والا دې، دا آيت د ابولبابه او د يو جماعت په باره کښې نازل شوې دې چا چه د مسجد نبوی ﷺ په ستونو پورې ځان تړلې وو، هر کله چې

Scanned with

دوی ته پته اولږیده چې دا آیت خو د روستې پاتې کیدونکی خلقو په باره کښې نازل
شوې دې او دوی قسم خوړلې وو چې دوی به سوا د نبی ﷺ نه څوک پرانیزې نه،
چنانچه چې کله آیت نازل شو نو حضور ﷺ هغوی کولاؤ کړل او چې کله (خذ من اموالهم
الأية) نازل شو چې ته ددوی د مالونو نه صدقه واخله تاسو به دوی ددې په ذریعه ددوی د ګناهونو نه
پاک کړې چنانچه حضور ﷺ ددوی د مالونو دریمه حصه واخستله او هغه ئې صدقه کړه،
او ته ددوی د پاره دعا کوه یقینا ستاسو دعا ددوی د پاره سبب د آرام دې یعنی د رحمت سبب دې
او ددوی د توبې د قبلیدو د پاره اطمینان دې الله ډیر ښه اوریدونکې دې او ډیر ښه پوهه دې،
آیا دوی ته پته نه لږی چې الله تعالی د خپلو بندګانو توبه قبلوی دې او صدقات قبلوی، او بې شکه
الله تعالی د خپلو بندګانو توبه قبولولو سره په دوی باندې رحم کونکې دې او استفهام د تقریر
د پاره دې، ددې مقصد دوی په توبه او صدقاتو باندې آماده کول دی، اې نبی ﷺ ته
دې منافقانو ته یا عام خلقو ته اووایه چې تاسو څه غوارئی عمل کوئی الله او د هغه رسول او
مومنان ټول به وګوری چې ستاسو عمل به اوس څه وی؟ او د قبر نه پاسیدلو په وجه به عالم
الغیب او عالم الشهاده یعنی د الله طرف ته واپس کیږئی نو هغه به تاسو ته اووائی چې تاسو به څه
کول، او هغه به ستاسو د عمل بدله درکړی، اوُ روستو پاتې کیدونکو نه څه خلق نور هم
دی چې د هغوی معامله د الله تعالی حکم راتلو پورې ایساره ده د هغوی باره کښې چې هغه څه
حکم ورکړی نو هغه به وی (مرجئون) د همزې او ترک د همزې سره په دواړه قسمه، یعنی د
دوی توبه روستو کړې شوې ده یا خوبه بغیر د توبې نه مرګ راوستلو سره دوی ته عذاب
ورکړی یا به ددوی توبه قبوله کړی او الله تعالی د خپل مخلوق په باره کښې ښه پوهیدونکې دې
او دوی سره معامله کولو په باره کښې باحکمت دې او هغه درې دی چې د هغوی ذکر
روستو راروان دې، مراره بن ربیع، کعب بن مالک او هلال بن امیه (دا درې واړه
حضرات) د سستئ او د آرام غوښتلو په غرض روستو پاتې شوې وو، نه چې د منافقت د
وجې، او نه د نورو پشان دوی د نبی ﷺ په مخکښې د دروغو بهانې پیش کړې چې د
هغې د وجې نه ددوی معامله د پنځوسو ورځو پورې روستو شوه، او خلقو هم دوی سره
تعلقات ختم کړل، (بائیکاټ ئې وکړو) تردې چه روستو بیا ددوی د توبې قبولیت نازل
شو، او په دوی کښې څه خلق نور هم دی هغه دولس منافقان دی چاچې د مسجد قباء خلقو ته
د نقصان رسولو او د کفر د پاره یو مسجد جوړ کړو ځکه چې هغه مسجد منافقانو د ابوعامر
راهب په وینا سره جوړ کړې وو چې د هغه د پاره د پناه ځائې وی او د هغه طرف
راتلونکې کس په دې کښې ایسار شی، او هغه د نبی ص) سره د جنګ د پاره د قیصرروم
لښکر راغوښتلو د پاره تلې وو او د مسلمانانو په مینځ کښې د جدائې راوستلو د پاره چې په
دوی کښې څوک مسجد قباء کښې مونځ کوی نو څه مونځونه ددوی په مسجد ضرار

Scanned with

کښې هم ادا کړي «دغه شان به دمومنانو تولګې خور شي» او دهغه کس د اوسيدلو انتظام اوکړي چې ددې مسجد د جوړيدلو نه مخکښې د الله او د هغه رسول سره په مقابله کښې وو او دا سړې هغه ابوعامر دې د چا چې ذکر اوشو او دوی به خامخا قسمونه خوري چې زمونږ مقصد خو صرف نيکي وه، چې هغه مسکين ته په باران او ګرمئ کښې سهولت ورکول دی او په مسلمانانو کښې فراخي راوستل دی خو الله ګواه دې چې دوی په دې معامله کښې مکمل دروغژن دی او دې خلقو نبی ﷺ ته درخواست کړې وو چې تاسو په د ې مسجد کښې مونځ اوکړئ نو دا آيت نازل شو ته په دې کښې هيڅ کله مونځ مه کوه چنانچه نبی ﷺ څو کسانو اوليږل او هغه ئې وران کړو او ور ئې ورته اولګولو، او هغه ځائې ئې ډيران جوړ کړو چې هلته کښې مرداري غورزولې شی، کوم مسجد چې د اولنۍ ورځې نه په تقوی باندې جوړ دې په هغه ورځ باندې د ددې بنياد کيخودلې شو چې په کومه ورځ «حضور» په دارالهجرت کښې قيام کړې وو، او هغه مسجد قباء دې، څنګه چې بخاری شريف کښې دی، نو هغه د دې د پاره زيات مناسب دې چې ته په هغې کښې مونځ اوکړئ په دې کښې داسې خلق دی چې پاک اوسيدل غواړي او الله تعالی پاکی اختيارونکی خوښوی، يعنی هغوی ته به اجر ورکړي او په دې کښې د تاء په طاء کښې ادغام دې په اصل کښې ابن خزيمه په صحيح کښې دعويمر بن ساعده نه روايت نقل کړې دې، چې حضور ﷺ انصارو خواله مسجد قباء ته تشريف راوړو او ورته ئې اوفرمائيل چې الله تعالی د مسجد قباء په سلسله کښې ستاسو د پاکيزګئ تعريف کړې دې، نو اوواييئ چې هغه طهارت څه دې کوم چې تاسو اختيار کړې دې؟ نو هغوی اوفرمائيل چې والله يارسول الله ﷺ مونږ ددې نه سوا بل څه نه پيژنو چې زمونږ په ګاونډ کښې څه يهوديان وو هغوی به اوبو سره استنجاء کوله نو مونږ هم د هغوی پشان کول شروع کړل او په يو حديث کښې دی کوم چې بزار روايت کړې دې چې انصارو دا اوفرمائيل چې مونږ کاڼري د استنجاء نه پس اوبه استعمالوو، نو حضور ﷺ اوفرمائيل چې هم دغه خبره ده، او دا ځان سره مضبوطه اوساتئ، پيا ستاسو خيال څه دې چې بهتر انسان هغه دې چا چې خپل بنياد د الله په ويره او د هغه د رضامندئ په اميد باندې کيخودلې دې، يا هغه چا چې خپل بنياد په يو ددې ژائې (غاړې) باندې کيخودلو کومه چې غورزيدلو والا ده؟ «جرف» د راء د ضمې او سکون سره دې په معنی د ژائې، نو هغه کناه (غاړه) خپل بانی سره جهنم ته پريوتله، دا په تقوی باندې د بناء تمثيل دې د خپل انجام په اعتبار سره، او استفهام د تقرير د پاره دې، يعنی اولنې سړې ښه دې او هغه د مسجد قباء مثال دې او دويم مثال د مسجد ضرار دې او الله تعالی ظالمانو ته هدايت نه ورکوی ددوی دا عمارت کوم چې دوی جوړ کړې دې ددوی په زړونو کښې شک، (شک به پيدا کوی) سوا ددې نه چې ددوی زړونه ټکړې ټکړې شی داسې چې دوی مړه شی، الله تعالی د خپل

مخلوق د حالاتو نه ښه خبردار دې او ددوی په معاملاتو کښې حکمت والا دې،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: والسابقون الاولون من المهاجرين والانصار (الأية) ددې جملې ترکیب کوم چې راجع دې او ښکاره دې هغه دادې چې «السابقون» موصوف «الاولون» صفت، دواړه ملاویدو سره مبتدأ «من المهاجرين والانصار» حال، «والذين» معطوف په السابقون باندې، «اتبعوهم» د الذين صله، «باحسان» محذوف سره متعلق کیدو سره حال، «رضى الله عنهم ورضوا عنه» جمله د «السابقون» مبتدأ خبر، ددې نه علاوه بعضې حضراتو دوه نور ترکیبونه دوه کړې دی، خو صاحب اعراب القرآن هغه ضعیف بلکه غلط ګرځولې دی،
اولنی: «السابقون» مبتدأ او «الاولون» د هغې خبر.
دویم: «السابقون» مبتدأ او «من المهاجرين والانصار» ددې خبر،

قوله: من شهد بدرا او جميع الصحابة: په دې عبارت کښې په سابقین اولین کښې دوه قولو طرف ته اشاره ده.

قوله: وفى قراءة بزيادة من: اى تجرى من تحتها الانهر

قوله: مردوا: ماضی جمع مذکر غائب، ای تمرنوا علیه، هغوی ماهر او چالاک شول، د هر خیر نه خالی شول، هم ددې نه (الشيطان المارد) دې، یعنی بدئ باندې کلک شو،

قوله: قوم: لفظ قوم مقدر منلو سره د دې سوال جواب ئې ورکړې دې چې د مبتدأ د پاره ذات کیدل ضروری دی حالانکه آخرون ذات نه دې بلکه وصف دې، قوم محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چې آخرون صفت دې او د هغې موصوف کوم چې مبتدأ ده، قوم محذوف دې، لهذا هيڅ اعتراض نشته،

قوله: نعته: دا ددې شبهې جواب دې چې قوم آخرون نکره ده، او د نکرې مبتدأ واقع کیدل صحیح نه دی، ددې جواب ئې ورکړې دې چې (اعترفوا بذنوبهم) د قوم صفت دې، چې د هغې د وجې نه قوم نکره پاتې شوې نه ده، لهذا مبتدأ واقع کیدل صحیح دی.

قوله: سواري: دا دسارية جمع ده، ستنې ته وائی.

قوله: صدقة تطهرهم: تطهرهم د صدقة صفت دې، د «تطهر» ضمير «صدقة» ته راجع دې «تطهر» مضارع واحد مؤنث غائب صیغه ده او که «تطهرهم» د حاضر صیغه وی او مخاطب حضور ﷺ وی، نو «بها» تعلق به د «تطهر» او تزکیهم» دواړو سره وی. ای تطهرهم بها وتزکيهم بها.

قوله: مرجئون: په دې دویم قراءت بغير د همزې دې ای مؤخرون وموقوفون، مرجون ارجاء نه اسم مفعول جمع مذکر غائب، هغه خلق چې د چا معامله روستو کړې شوې وی.

قوله: ابي عامر: دا د حضرت حنظله رضي الله عنه غسيل ملائکه پلار وو، ده عيسائي مذهب اختيار کړي وو چې کله حضور صلی الله علیه وسلم مدينې ته تشريف راوړو نو ده حضور صلی الله علیه وسلم سره مناظره کړې وه.

قوله: معقلا: ټهکانه، د پناه ځائې.

قوله: الفعلة: په دې لفظ اشاره ده، چې الحسنى صفت دې او ددې موصوف الفعلة يا الخصلة وغيره محذوف دې.

قوله: بالمسکين: په بعضې نسخو کښې د «بالمسکين» په ځائې «بالمسلمين» دې، کوم چې زيات مناسب دې.

قوله: شفاء: کناره (غاړه، طرف)

قوله: جرف: د کوئی کچه ژائې، د ولې کناره، کومه اوبو خالی کړې وی.

قوله: هار: اسم فاعل، غورزيدلو ته نزدې. هور، هار اصل هاور يا هائر وو. د هاور واوء يا د «هائر» همزې لره په قلب مکانی سره د «راء» نه پس کړو. هاور يا هائر شو. بيا مو واؤ او همزه په «ياء» سره بدل کړل نو هاوير شو، د حالت جر د وجې نه ياء اوغورزيدله. بعضې حضراتو وئيلې دی چې د «هاور» واو او د «هائر» همزې لره مو بغير د نقل مکانی نه د تخفيف د پاره حذف کړو.

قوله: معربأنيه: په دې کښې اشاره ده چې په «به» کښې باء په معنى د «مع» دې نه چې سببيه.

قوله: خير: دا د «مَن» خبر دې

قوله: تمثيل للبناء بما يؤل اليه: د اليه مرجع سقوط ده، دا ددې بناء تمثيل دې کوم چې د تقوی په ضد کښې جوړه شوې ده يعنی مشبه به هغه عمارت دې چې په داسې ځائے باندې جوړ وی چې غورزيدو او زمکه کښې خښيدلو ته نزدې وی، او مشبه، دينی احکام او اعمال په کفر او په نفاق باندې مرتب کول دی.

قوله: ريبة: اى سبب ريبة.

[اياتونه: ١١١ ـ ١١٨]

{إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ} بِأَنْ يَبْذُلُوهَا فِي طَاعَته كَالْجِهَادِ {بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ} جُمْلَة اسْتِئْنَاف بَيَان لِلشِّرَاءِ وَفِي قِرَاءَة بِتَقْدِيمِ الْمَبْنِيّ لِلْمَفْعُولِ أَيْ فَيُقْتَل بَعْضهمْ وَيُقَاتِل الْبَاقِي {وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا} مَصْدَرَانِ مَنْصُوبَانِ بِفِعْلِهِمَا الْمَحْذُوف {فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ} أَيْ لَا أَحَد أَوْفَى مِنْهُ {فَاسْتَبْشِرُوا} فِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة {بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ} الْبَيْع {هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ} الْمُنِيل غَايَة الْمَطْلُوب {التَّائِبُونَ} رُفِعَ عَلَى الْمَدْح

Scanned with

بِتَقْدِيرِ مبتدأ مِنَ الشِّرْكِ وَالنِّفَاقِ {الْعَابِدُونَ} الْمُخْلِصُونَ الْعِبَادَةَ لِلَّهِ {الْحَامِدُونَ} لَهُ عَلَى كُلِّ حَالٍ {السَّائِحُونَ} الصَّائِمُونَ {الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ} أَيِ الْمُصَلُّونَ {الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ} لِأَحْكَامِهِ بِالْعَمَلِ بِهَا {وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ} بِالْجَنَّةِ وَنَزَلَ فِي اسْتِغْفَارِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لعمه ابي طالب واستغفار بَعْضِ الصَّحَابَةِ لِأَبَوَيْهِ الْمُشْرِكَيْنِ {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَن يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى} ذوي قرابة {مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ} النَّارِ بِأَنْ مَاتُوا عَلَى الْكُفْرِ {وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ} بِقَوْلِهِ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي رَجَاءَ أَنْ يُسْلِمَ {فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِّلَّهِ} بِمَوْتِهِ عَلَى الْكُفْرِ {تَبَرَّأَ مِنْهُ} وَتَرَكَ الاسْتِغْفَارَ لَهُ {إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ} كَثِيرُ التَّضَرُّعِ وَالدُّعَاءِ {حَلِيمٌ} صَبُورٌ عَلَى الْأَذَى {وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ} لِلْإِسْلَامِ {حَتَّى يُبَيِّنَ لَهُم مَّا يَتَّقُونَ} مِنَ الْعَمَلِ فَلَا يَتَّقُوهُ فَيَسْتَحِقُّوا الْإِضْلَالَ {إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} وَمِنْهُ مُسْتَحِقُّ الْإِضْلَالِ والهداية {إن الله له ملك السماوات وَالْأَرْضِ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَمَا لَكُم} أَيُّهَا النَّاسُ {مِّن دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْرِهِ {مِن وَلِيٍّ} يَحْفَظُكُمْ مِنْهُ {وَلَا نَصِيرٍ} يَمْنَعُكُمْ عَنْ ضَرَرِهِ {لَقَد تَّابَ اللَّهُ} أَيْ أَدَامَ تَوْبَتَهُ {عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ} أَيْ وَقْتِهَا وَهِيَ حَالُهُمْ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ كَانَ الرَّجُلَانِ يَقْتَسِمَانِ تَمْرَةً وَالْعَشَرَةُ يَعْتَقِبُونَ الْبَعِيرَ الْوَاحِدَ وَاشْتَدَّ الْحَرُّ حَتَّى شَرِبُوا الْفَرْثَ {مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ تَمِيلُ {قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ} عَنِ اتِّبَاعِهِ إِلَى التَّخَلُّفِ لِمَا هُمْ فِيهِ مِنَ الشِّدَّةِ {ثُمَّ تَابَ عليهم} بالثبات {إنه بهم رءوف رحيم} {وَ} تَابَ {عَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا} عَنِ التَّوْبَةِ عَلَيْهِمْ بِقَرِينَةِ {حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ} أَيْ مَعَ رُحْبِهَا أَيْ سَعَتِهَا فَلَا يَجِدُونَ مَكَانًا يَطْمَئِنُّونَ إِلَيْهِ {وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ} قُلُوبُهُمْ لِلْغَمِّ وَالْوَحْشَةِ بِتَأْخِيرِ تَوْبَتِهِمْ فَلَا يَسَعُهَا سُرُورٌ وَلَا أُنْسٌ {وَظَنُّوا} أَيْقَنُوا {أَن} مُخَفَّفَةٌ {لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثم تاب عليهم} وفقهم للتوبة {ليتوبوا إن الله هو التواب الرحيم}

ترجمه: حقیقت دادي چې الله تعالی د مومنانو مالونه او د هغوی جانونه د جنت په بدله کښې اخستې دي په داسې طريقه چې دا د هغه په اطاعت کښې مثلا په جهاد کښې خرچ کړي هغوی د الله په لار کښې قتال کوی مره کوی او مره کیږی. (یقاتل) بیان د شراء د پاره جمله مستانفه ده. او په يو قراءت کښې يقتلون مجهول مقدم دې او (یقاتل) معروف مؤخر دې يعنی په دوی کښې بعضې قتلولې شی او باقی قتال کوی دوی سره د الله د طرف نه د جنت په تورات، انجیل او قرآن کښې پخه وعده ده. (وعدا، او حقا) دواړه دخپل فعل محذوف دوجه مصدر منصوب دی. او د الله نه زیات څوک خپله وعده پوره کونکې دې یعنی د هغه نه زیات څوک وعده پوره کولو والا نشته لهذا تاسو د هغه بیع په معامله کښې کومه چې تاسو کړې ده خوشحالئ اوکړئ په دې کښې د غائب نه حاضر طرف ته التفات دې دا لویا کامیابی ده یعنی د اوچت مقصد حاصلول دی، هغه مجاهدین د شرک او نفاق نه توبه کونکی دی

Scanned with

(التائبون) مرفوع بالمدح ده د مبتدأ تقدير سره عبادت کونکی دی یعنی په اخلاص سره د الله تعالی عبادت کونکی دی او په هر حال کښې د هغه حمد بیانونکی دی روژه نیونکی دی رکوع سجده کونکی دی یعنی مونځ کونکی دی د نیکۍ حکم کونکی او د بدۍ نه منع کونکی دی او د الله په حکمونو باندې عمل کولو سره د الله دحدودو حفاظت کونکی دی، او اې نبی ﷺ دې مومنانو ته د جنت خوشخبری واوروه. او راتلونکې آیت د نبی ﷺ د خپل تره ابوطالب د پاره او بعضې صحابه کرامو د خپل مشرک مور پلار د پاره استغفار کولو باره کښې نازل شو. د نبی د پاره او د هغه خلقو د پاره چې کومو ایمان راوړې دې مناسب نه دی چې د مشرکانو دپاره استغفار اوکړی اګر چې هغه ددوی رشته دار ولې نه وی. حال دا چې په دوی باندې دا خبره ښکاره شوې ده چې هغوی د جهنم مستحق دی، ددې وجه نه چې هغوی په کفر باندې مره شوې دی. ابراهیم علیه السلام چې د خپل پلار د پاره کوم استغفار کړې وو هغه ئې ددې وجې کړې وو چې هغه د خپل قول (ساستغفرک لک ربی) سره د استغفار وعده کړې وه، په دې امید باندې چې هغه به ایمان راوړی خو چې کله په هغوی باندې دا خبره ښکاره شوه چې د هغه پلار په کفر باندې دمره کیدو د وجه نه د الله دشمن دې نو هغوی د بیزارۍ اظهار اوکړو او دهغه د پاره ئې د مغفرت دعا پریخودله، حقیقت دادې چې ابراهیم علیه السلام ډیر زیات عاجزی کونکې او دعا کونکې او بردباره وو، په تکلیف باندې صبر کولو والا وو د الله تعالی دا طریقه نه ده چې خلقو لره د اسلام هدایت ورکولو نه پس ګمراه کړی تر دې چه صفا صفا هغوی ته او نه ښائی چې هغوی له د کومو کارونو نه بچ کیدل پکار دی. بیا هم که چرې دوی د هغې نه بچ نه شول نو هغوی به د ګمراهۍ قابل شی او په حقیقت کښې الله ته د هر څیز علم دې او هم په دې کښې مستحق کیدل د ګمراهۍ او هدایت دی. اودا هم واقعی خبره ده چې د آسمانونو او د زمکې د حکومت قبضه د الله په لاس کښې ده هم هغه ژوندی کول کوی او هم هغه مره کول کوی، اې خلقو د الله نه سوا نه څوک ستاسو مددګار شته چې د هغه نه ستاسو حفاظت اوکړی او نه مددګار چې تاسو د هغه د تکلیف نه بچ کړی الله تعالی د مهاجرینو او انصارو په حال باندې توجو اوفرمائیله یعنی ددوی توبه ئې همشګیر کړه چا چې په سخته کښې د پیغمبر ملاتړی اوکړه ددوی دا حالت په غزوه تبوک کښې وو چې دوو کسانوبه یو کهجوره نیمه نیمه کړه او لس کسان به په یو اوښ باندې په نمبر نمبر سوریدل او د سختې ګرمۍ موسم وو، تردې چې د لری اوبه ئې هم اوسکلې اګرچې په دې کښې د څه خلقو زړونه د نبی علیه السلام د تابعدارئی نه د کوږوالی یعنی روستو پاتې کیدو طرف ته نزدې وه چه مائله شوی وو (تزیغ) د یا او تاء سره دې، څکه چې هغوی په دې وخت کښې ډیر په تکلیف کښې وو ،بیا الله تعالی دوی ته ثابت قدمی ورکړه دوی طرف ته ئې توجه ورکړه الله تعالی په دوی باندې ډیر شفقت کونکې او مهربانه دې، او هغه درې واړه حضراتو طرف ته ئې هم توجه اوفرمائیله د چا چې توبه

روستو کړې شوې وه، دا معنی د (حتى اذا ضاقت) د قرینې د وجې ده. چې کله زمکه سره د پراخوالی په دوی باندې تنګه شوله نو دوی څه داسې ځاې نه موندلو کوم ځائې چې دوی ته اطمینان حاصل شی او د توبې روستو والې او د ډیر غم نه په دوی باندې خپل ځانونه هم درانه معلومیدل چې د هغې د وجه نه، نه د دوی په زړونو کښې خوشحالی وه او نه محبت، او هغوی یقین اوکړو چې د الله نه سوا بل د پناه ځائې نشته بیا الله تعالی د دوی طرف ته متوجه شو یعنی دوی ته ئې د توبې توفیق ورکړو چې دوی توبه اوکړی، یقینا الله ډیر معاف کونکې ډیر رحم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بأن یبذلوها فی طاعته: دا یو تمثیل دې یعنی د مجاهدینو د خپل ځانونه او مالونه د الله په لار کښې د قربانولو په عوض کښې جنت ورکول ئې په شراء سره تعبیر کړو، لهذا حقیقة بیع او شراء کول ضروری نه دی.

قوله: جملة استیناف: دا د ماقبل. سره د نه یوځائې کیدو د علت بیان دې.

قوله: فیقتل بعضهم ویقاتل الباقی: دا اضافه ددې سوال جواب دې چې د مجهول د مقدم کیدو په صورت کښې چې کله دوی قتل شی نو بیا دوی څنګه قتال کوی؟

جواب: حاصل دادې چې مسندالیه (جمیع مومنین) دی، یعنی چې کله په دوی کښې بعضې قتل شی نو نور په زړه بیلولو سره تختی نه، بلکه قتال کوی؟

قوله: مصدر منصوب بأن بفعلهما المحذوف: یعنی (وعدا) او (حقا) د خپل خپل فعل محذوف د وجه نه منصوب دی تقدیری عبارت دادې وعدهم وعدا وحق الوعد حقا، او ددې قرینه شراء په معنی د وعد ده

قوله: رفع علی المدح: نه دا د مبتدأ د وجه نه مرفوع دې څنګه چې بعضې خلقو وئیلې دی ځکه چې په داسې صورت کښې به بغیر د ضرورت نه د خبر د حذف کیدو ضرورت راشی، د مرفوع بالمدح کیدو په صورت کښې هم اګرچې حذف لازم رازی، خو هغه د فائدې نه خالی نه وی کما هو الظاهر.

قوله: بتقدیر المبتدأ: او هغه (هم) دې

قوله: من الشرك والنفاق: دا دواړه د (التائبون) سره متعلق دی.

قوله: الصائمون: داد (السائحون) د معنی بیان دې، حضور ﷺ اوفرمائیل سیاحة امتی الصوم

قوله: ونزل فی استغفاره لعمه ابی طالب: خواجه ابی طالب چې کله ډیر بیمار شو نو حضور ﷺ هغه ته اوفرمائیل چې دا کلمه شهادت اووایه چې څه ددې په وجه د الله په وړاندې حجت پیش کړم خو هغه انکار اوکړو نو هغه وخت حضور ﷺ اوفرمائیل لاازال

استغفرلك مالم انه عنه) (رواه الشيخان)، دغه شان د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دې چې ما یو کس نه واوریدل چې هغه د مورپلار د پاره د مغفرت دعا کوی نو ما هغه ته اوئېل چې ته د مورپلار د پاره د مغفرت دعا کوې حالانکه هغوی خو کافران وو، نو هغه کس اوئېل چې ابراهیم علیه السلام خو هم د خپل پلار د پاره د استغفار دعا کړې وه حالانکه د هغه پلار مشرک وو، دا واقعه د حضور صلی الله علیه وسلم په مخکښې وراندې کړې شوه نو دا آیت نازل شو

قوله: اواه: دا د فعال په وزن سره د مبالغې صیغه ده، ډیر آه آه کولو والا، نرم زړه والا

قوله: ادام توبته: دا ددې سوال مقدر جواب دې چې د توبې قبلیدو د پاره مخکښې د گناه کار کول لازم دی ځکه چې د توبې قبولیت د گناه کولو نه فرع ده. حالانکه حضور ص خو د گناه نه پاک وو او صحابه هم په دې واقعه کښې د څه گناه کار کړې نه دې نو بیا د توبې د قبولیت څه مطلب شو؟

جواب: دوام او ثبات علی التوبة مراد دې.

[ایاتونه: ۱۱۹ ـ ۱۲۲]

{يأيها الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّه} بِتَرْكِ مَعَاصِيه {وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِين} فِي الْإِيمَان وَالْعُهُود بِأَنْ تَلْزَمُوا الصدق {مَا كَانَ لِأَهْلِ الْمَدِينَة وَمَنْ حَوْلَهُمْ مِنَ الْأَعْرَاب أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنْ رَسُول اللَّه} إذَا غَزَا {وَلَا يَرْغَبُوا بِأَنْفُسِهِمْ عَنْ نَفْسه} بِأَنْ يَصُونُوهَا عَمَّا رَضِيَهُ لِنَفْسِهِ مِنَ الشَّدَائِد وَهُوَ نَهْي بِلَفْظِ الْخَبَر {ذَلِكَ} أَيْ النَّهْي عَنْ التَّخَلُّف {بِأَنَّهُمْ} بِسَبَبِ أَنَّهُمْ {لَا يُصِيبهُمْ ظَمَأٌ} عَطَش {وَلَا نَصَب} تَعَب {وَلَا مَخْمَصَة} جُوع {فِي سَبِيل اللَّه وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا} مَصْدَر بمعنى وطئا {يَغِيظ} يُغْضِب {الْكُفَّار وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوّ} لِلَّهِ {نَيْلًا} قَتْلًا أَوْ أَسْرًا أَوْ نَهْبًا {إلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَل صَالِح} لِيُجَازَوْا عَلَيْهِ {إنَّ اللَّه لَا يُضِيع أَجْر الْمُحْسِنِينَ} أَيْ أَجْرهمْ بَلْ يُثِيبهُمْ {وَلَا يُنْفِقُونَ} فِيهِ {نَفَقَة صَغِيرَة} وَلَوْ تَمْرَة {وَلَا كَبِيرَة وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا} بِالسَّيْرِ {إلَّا كُتِبَ لَهُمْ} بِهِ عَمَل صَالِح {لِيَجْزِيَهُمْ اللَّه أَحْسَن مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} أَيْ جَزَاءَهُمْ وَلَمَّا وُبِّخُوا عَلَى التَّخَلُّف وَأَرْسَلَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّة نَفَرُوا جَمِيعًا فَنَزَلَ {وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا} إلَى الْغَزْو {كَافَّة فَلَوْلَا} فَهَلَّا {نَفَرَ مِنْ كُلّ فِرْقَة} قَبِيلَة {مِنْهُمْ طَائِفَة} جَمَاعَة وَمَكَثَ الْبَاقُونَ {لِيَتَفَقَّهُوا} أَيْ الْمَاكِثُونَ {فِي الدِّين وَلِيُنْذِرُوا قَوْمهمْ إذَا رَجَعُوا إلَيْهِمْ} مِنَ الْغَزْو بِتَعْلِيمِهِمْ مَا تَعَلَّمُوهُ مِنَ الْأَحْكَام {لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ} عِقَاب اللَّه بِامْتِثَالِ أَمْره وَنَهْيه قال بن عَبَّاس فَهَذِهِ مَخْصُوصَة بِالسَّرَايَا وَالَّتِي قَبْلهَا بِالنَّهْيِ عَنْ تَخَلُّف احد فِيمَا إذَا خَرَجَ النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم

ترجمه: اې ایمان والو په گناهونو پرېښودو سره د الله نه ویرېږئ او په ایمان او وعدو کښې رشتونی خلقو سره شئ په داسې طریقه چې تاسو رشتیا لازم اونیسئ د مدینې والو د پاره او ددې اطرافو باندیچیانو د پاره هیڅ کله مناسب نه ده چې د غزوه په وخت کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم

Scanned with

نه روستو پاتې وی او نه دا مناسب دی چې خپل ځانونه د حضور ﷺ نه زیات خوښ اوګڼړی په داسې طریقه چې خپل ځانونه د هغې سختو نه اوساتی چې کوم حضورپاک ﷺ د ځان د پاره خوښ کړې وی (لا یرغبون) د نهی په صورت کښې خبر دې، یعنی د روستوالی نه منع کول په دې وجه دی چې دوی ته د الله په لار کښې چې کومه تنده لګیدلې ده او چې کوم جسمانی تکلیف ئې اوچت کړې دې او چې کومه لوږه هغوی ته د الله په لار کښې اولګیده اوچه هغوی یو داسې ځائې ته لاړل چه هغه دکافرانو دپاره موجب د غضب وی موطئًا مصدر په معنی د وطأ دې اوکوم څه چه هغوی ته د دشمن د طرفه د قتل یا د قید یا د لوټ په شکل کښې راغلې ده په دې ټولو باندې ددوی په نوم نیک عمل لیکلې شی چې دې عملونو باندې دوی ته بدله ورکړې شی یقینا الله تعالی د مخلصینو اجر ضائع کوی نه (اجر المحسنین ای اجرهم)بلکه دوی ته به بدله ورکولې شی او د الله په لاره کښې چې کوم څه دوی خرچ کړل که لږ وی او که ډیر اګرچې یوه کهجوره ولې نه وی،او چې کومې وادیانو باندې دوی تیر شول نو دا چې هغه ددوی په اعمال نامو کښې اولیکلې شول چې الله تعالی ددوی د عملونو خه نه خه بدله ورکړی یعنی ددوی بدله، او چې کله روستو پاتې کیدونکو ته په روستو پاتې کیدو باندې غصه اوکړې شوه،او حضور ﷺ سریه روانه کړه نو ټول په ټوله اووتل،او دا راروان آیت نازل شواو مومنانو لره پکار نه دی چې ټول په ټوله د غزوې د پاره اوځی نو داسې دی ولې ونه کړې شی چې ددوی هر لوئې ډلې نه یو وړوکې جماعت لاړ شی او باقی ایسار شی دې د پاره چې دا روستو پاتې شوې د دین پوهه حاصله کړی او هرکله چې د غزوې نه هغه خلق دوی طرف ته واپس راشی نو هغوی ته دې تعلیم ورکړی چې کوم احکام دوی حاصل کړې دی او هغوی دې ویروی دې د پاره چې هغوی د الله د عذاب نه په امر او نهی باندې عمل کولو سره ویرېږی ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چې دا حکم سریه سره خاص دې او روستو آیت چې د روستو پاتې کیدو نه د منع کولو په باره کښې دې نو دا هغه وخت دې چې کله حضورپاک ﷺ هم د غزوې د پاره وتلې وی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: فی الایمان والعهود: په دې کښې اشاره ده چې "مع الصادقین" کښې د معیت نه مراد "معیت فی الایمان" دې نه چې "معیت فی المعاملات والمکان" ځکه چې د دې معیت هیڅ فائده نشته،ترسو چې ایمان نه وی.

قوله: تلزموالصدق: دا د معیت د طریقې بیان دې

قوله: بأن یصونوا الخ: دا د حاصل معنی بیان دې په "بانفسهم" کښې باء د تعدیت ده مطلب دادې چې په کومو مصیبتونو او تکلیفونو کښې ئې ځان اچولې دې او نبی علیه السلام ته چې کوم تکلیفونه راځی نو تاسو په خپله د هغې نه د ځان د بچ کیدو کوشش مه کوئی

قوله: وهو نهي بلفظ الخبر: دا په طور د مبالغې دي

قوله: اي النهي: دا د "ذلک" دمرجع بیان دې او د نهی نه هغه نهی مراد ده چې کومه د ما كان لاهل المدينة الخ نه معلوميږي

قوله: مصدر بمعنى وطئا: يعنى موطئا دوطأ په معنى كښې مصدر ميمى دې نه چې ظرف

قوله: ولا ينالون: اى لا يصيبون وراندې راتلل، د سختوالى او د غم راتلل

قوله: نيلا: اى اصابة، اى يصيبون اصابة دا هر تكليف او مصيبت ته شامل دې

قوله: اي اجرهم: ددې اضافې مقصد د دى خبرې طرف ته اشاره ده چې په المحسنين كښې ضمير د "هم" په ځائې د دوى صفت احسان بيانولو دپاره راوړلې شې، ګنې اجرهم وئيل كافى وو، خو په هغې كښې به "دلالت على الاحسان" نه وو

قوله: ذلك: په دې كښې اشاره ده چې د "كتب" ضمير انفاق او قطع وادى دواړو طرف ته په تاويل راجع دې لهذا د عدم مطابقت اعتراض ختم شو.

قوله: لما وبخوا على التخليف: په دې كښې د راروان آيت "وما كان" سبب نزول طرف ته اشاره ده.

قوله: قبيلة، دفرقة تفسير په قبيلة كولو سره ئې اشاره اوكړه چې د فرقې نه مراد غټه ډله ده

قوله: مكث الباقون: په دې كښې اشاره ده چې د ليتفقهوا ضمير د محذوف متقلق دې نه چې د "نفر" لهذا دا اعتراض ختم شو چې غازيان به په جهاد كښې څنګه فقه حاصلوى،

قوله: والتي قبلها بالنهي عن التخلف الخ: ددې اضافې مقصد د دواړو آيتونو تعارض ختمول دى "ما كان لاهل المدينة الخ" كښې اوفرمائيلې شول چې يو كس له هم د غزوې نه پاتې كيدل جائز نه دى او وما كان المومنين لينفروا كښې ئې د ټولو د وتلو نه منع فرمائيلې ده، د دواړو آيتونو په مطلبونو كښې تعارض دې، التى قبلها الخ دې سره ددې اعتراض جواب دې، ددې حاصل دادې چې مخكښې چې كزمه نهى ده، هغه په دې صورت كښې ده چې كله نفير عام (عام اعلان) وى او حضور پاک ﷺ په خپله هم تشريف يوسى. او د لږ جماعت د وتلو او د لوئې جماعت په مدينه كښې د پاتې كيدو حكم په سرايا كښې دې، چې كله عام اعلان نه وى او حضور پاک ﷺ په خپله پكښې شريک نه وى.

[اياتونه: ۱۲۳ - ۱۲۹]

{يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ} أَيْ الْأَقْرَب فَالْأَقْرَب مِنْهُمْ {وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً} شِدَّة أَيْ أَغْلِظُوا عَلَيْهِمْ {وَاعْلَمُوا أَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} بِالْعَوْنِ وَالنَّصْر {وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ} من القرآن {فَمِنْهُمْ} أَيْ الْمُنَافِقِينَ {مَنْ يَقُولُ} لِأَصْحَابِهِ اسْتِهْزَاء {أَيُّكُمْ زادته هذه إيمانا} تصديقا قال تعالى {فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا} لِتَصْدِيقِهِمْ بِهَا {وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ} يَفْرَحُونَ بِهَا {وَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ

مَرَض} ضَعف اعتِقَاد {فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا إِلَى رِجْسِهِمْ} كُفرًا إِلَى كُفرهِمْ لكفرهم بها {وماتوا وهم كافرون} {أَوَلَا يَرَوْنَ} بِالْيَاءِ أَيْ الْمُنَافِقُونَ وَالتَاء أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ {أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ} يُبْتَلَوْنَ {فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ} بِالْقَحْطِ وَالْأَمْرَاض {ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ} مِنْ نِفَاقِهِمْ {وَلَا هُمْ يَذَّكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ {وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ} فِيهَا ذِكْرهمْ وَقَرَأَهَا النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {نَظَرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ} يُرِيدُونَ الْهَرَب يَقُولُونَ {هَلْ يَرَاكُمْ مِنْ أَحَدٍ} إِذَا قُمْتُمْ فَإِنْ لَمْ يَرَهُمْ أَحَد قَامُوا وَإِلَّا ثَبَتُوا {ثُمَّ انْصَرَفُوا} عَلَى كُفرهمْ {صَرَفَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ} عَنْ الْهُدَى {بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ} الْحَقّ لِعَدَمِ تَدَبُّرهمْ {لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ} أَيْ مِنْكُمْ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {عَزِيزٌ} شَدِيد {عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ} أَيْ عَنَتكُمْ أَيْ مَشَقَّتكُمْ وَلِقَاؤُكُمْ الْمَكْرُوه {حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ} أَنْ تَهْتَدُوا {بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ} شَدِيد الرَّحْمَة {رَحِيمٌ} يُرِيد لَهُمْ الْخَيْر {فَإِنْ تَوَلَّوْا} عَنْ الْإِيمَان بِك {فَقُلْ حَسْبِيَ} كَافِي {اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ} بِهِ وَثِقْت لَا بِغَيْرِهِ {وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ} الْكُرْسِيّ {الْعَظِيمِ} خَصَّهُ بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُ أَعْظَم الْمَخْلُوقَات وَرَوَى الْحَاكِم فِي الْمُسْتَدْرَك عَنْ أُبَيّ بْن كَعْب قَالَ آخِر آيَة نَزَلَتْ {لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ} إلى آخر السورة.

ترجمه:: اې ایمان والو تاسو خپل ځان نه خوا و شا (نزدې) منکرانو کافرانو سره جنګ اوکړئ یعنی دوی سره د اقرب فالاقرب قاعدې مطابق په ترتیب سره او پکار دی چې دوی په تاسو کښې سختی ومومی یعنی تاسو دوی سره سخته رویه ساتئ او یقین اوساتئ چې الله د مدد او نصرت په ذریعه متقیانو سره دې او هر کله چې نوې سورت د قرآن نازلیږی نو په دې منافقینو کښې څه خلق د خضورپاک ﷺ اصحابو پورې توقې کوی او وایه دې سورت په تاسو کښې د چا په ایمان کښې د تصدیق زیاتوالې اوکړو نو واورئ چې کوم خلق ایمان والا دی دې سورت د هغوی په ایمان کښې ددوی ددې تصدیق کولو د وجه اضافه اوکړه او دوی خوشحالیږی یعنی ددې سورت په نازلیدو سره خوشحالیږی او چې د کومو خلقو په زړونو کښې د کمزوری عقیدې مرض وی دې سورت د هغوی په ګندګئ کښې نور هم د ګندګئ اضافه اوکړه ددې سورت نه د انکار په وجه ددوی په کفر کښې نوره هم زیاتوالې اوکړې شوا و هغوی د کفر په حالت کښې مړه شول آیا دا منافقان نه ګوری (یرون) یاء او تاء سره ده اې مومنانو د دوی هر کال یو یا دوه ځل د اوچ سالئ او مرضونو د وجه ازمیښت کولې شی خو دا خلق بیا هم د منافقت نه منع کیږی نه او نه دوی سبق اخلی او کله چې څه نوې سورت نازل شی نو یو بل ته ګوری یعنی د سترګو په اشارې سره خبرې کوی په اصل کښې دوی وتل غواړی په داسې حال چې دوی وائی چې تاسو په وتلو سره څوک خو وینی نه که دوی ته څوک ګوری نه نو دوی پاسی لاړ شی کنې ناست وی، بیا دا خلق واپس شول کفر طرف ته الله تعالی ددوی زړونه واړول د هدایت نه په سبب ددې چې دوی ناپوهه دی یعنی دوی د تدبر د نشتوالی د وجه حق نه پیژنی. تاسو ته یو داسې پیغمبر تشریف راوړې دې چې تاسو د جنس نه دې یعنی ستاسو نه دې او هغه محمد

Scanned with

ﷺ دې ستاسو په نقصان کښې غورزيدل په هغه باندې گرانه ده يعنى ستاسو تکليف او مشقت او تاسو ته يو ناخوښه کار راپيښيدل په هغه باندې گرانه ده ستاسو د کاميابۍ هغه حريص دې دا چې تاسو په هدايت باندې راشئ او د ايمان والو د پاره ډير شفقت کونکې او مهربانه دې د هغوى د پاره خير غوارى اوس که چرې دا خلق په تا باندې ايمان راوړلو نه مخ اړوى نو ته ورته اووايه چې ماته د پاره الله تعالى کافى دې د هغه نه سوا بل څوک د عبادت لائق نشته دې ما هم په هغه باندې بهروسه کړې ده يعنى په هغه خما اعتماد دې نه چې په بل چا باندې او د عرش عظيم کرسئ مالک دې، د عرش د ذکر کولو خاص والې څکه دې چې هغه د اوچتو مخلوقاتو نه دې، حاکم په مستدرک کښې د ابى ابن کعب نه روايت کړې دې چې د ټولو آخره کښې نازل شوې آيت لقد جاءکم رسول. الخ دې..

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: يلونكم: دولى نه جمع مذکر غائب، هغه څوک چې تاسو ته نزدې دى.

قوله: اي اغلظوعليهم: دا عبارت د يو سوال مقدر جواب دې

سوال: دا دې چې "وليجدوا" دا کافرانو ته حکم دې چې هغوى دى په مسلمانانو کښې کلکوالې او سختې اومومى حالانکه په کافرانو باندې دسختوالى موندل واجب نه دى

جواب: د خو په ظاهره کافرانو ته حکم دې خو په حقيقت کښې مومنانو ته دې، په آيت کښې سبب ذکر دې خو مسبب مراد دې،

قوله: يقولون الخ

سوال: د يقولون مقدر گڼړلو څه ضرورت راغلو؟

جواب: چونکه د "هل يراكم" نه مخکښې په "نظر بعضهم الى بعض" کښې په ښکاره څه جوړ نه وو څکه چې "هل يراكم" حاضر دې او "نظر بعضهم الى بعض" غائب، په دې کښې ربط پيدا کولو د پاره د "يقولون" محذوف منلو ضرورت راغلو.

قوله: من احد: اى من المسلمين.

قوله: صرف الله: په اصل کښې د منافقينو د پاره خيرې دى څکه دا د مقام مناسب دې نه چې خبر.

قوله: بأنهم قوم لا يفقهون: دا د انصرفو متعلق دې نه چې د "صرف الله" څکه چې دا جمله معترضه دعائيه ده.

قوله: منكم اي من جنسكم: اى عربى قريشى مثلكم

قوله: اي عنتكم: په دې کښې اشاره ده چې ما عنتم کښې "ما" مصدريه ده، نه چې موصوله، په دې کښې د عائد ضرورت نه وى څکه د عائد د نه ذکر کولو اعتراض ختم شو.

[۱۰] سورة يونس

سورة يونس مكية إلا فإن كنت في شك الايتين او الثلث او و منهم من يومن به الاية مائة و تسع او عشر ايات

سورة يونس مكى دي بغير د «فإن كنت فى شكٍ»، دوه آيتونو يا دريو آيتونو نه، يا «ومنهم من يؤمنُ به» يو آيت، يوسل نهه يا يوسل لس آيتونه دي.

[اياتونه: ۱ - ۱۰]

بسم الله الرحمن الرحيم {الر} اللّٰه أَعْلَم بِمُرَادِهِ بِذَلِكَ {تِلْكَ} أَيْ هَذِهِ الْآيَات {آيَاتُ الْكِتَابِ} الْقرآن وَالْإِضَافَة بِمَعْنَى مِنْ {الْحَكِيمِ} الْمُحْكَم {أَكَانَ لِلنَّاسِ} أَيْ أَهْلِ مَكَّة اسْتِفْهَام إنْكَار وَالْجَار وَالْمَجْرُور حَال مِنْ قَوْله {عَجَبًا} بِالنَّصْبِ خَبَر كَانَ وَبِالرَّفْعِ اسْمهَا وَالْخَبَر وَهُوَ اسْمهَا عَلَى الْأُولَى {أَنْ أَوْحَيْنَا} أَيْ إيحَاؤُنَا {إِلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ} مُحَمَّد صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {أَنْ} مُفَسِّرَة {أَنْذِرْ} خَوِّفْ {النَّاسَ} الْكَافِرِينَ بِالْعَذَابِ {وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ} أَيْ بِأَنَّ {لَهُمْ قَدَمَ} سَلَف {صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ} أَيْ أَجْرًا حَسَنًا بِمَا قَدَّمُوهُ مِنَ الْأَعْمَال {قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَذَا} القرآن المشتمل على ذلك {لَسِحْرٌ مُبِينٌ} بَيِّن وَفِي قِرَاءَة لَسَاحِر وَالْمُشَار إلَيْهِ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰه الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْض فِي سِتَّة أَيَّام} مِنْ أَيَّام الدُّنْيَا أَيْ فِي قَدْرهَا لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ شَمْس وَلَا قَمَر وَلَوْ شَاءَ لَخَلَقَهُنَّ فِي لَمْحَة وَالْعُدُول عَنْهُ لِتَعْلِيمِ خَلْقه التَّثَبُّت {ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} اسْتِوَاء يَلِيق بِهِ {يُدَبِّرُ الْأَمْرَ} بَيْن الْخَلَائِق {مَا مِنْ} صِلَة {شَفِيعٍ} يَشْفَع لِأَحَدٍ {إِلَّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ} رَدّ لِقَوْلِهِمْ إنَّ الْأَصْنَام تَشْفَع لَهُمْ {ذَلِكُمُ} الْخَالِق الْمُدَبِّر {اللّٰهُ رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ} وَحِّدُوهُ {أَفَلَا تَذَكَّرُونَ} بِإِدْغَامِ التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال {إِلَيْهِ} تَعَالَى {مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا} مَصْدَرَانِ مَنْصُوبَانِ بِفِعْلِهِمَا الْمُقَدَّر {إِنَّهُ} بِالْكَسْرِ اسْتِئْنَافًا وَالْفَتْح عَلَى تَقْدِير اللَّام {يَبْدَأُ الْخَلْقَ} أَيْ بَدَأَهُ بِالْإِنْشَاءِ {ثُمَّ يُعِيدُهُ} بِالْبَعْثِ {لِيَجْزِيَ} يُثِيب {الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ بِالْقِسْطِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِنْ حَمِيمٍ} مَاء بَالِغ نِهَايَة الْحَرَارَة {وَعَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم {بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ} أَيْ بِسَبَبِ كُفْرهمْ {هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً} ذَات ضِيَاء أَيْ نُور {وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ} مِنْ حَيْثُ سَيْرَهُ {مَنَازِلَ} ثَمَانِيَة وَعِشْرِينَ مَنْزِلًا فِي ثَمَان وَعِشْرِينَ لَيْلَة مِنْ كُلّ شَهْر وَيَسْتَتِر لَيْلَتَيْنِ إنْ كَانَ الشَّهْر ثَلَاثِينَ يَوْمًا أَوْ لَيْلَة إنْ كَانَ تِسْعَة وَعِشْرِينَ يَوْمًا {لِتَعْلَمُوا} بِذَلِكَ {عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذَلِكَ} الْمَذْكُور {إِلَّا بِالْحَقِّ} لَا عَبَثًا تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ {يُفَصِّلُ} بِالْيَاءِ وَالنُّون يُبَيِّن {الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ} يتدبرون {إِنَّ فِي اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ} بِالذَّهَابِ وَالْمَجِيء وَالزِّيَادَة وَالنُّقْصَان {وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ فِي السَّمَاوَاتِ} مِنْ مَلَائِكَة وَشَمْس وَقَمَر وَنُجُوم وَغَيْر ذَلِكَ {وَ} فِي {الْأَرْضِ} مِنْ حَيَوَان وَجِبَال وَبِحَار وَأَنْهَار وَأَشْجَار وَغَيْرهَا {لَآيَاتٍ} دَلَالَات عَلَى قُدْرَته تعالى {لِقَوْمٍ يَتَّقُونَ} ه فَيُؤْمِنُونَ خَصَّهُمْ بِالذِّكْرِ لِأَنَّهُمْ الْمُنْتَفِعُونَ بِهَا {إِنَّ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا} بِالْبَعْثِ {وَرَضُوا بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا} بَدَل الْآخِرَة لِإِنْكَارِهِمْ لَهَا {وَاطْمَأَنُّوا بِهَا} سَكَنُوا إلَيْهَا {وَالَّذِينَ هُمْ عَنْ آيَاتِنَا} دَلَائِل وَحْدَانِيَّتنَا {غَافِلُونَ} تَارِكُونَ النَّظَر فِيهَا

Scanned with

{أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} مِنَ الشرك والمعاصي {إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ يَهْدِيهِمْ} يُرْشِدهُمْ {رَبُّهُمْ بِإِيمَانِهِمْ} بِهِ بِأَنْ يَجْعَل لَهُمْ نُورًا يهتدون به يوم القيامة {تجري من تحتهم الأنهار في جنات النعيم} {دَعْوَاهُمْ فِيهَا} طَلَبهمْ يَشْتَهُونَهُ فِي الْجَنَّة أَنْ يَقُولُوا {سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ} أَيْ يَا اللَّه فَإِذَا مَا طَلَبُوهُ وَجَدُوهُ بَيْن أَيْدِيهمْ {وَتَحِيَّتُهُمْ} فِيمَا بَيْنهمْ {فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنْ} مُفَسِّرَة {الحمد لله رب العالمين}

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم چې ډیر مهربانه او ډیر رحم والا دې الر، ددې په مراد باندې الله تعالی ښه پوهیږی دا محکم کتاب یعنی د قرآن آیتونه دی په "آیت الکتاب" کښې اضافت په معنی د "من" دې آیا دې خلقو ته یعنی د مکې اوسیدونکو ته ددې خبرې نه حیرانتیا اوشوه استفهام انکاری دې او جار مجرور ددې قول "عجبا" نه حال دې عجبا په نصب سره د "کان" خبر دې او په رفع سره د کان اسم دې او خبر "ان اوحینا الخ" دې او "اوحینا" رومبې اسم دې یعنی د نصب په صورت کښې ان اوحینا، ایحاونا، د مصدر په معنی کښې دې چې مونږ په دوی کښې یو کس محمد ﷺ ته وحی اولیږله چې خلقو کافرانو لره د عذاب نه اویروی "ان" مفسره ده او چې کومو خلقو ایمان راوړې دې هغوی ته زیرې واوروی چې ددوی د پاره ددوی د رب سره رښتنی عزت دې یعنی ددوی د اعمالو ښه بدله ده کافرانو اوئیل چې دا قرآن چې په ویرولو او زیرې ورکولو باندې مشتمل دې بې شکه ښکاره جادو دې او په یو قرآت کښې لساحر دې، په دې صورت کښې به د "ذلک" مشار الیه حضورپاک ﷺ وی حقیقت دا دې چې ستاسو رب هغه الله دې چاچې اسمانونه او زمکه لره د دنیا د ورځو په اعتبار سره په شپږو ورځو کښې یعنی ددې په مقدار کښې پیدا کړل ځکه چې هغه وخت نور او سپوږمئی نه وه، که چرې الله تعالی غوښتله نو په یو لمحه کښې به ئې پیدا کړې وو خو په داسې نه کولو کښې مخلوق ته د جلدئ د نه کولو تعلیم ورکول مقصود وو بیا ئې د حکومت په تخت باندې ئې استواء اوکړه څنګه چې د هغه د شان سره ښائی هغه د مخلوق د هر یو کار تدبیر کوی څوک د چا سفارش کولې نشی خو د هغه په اجازت سره "من شفیع" کښې "من" زائد دې دا د کافرانو د هغه عقیدې رد دې چې بتان به ددوی سفارش کوی دغه خالق تدبیر کونکې الله ستاسو رب دې صرف د هغه عبادت کوئی آیا تاسو ددې دلیلونو آوریدو نه پس هم نه پوهیږئی "تذکرون" کښې په اصل کښې د تاء په ذال کښې ادغام شوې دې ستاسو ټولو الله تعالي له ورتلل دی هغه رښتونې وعده کړې ده «وعدا او حقا» دواړه مصدرې دی چې د فعل مقدر د وجه نه منصوب دی بې شکه "انه" کسرې سره دې د استیناف د وجې نه، او فتح د لام د تقدیر په صورت کښې ده، هغه په اول ځل پیدا کوی یعنی هغه په پیدا کولو کښې شروع کړې ده بیا د بعث په ذریعه به دوباره پیدا کوی دې د پاره چې هغه خلقو ته چې ایمان ئې راوړو او

نیک عملونه ئې اوکړل، په انصاف سره بدله ورکړي او چې کومو خلقو کفر اوکړو هغوی ته به د څکلو د پاره ډیرې ګرمې اوبه میلاویږي یعنی په ګرم والي کښې به آخری حد ته رسیدلې وی او درد ناک عذاب به وی ددوی د کفر د وجه نه یعنی ددوی د کفر په وجه به دوی ته سزا ورکولې شی هغه ذات چا چې نور روښانه جوړ کړو یعنی رنړا والا او چمکدار ئې جوړ کړو او سپوږمۍ ته ئې نور ورکړو او د سپوږمۍ د پاره ئې د هغې د رفتار په اعتبار سره په هره میاشت کښې په اته ویش شپو کښې اته ویش منزلونه جوړ کړل او دوه شپې پټه وی که چرې میاشت د دیرشو ورځو وی،او یو شپه پټه وی که میاشت د یوکم دیرشو وی ددې پاره چې په دې سره تاسو د کالونو او تاریخونو حساب معلوم کړئ الله تعالی دا هر څه د یو مقصد د پاره جوړ کړې دی نه چې بې فائدې، الله تعالی ددې نه پاک دې هغه نښې ښکاره بیانوی د غور او فکر کونکی قوم د پاره یقینا د شپې او ورځې په اوړیدو راوړیدو کښې یعنی په تلو راتلو کښې او غټیدلو او وړه کیدلو کښې او په هر هغه څیز کښې چې هغه په آسمانونو کښې پیدا کړې دی مثلا فرشتې، نور، ستوری، سپوږمۍ وغیره او چې په زمکه کښې ئې پیدا کړل مثلا ځناور،غرونه، دریابونه، نهرونه او اونې وغیره یقینا د الله تعالی په قدرتونو باندې دلالت کونکی نښې دی د الله نه ویریدونکی خلقو د پاره چې هغوی ایمان راوړی او خاص کر د متقیانو ذکر ئې اوکړو ځکه چې دغه خلق د دې نښو نه فائده حاصلوی حقیقت دادې چې کومو خلقو ته دوباره ژوندی کولو په ذریعه زمونږ د ملاقات امید نشته او هغوی د آخرت نه د انکار کولو په وجه د آخرت په بدله کښې د دنیا په ژوند باندې راضی شول او په هغې مطمئن شول یعنی دې سره ئې زړه اولګولو او هغه خلق چې زمونږ وحدانیت باندې دلالت کونکی زمونږ د آیتونو نه غافله دی یعنی دوی د غور او فکر پریښودونکی دی د داسې خلقو ځائې ددوی د شرکی کارونو او ګناهونو د وجه جهنم دې یقینا هغه خلق چې ایمان ئې راوړو او نیک عملونه ئې اوکړل ددوی رب به ددوی د نیک عملونو په وجه ددوی رهنمائی کوی په داسې طریقه چې دوی ته د نور ورکړی چې د هغې د وجه به دوی د قیامت په ورځ خپل مقصد ته ورسی په ډک جنتونو باغونو کښې به وی چې د هغې د لاندې به نهرونه بهیږی او ددوی د طلب (طریقه) په جنت کښې چې د کوم څیز غوښتنه کوی سبحانک اللهم به وی یعنی اې الله، او کله چې دوی هغه څیز اوغواړی نو ددوی مخکښې به موجود وی او ددوی خپلو کښې سلام په جنت کښې به "السلام علیکم" وی، او ددوی آخری خبره به الحمدلله رب العالمین وی ان مفسره دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: حال من قوله عجبا للناس: په اصل کښې د محذوف سره متعلق دی او بیا د "عجبا" صفت دې او صفت چې کله په موصوف باندې مقدم وی نو هغې ته حال وئیلې شی ځکه

چې د صفت په موصوف باندې مخکښې کول صحیح نه دی او نه للناس د عجبا سره متعلق دې ځکه چې د مصدر عامل کمزورې وی په خپل ماقبل کښې عمل نه کوی، عجبا د کان خبر مقدم دې، او ان اوحینا د کان اسم مؤخر دې، تقدیری عبارت دادې اکان ایحاؤنا عجبا للناس، او عجب د رفع سره هم لوستلې شوې دې په دې صورت کښې به عجب د کان اسم وی او ان اوحینا چې کوم د نصب په صورت کښې اسم وو، هغه به د رفع په صورت کښې خبر وی، او ابن مسعود رضی الله عنه عجب مرفوع د کان تامه منولو سره لوستلې دې، او ان اوحینا ءی د عجب نه بدل ګرځولې دې.

قوله: قدم صدق: دا د اضافت موصوف الی الصفت د قبیلې نه دې لکه چې په مسجد الجامع کښې قدم په معنی د مرتبې، عزت، د تیرشوې نیک عمل ښه اثر، مفسر د قدم تفسیر په سلف سره کولو سره دې معنې طرف ته اشاره کړې ده، علامه سیوطی اجرا حسنا بما قدموا من الاعمال وئیلو سره دغه معنی مراد اخستلې ده.

فائده: مخکښې والې چونکه د قدم د وجه کیږی، سابقه ته قدم وئیلی کیږی څنګه چې نعمت ته ید وئیلې کیږی، د "قدم" صدق" طرف ته اضافت د د زیادتِ فضیلت د پاره دې، یا دې د پاره چې د صدق مقام د صدق خبرې سره حاصلیږی.

قوله: مذکور: د ذلک تفسیر د مذکور سره کولو کښې د یو سوال مقدر جواب ورکول مقصود دی.

سوال: دادې چې مخکښې د نور او سپوږمئی ذکر دې نو اسم اشاره تثنیه راوړل پکار وو، حالانکه ذلک ئې مفرد راوړې دې؟

جواب: حاصل دادې چې د مذکور په معنی کښې اخستلو د وجه ئې ذلک مفرد راوړو.

قوله: ان اللذین امنو: الخ یهدیهم د "ان" خبر اول دې او تجری من تحتهم الانهر دویم خبر دې او فی جنت دریم خبر دې.

قوله: سبحنک اللهم: یعنی جنتیان چې کله د یو خوښ څیز ارمان اوکړې نو د د غوښتلو طریقه به ئې دا وی چې اللهم به وائی نو فورا به هغه غوښتلې شوې څیز موجود شی اللهم چونکه کلمه د نداء ده، لهذا دعاء په معنی د غوښتلو به وی،

قوله: اذا ما طلبوا بین ایدیهم: اذا مفاجاتیه ده، یعنی جنتیان چې کله د یو څیز خواهش وکړی نو هغوی به سبحانك اللهم او وائی نو فورا به هغه څیز حاضر شی

قوله: ذات ضیاء: د دې اضافې مقصد د الشمس ضیاء حمل صحیح دی، ځکه چې ضیاء مصدر دې د دې حمل په ذات باندې صحیح نه دې.

[ایاتونه: ۱۱ ـ ۲۰]

وَنَزَلَ لَمَّا اسْتَعْجَلَ الْمُشْرِكُونَ الْعَذَاب {وَلَوْ يُعَجِّلُ اللَّهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُم} أَيْ كَاسْتِعْجَالِهِمْ {بِالْخَيْرِ لَقُضِيَ} بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ وَالْفَاعِلِ {إِلَيْهِمْ أَجَلُهُمْ} بِالرَّفْعِ وَالنَّصْب بِأَنْ يُهْلِكَهُمْ وَلَكِنْ يُمْهِلُهُمْ {فَنَذَرُ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ} يَتَرَدَّدُونَ مُتَحَيِّرِينَ {وَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ} الْكَافِرَ {الضُّرُّ} الْمَرَض وَالْفَقْر {دَعَانَا لِجَنْبِهِ} أَيْ مُضْطَجِعًا {أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا} أَيْ فِي كُلِّ حَال {فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ} عَلَى كُفْره {كَأَنْ} مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ كَأَنَّهُ {لَمْ يَدْعُنَا إِلَى ضُرٍّ مَسَّهُ كَذَلِكَ} كَمَا زُيِّنَ لَهُ الدُّعَاء عِنْد الضُّرّ وَالْإِعْرَاض عِنْد الرَّخَاء {زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ} الْمُشْرِكِينَ {مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} {وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا الْقُرُونَ} الْأُمَم {مِنْ قَبْلِكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة {لَمَّا ظَلَمُوا} بِالشِّرْكِ {وَ} قَدْ {جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ} الدَّالَّات عَلَى صِدْقهمْ {وَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا} عَطْف عَلَى ظَلَمُوا {كَذَلِكَ} كَمَا أَهْلَكْنَا أُولَئِكَ {نَجْزِي الْقَوْمَ الْمُجْرِمِينَ} الْكَافِرِينَ {ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة {خَلَائِفَ} جَمْع خَلِيفَة {فِي الْأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ} فِيهَا وَهَلْ تَعْتَبِرُونَ بِهِمْ فَتُصَدِّقُوا رُسُلَنَا {وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا} الْقُرْآن {بَيِّنَاتٍ} ظَاهِرَات حَال {قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا} لَا يَخَافُونَ الْبَعْث {ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا} لَيْسَ فِيهِ عَيْب آلِهَتنَا {أَوْ بَدِّلْهُ} مِنْ تِلْقَاء نَفْسك {قُلْ} لَهُمْ {مَا يَكُونُ} يَنْبَغِي {لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ} قِبَل {نَفْسِي إِنْ} مَا {أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي} بِتَبْدِيلِهِ {عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ} هُوَ يَوْم الْقِيَامَة {قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ} أَعْلَمَكُمْ {بِهِ} وَلَا نَافِيَة عَطْف عَلَى مَا قَبْله وَفِي قِرَاءَة بِلَامٍ جَوَاب لَوْ أَيْ لَأَعْلَمَكُمْ بِهِ عَلَى لِسَان غَيْرِي {فَقَدْ لَبِثْتُ} مَكَثْت {فِيكُمْ عُمُرًا} سِنِينًا أَرْبَعِينَ {مِنْ قَبْلِهِ} لَا أُحَدِّثكُمْ بِشَيْءٍ {أَفَلَا تَعْقِلُونَ} أَنَّهُ لَيْسَ مِنْ قِبَلِي {فَمَنْ} أَيْ لَا أَحَد {أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا} بِنِسْبَةِ الشَّرِيك إِلَيْهِ {أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ} الْقُرْآن {إِنَّهُ} أَيْ الشَّأْن {لَا يُفْلِحُ} يَسْعَد {الْمُجْرِمُونَ} الْمُشْرِكُونَ {وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {مَا لَا يَضُرُّهُمْ} إِنْ لَمْ يَعْبُدُوهُ {وَلَا يَنْفَعُهُمْ} إِنْ عَبَدُوهُ وَهُوَ الْأَصْنَام {وَيَقُولُونَ} عَنْهَا {هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ} لَهُمْ {أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ} تُخْبِرُونَهُ {بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ} اسْتِفْهَام إِنْكَار إِذْ لَوْ كَانَ لَهُ شَرِيك لَعَلِمَهُ إِذْ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْء {سُبْحَانَهُ} تَنْزِيهًا لَهُ {وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ} هـ معه {وَمَا كَانَ النَّاسُ إِلَّا أُمَّةً وَاحِدَةً} عَلَى دِين وَاحِد وَهُوَ الْإِسْلَام مِنْ لَدُنْ آدَم إِلَى نُوح وَقِيلَ مِنْ عَهْد إِبْرَاهِيم إِلَى عَمْرو بْن لُحَيّ {فَاخْتَلَفُوا} بِأَنْ ثَبَتَ بَعْض وَكَفَرَ بَعْض {وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ} بِتَأْخِيرِ الْجَزَاء إِلَى يَوْم الْقِيَامَة {لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ} أَيْ النَّاس فِي الدُّنْيَا {فِيمَا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} مِنْ الدِّين بِتَعْذِيبِ الْكَافِرِينَ {وَيَقُولُونَ} أَيْ أَهْل مَكَّة {لَوْلَا} هَلَّا {أُنْزِلَ عَلَيْهِ} عَلَى مُحَمَّد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ} كَمَا كَانَ لِلْأَنْبِيَاءِ مِنْ النَّاقَة وَالْعَصَا وَالْيَد {فَقُلْ} لَهُمْ {إِنَّمَا الْغَيْبُ} ما غاب عن العباد أي أمره {لله} وَمِنْهُ الْآيَات فَلَا يَأْتِي بِهَا إِلَّا هُوَ وَإِنَّمَا عَلَيَّ التَّبْلِيغ {فَانْتَظِرُوا} الْعَذَاب إِنْ لَمْ تؤمنوا {إني معكم من المنتظرين}

Scanned with

ترجمه: راتلونکي آیت هغه وخت نازل شو کله چې مشرکینو د عذاب د زر راتللو مطالبه اوکړه که چرې الله تعالی د خلقو د پاره د شر په معامله کښې جلدي کوله څنګه چې دوی د خیر په معامله کښې جلدي کوی نو ددوی وعده به پوره کړې شوې وه، "قضی" مجهول او معروف دواړه لوستلې شوې دې، "اجلهم" رفع او نصب دواړو سره دې په داسې طریقه چې دوی به هلاک کړې شوې وو، خو هغه دوی ته مهلت ورکوی پس نو مونږ هغه خلق د چا چې مونږ ته د راتلو امید نشته هغوی مونږ د هغوی په سرکشۍ کښې حیران پرېږدو، یعنی د شک سره حیرانه وی او هر کله چې کافر انسان ته د مرض او د غریبۍ تکلیف رسیږي نو مونږ ته اواز کوی په ملاسته، په ناسته او په ولاړه یعنی په هر حال کښې بیا چې کله مونږ د هغه دا تکلیف اوچت کړو نو بیا د خپل کفر (زوړ حالت باندې شی) ګویا چې ده مونږ ته د تکلیف په وخت کښې چرته اواز نه وو کړې کأن مخفف دې او اسم ئې محذوف دې کأنه، څنګه چې د دوی د پاره د تکلیف په وخت کښې مونږ نه دعاء غوختل او د خوشحالۍ په وخت کښې مخ اړول خائسته کړې شوی دی دغه شان د مشرکانو اعمال هغوی د پاره ښائسته کړې شوی دی. او یقینا مونږ هلاک کړې دی امتونه ستاسو نه مخکښې اې د مکې اوسیدونکو هر کله چې هغوی ظلم اوکړو په شرک سره او یقینا راغلې وو دوی ته پیغمبران په دلائلو سره هغوی په رشتونوالی باندې ثبتونو سره او نه وو دوی چې ایمان ئې راوړې وو عطف دې په ظلموا باندې همدغه شان څنګه چې مونږ هلاک کړل دغه خلق مونږ بدله ورکوو قوم د مجرمانو کافرانو ته بیا مونږ اوګرځولئ تاسو اې د مکې اوسیدونکو خلیفه ګان خلائف د خلیف جمع ده په زمکه باندې ددوی نه پس چې مونږ اوګورو چې څنګه تاسو عمل کوئی آیا تاسو دوی نه عبرت حاصلوی چې زمونږ د رسولانو تصدیق اوکړئ هر کله چې هغوی ته زمونږ صفا صفا قرآنی خبرې واورولې شی بینات حال دې نو هغه خلق چې مونږ سره د میلاوېدو توقع نه ساتی د قبر نه د پاسیدلو ویره نه کوی وائی چې ددې په ځائې بل قرآن راوړه چې په هغې زمونږ د معبودانو عیب نه وی بیان شوې یا په هغې کښې د خپل طرف نه څه تبدیلی اوکړه اې محمد ﷺ دوی ته اوویه چې ځما کار دا نه دې چې په دې کښې څه د خپل ځان نه څه تبدیلی اوکړم څه خو صرف د هغه وحی تابعداری کوم چې کومه ماته رالیږلې شی که چرې څه په دې کښې تبدیلی کولو سره د خپل رب نافرمانی اوکړم نو ماته د یو غټې ورځې د عذاب ویره ده چې هغه د قیامت ورځ ده او اوویه که چرې دالله تعالی خوښه دغه وی نو ما به دا قرآن هیڅ کله هم تاسو ته اورولې نه وو او الله تعالی به تاسو ته د دې خبر هم نه درکولې او لا نافیه ده په خپل ماقبل (لوشاء الله ماتلوته الخ) باندې عطف دې او په یو قراءت کښې لام سره دې، د "لو" جواب واقع کیدلو د وجه یعنی ځما نه علاوه د بل چا په ژبه باندې به ئې تاسو ته وئیلې وو، په آخر ما ددې قرآن د نازلیدلو نه مخکښې ستاسو سره په مینځ کښې یو عمر یعنی څلویښت کاله تیر کړې دی چې ما تاسو ته د خپل طرف نه څه څیز بیان کړې نه

Scanned with

دي نو آيا تاسو بيا هم نه پوهيږئ چې دا قرآن څما د طرف نه نه دې بيا به د هغه نه لوئې ظالم څوک وي هيڅ څوک هم نه چا چې په الله باندې د هغه طرف ته د شرک نسبت کولو سره دروغ الزام اولګولو يا د هغه آيتونه يعني قرآن ئې دروغ اوګڼړل يقينا شان دادې چې مجرمان مشرکان چرې هم کاميابي حاصلولې نشي دا خلق د الله نه سوا د نوروو بندګي کوي چې نه خو دوی ته څه نقصان رسولې شي که چرې دوی د هغه بندګي اونکړي او نه دوی ته څه فائده رسولې شي که دوی د هغه بندګي اوکړي او هغه بتان دی او ددې بتانو په باره کښې وائي چې دا بتان د الله په نيز څمونږ سفارشيان دی اې محمد ﷺ ته دوی ته اووايه آيا تاسو الله ته د هغه څه خبر ورکوی چې هغه ته ئې علم نشته نه په آسمانونو کښې او نه په زمکه کښې استفهام انکاري دې يعني که د هغه څوک شريک وو نو خامخا به ورته علم وو، څکه چې د هغه نه يو څيز هم پټ نه دې هغه پاک دې او د هغه څه نه اعلی دې کوم چې دوی د هغه شريک ګرځوي په شروع کښې ټولو خلق يو امت وو يعني يو دين باندې وو او هغه اسلام دې د آدم ﷺ نه تر نوح ﷺ پورې او څوک وائي چې د ابراهيم ﷺ د زمانې نه واخله تر د عمرو بن لحی د زمانې پورې روستو هغوی اختلاف اوکړو په داسې طريقه چې بعضې په اسلام باندې کلک ولاړ وو او بعضو انکار اوکړو که چرې ستا د رب د طرف نه يو خبره يعني د قيامت پورې دعذاب روستو کولو فيصله نه وه شوې نو د خلقو په مينځ کښې به په دنيا کښې کافرانو ته د عذاب فيصله شوې وه، چې د کوم دين په باره کښې اختلاف کوي او اهل مکه وائي په محمد ﷺ باندې د هغه د رب د طرف نه څه نښه ولې نازله نه شوه؟ څنګه چې په نوروو پيغمبرانو باندې نازله شوې وه چې هغه اوښه، عصا او يد بيضا ده نو ته دوی ته اووايه چې د غيبو يعني چې کوم څيز د بندګانو نه غيب دې لکه د الله حکم مالک او اختيارمند خو صرف الله دې دې نښو لره صرف هغه راوستلې شی څما په ذمه خو صرف تبليغ دې که چرې تاسو ايمان نه راوړئ نو د عذاب انتظار کوئ څه هم ستاسو سره انتظار کوم..

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: اي كاستعجالهم:

سوال: د استعجالهم تفسير په "كاستعجالهم" سره کولو کښې د "كاف" د اضافې څه فائده؟

جواب: "استعجالهم بالخير" بالكل "استعجالهم بالشر" نه دې که د حرف تشبيه "كاف" اضافه اونکړې شی نو د دواړو به يو شان کيدل لازم راتلل، ددې فرق ښکاره کولو د پاره د "اسعجالهم" تفسير "كاستعجالهم" سره اوکړو، دې نه دا هم معلومه شوه چې استعجالهم منصوب بنزع الخافض دې،

قوله: بالرفع والنصب: رفع د "قضى" نائب فاعل کيدو د وجه او نصب د "قضى" د معروف کيدو په صورت کښې مفعول کيدو د وجه، په دې حالت کښې به فاعل الله تعالى وي.

قوله: يمهلهم:

سوال: "يمهلهم" محذوف منلو څه ضرورت پيښ شو؟

جواب: "فنذر" كښې فاء عاطفه ده هغې ته د معطوف عليه ضرورت دې حالانكه د هغې معطوف عليه مخكښې ذكر نه دې اونه د هغې عطف په قضى باندې صحيح دې نه لفظا او نه معنا، لفظا ددې وجه چې "لقضى" د "لو" جواب واقع كيدلو په وجه مجزوم دې كه د "تذر" عطف په "لقضى" باندې وى نو "فنذر" بيا مجزوم پكار وو، حالانكه مجزوم نه دې، د معنې په اعتبار سره د عطف نه صحيح كيدل د معنې د فساد د وجه ښكاره دې، لهذا د "فنذر" عطف به په هغه نفى باندې وى كوم چې د "لو" شرطيه نه معلوميږى، ځكه چې "لو يعجل" د نفى تعجيل معنې لره متضمن دې، ددې نفى تعجيل مطلب بيانولو د پاره مفسر علام د "ولكن يمهلهم" اضافه كړې ده، خلاصه دا شوه چې د "فنذر" عطف "يمهلهم" محذوف باندې دې نه چې په "قضى" باندې.

قوله: وقد جاءتهم:

سوال: وجاءتهم د ظلموا نه حال دې ماضى د "قد" نه بغير حال واقع كيدې نشى؟

جواب: ددې اعتراض نه بچ كيدو د پاره مفسر علام "قد" محذوف ګنړلې دې.

قوله: حال: يعنى بينت، ايتنا نه حال دې نه چې صفت، ځكه چې ايتنا د اضافت د وجه معرفه ده او "بينت" نكره ده، حالانكه په موصوف صفت كښې مطابقت ضرورى وى.

قوله: وفى قراءة بلام: يعنى لادراكم په ځاې لأدراكم دې يعنى لام تاكيد سره

قوله: جواب لو: يعنى جواب لو باندې عطف دې چې هغه ماتلونه دې.

[اياتونه: ۲۱ ـ ۳۰]

{وَإِذَا أَذَقْنَا النَّاس} أَيْ كُفَّار مَكَّة {رَحْمَة} مَطَرًا وَخِصْبًا {مِنْ بَعْد ضَرَّاء} بُؤْس وَجَدْب {مَسَّتْهُمْ إِذَا لَهُمْ مَكْر فِي آيَاتنَا} بِالِاسْتِهْزَاءِ وَالتَّكْذِيب {قُلْ} لَهُمْ {اللَّه أَسْرَع مَكْرًا} مُجَازَاة {إِنَّ رُسُلنَا} الْحَفَظَة {يَكْتُبُونَ مَا تَمْكُرُونَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ {هُوَ الَّذِي يُسَيِّرُكُمْ} وَفِي قِرَاءَة يَنْشُرُكُمْ {فِي الْبَرّ وَالْبَحْر حَتَّى إِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْك} السُّفُن {وَجَرَيْنَ بِهِمْ} فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْخِطَاب {بِرِيحٍ طَيِّبَة} لَيِّنَة {وَفَرِحُوا بِهَا جَاءَتْهَا رِيح عَاصِف} شَدِيدَة الْهُبُوب تَكْسِر كُلّ شَيْء {وَجَاءَهُمُ الموج من كل مكان وظنوا أنهم أُحِيطَ بِهِمْ} أَيْ أُهْلِكُوا {دَعَوُا اللَّه مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّين} الدُّعَاء {لَئِنْ} لَام قَسَم {أَنْجَيْتنَا مِنْ هَذِهِ} الْأَهْوَال {لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ} الْمُوَحِّدِينَ {فَلَمَّا أَنْجَاهُمْ إِذَا هُمْ يَبْغُونَ فِي الْأَرْض بغير الحق} بالشرك {يأيها النَّاس إِنَّمَا بَغْيكُمْ} ظُلْمكُمْ {عَلَى أَنْفُسكُمْ} لِأَنَّ إِثْمه عَلَيْهَا هُوَ {مَتَاع الْحَيَاة الدُّنْيَا} تَمَتَّعُونَ فِيهَا قَلِيلًا {ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعكُمْ} بَعْد الْمَوْت {فَنُنَبِّئكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} فَنُجَازِيكُمْ عَلَيْهِ وَفِي قِرَاءَة بِنَصْبِ مَتَاع أَيْ تَتَمَتَّعُونَ {إِنَّمَا مَثَل} صِفَة {الْحَيَاة الدُّنْيَا كَمَاءٍ} مَطَر {أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاء فَاخْتَلَطَ بِهِ} بِسَبَبِهِ {نَبَات الْأَرْض} وَاشْتَبَكَ بَعْضه

Scanned with

بِبَعْضٍ {مِمَّا يَأْكُلُ النَّاسُ} مِنَ الْبُرِّ وَالشَّعِيرِ وَغَيْرِهِمَا {وَالْأَنْعَامُ} مِنَ الْكَلَأِ {حَتَّى إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا} بَهْجَتَهَا مِنَ النَّبَاتِ {وَازَّيَّنَتْ} بِالزَّهْرِ وَأَصْلُهُ تَزَيَّنَتْ أُبْدِلَتِ التَّاءُ زَاءً وَأُدْغِمَتْ فِي الزَّاءِ {وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا} مُتَمَكِّنُونَ مِنْ تَحْصِيلِ ثِمَارِهَا {أَتَاهَا أَمْرُنَا} قَضَاؤُنَا أَوْ عَذَابُنَا {لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا} أَيْ زَرْعَهَا {حَصِيدًا} كَالْمَحْصُودِ بِالْمَنَاجِلِ {كَأَنْ} مُخَفَّفَةٌ أَيْ كَأَنَّهَا {لَمْ تَغْنَ} تَكُنْ {بِالْأَمْسِ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ} نُبَيِّنُ {الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} {وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ} أَيِ السَّلَامَةِ وَهِيَ الْجَنَّةُ بِالدُّعَاءِ إِلَى الْإِيمَانِ {وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ} هِدَايَتَهُ {إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} دِينِ الْإِسْلَامِ {لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا} بِالْإِيمَانِ {الْحُسْنَى} الْجَنَّةُ {وَزِيَادَةٌ} هِيَ النَّظَرُ إِلَيْهِ تَعَالَى كَمَا فِي حَدِيثِ مُسْلِمٍ {وَلَا يَرْهَقُ} يَغْشَى {وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ} سَوَادٌ {وَلَا ذِلَّةٌ} كَآبَةٌ {أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} {وَالَّذِينَ} عَطْفٌ عَلَى لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا أَيْ وَلِلَّذِينَ {كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ} عَمِلُوا الشِّرْكَ {جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ} زَائِدَةٌ {عَاصِمٍ} مَانِعٌ {كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ} أُلْبِسَتْ {وُجُوهُهُمْ قِطَعًا} بِفَتْحِ الطَّاءِ جَمْعُ قِطْعَةٍ وَإِسْكَانِهَا أَيْ جُزْءًا {مِنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ} {وَ} اذْكُرْ {يَوْمَ نَحْشُرُهُمْ} أَيِ الْخَلْقَ {جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا مَكَانَكُمْ} نُصِبَ بِالْزَمُوا مُقَدَّرًا {أَنْتُمْ} تَأْكِيدٌ لِلضَّمِيرِ الْمُسْتَتِرِ فِي الْفِعْلِ الْمُقَدَّرِ لِيُعْطَفَ عَلَيْهِ {وَشُرَكَاؤُكُمْ} أَيِ الْأَصْنَامُ {فَزَيَّلْنَا} مَيَّزْنَا {بَيْنَهُمْ} وَبَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ كَمَا فِي آيَةِ {وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ} {وَقَالَ} لَهُمْ {شُرَكَاؤُهُمْ مَا كُنْتُمْ إِيَّانَا تَعْبُدُونَ} مَا نَافِيَةٌ وَقُدِّمَ الْمفعول للفاصلة {فَكَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ إِنْ} مُخَفَّفَةٌ اي إنا {كنا عن عبادتكم لغافلين} {هنالك} اي ذلك اليوم {تبلوا} مِنَ الْبَلْوَى وَفِي قِرَاءَةٍ بِتَاءَيْنِ مِنَ التِّلَاوَةِ {كُلُّ نَفْسٍ مَا أَسْلَفَتْ} قَدَّمَتْ مِنَ الْعَمَلِ {وَرُدُّوا إِلَى اللَّهِ مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ} الثَّابِتِ الدَّائِمِ {وَضَلَّ} غَابَ {عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ} عَلَيْهِ من الشركاء.

ترجمه: او د خلقو دا حال دې چې کله دوی ته یعنی کفار مکه ته تکلیف او قحط سالئ نه پس چې کوم دوی ته راپیښ شوې وی، د رحمت یعنی د باران او خوشحالئ مزا ورڅکوو نو دوی ځمونږ د آیتونو په باره کښې د ترقو او تکلیف په ذریعه چالبازی شروع کړی دوی ته اووایه چې الله تعالی د چالبازئ په جواب کښې ستاسو نه زیات تیز دې او بې شکه زمونږه فرشتې ددوی مکارئ محفوظ کوی "تمکرون" یاء او تاء سره دې هم هغه الله دې چې تاسو په اوچه او لونده باندې بوځی او یو قراءت کښې ینشرون دې، تردې چې کله تاسو په کشتو کښې یئ او هغه دوی د نرمې (موافق) هوا په ذریعه بوځی او دوی د هغې د وجه خوشحاله وی نو اچانک د هوا یو سخت طوفان راشی چې هر څیز تکړې تکړې کړی او هر طرف نه چپې راروانې شی او دوی دا گنړی چې بد راګیر شو. یعنی دوی هلاک شول هغه وخت دا خلق دین خاص د الله د پاره کړی او په اخلاص سره دعاء شروع کړی او په قسم سره وائی په "لئن" کښې لام قسمیه

دې که چرې تا مونږ دې سختو نه خلاص کړو نو مونږ به ستا شکر گذار توحيد منونکي بنديگانو
کښې شامل شو نو هر کله چې مونږ دوی بچ کړل نو بيا دغه خلق په زمکه باندې شرک کولو سره په
ناحقه وراني کوی، خلقو! دا ورانې ستاسو خلاف پريوزی ځکه چې ددې گناه په تاسو باندې ده
د دنيا يو څو ورځې مزې دی څو ورځې مزې واخلئ، د مرگ نه پس تاسو له زمونږ طرف ته راتلل
دی هغه وخت به مونږ ستاسو ته اووايو چې تاسو په دنيا کښې څه څه کول بيا به مونږ تاسو ته
ددې بدله درکړو، او په يو قراءت کښې "متاع" په نصب سره دې (ای تتمتعون متاع الحيوة
الدنيا) د دنيا د زندگئ مثال داسې دې لکه چې د آسمان نه باران اووريږی، چې د هغې د وجې نه د
زمکې پيداوار ښه گڼړ شو چې د هغې نه انسانان خوړل کوی لکه عنم جوار وغيره او ځناور ئې
خوری لکه واښه وغيره بيا بالکل هغه وخت چې زمکه په خپل پوره بهار باندې وه يعنی د
شينوالی د وجه نه روښانه وه او خپل رونق د وجه ښه ښائسته شوه د "ازينت" اصل "تزينت"
وو، تاء زاء سره بدل کړې شوه او بيا زاء په زاء کښې مدغم شوه بيا ددې شروع کښې د
همزه وصل اضافه اوکړې شوه او ددې مالکانو دا گڼړله چې اوس مونږ په فائده حاصلولو کښې
په دې باندې قارد يو، يعنی ددې د ميوو (پيداوار) نه فائده اخستلو باندې، اچانک په شپه
کښې يا په روځ کښې زمونږ حکم يعنی فيصله يا عذاب په دې باندې راغې نو مونږ دا پټې صفا
کړو لکه په څڅکوره باندې صفا کړې شوې پټې داسې چې لکه هلته کښې پرون هيڅ نه وو،
دغه شان مونږ ښکاره نښې بيانوو د هغه خلقو د پاره چې غور وفکر کولو والا دی او الله د ايمان
دعوت ورکولو سره د سلامتئ کور طرف ته رابلی او هغه جنت دې او هغه چې چا ته هدايت
کول غواړی د هغه صراط مستقيم يعنی د دين اسلام طرف ته راهنمائی کوی چا چې د
ايمان سره نيکی کړې ده د هغوی د پاره خوبی يعنی جنت دې او ددې نه نور هم زيات دی او
هغه نور د الله تعالی ديدار دې لکه چې په مسلم شريف کښې حديث دې اوددوی په مخونو
باندې به نه تياره وی او نه ذلت مشقت هم دغه خلق جنتيان دی چې په دې کښې به هميشه وی او چې
کومو خلقو بدی کړې ده د "الذين" عطف په "الذين احسنو" باندې دې تقديری عبارت
وللذين کسبوا دې د دوی د بدئ سزا به ددوی د بدئ په شان وی او په دوی باندې به سپکوالې خور
وی، دوی لره به د الله د عذاب نه څوک بچ کولو والا نه وی "من" زائده دې لکه چې د دوی په
مخونو باندې د تورې شپې څه حصه اچولې شوی وی قطعا د طاء فتحې سره، قطعا د قطعة
جمع ده، او د تاء په سکون سره په معنی د حصې ده او هم دغه خلق جهنميان دی او په دې
کښې به هميشه وی او هغه ورځ هم د ذکر قابله ده په کومه ورځ چې مونږ به ټول مخلوقات راجمع
کړو بيا به مشرکانو ته اووايو چې تاسو او ستاسو شريک بتان په خپل ځايونو باندې اوديرېږئ
"مکانکم" د الزموا مقدر د وجه منصوب دې "انتم" فعل مقدر په "الزموا" کښې د ضمير
مستتر تاکيد دې چې په ضمير مستتر باندې عطف صحيح شي نو مونږ به ددوی او

Scanned with

مومنانو په مينځ كښې جدائي راولو لكه چې په آيت وامتازو اليوم ايها المجرمون كښې دى او دوى ته به شريكان وائي تاسو زمونږ بندګى نه كوله ماء نافيه ده، د فواصلو خيال ساتلو د پاره مفعول "ايانا" مخكښې كړې شو نو زمونږ او ستاسو په مينځ كښې الله د ګواهئ د پاره دير دې "ان" مخففه عن المثقله دې اى انا،مونږ خو ستاسو دې عبادت نه بالكل ناخبره وو په دغه ورځ به هر يو د خپلو كړو مزه وڅكى "تبلو" د بلوى نه اخستې شوې دې او په يو قراءت كښې په دوو تاء سره دې په دغه وخت كښې به دا د "تلاوة" نه ماخوذ وى او دا خلق به د الله طرف ته چې ددوى حقيقى مولا دې ثابت او هميشه دې ورته واپس كړې شى او چې كوم دروغ دوى د شريكانو په باره كښې جوړ كړى وو غائب به شى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:واذا اذقنا الناس:...الى..اذا لهم مكر فى آيتنا، واو استينافيه اذا ظرفيه متضمن معنى د شرط لره، اذالهم جزاء شرط دې اذامفاجاتيه ده.

قوله: مجازاة

سوال: د مكر تفسير په مجازاة سره د كولو څه مقصد وو؟

جواب: چونكه د مكر نسبت الله تعالى طرف ته كول مناسب نه وو ځكه ئې د مكر تفسير په جزاء مكر سره اوكړو.

قوله:السفن: دفلك صيغه چونكه د مفرد او جمع د پاره شريكه ده ځكه ئې د فلك تفسير په سفن سره كولو كښې اشاره اوكړه چې دلته جمع مراد ده.

قوله:فيه التفات عن الخطاب: په مخكښې د خطاب صيغې استعمال شوې دى په "جرين بهم" كښې د غائب ضمير راوړلې شوې دې داسې د قباحت د زياتوالى د بيانولو د پاره شوې دې "جرين" ماضى د جمع مونث غائب صيغه ده، هغوى روان شو، هغوى جارى شول،د متعدى بالباء د وجه نه ددې معنى ده "هغه كيشتو دوى بوتلل.

قوله:ريح، الهواء المسخر بين السماء والارض: ريح په فضاكښې اويزانده شوې هوا ته وائى (المصباح) ريح په اصل كښې روح وو، واو ماقبل مكسور ياء سره بدل شو،نو ريح شو،ددې جمع رياح او رِواح راځى،ريح مؤنث سماعى دې.

قوله:وظنوا انهم احيط بهم: ددې عطف په "جاءهم" باندې دې او "ان" چې كوم ددې ماتحت دې هغه د ظنوا د دوو مفعولو په ځائې دې،او "احيط بهم" د "ان" خبر دې،او جمله "دعوا الله الخ د ظنوا" نه بدل اشتمال دې ځكه چې ددوى دعاء ددوى د هلاكت د ګمان په لوازمو كښې ده،او د سوال مقدر جواب كيدو په صورت كښې جمله مستانفه هم كيدې شى يعنى "ماذا صنعوا؟ قيل دعوا الله مخلصين له الدين.

قوله: اصله تزينت: باب تفعل

قوله: زرعهاء

سوال: دلته د مضاف د حذف كيدو څه فائده ده؟

جواب: كه زرع مضاف محذوف اونه منلې شي نو نفس زمكه پرې كول به لازم شي حالانكه د زمكې د پريكولو هيڅ مطلب نشته، ځكه ئې زرع مضاف محذوف اومنلو، او د مبالغې د اظهار د پاره ئې مضاف حذف كړو يعنى فصل پريكول داسې وو چې زمكه ئې پريكړه.

قوله: عطف على الذين احسنوا: دا د هغه خلقو د خبرې مطابق دې چې د في الدار زيد والحجرة عمرو تركيب جائز ګڼړي.

[اياتونه: ۳۱ - ٤۰]

{قُلْ} لَهُمْ {مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ} بِالْمَطَرِ {وَالْأَرْضِ} بِالنَّبَاتِ {أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ} بِمَعْنَى الْأَسْمَاعِ أَيْ خَلْقَهَا {وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ} بَيْنَ الْخَلَائِقِ {فَسَيَقُولُونَ} هُوَ {اللَّهُ فَقُلْ} لَهُمْ {أَفَلَا تَتَّقُونَ} هُ فَتُؤْمِنُونَ {فَذَلِكُمُ} الْفَاعِلُ لِهَذِهِ الْأَشْيَاءِ {اللَّهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ} الثَّابِتُ {فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ} اسْتِفْهَامُ تَقْرِيرٍ أَيْ لَيْسَ بَعْدَهُ غَيْرُهُ فَمَنْ أَخْطَأَ الْحَقَّ وَهُوَ عِبَادَةُ اللَّهِ وَقَعَ فِي الضَّلَالِ {فَأَنَّى} كَيْفَ {تُصْرَفُونَ} عَنِ الْإِيمَانِ مَعَ قِيَامِ الْبُرْهَانِ {كَذَلِكَ} كَمَا صُرِفَ هَؤُلَاءِ عَنِ الْإِيمَانِ {حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ فَسَقُوا} كَفَرُوا وَهِيَ {لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ} الْآيَةَ أَوْ هِيَ {أَنَّهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} {قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ قُلِ اللَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ فَأَنَّى تُؤْفَكُونَ} تُصْرَفُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ مَعَ قِيَامِ الدَّلِيلِ {قُلْ هَلْ مِنْ شُرَكَائِكُمْ مَنْ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ} بِنَصْبِ الْحُجَجِ وَخَلْقِ الْاهْتِدَاءِ {قُلِ اللَّهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ أَفَمَنْ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ} وَهُوَ اللَّهُ {أَحَقُّ أَنْ يُتَّبَعَ أَمَّنْ لَا يَهِدِّي} يَهْتَدِي {إِلَّا أَنْ يُهْدَى} أَحَقُّ أَنْ يُتَّبَعَ اسْتِفْهَامُ تَقْرِيرٍ وَتَوْبِيخٍ أَيِ الْأَوَّلُ أَحَقُّ {فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ} هَذَا الْحُكْمَ الْفَاسِدَ مِنِ اتِّبَاعِ مَا لَا يَحِقُّ اتِّبَاعُهُ {وَمَا يَتَّبِعُ أَكْثَرُهُمْ} فِي عِبَادَةِ الْأَصْنَامِ {إِلَّا ظَنًّا} حَيْثُ قَلَّدُوا فِيهِ آبَاءَهُمْ {إِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا} فِيمَا الْمَطْلُوبُ مِنْهُ الْعِلْمُ {إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ} فَيُجَازِيهِمْ عَلَيْهِ {وَمَا كَانَ هَذَا الْقُرْآنُ أَنْ يُفْتَرَى} أَيِ افْتِرَاءً {مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْرِهِ {وَلَكِنْ} أُنْزِلَ {تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ} مِنَ الْكُتُبِ {وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ} تَبْيِينَ مَا كَتَبَهُ اللَّهُ مِنَ الْأَحْكَامِ وَغَيْرِهَا {لَا رَيْبَ} شَكَّ {فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ} مُتَعَلِّقٌ بِتَصْدِيقٍ أَوْ بِأُنْزِلَ الْمَحْذُوفِ وَقُرِئَ بِرَفْعِ تَصْدِيقٍ وَتَفْصِيلٍ بِتَقْدِيرِ هُوَ {أَمْ} بَلْ أَ {يَقُولُونَ افْتَرَاهُ} اخْتَلَقَهُ مُحَمَّدٌ {قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ} فِي الْفَصَاحَةِ وَالْبَلَاغَةِ عَلَى وَجْهِ الْافْتِرَاءِ فَإِنَّكُمْ عَرَبِيُّونَ فُصَحَاءُ مِثْلِي {وَادْعُوا} لِلْإِعَانَةِ عَلَيْهِ {مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْرِهِ {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ} فِي أَنَّهُ افْتِرَاءٌ فَلَمْ تَقْدِرُوا عَلَى ذَلِكَ قَالَ تَعَالَى {بَلْ كَذَّبُوا بِمَا لَمْ يُحِيطُوا بِعِلْمِهِ} أَيِ الْقُرْآنِ وَلَمْ يَتَدَبَّرُوهُ {وَلَمَّا} لَمْ {يَأْتِهِمْ تَأْوِيلُهُ} عَاقِبَةُ مَا فِيهِ مِنَ الْوَعِيدِ {كَذَلِكَ} التَّكْذِيبِ {كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ

{قَبْلِهِمْ} رُسُلهمْ {فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِينَ} بتكذيب الرُّسُل أيْ آخِر أمْرهمْ مِن الْهَلَاك فَكَذٰلِك نُهْلِك هٰؤُلَاءِ {وَمِنْهُمْ} أيْ أهْل مَكَّة {مَنْ يُؤْمِنُ بِهِ} لِعِلْمِ الله ذٰلِكَ مِنْهُمْ {وَمِنْهُمْ مَنْ لَا يُؤْمِنُ بِهِ} أبَدًا {وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِالْمُفْسِدِينَ} تَهْدِيد لهم

ترجمه: ددوی نه تپوس اوکړه چې د آسمان نه د باران په ذريعه او د زمکې نه د نباتاتو په ذريعه تاسو ته څوک رزق درکوی؟ يا هغه څوک چې په غوګونو او سترګو باندې پورا اختيار لری؟ سمع په معنی د اسماع ده.يعنی چا دا پيدا کړل؟ او هغه څوک دې چې د ژوندی نه مړې او د مړی نه ژوندې راوباسی؟ او هغه څوک دې چې د مخلوق د معاملاتو تدبير کوی؟ خامخا به دوی وائی چه هغه الله دې، نو دوی ته اووايه چې بيا د الله نه ولې نه ويريږئ چې ايمان راوړئی نو دا چې د ددې تولو کارونو کولو والا دې الله دې ستاسو حقيقی رب دې بيا د حق نه پس سوا د ګمراهئ نه نور څه پاتې شول، استفهام تقريری دې يعنی دې نه پس هيڅ پاتې نه شول لهذا چې څوک د حق نه واوړيدو چې دا د الله عبادت دې نو ګمراهئ کښې پريوتلو او بيا دليل قائم کيدو باوجود د ايمان نه چرته تختئ دغه شان ستا د رب دا خبره چې دا خلق به ايمان نه راوړی د فاسقانو په حق کښې ثابته شوله هغه خبره "لاملئن جهنم الخ يا "انهم لا يؤمنون" ده.ته ورته اووايه چې ستاسو په شريکانو کښې څوک داسې شته چې په اول ځل هم پيدا کړی او په دويم ځل هم؟ ته ورته اووايه چې الله تعالی په اول ځل هم پيدا کوی او په دويم ځل به هم پيدا کوی،نو تاسو د دليل قائم کيدو باوجود د هغه د عبادت نه چرته اړولې شئ؟ ته دوی ته اووايه چې ستاسو په شريکانو کښې څوک داسې شته چې په دليلونو سره او د هدايت پيدا (تخليق) کيدو سره لاره ښائی؟ ته ورته اووايه چې صرف الله د حق لاره ښائی، ته ورته اووايه چې هغه ذات چې حق طرف ته لار ښائی ددې خبرې زيات لائق دې چې د هغه تابعداری دې اوکړې شی؟يا هغه چې په خپله ئې هدايت موندلې نه وی مګر دا چې هغه ته لار ښودنه اوکړې شی.زيات حقدار دې چې د هغه اتباع اوکړې شی، استفهام توبيخ او تقرير د پاره دې يعنی اول زيات حقدار د تابعدارئ دې آخر په تاسو څه شوې دی چې تاسو د غير حقدار څنګه غلطې فيصلې کوئ؟ حقيقت دادې چې په دوی کښې ډير د بت پرستئ په باره کښې صرف د خيال او ګمان تابعداری کوی ځکه چې دوی دې معامله کښې د خپل پلار نيکه تقليد کړې دې حالانکه ګمان حق يعنی علم مطلوب ضرورت لږ هم پورا کولې نشی داچې دوی څه کوی الله دې لره ښه پيژنی لهذا هغه به ددوی د اعمالو بدله ورکړی او دا قرآن داسې نه دې چې د الله د وحی نه بغير د خپل ځان نه جوړ کړې شوې وی بلکه دا خو د هغه کتابونو د تصديق د پاره نازل شوې دې چې کوم ددې نه مخکښې نازل شوې وو،او احکام وغيره چې کوم الله فرض کړې وود هغې تفصيل کولو والا دې په دې هيڅ شک نشته چې د رب العلمين نه نازل شوې دې(من رب العلمين) تصديق يا انزل محذوف متعلق دې او "تصديق او تفصيل" رفع سره هم لوستلې شوې دې د "هو" په تقدير سره آيا

دا خلق دا وائی چې دا محمد ﷺ د ځان نه جوړ کړې دې؟ تاسو دوی ته اووایئ چې تاسو هم په فصاحت او بلاغت کښې ددې پشان یو سورت جوړ کړئ راوړئی ځکه چې تاسو هم ځما په شان عربیان فصیح خلق یئ او په دې کښې د غیر الله نه چې څوک د مدد د پاره راغواړئی، نو راوئې غواړئی که چرې تاسو په دې دعوی کښې رشتونې یئ چې د ځان نه جوړ شوې دې، چنانچه هغوی دا کار اونکړې شو بلکه د یو داسې څیز ئې تکذیب شروع کړو چې د هغې هغوی علمی احاطه کولې نه شوه، یعنی د قرآن، او نه ئې په دې کښې غور او فکر اوکړو او اخر دوی ته ددې اخری نتیجه چې هغه وعید دې میلاؤ نه شو دغه شان د هغوی نه چې کوم مخکښې خلق وو د خپل رسولانو تکذیب کړې وو نو اوګورئی د رسولانو د تکذیب د وجه نه ددې ظالمانو انجام څه وو؟ یعنی ددوی اخری انجام هلاکت وو، نو دغه شان به دا خلق هم هلاک کړې شی په دې کښې بعضې خلق داسې دی چې دالله په علم کښې کیدو د وجه په هغه باندې ایمان راوړی، او بعضې داسې دی چې په هغه باندې به چرې هم ایمان راونړی. او ستا رب داسې مفسدان دیر ښه پیژنی. دا د هغوی د پاره زورنه ده..

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بمعنی الاسماع: په دې کښې اشاره ده چې په "السمع" باندې لام د استعراق د پاره دې چې د الابصار تقابل صحیح شی

سوال: د "یملک" تفسیر مفسر علام په "خلقها" سره ولې اوفرمائیلو؟

جواب: ځکه چې په سترګو او غوږونو کښې ملکیت د سترګو او غوږونو والا وی او هم دغه وجه ده چې د ارش صاحبِ اذن و سمع هم مالک وی، د دغه شبهې دفع کولو د پاره ئې د "ملک" تفسیر په "خلقها" سره اوکړو.

قوله: هوالله: **سوال:** د "هو" مقدر منلو څه وجه ده؟

جواب: چونکه دلته لفظ الله چې مقوله واقع شوې دې مفرد دې حالانکه مقوله جمله وی مفسر علام "هو" محذوف منلو سره اشاره اوکړه چې هو محذوف دې چې د هغې د وجه نه مقوله جمله ده نه چې مفرد.

قوله: اوهی انهم لایؤمنون: ددې اضافې مقصد دې خبرې ته اشاره کول دی چې د "کلمت ربک" نه دوه صورتونه مراد اخستلې شی یو خو د الله قول لاملئن جهنم الخ او دویم انهم لایومنون که ړومبې صورت وی نو "انهم لا یؤمنون" به علت وی یعنی لانهم لایؤمنون:

قوله: بنصب الحجج: په دې کښې اشاره ده چې د هدایت نه مراد صرف اراءة الطریق نه دې ځکه چې دا د الله تعالی سره خاص نه دې ځکه نور هم د لارښودنې کار کولې شی، په خلاف د ایصال الی المطلوب، چې هغه دلته مراد دې هغه الله تعالی سره خاص دې.

Scanned with

قوله: يهتدى: ددې اضافې مقصد د "يهدى" اصل ښودل دى چې يهدى په اصل کښې د باب افتعال نه "يهتدى" دې، تاء په دال کښې د قلب نه پس ادغام اوشو، او ياء ته مو د التقاء ساکنين د وجه نه کسره ورکړه.

قوله: احق ان يتبع: داد "امرمن لايهدى" مبتدأ خبر دې...

[اياتونه: ٤١ـ ٥٣]

{وَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقُلْ} لَهُمْ {لِي عَمَلِي وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ} أَيْ لِكُلٍّ جزاء عَمله {أَنْتُمْ بَرِيئُونَ مِمَّا أَعْمَلُ وَأَنَا بَرِيءٌ مِمَّا تَعْمَلُونَ} وَهَذَا مَنْسُوخ بِآيَةِ السَّيْف {وَمِنْهُمْ مَنْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْكَ} إذَا قَرَأْت الْقرآن {أَفَأَنْتَ تُسْمِعُ الصُّمَّ} شَبَّهَهُمْ بِهِمْ فِي عَدَم الِانْتِفَاع بِمَا يُتْلَى عَلَيْهِمْ {وَلَوْ كَانُوا} مَعَ الصم {لَا يَعْقِلُونَ} يَتَدَبَّرُونَ {وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْظُرُ إِلَيْكَ أَفَأَنْتَ تَهْدِي الْعُمْيَ وَلَوْ كَانُوا لَا يُبْصِرُونَ} شَبَّهَهُمْ بِهِمْ فِي عَدَم الِاهْتِدَاء بَلْ أَعْظَم {فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ} {إن الله لا يظلم الناس شيئاً ولكن الناس أنفسهم يظلمون} {وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ كَأَنْ} أَيْ كَأَنَّهُمْ {لَمْ يَلْبَثُوا} فِي الدُّنْيَا أَوْ الْقُبُور {إِلَّا سَاعَةً مِنَ النَّهَارِ} لِهَوْلِ مَا رَأَوْا وَجُمْلَة التَّشْبِيه حَال مِنْ الضَّمِير {يَتَعَارَفُونَ بَيْنَهُمْ} يَعْرِف بَعْضهمْ بَعْضًا إذَا بُعِثُوا ثُمَّ يَنْقَطِع التَّعَارُف لِشِدَّةِ الْأَهْوَال وَالْجُمْلَة حَال مُقَدَّرَة أَوْ مُتَعَلِّق الظَّرْف {قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ} بِالْبَعْثِ {وماكانوا مهتدين} {وَإِمَّا} فِيهِ إدْغَام نُون إنْ الشَّرْطِيَّة فِي مَا الْمَزِيدَة {نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ} بِهِ مِنْ الْعَذَاب فِي حَيَاتك وَجَوَاب الشَّرْط مَحْذُوف أَيْ فَذَاكَ {أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ} قَبْل تَعْذِيبهمْ {فَإِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ اللَّهُ شَهِيدٌ} مُطَّلِع {عَلَى مَا يَفْعَلُونَ} مِنْ تَكْذِيبهمْ وَكُفْرهمْ فَيُعَذِّبهُمْ أَشَدّ الْعَذَاب {وَلِكُلِّ أُمَّةٍ} مِنْ الْأُمَم {رَسُولٌ فَإِذَا جَاءَ رَسُولُهُمْ} إلَيْهِمْ فَكَذَّبُوهُ {قُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ فَيُعَذَّبُونَ وَيُنَجَّى الرَّسُول وَمَنْ صَدَّقَهُ {وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} بِتَعْذِيبِهِمْ بِغَيْرِ جُرْم فَكَذَلِكَ نَفْعَل بِهَؤُلَاءِ {وَيَقُولُونَ مَتَى هَذَا الْوَعْدُ} بِالْعَذَابِ {إِنْ كُنْتُمْ صادقين} فيه {قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي ضَرًّا} أَدْفَعهُ {وَلَا نَفْعًا} أَجْلِبهُ {إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ} أَنْ يُقْدِرنِي عَلَيْهِ فَكَيْفَ أَمْلِك لَكُمْ حُلُول الْعَذَاب {لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ} مُدَّة مَعْلُومَة لِهَلَاكِهِمْ {إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ} يَتَأَخَّرُونَ عَنْهُ {سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ} يَتَقَدَّمُونَ عَلَيْهِ {قُلْ أَرَأَيْتُمْ} أَخْبِرُونِي {إِنْ أَتَاكُمْ عَذَابه} أَيْ اللَّه {بَيَاتًا} لَيْلًا {أَوْ نَهَارًا مَاذَا} أَيّ شَيْء {يَسْتَعْجِلُ مِنْهُ} أَيْ الْعَذَاب {الْمُجْرِمُونَ} الْمُشْرِكُونَ فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر وَجُمْلَة الِاسْتِفْهَام جَوَاب الشَّرْط كَقَوْلِك إذَا أَتَيْتُك مَاذَا تُعْطِينِي وَالْمُرَاد بِهِ التَّهْوِيل أَيْ مَا أَعْظَم مَا استعجلوه {أَثُمَّ إِذَا مَا وَقَعَ} حَلَّ بِكُمْ {آمَنْتُمْ بِهِ} أَيْ اللَّه أَوْ الْعَذَاب عِنْد نُزُوله وَالْهَمْزَة لِإِنْكَارِ التَّأْخِير فَلَا يُقْبَل مِنْكُمْ وَيُقَال لَكُمْ {آلْآنَ} تُؤْمِنُونَ {وَقَدْ كُنْتُمْ بِهِ تَسْتَعْجِلُونَ} استهزاء {ثُمَّ قِيلَ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ الْخُلْدِ} أَيْ الَّذِي تَخْلُدُونَ فِيهِ {هَلْ} مَا {تُجْزَوْنَ إِلَّا} جزاء {بماكنتم تكسبون} {وَيَسْتَنْبِئُونَكَ} يَسْتَخْبِرُونَك {أَحَقٌّ هُوَ} أَيْ مَا وَعَدْتنَا بِهِ مِنْ الْعَذَاب وَالْبَعْث {قُلْ إِي} نَعَمْ {وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ} بِفَائِتِينَ العذاب.

Scanned with

ترجمه: که دوی ستا تکذیب کوی نو دوی ته اووایه چې ځما عمل ځما د پاره دې او ستاسو عمل ستاسو د پاره دې یعنی هر سړی ته به د هغه د عمل بدله ورکولې شی چې څه څه کوم نو د هغې د ذمه دارئی نه تاسو خلاص او څه چې تاسو کوئی نو د هغې د ذمه دارئ نه ځه خلاص او دا د آیت سیف په ذریعه منسوخ دې او په دوی کښې ډیر خلق داسې دی چې ستا خبرې اوری چې کله ته قرآن لولې خو آیا ته به ئې کاڼړو ته واوروې کافران ئې د قرآن نه فائده نه اخستلو د وجه د کڼړو سره یوشان کړل. اګرچې دوی د کوڼړتوب سره سره په څه باندې پوهیږی هم نه، یعنی غور او فکر نه کوی او په دوی کښې بعضې داسې خلق دی چې تاته ګوری نو آیا بیا تاسو ړاندو ته لار ښایئ سره ددې چې ددوی بصیرت هم نشته دې کافرانو ته ئې د هدایت د نشتوالی د وجه ړندو سره تشبیه ورکړه بلکه دوی ددې نه هم زیات دی، ځکه چې دوی د سترګو ړانده نه دی بلکه د زړه ړانده دی چې هغه ددوی په سینو کښې دې او دا یقینی خبره ده چې الله تعالی په خلقو باندې هیڅ ظلم نه کوی هغوی په خپله ځان تباه کوی دوی ته هغه ورځ ورياده کړه چې په کومه ورځ به الله دوی په داسې حالت سره جمع کړی چې هغوی به د منظر دسختوالی د وجې خیال کوی چې ګویا دوی په دنیا کښې یا په قبرونو کښې د ورځې یو ساعت پاتې شوی وو او جمله تشبیه د "یحشرهم" د مفعول ضمیر نه حال دې خپلو کښې به یو بل پیژنی کله چه د قبرونو نه اوچت کړې شی بیا به د سختو د شدت د وجې نه دا پیژندګلو ختمه شی او جمله د "یحشرهم" ضمیر "هم" نه حال مقدره دې یه د "یوم" ظروف متعلق دې واقعی په سخت تاوان کښې پریوتل هغه خلق چاچې د بعث په ذریعه سره د الله تعالی دعلاماتو تکذیب اوکړو او هغوی هدایت موندونکی نه وو او چې د کوم عذاب مونږ هغوی سره وعده کوو، په "اما" د نون شرطیه په د "ما" زائده کښې ادغام دې ددې څه حصه ستاسو په زندګئ کښې تاسو ته اوښایو او جواب شرط محذوف دې یعنی دا هم کیدې شی یا دوی ته عذاب ورکولو نه مخکښې مونږ تاسو وفات کړو بهر حال دوی لره زمونږ خوا ته راتلل دی بیا الله ددوی د هر کار نه خبردار دې که هغه د دوی د کفر د قبیلې نه وی یا د دروغ ګڼړلو د قبیلې نه، لهذا هغه به دوی ته سخت عذاب ورکړی او هر امت د پاره یو رسول دې چې کله یو امت ته د هغوی رسول راشی او دوی هغه دروغ ګڼړی نو د هغه فیصله پورا انصاف سره کولې شی نو دغه شان دوی ته عذاب ورکولې شی او رسول او دده تصدیق کونکو ته خلاصې میلاؤ شی او په دوی باندې ظلم نه کیږی چې دوی ته بغیر ظلم سزا ورکړې شی، نو دغه شان به دوی سره هم اوشی دا خلق وائی چې ددې عذاب وعده به کله وی؟ که چرې تاسو په وعده کښې رشتونی یئ اې نبی ﷺ اووایه چې ځما په اختیار کښې خپل نقصان هم نشته چې د ځان نه ئې لرې کړم خو یا حاصل کړم خو صرف دومره څومره چې الله غواړی دا چې خه په دې باندې قادر یم، نو ماته به په تاسو باندې د عذاب نازلولو څه قدرت وی؟ د هر امت د هلاکت یو وخت مقرر وی هر کله

Scanned with

چې هغه وخت پورا شي نو ددې نه يو ساعت برابر هم مخکښې والې روستو والې نه کيږي دوی ته اووايه چې ماته اووايئ که چرې د الله تعالى عذاب د شپې يا د ورځې په تاسو باندې راشي نو تاسو څه کولې شئ؟ آخر عذاب داسې څه څيز دې چې د هغې د پاره مجرم مشرک جلدي کوی په دې کښې د ضمير په ځائې اسم ظاهر ايښودې شوې دې جمله استفهاميه جواب شرط دې څنګه چې ددې مثال ان اتيتك ماذا تعطيني او مراد دې نه هغه سختوالې بيانول دی يعنی د کوم په دوی باندې تادی ده،څومره لويه ورځ ده ! آيا چې څه وخت په دوی باندې عذاب راشي نو هغه وخت به دوی ايمان راوړی؟يعنی په الله باندې يا د هغه په عذاب باندې ددې د نازليدو په وخت کښې، او همزه انکار د تاخير د پاره ده،نوستاسو به هغه ايمان قبول نه وی،او تاسو ته اوئيلې شی اوس ايمان راوړئی حالانکه تاسو په خپله توقې ددې د زر راتلو تقاضه کوله بيا به ظالمانو ته اووئيلې شی چې اوس هميشګير عذاب اوڅکئ يعنی په داسې عذاب کښې چې په هغې کښې تاسو هميشه اوسيږئی تاسو ته هم ستاسو د کړو بدله ميلاؤ شوې ده، ستاسو نه تپوس کوی چې عذاب آيا رشتيا خبره ده؟ يعنی چې د کوم عذاب او بعث تا وعده کړې ده آيا هغه په رشتيا دی؟ تاسو ورته اووايئ چې او قسم دې وی ځما په رب باندې،هغه رشتونې خبره ده او تاسو هيڅ کله الله تعالى عاجزه کولې نشئ،يعنی د هغه د عذاب نه بچ کيدې نه شئ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: هذا منسوخ بآية السيف: فهي قوله تعالى فاقتلوهم حيث وجدتموهم الخ،

قوله: بل هم اعظم: کافرانو له ئې ړندو سره تشبيه ورکړه، ړانده مشبه به دې، او کافران مشبه، د بصيرت نشتوالې د نظر د نشتوالى نه زيات سخت دې،کافران چونکه د زړه سترګې نه لری لهذا کافران په ګمراهئ کښې د ړاندو نه هم زيات دی.

قوله: کانهم:په دې کښې اشاره ده چې "کان" مخففه عن المثقله دې،او ددې اسم محذوف دې،

قوله: وجملة التشبيه حال من الضمير: څکه چې د يوم صفت ګرځولو په صورت کښې به تقدير څه دا شان وی حال کونهم مشبهين بمن لم يلبث الاساعة الخ

قوله: والجملة حال مقدرة:د يو سوال مقدر جواب دې

سوال: يتعارفون، د يحشرهم ضمير "هم" نه حال دې،او د حال او ذوالحال زمانه يوه وی لهذا حشر به اول وی او پيژندګلنه به روستو وی، نو لهذا د دواړو زمانه يوه نشوه؟

جواب: دا حال مقدره دې چې کافران به جمع کړې شی په داسې حال کښې چې ددوی د پاره تعارف مقدر کړې شوې دې ای حال کونهم مقدرين التعارف لا انهم متعارفون بالفعل

قوله: اومتعلق الظرف:او هغه "يوم" دې تقرير دادې يتعارفون يوم يحشرهم

Scanned with

قوله: وجواب الشرط محذوف: اي فذاك،دا اضافه د يو سوال جواب دي

سوال: اما نرينك،اونتوفينك،دوه شرطونه دي او يو جزا ده او هغه "فالينا مرجعهم" ده حالانكه "اما نرينک باندې د فالينا مرجعهم" ترتب د معنې د خراب والی د وجه صحيح نه دی.

جواب: حاصل دادې چې "فالينا مرجعهم" د دواړه شرطونو جزاء نه ده بلکه د "اما نرينک" جزاء محذوف ده چې هغې ته مفسر علام "فذاک" محذوف سره اشاره کړې ده

سوال: "فذاک" جزاء ده، حالانکه جزاء مفرد نه وی؟

جواب: د "فذاک" اصل "فذاک حق" دې

قوله: وضع الظاهر موضع المضمر:

سوال: يستعجل منه المجرمون ئې اوفرمائيلو او يستعجلون منهئې او نه فرمائيلو حالانکه دا د هغې په مقابله کښې اخصر دې؟

جواب: د اخصر په مقابله کښې د مختصر تعبير اختيارولو وجه دا ده چې په مختصر کښې سبب په ترک د استعجال باندې دلالت دې او هغه جرم دې دغه شان دې نه علاوه ددوی د قباحتوالی په صفت باندې هم دلالت کوی

قوله: وجملة الاستفهام: جواب شرط دې او ان اتكم عذابه شرط دې او "ماذاء د فاء تقدير سره جواب شرط دې ځکه چې جمله استفهاميه بغير د فاء نه جزاء واقع کيدې نشی.

قوله: ان اتيتك ماذا تعطيني: دا مثال د استبعاد د لرې کولو د پاره دې يعنى دې وئيلو دپاره چی په کلام عرب کښې جمله استفاميه بغير د فاء نه هم جزاء واقع کيدې شی لهذا هيڅ اعتراض نشته.

قوله: والمراد به التهويل: يعنى د استفهام نه مراد استعلام نه دې بلکه سختوالې بيانول دی.

قوله: ويقال لكم: ددې عبارت تقدير د يو سوال د جواب د پاره دې.

سوال: ثم قيل لهم، عطف په الئن وقد كنتم به تستعجلون باندې دې حالانکه معطوف عليه جمله اسميه او معطوف جمله فعليه ده،

جواب: د معطوف عليه نه مخکښې فعل مخذوف دې،چې هغه مفسر علام په ويقال لكم سره ظاهر کړو ،لهذا اوس څه اشکال نشته.

قوله: تؤمنون:

سوال: آلئن ديقال لكم مقوله ده، حالانکه مقوله جمله وی او آلئن مفرد دې؟

جواب: عبارت محذوف دې تقديری عبارت دادې الئن تؤمنون څنګه چې مفسر علام ښکاره کړې ده، لهذا اوس هيڅ اعتراض نشته.

Scanned with

[اياتونه: ٥٤ _ ٦٠]

{وَلَوْ أَنَّ لِكُلِّ نَفْسٍ ظَلَمَتْ} كَفَرَتْ {مَا فِي الْأَرْضِ} جَمِيعًا مِنَ الْأَمْوَال {لَافْتَدَتْ بِهِ} مِنَ الْعَذَاب يَوْم الْقِيَامَة {وَأَسَرُّوا النَّدَامَةَ} عَلَى تَرْك الْإِيمَان {لَمَّا رَأَوُا الْعَذَاب} أَخْفَاهَا رُؤَسَاؤُهُمْ عن الضعفاء الذين اضلوهم مخافة التعيير {وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ} بَيْن الْخَلَائِق {بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ {وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ} شَيْئًا {أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَلَا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ} بِالْبَعْثِ وَالْجَزَاء {حَقٌّ} ثَابِت {وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ} أَيْ النَّاس {لَا يعلمون} ذلك {هو يحيي وَيُمِيت وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ} فِي الْآخِرَة فَيُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ {يَا أَيُّهَا النَّاس} أَيْ أَهْل مَكَّة {قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ} كِتَاب فِيهِ مَا لَكُمْ وَمَا عَلَيْكُمْ وَهُوَ الْقُرْآن {وَشِفَاءٌ} دَوَاء {لِمَا فِي الصُّدُور} مِنَ الْعَقَائِد الْفَاسِدَة وَالشُّكُوك {وَهُدًى} مِنَ الضَّلَال {وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ} بِهِ {قُلْ بِفَضْلِ اللَّه} الْإِسْلَام {وَبِرَحْمَتِهِ} الْقُرْآن {فَبِذَٰلِكَ} الْفَضْل وَالرَّحْمَة {فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ} مِنَ الدُّنْيَا بِالْيَاءِ وَالتَّاء {قُلْ أَرَأَيْتُمْ} أَخْبِرُونِي {مَا أَنْزَلَ اللَّه} خَلَقَ {لَكُمْ مِنْ رِزْق فَجَعَلْتُمْ مِنْهُ حَرَامًا وَحَلَالًا} كَالْبَحِيرَةِ وَالسَّائِبَة وَالْمَيْتَة {قُلْ آللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ} فِي ذَٰلِكَ بِالتَّحْلِيلِ وَالتَّحْرِيم لَا {أَمْ بَلْ عَلَى اللَّهِ تَفْتَرُونَ} تَكْذِبُونَ بِنِسْبَةِ ذَٰلِكَ إِلَيْهِ {وَمَا ظَنُّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِب} أَيْ أَيّ شَيْء ظَنّهمْ بِهِ {يَوْم الْقِيَامَة} أَيَحْسَبُونَ أَنَّهُ لَا يُعَاقِبهُمْ لَا {إِنَّ اللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاس} بِإِمْهَالِهِمْ وَالْإِنْعَام عَلَيْهِمْ {ولكن أكثرهم لا يشكرون}

ترجمه: که يو کس سره چا چې کفر کولو سره ظلم اوکړو، د زمکې ټول دولت وی نو هغه به د قيامت په ورځې د عذاب نه د خلاصی د پاره په فديه ورکولو باندې تيار وی او هر کله چې عذاب اوينی نو د ايمان په پريښودلو باندې به پښيمانتيا پټوی يعنی د دوی مشران به د پيغور د ورکولو په ويره خپله پښيمانتيا د د کمزورو خلقو نه پټوی، کوم چې ذوی گمراه کړې وو خو ددوی يعنی مخلوق په مينځ کښې به پورا انصاف سره فيصله کيږی او په دوی باندې به ذره برابر هم ظلم کولې نشی، واورئی اپه آسمانونو او زمکه کښې چې څه دی هغه د الله دی او واورئی چې د بعث او بدلې د الله وعده رشتينې ده خو اکثر خلق دې نه خبر نه دی،هم هغه ژوند ورکوی او هم هغه مړه کول کوی او په آخرت کښې به تاسو هم د هغه طرف ته واپس کولې شئ نو هغه به تاسو ته ستاسو د اعمالو بدله درکړی اې خلقو يعنی مکې والو تاسو ته ستاسو د رب د طرف نه نصيحت نامه راغلې ده چې په دې کښې د فائدې او د نقصان د څيزونو خبرې دی او هغه قرآن دې او د زړه د بيمارو د پاره يعنی د خرابو عقيدو او شکونو د پاره شفاء ده او د گمراهئ نه هدايت دې او په دې باندې يقين ساتونکو د پاره هدايت او رحمت دې اووايه چې د الله په فضل يعنی په اسلام او د هغه په رحمت يعنی په قرآن خوشحالی کول پکار دی په دې باندې خو خوشحاله کيدل پکار دی دا د دنيا د هغه ټولو څيزونو نه بهتر ده کوم چې دوی جمع کوی يجمعون ياء او تاء سره دې اې نبی ﷺ دوی ته اووايه چې آيا تاسو چرته سوچ کړې دې

Scanned with

چې الله کوم رزق ستاسو د پاره راليږلې دې نو هغه تاسو په خپله څه حرام او څه حلال کړل لکه سائبه، بحيره او مرداره دوی نه تپوس اوکړه چې آيا الله تاسو ته ددې حلالو او حراملو اجازت درکړې وو؟نا بلکه تاسو په الله باندې د هغه طرف ته د دروغو نسبت کولو سره الزام لګوئی،کوم خلق چې الله تعالى باندې دروغ بهتان تړی د هغوی څه ګمان دې چې د قيامت په ورځ به د دوی سره څنګه معامله کیږی؟آيا ددوی دا ګمان دې چې الله به دوی ته سزا نه ورنکړی؟ الله تعالى خو خلقو ته مهلت ورکولو او په دوی باندې انعام کولو سره په دوی باندې رحم کولو والا دې خو اکثر خلق دهغه شکر نه ادا کوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:لو ان لكل نفس ظلمت ما في الارض لافتدت به : "لو" شرطيه امتناعيه،"ان" حرف مشبه بالفعل، نفس ظلمت موصوف صفت د "ان" د پاره خبر مقدم، "ما" اسم موصول محلا منصوب، "ان" د خپل ماتحت "ثبت" د فعل محذوف فاعل، "ما" موصوله صله سره ميلاؤيدو سره جمله او بيا د "ان" اسم، لافتدت جواب الشرط،اى لوثبت ذلك لافتدت به.

قوله:اي اخفاها: د "اسروا" تفسير په "اخفاها" سره د معنې د بيان د پاره دې،چې "اسروا" د اضدادو نه دې ځکه چې ددې معنى د "اظهر" هم ده،او د "أخفا" هم، دويمه معنى زياته مشهوره ده،اګرچې احتمال د دوارو شته.

قوله: اي شيء ظنهم: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې په "ما ظن الذين" کښې "ما" په معنى د "اى شىء" مبتدأ ده،اوظن الذين يفترون على الله ددې خبر دې،او "يوم د ظن" د وجه منصوب دې،اى ظن واقع فيه.

[اياتونه: ۶۱-۷۰]

{وَمَا تَكُونُ} يَا مُحَمَّد {فِي شَأْنٍ} أَمْر {وَمَا تَتْلُو مِنْهُ} أَيْ مِنَ الشَّأْن أَوْ اللَّه {مِنْ قُرْآن} أَنْزَلَهُ عَلَيْك {وَلَا تَعْمَلُونَ} خَاطَبَهُ وَأُمَّته {مِنْ عَمَل إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا} رُقَبَاء {إِذْ تُفِيضُونَ} تَأْخُذُونَ {فِيهِ} أَيْ الْعَمَل {وَمَا يَعْزُب} يَغِيب {عَنْ رَبّك مِنْ مِثْقَال} وَزْن {ذَرَّة} أَصْغَر نَمْلَة {فِي الْأَرْض وَلَا فِي السَّمَاء وَلَا أَصْغَر مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَر إِلَّا فِي كِتَاب مُبِين} بَيِّن هُوَ اللَّوْح الْمَحْفُوظ {أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاء اللَّه لَا خَوْف عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ} فِي الْآخِرَة هم {الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ} اللّه بِامْتِثَالِ أَمْره وَنَهْيه {لَهُمْ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاة الدُّنْيَا} فُسِّرَتْ فِي حَدِيث صَحَّحَهُ الْحَاكِم بِالرُّؤْيَا الصَّالِحَة يَرَاهَا الرَّجُل أَوْ تُرَى لَهُ {وَفِي الْآخِرَة} الْجَنَّة وَالثَّوَاب {لَا تَبْدِيل لِكَلِمَاتِ اللَّه} لَا خُلْف لِمَوَاعِيدِهِ {ذَلِكَ} الْمذكور {هُوَ الْفَوْز الْعَظِيم} {وَلَا يَحْزُنك قَوْلهمْ} لَك لَسْت مُرْسَلًا وَغَيْره {إِنَّ} اسْتِئْنَاف {الْعِزَّة} الْقُوَّة {لِلَّهِ جَمِيعًا هُوَ السَّمِيع} لِلْقَوْلِ {الْعَلِيم} بِالْفِعْلِ فَيُجَازِيهِمْ وَيَنْصُرك {أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَنْ فِي السَّمَاوَات وَمَنْ فِي الْأَرْض} عَبِيدًا وَمُلْكًا وَخَلْقًا

Scanned with

{وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ} يَعْبُدُونَ {مِنْ دُونِ اللَّه} أيْ غَيْره أصْنَامًا {شُرَكَاء} لَهُ عَلَى الْحَقِيقَة تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ {إنْ} مَا {يَتَّبِعُونَ} فِي ذَلِكَ {إلَّا الظَّنّ} أيْ ظَنَّهُمْ أنَّهَا آلِهَة تَشْفَع لَهُمْ {وَإنْ} مَا {هُمْ إلَّا يَخْرُصُونَ} يَكْذِبُونَ فِي ذلك {هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا} إسْنَاد الْإِبْصَار إلَيْهِ مَجَاز لِأَنَّهُ يُبْصِر فِيهِ {إنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ} دَلَالَات عَلَى وَحْدَانِيّته تَعَالَى {لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ} سَمَاع تَدَبُّر واتعاظ {قَالُوا} أيْ الْيَهُود وَالنَّصَارَى وَمَنْ زَعَمَ أنَّ الْمَلَائِكَة بَنَات اللَّه {اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا} قَالَ تَعَالَى لَهُمْ {سُبْحَانه} تَنْزِيهًا لَهُ عَنْ الْوَلَد {هُوَ الْغَنِيّ} عَنْ كُلّ أحَد وَإنَّمَا يَطْلُب الْوَلَد مَنْ يَحْتَاج إلَيْهِ {لَهُ مَا فِي السَّمَاوَات وَمَا فِي الْأَرْض} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا {إنْ} مَا {عِنْدَكُمْ مِنْ سُلْطَان} حُجَّة {بِهَذَا} الَّذِي تَقُولُونَهُ {أتَقُولُونَ عَلَى اللَّه مَا لَا تَعْلَمُونَ} اسْتِفْهَام تَوْبِيخ {قُلْ إنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّه الْكَذِب} بِنِسْبَةِ الْوَلَد إلَيْهِ {لَا يُفْلِحُونَ} لَا يَسْعَدُونَ لَهُمْ {مَتَاع} قَلِيل {فِي الدُّنْيَا} يَتَمَتَّعُونَ بِهِ مُدَّة حَيَاتهمْ {ثُمَّ إلَيْنَا مَرْجِعهمْ} بِالْمَوْتِ {ثُمَّ نُذِيقهُمْ الْعَذَاب الشَّدِيد} بعد الموت {بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ}

ترجمه: او اې محمد ﷺ ته چې په کوم شان (حال) کښې هم ئې او ددې شان (حال) د وجه نه د قرآن نه چې څه په تا باندې نازل شوې دی څه تلاوت کوې یا د الله د طرف نه د قرآن تلاوت کوې او ته چې څه هم کار کوې او دا حضورپاک ﷺ او د هغه امت ته خطاب دې مونږه ددې کار نه خبرداریوو، هر کله چې تاسو په دې کار کښې مشغولیږئ ذره برابر څه څیز داسې نشته نه په زمکه کښې او نه په آسمان کښې او نه دې مقدار نه وړوکې او نه غټ، چې هغه په کتاب مبین یعنی لوح محفوظ کښې موجود نه وی ذره وړوکی میږی ته وائی یاد ساتئ یقینی خبره ده چې د الله دوستانو د پاره به په آخرت کښې نه څه ویره وی او نه به ئې څه غم وی او دا هغه خلق دی چې ایمان ئې راوړې دې او ددې په امر او نهی باندې عمل کولو سره د الله نه ویریدل ددې خلقو د پاره په دنیا کښې زیرې دې په یو حدیث کښې چې کوم ته حاکم صحیح وئیلې دی، د خوشخبری تفسیر د ښو خوبونو سره شوې دې چې کوم انسان پخپله گوری یا انسان باره کښې بل څوک گوری او په آخرت کښې د جنت او ثواب خوشخبری ده د الله په خبرو یعنی د هغه په وعدو کښې روستوالې نه وی دا ذکر شوې خبره ډیره غټه کامیابی ده دې د دوی خبرې دا چې ته نبی ﷺ نه ئې وغیره په غم کښې وانچوی، یقینی خبره داده چې ټول قوت الله لره دې دا جمله مستانفه ده، هغه ټولو خبرو لره اوری او کارونه پیژنی هغه به دوی ته بدله ورکړی او د ستا به مدد وکړی یاد ساتئ په زمکه او آسمانونو کښې چې څه دی د غلام ملک او تخلیق په اعتبار سره د الله دی کوم خلق چې الله پریښودلو سره د الله نه سواء د هغه د شریکانو بندگی کوی یقنینی خبره ده چې الله د هغوی نه بیزاره دې دا خلق په دې معامله کښې صرف د خیالاتو تابعداری کوی یعنی د دوی دا خیال دې چې دا بتان ددوی معبودان دی، ددوی سفارش به کوی دا خلق صرف د اندازې خبرې کوی یعنی په دې معامله کښې د دروغو نه کار اخلی هغه

صرف الله دي چې ستاسو د پاره ئې شپه جوړه کړه چې تاسو په کښې سکون آرام حاصل کړئ او ورځ ئې روښانه کړه ددې طرف ته د ابصار اسناد مجازی دې ځکه چې په ورځ کښې لیدلې شی بې شکه په دې کښې د الله د وحدانیت نښې دی د هغه خلقو د پاره چې د نصیحت او غوروفکر په توګه اوری یهود او عیسایان او د چا چې دا عقیده ده چې فرښتې د الله لوڼړه دې وائی چې الله اولاد لری الله تعالی دوی ته اوئیل سبحان الله هغه خو د اولاد نه پاک دې هغه خو د هر څیز نه بې پرواه دې د بچی حاجت خو هغه چا ته وی چې هغه محتاج وی په زمکه او آسمانونو کښې چې څه دی هغه هم د هغه دی د ملک کیدو په اعتبار سره، مخلوق اعتبار سره او د غلام کیدو په اعتبار سره، څه چې تاسو وایئ تاسو سره ددې خبرې هیڅ دلیل نشته، آیا تاسو د الله په باره کښې داسې خبرې کویئ چې د هغې تاسو ته علم نشته استفهام د رټنې د پاره دې، اې محمد ﷺ او وایه چې کوم خلق د هغه طرف ته د بچی نسبت کولو سره په الله باندې بهتان لګوی هغوی کامیابی حاصلیدونکی نه دی، ددوی د پاره په دنیا کښې د یو څو ورځو مزې دی تو له زندګی دې مزه واخلی بیا د مرګ نه پس دوی له زمونږ طرف ته راتلل دی بیا به مونږ ددوی د کفر په بدله کښې د مرګ نه پس د سخت عذاب مزه ورڅکوو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وما تکون فی شأن: په دې کښې خطاب حضورپاک ﷺ ته دې د شان معنی حال، کار، فکر، او اهم معامله ده، جمع ئې شئون دې، واؤ عاطفه، ما نافیه، تکون فعل مضارع ناقص، په دې کښې پټ ضمیر د انت هغه ئې اسم، "فی شان" د "کائنا" سره متعلق د تکون خبر، "وما تتلوا واؤ عاطفه، ما نافیه، تتلوا فعل مضارع، او په دې کښې پټ ضمیر د "انت" دې فاعل، "منه" د "تتلوا" سره متعلق، د "منه" ضمیر قرآن ته، یا شان ته راجع دې، که چرې "شان" ته راجع وی نو "من" تعلیلیه به وی، او په "من القرآن" کښې "من" زائد، او قرآن محلا مفعول به دې

سوال: په دې صورت کښې به اضمار قبل الذکر لازم شی،

جواب: د تفحیم او تعظیم د وجه اضمار قبل الذکر جائز دې د "منه" ضمیر ضمیر شان هم کیدې شی، او د الله طرف ته هم راجع کیدې شی څنګه چې مفسر علام دواړو احتمالاتو ته په "ای من الشان الله" سره اشاره کړې ده، یعنی تاسو په هیڅ حالت کښې نه یئ او نه په شان (حالت) د تلاوت کښې یئ، مګر الله ستاسو د حال نه خبر دې.

قوله: حاطبه وامته: دا د یو سوال مقدر جواب دې

سوال: دا دې مخکښې خطاب یواځې حضورپاک ﷺ ته وو، او هم دغه وجه ده چې ضمیر د مفرد ئې راوړو، او دلته په تعملون کښې د جمع صیغه استعمال شوې ده، چې کومه د سیاق خلاف ده؟

Scanned with

جواب: حاصل دادې چې دلته په خطاب كښې امت هم شامل دې
قوله: الاكنا عليكم شهودا: دا د مخاطبينو د عام حالاتو نه استثناء مفرغه ده.
قوله: وزن ذرة: ددې اضافې مقصد هم د يو سوال جواب دې
سوال: دادې چې مثقال يو متعين مقدار دې حالانكه دلته د يو مخصوص مقدار معنى مراد نه ده.

جواب: حاصل دادې چې مفسر علام د مثقال تفسير په وزن سره كولو كښې ددې اعتراض جواب ته اشاره كړې ده چې دلته معين مخصوص مقدار مراد نه دې بلكه مطلق وزن مراد دې.
قوله: هم: اشاره ئې اوكړه چې الذين آمنوا الخ د "هم" مبتدأ خبر دې
قوله: لانه مبصر فيه: دې عبارت سره مفسر علام اشاره اوكړه چې والنهار مبصرا كښې د ظرفيت علاقه ده، څنګه چې نهاره صائم وليله قائم كښې علاقه د ظرفيت ده.

[اياتونه: ۷۱ ـ ۸۲]

{وَاتْلُ} يَا مُحَمَّد {عَلَيْهِمْ} أَيْ كُفَّار مَكَّة {نَبَأَ} خَبَر {نُوحٍ} وَيُبْدَل مِنْهُ {إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنْ كَانَ كَبُرَ} شَقَّ {عَلَيْكُمْ مَقَامِي} لُبْثِي فِيكُمْ {وَتَذْكِيرِي} وَعْظِي إِيَّاكُمْ {بِآيَاتِ اللَّهِ فَعَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْتُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ} اعْزِمُوا عَلَى أَمْر تَفْعَلُونَهُ بِي {وَشُرَكَاءَكُمْ} الْوَاو بِمَعْنَى مَعَ {ثُمَّ لَا يَكُنْ أَمْرُكُمْ عَلَيْكُمْ غُمَّةً} مَسْتُورًا بَلْ أَظْهِرُوهُ وَجَاهِرُونِي بِهِ {ثُمَّ اقْضُوا إِلَيَّ} امْضُوا فِيمَا أَرَدْتُمُوهُ {وَلَا تُنْظِرُونِ} تُمْهِلُونِ فَإِنِّي لَسْت مُبَالِيًا بِكُمْ {فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ} عَنْ تَذْكِيرِي {فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ} ثَوَاب عَلَيْهِ فَتَوَلَّوْا {إِنْ} مَا {أَجْرِيَ} ثَوَابِي {إلا على الله وأمرت أن أكون من المسلمين} {فكذبوه فنجيناه وَمَنْ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ} السَّفِينَة {وَجَعَلْنَاهُمْ} أَيْ مَنْ مَعَهُ {خَلَائِف} فِي الْأَرْض {وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا} بِالطُّوفَانِ {فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ} مِنْ إِهْلَاكهمْ فَكَذَلِكَ نَفْعَل بِمَنْ كَذَّبَ {ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِ} أَيْ نُوح {رُسُلًا إِلَى قَوْمِهِمْ} كَإِبْرَاهِيم وَهُود وَصَالِح {فَجَاءُوهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ} الْمُعْجِزَات {فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا بِمَا كَذَّبُوا بِهِ مِنْ قَبْلُ} أَيْ قَبْل بَعْث الرُّسُل إِلَيْهِمْ {كَذَلِكَ نَطْبَعُ} نَخْتِم {عَلَى قُلُوبِ الْمُعْتَدِينَ} فَلَا تَقْبَل الْإِيمَان كَمَا طَبَعْنَا عَلَى قُلُوب أُولَئِكَ {ثم بعثنا من بعدهم مُوسَى وَهَارُونَ إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ} قَوْمه {بِآيَاتِنَا} التسع {فاستكبروا} عن الإيمان بها {وكانوا قوما مجرمين} {فَلَمَّا جَاءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا إِنَّ هَذَا لَسِحْرٌ مُبِينٌ} بَيِّن ظَاهِر {قال موسى أتقولون للحق لما جاءكم} إنه لسحر {أسحر هذا} وَقَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَتَى بِهِ وَأَبْطَلَ سِحْر السحرة {ولا يفلح الساحرون} وَالِاسْتِفْهَام فِي الْمَوْضِعَيْنِ لِلْإِنْكَارِ {قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا} لِتَرُدَّنَا {عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آباءنا وتكون لَكُمَا الْكِبْرِيَاءُ} الْمُلْك {فِي الْأَرْضِ} أَرْض مِصْر {وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ} مُصَدِّقِينَ {وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُونِي بِكُلِّ سَاحِرٍ عَلِيمٍ} فَائِق فِي عِلْم السِّحْر {فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُمْ مُوسَى} بَعْد مَا قَالُوا لَهُ {إِمَّا أَنْ تُلْقِي وَإِمَّا أَنْ نَكُون نَحْنُ الْمُلْقِينَ} {أَلْقُوا مَا أَنْتُمْ مُلْقُونَ} {فَلَمَّا أَلْقَوْا} حِبَالهمْ

Scanned with

وَعِصِيّهِمْ {قَالَ مُوسَىٰ مَا} اسْتِفْهَامِيَّة مبتدأ خَبَره {جِئْتُمْ بِهِ السِّحْرُ} بَدَل وَفِي قِرَاءَة بِهَمْزَةٍ وَاحِدَة إِخْبَار فَمَا اسْم مَوْصُول مبتدأ {إِنَّ اللَّهَ سَيُبْطِلُهُ} أَيْ سَيَمْحَقُهُ {إن الله لا يصلح عمل المفسدين} {وَيُحِقُّ} يُثْبِت وَيُظْهِر {اللَّهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ} بِمَوَاعِيدِهِ {ولو كره المجرمون}

ترجمه: اې محمد ﷺ دې کفار مکه ته د نوح (علیه السلام) د هغه وخت قیصې واوروه "اذ قال" د "نبا نوح" نه بدل دی، چې کله نوح علیه السلام خپل قوم ته اوفرمائیل چې اې ځما د قوم خلقو که چرې تاسو ته ځما دلته اوسیدنه او د الله تعالی د آیتونو په ذریعه تاسو ته نصیحت کول بنه نه لګی نو نه دې لګی ما خو په الله باندې بهروسه کړې ده نو تاسو خپل تدبیرونه چې کوم تاسو ځما خلاف کول غواړئی نو د خپل شریکانو سره میلاویدو سره ئې نور هم پاخه کړئ یعنی چې کوم تدبیرونه تاسو ځما خلاف کوئی هغه نور هم مضبوط کړئ په "وشرکاؤ" کښې واؤ په معنی د مع دې بیا ستاسو د چالونو یو اړخ ستاسو نه پټ پکار نه دې بلکه دې لره ښکاره کړئ او ما هم ددې نه خبردار اوساتئ بیا چې څه ستاسو اراده وی نوماسره ئې اوکړئ اوماته مهلت مه راکوئی، ماته ستاسو هیڅ پرواه نشته بیا هم که تاسو ځما د نصیحت نه مخ اړوئی نو ما ستاسو نه د څه اجرت یعنی په دې باندې د څه ثواب سوال کړې نه دې چې د هغې د وجه نه تاسو مخ اړوئی ځما اجر او ثواب خو صرف د الله په ذمه دې او ماته حکم راکړې شوې دې چې ځه د حکم تابعدار اوسم. د نوح علیه السلام قوم هغه دروغژن وګڼړلو نو مونږ نوح علیه السلام او په کشتئ کښې چې څوک ورسره وو هغه مو بچ کړل او کوم خلق چې نوح علیه السلام سره وو هغوی مو په زمکه باندې خلیفه جوړ کړل او باقی ټول خلق مو په طوفان کښې غرق کړل چا چې زمونږ آیتونه دروغژن کړی وو، نو اوګورئی چې د کوم خلق د هلاکت نه ویرولې شوې وو دهغوی څه انجام شو نو دغه شان مونږ به دې خلقو سره هم دغه شان کوو چې تا څوک دروغژن ګڼړی بیا مونږ د نوح علیه السلام نه پس ډیر رسولان د هغوی قومونو ته راولیږل لکه ابراهیم علیه السلام هود علیه السلام او صالح علیه السلام نو هغوی دوی ته ښکاره معجزات راوړل خو چې کوم څیز دوی د مخکښې نه یعنی دوی ته رسول رالیږلو نه مخکښې دروغ ګڼړلې وو، نو بیا ئې اونه منلو، مونږ دغه شان د حد نه وتوونکی والو زړونو باندې مهر لګوو، بیا هغوی ایمان نه قبلوی څنګه چې مونږ ددوی په زړونو باندې مهر لګولې دې بیا دې نه پس مونږ موسی علیه السلام او هارون علیه السلام زمونږ نخښو سره فرعون او د هغه قوم طرف ته راولیږل خو هغوی د ایمان په مقابله کښې تکبر اوکړو او هغه مجرمان خلق وو بیا چې کله زمونږ د طرف نه حق هغوی ته راغلو نو هغوی اوویل چې دا خو ښکاره جادو دې موسی علیه السلام اوفرمائیل آیا تاسو د حق باره کښې چې کوم تاسو ته راغلې دې وایئ چې دا جادو دې آیا دا جادو دې؟ حالانکه دا چې چا راوړې وو هغه کامیاب شو او د جادوګرانو جادو ئې باطل کړو او ساحر جادوګر کامیابی نه مومی او استفهام دواړو ځایونو کښې د انکار د پاره دې هغوی جواب ورکړو چې آیا ته زمونږ طرف ته دې له راغلې ئې چې ته مونږ د هغه طریقې نه واړوې چې په

Scanned with

کومه مونږ خپل پلار نیکه موندلي دي؟ او د مصر په ملک کښې ستاسو دواړو رونړو حکومت شي؟او مونږ ستاسو دواړو تصدیق کولو والا نه یوو .او فرعون اووئیل چې ماله یعنی په علم سحر کښې ماهران جادوګران راولئ، چې کله جادوګران راغلل نو د جادوګرو ددې وئیلو نه پس چې تاسو اول غورزوئی یا مونږ اوغورزوو. موسی علیه السلام هغوی ته اوفرمائیل چې تاسو اوغورزوئی څه چې تاسو غورزوئی دغه شان چې کله جادوګرانو خپل رسئ او کونتی اوغورزولې نو موسی علیه السلام اوفرمائیل چې څه تاسو راوړي دی هغه جادو دې ما استفهامیه مبتدأ دې "جئتم به السحر" ددې خبر دې "السحر" د "ماجئتم" نه بدل دې او په یو قراءت کښې یو همزه سره خبر دې "ما" موصوله مبتدأ ده الله تعالی به اوس دا باطل کړی، الله داسې فسادیانو کارونه نه جوړوی،او الله په خپلو وعدو سره حق حق ښکاره کوی اګرچې مجرمانو ته دا څومره هم ناخوښه وی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:واتل: فعل امر د حرف علت حذف سره مبنی دې، په اصل کښې "واتلو" وو، په آخر کښې واؤ حذف شو، "علیهم" د "اتل" سره متعلق دې "نبأ نوح" په ترکیب اضافی سره د "اتل" مفعول به دې،اذ قال، اذ ظرفیه د ماضئ د پاره د "نبا" نه د بدل الاشتمال د وجه محلا منصوب دې،اذقال د "نبأ" سره متعلق هم کیدې شی، په نوح باندې وقف لازم دې ځکه چې د "اذقال" تعلق د "اتل" سره د فساد د معنی د وجه نه جائز نه دې ځکه چې "اتل" مستقبل دې او ظرف ماضی دې په دې صورت کښې به ترجمه داسې وی چې ته هغه وخت واوروه چې کوم وخت نوح علیه السلام خپل قوم ته وئیلي وو،حالانکه دا ممکنه نه ده.

قوله:لقومه: په دې کښې لام د تبلیغ د پاره دې،"مقام" په فتح سره "موضع قیام" ځائې، مرتبه،مراد ترې خپل وجود دې او "مقام" په ضمې سره مصدر دې، قیام کول، ایساریدل، القیام علی الدعوة خلال مدة اللبث ځکه چې د دعوت او تبلیغ کار زیات تر په ولاړه باندې وی.

قوله:فعلی الله توکلت: داد ان کان کبر جزاء ده، او که فعلی الله توکلت جمله معترضه اوګنړلې شی نو اجمعواامرکم به جواب شرط وی.

قوله:فاجمعوامرکم: ددې تفسیر په اعزمواعلی امرسره کولو کښې اشاره ده چې "اجمع" متعدی بنفسه هم استعمالیږی، او متعدی بالحرف هم.

قوله:غمه: ساه ډوبیدل، تور، مشتبه، پټ، سخت، هر کله چې سپوږمئ پټه شی،نو عرب غم الهلال وائی.

قوله:الواؤ بمعنی مع: یعنی "شرکاء" مفعول معه کیدو د وجه منصوب دې،دې سره ئې دا

شبهه دفع کړه چې د شرکاء عطف په ظاهره د "اجمعوا" ضمير فاعل باندې دې، يعنى تاسوشريکان خپل تدبيرونه مضبوط کړئ، په دې اعتبارسره "شركاء" مرفوع کيدل پکار دى.

قوله: قال موسى اتقولون للحق لما جاءكم: انه لسحر اسحر هذا قال موسى، فعل سره د فاعل دې اتقولون کښې همزه استفهام انکارى دې "تقولون" فعل مضارع د فاعل سره دې، انتم للحق متعلق د تقولون سره دې، لما جاءكم د تقولون ظرف دې، انه لسحر، د تقولون مقوله ده، چې محذوف ده، پورا جمله د قال موسى مقوله حکائى ده، يعنى موسى عليه السلام د فرعونيانو مقوله نقل کړې ده.

قوله: أسحر هذا: دا د موسى د قول محذوف مقوله ده، همزه د استفهام انکارى ده "سحر" خبر مقدم دې او هذا مبتدأ مؤخر دې. لا يفلح السحرون جمله حاليه ده.

قوله: بدل: يعنى أسحرٌ د ما جئتم به، نه د حذف مبتدا سره بدل دې أى أهو السحر، لهذا دا اعتراض ختم شو. چه مفرد د جملې نه بدل نه واقع کيږى.

قوله: فى قراءة: يعنى د ابوعمر په قراءت کښې په أسحر هذا کښې يوه همزه استفهاميه ده، د دې قراءت مطابق په ما جئتم کښې به مَا استفهاميه وى، او السحر په د مَا نه بدل وى، أى أىّ شئ جئتم به أهو السحر»، اوپه نورو قراءتونو کښې يوه همزه د اخبار سره ده، په دې صورت کښې به مَا موصوله مبتداء وى. او جئتم به، به صله وى، او السحر به د دې خبر وى، أى ألذى جئتم به السحر لا الذى جئتُ به.

[اياتونه: ۸۳ ـ ۹۲]

{فَمَا آمَنَ لِمُوسَىٰ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ} طَائِفَة {مِنْ} أَوْلَاد {قَوْمِه} أَيْ فِرْعَوْن {عَلَىٰ خَوْفٍ مِنْ فرعون وملئهم أَنْ يَفْتِنَهُمْ} يَصْرِفهُمْ عَنْ دِينه بِتَعْذِيبِهِ {وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ} مُتَكَبِّر {فِي الْأَرْضِ} أَرْض مِصْر {وَإِنَّهُ لَمِنَ الْمُسْرِفِينَ} الْمُتَجَاوِزِينَ الْحَدّ بِادِّعَاءِ الرُّبُوبِيَّة {وقال موسى يا قوم إن كنتم آمنتم بالله فعليه توكلوا إن كنتم مسلمين} {فَقَالُوا عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ} أَيْ لَا تُظْهِرهُمْ عَلَيْنَا فَيَظُنُّوا أَنَّهُمْ عَلَى الحق فيفتتنوا بنا {ونجنا برحمتك من القوم الكافرين} {وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَنْ تَبَوَّآ} اتَّخِذَا {لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا وَاجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً} مُصَلًّى تُصَلُّونَ فِيهِ لِتَأْمَنُوا مِنَ الْخَوْف وَكَانَ فِرْعَوْن مَنَعَهُمْ مِنَ الصَّلَاة {وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ} أَتِمُّوهَا {وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ} بِالنَّصْرِ وَالْجَنَّة {وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا رَبَّنَا} آتَيْتهمْ ذَلِكَ {لِيُضِلُّوا} فِي {عَنْ سَبِيلِكَ} دِينك {رَبَّنَا اطْمِسْ عَلَىٰ أَمْوَالِهِمْ} امْسَخْهَا {وَاشْدُدْ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ} اطْبَعْ عَلَيْهَا وَاسْتَوْثِقْ {فَلَا يُؤْمِنُوا حَتَّىٰ يَرَوُا العذاب الأليم} المؤلم دعا عليه وَأَمَّنَ هَارُونَ عَلَى دُعَائِهِ {قَالَ} تَعَالَى {قَدْ أُجِيبَتْ دَعْوَتُكُمَا} فَمُسِخَتْ أَمْوَالهمْ حِجَارَة وَلَمْ يُؤْمِن فِرْعَوْن حَتَّى أَدْرَكَهُ الْغَرَق {فَاسْتَقِيمَا} عَلَى الرِّسَالَة وَالدَّعْوَة إِلَى أَنْ يَأْتِيهِمْ الْعَذَاب {وَلَا تَتَّبِعَانِّ

سَبِيلَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ} فِي اسْتِعْجَالِ قَضَائِي رُوِيَ أَنَّهُ مَكَثَ بَعْدَهَا اربعين سنة {وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ} لَحِقَهُمْ {فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا} مَفْعُول لَهُ {حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنْتُ أَنَّهُ} أَيْ بِأَنَّهُ وَفِي قِرَاءَة بِالْكَسْرِ اسْتِئْنَافًا {لَا إِلَهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ} كَرَّرَهُ لِيُقْبَلَ مِنْهُ فَلَمْ يُقْبَلْ وَدَسَّ جِبْرِيلُ فِي فِيهِ مِنْ حَمْأَةِ الْبَحْرِ مَخَافَةَ أَنْ تَنَالَهُ الرَّحْمَةُ وَقَالَ له {آلْآنَ} تُؤْمِن {وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ} بِضَلَالِكَ وَإِضْلَالِكَ عَنِ الْإِيمَانِ {فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ} نُخْرِجُكَ مِنَ الْبَحْرِ {بِبَدَنِكَ} جَسَدِكَ الَّذِي لَا رُوحَ فِيهِ {لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ} بَعْدَكَ {آيَةً} عِبْرَةً فَيَعْرِفُوا عُبُودِيَّتَكَ وَلَا يَقْدَمُوا على مثل فعلك وعن بن عَبَّاس أَنَّ بَعْضَ بَنِي إِسْرَائِيلَ شَكُّوا فِي مَوْتِهِ فَأَخْرَجَ لَهُمْ لِيَرَوْهُ {وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ} أَيْ أَهْلِ مَكَّة {عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ} لَا يَعْتَبِرُونَ بِهَا

ترجمه: د فرعون د قوم په ځوانانو کښې يو موټې ځوانانو نه علاوه چا هم د فوعون او د هغه د سردرانو د ويرې د وجه نه د موسى علیه السلام خبره اونه منله چې هغه به دوی ته تکليف ورکړی او د هغوی د دين نه به ئې واړوی او په دې کښې شک نشته چې فرعون په ملک د مصر کښې په زور او تکبر کښې ډير وتلې ووا او هغه خو وو د ربوالی په دعوې سره د حد نه تجاوز کونکې، او موسى علیه السلام اوفرمائيل اې زما قومه که چرې تاسو په الله باندې ايمان لرئی نو هم په هغه باندې بهروسه اوکړئ، که چرې تاسو فرمانبرداره يئ، هغوی عرض اوکړو چې مونږ هم په الله باندې بهروسه کړې ده، اې زمونږ پروردګاره ته مونږ د ظالمانو د د مشق تخته مه جوړوه، يعنی ته دوی په مونږ باندې غالب کوه مه، چې هغوی دا اوګنړی چې هغوی په حق باندې دی، بيا به مونږ باندې ظلم کوی او ته مونږ ته د کافر قوم نه خلاصې راکړه او مونږ موسى علیه السلام او د هغه رور طرف ته وحی اوليږله چې تاسو دواړه په مصر کښې د خپل قوم د پاره کورونه برقرار وساتئ، او خپل کورونو لره قبله، د مونځ ځائې جوړ کړئ چې تاسو پکښې مونځ کوئی، او چې تاسو د ويرې نه په امن يئ، او فرعونيانو دوی د مونځ کولو نه منع کړې وو. اومونځ په پورا طريقې سره ادا کړئ او اې موسى علیه السلام ته د نصرت او جنت مسلمانانو ته زيرې واوروه، اوموسى علیه السلام عرض اوکړو اې زمونږ پروردګاره تا فرعون ته او د هغه سرادارانو ته د زينت سامان او مختلف قسمه مال د دنيا په زندګئ کښې ورکړې او زمونږ پروردګاره تا دا څيزونه هغوی ته ورکړل چې هغوی ددې په نتيجه کښې ستا د لارې نه خلقو لره ګمراه کړی، اې زمونږه رب! ددوی مالونه تباه برباد کړه او ددوی زړونه نور هم زيات سخت کړه ددوی په زړونو باندې مهرونه اولګوه او بند ئې کړه چې بيا دوی ايمان راونړی تردې چې دردناک عذاب اوينی موسى علیه السلام ددوی د پاره خيرې اوکړې او هارون علیه السلام ددوی په خيرو باندې آمين اوفرمائيلو، الله تعالى اوفرمائيل ستاسو دعا قبوله کړې شوه چې د هغې د وجه نه ددوی مالونه (مال او زر) په کاڼړو کښې بدل شول، او فرعون ايمان راوړو تر دې چې غرق شو، اوتاسو دواړه په تبليغ او دعوت باندې کلک اوسېږئ تردې چې په دوی باندې دردناک عذاب راشی اوتاسو دداسې خلقو تابعداری

مه کوئی چې د فیصلې په معامله کښې د جلدبازئی په انجام باندې نه پوهیږې، راویت کړې شوې دې چې موسی علیه السلام د خیرو نه پس په دوی کښې څلویښت کاله تیر کړل، او مونږ بنی اسرائیل د سیند نه واړول بیا فرعون او د هغه لښکرې د ظلم او زیاتی په ارادې سره دوی پسې شول، بغیا، وعدوا د "اتبعهم" مفعول له دې تر دې چې فرعون په دوبیدو شو، نو وې وئیل چې ما اومنلو چې رشتونې معبود د هغه نه سوا نشته په چا باندې چې بنی اسرائیلو ایمان راوړې دې "انه" په اصل کښې "بانه" دې او په یو قراءت کښې انه د کسرې سره دې جمله مستانفه کیدو د وجه، او محه هم تابعدارئی ته سرایښودنکو کښې یم هغه ایمان او تسلیم مکرر راوړو چې قبول شی خو قبول نکړې شو او جبرئیل علیه السلام د هغه په خوله کښې د سیند خټه ورکړه په دې ویره چې چرته دده طرف ته رحمت متوجه نشی جبرائیل علیه السلام هغه ته جواب ورکړو اوس ایمان راوړې حالانکه تا ددې نه مخکښې نافرمانی کوله او ته په خپله گمراه شوې او د نورو لره د ایمان نه د گمراه کولو د وجه په فساد کوونکو کښې وې اوس مونږ ستا لاش چې بې روحه دې د سیند نه راوباسو چې روستو راتلونکو نسلونو د پاره ته د عبرت نښه جوړه شې چې هغوی ستا بنده والې اوپیژنی او ستا په شان کارونو جراءت اونکړی او د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چې بعضې بعضې بنی اسرائیلو د فرعون په مرگ کښې شک اوکړو نو د هغه لاش راوخکلې شو چې اوئې گوری او واقعه داده چې ډیر د مکې اوسیدونکی داسې دی چې زمونږ آیتونه د قدرت د نښو نه بې پرواهی کوی یعنی ددې نه عبرت نه حاصلوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: فما آمن لموسى الاذرية من قومه: فاء عاطفه ده، معطوف علیه محذوف دې، او هغه د مخکښې عبارت نه معلومیږی چې فالقى موسى عصاه فاذا هى تلقف ما يكون دې، (اعراب القرآن) فما آمن لموسى معنى داده چې د موسى علیه السلام خبره ئې اونه منله، دې ته ایمان بالتسلیم وائی، دا متعدی په لام سره وی او یو ایمان بالتصدیق دې هغه متعدی په باء سره وی، لکه چې د الله تعالی قول دې "يؤمن بالله ويؤمن للمؤمنين".

قوله: ذرية: د ذال تثلیث سره، ذرية الرجل، اولاد، نسل، جمع ئې ذراری، او ذریات، ذریة دلته د قلت عدد په معنی کښې استعمال شوې دې، مفسر علام د ذرية تفسیر په "طائفة" سره کولو کښې دې معنی طرف ته اشاره اوکړه، یعنی د موټی هومره خلق، په تفسیر کبیر کښې دی "ههنا معناها التقليل" (کبیر) د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما قول دې چې د "ذرية" لفظ کله د یو قوم د پاره اوئیلې شی نو مقصود ددې نه سپکوالې یا وړوکې گنړل مراد وی.

قال ابن عباس رضی الله عنهما لفظ الذرية يعبر به عن القوم على وجه التحقير والتصغير (کبیر) چونکه دلته د سپکوالی څه قرینه نشته څکه دلته مقصود تصغیر د عدد دې،

قوله: من قومه :د قومه،ضمیر دوه مختلف معاني پیدا کېږي دي،مراد ترې قوم د موسی علیه السلام هم کېدې شي،او قوم د فرعون هم،په اول صورت کښې به دا مراد واخستلې شي چې د فرعون او د فرعونیانو د وېرې نه په اول کښې د اسرائیلیانو ډېر لږ خلقو د حضرت موسی علیه السلام د خبرې تصدیق اوکړو،او د دویمې توجیه په صورت کښې به ترې د فرعونیانو یو جماعت مراد وی،چې په هغې کښې هغه جادوگر شامل دي چې د موسی علیه السلام دمقابلې د پاره راغلې وو ،ددې نه علاوه د فرعون ښځه آسیه،او د فرعون خازن او د هغه ښځه، د فرعون د لور مشاطه (وېښتو سموونکې ښځه)، او رجل من آل فرعون هم، مفسر علام دویم طرف اختیار ولو سره د "قومه" ضمیر "فرعون" طرف ته راجع کړې دې

قوله: ارض مصر: ددې سره ئې اشاره اوکړه چې "فی الارض" کښې الف لام، لام عهد دې

قوله: وامن هارون علی دعاءه: دا ددې سوال جواب دې چې خیرې خو موسی علیه السلام کړې وې نو بیا په قد اجیبت دعوتکما کښې د تثنیه صیغه ولې راوړلې شوه؟
د جواب حاصل دادې چې دعا کول او په دعا باندې آمین وئیل په یو درجه کښې دي.

قوله: حماة:توره خاوره، خټه

[ایاتونه: ۹۳ ـ ۱۰۳]

{وَلَقَدْ بَوَّأْنَا} أنزلنا {بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ} منزل كرامة وهو الشام ومصر {وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ فَمَا اخْتَلَفُوا} بأن آمن بعض وكفر بعض {حَتَّى جَاءَهُمُ الْعِلْمُ إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} من أمر الدين بإنجاء المؤمنين وتعذيب الكافرين {فَإِنْ كُنْتَ} يا محمد {فِي شَكٍّ مِمَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ} من القصص فرضا {فَاسْأَلِ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْكِتَابَ} التوراة {مِنْ قَبْلِكَ} فإنه ثابت عندهم يخبرونك بصدقه قال صلى الله عليه وسلم لا أشك ولا أسأل {لَقَدْ جَاءَكَ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ} الشاكين فيه {وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ الْخَاسِرِينَ} {إِنَّ الَّذِينَ حَقَّتْ} وجبت {عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ} بالعذاب {لَا يُؤْمِنُونَ} {وَلَوْ جَاءَتْهُمْ كُلُّ آيَةٍ حَتَّى يَرَوُا الْعَذَابَ الْأَلِيمَ} فلا ينفعهم حينئذ {فَلَوْلَا} فهلا {كَانَتْ قَرْيَةٌ} أريد أهلها {آمَنَتْ} قبل نزول العذاب بها {فَنَفَعَهَا إِيمَانُهَا إِلَّا} لكن {قَوْمَ يُونُسَ لَمَّا آمَنُوا} عند رؤية أمارات العذاب المدعو ولم يؤخروا إلى حلوله {كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَى حِينٍ} انقضاء آجالهم {وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ} بما لم يشاءه الله منهم {حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ} لا {وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ} بإرادته {وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ} العذاب {عَلَى الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ} يتدبرون آيات الله {قُلِ} لكفار مكة {انْظُرُوا مَاذَا} أي الذي {فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} من الآيات الدالة على وحدانية الله تعالى {وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ} جمع نذير أي الرسل {عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ} في علم الله أي ما تنفعهم {فَهَلْ} فما

{يَنْتَظِرُوْنَ} بتكذيبك {اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِهِمْ} مِنَ الأُمَمِ أي مِثْل وَقَائِعِهِمْ مِنَ العَذَاب {قُلْ فَانْتَظِرُوْا} ذٰلِكَ {اِنِّىْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ} {ثُمَّ نُنَجِّىْ} المُضَارِع لِحِكَايَةِ الحَال المَاضِية {رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا} مِنَ العَذَاب {كَذٰلِكَ} الإنجَاء {حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ} النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابه حين تعذيب المشركين

ترجمه: او مونږ بنی اسرائیلو ته ډیر ښه د استوګنې ځائې ورکړو او هغه مصر او شام وو او مونږ د خوراک د پاره پاک څیزونه ورکړل خو بیا هغوی اختلاف اونه کړو خو هغه وخت چې کله علم هغوی ته راغلو، په داسې طریقې سره چې بعضې خلقو ایمان راوړو او بعضو انکار اوکړو یقینا ستا رب به ددوی په مینځ کښې د هغه څیز فیصله وکړی چې د دین په کوم امر کښې دوی اختلاف کولو مومنانو ته خلاصې ورکولو سره او کافرانو ته عذاب ورکولو سره نو اې محمد ﷺ فرض کړه که چرې ته ددې قصو په باره کښې چې کوم مونږ ستا طرف ته نازل کړې دی په شک کښې ئې، نو د هغه خلقو نه تپوس اوکړه چې ستا نه مخکښې کتاب تورات لولی، ځکه چې دا نازل شوې واقعې ددوی په نیز ثابتې دی هغوی په تا ته ددې د رشتینوالی خبر درکړی، حضورپاک ﷺ جواب ورکړو چې نه ځما شک دې او نه څه تپوس کوم بې شکه ستا رب د طرف نه تا ته حق راغلې دې لهذا ته په دې کښې د شک کوونکو نه مه کیږه او نه د هغه خلقو نه کیږه چا چې د الله آیتونه دروغ اوګڼړل، چرته ته د نقصان کوونکو نه نشې یقینا هغه خلق چې په چا باندې ستا د رب د عذاب فیصله شوې ده هغوی به ایمان نه راوړی، اګرچې د هغوی په مخکښې ښې ولې راونړې شی تردې چې هغوی هغه دردناک عذاب اوینی، خو هغه وخت په هغوی ته د ایمان نه څه فائده نه وی، چنانچه یو کلی والا، د (قریه) کلی نه (اهل قریه) کلې والا مراد دی ایمان راونړو په دوی باندې د عذاب د نازلیدو نه مخکښې چې ایمان ددوی د پاره فائده ورکونکی وی، سوا د یونس علیه السلام د قوم نه چې کله هغوی د وعده کړې شوې عذاب دکتلو په وخت کښې ایمان راوړو او هغوی د عذاب د نازلیدو پورې خپل ایمان روستو نکړو نو مونږ د هغوی نه په دنیا کښې د رسوائی عذاب لرې کړو او هغوی له مو یو خاص وخت پورې د زندګئ نه د فائدې اخستلو موقع ورکړه د هغوی د عمر وخت پورا کیدو پورې او که ستا رب غوښتلی نو په زمکه باندې به ټولو خلقو ایمان راوړې وو، نو آیا ته خلقو لره په هغه څیز باندې مجبوره کولې شې چې کوم الله ددوی نه نه غواړی تر دې چه هغوی مومنان شی نو داسې نشی کیدې حالانکه د یو کس د پاره دا ممکنه نه ده چې د الله د ارادې نه بغیر ایمان راوړی او الله په هغه خلقو باندې عذاب نازلوی کوم خلق چې د الله په آیتونو کښې سوچ او فکر نه کوی، نو ته دې د مکې کافرانو ته اووایه چې تاسو سوچ اوکړئ چې په آسمانونو او زمکه کښې چه څه دی د الله په وحدانیت باندې دلالت کوونکی نښو کښې کوم خلق چه د الله په علم کښې ایمان راوړنکی نه دی نو هغوی ته نښې او ویرونکی رسولان هیڅ فائده نه ورکوی نذر د نذیر جمع ده یعنی پیغمبران نو اوس دا خلق ستا

دروغ گنړلو سره دې نه سوا د بل کوم څيز په انتظار کښې دی چې هغه شان خرابۍ ورځې اوينی چې د دوی نه مخکښې خلقو ليدلې وی نو دوی ته اووايه د دې انتظار کوئی او هم زه تاسو سره انتظار کوم، بيا به مونږ خپل رسولان اوهغه خلق چې ايمان ئې راوړی دې، دعذاب نه بچ کوو "تنجی" د ماضی د حالت حکايت کولو د پاره د مضارع صيغه ده هم دغه شان ځمونږ په ذمه دی چې مونږ ايمان والا بچ کوو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: بوانا، تبوئةنه ماضی جمع متکلم، استوګنه ورکول، مناسب ځاې ورکول

قوله: مبوأ صدق: مبوا اسم مکان دې يا مصدر دې او د صدق اضافت د عربو د عادت مطابق دې، عرب چې کله د يو څيز د تعريف اراده اوکړی کوی نو دهغې اضافت صدق ته کوی. مثلا هذا رجل صادق، وقدم صدق، مراد دلته منزل محمود دې مقام صدق نه بعضې حضراتو مصر، بعضو اردن او فلسطين او بعضې شام مراد اخستلې دې،

قوله: المضارع الحكاية الحال الماضية: دا عبارت د يو سوال مقدر جواب دې

سوال: دادې چې "تنجی" د مضارع صيغه ده، چې په حال اواستقبال باندې دلالت کوی ددې مطلب دادې چې بنی اسرائيلو ته خلاصې په زمانه حال کښې ورکولې شی، يا روستو به ورکولې شی، حالانکه خلاصې په تيره شوې زمانه کښې ورکړې شوې وو.

جواب: دا د ماضی د حال د حکايت په توګه باندې فرمائيلې شوې دې، داسې لکه چې د تير وخت په موجوده حال کښې منظر کشی کيږی.

[اياتونه: ١٠٤ ـ ١٠٩]

{قل يأيها النَّاس} أيْ أهْل مَكّة {إنْ كُنْتُمْ فِى شَكٍّ مِنْ دِينِي} أنَّهُ حَقّ {فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّه} أيْ غَيْره وَهُوَ الْأَصْنَام لِشَكِّكُمْ فِيهِ {وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ} يَقْبِض أَرْوَاحكُمْ {وَأُمِرْت أَنْ} أيْ بان {أكون من المؤمنين} {و} قِيلَ لِي {أَنْ أَقِمْ وَجْهك لِلدِّينِ حنيفا} مائلا إليه {ولا تكونن من المشركين} {وَلَا تَدْعُ} تَعْبُد {مِنْ دُونِ اللَّه مَا لَا يَنْفَعك} إنْ عَبَدْته {وَلَا يَضُرّك} إنْ لم تعبده {فإن فعلت} ذلك فرضا {فإنك إذا من الظالمين} {وَإِنْ يَمْسَسْك} يُصِبْك {اللَّه بِضُرٍّ} كَفَقْرٍ وَمَرَض {فَلَا كَاشِف} رَافِع {لَهُ إلَّا هُوَ وَإِنْ يُرِدْك بِخَيْرٍ فَلَا رَادّ} دَافِع {لِفَضْلِهِ} الَّذِي ارادك به {يصيب به} اي بالخير {من يشاء من عباده وهو الغفور الرحيم} {قل يأيها النَّاس} أيْ أهْل مَكّة {قَدْ جَاءَكُمْ الْحَقّ مِنْ رَبّكُمْ فَمَنْ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ} لِأَنَّ ثَوَاب اهْتِدَائِهِ لَهُ {وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلّ عَلَيْهَا} لِأَنَّ وَبَال ضَلَاله عَلَيْهَا {وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ} فَأُجْبِركُمْ عَلَى الْهُدَى {وَاتَّبِعْ مَا يُوحَى إلَيْك} مِنْ رَبّك {وَاصْبِرْ} عَلَى الدَّعْوَة وَأَذَاهُمْ {حَتَّى يَحْكُم اللَّه} فِيهِمْ بِأَمْرِهِ {وَهُوَ خَيْر الْحَاكِمِينَ} أَعْدَلهمْ وَقَدْ صَبَرَ حَتَّى حَكَمَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ بِالْقِتَالِ وَأَهْل الْكِتَاب بالجزية

ترجمه: اې محمد ﷺ اووايه چې اې د مکې خلقو که چرې تاسو ځما د دين په حق کيدو کښې باره کښې په شک او شبه کښې يئ نو تاسو ته معلوميدل پکار دي چې څه ستاسو په دين کښې ستاسو د شک د وجه د هغه معبودانو عبادت نه کوم د چا چې تاسو الله تعالى پريښودلو سره عبادت کويئ او هغه بتان دي خو ځه د هغه خدائې بندگي کوم چې کوم ستاسو روحونه قبض کوي او ماته ئې دا حکم راکړې دې چې زه دې د مومنانو نه يم او ماته ئې دا حکم راکړې دې چې خپله توجه دين طرف ته مائله کړه او هيڅ کله د شرک کوونکو نه مه کيږه،او دا حکم شوې دې چې د الله پريښودلو سره د يو داسې څيز بندگي مه کوه چې کله ته د هغه بندگي اوکړې نو تا ته هيڅ فائده نشي دررسولې، او چې کله ته د هغه بندگي اونکړې نو تا ته څه نقصان نشي دررسولې، بالفرض که تاسو داسې اوکړل نو په داسې صورت کښې به ته د ظالمانو نه شې،(او ماته دا وئيلى شوي دي) چه که الله تاسو ته څه تکليف در اورسوي مثلا فقيري او بيماري نو د هغه نه سوا ددې تکليف د لرې کولو والا څوک نشته،بلکه هغه خپل فضل په خپلو بندگانو باندې چې په چا اوغواړي کوي ئې پرې،هغه ډير بخښونکې او ډير رحم کولو والا دې ته ورته اووايه چې اې د مکې خلقو تاسو ته ستاسو د رب نه حق راغلې دې لهذا چې کوم کس په صحيح لار راشي نو هغه به په د خپل ځان د پاره په لار باندې راشي ځکه چې د هدايت اجر هم هغه ته به ميلاويږي او چې کوم سړې بې لارې شي نو د هغه د بې لارې کيدو سزا به هم په هغه باندې پريوزي،ځکه چې د هغه د بې لارې کيدو نقصان صرف هغه ته وي او ځه په تاسو باندې مسلط کړې شوې نه يم چې تاسو څه په هدايت باندې مجبوره کړم،او دا هم وئيلې شوې دي چې تا ته د هغه وحى اتباع کوه چې کومه تاته راليږلې شوې ده، او په دعوت او د هغې په تکليف باندې صبر کوه تر دې چې الله تعالى د دوى په مينځ کښې په خپل حکم سره فيصله اوکړي او هغه بهترين فيصله کوونکې دې، او هغوى ﷺ صبر اوکړو تردې چې مشريکانو سره د جنګ، او اهل کتاب باره کښې د جزيې حکم نازل شو..

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:انه حق: دا اضافه ددې سوال جواب دې چې د شک تعلق د مفرَد سره نه وى ددې وجه نه مفسر علام انه حق محذوف ګرځولې دې چې د شک تعلق د جملې سره شي

قوله:يتوفاكم: واحد مذكر غائب مضارع معروف "توفى" (تفعل) كم ضمير مفعول، تاسو پورا پورا اخلى،ستاسو روح قبض کوى.

قوله:قيل له: ددې اضافې مقصد د ماقبل سره ربط پيدا کول دى،ځکه چې ماقبل کښې "امرت" دې اوس به تقديرى عبارت داسې شي "وامرت ان اكون من المؤمنين وقيل لى ان اقم وجهك للدين حنيفا"

قوله: ذلك فرضاً: دا د دې سوال جواب دې چې د غیر الله عبادت د نبی د طرف نه ناممکنه دې، بیا داسې ولې خطاب اوکړې شو مفسر علام جواب ورکړو چې دا علی سبیل الفرض والتقدیر دې.

قوله: علی الدعوة: ددې قید د لګولو مقصد د ماقبل سره ربط پیدا کول دی.

[۱۱] سورة هود

سورة هود مكية إلا اقم الصلوة الاية او الا فلعلك تارك الاية و اولئك يومنون الاية مائة وثلث وعشرون اية

سورة هود مکی دې مګر أقم الصلوٰة (آیت) یا مګر: فلعلّك تارك (آیت) او: اولئك يؤمنون به (آیت). په دې کښې ۱۲۲ یا ۱۲۳ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱ - ۵]

بسم الله الرحمن الرحيم {الر} اللّٰهُ أَعْلَم بِمُرَادِهِ بِذَلِكَ هَذَا {كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُه} بِعَجِيبِ النَّظْمِ وَبَدِيعِ الْمَعَانِي {ثُمَّ فُصِّلَتْ} بُيِّنَتْ بِالْأَحْكَامِ وَالْقَصَصِ وَالْمَوَاعِظِ {مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ} أَيْ اللّٰه {أَ} أَيْ بِأَنْ {لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللّٰهَ إِنَّنِي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ} بِالْعَذَابِ إِنْ كَفَرْتُمْ {وَبَشِيرٌ} بِالثَّوَابِ إِنْ آمَنْتُمْ {وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ} مِنَ الشِّرْكِ {ثُمَّ تُوبُوا} ارْجِعُوا {إِلَيْهِ} بِالطَّاعَةِ {يُمَتِّعْكُمْ} فِي الدُّنْيَا {مَتَاعًا حَسَنًا} بِطِيبِ عَيْشٍ وَسِعَة رِزْق {إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى} هُوَ الْمَوْت {وَيُؤْتِ} فِي الْآخِرَة {كُلَّ ذِي فَضْلٍ} فِي الْعَمَل {فَضْلَه} جَزَاءَهُ {وَإِنْ تَوَلَّوْا} فِيهِ حَذْفُ إِحْدَى التَّاءَيْنِ أَيْ تُعْرِضُوا {فَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ} هُوَ يوم القيامة {إِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} وَمِنْهُ الثَّوَاب وَالْعَذَاب ونزل كما رواه البخاري عن بن عباس فيمن كان يستحي أَنْ يَتَخَلَّى أَوْ يُجَامِع فَيُفْضِي إِلَى السَّمَاء وَقِيلَ فِي الْمُنَافِقِينَ {أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ} أَيْ اللّٰه {أَلَا حِينَ يَسْتَغْشُونَ ثِيَابَهُمْ} يَتَغَطَّوْنَ بِهَا {يَعْلَمُ} تَعَالَى {مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ} فَلَا يُغْنِي اسْتِخْفَاؤُهُمْ {إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ} أَيْ بِمَا فِي الْقُلُوب

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم چې ډیر مهربانه او ډیر رحم کوونکی دې الر ددې نه الله خپل مراد ښه پیژنی دا داسې کتاب دې چې ددې آیتونه د عجیبه ترتیب او بې مثاله معانیو په وجه محکم کړې شوې دې بیا د حکیم او خبیر یعنی د الله د طرف نه د احکامو، واقعاتو او نصیحتونو په اعتبار سره صفا صفا بیان کړې شوې دې داچې د الله نه سوا د بل چا عبادت مه کوئی، ځه د هغه د طرف نه تاسو لره د عذاب نه ویرونکې یم که چرې تاسو کفر کوئی او د ثواب خوشخبری ورکونکې یم که چرې تاسو ایمان راوړئی او دا چې تاسو د خپل رب سره د شرک نه بخښنه اوغواړئی، بیا د تابعدارئی په ذریعه د هغه طرف ته رجوع اوکړئ هغه به تاسوته په دنیا کښې د یو خاص وخت پورې د مزو سامان او پراخوالې د رزق درکړی، او په آخرت کښې به هر زیات عمل کوونکی ته زیات اجر ورکړی او که چرې تاسو مخ واړوئی د "تولو" په دوه تاء کښې

یو تاء حذف کړې شوې ده، نو ماته ستاسو په باره کښې د یوې غټې ورځې چې هغه د قیامت ورځ ده د عذاب ویره ده تاسو به هم الله طرف ته ځئ او هغه په هر څیز باندې قدرت لرونکې دې او په دې هر څیز کښې ثواب یا عذاب هم دې، او راروان آیت، څنګه چې امام بخاری د ابن عباس ﷺ نه نقل کړې دی چې دا آیت د هغه کس باره کښې نازل شوې دې په دې خیال سره چه ځما دا عمل آسمان (یعنی الله) ته رسی د قضائې حاجت کولو په وخت کښې او د خپلې ښځې سره په میلاویدو کښې ئې شرم محسوسولو، وئیلې شوی دی چې د منافقینو په باره کښې دا نازل شوې دې یاد ساتئ دوی خپلې سینې راتاووی یعنی راتیتوی چې د الله نه خپلې خبرې پټې کړی یاد ساتئ چې کله هغه خلق کوم چې خپلې کپړې راغونډوی یعنی په هغې کښې پټیږی نو الله تعالی په دغه وخت هم هغه څیز لره پیژنی کوم چې هغوی پټوی او ښکاره کوی ئې لهذا ددوی د پټولو هیڅ فائده نشته بې شکه هغه خو د زړونو دننه خبرې پیژنی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: سورة هود: په ترکیب اضافی سره مبتدأ، "مکیة" خبر اول، "مائة الخ" دویم خبر، "مکیة" مستثنی منه دې، الا حرف استثناء "اقم الصلوة" (الأیة) مستثنی، یعنی پوره سورت مکی دې، سوا د یو آیت نه "اقم الصلوة (الأیة)" نه، دا قول د ابن عباس ﷺ دې

قوله: او الا فلعلك تارك بعض ما یوحی الیك: (الأیة) دا دویم قول طرف ته اشاره ده ددې قول مطابق پوره سورت مکی دې، خو دوه آیتونه، یو خو فلعلك او دویم اولئك یؤمنون دا قول د مقاتل دې،

قوله: هذا: په دې کښې اشاره ده چې کتاب د مبتدأ محذوف خبر دې نه چې مبتدأ، څکه چې نکره صرف مبتدأ نه رازی، احکمت، آیاته، جمله د کتاب صفت دې

قوله: ثم فصلت: په ثم کښې دوه احتماله دی اول دا صرف د اخبار د پاره ده او معنی به دا وی چې الله تعالی مونږ له خبر راکړو چې قرآن په اوچته درجه کښې په احسن وجوه سره محکم دې، او بهترین تفصیل سره مفصل دې، څنګه چې عرب وائی فلان کریم الاصل ثم کریم الفصل، دویم احتمال دا دې چې "ثم" د نزول په اعتبار سره د ترتیب زمانی د پاره وی په داسې توګه چې د اول نزول یعنی د عرش نه لوح محفوظ پورې د نازلیدو په وخت کښې محکم کړې شو، بیا د موقع مناسب په تفصیل سره نازل شو..

قوله: من لدن حکیم خبیر: دا د کتاب دویم صفت دې

قوله: بأن: په دې کښې اشاره ده چې ان مصدریه دې، ان تفسیریه هم کیدې شی، د "ان" تفسیریه د پاره دا شرط دې چې د ددې نه مخکښې قول یا د قول په شان معنی لرونکې څه لفظ وی، دلته اګرچې لفظ قول نشته، خو ددې معنی "فصلت" موجود دې، لهذا د "ان"

مفسره کیدل هم صحیح دی او دلته خو تفسیریه کیدل ډیر ښه دی.

قوله: قیل في المنافقین: که د منافقین نه معلوم منافقین مراد وی نو په دې کښې نظر دې خکه چې د معلوم منافقینو وجود په مکه کښې نه وو او آیت مکی دې، د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چې دا آیت د اخنس بن شریق په باره کښې نازل شوې دې، چې د مکې د منافقینو نه وو، دا سړې تیزې ژبې والا او ښه خائسته شکل والا وو، او حضورپاک صلی الله علیه وسلم ته به یې د خوشحالئ خبرې اورولې، او په زړه کښې به ئې مخالفت پټ ساتلو، دده باره کښې دا آیت نازل شو.

قوله: یثنون، الثنی الطی، د پټولو د پاره رانغاړل، یثنون په اصل کښې "یثنیون" وو، ضمه په یاء باندې ثقیله وه نو "نون" له مو ورکړه، د یاء او واؤ په مینځ کښې د ساکنینو د وجه یاء مو حذف کړه، نو یثنون شو.

پاره نمبر ۱۲ [وَمَامِنْ دَآبَّةٍ] [ایاتونه: ٦ - ٨]

{وَمَامِنْ} زَائِدَة {دَابَّةٍفِي الْأَرْضِ} هِيَ مَا دَبَّ عَلَيْهَا {إِلَّاعَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا} تَكَفَّلَ بِهِ فَضْلًا مِنْهُ تَعَالَى {وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا} مَسْكَنَهَا فِي الدُّنْيَا أَوْ الصُّلْب {وَمُسْتَوْدَعَهَا} بَعْد الْمَوْت أَوْ فِي الرَّحِم {كُلٌّ} مِمَّا ذُكِرَ {فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ} بَيِّن هُوَ اللَّوْح الْمَحْفُوظ {وَهُوَالَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَات وَالْأَرْض فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ} أَوَّلهَا الْأَحَد وَآخِرهَا الْجُمُعَة {وَكَانَ عَرْشه} قَبْل خَلْقهمَا {عَلَى الْمَاءِ} وَهُوَ عَلَى مَتْن الرِّيح {لِيَبْلُوَكُمْ} مُتَعَلِّق بِخَلَقَ أَيْ خَلَقَهُمَا وَمَا فِيهِمَا مِنْ مَنَافِع لَكُمْ وَمَصَالِح لِيَخْتَبِرَكُمْ {أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا} أَيْ أَطْوَع لِلّٰهِ {وَلَئِنْ قُلْتَ} يَا مُحَمَّد لَهُمْ {إِنَّكُمْ مَبْعُوثُونَ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ} مَا {هٰذَا} الْقُرْآن النَّاطِق بِالْبَعْثِ أَوْ الَّذِي تَقُولهُ {إِلَّاسِحْرٌ مُّبِينٌ} بَيِّن وَفِي قِرَاءَة سَاحِر وَالْمُشَار إِلَيْهِ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِلَى} مَجِيء {أُمَّةٍ} جماعة أَوْقَات {مَعْدُودَةٍ لَيَقُولُنَّ} اسْتِهْزَاء {مَا يَحْبِسُهُ} مَا يمنعه من النزول قال تعالى {أَلَايَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا} مَدْفُوعًا {عَنْهُمْ وَحَاقَ} نَزَلَ {بِهِمْ مَاكَانُوابِهِ يَسْتَهْزِئُونَ} من العذاب

ترجمه: په زمکه باندې ګرځیدونکی چې څومره زنده سر دی د ټولو رزق د الله په ذمه دې "من" زائد دې، او دابه هغه ښناور نه وائی چې په زمکه باندې ګرځی، یعنی هم الله ددوی د روزئی په خپل فضل سره کفالت کوونکې دې هم هغه ددوی د اوسیدو ځائې پیژنی، که هغه دنیا کښې وی، یا د پلار په ملا کښې، او د مرګ نه پس د هغه د سپارلو ځائې یا د مور په رحم کښې دې (د هغه ځائې) پیژنی او هر څیز چې کوم ذکر شول په کتاب مبین کښې دی، او هغه لوح محفوظ دې او هم هغه دې چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږ ورځو کښې پیدا کړل ددې اول ورځ د اتوار ورځ وه، او آخری ورځ د جمعې وه، او د آسمانونو او زمکې د پیدا کولو نه مخکښې دهغه عرش په اوبو باندې وو، او اوبه د هوا په اوګه باندې وه چې ستاسو نه امتحان واخلی، لیبلوکم د خلق متعلق دې یعنې دا دواړه او په دې کښې چې څه دی هغه ئې

ستاسو د فائدې او ستاسو د مصلحتونو د پاره پیدا کړل چې ستاسو نه امتحان واخلي.
چې په تاسو کښې څوک ښه عمل کولو والا دی؟ یعنی څوک د الله تعالی زیات تابعدار دی او
که اې محمد ﷺ ته دوی ته اووائې چې تاسو به د مرګ نه پس په ژوندي کولو سره راپاڅولې
شئ، نو انکار کوونکی په زور اووائي چې دا قرآن چې د مرګ نه پس د پاسیدلو خبره کوي یا
چې کومه خبره ته کوې هغه ښکاره جادو دې او په پو قرات کښې د سحر په ځائې ساحر
دې، او ددې مصداق به نبی ﷺ وی او که چرې مونږ ددوی نه مقرر شوې عذاب لږ وخت د پاره
لرې کړو نو د توقو په توګه به وائی چې دې عذاب لره د راوستلو نه چا منع کړې دې؟ الله
تعالی اوفرمائیل یاد ساتئ چه په کومه ورځ عذاب په دوی باندې راشی نو په اخوا کولو په نشی
اخوا کیدې، او چې کوم عذاب پسې دوی توقې کولې هم هغه به دوی راونیسی..

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تکفل به فضلا منه: دا اضافه د یو سوال مقدر جواب دې چې د الاعلی الله نه معلومیږی
چې په الله تعالی باندې رزق رسول واجب دی حالانکه په الله باندې وجوب محال دې؟

جواب: حاصل دادې چې مخلوق ته روزي رسول په الله تعالی باندې لزوم وجوباً نه دی
بلکه دا صرف د فضل او د شفقت د وجه دې،

قوله: کل ما ذکر: په دې کښې اشاره ده چې د "کل" تنوین د مضاف الیه په عوض کښې دې

قوله: بین: دمبین تفسیر په "بین" سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې متعدی په معنی د
لازم دې

قوله: جماعة اوقات: په دې کښې اشاره ده چې د "امة" نه مراد د خلقو ډله نه ده، بلکه ددې نه
د وختونو یو محدوده مجموعه مراد ده، "امة" په اصل کښې د خلقو یو تولګی ته وائی،
ای طائفة من الناس، دلته طائفة من الازمنة مراد ده، څنګه چې شارح رحمه الله لفظ د اوقات د
اضافې کولو سره اشاره اوکړه.

قوله: معدودة: دمعدودة نه مراد قلیلة ده، ځکه چې حصر په عدد کښې په قلت باندې دلالت کوی..

[ایاتونه: ۹ - ۲٤]

{وَلَبِنْ أَذَقْنَا الْإِنْسَان} الْكَافِر {مِنَّا رَحْمَة} غِنَى وَصِحَّة {ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ إِنَّهُ لَيَئُوس} قَنُوط مِنْ رَحْمَة الله
{كَفُور} شَدِيد الْكُفْر به {وَلَبِنْ أَذَقْنَاهُ نَعْمَاء بَعْد ضَرَّاء} فَقْر وَشِدَّة {مسته ليقولن ذهب السيئات} المصائب
{عني} وَلَمْ يَتَوَقَّع زَوَالهَا وَلَا يشكر عَلَيْهَا {إِنَّهُ لَفَرِح} بَطِر {فَخُور} عَلَى النَّاس بِمَا أُوتِيَ {إِلَّا} لكِنْ {الَّذِينَ
صَبَرُوا} عَلَى الضَّرَّاء {وَعَمِلُوا الصَّالِحَات} فِي النَّعْمَاء {أُولَئِكَ لَهُمْ مَغْفِرَة وَأَجْر كَبِير} هُوَ الْجَنَّة {فَلَعَلَّك} يَا
مُحَمَّد {تَارِك بَعْض مَا يُوحَى إِلَيْك} فَلَا تُبَلِّغهُمْ إِيَّاهُ لِتَهَاوُنِهِمْ بِهِ {وَضَائِق بِهِ صَدْرك} بِتِلَاوَتِهِ عَلَيْهِمْ لِأَجْلِ

Scanned with

{أَنْ يَقُولُوا لَوْلَا} هَلَّا {أُنْزِلَ عَلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ} يُصَدِّقُهُ كَمَا اقْتَرَحْنَا {إِنَّمَا أَنْتَ نَذِيرٌ} فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا
الْبَلَاغ لَا الْإِتْيَان بِمَا اقْتَرَحُوهُ {وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ} حفيظ فيجازيهم {أَمْ} بَلْ أ {يَقُولُونَ افْتَرَاهُ} أَيِ
الْقرآن {قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِهِ} فِي الْفَصَاحَة وَالْبَلَاغَة {مُفْتَرَيَاتٍ} فَإِنَّكُمْ عَرَبِيُّونَ فُصَحَاء مِثْلِي تَحَدَّاهُمْ
بِهَا أَوَّلًا ثُمَّ بِسُورَةٍ {وَادْعُوا} لِلْمُعَاوَنَةِ عَلَى ذَلِكَ {مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ}
فِي أَنَّهُ افْتِرَاء {فَإِنْ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَكُمْ} أَيْ مَنْ دَعَوْتُمُوهُمْ لِلْمُعَاوَنَةِ {فَاعْلَمُوا} خِطَاب لِلْمُشْرِكِينَ {أَنَّمَا أُنْزِلَ}
مُلْتَبِسًا {بِعِلْمِ اللَّهِ} وَلَيْسَ افْتِرَاء عَلَيْهِ {وَأَنْ} مُخَفَّفَة أَيْ أَنَّهُ {لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} بَعْد هَذِهِ
الْحُجَّة الْقَاطِعَة اي اسلموا {مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا} بِأَنْ أَصَرَّ عَلَى الشِّرْك وَقِيلَ هِيَ فِي الْمُرَائِينَ
{نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ} أَيْ جَزَاء مَا عَمِلُوهُ مِنْ خَيْر كَصَدَقَةٍ وَصِلَة رَحِم {فِيهَا} بِأَنْ نُوَسِّع عَلَيْهِمْ رِزْقهمْ
{وَهُمْ فِيهَا} أَيِ الدُّنْيَا {لَا يُبْخَسُونَ} يُنْقَصُونَ شَيْئًا {أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النار وحبط} بطل
{ما صنعوا فيها} اي الآخرة فلا ثواب له {وباطل ما كانوا يعملون} {أَفَمَنْ كَانَ عَلَى بَيِّنَةٍ} بَيَان {مِنْ رَبِّهِ}
وَهُوَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ الْمُؤْمِنُونَ وَهِيَ الْقرآن {وَيَتْلُوهُ} يَتْبَعهُ {شَاهِدٌ} لَهُ بِصِدْقِهِ {مِنْهُ} أَيْ
مِنَ اللَّه وَهُوَ جِبْرِيل {وَمِنْ قَبْلِهِ} الْقرآن {كِتَابُ مُوسَى} التَّوْرَاة شَاهِد لَهُ أَيْضًا {إِمَامًا وَرَحْمَةً} حَال كَمَنْ
لَيْسَ كَذَلِكَ لَا {أُولَئِكَ} أَيْ مَنْ كَانَ عَلَى بَيِّنَة {يُؤْمِنُونَ بِهِ} أَيْ بِالْقرآن فَلَهُمْ الْجَنَّة {وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ مِنَ
الْأَحْزَابِ} جَمِيع الْكُفَّار {فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ} شَكّ {مِنْهُ} مِنَ الْقرآن {إِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَبِّكَ وَلَكِنَّ
أَكْثَرَ النَّاسِ} أَيْ أَهْل مَكَّة {لَا يؤمنون} {وَمَنْ} أَيْ لَا أَحَد {أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا} بِنِسْبَةِ الشَّرِيك
وَالْوَلَد إِلَيْهِ {أُولَئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَى رَبِّهِمْ} يَوْم الْقِيَامَة فِي جُمْلَة الْخَلْق {وَيَقُولُ الْأَشْهَادُ} جَمْع شَاهِد وَهُمْ
الْمَلَائِكَة يَشْهَدُونَ لِلرُّسُلِ بِالْبَلَاغِ وَعَلَى الْكُفَّار بِالتَّكْذِيبِ {هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى
الظَّالِمِينَ} الْمُشْرِكِينَ {الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} دِين الْإِسْلَام {وَيَبْغُونَهَا} يَطْلُبُونَ السَّبِيل {عِوَجًا}
مُعْوَجَّة {وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ} تاكيد {كافرون} {أولئك لم يكونوا معجزين} الله {فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنْ
دُونِ اللَّهِ} أَيْ غَيْره {مِنْ أَوْلِيَاءَ} أَنْصَار يَمْنَعُونَهُمْ مِنْ عَذَابه {يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ} بِإِضْلَالِهِمْ غَيْرهمْ {مَا
كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ} لِلْحَقّ {وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ}ه أَيْ لِفَرْطِ كَرَاهَتهمْ لَهُ كَأَنَّهُمْ لَمْ يَسْتَطِيعُوا ذَلِكَ {أُولَئِكَ
الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ} لِمَصِيرِهِمْ إِلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِمْ {وَضَلَّ} غَابَ {عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ} عَلَى اللَّه
مِنْ دَعْوَى الشَّرِيك {لَا جَرَمَ} حَقًّا {أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الأخسرون} {إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
وَأَخْبَتُوا} سَكَنُوا واطمانوا او انابوا {إِلى ربهم أولئك أصحاب الجنة هم فيها خالدون} {مَثَلُ} صِفَة
{الْفَرِيقَيْنِ} الْكُفَّار وَالْمُؤْمِنِينَ {كَالْأَعْمَى وَالْأَصَمِّ} هَذَا مَثَل الْكَافِر {وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ} هَذَا مَثَل الْمُؤْمِن
{هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا} لَا {أَفَلَا تَذَكَّرُونَ} فِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال تتعظون.

ترجمه: او که چرې مونږ کافر انسان ته د خپل رحمت لکه مالداری او صحت ورکولو نه پس هغه د
رحمت نه محروم کړو نو هغه د الله د رحمت نه نا امیده کیدو سره ددې رحمت ډیره ناشکری

کوی، او که د هغه مصیبت نه پس کوم چې په ده باندې راغلې وو لکه غریبی، او سختی نو چې
مونږ ورته نعمتونو مزه ورا وڅکوو نو وائی چې ځما خو ټول غمونه لرې شول او ددې نعمتونو د
ختمیدو ورته بالکل خیال نه وی، او نه په دې باندې شکر کوی او دوی تکبر کوی او څه
چې دوی ته ورکړې شول ددې د وجه نه په خلقو باندې شیخی کوی، خو چې کوم خلق په
مصیبتونو باندې صبر کوی او په نعمتونو کښې نیک عمل کوی نو هم دغه خلق دی چې د هغوی
د پاره بخښنه ده، او ډیر لوئې اجر دې هغه جنت دې، نو اې محمد ﷺ داسې د نه وی چې د قرآن
نه ددوی د مخ اړولو د وجه ددې وحی څه حصې لره چې کومه تاته رالیږلې شوې ده دوی ته
رسول پریږدې او ته دوی ته د قرآن اورولو نه ددوی د دې خبرې د وجه نه تنګ زړه شې دوی
وائې چې ولې په ده باندې خمونږ د خوښې مطابق خزانه نازله نشوه؟ یا ولې ده له فرښته
رانغله، چې دده تصدیق ئې کړې وو ته خو صرف خبر ورکوونکې ئې ستا ذمه داری خو صرف
رسول دی نه چې هر هغه څه ښکاره کول چې د کوم دوی مطالبه کوی او الله په هر څیز باندې
پورا اختیار لرونکې دې نو هغه به دوی ته سزا ورکوی آیا دا خلق دا وائی چې ده قرآن په خپله
جوړ کړې دې نو په جواب کښې ته او وایه چې تاسو هم په فصاحت کښې ځما په شان فصیح
او بلیغ یئ لهذا ددې په شان لس سورتونه جوړ کړئ او راوړئی په اول خل ئې دوی ته د لس
سورتونو چیلنج ورکړو او بیا د یو سورت او په دې کار کښې د مدد د پاره د الله نه سوا چې
څوک تاسو راغواړئی، نو راوغواړئی که چرې تاسو په دې دعوه کښې رشتوني یئ چې دا ده په
خپله جوړ کړې دې، اوس که هغه غیر څوک چې تاسو د مدد د پاره راوغوښتلې وو تاسو
ته د آواز جواب درنکړی نو پوهه شئ خطاب مشرکانو ته دې چې دا قرآن د الله تعالی په علم سره
نازل شوې دې او په دې کښې دروغ نشته او دا هم یقین اوساتئ "ان مخففه عن الثقیلة
دې، چې د الله نه سوا بل څوک معبود نشته، نو آیا تاسو ددې مضبوط دلیل نه پس مسلمانان
کیږئی؟ یعنی مسلمانان شئ چا چې دنیا زندگی او ددې رونق د ژوند مقصد ګرځولې دې په
داسې طریقه چې په شرک باندې ټینګ وو، او وئیلې شوې دی چې دا آیت د ریاکارو په
باره کښې نازل شوې دې نو مونږ ددوی د نیک عملونو لکه صدقه او صله رحمی بدله هم په
دنیا کښې پورا پورا ورکوو په داسې توګه چې مونږ ددوی په رزق کښې فراخوالې راولو او
په دنیا کښې د دوی په بدله کښې هیڅ کمې نه کیږی نو دا داسې خلق دی چې ددوی د پاره په آخرت
کښې د جهنم د اور نه علاوه بل څه نشته، او څه چې دوی ته نیک عملونه کړی وی ټول به په آخرت
کښې ضائع کړې شی نو دوی په به هیڅ اجر میلاؤ نشی او چې کوم د نیکئی کارونه دوی به
کول ټول به باطل شی آیا هغه کس چې د خپل رب د طرف نه په دلیل باندې وی او هغه دلیل قرآن
دې او دغه کس نبی ﷺ یا مومنان دې او ده سره د الله د طرف نه ګواه هم وی چې دده تصدیق
کوی او هغه جبرئیل علیه السلام دې او د قرآن نه مخکښې د موسی علیه السلام کتاب تورات ددې ګواه دې

Scanned with

حال دادي چې هغه امام او رحمت دې د هغه کس به برابر چې داسې نه دې کيدې شي؟ نشي کيدې او هم دغه خلق په دليل باندې دي.په قرآن باندې ايمان راوړي نو د هغوی د پاره جنت دې او په ټولو کافرانو کښې چې کومه ډله هم ددې نه انکار کوي نو دهغه د پاره چې د کوم ځائې وعده ده هغه دوزخ دې نو د قرآن په باره کښې په څه شک کښې مه کيږه په يقين سره ستا د رب د طرف نه ټول په ټوله حق دې خو ډير خلق يعنی اهل مکه يقين کولو والا نه دي او د هغه نه لوئې ظالم څوک وی چې الله طرف ته دشريک او د اولاد نسبت کولو سره په الله باندې دروغ الزام اولګوی؟ څوک به هم نه وی داسې خلق به د ټولو خلقو سره د قيامت په ورځ د خپل رب په مخکښې وړاندې کولې شی اشهاد د "شاهد" جمع ده مراد ترې فرشتې دی، د رسولانو په باره کښې د پيغام رسولو او د کافرانو په باره کښې د دروغ ګنړلو ګواهی به ورکوی ګواه به وائی چې دا هغه خلق دی چا چې د خپل رب متعلق دروغې خبرې کړې وې،ټول واورئی په داسې ظالمانو مشرکانو باندې د الله تعالی لعنت دې چې د الله د لارې دين اسلام نه به ئې منع کول او د کږې لارې په تلاش کښې به وو،او دا خلق د آخرت هم منکر دی "هم" د مخکښې "هم" د تاکيد د پاره دې دا خلق په مخ د زمکه باندې الله عاجزه کولې نشی،او نه به څوک د الله نه علاوه ددوی مددګار شی چې ددوی نه د الله عذاب لرې کړی، د نورو د ګمراه کولو د وجه نه داسې خلقو ته به دوچنده سزا ورکولې شی دا خلق د نفرت د وجه نه حق خبره اوريدلې شی او نه کتلې شی د سخت نفرت والی د وجه نه ګويا چې په دوی دا طاقت هم نه وو، دا هغه خلق دی چې د هميشګير اور ته د ورتلو د وجه ئې خپل ځان برباد کړو،په الله چې کوم د شريک دعوی کړې وه ټول به هير کړی يقينی خبره ده چې په آخرت کښې به دا خلق د ټولو نه زيات په تاوان کښې وی، بې شکه هغه خلق چې ايمان ئې راوړو اونيک عملونه ئې اوکړل او د زړه نه خپل رب ته راتيټ شول او دوی ته اطمينان اوشو او د هغه طرف ته ئې رجوع اوکړه داسې خلق اهل جنت دی او دوی به هميشه په دې کښې اوسيږی د دواړو ډلو يعنی د کافرانو او د مومنانو حالت داسې دې لکه يو کس ړوند او کوڼړ وی دا مثال د کافر دې او يو کس داسې وی چې ګوری هم او اوری هم دا مثال د مومن دې آيا د دواړو کسانو حالت برابر کيدې شی؟ نشی برابر کيدلې آيا تاسو پوهيږئی نه؟ددې په اصل کښې د تاء په ذال کښې ادغام دې،آيا تاسو نصيحت نه حاصلوئی؟

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ولئن اذقنا الانسان منا رحمة: (الأية) په "لئن" کښې لام قسميه دې، انه ليؤس کفور،جواب قسم دې او جواب شرط محذوف دې، منا حال دې، رحمة د اذقنا مفعول ثانی دې، منا په اصل کښې د رحمة صفت دې، خو د مقدم کيدو د وجه حال شو.

قوله: ليؤس اوکفور: دا دواړه د مبالغې صيغې دی او دا دواړه د "ان" خبرونه دی

قوله: الکافر: په دې کښې اشاره ده چې په الانسان کښې الف لام عهدی دې.

Scanned with

قوله: ولم يتوقع زوالها: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې په "ذهب السيئات" کښې صرف د مصيبتونو ختميدلو طرف ته اشاره نه ده بلکه قائل ددې مصيبتونو د واپس نه راتللو اراده کړې ده، يعنی اوس د حاصل شوې نعمتونو د ختميدلو څه خطره نشته.

قوله: لکن: د الا تفسير په "لکن" سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې دا مستثنی منقطع ده، ځکه چې په لئن اذقنا الانسان کښې د انسان نه مراد انسان کافر دې لهذا الذين صبروا به په دې کښې به داخل نه وی

قوله: بيان: د بينة تفسير په "بيان" سره کولو کښې ئې يو سوال جواب ورکول مقصود وو

سوال: د الله قول "يتلوه" ضمير "بينة" ته راجع دې، په ضمير او مرجع کښې مطابقت نشته

جواب: جواب حاصل دا دې چې بينة په معنی د بيان دې

قوله: هو النبی او المؤمنون: دا په من کان علی بينة کښې د "من" د مصداق وضاحت دې، د "من" په مصداق کښې دوه قوله دی، يو خو حضور ﷺ اوبل مؤمنان او وهی القرآن، د بينة د مصداق بيان دې.

قوله: حال: ای هما حالان من کتاب موسی علیه السلام

قوله: کمن ليس کذلك: مفسر علام ددې جملې په زياتوالی سره اشاره اوکړه چې "افمن کان الخ" د مبتدأ خبر محذوف دې، او هغه "کمن ليس کذلک" دې

قوله: لا: په دې کښې اشاره ده چې "افمن کان علی بينة" کښې همزه د استفهام انکاری ده

قوله: يطلبون السبيل: دا ددې سوال جواب دې:

سوال: "يبغونها" کښې ضمير "سبيل" طرف ته راګرځی، حالانکه ضمير مؤنث دې او سبيل مذکر دې؟

جواب: د جواب حاصل دا دې چې لفظ سبيل مذکر او مؤنث دواړه استعماليږی.

[اياتونه: ۲۵ ـ ۳۵]

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ إِنِّي﴾ أَيْ بِأَنِّي وَفِي قِرَاءَة بِالْكَسْرِ عَلَى حَذْف الْقَوْل ﴿لَكُمْ نَذِيرٌ مُبِينٌ﴾ بَيِّن الْإِنْذَار ﴿أَنْ﴾ أَيْ بِأَنْ ﴿لَا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ﴾ إن عبدتم غيره ﴿عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ﴾ مُؤْلِم فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَة ﴿فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ﴾ وَهُمْ الْأَشْرَاف ﴿مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِثْلَنَا﴾ وَلَا فَضْل لَك عَلَيْنَا ﴿وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا﴾ أَسَافِلنَا كَالْحَاكَةِ وَالْأَسَاكِفَة ﴿بَادِيَ الرَّأْيِ﴾ بِالْهَمْزِ وَتَرْكه أَيْ ابْتِدَاء مِنْ غَيْر تَفَكُّر فِيك وَنَصْبه عَلَى الظَّرْف أَيْ وَقْت حُدُوث أَوَّل رَأْيهمْ ﴿وَمَا نَرَى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ﴾ فَتَسْتَحِقُّونَ بِهِ الِاتِّبَاع مِنَّا ﴿بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ﴾ فِي دَعْوَى الرِّسَالَة أَدْرَجُوا قَوْمه مَعَهُ فِي الْخِطَاب ﴿قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ﴾ أَخْبِرُونِي ﴿إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ﴾ بَيَان ﴿مِنْ رَبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً﴾ نُبُوَّة ﴿مِنْ عِنْدِهِ فَعُمِّيَتْ﴾ خَفِيَتْ ﴿عَلَيْكُمْ﴾ وَفِي

Scanned with

قِرَاءَة بِتَشْدِيدِ الْمِيمِ وَالْبِنَاء لِلْمَفْعُولِ {أَنُلْزِمُكُمُوهَا} أَنُجْبِرُكُمْ عَلَى قَبُولِهَا {وَأَنْتُمْ لَهَا كَارِهُونَ} لَا نَقْدِر على ذلك {وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ} عَلَى تَبْلِيغ الرِّسَالَة {مَالًا} تُعْطُونِيهِ {إِنْ} مَا {أَجْرِيَ} ثَوَابِي {إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا} كما امرتموني {إِنَّهُمْ مُلَاقُوا رَبِّهِمْ} بِالْبَعْثِ فَيُجَازِيهِمْ وَيَأْخُذ لَهُمْ مِمَّنْ ظَلَمَهُمْ وَطَرَدَهُمْ {وَلَكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ} عَاقِبَة أَمْرِكُمْ {وَيَا قَوْمِ مَنْ يَنْصُرُنِي} يَمْنَعنِي {مِنَ اللَّهِ} أَيْ عَذَابه {إِنْ طَرَدْتُهُمْ} أَيْ لَا نَاصِر لِي {أَفَلَا} فَهَلَّا {تَذَكَّرُونَ} بِإِدْغَامِ التَّاء الثَّانِيَة فِي الْأَصْل فِي الذَّال تَتَّعِظُونَ {وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا} إِنِّي {أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ} بَلْ أَنَا بَشَر مِثْلكُمْ {وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي} تَحْتَقِر {أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ} قُلُوبهمْ {إِنِّي إِذًا} إن قلت ذلك {لمن الظالمين} {قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا} خَاصَمْتنَا {فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا} بِهِ مِنَ الْعَذَاب {إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ} فِيهِ {قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُمْ بِهِ اللَّهُ إِنْ شَاءَ} تَعْجِيله لَكُمْ فَإِنَّ أَمْره إِلَيْهِ لَا إِلَيَّ {وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ} بِفَائِتِينَ اللَّه {وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِي إِنْ أَرَدْتُ أَنْ أَنْصَحَ لَكُمْ إِنْ كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يُغْوِيَكُمْ} أَيْ إِغْوَاءَكُمْ وَجَوَاب الشَّرْط دَلَّ عَلَيْهِ {وَلَا ينفعكم نصحي} {هو ربكم واليه ترجعون} قال تعالى {أَمْ} بل أ {يَقُولُونَ} أَيْ كُفَّار مَكَّة {افْتَرَاهُ} اخْتَلَقَ مُحَمَّد الْقُرآن {قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي} إِثْمِي أَيْ عُقُوبَته {وَأَنَا بَرِيءٌ مِمَّا تُجْرِمُونَ} مِنْ إِجْرَامكُمْ فِي نِسْبَة الِافْتِرَاء إِلَيَّ

ترجمه: يقينا مونږ نوح عليه السلام لره د هغه قوم طرف ته په ښكاره توګه خبر وركونكې اوليږلو انى په اصل كښې بانى دې او په يو قراءت كښې د قول د حذف سره د همزې په كسرې سره دې دا چې تاسو د الله نه سوا د بل چا عبادت مه كوئى كه چرې تاسو د الله نه سوا د بل چا عبادت اوكړو نو ما سره په تاسو باندې په دنيا او آخرت كښې د دردناک عذاب ويره ده، دهغه د كافر قوم سرادارانو اوئيل او هغه شريفان د قوم وومونږ تا د خپل ځان پشان انسان ګڼړوستا په مونږ باندې هيڅ مرتبه نشته او ستا تابعدارى كوونكى خلقو ته هم ګورو چې هغه د قوم لاندې خلق دى لكه جولاګان او موچيان سرسرى رائې والا دى الراى د همزې سره او بغير د همزې نه دې، يعنى ستا باره كښې بغير د سوچ او پوهې نه عمل كوونكى دى، او د "بادى" منصوب كيدل د ظرفيت د وجه دې يعنى اول ظاهريدونكې رائې باندې بغير د سوچ نه عمل كوونكى، او مونږ خو په ځان باندې ستا هيڅ قسم اوچتوالې نه ګڼړو چې د هغې د وجه نه ته مونږ د تابعدارئى مستحق يې ،بلكه مونږ خو تاسو لره د پيغمبرئى په دعوى كښې دروغژن ګڼړو په خطاب كښې د حضرت نوح عليه السلام قوم هم شامل كړو ګنى (نظنكم په ځائې به نظنك وو) نوح عليه السلام اوفرمائيل اې ځما د قوم خلقو تاسو ماته اووايئ كه چرې ځه د خپل رب د طرف نه په څه دليل باندې يم او هغه ماته په خپل فضل سره رحمت يعنى نبوت راكړو او په تاسو باندې هغه پټ وى او په يو قراءت كښې (عميت) دميم تشديد او د مجهول صيغې سره دې نو آيا دا رحمت په زور په تاسو لازمولې شم يعنى په دې باندې څه تاسو مجبوره كولې شم؟ په داسې حال كښې

Scanned with

چې تاسو دا ناخوښه ګڼرئ مونږ په دې باندې قدرت نه لرو او اې ځما د قوم خلقو څه د پیغام په رسولو باندې ستاسو نه د مال مطالبه نه کوم چې هغه تاسو ماته راکوئ ځما اجر اوثواب په الله باندې دې او نه ځه ستاسو د وینه مطابق ایمان راوړونکی د خپل ځان نه شړلې شم د هغوی دوباره ژوندی کیدو نه پس د خپل رب سره میلاویدل دی هغه به دوی ته بدله ورکړی او هغه خلقو ته چاچې په دوی باندې ظلم کړې وی او دوی ئې شړلې وی، هغوی ته به بدله ورکیږی خو تاسو د خپل انجام نه بې خبر خلق یئ، او اې ځما د قوم خلقو که چرې ځه دوی د خپل ځان نه اوشړلم نو مابه د الله د عذاب نه څوک بچ کړی؟ یعنی ځما بچ کوونکی څوک هم نشته، تاسو ولې نصیحت نه حاصلوئی؟ دویم تاء په اصل کښې په ذال کښې مدغم کولو شوې ده معنی د تتعظون او ځه تاسو ته نه وایم چې ماسره د الله خزانې دی او نه ځه عالم الغیب یم او نه ځه دا وایم چې ځه فرشته یم بلکه څه خو ستاسو په شان یو انسان یم او ځه د هغه خلقو په باره کښې چاته چې تاسو د سپکوالي په نظر سره ګورئی دا نه وایم چې دوی ته به الله بدله نه ورکوی، څه چې ددوی په زړونو کښې دی الله تعالی ئې خه پیژنی، که ځه داسې اووایم نو ځه به بې شکه د ظالمانو نه شمیر یم د قوم خلقو اووئیل تا مونږ سره بحث او کړو او ډیر بحث دې اوکړو اوس چې د کوم عذاب مونږ ته دهمکی راکوې هغه عذاب په مونږ باندې راوله که چرې ته په دې ویرولو کښې رشتونې ئې حضرت نوح علیه السلام جواب ورکړو هغه به صرف الله راولی که چرې هغه په تاسو باندې زر راوستل اوغواړی د دې اختیار هم د هغه سره دې نه چې ماسره تاسو د الله نه بچ کیدې نشئ تاسو ته ځما نصیحت هیڅ فائده درکولې نشی که چرې الله ته ستاسو ګمراهی مقصود وی اګر چې ځه تاسو ته څومره هم نصیحتونه اوکړم او جواب شرط محذوف دې چې په هغې باندې لاینفعکم نصحی دلالت کوی هم هغه ستاسو پروردګار دې او هم د هغه طرف ته به واپس کیږئی الله تعالی اوفرمائیل آیا د مکې کافران وائی چې قرآن محمد ﷺ په خپله تصنیف کړې دې اې محمد ﷺ اووایه که چرې دا قرآن ما په خپله تصنیف کړې وی نو ددې جرم یعنی ددې سزا په ما باندې ده او ځما طرف ته د تصنیف نسبت کولو سره چې تاسو کوم جرم کړې دې ځه د هغې نه بری یم.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: فیه ادغام التاء الخ : یعنی "تذکرون" د باب تفعل نه دې نه چې د باب تفعیل نه

قوله: بین الانذار، د مبین تفسیر په "بین" سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې مبین دلته لازم دې

قوله: عذاب یوم الیم: د یوم تفسیر په الیم سره د اسناد مجازی په توګه دې، د ظرفیت د علاقیت د وجې

قوله: کالحاکة: دا د حاکک جمع ده په معنی د جولا

Scanned with

قوله: اساكفة: دا د اسكاف جمع ده په معنی د موچی
قوله: بالهمزة وتركه: يعنی همزه پاتې كيدو سره (الرای) اوهمزه غورزيدو سره (الرای)
قوله: ابتداء الخ: په دې كښې اشاره ده چې بادی د بدا نه دې په معنی د ابتدا نه چې بدو چې په معنی د ښكاره كيدو دې.
قوله: نصبه على ظرفية: يعنی بادی د اتبعك ظرف دې
قوله: وقت حدوث اول رايهم: وقت مضاف محذوف منلو سره د يو سوال جواب وركول مقصود دی
سوال: دادې چې ظرف يا خو زمان وی يا مكان، او بادی نه زمان دې او نه مكان؟
جواب: حاصل دادې چې د بادی نه مخكښې وقت محذوف دې لهذا اوس څه اعتراض پاتې نه شو.
قوله: ادرجو قومه معه: دا ددې سوال جواب دې چې نوح عليه السلام خو فرد واحد دې بيا د هغه د پاره نظنكم د جمع صيغه ولې استعمال كړه؟
جواب: حاصل دادې چې د كذب په نسبت كښې ئې د نوح عليه السلام سره د هغه قوم هم شريك كړې دې، ددې وجه نه ئې د جمع صيغه راوړه
قوله: والبناء للمفعول: اى اخفيت
قوله: على تبليغ الرسالة: ددې اضافې مقصد د عليه د ضمير مرجع بيانول دی
سوال: مخكښې د تبليغ الرسالة ذكر نشته، لهذا په دې كښې اضمار قبل الذكر لازميږی؟
جواب: حاصل دادې چې د تبليغ رسالت په ماقبل كښې اگرچې ذكر نشته مگر د كلام د اندازې (سياق) نه معلوميږی، لهذا اضمار قبل الذكر نه لازميږی.
قوله: انى: مفسر علام انى محذوف منلو سره اشاره اوكړه چې د لا اعلم عطف په عندی خزائن الله باندې دې نه چې په اقول باندې، ځكه مراد انى لا اقول لكم اعلم الغيب دې.
قوله: تزدری، ازدراء: (افتعال) دا د زری يزری نه مشتق دې، ددې معنی غيب لگول، زری عليه اى عابه، ددې اصل تزتری دې، تاء ئې دال سره بدله كړه
قوله: اغوائكم: په دې كښې اشاره ده چې په ان يغويكم كښې ان مصدريه دې
قوله: وجواب الشرط دل عليه: ولا ينفعكم نصحى، دويم شرط يعنی ان كان الله الخ جواب محذوف دې چې په هغې باندې ولا ينفعكم دلالت كوی، او دويم شرط د خپل جواب شرط سره د اولنې شرط، يعنی د "ان اردت" جواب دې او دا تركيب د بصريانو د مذهب مطابق دې، او د كوفيان په نيز د اول شرط جزاء ولا ينفعكم مقدم دې، په دې صورت كښې به

تقدیر د کلام داسې وی ان الله یرید ان یغویکم فان اردت ان انصح لکم فلا ینفعکم نصحی. او دا ترکیب ددې وجه نه دې چې کله دوه شرطونه او یو جواب یوځائ نو جواب د دویم شرط ګرځولې شی، او شرط ثانی خپل جواب سره د اول شرط جزاء وی..

[ایاتونه: ۳۶ ـ ۴۹]

﴿وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ﴾ تحزن ﴿بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾ مِنَ الشِّرْك فَدَعَا عَلَيْهِمْ بِقَوْلِهِ ﴿رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ﴾ إلخ فاجاب الله دعاءه فقال ﴿وَاصْنَعِ الْفُلْكَ﴾ السَّفِينَة ﴿بِأَعْيُنِنَا﴾ بِمَرْأَى مِنَّا وَحِفْظنَا ﴿وَوَحْيِنَا﴾ أمرنَا ﴿وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ كَفَرُوا بِتَرْكِ إهلاكهم ﴿إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ ﴿وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ﴾ حِكَايَة حَال مَاضِيَة ﴿وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ﴾ جَمَاعَة ﴿مِّن قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ﴾ استهزؤوا بِهِ ﴿قَالَ إِن تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ﴾ إِذَا نَجَوْنَا وَغَرِقْتُمْ ﴿فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن﴾ مَوْصُولَة مَفْعُول الْعِلْم ﴿يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ﴾ ينزل ﴿عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ﴾ ﴿حَتَّىٰ﴾ غَايَة لِلصُّنْعِ ﴿إِذَا جَاءَ أَمْرُنَا﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ ﴿وَفَارَ التَّنُّورُ﴾ لِلْخَبَّازِ بِالْمَاءِ وَكَانَ ذَلِكَ عَلَامَة لِنُوحٍ ﴿قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا﴾ فِي السَّفِينَة ﴿مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ﴾ ذَكَرًا وَأُنْثَى أَيْ مِنْ كُلّ أَنْوَاعهمَا ﴿اثْنَيْنِ﴾ ذَكَرًا وَأُنْثَى وَهُوَ مَفْعُول وَفِي الْقِصَّة أَنَّ اللَّه حَشَرَ لِنُوحٍ السِّبَاع وَالطَّيْر وَغَيْرهَا فَجَعَلَ يَضْرِب بِيَدَيْهِ فِي كُلّ نَوْع فَتَقَع يَده الْيُمْنَى عَلَى الذَّكَر وَالْيُسْرَى عَلَى الْأُنْثَى فَيَحْمِلهُمَا فِي السَّفِينَة ﴿وَأَهْلَكَ﴾ أَيْ زَوْجَته وَأَوْلَاده ﴿إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ﴾ أَيْ مِنْهُمْ بِالْإِهْلَاكِ وَهُوَ زَوْجَته وَوَلَده كَنْعَان بِخِلَافِ سَام وَحَام وَيَافِث فَحَمَلَهُمْ وَزَوْجَاتهمْ الثَّلَاثَة ﴿وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ قِيلَ كَانُوا سِتَّة رِجَال وَنِسَاءَهُمْ وَقِيلَ جَمِيع مَنْ كَانَ فِي السَّفِينَة ثَمَانُونَ نِصْفهمْ رِجَال وَنِصْفهمْ نِسَاء ﴿وَقَالَ﴾ نُوح ﴿ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللَّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا﴾ بِفَتْحِ الْمِيمَيْنِ وَضَمّهمَا مَصْدَرَانِ أَيْ جَرْيهَا وَرَسْوهَا أَيْ مُنْتَهَى سَيْرهَا ﴿إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ حَيْثُ لَمْ يُهْلِكنَا ﴿وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ﴾ فِي الِارْتِفَاع وَالْعِظَم ﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ ابْنَهُ﴾ كَنْعَان ﴿وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ﴾ عن السفينة ﴿يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ﴾ ﴿قَالَ سَآوِي إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي﴾ يَمْنَعنِي ﴿مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ﴾ عَذَابه ﴿إِلَّا﴾ لَكِنْ ﴿مَن رَّحِمَ﴾ اللَّه فَهُوَ الْمَعْصُوم قال تعالى ﴿وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ﴾ ﴿وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ﴾ الَّذِي نَبَعَ مِنْك فَشَرِبَتْهُ دُون مَا نَزَلَ مِنْ السَّمَاء فَصَارَ أَنْهَارًا وَبِحَارًا ﴿وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي﴾ أَمْسِكِي عَنْ الْمَطَر فَأَمْسَكَتْ ﴿وَغِيضَ﴾ نَقَصَ ﴿الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ﴾ تَمَّ أَمْر هَلَاك قَوْم نُوح ﴿وَاسْتَوَتْ﴾ وَقَفَتْ السَّفِينَة ﴿عَلَى الْجُودِيِّ﴾ جَبَل بِالْجَزِيرَةِ بِقُرْبِ الْمَوْصِل ﴿وَقِيلَ بُعْدًا﴾ هَلَاكًا ﴿لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي﴾ كَنْعَان ﴿مِنْ أَهْلِي﴾ وَقَدْ وَعَدْتنِي بِنَجَاتِهِمْ ﴿وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ﴾ الَّذِي لَا خُلْف فِيهِ ﴿وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ﴾ أَعْلَمهمْ وَأَعْدَلهمْ ﴿قَالَ﴾ تَعَالَى ﴿يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ﴾ النَّاجِينَ أَوْ مِنْ أَهْل دِينك ﴿إِنَّهُ﴾ أَيْ سُؤَالك إِيَّايَ بِنَجَاتِهِ ﴿عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ﴾ فَإِنَّهُ كَافِر وَلَا نَجَاة لِلْكَافِرِينَ وَفِي قِرَاءَة بِكَسْرِ مِيم عَمِلَ فِعْل وَنَصْب غَيْر فَالضَّمِير لِابْنِهِ ﴿فَلَا تَسْأَلْنِ﴾ بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف ﴿مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾ مِنْ إِنْجَاء ابْنك ﴿إِنِّي أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ﴾

Scanned with

بِسُؤَالِكَ مَا لَمْ تَعْلَم ﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ﴾ مِنْ ﴿أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي﴾ ما فرط مني ﴿وَتَرْحَمْنِي أَكُن مِّنَ الْخَاسِرِينَ﴾ ﴿قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ﴾ انْزِلْ مِنَ السَّفِينَة ﴿بِسَلَامٍ﴾ بِسَلَامَةٍ أَوْ بِتَحِيَّةٍ ﴿مِّنَّا وَبَرَكَاتٍ﴾ خَيْرَات ﴿عَلَيْكَ وَعَلَىٰ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ﴾ فِي السَّفِينَة أَيْ مِنْ أَوْلَادهِمْ وَذُرِّيَّتهمْ وَهُمُ الْمُؤْمِنُونَ ﴿وَأُمَمٌ﴾ بِالرَّفْعِ مِمَّنْ مَعَكَ ﴿سَنُمَتِّعُهُمْ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ فِي الْآخِرَة وَهُمُ الكفار ﴿تِلْكَ﴾ أَيْ هٰذِهِ الْآيَات الْمُتَضَمِّنَة قِصَّة نُوح ﴿مِنْ أَنبَاءِ الْغَيْبِ﴾ أَخْبَار مَا غَابَ عَنْك ﴿نُوحِيهَا إِلَيْكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا﴾ الْقُرآن ﴿فَاصْبِرْ﴾ عَلَى التَّبْلِيغ وَأَذَى قَوْمك كَمَا صَبَرَ نوح ﴿إِنَّ الْعَاقِبَةَ﴾ المحمودة ﴿لِلْمُتَّقِينَ﴾.

ترجمه: او نوح علیه السلام ته وحی راولیږلې شوه چې ستا په قوم کښې چې چا ایمان راوړې وی ددوی نه علاوه نور څوک هم ایمان راوړونکی نه دی لهذا ته ددوی په شرکیه کارونو باندې غم مه کوه چنانچه نوح علیه السلام په رب لا تذر فرمائیلو سره خیرې اوکړې او الله تعالی دده دا خیرې قبولې کړې او حکم ئې ورته اوکړو څمونږ په نگرانئ او حفاظت کښې زمونږ د حکم مطابق یوه کشتئ جوړه کړه او اوگوره چې کومو خلقو کفرکړې دې ددوی د نه هلاکولو په باره کښې ماته څه سفارش مه کوه یقینا دوی غرقیدونکی دی نوح کشتئ جووړوله دا د حال ماضی حکایت دې کله چې به د ده په خواه کښې د ده د قوم خلق تیریدل نو توقې به ئې واپسې کولې نوح علیه السلام اوفرمائیل که چرې تاسو په مونږ پورې خاندئ نو زر به مونږ په تاسو پسې اوخاندو څنگه چې تاسو خاندئ چې کله مونږ بچ شو او تاسو غرق شئ ډیر زر به تاسو ته پته اولگی چې رسوا کونکې عذاب په چا باندې راځی من موصوله د تعلمون مفعول دې او هغه هیشگیر عذاب په چا باندې راځی تردې چې ددوی د هلاکت زمونږ حکم راغلو او تنور اوبه راؤخوټکولې اودا د نوح (ع (د پاره نښه وه، .مونږ حکم اوکړو چې په حیواناتو کښې د هر قسم یوه جوړه کشتئ ته اوخیژوه یعنی د نر او ښځې، الذین د احمل مفعول دې مختصر داچې الله د نوح علیه السلام د پاره ځناور او مارغان جمع کړل چنانچه نوح علیه السلام چې به په کوم قسم باندې لاس ایښودلو نو د نوح علیه السلام ښې لاس به په نر،او گس لاس به په ماده راتلو،اوهغه به یې په کشتئ کښې سورول،او د خپل کور والو یعنی ښځه او بچی سوا د هغه چا نه چې په چا چه دوی کښې د هلاکت نافذ شوې دې.او دا د هغه ښځه او ځوې کنعان وو،د حام سام او یافث نه علاوه،چې دوی او ددوی ښځو لره ئې کینول او ددې نه علاوه هغه هم چا چې ایمان راوړلو او سوا د لږ خلقو نه دوی سره چا هم ایمان راونړو،هغه هم څوک چې ایمان راوړلو او سوا د لږ خلقو نه دوی سره چا هم ایمان راونړو، وئیلې شوې دی چې شپږ سړی او د هغوی ښځې وې او وئیلې شوې دی چې په کشتئ کښې ټول د ناستو کسانو تعداد اتیا وو،په دې کښې نیم سړی وو او نیمې ددوی ښځې، نوح علیه السلام اوفرمائیل په دې کښې سواره شئ د الله په نوم سره ددې تلل دی او ودریدل دی (مجريها ومرسها (دواړه د میم په فتحې او ضمې سره مصدر دی یعنی

Scanned with

ددې تلل او اودريدل يعنى آخرى منزل ته د تللو نه پس اودريدل، د الله د حكم سره دى، ځما رب ډير بخښونكې رحم كوونكې دې چې هغه مونږ هلاک نكړو او كشتۍ دوى اوچتولو سره په لوئې او اوچت والى كښې د غورونو په شان چپو كښې بوتلل، او نوح عليه السلام خپل ځوى كنعان ته آواز وركولو سره اوفرمائيل او هغه د كشتۍ نه لرې وو اې ځما خوګه ځويا ځمونږ سره سور شه او كافرانو سره مه كيږه هغه جواب وركړو چې ځه اوس د يو غر پناه اخلم چې ما به په اوبو كښې د ډوبيدلو نه بچ كړى نوح عليه السلام اووئيل نن يو څيز د الله د عذاب نه بچكونكى نشته سوا ددې نه چې الله په چا باندې رحم اوكړى صرف هغه بچ كيدې شى الله تعالى اوفرمائيل، په دې كښې يو چپه د هغوى په مينځ كښې راغله، او هغه د ډوبيدلو والو كښې شامل شو، حكم اوشو چې اې زمكې چې څومره اوبه تا راوخكې دى، راكاږه، (جذب كړه) دغه شان زمكې تولې اوبه راخكلې سوا د هغه اوبو نه چې اسمان نه راوريدلې وې نو د زمكې نه وتوونكې اوبه په نهرونو او سيندونو كښې شاملې شوې او اې آسمانه ته خپلې اوبه راورول بند كړه نو هغې بندې كړې او اوبه كمې شوې او د قوم نوح د هلاكت فيصله باندې عمل اوشو، او كشتۍ په جودى غر باندې اودريدله، جودى موصل ته نزدې د جزيرې يو غر دې او د كافرانو د هلاكت حكم اوشو او نوح (ع (خپل رب ته اواز اوكړو چې اې ځما ربه، ځما ځوې كنعان ځما د كور والؤ نه دې او تا ځما د كور والو د بچ كولو وعده كړې وه اوبې شكه ستا وعده رشتونې ده چې په كښې روستوالې نشته او ته د ټولو حاكمانو نه لوئې حاكم يې يعنى د ټولو نه زيات علم والا او د ټولو نه زيات انصاف كولو والا ئې الله جواب وركړو چې اې نوح، هغه ستا د نجات والو اهل نه دې يا ستا د دين نه دې بې شكه ستا ځما نه دده د خلاصۍ سوال مناسب نه دې ځكه چې هغه كافر دې او د كافر خلاصيدل نشته، او په يو قراءت كښې "عمِلَ" فعل سره او "غير" نصب سره دې، په دې صورت كښې د ضمير "ابن" ته راجع وى لهٰذا ته ما ته د هغه خبرې درخواست مه كوه تسئلن د نون تخفيف او تشديد سره دې چې د كومې خبرې تاته علم نشته، او هغه خبره ستا د ځوى د خلاصيدلو سوال دې ځه تاته نصيحت كوم چې كوم څيز ته نه پيژنې د هغې سوال سره خپل ځان په ناپوهه خلقو كښې مه شاملوه، نوح عليه السلام عرض اوكړو اې ځما رب ځه د دې خبرې نه ستا پناه غوارم چې ستا نه د څه داسې څيز سوال اوكړم چې د هغې ما ته علم نه وى او كه ته ځما غلطى معاف نه كړې او رحم راباندې اونكړې زه نو به نقصان كوونكو كښې شمير شم حكم اوشو چې اې نوح عليه السلام ته د كشتۍ نه زمونږ په امن يا سلام سره، او په خپل ځان او په ډلو چې په كشتۍ كښې تاسره دى يعنى ددوى اولاد سره او هغه مومنان دى د بركت سره كوز شه، او څه خلق تاسره داسې هم دى چې هغوى ته به مونږ په دنيا كښې د عيش او عشرت سامان وركړو او بيا به په آخرت كښې زمونږ د طرف نه هغوى ته دردناک عذاب ورسيږى او هغه كافران دى دا آياتونه چې د نوح عليه السلام په قصۍ باندې مشتمل دى اې محمد ﷺ ستا

Scanned with

طرف ته د غیب خبرې دی یعنی د هغه خیزونو خبرې دی چې ستا نه پټې دی او د نازلیدلو د قرآن نه مخکښې نه تا دا پیژندلې او نه ستا قوم لهذا تاسو په تبلیغ باندې او د قوم تکلیف رسولو باندې صبر اوکړئ څنګه چې نوح علیه السلام کړې وو او دیر ښه انجام د نیکانو دې..

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: واوحی الی نوح انه لن یؤمن من قومك الامن قدآمن: اوحی فعل ماضی مجهول، انه لن یؤمن نائب فاعل ای اوحی الیه عدم ایمان بعض قومه

قوله: تبتئس: ز د افتعال نه مضارع واحد مذکر حاضر، چونکه دلته حرف نهی داخل دې څکه نهی دې، نو خفګان مه کوه

قوله: بمرای: منا، وحفظنا: دا اضافه د یو سوال جواب دې

سوال: دادې چې د باعیننا نه معلومیږی چې د الله تعالی اندامونه دی او چې د چا اندامونه وی هغه جسم لری، لهذا د الله تعالی د پاره جسم ثابت شول، څنګه چې د مجسمۀ عقیده ده؟

جواب: حاصل دادې چې باعیننا د حفظ او رؤیت نه کنایه ده، څنګه چې د بسط الله یده دې چې په د جود او سخاوت نه کنایه ده، باعیننا ، محلا حال دې تقدیر دادې متلبسا باعیننا

قوله: حکایة حال ماضیة: دا د یو سوال جواب دې

سوال: سوال دادې چې یصنع د مضارع صیغه ده، چې په حال او استقبال باندې دلالت کوی، ددې نه معلومیږی چې کشتئ جوړول د خبر ورکولو نه پس دی حالانکه کشتئ په تیره زمانه کښې جوړه شوې وه؟

جواب: جواب دادې چې د زمانه ماضی د حالت حکایت کوی، یعنی د کشتئ جوړولو منظر کشی کیږی

قوله: من موصوله مفعول العلم: په من یأتیه کښې من موصوله دې، او د تعلمون مفعول به دې ترکیب سره دا شبهه ختم شوه، چې من استفهامیه دې او دې ته د صدارت ضرورت دې

قوله: وغایة للصنع: یعنی حتی د صنع غایت دې، د یاتیه یا د یحل غایت نه دې لکه چې قرب د وجه نه شبه رازی، حتی ابتدائیه ده چې په جمله شرطیه باندې داخله ده، او د واصنع الفلک غایه ده.

قوله: فی السفینة: په دې اضافه کښې ددې سوال جواب طرف ته اشاره ده چې په فیها کښې ضمیر ماقبل کښې ذکرشوې الفلک طرف ته راجع دې، چې کوم مذکردې، او حالانکه فیها ضمیر مؤنث دې، جواب دادې چې فلک د سفینة په معنی کښې دې، نو فلاشبهة

قوله: انه: سوالك ایای بمالیه، مفسر علام د انه د ضمیر د مرجع مقرر کولو سره اوفرمائیل

چې مرجع د خپل ځوی کنعان د بچ کولو سوال دې یعنی ستا سوال مناسب نه دې، جمهور مفسرینو د "ه" ضمیر مرجع "ابن" گرځولې دې، یعنی کنعان ستاسو د اهل نه نه دې، ددې نه مجاز لازم راځی، ځکه چې حقیقة د اهل نه نفی کول صحیح نه دی، چې د هغې د وجه نه مجازی معنی یعنی دینی اهل به مراد وی.

قوله: وفي قراءة بكسر ميم عمل فعل ونصب غير فالضمير لابنه: ددې عبارت د زیاتولو مقصد د عمل اعراب ښودل دی، د جمهورو په قراءت کښې عمل مصدر دې او "غیر صالح" ددې صفت دې مطلب دادې چې ستا د خپل ځوی د کنعان د خلاصولو سفارش نامناسب دې ځکه چې هغه کافر دې او د کافر خلاصیدل نشته، او په یو قراءت کښې عمل د فعل ماضی صیغه ده په دې صورت کښې به "غیر" د مصدر محذوف صفت کیدو د وجه منصوب وی، تقدیری عبارت به دا وی انه عمل عملا غیر صالح په دې صورت کښې به د انه ضمیر ابن ته راجع وی، یعنی کنعان عمل غیر صالح کړې دې، مفسر علام رومبې صورت اختیار کړې دې، چې د نوح عليه السلام د خپل کافر ځوی د خلاصولو د پاره سفارش کول نامناسب دی، ځکه چه مخکښې وئیلې شوې دی انی اعظك ان تكون من الجاهلين ددې نه د نوح عليه السلام طرف ته د جهالت نسبت لازم رازی.

قوله: فلا تسئلن بالتخفيف والتشديد: یعنی د نون تشدید سره او د ماقبل فتحې سره او دا د نافع قراءت دې ابن کثیر او ابن عامر او نورو د لام سکون او د نون تخفیف سره وئیلې دې او په حالت وصل کښې نون نه پس یاء ثې باقی لیکلې ده نه چې وقف کښې، او ورش او ابوعمرو په وقف او وصل دواړو کښې یاء پاتې کړې ده

قوله: بسلامة اوبتحية: ددې اضافې مقصد د سلام دوه معنی بیان دی بسلامة وئیلو سره د امن او سلامتیٔ طرف ته اشاره کړې ده او بتحیة سره سلام او تحیه طرف ته اشاره کړې ده، مطلب دادې چې دلته دواړه معانی صحیح دی

قوله: امم بالرفع ممن معك: امم، په رفع سره، د مبتدأ د وجه، او سنمتعهم ددې خبر دې نه چې په امم سابق باندې د معطوف کیدو د وجه مجرور دې، ځکه چې دا خلق په امن او سلامتیٔ کښې داخل نه دی.

سوال: د امم نکره کیدلو د وجه مبتدأ واقع کیدل صحیح نه دی؟

جواب: امم موصوف دې او ممن معک ددې صفت دې، لهذا د امم نکره موصوفه کیدو د وجې مبتدأ جوړیدل صحیح دی، مفسر علام ممن معک اضافه کولو سره دې تقدیر طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: اى هذه الآيات المتضمنة: الخ دا د یو سوال مقدر جواب دې سوال دادې چې تلک اسم

اشاره مؤنث مبتدأ ده حالانكه ددې درې خبرونه دی او دريواړه مذكر دی ① من انباء الغيب ② نوحيها اليك ③ ما كنت تعلمها، لهذا د خبر د رعايت كولو د پاره د مبتدأ مذكر هم پكار دې، د جواب حاصل دادې چې د هذه مشاراليه دا ذكر شوې خبرونه نه دی بلكه ددې مشاراليه الايات محذوف دې، چې هغې ته مفسر علام اشاره كړې ده.لهذا اوس هيڅ اعتراض پاتې نشو..

[اياتونه: ٥٠ ـ ٦٠]

{و} أرْسَلْنَا {إِلَى عَادٍ أَخَاهُمْ} مِنَ الْقَبِيلَة {هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ} وَحْدُوهُ {مَا لَكُمْ مِنْ} زَائِدَة {إِلَهٍ غَيْرُهُ إِنْ} مَا {أَنْتُمْ} فِي عِبَادَتِكُمْ الأوْثَان {إِلَّا مُفْتَرُونَ} كَاذِبُونَ على الله {يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ} عَلَى التَّوْحِيد {أَجْرًا إِنْ} مَا {أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى الَّذِي فَطَرَنِي} خلقني {أفلا تعقلون} {وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ} مِن الشِّرْك {ثُمَّ تُوبُوا} ارْجِعُوا {إِلَيْهِ} بِالطَّاعَةِ {يُرْسِلِ السَّمَاءَ} الْمَطَر وَكَانُوا قَدْ مَنَعُوهُ {عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا} كَثِير الدُّرُور {وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى} مَعَ {قُوَّتِكُمْ} بِالْمَالِ وَالْوَلَد {وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِينَ} مُشْرِكِينَ {قَالُوا يَا هُودُ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ} بُرْهَان عَلَى قَوْلك {وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِي آلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ} اي لقولك {وما نحن لك بمؤمنين} {إِنْ} مَا {نَقُولُ} فِي شَأْنك {إِلَّا اعْتَرَاكَ} أَصَابَك {بَعْضُ آلِهَتِنَا بِسُوءٍ} فَخَبَلَك لِسَبِّك إيَّاهَا فَأَنْت تَهْذِي {قَالَ إِنِّي أُشْهِدُ اللَّهَ} عَلَيَّ {واشهدوا أني بريء مما تشركون} هـ به {مِنْ دُونِهِ فَكِيدُونِي} احْتَالُوا فِي هَلَاكِي {جَمِيعًا} أنتم واوثانكم {ثم لا تنظرون} تمهلون {إِنِّي تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمْ مَا مِنْ} زَائِدَة {دَابَّةٍ} نَسَمَة تَدِبّ عَلَى الْأَرْض {إِلَّا هُوَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا} أَيْ مَالِكهَا وَقَاهِرهَا فَلَا نَفْع وَلَا ضَرَر إلَّا بِإِذْنِهِ وَخَصَّ النَّاصِية بِالذِّكْرِ لِأَنَّ مَنْ أُخِذَ بِنَاصِيَتِهِ يَكُون فِي غَايَة الذُّلّ {إِنَّ رَبِّي عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ} أَيْ طَرِيق الْحَقّ وَالْعَدْل {فَإِنْ تَوَلَّوْا} فيه حذف إحدى التائين أَيْ تُعْرِضُوا {فَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ مَا أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَيْكُمْ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّي قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُ شَيْئًا} بِإِشْرَاكِكُمْ {إِنَّ رَبِّي عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ} رقيب {وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا} عَذَابنَا {نَجَّيْنَا هُودًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ} هِدَايَة {مِنَّا وَنَجَّيْنَاهُمْ مِنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ} شَدِيد {وَتِلْكَ عَادٌ} إشَارَة إلَى آثَارهمْ أَيْ فَسِيحُوا فِي الْأَرْض وَانْظُرُوا إلَيْهَا ثُمَّ وَصَفَ أَحْوَالهمْ فَقَالَ {جَحَدُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْا رُسُلَهُ} جَمَعَ لِأَنَّ مَنْ عَصَى رَسُولًا عَصَى جَمِيع الرُّسُل لاشتراكهم في أصل ما جاؤوا بِهِ وَهُوَ التَّوْحِيد {وَاتَّبَعُوا} أَيْ السَّفَلَة {أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ} مُعَانِد لِلْحَقِّ مِنْ رُؤَسَائِهِمْ {وَأُتْبِعُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا لَعْنَةً} مِنَ النَّاس {وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ} لعنة على رؤوس الْخَلَائِق {أَلَا إِنَّ عَادًا كَفَرُوا} جَحَدُوا {رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا} من رحمة الله {لِعَادٍ قَوْمِ هُودٍ}

ترجمه: اومونږ د عاديانو طرف ته ددوی خاندانی رور هود راوليږلو، هود اووئيل چې اې ځما د قوم خلقو د الله بندگی وكړئی يعنی د هغه د توحيد اقرار وكړئ د هغه نه سوا ستاسو هيڅ څوک معبود نشته من زائده دې تاسو د بتانو بندگئ كولو سره په الله باندې بهتان تړی، اې ځما قوم ځه تاسو ته د توحيد په تبليغ باندې هيڅ اجرت نه غواړم، ځما اجر خو هغه باندې دې چا چې ځه

Scanned with

پیدا کړې یم، آیا تاسو عقل نه کار نه اخلئ؟ اې ځما د قوم خلقو تاسو د خپل رب نه د شرک معافي وغواړئ، بیا د اطاعت په ذریعه سره هغه ته رجوع اوکړئ هغه به په تاسو باندې تیز باران اوکړي، حال دادې چې په دوی باندې باران بند شوې وو او ستاسو موجوده قوت کښې به د مال او اولاد په ذریعه سره نور قوت اضافه کړي، او مشرک جوړیدلو سره مخ مه اړوئی هغه خلقو جواب ورکړو اې هود تا مونږ ته په خپله دعوی باندې څه صفا دلیل راونړو او مونږ ستا په وینا خپل معبودان نه پریږدو او پې تاباندې ایمان راوړونکی نه یو او مونږ ستا باره کښې دا ګنړو چې ته ځمونږ په معبودانو کښې د چا په نیولو کښې راغلې ئې نو ستا ددې خراب وینه د وجه ته ئې لیونې کړې یې نو د دغه وجه نه ته دا بې هوده خبرې کوې، هود ﷺ جواب ورکړو خه په خپل خان الله ګواه جوړوم او تاسو هم ګواه اوسئ، چې ځه د الله نه د غیر کوم چې تاسو شریک جوړه وئی بیزاره یم، تاسو او ستاسو بتان ټول میلاویدلو سره ځما خلاف مکر اوکړئ ځما د هلاکت چل جوړ کړئ او بیا ماله لږ شان مهلت راکړئ، ځما بهروسه په الله باندې ده چې کوم ځما هم رب دې او ستاسو هم، یو زنده سره په زمکه باندې تلونکې داسې نشته چې د هغه تندې د هغه په لاس کښې نه وی یعنی هغه ددوی مالک او په دوی باندې غالب دې لهذا هیڅ نفع اونقصان د هغه د اجازت نه بغیر نشته، ناصیة (تندې) خاص طور باندې ددې ذکر څکه اوکړو چې د چا تندې اونیولې شی هغه ډیر ذلالت کښې وی بې شکه ځما رب په نیغه لار باندې دې یعنی د حق او انصاف په لار باندې دې که چرې تاسو مخ اړوئی نو چې کوم پیغام سره ځه رالیږلې شوې یم هغه ما تاسو ته در اورسوو، او ځما رب به ستاسو په ځائې بل قوم رالی، او په شرک سره تاسو د هغه هیڅ هم کولې نه شئ یقینا ځما رب په هر څیز باندې نګران دې او کله چې ځمونږ عذاب راغې نو مونږ هود ﷺ او چې چا په هغه باندې ایمان راوړې وو، په خپل خاص رحمت سره بچ کړل، او دوی مو د یو سخت عذاب نه اوساتل او دادې قوم عاد! دا اشاره د هغوی آثارو او پاتې شوې ځایونو طرف ته ده، نو تاسو په زمکه کښې وګرځی او د هغوی اثارو ګورئی بیا نې ددوی حالات بیان کړل چا چې د خپل رب آیتونه دروغ اوګنړل او د خپلو رسولانو ئې نافرمانی اوکړه (رسل) نې جمع راوړې دې څکه چې چا د یو رسول نافرمانی اوکړه نو هغه دټولو رسولانو نافرمانی اوکړه، د ټولو رسولانو په اصولو کښې د شریک کیدو د وجه نه کوم چې هغوی راوړې وو، او هغه توحید دې او دا احمقان په خپلو مشرانو کښې د هر یو ظالم او د حق د دشمن تابعداری کوئی اخر کښې په دنیا کښې هم په دوی باندې لعنت پریوتلو او د قیامت په ورځ به د ټولو مخلوقاتو په مخکې کښې په دوی باندې لعنت وی واورئی! عادیانو د خپل رب نافرمانی اوکړه، واورئی اد هود ﷺ قوم عادیانو د پاره د الله د رحمت نه لرې والې دې.

....

Scanned with

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وارسلنا: ددې عطف په نوحا الى قومه باندې دې، او دې ته عطف قصه على القصه وائي.

قوله: هودا: دا د اخاهم عطف بيان دې

قوله: لقولك: د "عن" تفسير په لام سره كولو كښې ئې اشاره اوكړه چې "عن" تعليله دې

قوله: اعتراك: (اعتراء افتعال) ماضى واحد مذكر غائب، راپيښيدل، قصد كول، لګيدل، په مصيبت كښې اخته كيدل.

قوله: بسوء: دې كښې باء تعديت دپاره ده

سوال: د "اياها" ضمير لفظ د "بعض" ته راجع دې، حالانكه لفظ د بعض مذكر دې او په مرجع كښې مطابقت نشته؟

جواب: د مضاف اليه خيال ساتلو د پاره د "اياها" ضمير مو مؤنث راوړو

قوله: اشارة الى اثارهم: دا اضافه ددې سوال جواب دې چې تلك عاد مبتدأ او خبر دى، عاد مذكر دې لهذا د تلك په ځائې هذا وئيل پكار وو،

د جواب حاصل دادې چې ددې خبر آثار دې چې كوم محذوف دې، اى تلك الآثار آثار عاد

قوله: عنيد: بغض لرونكې، سركش او ضدى، جمع ئې عُنُدٌ.

[اياتونه: ٦١ ـ ٦٨]

﴿وَ﴾ ارسلنا ﴿إِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ﴾ مِن القبيلة ﴿صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ﴾ وحدوه ﴿مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنْشَأَكُمْ﴾ ابتدأ خلقكم ﴿مِنَ الْأَرْضِ﴾ بخلق ابيكم آدم منها ﴿وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا﴾ جعلكم عمارا تسكنون بها ﴿فَاسْتَغْفِرُوهُ﴾ من الشرك ﴿ثُمَّ تُوبُوا﴾ ارجعوا ﴿إِلَيْهِ﴾ بالطاعة ﴿إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ﴾ من خلقه بعلمه ﴿مُجِيبٌ﴾ لمن سأله ﴿قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنْتَ فِينَا مَرْجُوًّا﴾ نرجو ان تكون سيدا ﴿قَبْلَ هَذَا﴾ الذي صدر منك ﴿أَتَنْهَانَا أَنْ نَعْبُدَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا﴾ من الاوثان ﴿وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ﴾ من التوحيد ﴿مُرِيبٍ﴾ موقع في الريب ﴿قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَى بَيِّنَةٍ﴾ بيان ﴿مِنْ رَبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً﴾ نبوة ﴿فَمَنْ يَنْصُرُنِي﴾ يمنعني ﴿مِنَ اللَّهِ﴾ اي عذابه ﴿إِنْ عَصَيْتُهُ فَمَا تَزِيدُونَنِي﴾ بامركم لي بذلك ﴿غَيْرَ تَخْسِيرٍ﴾ تضليل ﴿وَيَا قَوْمِ هَذِهِ نَاقَةُ اللَّهِ لَكُمْ آيَةً﴾ حال عامله الاشارة ﴿فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِي أَرْضِ اللَّهِ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوءٍ﴾ عقر ﴿فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ﴾ ان عقرتموها ﴿فَعَقَرُوهَا﴾ عقرها قدار بامرهم ﴿فَقَالَ﴾ صالح ﴿تَمَتَّعُوا﴾ عيشوا ﴿فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ﴾ ثم تهلكون ﴿ذَلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ﴾ فيه ﴿فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا﴾ باهلاكهم ﴿نَجَّيْنَا صَالِحًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ﴾ وهم اربعة آلاف ﴿بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَ﴾ نجيناهم ﴿مِنْ خِزْيِ يَوْمِئِذٍ﴾ بكسر الميم اعرابا وفتحها بناء لاضافته الى مبني وهو الاكثر ﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ﴾ الغالب ﴿وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ﴾ باركين على

الرَّكْب مُبِينَ ﴿كَأَنْ﴾ مُخَفَّفَة وَاسْمهَا مَحْذُوف أَيْ كَأَنَّهُمْ ﴿لَمْ يَغْنَوْا﴾ يُقِيمُوا ﴿فِيهَا﴾ فِي دَارهمْ ﴿أَلَا إِنَّ ثَمُودَ كَفَرُوا رَبَّهُمْ أَلَا بُعْدًا لِثَمُودَ﴾ بِالصَّرْفِ وَتَرْكه عَلَى مَعْنَى الْحَيّ وَالْقَبِيلَة

ترجمه: او مونږ ثمودیانو ته ددوی خاندانی رور صالح عليه السلام رسول جوړ کړې راولیږو، هغه اوئېل اې ځما قومه د الله بندګی اوکړئ یعنی د هغه د توحید اقرار اوکړئ د هغه نه سوا ستاسو هیڅ څوک معبود نشته هغه تاسو پیدا کړئ یعنی ستاسو تخلیق ئې په اول کښې د خاوره نه اوکړو ستاسو نیکه آدم عليه السلام ئې د خاورو نه پیدا کړو او هغه تاسو په زمکه کښې خواره کړئ یعنی تاسو ئې د زمکې اوسیدونکی جوړ کړئ چې تاسو په دې کښې اوسیږئ نو تاسو د هغه نه معافی اوغواړئ د شرک نه او بیا د تابعدارئی په ذریعه دهغه طرف ته رجوع اوکړئ بې شکه ځما رب مخلوق ته د علم په اعتبار سره نزدې دې، او چې څوک د هغه نه سوال کوی د هغې قبلونکې دې هغه خلقو جواب ورکړو اې صالح ددې خبرې د کولو نه مخکښې مونږ ستا نه ډیر امیدونه ساتلې وو ځمونږ امید وو چې ته به زمونږ سردار جوړیږې نو ته مونږ د بتانو د بندګئ نه منع کوې چې کوم بندګی زمونږ خپل پلار نیکه کوله، د کوم توحید طرف ته چې ته مونږ ته دعوت راکوې په هغې کښې ځمونږ ډیر حیرانونکې شک دې صالح عليه السلام اوفرمائیل اې ځما د قوم خلقو آیا تاسو په دې خبره باندې سوچ کړې دې چې زه د خپل رب د طرف نه په دلیل سره یم او هغه ځه په خپل رحمت سره په نبوت سرفرازه کړم نو که ځه د هغه نافرمانی اوکړم نو ما به د الله د عذاب نه څوک بچ کړی؟ تاسو خو ددې خبرې حکم کولو سره ځما ګمراهئ کښې یعنی تاوان کښې زیاتوالې کوئی، اې د قوم ورونړو دا د الله اوښه ستاسو د پاره نښه ده، "آیة" حال دې ددې عامل اسم اشاره ده هغه پریږدئ چې د الله په زمکه باندې څری ګرځی، او دې ته په بد یعنی د هلاک کولو په ارادې سره لاس مه لګوئی که چرې تاسو دا مړه کړه نو په تاسو باندې به ډیر زر عذاب راشی چنانچه هغه خلقو دا مړه کړه یعنی د ددوی په حکم سره قدار دا مړه کړه په دې خبره باندې صالح اوفرمائیل په خپل کورونو کښې درې ورځې اوسئ بیا به تاسو هلاک کړې شئ دا داسې وعده ده چې دروغ کیدلې نشی چنانچه هر کله چه ددوی د هلاک کولو زمونږ حکم راغلو نو مونږ په خپل رحمت سره صالح او هغه خلقو لره چې ده سره ئې ایمان راوړې وو بچ کړل او هغه څلورزره وو او مونږ دوی د هغه ورځې د رسوائی نه بچ کړل یومئذ د میم کسرې سره معرب، او د میم فتحې سره مبنی، د مبنی طرف ته د اضافت د وجه، او هم دا د اکثرو قول دې یقینا هم ستا رب طاقتور او غالب دې او ظالمانو لره یوې چغې راونیول نو هغوی په خپل کورونو کښې مړه پړمخ اوغورزیدل، داسې چې بالکل په دې کورونو کښې آباد نه وو کان مخففه دې او ددې اسم محذوف دې ای کانهم، خبردار اوسیږئ ثمودیانو د خپل رب کفر اوکړو واورئ چې د ثمودیانو د پاره لعنت ده، ثمود منصرف دې د "حی" په معنی کښې کیدو د وجه او غیر منصرف هم دې، دقبیله په معنی کیدو د وجه.

Scanned with

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ثمود: د يو قوم نوم دې او خپل بره نيکه ثمود عآبر بن ارم بن سام بن نوح طرف ته منسوب دې، دحضرت صالح عليه السلام تعلق هم دې قوم سره وو، او هم دې طرف ته رسول رالیږلې شوې وو

قوله: جعلكم عماراتسكنون بها: په دې کښې اشاره ده چې په استعمر کښې س، ت د تصيير د پاره دی يعنی مونږ تاسو ددې د آباد کولو د پاره جوړ کړې، اوبعضې حضراتو د عمر يعمر نه اخستلې دې په دې وخت کښې به ددې معنی وی چې تاسو مو اوسيدونکې جوړ کړئ يا به په دې صورت کښې س، او ت زائد وی.

قوله: صالح: عليه السلام په مشاهير انبياء کښې دی چې په قرآن مجيد کښې دده نوم نهه پيرې راغلې دې، قوم ثمود طرف ته راليږلې شوې وو

قوله: حال: يعنی آية د نافة نه حال دې او په دې کښې عامل هذه په معنی د اشير دې

قوله: فعقروها: (ض) عقرا، خپې پريکول، په عربو کښې دا دستور وو چې کله د يو اوښ مړه کول به ئې غوښتل نو د هغه خپې به ئې کټ کړې، دې سره به د هغه مرګ لازم شو.

قوله: بناء لا ضافة: يعنی ديوم اضافت چې کله "اذ" طرف ته کيږی نو يومئذ به مبنی بر فتحه وی ځکه چې کله ظرف اسم مبهم طرف ته مضاف کيږی، نو د مضاف اليه نه بناء حاصله کړی، يوم د "اذ" طرف ته مضاف دې چې د هغې د وجه نه مبنی برفتحه شوې دې

[اياتونه: ۶۹ - ۸۳]

{وَلَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُنَا إِبْرَاهِيمَ بِالْبُشْرَىٰ} بِإِسْحَاق وَيَعْقُوب بَعْده {قَالُوا سَلَامًا} مَصْدَر {قَالَ سَلَامٌ} عَلَيْكُمْ {فَمَا لَبِثَ أَنْ جَاءَ بِعِجْلٍ حَنِيذٍ} مَشْوِيّ {فَلَمَّا رَأَىٰ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ} بِمَعْنَى أَنْكَرَهُمْ {وَأَوْجَسَ} أَضْمَرَ فِي نَفْسه {مِنْهُمْ خِيفَةً} خَوْفًا {قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ} لِنُهْلِكَهُمْ {وَامْرَأَتُهُ} أَيْ امْرَأَة إِبْرَاهِيم سَارَة {قَائِمَةٌ} تَخْدُمهُمْ {فَضَحِكَتْ} اسْتِبْشَارًا بِهَلَاكِهِمْ {فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَاقَ وَمِنْ وَرَاءِ} بَعْد {إِسْحَاقَ يَعْقُوبَ} وَلَده تَعِيش إِلَى أَنْ تَرَاهُ {قَالَتْ يَا وَيْلَتَىٰ} كَلِمَة تُقَال عِنْد أَمْر عَظِيم وَالْأَلِف مُبْدَلَة مِنْ يَاء الْإِضَافَة {أَأَلِدُ وَأَنَا عَجُوزٌ} لِي تِسْع وَتِسْعُونَ سَنَة {وَهَٰذَا بَعْلِي شَيْخًا} لَهُ مِائَة وَعِشْرُونَ سَنَة وَنَصْبه عَلَى الْحَال وَالْعَامِل فِيهِ مَا فِي ذَا مِنْ الْإِشَارَة {إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ} أَنْ يُولَد وَلَد لِهَرِمَيْنِ {قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ} قُدْرَته {رَحْمَتُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ} يَا {أَهْلَ الْبَيْتِ} بَيْت إِبْرَاهِيم {إِنَّهُ حَمِيدٌ} مَحْمُود {مَجِيدٌ} كَرِيم {فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ الرَّوْعُ} الْخَوْف {وَجَاءَتْهُ الْبُشْرَىٰ} بِالْوَلَدِ أَخَذَ {يُجَادِلُنَا} يُجَادِل رُسُلنَا {فِي} شَأْن {قَوْمِ لُوطٍ} {إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَحَلِيمٌ} كَثِير الْأَنَاة {أَوَّاهٌ مُنِيبٌ} رَجَّاع فَقَالَ لَهُمْ أَتُهْلِكُونَ قَرْيَة فِيهَا ثَلَاثمِائَةِ مُؤْمِن قَالُوا لَا قَالَ أَفَتُهْلِكُونَ قَرْيَة فِيهَا مائتا مؤمن قالوا لا قال افتهلكون قرية فِيهَا أَرْبَعُونَ مُؤْمِنًا قَالُوا لَا قَالَ

Scanned with

أَتُهْلِكُونَ قَرْيَة فِيهَا أَرْبَعَة عَشَرَ مُؤْمِنًا قَالُوا لَا قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ إِنْ كَانَ فِيهَا مُؤْمِن وَاحِد قَالُوا لَا قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا قَالُوا نَحْنُ أَعْلَم بِمَنْ فِيهَا إِلَخ فَلَمَّا أَطَالَ مُجَادَلَتهمْ قَالُوا ﴿يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا﴾ الْجِدَال ﴿إِنَّهُ قَدْ جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ﴾ بِهلاكهم ﴿وإنهم آتيهم عذاب غير مردود﴾ ﴿وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ﴾ حَزِنَ بِسَبَبِهِمْ ﴿وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا﴾ صَدْرًا لِأَنَّهُمْ حِسَان الْوُجُوه فِي صُورَة أَضْيَاف فَخَافَ عَلَيْهِمْ قَوْمه ﴿وَقَالَ هَذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ﴾ شَدِيد ﴿وَجَاءَهُ قَوْمُهُ﴾ لَمَّا عَلِمُوا بِهِمْ ﴿يُهْرَعُونَ﴾ يُسْرِعُونَ ﴿إِلَيْهِ وَمِنْ قَبْلُ﴾ قَبْل مَجِيئِهِمْ ﴿كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ﴾ وَهِيَ إِتْيَان الرِّجَال فِي الْأَدْبَار ﴿قَالَ﴾ لوط ﴿يَا قَوْمِ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي﴾ فَتَزَوَّجُوهُنَّ ﴿هُنَّ أَطهر لكم فاتقوا الله ولا تخزون﴾ تَفْضَحُونِ ﴿فِي ضَيْفِي﴾ أَضْيَافِي ﴿أَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ﴾ يَأْمُر بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَى عَنْ الْمُنْكَر ﴿قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ﴾ حَاجَة ﴿وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ﴾ مِنْ إِتْيَان الرِّجَال ﴿قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً﴾ طَاقَة ﴿أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ﴾ عَشِيرَة تَنْصُرنِي لَبَطَشْت بِكُمْ فَلَمَّا رَأَتْ الْمَلَائِكَة ذَلِكَ ﴿قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَنْ يَصِلُوا إِلَيْكَ﴾ بِسُوءٍ ﴿فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ﴾ طَائِفَة ﴿مِنَ اللَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ﴾ لِئَلَّا يَرَى عَظِيم مَا يَنْزِل بِهِمْ ﴿إِلَّا امْرَأَتُكَ﴾ بِالرَّفْعِ بَدَل مِنْ أَحَد وَفِي قِرَاءَة بِالنَّصْبِ اسْتِثْنَاء مِنْ الْأَهْل أَيْ فَلَا تَسِرْ بِهَا ﴿إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ﴾ فَقِيلَ لَمْ يَخْرُج بِهَا وَقِيلَ خَرَجَتْ وَالْتَفَتَتْ فَقَالَتْ وَاقَوْمَاه فَجَاءَهَا حَجَر فَقَتَلَهَا وَسَأَلَهُمْ عَنْ وَقْت هَلَاكهمْ فَقَالُوا ﴿إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ﴾ فَقَالَ أُرِيد أَعْجَل مِنْ ذَلِكَ قَالُوا ﴿أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ﴾ ﴿فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ ﴿جَعَلْنَا عَالِيَهَا﴾ أَيْ قُرَاهُمْ ﴿سَافِلَهَا﴾ أَيْ بِأَنْ رَفَعَهَا جِبْرِيل إِلَى السماء وأسقطها مقلوبة إلى الأرض ﴿وأمطرنا عليها حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ﴾ طِين طُبِخَ بِالنَّارِ ﴿مَنْضُودٍ﴾ متتابع ﴿مُسَوَّمَةً﴾ مُعَلَّمَة عَلَيْهَا اسْم مَنْ يُرْمَى بِهَا ﴿عِنْدَ رَبِّكَ﴾ ظَرْف لَهَا ﴿وَمَا هِيَ﴾ الْحِجَارَة أَوْ بِلَادهمْ ﴿مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة ﴿ببعيد﴾

ترجمه: زمونږ فرشتې ابراهیم علیه السلام ته د اسحق او د هغه نه پس د یعقوب (علیهما السلام) زیرې ورکولو سره راغلې وئې وئیل چې په تاسو باندې دې سلام وی سلام مصدر دې ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل چې په تاسو باندې دې هم سلام وی څه وخت تیر شوې نه وو چې ابراهیم علیه السلام وریتکړې شوې سخې راوړو. خو چې کله ئې اوکتل چې دوی روټئ طرف ته لاس نه رامخکښې کوی نو هغوی ئې نا آشنا اوګنړل نکر په معنی د انکر دې نو ابراهیم علیه السلام ددوی د طرف نه په خپل زړه کښې ویره محسوس کړه، فرشتو اوئیل چې ویره مه کوه مونږ قوم د لوط طرف ته رالیږلې شوې یوو، چې مونږ هغوی هلاک کړو او د ابراهیم علیه السلام ښځه ساره ددوی په خدمت کښې لګیا وه نو هغې د قوم هلاکت او د نوح علیه السلام د بچکیدلو زیرې چې واوریدلو نو وئې خاندل،نو مونږ هغې ته د اسحق او د هغه نه پس ددې خوئې یعقوب علیه السلام زیرې ورکړو او هغه به ژوندئ وی تردې چې هغه به هم دا اوینی هغې اووئیل هائې څما کمبختئ دا یو کلمه ده چې د غټ کار د پاره استعمالیږی او د (ویلتی) الف د یاء اضافت نه راغلې دې آیا څما اولاد به کیږی حالانکه څه د ۹۹ کالو بودئی یم او څما خاوند هم بوډا دې د هغه عمر ۱۲۰ کاله دې شیخا د

Scanned with

حال کیدو د وجه منصوب دې او ددې عامل هذا په معنی د أشیر دې دا یقینا ډیره عجیبه خبره ده چې د بوډا خاوند او ښځې بچې وشي، فرشتو اوفرمائیل چې آیا ته د الله د قدرت او د هغه د رحمت او په خپل ځان باندې د برکتونو نه حیرانیږې؟ اې د ابراهیم علیه السلام کور والو بې شکه هغه د پیرزونې قابل او کریم دې، چې کله د ابراهیم علیه السلام ویره ختمه شوه او هغه ته د هلک زیرې اورسیدلو نو هغه د قوم لوط په معامله کښې مونږ ته یعنی فرشتو ته وئیل اوریدل شروع کړل یقینا ابراهیم علیه السلام ډیر برداشت والا ډیر صبر والا نرم زړه دالله طرف ته تیتیدونکې وو ابراهیم علیه السلام هغوی ته اوفرمائیل تاسو به داسې کلی والا هلاک کړئ چې په هغې کښې درې سوه مومنان موجود دی، فرشتو جواب ورکړو چې نه، بیا ئې اووئیل آیا تاسو به داسې کلی والا هلاک کړئ چې په هغې کښې دوه سوه مومنان موجود دی؟ فرشتو ووئیل چې نا، بیا ابراهیم اووئیل چې تاسو به داسې کلی والا تباه کړئ چې په هغې کښې څلویښت مومنان موجود دی؟ جواب ئې ورکړو چې نه،بیا ئې اوفرمائیل چې تاسو به داسې کلې تباه کړئ چې په هغې کښې څورلس مومنان موجود دی؟جواب ئې ورکړو چې نهٔ بیا ابراهیم اووئیل چې تاسو داسې کلې تباه کول مناسب ګنړئ چې په هغې کښې یو مومن وی؟ جواب ئې ورکړو چې نه،بیا ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل چې په دې کلی کښې لوط علیه السلام هم دې فرشتو جواب ورکړو چې مونږ ته ښه پته ده چې په دې کلی کښې څوک دې، چې کله د هغوی په مینځ کښې خبرې ډیرې شوې، نو فرشتو اوفرمائیل اې آبراهیم علیه السلام دې بحث او تکرار لره پریږده، ددوی د هلاکت د پاره ستا د رب حکم راغلې دې او په دوی باندې نه واپس کیدونکې عذاب راتلونکې دې، او چې کله زمونږ لیږلې شوې لوط علیه السلام ته راغلې نو هغهٔ ددوی د وجه نه خفه شو او په زړه کښې ئې دا خبره تیریدله څکه چې د ښکلې ځوانانو په شکل کښې وې چې د هغې د وجه نه ددوی په باره کښې د خپل قوم نه ویریدلو او وې وئیل چې نن ورځ ډیر د لوئ مصیبت ورځ ده، هر کله چې قوم ته د میلمنو د راتلو علم اوشو نو په منډه باندې د لوط علیه السلام خواله راغلل او دوی ددې میلمنو د راتلو نه مخکښې په بدکارئی کښې اخته وو او هغه بدکاری د سړو سره د هم جنسئ کار وو، لوط علیه السلام اوفرمائیل اې ځما د قوم خلقو دا ځما لوریانې دی دوی سره نکاح اوکړئ دا ستاسو د پاره پاکې دی، د الله نه ویریږئ او ما د میلمنو په مخکښې رسوا کوی ما،آیا په تاسو کښې یو هم هوښیار سړې نشته؟ چې د خو خبرو حکم اوکړی او د بدو نه منع کړی هغوی جواب ورکړو چې تاته خه پته ده چې زمونږ ستا لوریانو ته هیڅ حاجت نشته او مونږ چې څه غواړو د هغې نه ته خه خبر ئې یعنی د هم جنسئ عمل، نوح علیه السلام اوفرمائیل کاش چې په ماکښې ستاسو د مقابلې طاقت وو،یا ما د څه طاقتور قبیلې سهاره نیولې وې چې ځما مدد ئې کړې وې نو ما به ستاسو مقابله کړې وه، چې فرشتو دا صورت حال اوکتلو نو وئې وئیل چې مونږ ستا د رب د طرف نه رالیږلې شوې یوو دوی د نقصان رسولو

Scanned with

په اراده تاته هيڅ کله رارسيدلې نشي نو ته خپل کور والا ځان سره واخله او د شپې اوزه، په تاسو کښې چاته هم شاته کتل پکار نه دی چې دا لوئې عذاب اونه وینی چې کوم په دوی باندې نازيليدونکې دې سوا ستا د ښځې نه د رفع په صورت کښې د احد نه بدل دې، او په يو قراءت کښې نصب دې د اهل نه استثناء د وجه نه، يعنی ته دا ځان سره مه بوځه، ځکه چې دې ته هم هغه رسی کوم چې به دوی ته ورسيږی، وئيلې شوې دی چې لوط عليه السلام خپل ښځه ځان سره بوتلې نه وه، او وئيلې شوې دی چې هغه هم وتلې وه خو هغې شاته مخ راړولو سره اوکتل او وې وئيل چې اې ځما قومه، نو يو کاڼې پرې راپريوتلو او هغه ئې قتل کړه حضرت لوط عليه السلام د فرشتو نه ددوی د هلاکت وخت معلوم کړو نو هغوی اوفرمائيل چې ددوی هلاکت به د سحر په وخت کښې وی لوط عليه السلام اوفرمائيل چې څه خو ددې نه هم زيات زر غوارم، نو جواب ئې ورکړو چې آيا سحر دير نزدې نه دې؟ کله چې ددوی د هلاکت ځمونږ حکم راورسيدلو نو مونږ ددوی کلی لاندې باندې کړل په داسې صورت چې جبرائيل عليه السلام ددوی کلی اوچت کړل او اولته ئې زمکې ته راواچول، او مونږ په دې کلی والو باندې په اور کښې پخ کړې شوې مسلسل کاڼی راورول، چې ستا د رب د طرف نه نښنه دار وو يعنی په دې باندې د هغه کس نوم ليکلې شوې وو چې څوک به ددې په ذريعه سره هلاک کيدلو، عند ربك د مسومة ظرف دې، او هغه کاڼی يا ددوی کلی د ظالمانو يعنی د مکې والو نه لرې نه دی (شام ته تلو راتلو باندې په هغه ځائې باندې تيريدنه کيږی)

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: مصدر: په دې کښې اشاره ده چې سلاما، د سلمنا فعل محذوف مصدر دې، په دې کښې د اعتراض جواب هم اوشو چې سلاما د قالو مقوله ده، حالانکه مقوله مفرد نه وی، ددې اضافې نه دا هم معلومه شوه چې سلاما مفرد نه دې، بلکه د سلمنا د وجه جمله ده،

قوله: عليكم: مفسر علام عليكم محذوف منلو سره اشاره اوکړه چې سلام مبتدأ ده او عليكم ددې خبر محذوف دې

سوال: سلام نکره ده او د نکرې مبتدأ راتلل صحيح نه وی؟

جواب: حاصل دادې چې په سلام کښې تنوين د تعظيم د پاره دې ای سلام عظيم، لهذا د سلام مبتدأ راتلل صحيح شول، دا د شراهرذاناب د قبيلې نه دې، دارنګ دلته هم د مقولې د مفرد کيدلو اعتراض ختم شو.

قوله: بشري: د خوشحالئی خبر، د خوشحالئ د خبر اثر چونکه په مخ باندې کيږی ځکه ئې دې ته بشری اووئيل، د بشری نه دلته ابراهيم عليه السلام ته د اسحق او د يعقوب خوشخبری ورکول دی چې هغه ئې روستو په فبشرناه باسحق الخ سره بيان کړې دې، او دا هم احتمال دې

Scanned with

چې د بشرى نه عام خوشخبرى مراد وى نو په دې کښې به د لوط علیه السلام وغيره خلاصيدل او د هغوى د بدکاره قوم د هلاکت خوشخبرى هم شامله وى، مفسر علام هم دغه آخرى معنى مراد اخستلې ده.

سوال: حضرت ابراهيم علیه السلام دلته جمله اسميه استعمال کړې ده،او فرشتو جمله فعليه، ددې څه وجه ده؟

جواب: حاصل دادې چې د سلام جواب د ښه نه ښه پکار دې ځکه د شريعت دا اصول دى، د سلام جواب به هله د سلام نه ښه وى چې کله جمله اسميه استعمال کړې شى،جمله اسميه د جملې فعليې نه بهتره وى،ځکه چې جمله اسميه په هميشوالى او ثابتوالى باندې دلالت کوى.

قوله: انكرهم: د نكرهم تفسير په انكرهم سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې لازم په معنى د متعدى دې

قوله: ياويلتا: په اصل کښې ياويلتى وو، ياء د اضافت په الف سره بدله کړې شوه

قوله: رحمة الله الخ: دا کلام مستانف دې او د تعجب د انکار علت دې يعنى ته ددې نه تعجب مه کوه،ځکه چې دا په تا باندې د الله رحمت او برکت دې.

قوله: اخذ يجادلنا: دا د هغه سوال مقدر جواب دې چې د لما جواب ماضى وى نه چې مضارع، او دلته د لما جواب يجادلنا مضارع راغلې ده.

جواب دا دې چې دلته اخذ ماضى محذوف دې، او هم هغه د لما جواب دې،اگر چې ماضى مجازا هم د لما جواب راتلې شى،په داسې طريقه چې په مضارع باندې لم يا لما داخل شى،خو بهتره داده چې حقيقة په ماضى کښې جواب راشى،

قوله: شأن: چونکه په لفظ د قوم کښې د ظرف جوړيدلو صلاحيت نشته، ځکه مو لفظ شان محذوف اوګڼړلو، چې د "فى" ظرف جوړيدل صحيح شى

قوله: لبطشت: په دې کښې اشاره ده چې د "لو" جواب محذوف دې

قوله: بالرفع بدل: الخ ځکه چې اشتثناء په کلام غير موجب کښې بدل مختار وى

قوله: اشتثنا من الاهل: يعنى الا امراتک، د من الاهل نه استثناء ده، نه چې د احد نه، ځکه چې د "احد" نه اشتثناء گرځولو سره "امراة" ته به د التفات حکم ورکول لازم شى،حالانکه داسې نه ده.

قوله: الاامراتك: په نصب سره دا د جمهورو قراءت دې او د ابوعمرو او ابن کثير په نيز "احد" نه د بدل کيدلو د وجه مرفوع دې، د اولنى قراءت په صورت کښې "امراتک" به د

"فاسر باهلک" نه مستثنی وی، ای اسر باهلك جمیعا الا امراتك فلا تسر بها، د رفع د قرامت نه یو جماعت انکار کړی دی، په هغې کښې ابوعبید هم شامل دې،،

[ایاتونه: ۸۴ ـ ۹۵]

{و} أرسلنا {إِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ} وَحِّدُوهُ {مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ} نِعْمَة تُغْنِيكُمْ عَنْ التَّطْفِيف {وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ} إنْ لَمْ تُؤْمِنُوا {عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ} بِكُمْ يُهْلِكُكُمْ وَوَصْف الْيَوْم بِهِ مَجَاز لِوُقُوعِهِ فِيهِ {وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ} أَتِمُّوهُمَا {بِالْقِسْطِ} بِالْعَدْلِ {وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ} لَا تُنْقِصُوهُمْ مِنْ حَقّهمْ شَيْئًا {وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ} بِالْقَتْلِ وَغَيْره مِنْ عَثِيَ بِكَسْرِ الْمُثَلَّثَة أَفْسَدَ وَمُفْسِدِينَ حَال مُؤَكِّدَة لِمَعْنَى عَامِلهَا تَعْثَوْا {بَقِيَّتُ اللَّهِ} رِزْقه الْبَاقِي لَكُمْ بَعْد إيفَاء الْكَيْل والوزن {خَيْرٌ لَكُمْ} من البخس {إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ} رَقِيب أُجَازِيكُمْ بِأَعْمَالِكُمْ إنَّمَا بُعِثْت نَذِيرًا {قَالُوا} لَهُ اسْتِهْزَاء {يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ} بِتَكْلِيفِ {أَنْ نَتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا} مِنْ الْأَصْنَام {أَوْ} نَتْرُك {أَنْ نَفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ} الْمَعْنَى هَذَا أَمْر بَاطِل لَا يَدْعُو إلَيْهِ دَاعِي خَيْر {إِنَّكَ لَأَنْتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ} قَالُوا ذَلِكَ اسْتِهْزَاء {قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِنْ كُنْتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا} حَلَالًا أَفَأَشُوبهُ بِالْحَرَامِ مِنْ الْبَخْس وَالتَّطْفِيف {وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ} وَأَذْهَب {إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ} فَأَرْتَكِبهُ {إِنْ} مَا {أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ} لَكُمْ بِالْعَدْلِ {مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي} قُدْرَتِي عَلَى ذَلِكَ وَغَيْره مِنْ الطَّاعَات {إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ} أَرْجِع {وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ} يَكْسِبَنَّكُمْ {شِقَاقِي} خِلَافِي فَاعِل يَجْرِم وَالضَّمِير مَفْعُول أَوَّل وَالثَّانِي {أَنْ يُصِيبَكُمْ مِثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ} مِنْ الْعَذَاب {وَمَا قَوْمُ لُوطٍ} أَيْ مَنَازِلهمْ أَوْ زَمَن هَلَاكهمْ {مِنْكُمْ بِبَعِيدٍ} فَاعْتَبِرُوا {وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ} بِالْمُؤْمِنِينَ {وَدُودٌ} مُحِبّ لَهُمْ {قَالُوا} إيذَانًا بِقِلَّةِ الْمُبَالَاة {يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ} نَفْهَم {كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا} ذَلِيلًا {وَلَوْلَا رَهْطُكَ} عَشِيرَتك {لَرَجَمْنَاكَ} بِالْحِجَارَةِ {وَمَا أَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ} كَرِيم عَنْ الرَّجْم وَإِنَّمَا رَهْطك هُمْ الْأَعِزَّة {قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ} فَتَتْرُكُوا قَتْلِي لِأَجْلِهِمْ وَلَا تَحْفَظُونِي لِلَّهِ {وَاتَّخَذْتُمُوهُ} أَيْ اللَّه {وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا} مَنْبُوذًا خَلْف ظُهُوركُمْ لَا تُرَاقِبُونَهُ {إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ} عِلْمًا فَيُجَازِيكُمْ {وَيَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ} حَالَتكُمْ {إِنِّي عَامِلٌ} عَلَى حَالَتِي {سَوْفَ تَعْلَمُونَ مَنْ} مَوْصُولَة مَفْعُول الْعِلْم {يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ وَارْتَقِبُوا} انْتَظِرُوا عَاقِبَة أَمْركُمْ {إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ} منتظر {وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا} بِإِهْلَاكِهِمْ {نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ} صَاحَ بِهِمْ جِبْرِيل {فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ} بَارِكِينَ عَلَى الرُّكَب مَيِّتِينَ {كَأَنْ} مُخَفَّفَة أَيْ كَأَنَّهُمْ {لَمْ يَغْنَوْا} يُقِيمُوا {فِيهَا أَلَا بُعْدًا لِمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ}

ترجمه: او مونږه اولیږل مدین ته د هغوی رور شعیب علیه السلام، هغه اووئیل اې زما قومه د الله عبادت اوکړئ هغه یو اوګڼرئ نشته د هغه نه علاوه بل خدائی، او مه کوئ په پیمانه کښې او په تله کښې

Scanned with

کمې، څه تاسو په خوشحالئی کښې وینم چې د هغې د وجه تاسو د کم تللو او د کم ناپ کولو نه مستغنی ئې، که چرې تاسو ایمان راونړو نوماته ستاسو په باره کښې ستاسو لره راګیرونکی ورځې دعذاب ویره ده چې تاسو به هلاک کړی، او د یوم صفت محیط مجاز دې، د عذاب په دې کښې د راتلو د وجه او اې ځما د قوم رونړو تاسو په انصاف سره پورا پورا ناپ کوئی اوتلئی،او خلقو ته د هغوی په څیزونو کښې نقصان مه رسوئی یعنی د هغوی په حق کښې هیڅ کمی مه کوئی او د قتل وغیره په ذریعه په ملک کښې فساد خورونکی مه ګرځئ (تعثو) د عثی د ثاء په کسرې سره دې، په معنی د افسد، او مفسدین د خپل عامل تعثوا د معنی نه حال مؤکد دې، د پورا تللو او ناپ کولو نه پس د الله تعالی ورکړې شوې چې تاسو سره بچ پاتې شی هغه د کم ورکولو نه ډیر غوره دې که چرې تاسو ته یقین راغلو او څه په تاسو باندې څوکیدار نه یم چې تاسو ته ستاسو د عملونو بدله درکړم څه خو صرف تاسو ته د خبر ورکولو د پاره رالیږلې شوې یم نو هغوی شعیب عليه السلام ته د توقو په توګه اووئیل اې شعیب عليه السلام آیا ستا مونځ صرف تاته ددې خبرې حکم درکوی چې مونږ ددې خبرې مکلف جوړ کړې چې مونږه دا بتان پریږدو؟ د چا چې زمونږ پلار نیکه عبادت کولو، یا دا چې مونږ په خپلو مالونو کښې په خپله تصرف کول پریږدو؟مطلب دادې چې دا غلطه خبره ده، د خیر دعوت ورکولو والا داسې خبره نه کوی واقعی ته ډیر عقلمند په دین باندې تلونکې ئې هغوی دا خبره د توقو په توګه اوکړه شعیب عليه السلام اوفرمائیل اې ځما دقوم خلقو اګورئی چې څه د الله د طرف نه په دلیل روښانه سره راغلې یم او هغه ماته د خپل طرف نه حلاله روزی راکړې ده آیا په دې کښې څه د حرام چې هغه پلیت او کم ناپ تول دې ملاوټ اوکړم او ځما دا اراده بالکل نه ده چې ستاسو مخالفت اوکړم او چې څه کوم څیز نه تاسو منع کوم د هغې مخالفت کولو سره په خپله د هغې طرف ته لاړ شم یعنی په خپله په هغې کښې مبتلا شم او ځما اراده د خپل وس مناسب ستاسو اصلاح کول دی او ځما توفیق یعنی ځما قدرت په دې باندې او ددې نه علاوه په نورو طاعاتو باندې د الله په مدد دې او هم په هغه ځما بهروسه ده او هم هغه طرف ته به رجوع کوم،.او اې ځما د قوم خلقو داسې اونشی چې ځما مخالفت تاسو لره مجرمان جوړ کړی (شقاقی) د بجرم فاعل دې او "کم" ضمیر مفعول اول دې او دویم مفعول "ان یصیبکم" الخ دې، او تاسو ته هغه شان عذاب اورسیږی څنګه چې قوم د نوح یا قوم د هود یا قوم د صالح ته رسیدلې وو او قوم لوط یعنی د هغوی مکانات یا د هغوی د هلاکت زمانه ستاسو نه لرې نه دې لهذا عبرت حاصل کړئ او د خپل رب نه معافی اوغوړئی او بیا هغه طرف ته رجوع اوکړئ یقین اوساتئ ځما رب په مومنانو باندې ډیر مهربانه او هغوی سره محبت کوونکې دې د بې توجهی ښکاره کولو د پاره دې خلقو اووئیل اې شعیب عليه السلام ستا ډیرې خبرې ځمونږ په سوچ کښې نه رازی،او مونږ تالره په خپل مینځ کښې ډیر کمزورې ګنړو، که ستا د قبیلې خیال نه وو نو مونږ به ته سنګسار کړې وې او

Scanned with

ستا سنګسارول ځمونږ د پاره څه ګرانه نه ده، البته ستا قبیله ډیره عزت داره ده شعیب علیه السلام جواب ورکړو اې ځما د قوم خلقو آیا تاسو ته ځما قبیله د الله نه هم زیاته خوښه ده؟ چې د هغې د وجه نه تاسو ځما دقتل نه روستو کیږئ او د الله د پاره ځما حفاظت نه کوې او تاسو الله شاته کړې دې یعنې تاسو هغه روستو غورزولې ګڼرئ چې د هغې د وجه نه تاسو سره د هغه خیال نشته بې شکه ځما رب په تاسو باندې د علم په اعتبار سره احاطه کړې ده یعنې هغه به تاسوله بدله درکړي او اې ځما د قوم خلقو تاسو په خپله طریقه عمل کوئ او زه په خپل طریقه عمل کوم تاسو ته به ډیر زر معلوم شي "مَنْ" موصوله د تعلمون مفعول دې چې څوک هغه دي چې هغوی طرف ته به دا رسوا کن عذاب راځي؟ او د روغژن څوک دی؟ او تاسو په خپله معامله کښې د انجام انتظار کوئ زه هم تاسو سره انتظار کوم او چې کله ددوی د هلاکت ځمونږ حکم راغلو نو مونږ شعیب علیه السلام او هغه کسان چې د دوی سره ئې ایمان راوړې وو په خپل رحمت سره بچ کړل او ظالمانو لره یوې چغې کومه چې جبرائیل علیه السلام وهلې وه اونیول نو هغوی په خپلو کورونو کښې د ګونډو په سر مړه پراته پاتې وو (کان) مخففه ده یعنې په اصل کښې کانهم وو داسې چې دوی په دې کورونو کښې هډو اوسیدلې نه وو، ښه واورئ اوسیدونکي د مدین والو د پاره رحمت نه لرې والې دې، څنګه چې لرې والې د ثمودیانو د پاره وو..

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: مدین، اهل مدین: شعیب علیه السلام ددې قوم یو کس وو، چې هغوی طرف ته رالیږلې شوې وو، مدین د حضرت ابراهیم علیه السلام د یو ځوی نوم دې چې د هاجره او ساره نه علاوه د دریمې ښځې د قطورا د بطن نه وو، هم دده په نوم سره د یو ښار نوم کیخودلې شو، ددې محل وقوع د عقبه نه مشرقي طرف ته وه، نن وخت هغې ته معان وئیلې شي، دا خلق تاجران وو او د مصر، فلسطین او د لبنان سره به ئې تجارت کولو.

قوله: وصف الیوم به مجازا لوقوعه فیه: دا عبارت ددې سوال جواب دې چې محیط د عذاب صفت دې نه چې د یوم، حالانکه د محیط اضافت "یوم" طرف ته شوې دې؟

د جواب حاصل دادې چې په دې کښې مجاز دې چونکه عذاب به په "یوم" کښې راځي او یوم به د عذاب ظرف وي، ددې مناسبت سره د مظروف اضافت ظرف طرف ته شوې دې.

قوله: حال مؤكدة: دا ددې سوال جواب دې چې د تعثوا معنی فساد دې، او د مفسدین معنی هم فساد ده، لهذا په دې کښې تکرار دې؟

د جواب حاصل دادې چې دا تکرار نه دې بلکه په اعتبار د معنی سره تاکید دې

قوله: لاتعثوا عثی: د عثی نه دې، نهی جمع مذکر حاضر، تاسو فساد مه خوروئ

قوله: لمعنی عاملها: یعنې مفسدین د خپل عامل لا تعثوا د معنی نه حال دې، او معنی ئې

Scanned with

فساد دي

قوله:بقيت الله: په اوږده تاء سره، او ابوعمرو، کسائي او نورو په تاء مدوره سره لوستلې دي، بقية 'پاتې شوې مال' د فعلية په وزن د صفت مشبه صيغه ده،يعنی پورا تللو او د حقوقو د ادا کولو نه پس چې کوم پاتې شي هغه ستاسو لره د هغه نه ډير زيات بهتر دې کوم چې تاسو په کم ناپ تول سره د خلقو حقوق وهلو سره جمع کړې دی،د بقيت اضافت د الله طرف ته ځکه شوې دې چې هم هغه رزق ورکړې دې، دلته د اعمال صالحه او اطاعت په معنی کښې نه دې،

قوله:بتکليفنا : ای بتکليفک اياّنا، بتکليفنا مقدر منلو سره مفسر علام د يو سوال جواب ورکړې دې

سوال: دا دې چې پريښودل (ترک) د کافرانو کار دې او اصلوتك تأمرك کښې شعيب عليه السلام مامور دې،د ترک ترجمه به دا وی چې اې شعيب عليه السلام آيا ستا مونځ تاته دا حکم کوی چې مونږ د بتانو بندگی پرېږدو؟ او دا ممکن نه ده چې د پريښودلو حکم شعيب عليه السلام ته وی او عمل په دې باندې کافر وکړی.

جواب: حاصل دادې چې دلته مضاف محذوف دې او هغه بتکليفنا دې، اوس به ترجمه دا وی چې اې شعيب عليه السلام آيا ستا مونځ تاته ددې خبرې حکم کوی،چې ته مونږ د بتانو د بندگئ نه د منع کولو مکلف اوگرځوئې؟

قوله:نترك: دې سره اشاره اوکړې شوه چې 'ان نفعل' په تاويل د مصدر سره په 'ما' باندې عطف دې.

قوله:افأشوبه: ددې په حذف اشاره کښې ده چې د 'ان' شرطيه جواب محذوف دې.

قوله:واذهب:

سوال: د اذهب مقدر گڼړلو څه ضرورت وو؟

جواب: ځکه چې دلته د 'اخالف' صله 'الی' راوړلې شوې ده حالانکه د اخالف صله الی نه راځی بلکه 'عن' رازی، اذهب محذوف منلو سره ئې دا اووئيل چې اخالف د 'اذهب' په معنی کښې دې، لهذا 'الی' صله راوړل صحيح دي

قوله:ظهريا: شاته غورځول ې شوې، الظهری ظهر ته منسوب دې، د عربو دا عادت دې چې د يو څيز طرف ته نسبت کولو سره په تلفظ کښې تبديلی کوی،خو په دې باندې بل لفظ قياس کيدلې نشی،ځکه چې دا تبديلی د څه قاعدې مطابق نه ده بلکه غير قياسی ده، مثلا 'بصری' د کسرې سره وائی،حالانکه قياس د فتحې سره دې او په دې طريقه باندې 'ظهری' دې حالانکه 'ظهری' د ظاء فتحې سره دې،،

[ايا تونه: ٩٦ _ ١٠٩]

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَى بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ﴾ بُرْهَان بين ظاهر ﴿إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ﴾ سَدِيد ﴿يَقْدُمُ﴾ يَتَقَدَّم ﴿قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ فَيَتْبَعُونَهُ كَمَا اتَّبَعُوهُ فِي الدُّنْيَا ﴿فَأَوْرَدَهُمُ﴾ اَدْخَلَهُمْ ﴿النَّارَ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ﴾ هِيَ ﴿وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ﴾ أَيِ الدُّنْيَا ﴿لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ لَعْنَة ﴿بِئْسَ الرِّفْدُ﴾ العَوْن ﴿الْمَرْفُودُ﴾ رِفْدهمْ ﴿ذَٰلِكَ﴾ الْمَذْكُور مبتدأ خَبَره ﴿مِنْ أَنْبَاءِ الْقُرَىٰ نَقُصُّهُ عَلَيْكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿مِنْهَا﴾ أَيِ الْقُرَى ﴿قَائِمٌ﴾ هلك اهله دونه ﴿وَ﴾ مِنْهَا ﴿حَصِيدٌ﴾ هَلَكَ بِأَهْلِهِ فَلَا أَثَر لَهُ كَالزَّرْعِ الْمَحْصُود بِالْمَنَاجِلِ ﴿وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ بِغَيْرِ ذَنْب ﴿وَلَٰكِنْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ بالشرك ﴿فَمَا أَغْنَتْ﴾ دفعت ﴿عَنْهُمْ آلِهَتُهُمُ الَّتِي يَدْعُونَ﴾ يَعْبُدُونَ ﴿مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ أَيْ غَيْره ﴿مِنْ﴾ زَائِدَة ﴿شَيْءٍ لَمَّا جَاءَ أَمْرُ رَبِّكَ﴾ عَذَابه ﴿وَمَا زَادُوهُمْ﴾ بِعِبَادَتِهِمْ لَهَا ﴿غَيْرَ تَتْبِيبٍ﴾ تخسير ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾ مِثْل ذَلِكَ الْأَخْذ ﴿أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ﴾ أُرِيد أَهْلهَا ﴿وَهِيَ ظَالِمَةٌ﴾ بِالذُّنُوبِ أَيْ فَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ مِنْ أَخْذه شَيْء ﴿إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾ رَوَى الشَّيْخَانِ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيّ قَالَ قَالَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّه لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتهُ ثُمَّ قَرَأَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ﴾ الآية ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾ الْمَذْكُور مِنَ الْقَصَص ﴿لَآيَةً﴾ لَعِبْرَة ﴿لِمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ذَٰلِكَ﴾ أَيْ يَوْم الْقِيَامَة ﴿يَوْمٌ مَجْمُوعٌ لَهُ﴾ فِيهِ ﴿النَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوْمٌ مَشْهُودٌ﴾ يشهده جميع الخلائق ﴿وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَعْدُودٍ﴾ لِوَقْتٍ مَعْلُوم عِنْد اللَّه ﴿يَوْمَ يَأْتِ﴾ ذَلِكَ الْيَوْم ﴿لَا تَكَلَّمُ﴾ فِيهِ حَذْف إِحْدَى التَّاءَيْنِ ﴿نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ تَعَالَى ﴿فَمِنْهُمْ﴾ أَيِ الْخَلْق ﴿شَقِيٌّ وَ﴾ مِنْهُمْ ﴿سَعِيدٌ﴾ كُتِبَ كُلّ ذلك فِي الْأَزَل ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا﴾ فِي عِلْمه تَعَالَى ﴿فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ﴾ صَوْت شَدِيد ﴿وَشَهِيقٌ﴾ صوت ضعيف ﴿خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ﴾ أَيْ مُدَّة دَوَامهمَا فِي الدُّنْيَا ﴿إِلَّا﴾ غَيْر ﴿مَا شَاءَ رَبُّكَ﴾ مِنَ الزِّيَادَة عَلَى مُدَّتهمَا مِمَّا لَا مُنْتَهَى لَهُ وَالْمَعْنَى خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴿إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾ ﴿وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا﴾ بِفَتْحِ السِّين وَضَمّهَا ﴿فَفِي الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ إِلَّا﴾ غَيْر ﴿مَا شَاءَ رَبُّكَ﴾ كَمَا تَقَدَّمَ وَدَلَّ عَلَيْهِ فِيهِمْ قَوْله ﴿عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ﴾ مَقْطُوع وَمَا تَقَدَّمَ مِنَ التَّأْوِيل هُوَ الَّذِي ظَهَرَ وَهُوَ خَال مِنَ التَّكَلُّف وَاللَّه أعلم بمراده ﴿فَلَا تَكُ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿فِي مِرْيَةٍ﴾ شَكّ ﴿مِمَّا يَعْبُدُ هَٰؤُلَاءِ﴾ مِنَ الْأَصْنَام إِنَّا نُعَذِّبهُمْ كَمَا عَذَّبْنَا مَنْ قَبْلهمْ وَهَذَا تَسْلِيَة لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿مَا يَعْبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعْبُدُ آبَاؤُهُمْ﴾ أَيْ كَعِبَادَتِهِمْ ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ وَقَدْ عَذَّبْنَاهُمْ ﴿وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمْ﴾ مِثْلهمْ ﴿نَصِيبَهُمْ﴾ حَظّهمْ مِنَ الْعَذَاب ﴿غَيْرَ مَنْقُوصٍ﴾ أَيْ تَامًّا

ترجمه: او يقينا مونږ موسى عليه السلام ته هم خپلو معجزاتو او روښانه دليلونو سره فرعون او د هغه د سردارانو طرف ته راوليږلو خو هغوى هم د فرعون خبره اومنله حالانکه د فرعون خبره صحيح نه وه، د قيامت په ورځ به فرعون د خپل قوم نه مخکښې مخکښې وى او دا خلق به د هغه شا شا ته وى څنګه چې ئې په دنيا کښې د هغه اتباع کوله بيا به دې ټولو لره دوزخ ته بوځى او دوزخ ډير

Scanned with

سخت ځائې د ورتلو دې چې په هغې کښې به دا خلق وراچولې شی په دې دنیا کښې هم په هغوی باندې لعنت وئیلې شوې دې او د قیامت په ورځ به هم لعنت پرې وئیلې شی، ډیر خراب انعام دې چې کوم دوی ته ورکړې شو دا تیر شوې د څو کلو قصې دی چې کوم مونږ اې محمد ﷺ تاته اورووو، په دې کلو کښتې بعضې خو اوس هم قائم دی چې دهغې اوسیدونکی هلاک شول خو کلی موجود دی، او په دې کښې بعضې سره د اوسیدونکو ختم شول چې د لور باندې وهلې شوې پتی پشان ئې نوم او نخښه هم پاتې نشوه، بغیر د جرم نه مونږ هغوی هلاک کولو سره هغوی باندې ظلم اونکړو خو شرک کولو سره هغوی په خپله په خپل ځان باندې ظلم اوکړو نو اوس د هغوی هغه معبودان د چا چې هغوی د الله نه بغیر بندگی کوله، ددوی هیڅ دفاع اونکړه، هر کله چې ستا د رب عذاب راغلو او دوی ته د بتانو د عبادت بربادئ نه سوا هیڅ فائده ورنکړه ددې نیولو په شان ستا د رب د نیولو طریقه ده هر کله چې هغه د کلو ظالمانو اوسیدونکو لره د گناهونو په وجه نیسی، د کلو نه دکلو اوسیدونکی خلق مراد دی یعنی د هغه د نیولو نه دوی څوک بچ کولې نشی، بې شکه د هغه نیول ډیر دردناک دی او بخاری او مسلم د ابوموسی اشعری نه روایت کړې دې چې الله تعالی ظالم ته مهلت ورکوی او هر کله چې هغه اونیسی نو بیا هغه پیږدی نه، بیا حضور ﷺ (وکذلک اخذ ربک الخ) تلاوت اوفرمائیلو یقینا په دې قصو کښې د هغه کسانو د پاره د عبرت نخښه ده څوک چې د آخرت دعذاب نه ویریږی دا یعنی قیامت ورځ هغه ورځ ده چې په هغې به ټول خلق راجمع کړې شی او هغه ورځ د حاضرئی ده، په دغه ورځ به ټول مخلوق حاضریږی، او مونږ دا صرف لگو ورځو د پاره کوم چې الله ته معلومې دی روستو کړې ده، بیا چې کله هغه ورځ راشی نو څوک به د الله د اجازت نه بغیر خبرې کولې نه شی، په تکلم کښې ئې یوه تاء حذف کړې شوې ده بیا به په مخلوق کښې بعضې بدنصیب وی او بعضې به په هغې کښې خوش نصیبه وی، او دا ټول د اولې ورځې نه لیکلې شوې دی نو چې کوم خلق د الله په علم کښې بدیصیبه وی هغوی به په دوزخ کښې په داسې حالت کښې وی چې د هغوی به په اور کښې په زور او په کم آواز چغې سورې وی او دوی به په دې حالت کښې همیشه وی تر څو چې زمکه او آسمان قائم وی په دنیا کښې ددوی د همیشه نیتې پورې (دا د همیش د پاره یو محاوره ده) سوا د (مع) د هغې نورې نیتې نه کوم چې ستا رب اوغواړی، د زمکې او د آسمان نیتې باندې چې د هغې څه حد نشته او معنی د ایت داده چې هغوی به په دوزخ کښې همیشه وی، یقینا چې زما رب څه اوغواړی نو هغه کوی خو چې کوم کسان نیک بخت اوگرځیدل دسین د فتحې او ضمې سره، هغوی به په جنت کښې وی همیشه به هلته کښې اوسیږی تر څو چې زمکه او آسمان قائم وی خو چې کله ستا رب اوغواړی، څنگه چې مخکښې تیر شول، او په دې باندې د الله تعالی قول (عطاء غیر مجذوذ) دلالت کوی دا ټول بې انتهاء ورکړه ده یعنی نه ختم کیدونکې، او چې کوم تاویل

Scanned with

مخکښې بيان شوې دې (يعنى الا په معنى د غير) نو دا هغه دې كوم چې زما په سوچ كښې راغې او دا د تكلف نه خالى دې، او الله خپل مراد خپله خه پيژنى. **لهذا اې محمد ﷺ چې د كوم بتانو دوى عبادت كوى د هغې نه په شک كښې مه پريوزه، مونږ به خامخا دوى ته عذاب وركوو څنګه چې ددوى نه مخكښې خلقو ته مو عذاب وركړې وو او دا نبى ﷺ ته تسلى ده، ددوى عبادت خو داسې دې څنګه چې ددوى نه مخكښې ددوى پلار نيكه كولو او مونږ هغوى ته عذاب وركړو او مونږ دوى ته د عذاب بغير د كمى نه پورا پورا حصه وركونكى يوو، يعنى مكمل.**

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: بآيتنا وسلطان مبين: د آيات نه مراد تورات او د (سلطان مبين) نه مراد معجزات دى،

قوله: المرفود: په معنى د وركړه، انعام، مدد ،معاون، لعنت ته ئې مرفود استهزاء وئيلې دى.

قوله: الورد: دكوزيدو ځاې، ګودر.

قوله: منها: علامه سيوطى منها محذوف منلو سره اشاره اوكړه چې د (حصيد) عطف په (قائم) باندې دې (حصيد) مبتدأ مؤخر او منها خبر مقدم دې.

قوله: حصيد: فعيل صفت مشبه په معنى د مفعول، كټ كړې شوې فصل.

قوله: يفلته: افلات (افعال) پريخودل.

قوله: فيه: په دې كښې اشاره ده چې په (له) كښې (لام) په معنى د (فى) دې

قوله: يشهده اي يشهد فيه

قوله: غيرما شاء ربك: كښې الا په معنى د غير دې،

سوال: الا په معنى د غير اخستلو كښې څه مصلحت دې؟دا د يو سوال جواب دې.

سوال: سوال دادې كه چرې د الا په ذريعې سره استثناء د خلود نه وى څنګه چې بعضو وئيلې دى، نو دا به د كافرانو په جهنم عدم خلود (هميشوالې) باندې دلالت وكړى، حالانكه امر واقعى داسې نه دې، او كه د حكم اصلى نه استثناء وى كوم چې د الله تعالى قول (فى النار) دې نو ددې نه دا خبره په ذهن كښې راځى چې كافران به جهنم نه د داخليدو نه پس بعضې وخت د د جهنم نه رواځى، حالانكه دا هم خلاف واقعې ده.

جواب: حاصل دا دې چې الا په معنى د غير دې او دا د عربو د قول على الف الا الفان المتقدمان يعنى په ما باندې د فلانكى كس زر دى سره د مخكښې دوو زرو ،يعنى يو زر دوو زرو سره ملاؤ شوې نو درې زره شوې نو په دغه وخت كښې به د ايت معنى داوې ان لهم عذاب مدة دوام السموت والارض فى الدنيا مع زيادة التى لا آخرلها على مدة بقاء السموت والارض.

Scanned with

قوله: كما تقدم من قوله من الزيادة على مدتهما مما لا منتهى له: يعني چې كوم تاويل مخكښې شوې دې هم هغه به دلته وي.

قوله: انا نعذبهم: الخ دا دې سوال جواب دې چې شک حکم سره متعلق وي او (مرية) حکم نه دې؟

جواب: حاصل دا دې چې تقدير عبارت څه داسې دې اى لاتك يامحمد ﷺ فى مرية انا نعذبهم الخ

قوله: كعبادتهم: په دې کښې اشاره ده چې (مايعبدون) کښې ما مصدريه ده يعنى دا خلق د پلار نيکه د عبادت مطابق عبادت کوي.

قوله: تاما: د اضافې مقصد دا خودل دى چې بعضې وخت کل ونيلو سره بعضې مراد وي، خو دلته داسې نه ده.

[اياتونه: ١١٠ ـ ١٢٢]

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ﴾ التَّوْرَاة ﴿فَاخْتُلِفَ فِيهِ﴾ بِالتَّصْدِيقِ وَالتَّكْذِيب كَالْقرآن ﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ﴾ بِتَأْخِيرِ الْحِسَاب وَالْجَزَاء لِلْخَلَائِقِ إِلَى يَوْم الْقِيَامَة ﴿لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ﴾ فِي الدُّنْيَا فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ ﴿وَإِنَّهُمْ﴾ أَيْ الْمُكَذِّبِينَ بِهِ ﴿لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ﴾ مُوقِع فِي الرِّيبَة ﴿وَإِنْ﴾ بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيد ﴿كُلًّا أَيْ﴾ كُلّ الْخَلَائِق ﴿لَّمَّا﴾ مَا زَائِدَة وَاللَّام مُوَطِّئَة لِقَسَمٍ مُقَدَّر أَوْ فَارِقَة وَفِي قِرَاءَة بِتَشْدِيدِ لَمَّا بِمَعْنَى إِلَّا فَإِنْ نَافِيَة ﴿لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ﴾ أَيْ جَزَاءَهَا ﴿إِنَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ عَالِم بِبَوَاطِنِهِ كَظَوَاهِره ﴿فَاسْتَقِمْ﴾ عَلَى الْعَمَل بِأَمْرِ رَبِّك وَالدُّعَاء إِلَيْهِ ﴿كَمَا أُمِرْتَ وَ﴾ لِيَسْتَقِمْ ﴿مَن تَابَ﴾ آمَنَ ﴿مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْا﴾ تُجَاوِزُوا حُدُود اللَّه ﴿إِنَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾ فَيُجَازِيكُمْ بِهِ ﴿وَلَا تَرْكَنُوا﴾ تَمِيلُوا ﴿إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ بِمَوَدَّةٍ أَوْ مُدَاهَنَة أَوْ رِضًا بِأَعْمَالِهِمْ ﴿فَتَمَسَّكُمُ﴾ تُصِيبكُمْ ﴿النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ أَيْ غَيْره ﴿مِنْ﴾ زَائِدَة ﴿أَوْلِيَاءَ﴾ يَحْفَظُونَكُمْ مِنْهُ ﴿ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ تُمْنَعُونَ مِنْ عَذَابه ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ﴾ الْغَدَاة وَالْعَشِيّ أَيْ الصُّبْح وَالظُّهْر وَالْعَصْر ﴿وَزُلَفًا﴾ جَمْع زُلْفَة أَيْ طَائِفَة ﴿مِّنَ اللَّيْلِ﴾ الْمَغْرِب وَالْعِشَاء ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ﴾ كَالصَّلَوَاتِ الْخَمْس ﴿يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ الذُّنُوب الصَّغَائِر نَزَلَتْ فِيمَنْ قَبَّلَ أَجْنَبِيَّة فَأَخْبَرَهُ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِلِي هَذَا فَقَالَ لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلّهمْ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ﴿ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ﴾ عظة للمتعظين ﴿وَاصْبِرْ﴾ يَا مُحَمَّد عَلَى أَذَى قَوْمك أَوْ عَلَى الصَّلَاة ﴿فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾ بِالصَّبْرِ عَلَى الطَّاعَة ﴿فَلَوْلَا﴾ فَهَلَّا ﴿كَانَ مِنَ الْقُرُونِ﴾ الْأُمَم الْمَاضِيَة ﴿مِن قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ﴾ أَصْحَاب دِين وَفَضْل ﴿يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ﴾ الْمُرَاد بِهِ النَّفْي أَيْ مَا كَانَ فِيهِمْ ذَلِكَ ﴿إِلَّا﴾ لَكِنْ ﴿قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ﴾ نَهَوْا فَنَجَوْا وَمِنْ لِلْبَيَانِ ﴿وَاتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ بِالْفَسَادِ وَتَرْك النَّهْي ﴿مَا أُتْرِفُوا﴾ نعموا ﴿فِيهِ وَكَانُوا مُجْرِمِينَ﴾ ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ﴾ مِنْهُ لها ﴿وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴾ مُؤْمِنُونَ ﴿وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً﴾ اهل دين واحد ﴿وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ﴾ فِي الدين ﴿إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ﴾ أَرَادَ لَهُمْ الْخَيْر فَلَا يَخْتَلِفُونَ فِيهِ ﴿وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ﴾ أَيْ أَهْل الِاخْتِلَاف لَهُ

Scanned with

وَأهل الرَّحْمَة لَهَا ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَةُ ربك﴾ وهي ﴿لأملأن جهنم من الجنة والناس أجمعين﴾ ﴿وكلا﴾ نصب بنقص وتنوينه عوض عن المُضَاف إلَيْهِ أيْ كُلّ مَا يَحْتَاج إلَيْهِ ﴿نَقُصّ عَلَيْك مِنْ أَنْبَاء الرُّسُل مَا﴾ بَدَل مِنْ كُلًّا ﴿نُثَبِّت﴾ نُطَمْئِنُ ﴿بِهِ فُؤَادك﴾ قَلْبك ﴿وَجَاءَك فِي هَذِهِ﴾ الأَنْبَاء أَوْ الآيَات ﴿الْحَقّ وَمَوْعِظَة وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ خُصُّوا بِالذِّكْرِ لِانْتِفَاعِهِمْ بِهَا فِي الإِيمَان بِخِلَافِ الْكُفَّار ﴿وَقُلْ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ اعْمَلُوا عَلَى مَكَانَتِكُمْ﴾ حَالَتكُمْ ﴿إنَّا عَامِلُونَ﴾ عَلَى حَالَتنَا تَهْدِيد لَهُمْ ﴿وَانْتَظِرُوا﴾ عَاقِبَة أَمْركُمْ ﴿إنَّا مُنْتَظِرُونَ﴾ ذَلِكَ ﴿وَلِلَّهِ غَيْب السَّمَاوَات وَالْأَرْض﴾ أَيْ عِلْم مَا غَابَ فِيهِمَا ﴿وَإِلَيْهِ يَرْجِع﴾ بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ يَعُود وَلِلْمَفْعُولِ يُرَدّ ﴿الْأَمْر كُلّه﴾ فَيَنْتَقِم مِمَّنْ عَصَى ﴿فَاعْبُدْهُ﴾ وَحْده ﴿وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ ثِقْ بِهِ فَإِنَّهُ كَافِيك ﴿وما ربك بغافل عما يعملون﴾ وإنما يؤخرهم وفي قراءة بالفوقانية

ترجمه: امر یقینی دا دې چې مونږ موسی علیه السلام ته هم کتاب تورات ورکړې وو په هغې کښې هم د قرآن په شان د تصدیق او تکذیب کولو سره اختلاف کړې شوې وو، که د قیامت پورې د مخلوق د حساب او د بدلې د روستو والی ستا د رب فیصله نه وه کړې شوې نو په کومه معامله کښې چې دوی اختلاف کوی، هم په دنیا کښې به د هغې فیصله شوې وه او دا د قرآن تکذیب کونکی د قرآن د طرف نه په شک کښې اچولو والا تردد او شبه کښې پراته دی او دا هم یقینی ده ان د تخفیف او تشدید سره دې چې پوره مخلوق کله (د هغې مخې ته حاضر کړی) نو ستا رب به ددوی د اعمالو پوره پوره بدله ورکړی په لما کښې (ما) زائده ده او (لام) قسم مقدر طرف ته اشارې د پاره دې، او لام فارقه دې یا په یو قراءت کښې لما په تشدید سره په معنی د الا دې، او (ان) نافیه دې. یقینا الله چې هغوی څه کوی د هغې د ظاهر او د باطن نه خبردار دې لهذا د خپل رب په حکم سره په عمل او په دعوت الی الحق باندې د حکم مطابق ثابت قدم اوسه. او هغه څوک دې هم ثابت قدم وی چې تا سره ئې ایمان راوړې دې، اود الله د حدودو نه تجاوز مه کوئ یقینا چې تاسو څه کوئی هغه ئې ګوری لهذا هغه به ددې بدله درکړی، او اوګورئی ظالمانو طرف ته مه تیتیږئ دوی سره دوستی یا نرمی کولو سره یا ددوی په اعمالو باندې رضامندی ښکاره کولو سره، ګنی تاسو ته به هم د دوزخ اور اولګی او د الله نه سوا به بل څوک ستاسو مددګار نه وی چې تاسو د الله نه بچ کړی او نه به تاسو د هغه د عذاب نه بچ کولې شئ او ای محمد صلی الله علیه وسلم د ورځې په دواړه طرفونو کښې سحر او ماښام، یعنی د سحرې، ماسپښن، او د مازیګر د مونځونو پابندی ساتئ او دشپې په یو حصه کښې یعنی د ماښام او ماسخوتن هم (زلفا) د زلفة جمع ده، ددې معنی (حصه) ده بې شکه نیکئی مثلا پنځه وخته مونځونه واړه ګناهونه ختموی ذکر شوې ایت د هغه سړی ابو الیسر باره کښې نازل شوې دې چا چې د یوې پردئ ښځې نه بوسه اخستې وه بیا ئې ددې اطلاع نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وکړه نو دا آیت نازل شو، نو هغه کس اووئیل چې دا حکم

Scanned with

زما د پاره خاص دي نو حضور ﷺ اوفرمائيل چې زما ټول امت د پاره دي، شيخينو دا روايت نقل کړې دې دا يو نصيحت دې نصيحت حاصلولو والو د پاره او اې محمدد قوم په تکليف رسولو او يا د مونځ په پابندئ صبر کوه په تابعدارئ باندې د صبر په ذريعه د نيکئ کونکو اجر الله تعالى ضائع کوي نه، نو ولې ستاسو نه مخکښې امتونو کښې ولې داسې ديندار او د مرتبې خاوندان نه وو چې خلقو لره ئې د فساد فى الارض نه منع کولې؟ مراد د استفهام نفى ده، يعنى په دوى کښې داسې خلق نه وو، خو ډير کم، کومو ته چې مونږ خلاصې ورکړو چې هغوى د بدئ نه منع اوکړه چې د هغې په وجه هغوى خلاصې اوموندلو او (من) بيانيه دې او کوم خلقو چې د فساد په ذريعه يا د ترک نهى په ذريعه ظلم اوکړو هغوى هم دې سامان عيش پسې شاته روان وو کوم چې دوى ته ورکړې شوې وو او هغوى مجرمان وو او ستا رب داسې نه دې چې يو کلې په ظلم سره هلاک کړي او دې کلي والا دې مومنان وي، او که ستا رب غوښتلے نو ټول خلق به ئې په يو دين باندې کړې وو او هغوى د دين په معامله کښې مسلسل اختلاف کړې وو سوا د هغې چا نه چې ستا رب پرې رحم اوکړو چې هغوى سره ئې د خير اراده اوکړه نو هغوى په دين کښې اختلاف اونکړو، او هم دې د پاره دوى لره يعنى اهل اختلاف د اختلاف د پاره او اهل رحمت د رحمت د پاره پيدا کړل او ستا د رب دا خبره به پوره شى او هغه دا چې زه به جهنم د پيريانو او انسانانو نه ډکوم او مونږ د رسولانو په قصو کښې دا ټولې ذکر شوې قصې اوروو، (کلا) د نقص د وجه منصوب دې او ددې تنوين د مضاف اليه په عوض کښې دې يعنى هر هغه قصئ چې د هغې د اورولو ضرورت وى (ما) د کلا نه بدل دې چې مونږ ددې په ذريعه ستا زړه ته (تقويت) تسلى ورکړو او په دې واقعاتو او ايتونو کښې هم حق تاته رارسيدلې دې او مومنانو د پاره وعظ او نصيحت دې مومنان ځکه خاص کړې شوې دى چې هغوى په نصيحت سره په خپل ايمان کښې فائده حاصلوى. په خلاف د کافرانو ته ايمان نه راوړونکو ته اووايه چې تاسو په خپلې طريقې عمل کوئى او مونږ په خپله طريقه عمل کوو، دا د دوى د پاره تهديد او دهمکى ده تاسو د خپل عمل د انجام انتظار کوئى مونږ هم د هغې انتظار کوو، د زمکې او د اسمانو د پټو څيزونو علم صرف الله تعالى ته دې او د ټولو کارونه به هم د هغه طرف ته رجوع وى (يرجع) معروف او مجهول دواړه دى، لهذا هغه به نافرمانى کونکو نه انتقام واخلى نو ته صرف د هغه بندګى کوه او هم هغه باندې بهروسه کوه ځکه چې هم هغه ستا د پاره کافى دې او ستا رب د دهغه خبرو نه غافله نه دې کوم چې دوى کوى دا بله خبره ده چې هغه دوى ته د يو مقرر وخت پورې مهلت ورکړې دې، او په يو قراءت کښې د (تاء) فوقانيې سره دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وان بالتشديد والتخفيف کلاای کل الخلائق لما: په (ان) او (لما) کښې ټول څلور قراءتونه دى

Scanned with

①ان او لما دواړه مخفف، ②ان مخففه، او لما مشدده ③ان مشدده او لما مخففه، ④دواړه مشدد،

دا څلور واړه قراتونه متواتر دی.په څلور واړه قراتونو کښې (کلا) د ان اسم کیدو د وجه منصوب دې، او د ان خبر به جمله قسمیه لیوفینهم ربك اعمالهم وی، او لما مشدده کیدو په صورت کښې لیوفینهم جمله کیدو سره بهٔ د ان خبر وی.

قوله: الخلائق:لفظ خلائق محذوف منلو سره ئې اشاره اوکړه چې د (کل) تنوین د مضاف الیه په عوض کښې دې.

قوله: ما زائدة: د لما مخففه کیدو په صورت کښې ما زائده ده، او که ما زائده حذف کړې شی نو په یو لفظ باندې به د دوو لامونو داخلیدل لازم شی کوم چې موجب د ثقل دې، او تقدیری عبارب به للیوفینهم وی.

قوله: واللام موطئة لقسم مقدر: یعنی لیوفینهم کښې لام د قسم په حذف باندې دلالت کوی، یعنی په دې خبره باندې دلالت کوی چې قسم محذوف دې.

قوله: او فارقه: یعنی لیوفینهم کښې لام فارقه دې، دا د لیوفینهم په لام کښې د دویم مذهب طرف ته اشاره ده د لام فارقه مطلب دادې، د ان مخففه او ان نافیه په مینځ کښې فرق کولو والا، یعنی که په خبر باندې لام داخل وی نو دې نه به معلومه شی چې ان مخففه عن المثقله دې.

تنبیه: دا خبره دې یاده وی چې لام مفارقه د ان په خبر باندې هغه وخت داخلیږی چې کله ان مخففه د عمل نه منع کړې شوې وی (یعنی د اهمال په صورت کښې) لکه ان زید لقائم اوکه ان زیدا القائم ءی ولوستلونو د التباس نه کیدو په وجه به د لام مفارقه ضرورت نه وی، او ایت کریمه ان کلا لما لیوفینهم کښې چونکه ان عامله ده لهذا لام مفارقه گرځول صحیح نه دی، ځکه د ان نافیه او مخففه په مینځ کښې هغه وخت التباس وی چې کلکه دوی د عمل نه منع کړې شی او بعضې حضراتو د ذکر شوی عبارت مطلب دا بیان کړې دې چې د واللام مؤطیة تعلق د ان مشدده په صورت کښې دې او د فارقه تعلق مخففه سره دې،

قوله: کلا نصب بنقص:یعنی د کلا نه مخکښې نقص محذوف دې کوم چې د کلا ناصب دې،

....

[١٢] سورة يوسف

سورة يوسف مكية مائة واحدي عشرة اية

سورة يوسف مكي دې، يوسل يوولس (١١١) آيتونه دي.

[اياتونه:١ - ٦]

بسم الله الرحمن الرحيم {الر} اللهُ أعْلَم بِمُرَادِهِ بِذٰلِكَ {تِلْكَ} هٰذِهِ الْآيَات {آيَاتُ الْكِتَابِ} الْقرآن وَالْإِضَافَة بِمَعْنَى مِنْ {الْمُبِينِ} الْمُظْهِر لِلْحَقِّ مِنَ الْبَاطِلِ {إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قرآنًا عَرَبِيًّا} بِلُغَةِ الْعَرَب {لَعَلَّكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة {تَعْقِلُونَ} تَفْقَهُونَ مَعَانِيه {نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا} بِإِيحَائِنَا {إِلَيْكَ هٰذَا الْقرآن وَإِنْ} مُخَفَّفَة أَيْ وَإِنه {كُنت من قبله لمن الغافلين} أُذْكُرْ {إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ} يَعْقُوب {يَا أَبَتِ} بِالْكَسْرِ دَلَالَة عَلَى يَاء الْإِضَافَة الْمَحْذُوفَة وَالْفَتْح دَلَالَة عَلَى أَلِف مَحْذُوفَة قُلِبَتْ عَنِ الْيَاء {إِنِّي رَأَيْت} فِي الْمَنَام {أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ} تَأْكِيد {لِي سَاجِدِينَ} جُمِعَ بِالْيَاءِ وَالنُّون لِلْوَصْفِ بِالسُّجُودِ الَّذِي هُوَ مِنْ صِفَات الْعُقَلَاء {قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَى إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا} يَحْتَالُونَ فِي هَلَاكِك حَسَدًا لِعِلْمِهِمْ بِتَأْوِيلِهَا مِنْ أَنَّهُمْ الْكَوَاكِب وَالشَّمْس أُمّك وَالْقَمَر أَبُوك {إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنْسَانِ عَدُوٌّ مُبِينٌ} ظَاهِر الْعَدَاوَة {وَكَذٰلِكَ} كَمَا رَأَيْت {يَجْتَبِيكَ} يَخْتَارك {رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ} تَعْبِير الرُّؤْيَا {وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ} بِالنُّبُوَّةِ {وَعَلَىٰ آلِ يَعْقُوبَ} أَوْلَاده {كَمَا أَتَمَّهَا} بِالنُّبُوَّةِ {عَلَىٰ أَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ} بِخَلْقِهِ {حَكِيمٌ} فِي صنعه بهم

ترجمه: شروع كوم د الله په نوم سره چې ډير مهربانه او ډير رحم كولو والا دې، الر، الله خه پوهيږي په مراد ددې باندې دا ايتونه د كتاب مبين د حق او باطل په مينځ كښې فرق كولو والا كتاب دي (آيات الكتاب) كښې اضافت په معنى د (من) دې مونږ دې كتاب لره د عربۍ ژبې قرآن رواليږلو چې اې اهل مكې والو تاسو ددې معانې اول اوپيژنئ، مونږ ددې قرآن وحى ستا طرف ته كولو سره تاته يو ډيره ښه قيصۍ اورول غواړو، او يقيني خبره ده چې ته د دې نه مخكښې بالكل ناخبره وې او ان مخففه دې اى وانه، هغه وخت قابل ذكر دې چې كله يوسف عليه السلام خپل پلار يعقوب ته اووئيل چې اې ابا جان، ابت د تاء په كسرې سره دې كوم چې د ياء اضافت محذوفه باندې دال دې، او د تاء په فتحې سره چې كوم چې په الف محذوفه باندې دال دې كوم چې د ياء نه بدل راغلې دې ما په خوب كښې يوولس ستورى او نور او سپوږمۍ ځان ته په سجده لېدلې دى (ساجدين) د ياء او نون سره جمع راوړلې شوې ده د ستورو د سجدې په صفت سره متصف كيدو د وجې، كوم چې د عقلمندو صفت دې (يعقوب عليه السلام اوفرمائيل اې ځما خوګه بچيه ته د دې خپل خوب حال خپلو رونړو ته مه وايه، هسې نه چې هغوى تاسره څه دهوكه اوكړى د حسد د وجې نه ستا د هلاكت چال جوړ كړى ددوى ددې خوب نه د خبريدو په وجه چې ددې ستورو نه مراد دوى خپله دى او نمر ستا مور او سپوږمۍ ستا شيطان د

Scanned with

انسان ښکاره دشمن دې يعنى د هغه دشمنى ښكاره ده، او ددې مطابق كوم چې تا خوب كښې اوليدل ستا رب به تالره چونړ كړى (خوبښ كړى) او تاته به د خوب د تعبيرونو علم دروښائى او تاته به ستا رب د نبوت په ذريعه ډير تعمتونه دركړى او آل يعقوب يعنى د هغه اولاد ته هم څنګه چې ئې د دې نه مخكښې د نبوت په ذريعه ستا پلار نيكه ابراهيم او اسحق ته تعمتونه وركړې وو،بې شكه ستا رب د خپل مخلوق نه خبردار دې او دوى سره ددوى تدبير په باره كښې باحكمت دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: هذه الايات: په دې كښې تلک اسم اشارې د مؤنث رواړلو وجې ته اشاره شوې ده،

قوله: المظهر للحق: په دې كښې اشاره ده چې مبين د ابان نه متعدى دې.

قوله: بإيمائنا: په دې كښې اشاره ده چې ما مصدريه ده نه چې موصوله، چې ددې په صله كښې د عائد ضرورت وى.

قوله: مخففة اي انه: په دې كښې اشاره ده چې ان مخففه عن المثقلة، او د ان اسم ضمير شان محذوف دې، اى انه او لمن الغفلين كښې لام فارقه دې.

قوله: دلالة على الف محذوفة: ځكه چې ددې اصل يا ابتا وو، الف حذف كړې شو فتحه باقى پاتې شو، چې د الف په حذف كيدو باندې دلالت وكړى.

قوله: فى المنام: په دې اضافه كښې اشاره ده چې رائت د رؤيا نه بدل دې نه چې د رؤيت نه

قوله: تأكيد: رايتهم د رايت تاكيد دې،لهذا اوس دبې فائدې تكرار راتلو اعتراض ختم شو،

قوله: يحتالوا: اضافه ددې خبرې جواب دې چې (كيد) متتعدى بنفسه وى، حالانكه دلته متعدى باللام راوړلې شوې دې

د جواب حاصل دا دې چې كيد د احتيال معنې لره متضمن كيدو د وجه نه متعدى باللام راوړل صحيح دى.،

[اياتونه: ۷ ـ ۲۰]

﴿لَقَدْ كَانَ فِي﴾ خَبَر ﴿يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِ﴾ وَهُمْ أَحَد عَشَر ﴿آيَات﴾ عِبَر ﴿لِلسَّائِلِينَ﴾ عَنْ خَبَرهمْ اُذْكُرْ ﴿إِذْ قَالُوا﴾ أَيْ بَعْض إِخْوَة يُوسُف لِبَعْضِهِمْ ﴿لَيُوسُفُ﴾ مبتدا ﴿وَأَخُوهُ﴾ شَقِيقه بِنْيَامِين ﴿أَحَبُّ﴾ خَبَر ﴿إِلَى أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ﴾ جَمَاعَة ﴿إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَال﴾ خَطَأ ﴿مُبِين﴾ بَيِّن بِإِيثَارِهِمَا علينا ﴿اُقْتُلُوا يُوسُفَ أَوْ اطْرَحُوهُ أَرْضًا﴾ أَيْ بِأَرْضٍ بَعِيدَة ﴿يَخْلُ لَكُمْ وَجْه أَبِيكُمْ﴾ بِأَنْ يُقْبِل عَلَيْكُمْ وَلَا يَلْتَفِت لِغَيْرِكُمْ ﴿وَتَكُونُوا مِنْ بَعْده﴾ أَيْ بَعْد قَتْل يُوسُف أَوْ طَرْحه ﴿قَوْمًا صَالِحِينَ﴾ بِأَنْ تَتُوبُوا ﴿قَالَ قَائِل مِنْهُمْ﴾ هُوَ يَهُوذَا ﴿لَا تَقْتُلُوا يوسف وَأَلْقوه﴾ اطرحوه ﴿فِي غَيَابَت الْجُبّ﴾ مُظْلِم الْبِئْر وَفِي قِرَاءَة بِالْجَمْعِ ﴿يَلْتَقِطهُ بَعْض السَّيَّارَة﴾ الْمُسَافِرِينَ ﴿إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ﴾

Scanned with

مَا أَرَدْتُمْ مِنَ التَّفْرِيقِ فَاكْتَفَوْا بِذَلِكَ {قَالُوا يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأْمَنَّا عَلَى يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُ لَنَاصِحُونَ} لَقَائِمُونَ بِمَصَالِحِهِ {أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا} إِلَى الصَّحْرَاءِ {نَرْتَعْ وَنَلْعَبْ} بالنون والياء فيهما ننشط ونتسع {وإنا له لحافظون} {قَالَ إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا} أَيْ ذَهَابُكُمْ {بِهِ} لِفِرَاقِهِ {وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ} الْمُرَادُ بِهِ الْجِنْسُ وَكَانَتْ أَرْضُهُمْ كَثِيرَةَ الذِّئَابِ {وَأَنْتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ} مَشْغُولُونَ {قَالُوا لَئِنْ} لام قسم {أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ} جَمَاعَةٌ {إِنَّا إِذًا لَخَاسِرُونَ} عَاجِزُونَ فَأَرْسَلَهُ معهم {فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا} عَزَمُوا {أَنْ يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ} وَجَوَابُ لَمَّا مَحْذُوفٌ أَيْ فَعَلُوا ذَلِكَ بِأَنْ نَزَعُوا قَمِيصَه بَعْدَ ضَرْبِهِ وَإِهَانَتِه وَإِرَادَةِ قَتْلِه وَأَدْلَوْهُ فَلَمَّا وَصَلَ إِلَى نِصْفِ الْبِئْرِ أَلْقَوْهُ لِيَمُوتَ فَسَقَطَ فِي الْمَاءِ ثُمَّ أَوَى إِلَى صَخْرَةٍ فَنَادَوْهُ فَأَجَابَهُمْ يَظُنُّ رَحْمَتَهُمْ فَأَرَادُوا رَضْخَه بِصَخْرَةٍ فَمَنَعَهُمْ يَهُوذَا {وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ} فِي الْجُبِّ وَحْيَ حَقِيقَةٍ وَلَهُ سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً أَوْ دُونَهَا تَطْمِينًا لِقَلْبِهِ {لَتُنَبِّئَنَّهُمْ} بَعْدَ الْيَوْمِ {بِأَمْرِهِمْ} بِصَنِيعِهِمْ {هَذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ} بك حَالَ الْإِنْبَاءِ {وجاءوا أَبَاهُمْ عِشَاءً} وقت المساء {يبكون} {قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ} نَرْمِي {وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِنْدَ مَتَاعِنَا} ثِيَابِنَا {فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ} بِمُصَدِّقٍ {لَنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ} عِنْدَكَ لَاتَّهَمْتَنَا فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ لِمَحَبَّةِ يُوسُفَ فَكَيْفَ وَأَنْتَ تُسِيءُ الظَّنَّ بِنَا {وَجَاءُوا عَلَى قَمِيصِهِ} مَحَلُّه نَصْبٌ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ أَيْ فَوْقَه {بِدَمٍ كَذِبٍ} أَيْ ذِي كَذِبٍ بِأَنْ ذَبَحُوا سَخْلَةً وَلَطَخُوهُ بِدَمِهَا وَذَهِلُوا عَنْ شَقِّه وَقَالُوا إِنَّهُ دَمُه {قَالَ} يَعْقُوبُ لَمَّا رَآهُ صَحِيحًا وَعَلِمَ كَذِبَهُمْ {بَلْ سَوَّلَتْ} زَيَّنَتْ {لَكُمْ أَنْفُسُكُمْ أَمْرًا} فَفَعَلْتُمُوهُ بِهِ {فَصَبْرٌ جَمِيلٌ} لَا جَزَعَ فِيهِ وَهُوَ خَبَرُ مبتدأ مَحْذُوفٍ أَيْ أَمْرِي {وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ} الْمَطْلُوبُ مِنْهُ الْعَوْنُ {عَلَى مَا تَصِفُونَ} تَذْكُرُونَ مِنْ أَمْرِ يُوسُفَ {وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ} مُسَافِرُونَ مِنْ مَدْيَنَ إِلَى مِصْرَ فَنَزَلُوا قَرِيبًا مِنْ جُبِّ يُوسُفَ {فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ} الَّذِي يَرِدُ الْمَاءَ لِيَسْتَقِيَ مِنْهُ {فَأَدْلَى} أَرْسَلَ {دَلْوَهُ} فِي الْبِئْرِ فَتَعَلَّقَ بِهَا يُوسُفُ فَأَخْرَجَهُ فَلَمَّا رَآهُ {قَالَ يَا بُشْرَى} وَفِي قِرَاءَةٍ بُشْرَى وَنِدَاؤُهَا مَجَازٌ أَيْ أُحْضُرِي فَهَذَا وَقْتُكِ {هَذَا غُلَامٌ} فَعَلِمَ بِهِ إِخْوَتُه فَأَتَوْهُ {وَأَسَرُّوهُ} أَيْ أَخْفَوْا أَمْرَه جَاعِلِيهِ {بِضَاعَةً} بِأَنْ قَالُوا هَذَا عَبْدُنَا أَبَقَ وَسَكَتَ يُوسُفُ خَوْفًا مِنْ ان يقتلوه {والله عليم بما يعملون} {وشروه} باعوه منهم {بِثَمَنٍ بَخْسٍ} نَاقِصٍ {دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ} عِشْرِينَ أَوِ اثْنَيْنِ وَعِشْرِينَ {وَكَانُوا} أَيْ إِخْوَتُه {فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ} فَجَاءَتْ بِهِ السَّيَّارَةُ إِلَى مِصْرَ فَبَاعَهُ الَّذِي اشْتَرَاهُ بِعِشْرِينَ دِينَارًا وَزَوْجَيْ نَعْلٍ وَثَوْبَيْنِ

ترجمه: حقيقت داد ي چې يوسف علیه السلام او د هغه د رونړو په قصې کښې چې هغه يولس وو سوال كونكو د پاره ډير عبرتونه دی د هغه وخت تذكره اوكړه چې كله د يوسف علیه السلام رونړو په خپل مينځ كښې اووئيل چې يوسف او د هغه سكه رور بن يامين زمونړ پلار ته زمونړ نه زيات ګران دی ليوسف مبتدأ او احب ددې خبر دې حالانكه زمونړ يوه ډله ده، زمونړ پلار دې دوارو له په مونږ باندې ترجيح وركولو كښې ښكاره غلطی كوی داسې اوكړئ چې يوسف علیه السلام قتل كړئ يا لرې يو ملک ته ئې ورسوئ په دې چال سره ستاسو د پلار توجه به ټوله تاسو ته شی په داسې طريقې سره چې هغه به تاسو طرف ته متوجه وی او ستاسو نه علاوه به بل چاته توجه نه

Scanned with

کوی د یوسف عليه السلام قتل کولو یا د لرې رسولو نه پس توبه وکړئ او نیکان جوړ شئ، په دوی کښې یو کس اووئیل چې یوسف عليه السلام مه قتلوئی بلکه په یو تیارې واله کوهی کښې ئې وغورزوئې او په یو قراءت کښې (غیابات) جمع سره دې (د ابا جان نه) د جدا کولو په سلسله کښې که تاسو څه کول غواړئی هم په دې باندې اکتفاء اوکړئ دې به مسافرو یوه قافله راوباسی او ځان سره به ئې بوځی، (ددې تجویز مطابق) هغوی لاړل او وئې وئیل چې اباجان څه وجه ده چې تاسو دیوسف په باره کښې په مونږ باندې اعتماد نه کوئی؟ حالانکه مونږ د هغه رښوتونې خیرخواه یوو، یعنی د هغه د مصلحتونو خیال ساتو، سبا دې مونږ سره جنګل طرف ته اولیږه چې مزې اوکړی څه وخوری لوبې وکړی او په یو قراءت کښې دواړه فعل په نون سره دی، چې مونږ غښی اولو او لوبې اوکړو او دده د حفاظت مونږ ذمه دار یو یعقوب عليه السلام جواب ورکړو چې ستاسو دې بوتللو سره د جدائی د وجې نه به څه ډیر خفه شم او ماته دا هم خطره ده چې چرته دې شرمښ اونخوری، او د (ذئب) نه جنس ذئب مراد دې او د هغوی په علاقه کښې شرمخان ډیر وو او تاسو به دده غافله یئ، یعنی په لوبو توقو کښې به مشغول یئ هغه خلقو جواب ورکړو والله که چرې دې شرمښ اوخوړو په داسې حالت کښې چې مونږ یوه ډله یوو، نو بیا خو مونږ ډیر بې کاره شو مختصر دا چې یعقوب عليه السلام یوسف عليه السلام هغوی سره پریښودلو چنانچه چې بوې تللو او پخه اراده ئې اوکړه چې یو تور کوهی ته ئې وغورزوی (د لما) جواب محذوف دې او هغه (فعلوا ذلک) دې یعنی هغوی دا اوکړل چې د هغه قمیص کوزولو، هغه تنګولو او دهغه سپکاوی کولو نه پس ئې د قتل په ارادې سره کوهی ته وغورزولو چې کله یوسف عليه السلام د کوهی مینځ ته اورسیدلو نو پریښودلو ئې چې مړ شی مقصد دادې چې یوسف عليه السلام کوهی ته پریوتلو بیا هغه د یو کاڼړی سهاره واخستله نو رونړو هغه ته آواز ورکړو، یوسف عليه السلام د هغوی په آواز باندې دا خیال اوشو چې ددوی په ما باندې رحم راغلو، لبیک ئې اوئېل، نو هغوی د کاڼړی په ذریعې د سر د ماتولو اراده اوکړه، خو یهودا دوی ددې حرکت نه منع کړل، او مونږ هم په کوهی کښې یوسف عليه السلام ته د زړه د سکون د پاره حقیقة وحی نازله کړه او یوسف عليه السلام هغه وخت د اولس یا ددې نه څه کم عمر وو چې اې یوسف عليه السلام ته به په مستقبل کښې دوی ته ددې حرکت خبر ورکړې حال دا چې د خبر ورکولو په وخت کښې به هغوی تا اونه پیژنی، او د ماښامې تولو رونړو پلار ته په ژړا راغلل، او وې وئیل چې اې ابا جان، مونږ د غښی ویشتلو په مقابله کښې مشغول وو او یوسف عليه السلام مو خپلو کپړو وغیره سامان سره پریښودلو نو شرمښ هغه اوخوړلو، ته زمونږ په خبره یقین کولو والا نه ئې اګرچې مونږ ستا په نیز په رشتونی باندې یوو، خو دې معامله کښې د یوسف عليه السلام د محبت د وجې به ته مونږ یقینا دروغ ګڼړې او ته زمونږ په خبره یقین چرته کولې شې. ځکه چې ته زمونږ په باره کښې بد ګمانی کوې او د یوسف عليه السلام رونړو په قمیص باندې د دروغو وینه اولګوله،

Scanned with

علی قمیصه د ظرفیت د وجې نه په محل د نصب کښې دې ای فوق قمیصه، یعنی دروغژنه وینه په داسې طریقې سره چې د ګډې یو بچې ئې حلال کړو او هغه قمیص ئې هغه وینه کښې ککړ کړو خو قمیص شلول هغوی دخیال نه اوتل او وئې وئیل چې دا د یوسف وینه ده، یعقوب علیه السلام چې کله قمیص روغ اولیدلو نو ددوی دروغ ئې اوپیژندل یعقوب علیه السلام اوفرمائیل څه چې تاسو وائی خبره داسې نه ده بلکه تاسو د خپل ځان نه خبره جوړه کړې ده چې هغې ته تاسو عملی جامه اغوستلې ده، (اوس خو) ځما د پاره صبر ډیر ښه دې صبر جمیل هغه دې چې په هغې کښې څه شکوه نه وی (شور غوبل نه وی). فصبر جمیل (امری) د مبتدأ محذوف خبر دې او د یوسف علیه السلام په معامله کښې کومې خبرې چې تاسو جوړوئی د هغې باره کښې هم د الله نه مدد غوښتلې شی یعنی د هغه نه مدد مطلوب دې او د مدین د مسافرو یو قافله مصر ته تللو د پاره راغله او دغه کوهی سره نیزدې ئې ډیره واچوله چې په کوم کښې یوسف علیه السلام پروت وو او قافلې والا خپل سقه د اوبو راوړلو د پاره اولیږلو چې د هغه ذمه داری د اوبو انتظام وو چې د هغې نه سیراب شی نو سقه چې کله کوهی ته دولچه اوغورزوله نو هغې سره یوسف اونختو او یوسف علیه السلام سقه راوویستلو او هغې سقه چغې کړې چې مبارک شئ او په یو قراءت کښې بشری دې اودې ته ندا مجازا دې چې اې ځما خوشخبرئی ته حاضره شه دا ستاد حاضرئ وخت دې دا خو هلک دې چنانچه ددې علم د یوسف علیه السلام رونړو ته هم اوشو نو هغوی قافلې والو ته راغلل او رونړو یوسف علیه السلام لره مال تجارت ګرځولو سره د واقعې اصل حقیقت پټ کړو په دې طریقه چې دا زمونږ تختیدلې غلام دې او یوسف علیه السلام خکه چپ پاتې شو چې چرته دوی ئې قتل نه کړی حالانکه هغوی چه څه کول الله تعالی په هغې باندې عالم وو او د یوسف علیه السلام رورپانو یوسف علیه السلام لره په قافله کښې یو د یو کس په لاس باندې په ډیر کم قیمت یعنی د شمیر په څو درهمه باندې یعنی شل یا دوینش درهم په عوض باندې خرڅ کړو او د یوسف علیه السلام رونړو د یوسف علیه السلام سره هیڅ مینه نه ساتله چنانچه قافلې یوسف علیه السلام مصر ته راوستلو او کوم کس چې یوسف علیه السلام اخستې وو هغه په شل دیناره او دوه جوړه چپړو او دوه جوړه کپړو باندې یوسف علیه السلام خرڅ کړو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: خبر.: مفسر علام خبر محذوف ګنړلو سره د یو سوال جواب ورکړې دې سوال دادې چې په آیت کښې یوسف علیه السلام ظرف واقع شوې دې حالانکه یوسف علیه السلام چونکه ذات دې په دې کښې د ظرف جوړیدو صلاحیت نشته،

د جواب حاصل دادې چې یوسف علیه السلام ظرف نه دې بلکه د یوسف علیه السلام نه مخکښې خبر محذوف دې څنګه چې مفسر علام ظاهره کړې ده، لهذا اوس هیڅ اعتراض نشته.

Scanned with

قوله: مبتدأ: په دې کښې اشاره ده چې په ليوسف کښې لام ابتدائيه دې نه چې قسميه دې.

قوله: شقيقة: په دې کښې اشاره ده چې بنامين د يوسف عليه السلام حقيقي رور وو او باقي نور ټول ئې علاتي روڼه وو.

قوله: بأرض بعيدة، دبعيدة په اضافه کښې اشاره ده چې د ارضا تنوين د تعظيم د پاره دې.

قوله: غيابة الجب: د تيارې کوهی، ډوبوالي

قوله: فاكتفوا بذلك: دا د (ان كنتم) جواب دې کوم چې محذوف دې.

قوله: يرتع: مضارع واحد مذكر غائب (فتح) ميوې خوړل، مزې اخستل، راتع (څرونکې)

قوله: فعلوا ذلك: دا د لما جواب دې.

قوله: بأن نزعوا قميصه: با تصويريه ده، کوم چه د فعل صورت بيانولو د پاره ده، يعنى په کوهی کښې ئې يوسف عليه السلام څنګه اوغورزولو؟

قوله: بالنون والياء فيهما ننشط ونتسع: ددې اضافې مقصد په يرتع اويلعب کښې دوه قراتونه بيانول دی يعنی يرتع ويلعب واحد مذكر غائب او جمع متكلم دواړه قراتونه دی او ننشط د نلعب تفسير دې، يعنى چې مونږ په غشي ويشتلو کښې مقابله وکړو او نتسع دا د نرتع تفسير دې، چې مونږ اوخورو او مزې اوکړو، په دې تفسير کښې لف نشر مرتب دې.

قوله: المراد به الجنس، ددې اضافې مقصود دادې چې په الذئب کښې الف لام د عهد نه دې څکه چې د يعقوب عليه السلام په ذهن کښې څه متعين شرمخ نه وو، بلکه الف لام د جنس دې، يعنى د شرمخ هر يو فرد دې خوړلې شی.

قوله: انا اذا لخاسرون: جواب قسم دې،

قوله: جواب لما محذوف: دا ددې اعتراض جواب دې چې کلام تام نه دې څکه چې د (فلما ذهبوا) جواب ذکر نه دې، د جواب حاصل دادې چې د لما جواب محذوف دې، او هغه فعلوا ذلک دې.

قوله: رضخه: (ف) رضخا: په کاڼړی تکول، جنګول

قوله: ولو كنا صادقين: ای فرضا

قوله: لاتهمتنا: دا د لوكنا جواب محذوف دې.

قوله: محله نصب على الظرفية: يعنى على قميصه دظرف کيدو د وجه محلا منصوب دې تقديری عبارت دا دې: وجاءوا فوق قميصه بدم كذب)

قوله: اى ذى كذب: ددې اضافې مقصد دا اعتراض لرې کول دی چې په بدم كذب کښې د

مصدر حمل په ذات باندې دې کوم چې صحیح نه دې، د (ذی) اضافه کولو سره ئې اوئیل چې مصدر په معنی د اسم فاعل دې لهذا اوس څه اعتراض نشته، او که (ذی) محذوف اونه ګنړلې شي نو په طور د مبالغې حمل صحیح دې، څنګه چې په (زید عدل) کښې دی.

قوله: الذي يرد الماء: دا د وارد تفسیر دې، یعنی هغه سړې چې د اوبو انتظام کوی چاته چې سقا وئیلې شي د دغې سقا نوم مالک ابن ذعر خزاعی وو.

قوله: ليستقي منه: چې د کوهی نه اوبه راوباسی، په بعضې نسخو کښې لیسقی دې، د دوارو له (من) رازی، استقی من النهر، د نهر نه ئې اوبه راوړې.

قوله: في قراءة بشري: یعنی څما خوشخبری، بشارت ته ئې ندا مجازا اووئیل، څکه چې په بشارت کښې د مخاطب کولو صلاحیت موجود نه دې.

[ایاتونه: ۲۱ _ ۲۹]

{وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِنْ مِصْرَ} وَهُوَ قطفير الْعَزِيز {لِامْرَأَتِهِ} زُلَيْخَا {أَكْرِمِي مَثْوَاهُ} مُقَامه عِندنَا {عَسَى أَنْ يَنْفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا} وَكَانَ حَصُورًا {وَكَذَلِكَ} كَمَا نَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَتْل وَالْجُبّ وَعَطَفْنَا عَلَيْهِ قَلْب الْعَزِيز {مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ} أَرْض مِصْر حَتَّى بَلَغَ مَا بَلَغَ {وَلِنُعَلِّمَهُ مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ} تَعْبِير الرُّؤْيَا عُطِفَ عَلَى مُقَدَّر مُتَعَلِّق بِمَكَّنَّا أَيْ لِنُمَكِّنَهُ أَوْ الْوَاو زَائِدَة {وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ} تَعَالَى لَا يُعْجِزهُ شَيْء {وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} وَهُمْ الْكُفَّار {لَا يَعْلَمُونَ} ذَلِكَ {وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ} وَهُوَ ثَلَاثُونَ سَنَة أَوْ وَثَلَاث {آتَيْنَاهُ حُكْمًا} حِكْمَة {وَعِلْمًا} فِقْهًا فِي الدِّين قَبْل أَنْ يُبْعَث نَبِيًّا {وَكَذَلِكَ} كَمَا جَزَيْنَاهُ {نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ} لِأَنْفُسِهِمْ {وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا} هِيَ زُلَيْخَا {عَنْ نَفْسِهِ} أَيْ طَلَبَتْ مِنْهُ أَنْ يُوَاقِعهَا {وَغَلَّقَتِ الْأَبْوَابَ} لِلْبَيْتِ {وَقَالَتْ} لَهُ {هَيْتَ لَكَ} أَيْ هَلُمَّ وَاللَّام لِلتَّبْيِينِ وَفِي قِرَاءَة بِكَسْرِ الْهَاء وَأُخْرَى بِضَمِّ التَّاء {قَالَ مَعَاذَ اللَّهِ} أَعُوذ بِاَللَّهِ مِنْ ذَلِكَ {إِنَّهُ} الَّذِي اشْتَرَانِي {رَبِّي} سَيِّدِي {أَحْسَنَ مَثْوَايَ} مُقَامِي فَلَا أَخُونهُ فِي أَهْله {إِنَّهُ} أَيْ الشَّأْن {لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ} الزُّنَاة {وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ} قَصَدَتْ مِنْهُ الْجِمَاع {وَهَمَّ بِهَا} قَصَدَ ذَلِكَ {لَوْلَا أَنْ رَأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ} قَالَ ابْن عَبَّاس مُثِّلَ لَهُ يَعْقُوب فَضَرَبَ صَدْره فَخَرَجَتْ شَهْوَته مِنْ أَنَامِله وَجَوَاب لَوْلَا لَجَامَعَهَا {كَذَلِكَ} أَرَيْنَاهُ الْبُرْهَان {لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ} الْخِيَانَة {وَالْفَحْشَاءَ} الزِّنَى {إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ} فِي الطَّاعَة وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ اللَّام أَيْ الْمُخْتَارِينَ {وَاسْتَبَقَا الْبَابَ} بَادَرَ إِلَيْهِ يُوسُف لِلْفِرَارِ وَهِيَ لِلتَّشَبُّثِ بِهِ فَأَمْسَكَتْ ثَوْبه وَجَذَبَتْهُ إِلَيْهَا {وَقَدَّتْ} شَقَّتْ {قَمِيصَهُ مِنْ دُبُرٍ وَأَلْفَيَا} وَجَدَا {سَيِّدَهَا} زَوْجهَا {لَدَى الْبَابِ} فَنَزَّهَتْ نَفْسهَا ثُمَّ {قَالَتْ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا} زِنًا {إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ} يُحْبَس فِي سِجْن {أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم بِأَنْ يُضْرَب {قَالَ} يُوسُف مُتَبَرِّئًا {هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا} ابْن عَمّهَا رُوِيَ أَنَّهُ كَانَ فِي الْمَهْد فَقَالَ {إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ} قُدَّام {فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ} {وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ} خَلْف {فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ} {فَلَمَّا رَأَى} زَوْجهَا {قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ

Scanned with

إنّه، أي قولك (مَا جَزَاءُ مَنْ أَرادَ) الخ (من كيدكن) أيها النساء (إن كيدكن عظيم) ثم قال يا (يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا) الأمر وَلا تَذْكُرهُ لِئَلّا يَشِيعَ (وَاسْتَغْفِرِي) يَا زُلَيْخَا (لِذَنْبِكِ إِنَّكِ كُنْتِ مِنَ الْخَاطِئِينَ) الآثِمِينَ وَاشْتَهَرَ الْخَبَرُ وَشَاعَ

ترجمه: وهغه مصری سړی چاچې یوسف عليه السلام اخستې وو چې د هغه نوم قطفیر او لقب ئې عزیز وو خپلې ښځې زلیخا ته اووئیل چې دې په عزت او حترام سره ساته، یعنی ده ته د عزت مقام ورکړه او ښه طریقې سره دده خیال ساته، لرې نه ده چې زمونږ پاره د فائده مند او گرځي یا مونږ دې خپل ځوئې جوړ کړو او عزیز عنین (نامرد) وو او څنګه چې مونږ یوسف عليه السلام ته د قتل او کوهي نه خلاصې ورکړو او دعزیز مصر زړه مو هغه طرف ته مائل کړو دغه شان مونږ یوسف عليه السلام ته په ملک مصر کښې مشری ورکړه تردې چه هغه اورسیدلو کوم ځائې ته رسیدل وو، او مونږ هغه ته قدرت ورکړو چې مونږ هغه ته د خوبونو تعبیر اوخایو، د لنعلمه عطف په لنمکنه باندې دې کوم چې د مکنا متعلق دې، تقدیری عبارت دادې ای مکنا لنعلمه یا واؤ زائد دې او الله په خپله اراده باندې غالب دې هغه څوک عاجزه کولې نه شی، خو ډیر خلق چې هغه کافران دی هغوی ددې نه ناخبر دی او یوسف عليه السلام چې کله پوخ عمر ته اورسیدلو او هغه ۳۰ یا ۳۳ کاله دی، نو مونږ هغه ته حکمت او پوهه په دین کښې، د نبوت په منصب باندې د مقرر کولو نه مخکښې ورکړل او مونږ خپل اعمالو کښې نیکانو خلقو لره دغه شان بدله ورکوو، او هغه ښځه چې د چا په کور کښې دې وو هغه زلیخا وو په ده باندې جال اچول شروع کړل، یعنی دده د ګیرولو کوشش ئې شروع کړو، یعنی دده نه ئې خپل مقصد پورا کولو مطالبه اوکړه او یو ورځ ئې دروازې بندې کړې او وئې وئیل چې زر رازه، اې یوسف عليه السلام هم تاته وایم د (لک) لام د تبیین دپاره دې، او په یو قراءت کښې (هیت) د هاء کسرې سره ده، او په بل قرامت کښې د تاء په ضمې سره دې، (یوسف عليه السلام اووئیل چې د الله پناه، یعنی زه د زنا نه د الله پناه غواړم هغه ذات چا چې خه واخستم، اوعزت ئې راکړو ځما مالک دې د هغه په عزت کښې خیانت نشم کولې، خبره داده چې ظالم یعنی زنا کار کامیابې نه مومی، او هغې پخه اراده کړې وه، یعنی ده سره ئې د زنا پورا قصد کړې وو، یوسف عليه السلام به هم دا اراده کړې وه که د خپل رب دلیلونه ئې کتلې نه وو ابن عباس رضي الله عنهما فرمائیلې دی چې د یوسف عليه السلام مخکښې د یقوب عليه السلام شکل مبارک راغلو او هغه د یوسف عليه السلام په سینه باندې لاس اووهلو چې د هغې د وجې نه د هغه شهوت د ګوتو په ذریعه اووتلو، او د (لولا) جواب (لجامعها) محذوف دې مونږ دلیل ځکه ښکاره کړو چې مونږ دې د زنا او د خیانت نه لرې اوساتو، په حقیقت کښې هغه زمونږ د مخلصانو بندګانو نه وو یعنی په اطاعت کښې، او په یو قرامت کښې (مخلصین) د لام په فتحې سره دې یعنی په خوښو بندګانو کښې او دواړه مخکښې روستو دروازې طرف ته منډه کړې یوسف عليه السلام د تیښتې د پاره او هغې د نیولو د پاره، چنانچه ښځې د یوسف

Scanned with

علیه السلام کېږي اونيولې اوهغه ئې خپل طرف ته راښکلو په آخر کښې ښځې د یوسف علیه السلام قمیص د شا طرف نه اوشلولو، او دواړو د هغې خاوند دروازې سره اوليدلو، نو ښځې خپله صفائی پیش کولو سره اووئيل، چې څه سزا ده د هغه کس چې ستا ښځې سره د زنا اراده اوکړی؟ سوا ددې نه چې هغه دې قید کړې شی یا دا چې هغه ته ډیره سخته سزا ورکړې شی یعنی اووهلې شی یوسف علیه السلام خپله صفائی (بیزاری) ښکاره کولو د پاره اووئيل چې دې څه خپل جال کښې د ګیرولو کوشش اوکړو، نو د هغه ښځې په خاندان والو کښې یو ګواه یعنی د هغې د تره څوی چې په ځانګو کښې وو ګواهی ورکړه چې که چرې دده قمیص د مخکښې نه شلیدلې وی نو ښځه رشتونې ده او دې درغژن دې او که دده قمیص د شا طرف نه شلیدلې وی نو ښځه دروغژنه ده، او دې رشتونې دې چنانچه چې کله د هغې خاوند د یوسف علیه السلام کرته د روستو نه شلیدلې اولیده نو وئې وئيل چې ستا دا وینا ماجزاءمن اراد الخ ستاسو ښځو مکر دې، اې ښځې بې شکه ستاسو مکرهم ډیر لوې دې بیا ئې اووئيل اې یوسف ته دې خبرې لره پرېږده یعنی ددې تذکره مه کوه چې ددې شهرت اونشی او اې زلیخا ته د خپلې خطاء معافی اوغواړه هم ته په خطاکارو کښې ئې.او دا خبر خور او مشهور شو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: وقال: واؤ عاطفه دې معطوف علیه (فاشتراه عزیز مصر) دې ای فاشتراه وقال لامراته الذی اشتراه، دقال فاعل دې. من مصر د کائنا متعلق کیدو سره د فاعل نه حال دې، بعضې حضراتو د لفظ مصر نه مخکښې (اهل) محذوف ګنړلې دې، تقدیر به دا رنګه وی الذی اشتراه من اهل مصر، اوبعضو (من) د (فی) په معنی کښې اخستې دې ای اشتراه فی مصر په دې صورت کښې هیڅ التباس نه پاتې کیږی. لامراته د قال سره متعلق دی او اکرمی مثواه مقوله ده.

قوله: قطفیر: بروزن قندیل، د مصر د وزیر خزانه نوم دې، د هغه لقب عزیز دې.

قوله: اکرمی مقامه عندنا: یعنی دې په عزت او احترام سره اوساته.

قوله: حصورا: دا د مبالغې صیغه ده، په جماع باندې قدرت نه لرونکې

قوله: لنعلمه: فعل مضارع ده کومه چې د لام نه پس د (ان) مقدره د وجه منصوب ده، علامه سیوطی په لنعلمه کښې دوو ترکیبونو طرف ته اشاره کړې ده، اول دا چې واؤ عاطفه وی په دې صورت کښې به تقدیری عبارت څه داسې وی، مکناه فی الارض لنملکه ما فیها ولنعلمه من تاویل الاحادیث، په دې صورت کښې به د لنعلمه عطف په لنملکه محذوف باندې وی، د مفسر د قول (عطف علی مقدر) هم دغه مطلب دې، دویم صورت دا چې واؤ زائد وی نو په دې صورت کښې به تقدیری عبارت داسې وی مکنا فی الارض لنعلمه تاویل الاحادیث،

Scanned with

نملکه که چرې د ملک (میم د کسرې سره) نه مشتق وی نو معنی به دا وی چې دې د پاره چې دې مونږ مالک جوړ کړو، او که ملک (په ضمې د میم سره) نه مشتق وی، نو معنی به وی چې دې مونږ بادشاه جوړ کړو

قوله: اشده: دا واحد په وزن د جمع دې.

تنبیه: د احقر سره موجود د جلالین په نسخې کښې عبارت لنمکنه دې، صحیح نسخه لنملکه دې،

قوله: راودته: هغې ښځې دې وغولولو ماضی واحد مؤنث غائب، او ضمیر واحد مذکر غائب دې،

قوله: طلبت منه: سره ئې اشاره اوکړه، چې مفاعله دلته د یو طرف د پاره ده.

قوله: هیت لك: دا کلمه د دوو لفظو نه مرکبه ده، هیت او لک. هیت اسم فاعل دې په معنی د راشه، لک کښې لام جاره دې، او کاف محرور دې، جار مجرور د (اقول) فعل محذوف سره متعلق دې، ددې معنی ده (زه تاته وایم چې زر راشه) (روح) سراج کښې خطیب لیکلې دی چې هیت لک پورا اسم فعل دې دا د هلم په معنی کښې دې چې د هغې معنی ده (راشه) او د هیت په تاء کښې دریواړه اعراب دی، په لک کښې لام د مخاطب د وضاحت د پاره دې، یعنی په هیت کښې چې کوم مخاطب دې هغه ئې په لک سره واضح کړو، کاف مخاطب د ضرورت نه کیدو باوجود د وضاحت د پاره راوړلې شو، ځکه چې د هیت معنی هم هغه ده کومه چې د هیت لک معنی ده، څنګه چې سقیا لك وئیلې شی، حالانکه سقیا د کاف خطاب محتاج نه دې، ځکه چې د سقیا معنی ده سقاك الله سقیا، (لك) وی صرف د تاکید د پاره راوړلې دې. (اعراب القرآن للدرویش)

قوله: معاذالله: دا د (عاذ یعوذ) د مصادرو نه یو مصدر دې.

قوله: وجواب لولا لجامعها: د ا اضافه کول دې طرف ته اشاره ده چې د (لولا) جواب محذوف دې، نه چې په ماقبل کښې مذکور (هم بها) ځکه چې د (لولا) جواب په (لولا) باندې مقدم کیدې نشی،

قوله: اریناه: په دې کښې اشاره ده، چې کذلک د محذوف مفعول کیدو د وجې په محل د نصب کښې دې، ای اریناه کذلك، او دلنصرف لاد أرینا محذوف سره متعلق دې.

[ایاتونه: ۳۰ - ۳۵]

(وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِيْنَةِ) مَدِينَة مِصْر (امْرَأَتُ الْعَزِيْزِ تُرَاوِدُ فَتٰهَا) عَبْدَهَا (عَنْ نَّفْسِهٖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا) تَمْيِيز أَي دَخَلَ حُبّه شِغَاف قَلْبهَا أَيْ غِلَافه (إِنَّا لَنَرٰهَا فِي ضَلٰلٍ) أَيْ فِي خَطَأ (مُّبِيْنٍ) بَيِّن بِحُبِّهَا إِيَّاهُ (فَلَمَّا سَمِعَتْ

Scanned with

يمكرهن} غيبتهن لها {أرسلت إليهن وأعتدت} اعدت {لهن متكأ} طعاما يقطع بالسكين للاتكاء عنده وهو الأترج {وآتت} اعطت {كل واحدة منهن سكينا وقالت} ليوسف {اخرج عليهن فلما رأينه أكبرنه} أعظمنه {وقطعن أيديهن} بالسكاكين ولم يشعرن بالألم لشغل قلبهن بيوسف {وقلن حاش لله} تنزيها له {ما هذا} أي يوسف {بشرا إن} ما {هذا إلا ملك كريم} لما حواه من الحسن الذي لا يكون عادة في النسمة البشرية وفي الحديث أنه أعطي شطر الحسن {قالت} امرأة العزيز لما رأت ما حل بهن {فذلكن} فهذا هو {الذي لمتنني فيه} في حبه بيان لعذرها {ولقد راودته عن نفسه فاستعصم} امتنع {ولئن لم يفعل ما آمره} به {ليسجنن وليكونا من الصاغرين} الذليلين فقلن له أطع مولاتك {قال رب السجن أحب إلي مما يدعونني إليه وإلا تصرف عني كيدهن أصب} أمل {إليهن وأكن} أصر {من الجاهلين} المذنبين والقصد بذلك الدعاء فلذا قال تعالى {فاستجاب له ربه} دعاءه {فصرف عنه كيدهن إنه هو السميع} للقول {العليم} بالفعل {ثم بدا} ظهر {لهم من بعد ما رأوا الآيات} الدالات على براءة يوسف أن يسجنوه دل على هذا {ليسجننه حتى} إلى {حين} ينقطع فيه كلام الناس فسجن

ترجمه: او د مصر ښار ښځو خپله کښې مشهوره کړه چې د عزيز ښځه خپل ځوان غلام پسې شوې ده او محبت هغه بې قراره کړې ده د هغه محبت د هغې د زړه په پټو خانو پورې پيوست شوې دې زمونږ په خيال کښې هغه ده سره محبت کولو کښې ښکاره په غلطه ده، چې کله د عزيز ښځې ددوی د مکر خبرې واوريدلې يعنی هغې پسې د بدو ردو خبرې ئې واوريدلې نو هغوی پسې ئې خبر اوليږلو او د هغوی د پاره ئې په چاړې سره د کټ کيدلو والا خوراک انتظام اوکړو، دې خوراک ته متکا ځکه وئيلې شی چې د هغې خوړلو سره به ئې تکيه وهله،

دويمه ترجمه: او د هغوی د پاره ئې د تکياگانو نه ډک مجلسونه تيار کړل او هغه خوراک د ترنجو (نارنج) وو، او په هغوی کښې ئې هرې يوې ته چاړه ورکړه او يوسف عليه السلام ته ئې اوئيل چې ددوی مخکښې راوُزه، چنانچه چې کله د هغوی نظر په يوسف عليه السلام باندې پريوتلو نو هغوی حيرانه شوې او په چاړه باندې ئې خپل لاسونه کټ کړل او هغوی ته د يوسف سره د مشغوليدو د وجه د تکليف احساس هم اونشو او چغې ئې کړې حاشا لله پاکی ده الله د پاره، دا يعنی يوسف عليه السلام انسان نه دې دا خو څوک بزرګه فرشته ده ځکه چې دا خو داسې حسن ګير کړئې ده چې عادتا په انسان کښې نه وی او په صحيح حديث کښې دی چې يوسف عليه السلام ته ټول حسن نه نيم حسن ورکړې شوې وو، د عزيز ښځې چې کله ددوی دا حالت اوليدلو نو وئيل وې چې دا هغه هم دې د چا په محبت کښې چې تاسو ماته پيغورونه کوئ، دا د خپل عذر بيان دې او بې شکه ما ده د غولولو کوشش کړې وو، خو دې بچ شو او که دې هغه کار اونه کړی کوم چې زه غوارم نو يقينا دې به قيد کړې شی، او ډير ذليل او خواره به شی، نو هغې ښځو يوسف عليه السلام ته اووئيل چې د خپلې مالکې خبرې اومنه، يوسف عليه السلام دعا اوکړه اې

Scanned with

خدايه زما جيل خوښ دې د هغې كار په مقابله كښې كوم ته چې دوى ما راغواړي، او كه تا ځما نه ددوى دا چال بازى لرې نه كړه نو ځه به ددوى په جال كښې گير شم، او په گناهگارانو كښې به شامل شم، او د ‹والاتصرف› نه د دعا مقصد دې، او هم ځكه الله تعالى فاستجاب اوفرمائيل، نو د هغه رب د هغه دعاء قبول كړه، چې دهغه نه ئې ددوى مكر او فريب لرې كړو، بې شكه هغه خبرو لره اوريدونكې د عمل كتونكې دې، بيا هغوى دا فيصله اوكړه چې خامخا به دې جيل كښې اچوى د يو وخت پورې، باوجود ددې چې د يوسف ﷺ په پاكدامنى باندې دلالت كونكې نښې ئې كتلې وې، په دې كښې حذف د فاعل باندې ليسجننه دلالت كوى، چې ددې خبرې چرچا ختمه شى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: نسوة: د ښځو ټولگې، دا اسم جمع ده، ددې په د خپلو الفاظو نه واحد نشته، او په اعتبار د معنې سره ‹امرأة› ددې واحد دې، نسوة مؤنث غيرحقيقى دې، ددې د فعل مذكر او مؤنث دواړه راوړل جائز دى، ددې وجې ئې د ‹قالت› په ځائې ‹قال› راوړلو.

قوله: مدينة مصر: په دې كښې اشاره ده چې په ‹المدينة› كښې الف لام د عهد دې.

قوله: امراة العزيز: مبتدأ دې، او ‹تراود ددې خبر دې، تراود، مضارع واحد مؤنث غائب دې، ‹مفاعلة› غولول، دوكه وركول، مائله كول.

قوله: تميز: دا ددې اعتراض جواب دې چې ‹شعف› متعدى بيک مفعول دې، حالانكه دلته دوه مفعول دى، اول ‹ها› او دويم ‹حبا›، جواب دادې چې ‹حبا› تميز دې نه چې مفعول، دا د فاعل نه منتقل شوې دې، اصل عبارت دا وو، دخل حبه فى شغاف قلبها

قوله: شغاف: شغاف القلب، هغه جالئ چې د زړه نه گير چاپيره وى.

قوله: اعتدت: دا د اعتاد نه، په معنى د تيارولو، ماضى واحد مؤنث غائب،

قوله: متكا: اسم مكان د تكيه وهلو ځائې، تولائى بالخت، مسند، عربيان متكأ هغه ځيز نه وائى، چې د خبرو يا د روټى په وخت كښې هغې ته ډډه لگولې شى، د امام رازى په نيز هغه خوراک چې د هغې د خوړلو د پاره د چاړې ضرورت وى، ‹تفسير كبير› څنگه چې نن سبا د د خوراک د پاره ميز او كرسئ لگولې شى، دغه شان به مخكښې د مهذب دسترخوانو نه گيرچاپيره تكيې لگولې شوې، او څنگه چې نن سبا د ميز او دسترخوان لگولو نه مراد خوراک كول دى، او په ميز يا په دسترخوان باندې د ناستې نه د روټئ د پاره ناسته مراد ده، دغه شان په هغه زمانه كښې د بالخت تكيه لگولو نه مراد د روټئ دپاره كيناستل مراد وو، هم په دې معنى كښې د جميل شعر دې،

فظللنا بنعمة واتكانا　　وشربنا الحلال من قلله

(مونږ په عيش كښې ورځې تيرې كړې او روټئ مو اوخوړله، او د منګو نه مو شراب راويستل او اومو څکل،)

علامه سيوطى د (متكا) تفسير په طعاما يقطع بالسكين سره كړې دې او هم دغه قول د امام رازى دې خو دهغې نه پس ليكى (وهو الاترج) علامه سوطى هم دغه شان د وهب په اتباع كښې كړې ده ابوعبيده او نورو اهل لغتو ددې نه انكار كړې دې ځكه چې ترنج ته متک يا متكة وئيلې شى ضرار ابن نهشل هم متكة په معنى د ترنج كښې اخستې دې فاهدت متكة لبنى اسها،هغه د خپل تره ځامونو د پاره ترنج په هديه كښې اوليږل.

قوله: للاتكاء: دا روټى ته متكا وئيلو د وجه تسميه ده.چونكه عربو به د روټئ په تايم كښې تكيه لګوله ځكه دغې روټئ ته د استعارې په طور سره متكا اووئيلې شو.

قوله: حاش لله: حاشا حرف تنزيه دې، دغه وخت به دا اسم وى. او كه ددې استعمال داستثناء په طور سره وى نو دا به حرف وى.

قوله: بيان لعذرها: ددې جواب دې چې مصرى ښځو ته خو پته وه چې دعزيز ښځه په غلام باندې عاشقه شوې ده بيا (فذلكن الذى لمتننى فيه) دادې هغه د چا په باره كښې چې تاسو ما ملامته كوئى، ددې وئيلو څه ضرورت دې؟

جواب: د جواب حاصل دا دې چې ددې مقصد خبر وركول نه دى بلكه خپله مجبورى او بې وسى بيانول دى، چې د چا په يو نظر سره تاسو حيرانه شوئى او خپل لاسونه مو زخمى كړل، نو تاسو اووايئ چې څوک ما سره هر وخت په كور كښې اوسيږى نوځما به څه حال وى؟ لهذا تاسو ما په دې معامله كښې معذوره اوګنرئى.

قوله: به:دا د يو سوال مقدر جواب دې

سوال: دا دې چې د (آمره) ضمير په ظاهره خو يوسف عليه السلام ته راجع دې او كه داسې وى نو (ما) موصوله به بغير د عائد نه پاتې شى؟

جواب: د جواب حاصل داد ې، چې د (آمره) ضمير په ظاهره يوسف عليه السلام ته راجع نه دې بلكه (ما) موصوله ته راجع دې.او (آمره) په اصل كښې (آمر به) وو، باء مو حذف كړه څنګه چې په (امرتک الخير) په اصل كښې (امرتک بالخير) وو.

لهم: اى للعزيز واهله

قوله: ان يسجنوه: دا د يو اعتراض جواب دې، اعتراض دادې چې (بدا) فعل دې او ددې فاعل ليسجننه دې، حالانكه فعل د فاعل نه بغير نه راځى، لهذا فعل د فاعل نه بغير پاتې شو كوم چې ناجائز ده.

جواب: د جواب حاصل داد ې، چې د (بدا) فاعل ليسجننه نه دې، بلكه فاعل ئې مقدر دې

او هغه (ان يسجنوه) دي. (ان يسجنوه) د (ان) مصدريه د وجه په تاويل د مصدر سره د (بدا) فاعل دي، تقديري عبارت ه ادي بداتسجينه.

[اياتونه: ٣٦ ـ ٤٢]

{وَدَخَلَ مَعَهُ السِّجْنَ فَتَيَانِ} غُلَامَانِ لِلْمَلِكِ أحدهما سَاقِيه وَالْآخر صَاحِب طَعَامه فَرَأَيَاهُ يُعَبِّر الرُّؤْيَا فَقَالَا لَنَخْتَبِرَنَّهُ {قَالَ أَحَدُهُمَا} وَهُوَ السَّاقِي {إِنِّي أَرَانِي أَعْصِرُ خَمْرًا} أَيْ عِنَبًا {وَقَالَ الْآخَرُ} وَهُوَ صَاحِب الطَّعَام {إِنِّي أَرَانِي أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْهُ نَبِّئْنَا} خَبِّرْنَا {بِتَأْوِيلِهِ} بتعبيره {إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ} {قَالَ} لَهُمَا مُخْبِرًا أَنَّهُ عَالِم بِتَعْبِيرِ الرُّؤْيَا {لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ} فِي مَنَامكُمَا {إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ} فِي الْيَقَظَة {قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا} تَأْوِيله {ذَٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي} فِيهِ حَثّ عَلَى إِيمَانهمَا ثُمَّ قَوَّاهُ بِقَوْلِهِ {إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ} دِين {قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ} تأكيد {كَافِرُونَ} {وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَائِي إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ مَا كَانَ} يَنْبَغِي {لَنَا أَنْ نُشْرِكَ بِاللَّهِ مِنْ} زَائِدَة {شَيْءٍ} لِعِصْمَتِنَا {ذَٰلِكَ} التَّوْحِيد {مِنْ فَضْلِ اللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} وَهُمُ الْكُفَّار {لَا يَشْكُرُونَ} اللّٰه فَيُشْرِكُونَ ثُمَّ صَرَّحَ بِدُعَائِهِمَا إِلَى الْإِيمَان فَقَالَ {يَا صَاحِبَيِ} سَاكِنَيِ {السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ} خَيْر اسْتِفْهَام تَقْرِير {مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ} أَيْ غَيْره {إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا} سَمَّيْتُمْ بِهَا أَصْنَامًا {أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِهَا} بِعِبَادَتِهَا {مِنْ سُلْطَانٍ} حُجَّة وَبُرْهَان {إِنِ} مَا {الْحُكْمُ} الْقَضَاء {إِلَّا لِلَّهِ} وَحْده {أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَٰلِكَ} التَّوْحِيد {الدِّينُ الْقَيِّمُ} الْمُسْتَقِيم {وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} وَهُمُ الْكُفَّار {لَا يَعْلَمُونَ} مَا يَصِيرُونَ إِلَيْهِ مِنَ الْعَذَاب فَيُشْرِكُونَ {يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَمَّا أَحَدُكُمَا} أَيِ السَّاقِي فَيَخْرُج بَعْد ثَلَاث {فَيَسْقِي رَبَّهُ} سَيِّده {خَمْرًا} عَلَى عَادَته {وَأَمَّا الْآخَرُ} فَيَخْرُج بَعْد ثَلَاث {فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ الطَّيْرُ مِنْ رَأْسِهِ} هَذَا تَأْوِيل رؤيا كما فَقَالَا مَا رَأَيْنَا شَيْئًا فَقَالَ {قُضِيَ} تَمَّ {الْأَمْرُ الَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ} سَأَلْتُمَا عَنْهُ صَدَقْتُمَا ام كذبتما {وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ} أَيْقَنَ {أَنَّهُ نَاجٍ مِنْهُمَا} وَهُوَ السَّاقِي {اذْكُرْنِي عِنْدَ رَبِّكَ} سَيِّدك فَقُلْ لَهُ إِنَّ فِي السِّجْن غُلَامًا مَحْبُوسًا ظُلْمًا فَخَرَجَ {فَأَنْسَاهُ} أَيِ السَّاقِيَ {الشَّيْطَانُ ذِكْرَ} يُوسُف عِنْد {رَبِّهِ فَلَبِثَ} مَكَثَ يُوسُف {فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ} قِيلَ سَبْعًا وَقِيلَ اثْنَيْ عَشْرَة

ترجمه: چنانچه يوسف عليه السلام ئې جيل كښې واچولو هغه سره دوه نور ځوانان هم جيل ته داخل شول، كوم چې د بادشاه غلامان وو، يو په هغوى كښې د بادشاه ساقى وو، او دويم د بادشاه د مطبخ ذمه دار، دې دوارو ته معلومه شوه چې يوسف عليه السلام د خوبونو تعبير اوباسى نو دوارو مشوره اوكړه چې مونږ به ده نه خامخا امتحان اخلو، په دې كښې يو كوم چې ساقى وو اووئيل چې ما خپل ځان اوليدلو چې ځه انگور نچوړوم، او دويم د مطبخ ذمه دار اووئيل چې ما په سر باندې روټئ اېښودلې دى د هغې نه مرغۍ خورى، نو مونږ ته تاسو د دې تعبير راكړئ، مونږ تاسو نيک كس گڼړو، يوسف عليه السلام هغوى ته دا ښودلو د پاره چې زه د خوبونو

Scanned with

تعبیر پیژنم، وې وئیل چې کوم خوراکونو (د څکلو څیز) تاسو ته په خوب کښې درکولې شی د بیداریدو نه پس ما د هغې تعبیر اوخودلو، د هغې تعبیر په خارج کښې د ښکاره کیدو نه مخکښې، دا هغه علم دې کوم چې ماته خپل رب خودلې دې، په دې مقوله کښې دې دواړو لره په ایمان باندې آماده کول وو، بیا ئې ددې تائید په خپل قول (انی ترکت ملة، الخ) سره کړې دې، ما خو د هغه خلقو دین پریښودې دې څوک چې په الله باندې ایمان نه ساتی، او دا خلق د آخرت هم منکر دی، دویم (هم) د اولنی (هم) تاکید دې او ما خو د خپل پلار نیکه ابراهیم، اسحق او د یعقوب (علیهم السلام) دین اختیار کړې دې، زمونږ د پاره زمونږ د عصمت د وجې هیڅ کله مناسب نه ده چې مونږ الله سره څوک شریک اونیسو، دا توحید په مونږ او په ټولو خلقو باندې د الله فضل دې، خو اکثر خلق چې هغه کافران دی د الله شکر نه اویاسی، چې د هغې د وجې نه هغوی شرک کوی، بیا ئې په ښکاره هغوی ته د ایمان دعوت ورکولو سره اووئیل اې ځما د قید خانې ملګرو تاسو خپله سوچ اوکړئ چې دیر جدا جدا خدیان ښه دی که یو، چې هغه الله دې بهتر دې چې څوک په ټولو باندې غالب دې استفهام د تقریر دپاره دې د هغه نه علاوه د چا چې تاسو عبادت کوئی هغه ددې نه سوا نور هیڅ نه دی، چې یو څو نومونه دی کوم چې تاسو او ستاسو پلار نیکه ایښودې دی، او الله د هغوی په عبادت باندې څه سند او دلیل نازل کړې نه دې، حکم (فیصله) صرف د الله وحده لاشریک له دې، هغه حکم ورکړې دې چې صرف د هغه بندګی به کوئی، او دا توحید صحیح دین دې خو اکثر خلق چې هغه کافران دی هغه عذاب لره نه پیژنی، کوم طرف ته چې دوی ځی، د دغه وجه نه دوی شرک کوی، اې ځما د جیل ملګرو په تاسو کښې یو یعنی ساقی به درې ورځو نه پس د جیل نه خلاص شی، نو دې به د مخکښې پشان خپل مالک باندې شراب ورڅکوی، دا د هغه د خوب تعبیر دې، اودویم به هم درې ورځې پس د جیل نه خلاص شی نو هغه به پهانسۍ باندې خیژولې شی، مرغۍ به د هغه سر په شکولو شکولو سره خوری، دا د هغه دخوب تعبیر دې، نو هغه دواړو اووئیل چې مونږ خو څه خوب موب لیدلې نه دې، نو یوسف عليه السلام اوفرمائیل چې د څه چه تاسو سوال کړې وو د هغې فیصله کړې شوې ده، اګرچې تاسو رشتیا وئیلې وی یا دروغ، او په دواړو کښې چې د چا د خلاصیدولو یقین وو هغه ته ئې اووئیل، او هغه ساقی وو، خپل مالک سره ځما ذکر اوکړه، او هغه ته اووایه چې یو غلام په جیل کښې په ظلم سره بند دې، چنانچه هغه د قید خانې نه خلاص شو، خو شیطان د ساقی نه د خپل مالک مخې ته د یوسف عليه السلام ذکر کول هیر کړل، چې د هغې د وجې نه یوسف عليه السلام په قید کښې خو کاله نور پاتې شو وئیلې شوې دی چې اووه کاله وو، او وئیلې شوې دی چې دولس کاله پاتې شو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: فسجن: په دې حذف کښې اشاره ده چې واؤ عاطفه دې، اود (دخل) عطف په

Scanned with

محذوف باندې دې، او محذوف سجن دې،

قوله: الملك: د هغې بادشاه نوم ريان بن الوليد وو.

قوله: اي عنهما: دا د مايؤل اليه په اعتبار سره مجاز دې، لهذا دا شبه ختمه شوه چې خمر د نچوړولو څيز نه دې.

قوله: مخبرا انه عالم بتعبير الرؤيا: دا د دې سوال جواب دې چې د يوسف علیه السلام جواب د سوال مطابق نه دې؟

قوله: في منامكما: ددې اضافې مقصد هغه تفسير دفع كول دى چې كوم بعضې مفسرينو د (طعام ترزقانه) په هغه خوراک سره كړې دې كوم چې قيديانو ته وركولې شي، ځكه ددې تفسير مطابق د دواړو قيديانو په سوال او د يوسف علیه السلام په تعبير كښې هيڅ مطابقت نه معلوميږي، ځكه چې سوال په خوب كښې د خوراک د څيزونو په باره كښې وو او جواب په بيدارئى كښې د خوراک باره كښې دې.

قوله: ذلكما: دا اسم اشاره د بعيد دپاره ده، او مراد ترې نه د خوب د تعبير علم دې

قوله: ذلك التوحيد: د اسم اشاره بعيد په ځائې اسم اشاره قريب راوړل د توحيد اوچتې مرتبې او د عظمت ښكاره كولو د پاره دى،

قوله: ثم صرح بدعائهما الى الايمان: يعنى په ماقبل كښې د توحيد دعوت ته كناية اشاره وه، اودلته ښكاره طور سره دې، لهذا دتكرار شبه ختمه شوه.

قوله: صاحبي: دا د صاحب تثنيه ده، په اصل كښې صاحبين وو، منادى مضاف كيدو د وجه د آخر نه نون اوغورزيدلو.

قوله: لعصمتنا: ددې اضافې مقصد د يو سوال جواب دې.

سوال: دا دې چې حضرت يوسف علیه السلام دا خبره چې زمونږ د پاره دا بالكل مناسب نه دى چې مونږ څوک د الله تعالى سره شريک كړو، نو دا نامناسب كيدل صرف يوسف علیه السلام او د هغه د پلار نيكه د پاره نامناسب او ناخوښه نه دى بلكه دا خو د ټولو انسانانو د پاره نامناسب دى، بيا د يوسف (خپل ځان سره خاص كول څرنګه صحيح دى؟

جواب: لعصمتنا، اضافه كولو سره د دې سوال جواب وركول دى چې د كفر او شرک نامناسب كيدل زمونږ د پاره ځكه نه دى چې هغه حرام دى، بلكه ځكه نامناسب دى چې مونږ د هغې نه پاک او صفا ساتلې شي يو، په خلاف د غير د انبياء، چې هغوى د كفرنه پاک او صفا نه دى ساتلې شوې، اګر چې كفر اوشرک د هغوى د پاره حرام كړې شوى دى.

قوله: سميتم بها: د سميتموها تفسير په سميتم بها سره د كولو مقصدد يو اعتراض جواب

دي، اعتراض دادي چې د (ها) ضمير مرجع (اسماء) ده، لهذا معنى به داسې شي چې هغه يو څو نومونه دي کوم چې تاسو ايښودلي دي، دغه شان د اسماؤ د پاره د اسماء کيدل لازميږي، او دا صحيح نه ده؟

د جواب حاصل دا دي چې حرف جر د ضمير منصوب نه مخکښې محذوف دي، تقديري عبارت څه دا رنګه دي، سميتم بها، او دا داسې ده څنګه چې وئيلې شي، سميته زيدا اى سميت زيدا.

قوله: مايصيرون: دا د يعلمون مفعول دي.

[اياتونه: ۴۳ ـ ۵۲]

{وَقَالَ الْمَلِكُ} مَلِك مِصْر الرَّيَّان بن الْوَلِيد {إِنِّي أَرَى} أَيْ رَأَيْت {سَبْعَ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ} يَبْتَلِعهُنَّ {سَبْعٌ} مِنْ الْبَقَر {عِجَافٌ} جَمْع عَجْفَاء {وَسَبْعَ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ} أَيْ سَبْع سُنْبُلَات {يَابِسَاتٍ} قَدْ الْتَوَتْ عَلَى الْخُضْر وَعَلَتْ عليها {يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَفْتُونِي فِي رُؤْيَايَ} بَيِّنُوا لِي تَعْبِيرهَا {إِنْ كُنْتُمْ لِلرُّؤْيَا تَعْبُرُونَ} فَاعْبُرُوهَا {قَالُوا} هذه {أَضْغَاثُ أَحْلَامٍ} اخلاط {وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ الْأَحْلَامِ بِعَالِمِينَ} {وَقَالَ الَّذِي نَجَا مِنْهُمَا} أَيْ مِنْ الْفَتَيَيْنِ وَهُوَ السَّاقِي {وَادَّكَرَ} فِيهِ إِبْدَال التَّاء فِي الْأَصْل دَالًا وَإِدْغَامهَا فِي الدَّال أَيْ تَذَكَّرَ {بَعْدَ أُمَّةٍ} حِين حَال يُوسُف {أَنَا أُنَبِّئُكُمْ بِتَأْوِيلِهِ فَأَرْسِلُونِ} فَأَرْسَلُوهُ فَأَتَى يُوسُف فَقَالَ يَا {يُوسُفُ أَيُّهَا الصِّدِّيقُ} الْكَثِير الصِّدْق {أَفْتِنَا فِي سَبْعِ بَقَرَاتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنْبُلَاتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَاتٍ لَعَلِّي أَرْجِعُ إِلَى النَّاسِ} أَيْ الْمَلِك وَأَصْحَابه {لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ} تَعْبِيرهَا {قَالَ تَزْرَعُونَ} أَيْ ازْرَعُوا {سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا} مُتَتَابِعَة وَهِيَ تَأْوِيل السَّبْع السِّمَان {فَمَا حَصَدْتُمْ فَذَرُوهُ} أَيْ اُتْرُكُوهُ {فِي سُنْبُلِهِ} لِئَلَّا يَفْسُد {إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تَأْكُلُونَ} فَدُوسُوهُ {ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ} أَيْ السَّبْع الْمُخْصِبَات {سَبْعٌ شِدَادٌ} مُجْدِبَات صِعَاب وَهِيَ تَأْوِيل السَّبْع الْعِجَاف {يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ} مِنْ الْحَبّ الْمَزْرُوع فِي السِّنِينَ الْمُخْصِبَات أَيْ تَأْكُلُونَهُ فِيهِنَّ {إِلَّا قَلِيلًا مِمَّا تُحْصِنُونَ} تَدَّخِرُونَ {ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ} أَيْ السَّبْع الْمُجْدِبَات {عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ النَّاسُ} بِالْمَطَرِ {وَفِيهِ يَعْصِرُونَ} الْأَعْنَاب وَغَيْرهَا لِخِصْبِهِ {وَقَالَ الْمَلِكُ} لَمَّا جَاءَهُ الرَّسُول وَأَخْبَرَهُ بِتَأْوِيلِهَا {ائْتُونِي بِهِ} أَيْ بِالَّذِي عَبَّرَهَا {فَلَمَّا جَاءَهُ} أَيْ يُوسُف {الرَّسُولُ} وَطَلَبَهُ لِلْخُرُوجِ {قَالَ} قَاصِدًا إِظْهَار بَرَاءَته {ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ} أَنْ يَسْأَل {مَا بَالُ} حَال {النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ إِنَّ رَبِّي} سَيِّدِي {بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ} فَرَجَعَ فَأَخْبَرَ الْمَلِك فَجَمَعَهُنَّ {قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ} شَأْنكُنَّ {إِذْ رَاوَدْتُنَّ يُوسُفَ عَنْ نَفْسِهِ} هَلْ وَجَدْتُنَّ مِنْهُ مَيْلًا إِلَيْكُنَّ {قُلْنَ حَاشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِنْ سُوءٍ قَالَتِ امْرَأَتُ الْعَزِيزِ الْآنَ حَصْحَصَ} وَضَحَ {الْحَقُّ أَنَا رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ وَإِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ} فِي قَوْله {هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَفْسِي} فَأُخْبِرَ يُوسُف بِذَلِكَ فَقَالَ {ذَلِكَ} أَيْ طَلَب الْبَرَاءَة {لِيَعْلَمَ} الْعَزِيز {أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ} فِي اهله {بِالْغَيْبِ} حَال {وَأَنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي كَيْدَ الْخَائِنِينَ}

ترجمه: د مصر بادشاه ريان ابن وليد اووئيل چې ما خوب ليدلې دي چې اووه موټې غواګانې اووه تيټې غواګانې خوري عجاف د عجفاء جمع ده، او اووه شنه وږى دى، او نور اووه اوچ وږى

Scanned with

دی او اوچ وگی شنو وگو پوړې انختي دی او شنه وگی، او اوچ وگی په شنو وگو باندې غالب شوی دی، اې درباريانو تاسو ځما د خوب تعبير اوښايئ که چرې تاسو تعبير ورکولې شئ نو اووايئ درباريانو جواب ورکړو دا د منتشر خيالاتو خوبونه دی، او مونږ د منتشر خيالاتو خوبونو تعبير نشو ورکولې، او هغه ځوان کوم چې په دوو ځوانانو کښې د جيل نه خلاص شوې وو او هغه ساقی وو هغه ته اوږدې مدې نه پس د يوسف علیه السلام حال ورياد شو، په «وادکر» کښې اصل کښې تاء په دال سره بدله شوې ده، او د دال په دال کښې ادغام شوې دې، يعنی را ياد شو هغه اووئيل چې زه به تاسو ته ددې تعبير درکړم ماته اجازت راکړئ، چنانچه هغه ته يوسف علیه السلام خواله د تلو اجازت ورکړې شو، هغه لاړو او وې وئيل اې رشتونی يوسف علیه السلام! تاسو مونږ ته ددې خوب تعبير اوښايئ چې اووه موټې غواګانې دی چې هغه اووه تيټې غواګانې خوری، او اووه شنه وگی دی او اووه نور اوچ، چې څه خلقو ته يعنی بادشاه او د هغه درباريانو ته لاړ شم او د خوب تعبير ورته واوروم، او هغوی د خوب تعبير اوپيژنی، يوسف علیه السلام اوفرمائيل چې تاسو اووه کاله پټی اوکرئی «دابا» د همزې سکون سره او فتحې سره، په معنی د مسلسل، دا د اووه موټې غواګانو تعبير دې او چې کوم فصل تاسو ريبئ نو هغه په خوشو (بهنړو) کښې کيږدئ چې غله خرابيږی نه، صرف د خوراک د ضرورت مطابق هم غله د خوشې نه اوباسئ، بيا دې فراخه اووه کالو نه پس اووه کالو نه د قحط يعنی د تکليف ورځې به راځی او دا د اووه کمزورو غواګانو تعبير دې، د فراخ سالئ د کالونو راختلې غله کوم چې تاسو د قحط کالونو د پاره جمع کړې ده، د قحط کالونو په هغه وخوری، يعنی تاسو په دې کالونو کښې هغه جمع شوې غله اوخورئی، خو په دې کښې ډير لږه چې تاسو په حفاظت سره وساتئ پاتې به وی بيا دې نه پس به يو کال داسې راځی يعنی د خشک سالئ د اووه کالونو نه پس په دې کښې به په خلقو باندې د باران په ذريعه فرياد رسی کولې شی يعنی ښه باران به کيږی او په دې کال کښې به خلق د فراخوالی د وجې نه ډير انګور وغيره نچوړوی چې کله قاصد واپس راغلو او بادشاه ته ئې تعبير واورولو نو بادشاه اووئيل چا چې ددې خوب تعبير ورکړې دې هغه ماته راولئی، کله چې قاصد يوسف علیه السلام ته راغلو او ده ته ئې د جيل نه د بهر راتلو درخواست اوکړو نو يوسف علیه السلام قاصد ته د خپل ځان د بې ګناه ثابتولو د پاره اوفرمائيل خپل بادشاه ته واپس لاړ شه او د هغه نه تپوس اوکړه چې د هغه ښځو حقيقی واقعه څه ده چا چې خپل لاسونه کټ کړې وو؟ ځما آقا (عزيز) ددې ښځو د چال نه ډير ښه خبردار دې چنانچه قاصد واپس لاړو او بادشاه ته ئې دا صورت حال بيان کړو بادشاه هغه ښځې راجمع کړې او د هغوی نه ئې تپوس اوکړو ستاسو څه معامله وه چې تاسو يوسف علیه السلام د هغه د نفس په باره کښې دهوکه کولو او د غولولو کوشش کړې وو آيا تاسو د هغه لږ شوق هم ځان طرف ته کتلې وو؟ هغوی جواب ورکړو چې معاذ الله حاشا وکلا مونږ په هغه کښې هيڅ خرابی

Scanned with

ليدلې نه ده، د عزيز ښځې اووئيل اوس خو رشتيا خبره ښکاره شوه، ما هغه لره د خپل ذات په باره کښې د دهوکه کولو کوشش کړې وو هغه يقينا په خپل خبره (هى راودتنى عن نفسى) کښې رشتونې دې، يوسف عليه السلام ته ددې اطلاع ورکړې شوه نو وئې وئيل دا بې ګناهى ثابتول وو خکه چې عزيز ته پته اولګى چې د هغه پشې شاه ما د هغه سره خيانت نه دې کړې (بالغيب) د (اخنه) فاعل يا د مفعول نه حال دې او دا چې يقينا الله د خيانت کونکو مکر چلولو ته نه پرېږدى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: رايت: په دې کښې اشاره ده چې مضارع د ماضى په معنى کښې ده د ماضى د حالت د منظر کشئ د پاره په مضارع سره تعبير اوکړې شو.

قوله: عِجَافٌ جمع عجفآء: د عجفاء جمع ده نه چې د عجيف، ، خکه چې دا د بقره صفت دې،

سوال: د افعل او فعلاء جمع د فعال په وزن نه راځى، د قياس مطابق عجف پکار وو، څنګه چې د حمراء جمع حمر راځى.

جواب: دا حمل النقيض على النقيض د قبيلې نه دې، عجاف چونکه د سمان ضد دې، خکه ئې عجاف په سمان قياس کولو سره عجاف جمع راوړه.

قوله: سبع سنبلات: ئې په سبع بقرات باندې قياس کړو د سنبلات نه ئې سبع حذف کړو، کوم چې مفسر علام ښکاره کړې ده.

سوال: د غواګانو حالت ئې بيان کړو چې اووه تېټې (لاغرې) غواګانې به اووه موټې غواګانې خورى، خو د سنبلات حالت ئې بيان نه کړو کوم چې مفسر علام په التوت سره ذکر کړې دې؟

جواب: د بقرات په حالت باندې قياس د وجې د سنبلات حالت ئې بيانول پرېښودل

قوله: فَاعبروها: دا حذف د جزاء طرف ته اشاره ده.

قوله: هذه: په دې کښې اشاره ده چې (اضغاث) د مبتدأ محذوف خبر دې، لهذا د کلام د غير مفيد کېدلو شبه ختمه شوه، اضغاث د ضغث جمع ده، د وښو ګېډئى ته وائى، چې په هغې کښې اوچ او لوند هر قسمه واښه وى، دلته هغه پرېشانه خوبونه مراد دى چې په هغې کښې د وسوسو او د نفس د خبرو بيان وى.

قوله: احلام: د حلم جمع ده، خوب ته وائى

قوله: امة: د امت نه، دلته د خلقو ډله مراد نه ده، بلکه د ورځو ډله يعنى اوږده زمانه مراد ده، مفسر علام د امة تفسير په (حين) سره کولو کښې دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: حَالَ يوسف: په دې کښې اشاره ده چې په (وادکر) کښې واؤ حاليه دې، لهذا د عامل (قال) او معمول (انا انبئکم) په مينځ کښې د فصل اعتراض ختم شو.

قوله: يوسف:دا د (ادكر) مفعول دي.

قوله: بالمطر:په دې كښې اشاره ده چې يغاث، د غيث نه دې، نه چې د غوث نه.

قوله: سيدي: د (ربى) تفسير ئې په (سيدى) سره كولو كښې اشاره اوكړه چې د (ربى) نه سردار (عزيز) مراد دې، نه چې خالق، الله.

پاره نمبر ۱۳ [وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِي] [اياتونه: ۵۳ ـ ۵۷]

ثُمَّ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ فَقَالَ {وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِي} مِنَ الزَّلَلِ {إِنَّ النَّفْسَ} الْجِنس {لَأَمَّارَةٌ} كَثِيرَة الأَمْر {بِالسُّوٓءِ إِلَّا مَا} بمعنى من {رَحِمَ رَبِّي} فعصمه {إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ} {وَقَالَ الْمَلِكُ ائْتُونِي بِهِ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي} أَجْعَلهُ خَالِصًا لِي دُون شَرِيك فَجَاءَهُ الرَّسُول وَقَالَ أَجِبْ الْمَلِك فَقَامَ وَوَدَّعَ أَهْل السِّجْن وَدَعَا لهم ثم اغتسل ولبس ثيابا حسنا وَدَخَلَ عَلَيْهِ {فَلَمَّا كَلَّمَهُ قَالَ} لَهُ {إِنَّكَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ} ذُو مَكَانَة وَأَمَانَة عَلَى أَمْرنَا فَمَاذَا تَرَى أَنْ نَفْعَل قَالَ اجْمَعْ الطَّعَام وَازْرَعْ زَرْعًا كَثِيرًا فِي هَذِهِ السِّنِينَ الْمُخْصِبَة وَادَّخِرْ الطَّعَام فِي سُنْبُله فَتَأْتِي إِلَيْك الْخَلْق لِيَمْتَارُوا مِنْك فَقَالَ وَمَنْ لِي بهذا {قَالَ} يُوسُف {اجْعَلْنِي عَلَى خَزَآئِنِ الْأَرْضِ} أَرْض مِصْر {إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ} ذُو حِفْظ وَعِلْم بِأَمْرِهَا وَقِيلَ كَاتِب حَاسِب {وَكَذَٰلِكَ} كَإِنْعَامِنَا عَلَيْهِ بِالْخَلَاصِ مِنْ السِّجْن {مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ} أَرْض مِصْر {يَتَبَوَّأُ} يَنْزِل {مِنْهَا حَيْثُ يَشَاءُ} بَعْد الضِّيق وَالْحَبْس وَفِي الْقِصَّة أَنَّ الْمَلِك تَوَّجَهُ وَخَتَّمَهُ وَوَلَّاهُ مَكَان الْعَزِيز وَعَزَلَهُ وَمَاتَ بَعْد فَزَوَّجَهُ امْرَأَته فَوَجَدَهَا عَذْرَاء وَوَلَدَتْ لَهُ وَلَدَيْنِ وَأَقَامَ الْعَدْل بِمِصْرَ ودانت له الرقاب {نصيب برحمتنا من نشاء ولا نضيع أجر المحسنين} {ولأجر الآخرة خير} من اجر الدنيا {للذين آمنوا وكانوا يتقون}

ترجمه: بيا ئې د الله ته عاجزي پيش كړه او بيا يوسف عليه السلام اووئيل چه د خپل نفس د كوتاهو فخ پاكوالي نه بيانوم جنس نفس خو بې شكه د خرابو كارونو په ډير والي سره حكم كولو والا دې، خو دا چې څما پروردگار رحم اوكړي، نو هم هغه بچ كوى، (ما) په معنى د (من دې. بادشاه اووئيل دې ماته راولئ چې دې څه د خپل ځان د پاره خاص كړم، يعنى هغه څه بغير د شريک نه حاصل كړم، چنانچه قاصد يوسف عليه السلام ته راغلو او وئې وئيل چې د بادشاه حكم اومنه، نو حضرت يوسف عليه السلام پاسيدلو او د جيل د ملگرو نه ئې رخصت واخستلو، او هغوى ته ئې دعا اوكړه بيا ئې غسل اوكړو او ښه لباس ئې واچولو او د بادشاه په خدمت كښې حاضر شو، چنانچه چې كله په خپل مينځ كښې خبرې اوشوې نو بادشاه اووئيل چې تاسو څما په خوا كښې اوچت قدر لرئى، او ستاسو په ايماندارئ باندې مونږ ته پورا بهروسه ده، يعنى تاسو زمونږ په معاملاتو كښې بااختيار او امين يئ، اوس ستاسو څه مشوره ده؟مونږ له څه كول پكار دى؟ حضرت يوسف عليه السلام اوفرمائيل چې غله ذخيره كړئ، او په دې شنو كالونو كښې ښه پټى اوكرئى،او غله هم د هغې په وږو كښې وساتئ، خلق به تاسو ته د غلې د پاره راځى، نو بادشاه اووئيل چې څما د طرف نه به ددې څوک ذمه وار

وی، ؟حضرت یوسف علیه‌السلام اووئیل د مصر د ملک خزانې ما حواله کړې زه حفاظت کولو والا یم، او علم هم لرم، یعنی محافظ هم یم او د دې معاملاتو او طریقه کار نه خبردار هم یم، او وئیلې شوی دی چې زه لیکل هم پیژنم او حساب دان هم یم ځنګه چې مونږ د جیل نه د راویستلو په صورت کښې په هغه باندې انعام اوکړو دغه شان مونږ یوسف علیه‌السلام ته په مصر کښې دتنګۍ او قید نه پس حکومت ورکړو په داسې طریقه چې په ملک کښې کوم ځائې غواړي اوسیږي دې. قصه دا چې بادشاه هغه ته تاج ورپسر کړو او هغه ته ئې خپل د بادشاهۍ مهر ورکړو او د عزیز په منصب باندې ئې هغه کینولو، او عزیز ئې معزول کړو، د هغه نه پس عزیز وفات شو نو بادشاه یوسف علیه‌السلام سره د زلیخې بی بی نکاح اوکړه، حضرت یوسف علیه‌السلام هغه جینۍ اوموندله، د حضرت یوسف علیه‌السلام د هغې نه دوه بچی اوشول، او یوسف علیه‌السلام په مصر کښې داسې انصاف قائم کړو چې ښځې نه د هغه مخکښې تیښ شول مونږ چې چاته غواړو خپل رحمت ور رسوو، او د نیکوکارو اعمال نه ضائع کوو، او یقینا د ایمان والو او د پرهیزګارانو په آخرت کښې اجر د دنیا د اجر نه ډیر بهتر دې

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ومآ ابرء نفسی: دا جمله د (ذلک لیعلم) نه حال دې، یعنی د ذلک عامل مقدر یعنی اطلب البراة لیعلم، الخ نه حال دې، مطلب دادې چې اطلب البراءة نه چې کوم تنزیه د نفس معلومیږي، دهغې نه د عزیز مصر د ښځې په معامله کښې بې ګناهی مراد ده، نه چې مطلقا د لغزشو اوخطاګانو نه، خلاصه دا ده، چې په ماقبل کښې ما کوم طلب براءت کړې دې د هغې نه تنزیه نفس مراد نه دې

قوله: الجنس: ای الذی فی ضمن جمیع الافراد: که مفسر علام د جنس په ځائې د استغراق نه تعبیر کړې وو نو ښه به وه.

قوله: مآ: په معنی د (من) کښې دې ځکه چې د نفس نه مراد ذوی العقول دی او دا هم جائز ده چې (ما رحم) په معنی کښې د زمانې وی، نو په دې صورت کښې به (ما) د (من) په معنی کښې داخستلو ضرورت نه وی، ای الا وقت رحمة ربی، تقدیری عبارت به دا وی انها امارة فی کل وقت الا وقت العصمة

قوله: اجعله: په دې کښې اشاره ده چې استخلصه په معنی د تصییر کښې دې، ځکه چې د طلب معنی صحیح نه ده.

قوله: فقال من لی بهذا: ای من یضمن هذا الاجل؟

قوله: ومآت بعده: ای بعد العزل.

[اياتونه: ٥٨ ـ ٦٨]

وَدَخَلَتْ سِنُو الْقَحْط وَأَصَابَ أَرْض كَنْعَان وَالشَّام {وَجَاءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ} إِلَّا بِنْيَامِين لِيَمْتَارُوا لِمَا بَلَغَهُمْ أَنَّ عَزِيز مِصْر يُعْطِي الطَّعَام بِثَمَنِهِ {فَدَخَلُوا عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ} أَنَّهُمْ إِخْوَته {وَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ} لا يعرفونه لِبُعْدِ عَهْدهمْ بِهِ وَظَنّهمْ هَلَاكه فَكَلَّمُوهُ بالعبرانية فَقَالَ كَالْمُنْكِرِ عَلَيْهِمْ مَا أَقْدَمَكُمْ بِلَادِي فَقَالُوا لِلْمِيرَةِ فَقَالَ لَعَلَّكُمْ عُيُون قَالُوا مَعَاذ اللَّه قَالَ فَمِنْ أَيْنَ أَنْتُمْ قَالُوا مِنْ بِلَاد كَنْعَان وَأَبُونَا يَعْقُوب نَبِيّ اللَّه قَالَ وَلَهُ أَوْلَاد غَيْركُمْ قَالُوا نَعَمْ كُنَّا اثْنَيْ عَشَر فَذَهَبَ أَصْغَرنَا هَلَكَ فِي الْبَرِّيَّة وَكَانَ أَحَبّنَا إِلَيْهِ وَبَقِيَ شَقِيقه فَاحْتَبَسَهُ لِيَتَسَلَّى بِهِ عَنْهُ فَأَمَرَ بِإِنْزَالِهِمْ وَإِكْرَامهمْ {وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ} وَفَّى لَهُمْ كَيْلهمْ {قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ} أَيْ بِنْيَامِين لِأَعْلَم صِدْقكُمْ فِيمَا قُلْتُمْ {أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ} أتمه من غير بخس {وَأَنَا خَيْرُ الْمُنزِلِينَ} {فَإِن لَّمْ تَأْتُونِي بِهِ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِي} اي ميرة {وَلَا تَقْرَبُونِ} نَهْي أَوْ عَطْف عَلَى مَحَلّ فَلَا كَيْل أَيْ تُحْرَمُوا وَلَا تَقْرَبُوا {قَالُوا سَنُرَاوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ} سَنَجْتَهِدُ فِي طَلَبه مِنْهُ {وَإِنَّا لَفَاعِلُونَ} ذَلِكَ {وَقَالَ لِفِتْيَتِهِ} وَفِي قِرَاءَة لِفِتْيَانِهِ غِلْمَانه {اجْعَلُوا بِضَاعَتَهُمْ} الَّتِي أَتَوْا بِهَا ثَمَن الْمِيرَة وَكَانَتْ دَرَاهِم {فِي رِحَالِهِمْ} أَوْعِيَتهمْ {لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَا إِذَا انقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ} وَفَرَّغُوا أَوْعِيَتهمْ {لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} إِلَيْنَا لِأَنَّهُمْ لَا يَسْتَحِلُّونَ إِمْسَاكهَا {فَلَمَّا رَجَعُوا إِلَىٰ أَبِيهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مُنِعَ مِنَّا الْكَيْلُ} إِنْ لَمْ تُرْسِل أَخَانَا إِلَيْهِ {فَأَرْسِلْ مَعَنَا أَخَانَا نَكْتَلْ} بِالنُّونِ وَالْيَاء {وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} {قَالَ هَلْ} مَا {آمَنُكُمْ عَلَيْهِ إِلَّا كَمَا أَمِنتُكُمْ عَلَىٰ أَخِيهِ} يُوسُف {مِن قَبْلُ} وَقَدْ فعلتم به ما فعلتم {فَاللَّهُ خَيْرٌ حِفْظًا} وفي قراءة حافظا تَمْيِيز كَقَوْلِهِمْ لِلَّهِ دَرّه فَارِسًا {وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ} فَأَرْجُو أَنْ يَمُنّ بِحِفْظِهِ {وَلَمَّا فَتَحُوا مَتَاعَهُمْ وَجَدُوا بِضَاعَتَهُمْ رُدَّتْ إِلَيْهِمْ قَالُوا يَا أَبَانَا مَا نَبْغِي} مَا اسْتِفْهَامِيَّة أَيْ أَيّ شَيْء نَطْلُب مِنْ إِكْرَام الْمَلِك أَعْظَم مِنْ هَذَا وَقُرِئَ بالفوقانية خِطَابًا لِيَعْقُوب وكانوا ذكروا له إكرامه لَهُمْ {هَٰذِهِ بِضَاعَتُنَا رُدَّتْ إِلَيْنَا وَنَمِيرُ أَهْلَنَا} نَأْتِي بِالْمِيرَةِ لَهُمْ وَهِيَ الطَّعَام {وَنَحْفَظُ أَخَانَا وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ} لِأَخِينَا {ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ} سَهْل عَلَى الْمَلِك لِسَخَائِهِ {قَالَ لَنْ أُرْسِلَهُ مَعَكُمْ حَتَّىٰ تُؤْتُونِ مَوْثِقًا} عَهْدًا {مِّنَ اللَّهِ} بِأَنْ تحلفوا {لَتَأْتُنَّنِي بِهِ إِلَّا أَن يُحَاطَ بِكُمْ} بِأَنْ تَمُوتُوا أَوْ تُغْلَبُوا فَلَا تُطِيقُوا الْإِتْيَان بِهِ فَأَجَابُوهُ إِلَى ذَلِكَ {فَلَمَّا آتَوْهُ مَوْثِقَهُمْ} بِذَلِكَ {قَالَ اللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ} نَحْنُ وَأَنْتُمْ {وَكِيلٌ} شَهِيد وارسله معهم {وَقَالَ يَا بَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا} مِصْر {مِن بَابٍ وَاحِدٍ وَادْخُلُوا مِنْ أَبْوَابٍ مُّتَفَرِّقَةٍ} لِئَلَّا تُصِيبكُمْ الْعَيْن {وَمَا أُغْنِي} أَدْفَع {عَنكُم} بِقَوْلِي ذَلِكَ {مِّنَ اللَّهِ مِن} زَائِدَة {شَيْءٍ} قَدَّرَهُ عَلَيْكُمْ وَإِنَّمَا ذَلِكَ شَفَقَة {إِنِ} مَا {الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ} وَحْده {عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ} بِهِ وَثِقْت {وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ} قال تعالى {وَلَمَّا دَخَلُوا مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم} أَيْ مُتَفَرِّقِينَ {مَّا كَانَ يُغْنِي عَنْهُم مِّنَ اللَّهِ} أَيْ قَضَائِهِ {مِن} زَائِدَة {شَيْءٍ إِلَّا} لَكِنْ {حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا} وَهِيَ إِرَادَة دَفْع الْعَيْن شَفَقَة {وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَاهُ} لِتَعْلِيمِنَا إِيَّاهُ {وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} وَهُمْ الْكُفَّار {لَا يَعْلَمُونَ} إِلْهَام اللَّه لِأَصْفِيَائِهِ

ترجمه: و د قحط کالونه شروع شول او ددې اثرات ملک کنعان او شام ته هم اورسیدل،

Scanned with

هر کله چې اهل کنعان ته دا اطلاع اورسیدله چې عزیز مصر په قیمت سره غله ورکوی نو
د یوسف علیه السلام رونړو د غلې اخستلو د پاره مصر ته راغلل، چنانچه کله چې د رور یوسف علیه السلام په
خدمت کښې حاضر شول، نو یوسف علیه السلام خپل رونړو اوپیژندل او رونړو یوسف علیه السلام اونه
پیژندلو،د هغه د جدائي ډیر وخت تیریدلو دوجه او د هغه باره کښې د دې ګمان د وجه
چې هغه به هلاک شوې وی،رونړو یوسف علیه السلام سره په عبرانئ ژبه کښې خبرې اوکړې،
یوسف علیه السلام خان ناغرضه کولو سره دا معلومه کړه چې څما ملک ته د راتلو څه سبب جوړ
شو؟ هغوی جواب ورکړو چې غله اخستلو د پاره راغلې یو، حضرت یوسف علیه السلام
اوفرمائیل چې داسې معلومیږی چې تاسو جاسوسان یئ، ونې وئیل د الله پناه، بیا ئې د
هغوی نه تپوس اوکړو چې تاسو د کوم ځائې نه راغلې یئ هغوی جواب ورکړو د کنعان د
ښار نه، او زمونږ والد یعقوب علیه السلام د الله نبی دې، یوسف علیه السلام د هغوی نه معلومه کړه
چې تاسو نه علاوه نور هم د هغه اولاد شته؟ جواب ئې ورکړو چې آو مونږ دولس رونړه
وو، زمونږ ورو کې رور ځنګل ته لاړو او هلته هلاک شو هغه زمونږ پلار ته د ټولو نه
زیات خوښ وو او د هغه حقیقی رور موجود دې، هغه زمونږ والد صاحب ځان سره هسار
کړې دې چې د هغه نه تسلی حاصله کړی،نو یوسف علیه السلام هغوی په عزت سره د هسارولو
حکم اوکړو او چې کله د هغوی سازوسامان تیار کړې شو او هغوی ته پیمانه ښه ډکه
ورکړې شوه نو وئې فرمائیل چې تاسو آئنده خپل میرنې رور هم راولئ یعنی بنامین هم، چې څه
ستاسو د خبرې رشتونوالې معلوم کړم آیا تاسو اونه کتل چې زه پورا ناپ کوم بغیر د کمی نه
صحیح تلم، او زه بهترین میلمستیا کونکې یم که تاسو هغه ماته رانولئ نو ماسره ستاسو دپاره
هیڅ غله نشته او زما خواله هم رانشی (فلا تقربون) نهی ده د (فلا کیل) په محل باندې عطف
دې یعنی تاسو به محروم کړې شئ او نزدې هم مه راځئ نو رونړو جواب ورکړو چې مونږ به د
هغه باره کښې پلار نه مطالبه اوکړو پوه به ئې کړو، او د هغه نه د اخستلو د پاره به پورا
کوشش کوو او مونږ به دا کار خامخا کوو او یوسف علیه السلام خپلو خادمانو ته اووئېل اوپه یو
قرات کښې لفتیانه ای لغلمانه دې چې تاسو د هغوی پنګا (قیمت) کوم چې هغوی د غلې د
پاره راوړلې وو او هغه دراهم وو د هغوی په بورو کښې کیږدئ کیدې شی چې هغوی خپل
کور ته اورسیږی او خپل بوجونه (بورئ) خالی کړی نو خپله پنګا (قیمت) به اوپیژنی نو ممکن ده
چه هغوی مونږ ته واپس راشی ځکه چه هغوی دا پنګا (قیمت) دخپل ځان سره ایخودل
حلال نه ګنړی. چنانچه کله چې هغوی خپل پلار ته راورسیدل نو وئې وئیل چې اې اباجان راروان
وخت کښې مونږ د غلې راوړلو نه منع کړې شو که تاسو مونږ سره بنیامین د هغه خواله نه
لیږئ، لهذا تاسو مونږ سره زمونږ رور اولیږئ چې مونږ غله حاصله کړو، (نکتل) نون اویاء سره
دې، او مونږ به یقینا د هغه حفاظت کوو، یعقوب علیه السلام اوفرمائیل چې زه په تاسو باندې د بنیامین

Scanned with

په باره كښې اعتماد نشم كولې ځنګه چې ما د هغه د رور يوسف علیه السلام باره كښې كړې وو او هغه سره تاسو هغه څه اوكړل كوم چې مو كول غوښتل، لهذا الله بهتر محافظ دې او په يو قراءت كښې د حفيظ په ځاى حافظا دې، ځنګه چې د عربو قول لله دره فارسا دى او هغه په رحم كونكو كښې د ټول نه زيات رحم كونكې دې ماته اميد چې هغه به دده حفاظت كولو سره مونږ باندې احسان كوى، او كله چې رونړو خپل سامان كولاؤ كړو نو هغوى اوكتل چې د هغوى پيسې هغوى ته واپس كړې شوې دى او روريانو اووئيل چې اې زمونږ اباجان د بادشاه د طرف نه ددې نه زيات مونږ ته نور څه اكرام پكار دې؟ په (مانبغى) كښې (ما) استفهاميه ده، او نبغى په (تاء) سره هم وئيلې شى حضرت يعقوب علیه السلام ته خطاب كولو سره، او رونړو د پلار سره د بادشاه ددې اكرام ذكر كړې وو، اوګورئ دا زمونږ سرمايه هم مونږ ته واپس كړې شوې ده او مونږ به د خپل خاندان د پاره غله راوړو، او (ميره) غلې ته وئيلې شى، او د خپل رور به حفاظت كوو، او د خپل رور يو اوښ د بار به بل هم راولو، او دا مقدار د بادشاه د پاره د هغه د سخاوت دوجې آسان دې يعقوب علیه السلام اوفرمائيل چې دې به څه هيڅ كله تاسو سره نه پرېږدم ترڅو چې تاسو په الله قسم خوړلو سره وعده اونكړئ چې تاسو به دې خامخا ماته واپس راولئ خو دا چې تاسو ګير شئ يعنى مړه شئ يا دربانديې څوك غالب شى چې د هغې د وجې تاسو دې ماته واپس رانولئ، چنانچه رونړو شرطونو منظور كړل چې كله رونړو د پلار سره عهد اوپيمان اوكړو نو يعقوب علیه السلام اوفرمائيل مونږ او تاسو چې كوم عهد اوپيمان كوو الله په هغې باندې ګواه دې، او يعقوب اوئيل اې ځما بچو تاسو ټول په مصر كښې په يو دروازې باندې مه داخليږئ بلكه جدا جدا دورازو باندې داخل شئ چې په تاسو نظر اونه لګى څۀ په دې خپل قول سره د الله د طرف نه يو كيدو والا څيز منع كولې نشم، (من) زائده دې يعنى كوم څيز چې هغه تاسو له مقدر كړې دې هغه لرې كولې نشم، دا خو صرف د پلار مينه ده، حكم صرف د الله وحده چليږى، او ځما بهروسه هم په هغه باندې ده، يعنى په هغه باندې اعتماد دې، او هر بهروسه كونكې له هغه باندې بهروسه كول پكار دى الله تعالى اوفرمائيل چې كله رونړه د پلار د حكم مطابق په جدا جدا دروازو باندې داخل شول، نو د الله د تقدير نه هغوى هيڅ څيز بچ نه كړې شو، خو د يعقوب علیه السلام په زړه كښې يو خيال پيدا شو كوم چې هغوى پورا كړو، (ښكاره كړو)، او هغه شفقة د بد نظر د دفع كولو اراده وه بې شكه هغه زمونږ د خودلې شوې علم عالم وو خو اكثر خلق اوهغه كافران دى، په خپلو وليانو باندې د الله الهام نه منى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: وجاء اخوة يوسف: واؤ عاطفه دې ددې په عطف باندې محذوف دې كوم چې مفسر علام ظاهر كړې دې، يعنى د فراغت او د خوشحالئ د كالونو د ختميدو سره چې كله د قحط او د تنګئ كالونه شروع شول، نو ددې اثرات په كنعان او شام وغيره كښې هم

Scanned with

او د هغه په اهل خانه باندې هم تنګې محسوس کړې شول، چې هغې سره د يعقوب عليه السلام او د هغه په اهل خانه باندې هم تنګي راغله، نو حضرت يعقوب عليه السلام خپل خامنو ته اووئيل چې ماته معلومه شوه چې د مصر نيک دل بادشاه په مناسب قيمت باندې غله خرڅوی، لهذا تاسو هم لاړشئ او د خپل حاجت په قدر راوړئ، چنانچه د يوسف عليه السلام رونړه راغلل، (اى وجاء اخوة يوسف)

قوله: يمتاروا: اى ليشتروا الميرة ميرة، هغه غلې ته وئيلې شي کومه چې د يو ښار نه بل ښار ته اوړلې شي.

قوله: لاتقربون: يا خو د نهى د وجه نه مجزوم دې ددې (نون) د وقايه دې، يا (فلا کيل) باندې عطف دې، په دې صورت کښې به د جزاء په محل باندې دعطف د وجې مجزوم وی.

قوله: تحرموا: دا د يو سوال جواب دې

سوال: (فلا کيل لکم) تفسير ئې په (تحرموا) سره ولې اوکړو؟

جواب: ځکه چې د (لاتقربوا) عطف په (لاکيل لکم) باندې دې او دا عطف الفعل على الاسم قبيلې نه دې، کوم چې جائز نه دې، لهذا (لاکيل لکم) ئې (لا تحرموا) په تاويل کښې کړو، چې د فعل عطف په فعل باندې شي.

قوله: لتعلمينا: په دې کښې اشاره ده، چې د (لما) (ما) مصدريه ده، نه چې موصوله.

[اياتونه: ۶۹ ـ ۷۹]

﴿وَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ آوَي﴾ ضَمَّ ﴿إِلَيْهِ أَخَاهُ قَالَ إِنِّي أَنَا أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ﴾ تَحزَن ﴿بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ مِنَ الحَسَدِ لَنَا وَأَمَرَهُ أَنْ لَا يُخبِرهُمْ وَتَوَاطَأَ مَعَهُ عَلَى أَنَّهُ سَيَحْتَالُ عَلَى أَنْ يُبْقِيَه عِندَه ﴿فَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ السِّقَايَةَ﴾ هِيَ صَاع مِنَ الذَّهَب مُرَصَّع بِالجَوْهَرِ ﴿فِي رَحْلِ أَخِيهِ﴾ بِنيَامِين ﴿ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ﴾ نَادَى مُنَادٍ بَعْدَ انفِصَالِهِمْ عَنْ مَجْلِسِ يُوسُف ﴿أَيَّتُهَا الْعِيرُ﴾ القَافِلَة ﴿إِنَّكُمْ لَسَارِقُونَ﴾ ﴿قَالُوا وَ﴾ قد ﴿أَقْبَلُوا عَلَيْهِمْ مَاذَا﴾ مَا الَّذِي ﴿تَفْقِدُونَ﴾ هُ ﴿قَالُوا نَفْقِدُ صُوَاعَ﴾ صَاع ﴿الْمَلِكِ وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ﴾ مِنَ الطَّعَام ﴿وَأَنَا بِهِ﴾ بِالحَمْلِ ﴿زَعِيمٌ﴾ كَفِيل ﴿قَالُوا تَاللَّهِ﴾ قَسَم فِيهِ مَعْنَى التَّعَجُّب ﴿لَقَدْ عَلِمْتُمْ مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَارِقِينَ﴾ مَا سَرَقْنَا قَطُّ ﴿قَالُوا﴾ أيِ المُؤَذِّن وَأَصْحَابه ﴿فَمَا جَزَاؤُهُ﴾ أيِ السَّارِق ﴿إِنْ كُنْتُمْ كَاذِبِينَ﴾ فِي قَوْلِكُمْ مَا كُنَّا سَارِقِينَ وَوُجِدَ فِيكُمْ ﴿قَالُوا جَزَاؤُهُ﴾ مبتدأ خبره ﴿مَنْ وُجِدَ فِي رَحْلِه﴾ يَسْتَرِق ثُمَّ أكَّدَ بِقَوْلِهِ ﴿فَهُوَ﴾ أيِ السَّارِق ﴿جَزَاؤُهُ﴾ أيِ المَسْرُوق لا غَيْر وَكَانَتْ سُنَّة آل يَعْقُوب ﴿كَذَلِكَ﴾ الجَزَاء ﴿نَجْزِي الظَّالِمِينَ﴾ بِالسَّرِقَةِ فَصَرَّحُوا لِيُوسُف بِتَفْتِيشِ أوْعِيَتِهِمْ ﴿فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ﴾ فَفَتَّشَهَا ﴿قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ﴾ لِئَلَّا يتهم ﴿ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا﴾ اي السقاية ﴿من وعاء أخيه﴾ قال تعالى ﴿كَذَلِكَ﴾ الكَيْد ﴿كِدْنَا لِيُوسُفَ﴾ عَلَّمْنَاهُ الاِحْتِيَال فِي أخذ أخِيهِ ﴿مَا كَانَ﴾ يُوسُف ﴿لِيَأْخُذَ أَخَاهُ﴾ رَقِيقًا عَنِ السَّرِقَة ﴿فِي دِينِ الْمَلِكِ﴾ حُكْم مَلِك مِصْر لِأنَّ جَزَاءَهُ عِنْده الضَّرْب وَتَغْرِيم مِثْلَيِ المَسْرُوق لا الاِسْتِرْقَاق ﴿إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ﴾ أخذه بِحُكْمِ أبِيهِ أيْ لَمْ يَتَمَكَّن مِن أخذه إلَّا بِمَشِيئَةِ الله

بِإِلْهَامِهِ سُؤَالَ إِخْوَتِهِ وَجَوَابَهُمْ بِسُنَّتِهِمْ ﴿نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَنْ نَشَاءُ﴾ بِالْإِضَافَةِ وَالتَّنْوِينِ فِي الْعِلْمِ كَيُوسُفَ ﴿وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ﴾ مِنَ الْمَخْلُوقِينَ ﴿عَلِيمٌ﴾ أَعْلَمُ مِنْهُ حَتَّى يَنْتَهِيَ إِلَى اللهِ تَعَالَى ﴿قَالُوا إِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ﴾ أَيْ يُوسُفُ وَكَانَ سَرَقَ لِأَبِي أُمِّهِ صَنَمًا مِنْ ذَهَبٍ فَكَسَرَهُ لِئَلَّا يَعْبُدَهُ ﴿فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِ وَلَمْ يُبْدِهَا﴾ يُظْهِرْهَا ﴿لَهُمْ﴾ والضمير للكلمة التي في قوله ﴿قَالَ﴾ فِي نَفْسِهِ ﴿أَنْتُمْ شَرٌّ مَكَانًا﴾ مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ لِسَرِقَتِكُمْ أَخَاكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ وَظُلْمِكُمْ لَهُ ﴿وَاللهُ أَعْلَمُ﴾ عَالِمٌ ﴿بِمَا تَصِفُونَ﴾ تَذْكُرُونَ من امره ﴿قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ إِنَّ لَهُ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا﴾ يُحِبُّهُ أَكْثَرَ مِنَّا وَيَتَسَلَّى بِهِ عَنْ وَلَدِهِ الْهَالِكِ وَيُحْزِنُهُ فِرَاقُهُ ﴿فَخُذْ أَحَدَنَا﴾ استعبده ﴿مَكَانَهُ﴾ بَدَلًا مِنْهُ ﴿إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ فِي أَفْعَالِكَ ﴿قَالَ مَعَاذَ اللهِ﴾ نُصِبَ عَلَى الْمَصْدَرِ حُذِفَ فِعْلُهُ وَأُضِيفَ إِلَى الْمَفْعُولِ أَيْ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ﴿أَنْ نَأْخُذَ إِلَّا مَنْ وَجَدْنَا مَتَاعَنَا عِنْدَهُ﴾ لَمْ يَقُلْ مَنْ سَرَقَ تَحَرُّزًا مِنَ الكذب ﴿إِنَّا إِذًا﴾ إن اخذنا غيره ﴿لَظَالِمُونَ﴾

ترجمه: او هر کله چې د يوسف عليه السلام رونړو د يوسف عليه السلام خوا ته اورسيدل، نو يوسف عليه السلام خپل رور بنيامين ځان سره ايسار کړو او وئې وئيل چې زه ستا هغه رور يم -کوم چې روک شوې وو لهذا اوس ته په هغه حرکت باندې کوم چې دوی مونړ سره د حسد په وجه کولو په هغې خفه کيږه مه، او هغه ته ئې دا هم اووئيل چې ته ددې خبر دوی ته مه ورکوه، او دواړو په دې خبره باندې اتفاق اوکړو چې ډير زر به يو حيله جوړه کړې شي چې د هغې د وجې نه به دې ځان سره ايسار کړی او هر کله چې يوسف عليه السلام خپلو رونړو ته سامان برابر کړو نو د خپل رور بنيامين په سامان کښې ئې پيالئ کيخودله، هغه پيالئ د سرو وه او په هغې باندې قيمتي ملغلرې لګيدلې وې بيا يو آواز کونکی د يوسف عليه السلام د مجلس نه د جدا کيدو په خت کښې آواز اوکړو اې قافلې والو تاسو خلق غلان يئ هغوی شاته اوکتل چې ستاسو کوم څيز ورک شوې دې؟ جواب ئې ورکړو چې د بادشاه پيمانه ورکه شوې ده، او کوم سړی چې راوړه هغه ته به يو اوښ د غلې ډک انعام ورکولې شي او ددې اوښ ذمه دار زه يم، نو هغوی اووئيل چې د الله قسم په دې قسم کښې د حيرانتيا معنی ده تاسو ته ښه پته ده چې مونږ ملک ته د فساد په نيت راغلې نه يو، او نه مونږ غلان يو، يعنی مونږ هيڅ کله غلا کړې نه ده، اعلان کونکی او د هغه ملګرو اووئيل، د غل ستاسو په نيز څه سزا ده؟ که چرې تاسو خپله خبره (ما كنا سارقين) کښې دروغژن اووتلئ، او غل هم په تاسو کښې اووتلو نو هغوی جواب ورکړو ددې جزاء خپله هغه دې د چا په سامان کښې چې هغه پيالئ راوتله، يعنی هغه دې غلام جوړ کړې شی ﴿جزاوه﴾ مبتدأ ده ﴿من وجد الخ﴾ ددې خبر دې بيا ئې دې لره په خپل قول ﴿فهو جزاؤه﴾ سره مؤکد کړو يعنی هغه غل ددې غلا د مال بدله ده نه چې بل او د آل يعقوب هم دغه دستور وو، مونږ خو داسې ظالمان غلانو ته هم داسې سزا ورکوو، چنانچه چې کله د يوسف عليه السلام په وړاندې د تلاشئ دپاره راوستلې شو نو د خپل حقيقی رور نه تلاشئ د مخکښې يوسف (ع×) د نورو د

سامان تلاشي شروع کړه چې د تهمت شک نه وی، بیا ئې دغه پیالئ لره خپل حقیقی رور په سامان کښې اوموندله، الله تعالی اوفرمائیل مونږ د یوسف عليه السلام د پاره داسې تدبیر اوکړو یعنی د خپل رور ایسارولو د پاره یوسف عليه السلام ته مو داسې تدبیر اوخودلو یوسف عليه السلام لره د مصر د ملک د قانون د وجې داسې ممکن نه وو چې د غلې په بدله کښې خپل رور غلام جوړ کړی، ځکه چې د غل سزا د هغوی په نیز وهل ټکول او د غلا د مال دوچنده مقدار تاوان اخستل وو، نه چې غلام جوړول خو دا چې الله د یوسف عليه السلام د والد د قانون مطابق هغه نیول وغواړی یعنی یوسف عليه السلام د خپل رور په ایسارولو باندې صرف د الله په خوښې سره قادر شو، یوسف عليه السلام د خپلو رونړو نه د سوال د الهام په ذریعه او د هغوی د قانون مطابق د جواب په ذریعه، چې مونږ چاته اوغواړو په علم کښې درجې اوچتې کړو لکه د یوسف عليه السلام په (درجات من) کښې اضافت او تنوین دواړه صحیح دی، په مخلوق کښې هر علم لرونکې باندې بل علم لرونکې اوچتې درجې والا موجود دې، یعنی د هر ذی عالم د پاسه عالم موجود دې، تردې چې دا سلسله په الله تعالی باندې ختمیږی. قالوان يسرق فقد سرق اخ له من قبل. رونړو اووئیل که دې غلا اوکړی نو هیڅ د خیرانتیا خبره نه ده، ددې نه مخکښې دده رور یوسف عليه السلام هم غلا کړې وه، یعنی هغه د نیکه د سرو بت پټ کړې وو او بیا ئې مات کړې وو، چې هغه دددې عبادت اونه کړی. یوسف عليه السلام دا خبره په خپل زړه کښې اوساتله یعنی دې خبرې لره ئې اوځکله د هغوی مخکښې ئې هغه ظاهره نه کړه او (ها) ضمیر هغه کلمې ته راجح دې کوم چې دده د قول نه معلومیږی، (بس د شوندې لاندې) دومره ئې اووئیل چې تاسو خو د یوسف او د هغه د رور نه بدتره یئ ستاسو د خپل رور د پلار نه راپټولو د وجې او په هغه باندې د ظلم کولو د وجې نه او څه چې تاسو وایئ الله د هغې په حقیقت باندې ډیر ښه خبردار دې، رونړو اووئیل اې د اقتدار خاونده، دده پلار ډیر بوډا سړې دې زمونږ په نسبت د ده سره ډیره مینه کوی، او د مړشوی ځوی په ځائې د ده سره زړه ته تسلی ورکوی، او د ده جدائی هغه لره ډیر خفه کړی، لهذا دده په ځائې زمونږ نه څوک غلام جوړ کړئ مونږ په اخلاقو کښې تاسو ډیر نیک نفس ګڼړو، یوسف عليه السلام اوفرمائیل، هسې بې انصافی ده، الله مو دې اوساتی (معاذ الله) د مصدریت د وجه منصوب دې، او ددې فعل (نعوذ) حذف کړې شوې دې، او مفعول طرف اضافت کړې شوې دې، (ای نعوذ بالله) (یعنی الله دې مونږ اوساتی، د دې خبرې نه مو دې بچ کړی، چې مونږ دهغه چا نه علاوه چا سره چې مونږ سامان ګیر کړې دې، بل څوک اونیسو حضرت یوسف عليه السلام د دروغو نه د بچ کیدو د وجې (من سرق) لفظ استعمال نه کړو، که مونږ بل څوک اونیسو نو په دغه صورت کښې به مونږ ډیر بې انصافه اوګڼړلې شو.

....

Scanned with

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: تواطأمعه: تواطأ: ای توفق، دواړو اتفاق اوکړو.

قوله: السقایة: د اوبو څکولو لوخې، د اوبو څکولو ځائ، اوبه څکلول، دلته د اوبو پیالې مراد ده، روستو دا پیالې به د پیمانې په طور سره استعمالولیده، صاع په دې یو لغت صواع هم دې.

قوله: لئلایتهم: چې د سازش تهمت اونه لگی،

قوله: علمناه الکید: مونږ یوسف علیه السلام ته حیله اوښودله،

قوله: بحکم ابیه: یعنی د یوسف علیه السلام د پلار د یعقوب علیه السلام د شریعت مطابق ددوی په شریعت کښې د غل سزا غلام جوړول وو.

قوله: بالهامه سوال اخوته وجوابهم بسنتهم: د مصری قانون مطابق بنیامین د غلام په صورت کښې ځان سره ایسارولې نه شو، ځکه چې د مصری قانون مطابق غل وهل تکول، او د غلا د مال دوچنده مال اخستل وو، الله تعالی د یوسف علیه السلام په زړه کښې د الهام په ذریعه دا خبره واچوله چې پخپله ددوی نه تپوس اوکړه چې د غلا سزا څه ده؟ چې هغوی د خپل قانون مطابق جواب ورکړی، کنعانی قانون کښې د غل سزا استرقاق (یعنی غلام جوړول) وو، دغه شان د یوسف علیه السلام رونړو په خپله د بنیامین سزا غلام جوړول اوخودل.

قوله: من المخلوقین: بعضې فلاسفو چې په هغې کښې معتزله هم شامل دی د الله تعالی قول (فوق کل ذی علم علیم) نه استدلال کړې دې چې الله تعالی عالم بالذات دې، نه چې عالم بالصفات، ځکه که الله تعالی عالم بالصفت وی نو د هر عالم د پاسه یو اعلم دې، ددې نه لازمیږی، چې د الله تعالی نه بره څوک هم عالم شته، حالانکه دا باطله خبره ده.

جواب: مفسرعلام د (من المخلوقین) اضافه کولو سره ددې سوال جواب ورکړې دې چې د هغې خلاصه داده چې د هر ذی علم اوچتوالې د مخلوق په اعتبار سره دې، نه چې د خالق په اعتبار سره، (من المخلوقین) قید لگولو سره بیا روستو د (حتی ینتهی) قید د لگولو څه ضرورت نه وو.

قوله: والضمیر للکلمة التی فی الخ: په دې کښې (ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر) طرف ته اشاره ده، تفسیر خازن کښې دی چې د فأسرها په ضمیر مفعولی کښې درې اقوال دی.

① ضمیر د روستو راتلونکې کلمې یعنی (انتم شر مکانا) طرف ته راجع دې.

② فقد اسرق اخ، الخ ته راجع دې.

③ ضمیر حجة طرف ته راجع دې، مطلب به دا وی چې یوسف علیه السلام احتجاج پرېښودلو.

Scanned with

[ایاتونه: ۸۰ ـ ۹۳]

{فَلَمَّا اسْتَيْأَسُوا} يَئِسُوا {مِنْهُ خَلَصُوا} اعْتَزَلُوا {نَجِيًّا} مَصْدَر يَصْلُح لِلْوَاحِدِ وَغَيْره أَيْ يُنَاجِي بَعْضهمْ بَعْضًا {قَالَ كَبِيرهمْ} سِنًّا روبيل أَوْ رَأْيًا يَهُوذَا {أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُمْ مَوْثِقًا} عَهْدًا {مِنَ اللَّهِ} فِي أَخِيكُمْ {وَمِن قَبْلُ مَا} زَائِدَة {فَرَّطْتُمْ فِي يُوسُفَ} وَقِيلَ مَا مَصْدَرِيَّة مبتدأ خَبَره مِنْ قَبْل {فَلَنْ أَبْرَحَ} أُفَارِق {الْأَرْضَ} أَرْض مِصْر {حَتَّى يَأْذَنَ لِي أَبِي} بِالْعَوْدِ إِلَيْهِ {أَوْ يَحْكُمَ اللَّهُ لِي} بِخَلَاصِ أَخِي {وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ} أعدلهم {ارْجِعُوا إِلَى أَبِيكُمْ فَقُولُوا يَا أَبَانَا إِنَّ ابْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَا} عَلَيْهِ {إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا} تَيَقُّنًا مِنْ مُشَاهَدَة الصَّاع فِي رَحْله {وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ} لِمَا غَابَ عَنَّا حِين إِعْطَاء الْمَوْثِق {حَافِظِينَ} وَلَوْ عَلِمْنَا أَنَّهُ يَسْرِق لَمْ نَأْخُذهُ {وَاسْأَلِ الْقَرْيَةَ الَّتِي كُنَّا فِيهَا} هِيَ مِصْر أَيْ أَرْسِلْ إِلَى أَهْلهَا فَاسْأَلْهُمْ {وَالْعِيرَ} أَصْحَاب الْعِير {الَّتِي أَقْبَلْنَا فِيهَا} وَهُمْ قَوْم مِنْ كَنْعَان {وَإِنَّا لَصَادِقُونَ} فِي قَوْلنَا فَرَجَعُوا إِلَيْهِ وَقَالُوا لَهُ ذَلِكَ {قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ} زَيَّنَتْ {لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا} فَفَعَلْتُمُوهُ اتَّهَمَهُمْ لِمَا سَبَقَ مِنْهُمْ مِنْ أَمْر يُوسُف {فَصَبْرٌ جَمِيلٌ} صَبْرِي {عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ} بِيُوسُف وَأَخَوَيْهِ {جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ} بِحَالِي {الْحَكِيمُ} فِي صُنْعه {وَتَوَلَّى عَنْهُمْ} تَارِكًا خِطَابهمْ {وَقَالَ يَا أَسَفَى} الْأَلِف بَدَل مِنْ يَاء الْإِضَافَة أَيْ يَا حُزْنِي {عَلَى يُوسُفَ وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ} انْمَحَقَ سَوَادهمَا وَبُدِّلَ بَيَاضًا مِنْ بُكَائِهِ {مِنَ الْحُزْنِ} عَلَيْهِ {فَهُوَ كَظِيمٌ} مَغْمُوم مَكْرُوب لَا يُظْهِر كَرْبه {قَالُوا تَاللَّهِ} لَا {تَفْتَأُ} تَزَال {تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّى تَكُونَ حَرَضًا} مُشْرِفًا عَلَى الْهَلَاك لِطُولِ مَرَضك وَهُوَ مَصْدَر يَسْتَوِي فِيهِ الْوَاحِد وَغَيْره {أَوْ تَكُونَ مِنَ الْهَالِكِينَ} الْمَوْتَى {قَالَ} لَهُمْ {إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي} هُوَ عَظِيم الْحُزْن الَّذِي لَا يُصْبَر عَلَيْهِ حَتَّى يُبَثّ إِلَى النَّاس {وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ} لَا إِلَى غَيْره فَهُوَ الَّذِي تَنْفَع الشَّكْوَى إِلَيْهِ {وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ} مِنْ أَنَّ رُؤْيَا يُوسُف صِدْق وَهُوَ حَيّ ثُمَّ قَالَ {يَا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ} اُطْلُبُوا خَبَرهمَا {وَلَا تَيْأَسُوا} تَقْنَطُوا {مِن رَّوْحِ اللَّهِ} رَحْمَته {إنه لا ييأس من روح الله إلا القوم الكافرون} فَانْطَلَقُوا نَحْو مِصْر لِيُوسُف {فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ قَالُوا يَا أَيُّهَا الْعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهْلَنَا الضُّرُّ} الْجُوع {وَجِئْنَا بِبِضَاعَةٍ مُّزْجَاةٍ} مَدْفُوعَة يَدْفَعهَا كُلّ مَنْ رَآهَا لِرَدَاءَتِهَا وَكَانَتْ دَرَاهِم زُيُوفًا أَوْ غَيْرهَا {فَأَوْفِ} أَتِمَّ {لَنَا الْكَيْلَ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَا} بِالْمُسَامَحَةِ عَنْ رَدَاءَة بِضَاعَتنَا {إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ} يُثِيبهُمْ فَرَقَّ لَهُمْ وَأَدْرَكَتْهُ الرَّحْمَة وَرَفَعَ الْحِجَاب بَيْنه وَبَيْنهمْ ثُمَّ {قَالَ} لَهُمْ تَوْبِيخًا {هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ} مِنَ الضَّرْب وَالْبَيْع وَغَيْر ذَلِكَ {وَأَخِيهِ} مِنْ هَضْمكُمْ لَهُ بَعْد فِرَاق أَخِيهِ {إِذْ أَنتُمْ جَاهِلُونَ} ما يؤول إِلَيْهِ أَمْر يُوسُف {قَالُوا} بَعْد أَنْ عَرَفُوهُ لِمَا ظَهَرَ مِنْ شمائله متثبتين {ءأنك} بِتَحْقِيقِ الْهَمْزَتَيْنِ وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ {لَأَنتَ يُوسُفُ قَالَ أَنَا يُوسُفُ وَهَذَا أَخِي قَدْ مَنَّ} أَنْعَمَ {اللَّهُ عَلَيْنَا} بِالِاجْتِمَاعِ {إِنَّهُ مَن يَتَّقِ} يَخَفِ اللَّه {وَيَصْبِرْ} عَلَى مَا يَنَالهُ {فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ} فِيهِ وَضْع الظَّاهِر مَوْضِع الْمُضْمَر {قَالُوا تَاللَّهِ لَقَدْ آثَرَكَ} فَضَّلَكَ {اللَّهُ عَلَيْنَا} بِالْمُلْكِ وَغَيْره {وَإِن} مُخَفَّفَة أَيْ إِنَّا {كُنَّا لَخَاطِئِينَ} آثِمِينَ فِي أَمْرك فَأَذَلَّنَا لَك {قَالَ لَا تَثْرِيبَ} عَتْب {عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ} خَصَّهُ بِالذِّكْرِ لأنه مظنة التثريب فغيره أولى {يغفر الله لكم وهو أرحم

Scanned with

الراحمين) وَسَأَلَهُمْ عَنْ أَبِيهِ فَقَالُوا ذَهَبَتْ عَيْنَاهُ فَقَالَ (اذْهَبُوا بِقَمِيصِي هَذَا) وَهُوَ قَمِيص إِبْرَاهِيم الَّذِي لَبِسَهُ حِين أُلْقِيَ فِي النَّار كَانَ فِي عُنُقه فِي الْجُبّ وَهُوَ مِنَ الْجَنَّة أَمَرَهُ جِبْرِيل بِإِرْسَالِهِ وَقَالَ إِنَّ فِيهِ رِيحهَا وَلَا يُلْقَى عَلَى مُبْتَلًى إِلَّا عُوفِيَ (فَأَلْقُوهُ عَلَى وجه أبي يأت) بصر (بصيرا وأتوني بأهلكم أجمعين)

ترجمه: چې کله د يوسف عليه السلام رونړو د يوسف عليه السلام نه بالکل نااميده شول نو په يوګوټ کښې ئې مشوره اوکړه، (نجيا) مصدر واحد او غير واحد، په ټولو باندې د دې اطلاق صحيح دې، يعنی هغوی خپلو کښې مشوره اوکړه، چې په دوی کښې د عمر په لحاظ سره يا د رائې په اعتبار سره لوئې وو، چې د هغه نوم روبيل يا يهودا وو، اووئيل آيا تاسو ته پته نشته چې ستاسو پلار تاسو نه ستاسو د رور په باره کښې د الله په نوم باندې پوخ لوظ اخستلې وو؟ او ددې نه مخکښې تاسو د يوسف عليه السلام په باره کښې زياتې هم کړې دې هغه هم تاسو ته معلوم دې، (ما) زائده دې، او وئيلې شوې دی چې (ما) مصدريه مبتدأ ده، او ددې خبر (من قبل) دې، اوس خو زه ملک د مصر بالکل نه پرېږدم تردې چې اباجان ماته د واپس راتلو اجازت رانکړی، يا الله زما رور راخلاص کړی او زما په باره کښې څه فيصله اونکړی، او هغه د ټولو نه ښه فيصله کونکی دې، تاسو خپل اباجان ته واپس لاړشئ او هغوی ته اووايئ چې ستاسو ځوی غلا کړې ده. (ځکه ګرفتار شو، او مونږ صرف هغه ګواهی ورکوو د څه چې مونږ ته يقينی علم شوې دې، د هغه د سامان نه د پيالئ د رواتلو په وجه، او د لوظ او وعدې په وخت، مونږ څه په غيبو باندې عالمان خو نه وو، او که مونږ ته معلومه وه چې دې به غلا کوی نو مونږ به هيڅ کله وعده کړې نه وه، او د هغه کلی والو نه معلومه کړئ د چا په کلی کښې چې مونږه وو، او هغه د مصر بستی وه، يعنی هلته څوک اوليږه چې معلومات اوکړی، او د هغه قافلې والو نه معلومه کړئ چې د کومې سره مونږ راغلې يو، او هغه کنعانی خلق دی، او د (عير) نه اصحاب عير مراد دی، او مونږ په خپل بيان کښې بالکل رشتونې يو، چنانچه نهه رونړه د يعقوب عليه السلام په خدمت کښې حاضر شول، او ذکر شوې ټولې خبرې ئې اباجان ته اوکړې، (يعقوب اوفرمائيل چې حقيقت داسې نه دې، بلکه تاسو د خپل ځان نه يوه خبره جوړه کړې دې، چې هغې ته تاسو عملی جامه اچولې ده، په دوی باندې د تهمت لګولو په وجه د رونړو هغه حرکت وو، کوم چې يوسف عليه السلام سره ئې کړې وو، لهذا اوس صبر ښه څيز دې، تقديری عبارت داسې دې (فصبری صبر جميل) ماته اميد دې چې الله به يوسف عليه السلام او د هغه دواړه رونړه (بنيامين او يهودا) ماته راورسوئی، هم هغه خما د حالت نه خبردار او په خپل کارونو کښې باحکمت دې، او دوی سره ئې خبرې کولو نه پس مخ واړولو، او وئې وئيل چې هائې يوسفا، د (اسفیٰ) الف د ياء اضافت نه بدل راغلې دې، په معنی د (يا حزنی) کښې دې، د يوسف عليه السلام په غم کښې په جرا جرا د هغه سترګې سپينې شوې يعنی د سترګو توروالې په سپينوالی کښې بدل شو، او په زره زره کښې ويلې کيدلو يعنی په غم کښې بې

Scanned with

چينه، او د خپل بې چينۍ اظهار به ئې کولو نه، څامنو اووئيل والله، تاسو خو به هميشه
يوسف عليه السلام ياده وئی، تر دې چې د اوږد مرض د وجې وفات شئ، (حرضا) مصدر دې په دې
کښې واحد او غير واحد دواړه برابر دی، يا به هلاک شئ (يعقوب عليه السلام هغوی ته اووئيل څه
خو د خپلې پريشانۍ او د خفګان فرياد صرف الله تعالى ته کوم نه چې بل چا ته، (بث) هغه
سخت غم ته وائی چې په هغې باندې صبر اونکړی شی، تردې چې خلقو ته هم دهغې پته
اولګی، صرف هم هغه ذات داسې دې چې هغه ته فرياد کول د فائدې دی، او دالله نه څنګه
چې څه خبريم داسې تاسو نه يئ، ددې خبرې نه چې يوسف عليه السلام په خوب کښې رښتونې دې
او هغه ژوندې دې، يعقوب عليه السلام اوفرمائيل ائما خوږو بچو الاړشئ او يوسف عليه السلام او د هغه رور
صحيح طريقې سره تلاش کړئ، يعنی د هغوی خبر راوباسئ او د الله د رحمت نه مايوسه کيږئ
مه، يقينا د الله رحمت نه هغه خلق نااميده کيږی کوم چې کافران دی، چنانچه د يوسف عليه السلام
رونړه مصر طرف ته روان شول، هر کله چې دا خلق د يوسف عليه السلام په مخکښې حاضر شول، نو
عرض ئې اوکړو اې سردار واکمنده، مونږ او زمونږ بچی په لوږه کښې مبتلاء دی، او مونږ څه لږه
غوندې پنګا (پيسې) راوړې ده، چې هغه د کوره کيدو د وجه نه هرڅوک واپس کوی، څوک
چې دا ګوری، او يا هغه کوټا دراهم ددې نه علاوه وو، تاسو مونږ ته ډيره غلې راکړئ او
زمونږ کوټه درهمو ته خيال نه کولو سره په مونږ باندې خيرات اوکړئ، الله تعالى خيرات
کونکو ته ښه بدله ورکوی يعنی هغوی ته ثواب ورکوی، چنانچه يوسف عليه السلام ته په دوی
باندې ترس راغلو او د يوسف عليه السلام زړه په دوی باندې نرم شو، او د يوسف عليه السلام او د هغه
د رونړو په مينځ کښې چې کومه پرده وه هغه ئې لرې کړه، بيا ئې د زورنې د پاره هغوی
ته اووئيل چې تاسو ته پته ده چې يوسف عليه السلام سره د وهلو ټکولو او د خرڅولو څه سلوک کړې
وو؟ او د هغه رور سره مو د ظلم معامله کړې وه، د هغه د رور نه د جدا کيدو نه پس، چې
کله تاسو ته معلومه نه وه، چې يوسف عليه السلام به کومې مرتبې ته رسی، د يوسف عليه السلام د
پيژندلو نه پس د يوسف عليه السلام عادتونه ښکاره شول، نو اقرار کولو سره ئې اووئيل آيا ته
په رشتيا يوسف عليه السلام ئې؟ (ءانک) کښې د دواړو همزو تحقيق او د دويم تسهيل، او د
دواړو په مينځ کښې په دواړه صورتونو کښې الف داخلولو سره، هغه اووئيل آو چې څه
يوسف يم او دا بنيامين، ځما رور دې، بې شکه الله تعالى په ميلاويدو سره په مونږ باندې ډير انعام
اوکړو، واقعی چې کوم سړې د الله نه ويريږی او په راتلونکی مصيبتونو باندې صبر کوی نو الله
تعالى د داسې نيکانو خلقو ثواب نه ضائع کوی، په دې کښې د ضمير په ځائې اسم ظاهر ذکر
شوې دې، وئې وئيل چې قسم په الله، الله تاسو ته په مونږ باندې په بادشاهئ وغيره سره فضيلت
درکړې دې، او بې شکه، مونږ ستا په معامله کښې خطاوار او ګنهګار وو، (ان مخففة عن
الثقيلة) دې، نو الله مونږ ستا په مخکښې ذليله کړو، يوسف عليه السلام اوفرمائيل نن په تاسو

Scanned with

باندې هيڅ ملامتيا (الزام) نشته، د عدم ملامتيا د پاره ئې اليوم ځکه راوړلو چې هغه ورځ د ملامتيا وه لهذا نورې ورځې به په ملامتيا کښې په طريقه اولى داخلې دى، الله دې ستاسو خطا معاف کړى او هغه په رحم کونکو کښې د ټولو نه زيات رحم کونکې دې او يوسف عليه السلام د خپل پلار په باره کښې تپوس اوکړو نو وې وئيل چې د هغه دواړه سترګې سپينې شوې دى يعنى (روند شوى دې) اوس تاسو ځما دا قميص يوځئ او دا د ابراهيم عليه السلام هغه قميص وو کوم چې ابرهيم عليه السلام په اور کښې د غورزيدو په وخت کښې اچولې وو، او په کوهى کښې هم يوسف اچولې وو، او دا جنتى لباس وو، او جبرائيل عليه السلام دې قميص لره د يعقوب عليه السلام خوا ته د ليږلو وئيلې وو، او دا ئې هم وئيلې وو چې په دې کښې يو قسم خوشبو ده، هرکله چې يو مصيبت زده سړې دا استعمال کړى نو هغه ته عافيت نصيب کيږى، تاسو دا ځما د پلار په سترګو باندې واچوئ د هغه نظر به واپس راشى او تاسو خپل ټول کوروالا هم ماله راولئ.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: **استيئسوا**:هغوى نااميده شول،د (استئياس) نه د ماضى مذكر غائب صيغه

قوله: **يئسوا**:په دې کښې اشاره ده چې استفعل په معنى د فعل کښې دې، او سين اوتاء د مبالغې د پاره دى. اى ياسا كاملا،

قوله: **مصدرصالح،الخ**: دا ددې سوال جواب دې چې خلصوا جمع ده، او نجيا واحد دې، او د واحد حمل په جمع باندې جائز نه دې؟

د جوا ب حاصل دادې چې نجيا مصدر دې او د مصدر اطلاق په واحد جمع په ټولو باندې كيږى.

قوله: **اي يناجي بعضهم بعضاً**:په دې کښې اشاره ده، چې نجيا حال دې، تقدير د عبارت داسې دې، خلصوامتناجين.

قوله: **صبري**: په دې کښې اشاره ده، چې فصبرجميل (صبرى) د مبتدأ محذوف خبر دې، بعضې حضراتو د صبرى په ځائې (امرى) محذوف ګڼړلې دې.

قوله: **انمحق**:انمحاق (انفعال) دا د(محق) نه ماخوذ دې په معنى د ختمولو اوباطل كولو سره.

قوله: **لا**:په دې کښې اشاره ده چې د (تفتئو) نه مخکښې حرف نهى (لا) محذوف دې، ګنى ترجمه به داسې وه (چې تاسو هيروئ او يادوئ) حالانکه ددې هيڅ مفهوم نشته، دويمه خبره داده چې (تفتئوا) جواب قسم دې، او جواب قسم چې کله ماضى مثبت واقع شى،نو په دې باندې د لام او نون راوړل ضرورى وى حالانكه دلته دا دواړه نشته.

قوله: **حرضاً**:حرضاًمصدر دې لهذا په جمع باندې حمل صحيح دې.

قوله: مزجاة: دازجيت نه ماخوذ دي (ازجهته اي دفعته)

قوله: مستثبتين: او په بعضي نسخو كښې متثبتين دي، په دې كښې اشاره ده چې هل علمتم او افعلتم بيوسف كښې (ما) د استفهام تقريري ده.

قوله: فاذلنالك: الخ: اي جعلنا ذليلا. (ترويح الارواح)

[اياتونه: ۹٤ ـ ۱۰٤]

(وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ) خَرَجَتْ مِنْ عَرِيش مِصْر (قَالَ أَبُوهُمْ) لِمَنْ حَضَرَ مِنْ بَنِيهِ وَأَوْلَادهمْ (إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ) أَوْصَلَته إِلَيْهِ الصَّبَا بِإِذْنِهِ تَعَالَى مِنْ مَسِير ثَلَاثَة أَيَّام أَوْ ثَمَانِيَة أَوْ أَكْثَر (لَوْلَا أَنْ تُفَنِّدُونِ) تُسَفِّهُونِ لصدقتموني (قَالُوا) له (تَاللهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ) خَطَئِكَ (الْقَدِيمِ) مِنْ إِفْرَاطك فِي مَحَبَّته وَرَجَاء لِقَائِهِ عَلَى بُعْد الْعَهْد (فَلَمَّا أَنْ) زَائِدَة (جَاءَ الْبَشِيرُ) يَهُوذَا بِالْقَمِيصِ وَكَانَ قَدْ حَمَلَ قَمِيص الدَّم فَأَحَبَّ أَنْ يُفْرِحهُ كَمَا أَحْزَنَهُ (أَلْقَاهُ) طَرَحَ الْقَمِيص (عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ) رجع (بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ) (قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ) (قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ) أَخَّرَ ذَلِكَ إِلَى السَّحَر لِيَكُونَ أَقْرَب إِلَى الْإِجَابَة أَوْ إِلَى لَيْلَة الْجُمُعَة ثُمَّ تَوَجَّهُوا إِلَى مِصْر وَخَرَجَ يُوسُف وَالْأَكَابِر لتلقيهم (فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَى يُوسُفَ) فِي مَضْرِبه (آوَى) ضَمَّ (إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ) أَبَاهُ وَأُمّه أَوْ خَالَته (وَقَالَ) لَهُمْ (ادْخُلُوا مِصْرَ إِنْ شَاءَ اللهُ آمِنِينَ) فَدَخَلُوا وَجَلَسَ يُوسُف عَلَى سَرِيره (وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ) أَجْلَسَهُمَا مَعَهُ (عَلَى الْعَرْشِ) السَّرِير (وَخَرُّوا) أَيْ أَبَوَاهُ وَإِخْوَته (لَهُ سُجَّدًا) سُجُود انْحِنَاء لَا وَضْع جَبْهَة وَكَانَ تَحِيَّتهمْ فِي ذلك الزمان (وَقَالَ يَا أَبَتِ هَذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَنَ بِي) إِلَيَّ (إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ) لَمْ يَقُلْ مِنْ الْجُبّ تَكَرُّمًا لِئَلَّا تَخْجَل إِخْوَته (وَجَاءَ بِكُمْ مِنَ الْبَدْوِ) الْبَادِيَة (مِنْ بَعْدِ أَنْ نَزَغَ) أَفْسَدَ (الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِمَا يَشَاءُ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ) بِخَلْقِهِ (الْحَكِيمُ) فِي صُنْعه وَأَقَامَ عِنْده أَبُوهُ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ سنة أو سبع عشرة سنة وكان مُدَّة فِرَاقه ثَمَانِي عَشْرَة أَوْ أَرْبَعِينَ أَوْ ثَمَانِينَ سَنَة وَحَضَرَهُ الْمَوْت فَوَصَّى يُوسُفَ أَنْ يَحْمِلهُ وَيَدْفِنهُ عِنْد أَبِيهِ فَمَضَى بِنَفْسِهِ وَدَفَنَهُ ثَمَّةَ ثُمَّ عَادَ إِلَى مِصْر وَأَقَامَ بَعْده ثَلَاثًا وَعِشْرِينَ سَنَة وَلَمَّا تَمَّ أَمْره وَعَلِمَ أَنَّهُ لَا يَدُوم تَاقَتْ نَفْسه إِلَى الْمُلْك الدائم فقال (رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ) تعبير الرؤيا (فَاطِرَ) خالق (السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّي) مُتَوَلِّي مَصَالِحِي (فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ) مِنْ آبَائِي فَعَاشَ بَعْد ذَلِكَ أُسْبُوعًا أَوْ أَكْثَر وَمَاتَ وَلَهُ مِائَة وَعِشْرُونَ سَنَة وَتَشَاحَّ الْمِصْرِيُّونَ فِي قَبْره فَجَعَلُوهُ فِي صُنْدُوق مِنْ مَرْمَر وَدَفَنُوهُ فِي أَعْلَى النِّيل لِتَعُمّ الْبَرَكَة جَانِبَيْهِ فَسُبْحَان مَنْ لَا انْقِضَاء لملكه (ذَلِكَ) الْمَذْكُور مِنْ أَمْر يُوسُف (مِنْ أَنْبَاءِ) أَخْبَار (الْغَيْبِ) مَا غَابَ عَنْك يَا مُحَمَّد (نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ) لَدَى إِخْوَة يُوسُف (إِذْ أَجْمَعُوا أَمْرَهُمْ) فِي كَيْده أَيْ عَزَمُوا عَلَيْهِ (وَهُمْ يَمْكُرُونَ) بِهِ أَيْ لَمْ تَحْضُرهُمْ فَتَعْرِف قِصَّتهمْ فَتُخْبِر بِهَا وَإِنَّمَا حَصَلَ لَك عِلْمهَا مِنْ جِهَة الْوَحْي (وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ) أَيْ أَهْل مَكَّة (وَلَوْ حَرَصْتَ) على إيمانهم (بِمُؤْمِنِينَ) (وَمَا تَسْأَلُهُمْ عَلَيْهِ) أَيْ الْقُرْآن (مِنْ أَجْرٍ) تَأْخُذهُ (إِنْ) مَا (هُوَ) أَيْ الْقُرْآن (إِلَّا ذِكْرٌ) عظة (لِلْعَالَمِينَ)

ترجمه: او چې کله قافله د مصر د آبادئ نه باهر راوتله نو د هغوی پلار چه په حاضرینو کښې د نوسو او خامنو په مینځ کښې موجود وو، وې وئیل چې څه د یوسف علیه السلام خوشبو محسوسوم که چرې تاسو ما ناپوهه نه ګنړئی نو څما تصدیق به اوکړئ، د سحر باد د الله په حکم سره د درې ورځو یا د اته ورځو په فاصلې د یوسف علیه السلام خوشبو یعقوب علیه السلام ته اورسوله، نو حاضرینو هغوی ته اووئیل والله تاسو په مخکښینئ ناپوهئ کښې مبتلاء یئ د هغه د ډیر محبت د وجه نه، باوجود د ډیرې مودې تیریدلو، چنانچه چې کله خوشخبری ورکولو والا یهودا قمیص راوړلو او هم یهودا د وینو هغه قمیص راوړې وو، لهذا دغه شان هغه اوغوښتل چې څنګه هغه اباجان ته غم رسولې وو دغه شان هم څه بهٔ هغه ته د خوشحالئ خبر ورکوم او د یعقوب علیه السلام په مخ یې قمیص واچولو نو د هغه نظر واپس شولو یعقوب علیه السلام اووئیل چې ما تاسو ته وئیل نه چې څه د الله د طرف نه هغه څه پیژنم د کوم چې تاسو ته علم نشته، هغوی اووئیل چې اباجان د الله نه څمونږ د خطاګانو معافی اوغوارئ بې شکه مونږ قصور واریو، وې فرمائیل چې څه به ډیر زر د خپل رب نه معافی اوغوارم هغه ډیر بخښونکې دې او ډیر مهربان دې، دا استغفار ئې د سحر وخت پورې روستو کړو چې قبولیت ته زیاته نزدې وی او وئیلې شوی دی چې د جمعې شپې پورې ئې روستو کړو، بیا مصر طرف ته متوجه شو او یوسف علیه السلام او د ملک سرداران د دوی ملاقات د پاره باهر راوتل، چې کله د یوسف علیه السلام رونړو ټول خاندان د یوسف علیه السلام خیمې خوا ته رواړسیدل نو خپلو والدینو ته ئې ځان سره ځاې ورکړو یعنی خپل پلار، مور یا خپل ترور، او وې وئیل د الله په خوښه تاسو په امن او امان سره مصر ته راشئ، چنانچه دا خلق داخل شول، او یوسف علیه السلام په تخت باندې کیناستلو او خپل مور پلار ئې هم په تخت باندې کینول او د هغوی والدین او رونړه د یوسف علیه السلام مخکښې په سجده پریوتل، او دا سجده د ټیټیدلو په توګه وه نه چې په زمکه باندې د تندې اینښودلو سره، او په دغه وخت کښې د سلام هم دغه طریقه وه، نو بیا یوسف علیه السلام اووئیل چې اباجان دا څما د مخکښینی خوب تعبیر دې، څما پروردګار دا رښتیا اوښودلو، هغه ماسره ډیره احسان اوکړو، کله چې هغه څه د جیل نه راویستلم، او دا ئې اونه ووئیل چې د کوهئ نه ئې راویستلم، د خپلو رونړو عزت د وجې چې هغوی شرمنده نه شی، او تاسو خلقو لره ئې د هغه اختلاف نه پس کوم چې شیطان په ما کښې او څما په رونړو کښې اچولې وو صحراء راوستلې، څما رب چې څه اوغواړی د هغې د پاره بهترین تدبیر جوړونکې دې او هغه د خپل مخلوق باره کښې ډیر علم والا او د خپل صنعت په باره کښې حکمت والا دې او یوسف علیه السلام خپل مور پلار ځان سره ۲۴ یا ۲۷ کاله اوساتل، او د جدائی موده ۱۸ کاله یا ۴۰ کاله یا ۸۰ کاله وه، په مصر کښې د یعقوب علیه السلام انتقال اوشو او یوسف علیه السلام ته ئې وصیت کړې وو چې څما تابوت یوځئ او د زما د پلار اسحق علیه السلام سره ئې دفن کړئ، چنانچه یوسف علیه السلام

Scanned with

په خپله هغه يوړلو او د وصيت مطابق ئې دفن کړو، بيا مصر ته واپس راغلو، او ددې نه پس په مصر کښې ۲۳ کاله پاتې وو، او چې کله کار په مصر کښې پورا شو او پوهه شو چې هغه څه هميشه پاتې کيدونکې نه دې او هغه باندې د هميشه بادشاهئ (جنت) شوق غالب شو نو يوسف عليه السلام او وئيل اې ځما پروردګاره تا ماته بادشاهي راکړه او د خوبونو تعبير دې راته اوخودلو اې د آسمانونو او د زمکې پيدا کونکيه، هم ته ځما د مصلحتونو مالک يې او ته ما د اسلام په په حالت کښې وفات کړې او ته ما لره نيکانو خلقو يعنى پلار نيکه سره ميلاو کړې، ددې نه پس حضرت يوسف عليه السلام يو هفته يا ددې نه لږ څه زياتې ورځې ژوندې وو او د هغوى عمر ۱۲۰ کاله شو، او د مصر خلقو د يوسف عليه السلام د دفن په ځائې کښې اختلاف اوکړو، چنانچه هغوى د سنګ مرمر په يو صندوق کښې کيخودلو سره د دريائې نيل اوچت طرف باندې دفن کړې شو، چې دواړه طرفو ته برکت حاصل وى، پاک دې هغه ذات د چا د بادشاهئ چې کله هم ختميدل نشته، د يوسف عليه السلام دا واقعه د غيب د هغه خبرو نه ده اې محمد صلى الله عليه وسلم کومه چې تانه پته ده، چې د هغې مونږ تاته وحى کوو، او تا ته د يوسف عليه السلام رونړو سره نه وئې، کله چې هغوى د يوسف عليه السلام په باره کښې سازش کړې وو، يعنى ددې ئې پخه اراده کړې وه، حال دا چې هغوى يوسف عليه السلام سره چل (مکر) کولو، يعنى اې محمد صلى الله عليه وسلم ته د يوسف عليه السلام رونړو سره موجود نه وئې چې د هغوى د قصئ نه واقف وې او ددې دې خبر ورکړې وو، تا ته ددې علم په ذريعه د وحى اوشو. او اکثر خلق يعنى اهل مکه اګرچې ته ددوى د ايمان خواهشمند يې، په قرآن باندې ايمان راوړنکى نه دى. او تاسو په قرآن باندې د دى د بدلې سوال نه کوئى، چې تاسو دا وصول کويئ، دا يعنى قرآن د ټولو جهانونو د پاره ټول په ټوله نصيحت دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: خرج من عريش مصر: عريش د يو قول مطابق د مصر او شام په ملک کښې په سرحد باندې د يو ښار نوم دې، دويم قول دا دې چې عريش آبادئ ته وئيلې شى او ددې نه مراد د مصر آبادى ده.

قوله: من بنيه واولادهم: ددې نه معلومه شوه چې د يوسف عليه السلام په رونړو کښې څه د خپل پلار سره پاتې شوې وو، حالانکه مخکښې معلومه شوې ده چې ټول رونړو مصر ته تلې وو، په تفسير خازن کښې دى من اولاد بنيه، او د شيخ زاده عبارت دا دې، (من ولد ولده)

قوله: اوصلته اليه الصبا: اى ريح الصباء، مضاف محذوف دې، يعنى بادصبا، دلته يوه قوى شبه داده چې صبا د مشرق نه مغرب طرف ته چليدونکې هوا ته وائى، او د مغرب نه مشرق طرف ته چليدونکې هوا ته دبور وائى. او شام د مصر نه مشرق طرف ته واقع دې، لهذا د شام د طرف نه راتلونکى هوا ته به صبا وئيلې شى، لهذا صبا د شام (کنعان) نه

Scanned with

مصر طرف ته خوشبو خو راوړلې شي خو اوړلې ئې نشي، البته دبور د مصر نه شام طرف ته خوشبو وړلې شي، مناسبه به وه چې مفسر علام د ﴿صبا﴾ په ځائې دبور فرمائيلې وو.

قوله: تفندون: (تفعيل، تفنيد) صيغه جمع مذكر حاضر، د لوئې عمر د وجې نه د عقل كمزورې كيدل، په عقل كښې كمې راتلل، نقصان راتلل.

قوله: لصدقتمونى: د ا د ﴿لولا﴾ جواب دې.

قوله: فى مضربة: لويه خيمه

سوال: مضربة، د محذوف گرځولو څه ضرورت راغلو؟

جواب: ځكه چې د دخلواعلى يوسف وئيلونه پس ادخلوامصر د وئيلو هيڅ ضرورت نه پاتې كيږي، ځكه چې د دخول نه پس د دخول څه مطلب نه وي، ځكه مو ﴿فى مضربة﴾ محذوف اوگرځولو چې د اول دخول نه په خيمه كښې داخليدل مراد وي، كومه چې د استقبال د پاره د ښار نه بهر جوړه شوې وه، ددې نه پس بل دخول په ښار د مصر كښې اوشو.

قوله: امه اوخالته: په دې كښې دې اختلاف طرف ته اشاره ده چې آيا د يوسف عليه السلام مور ﴿راحيل﴾ په دغه وخت كښې ژوندئ وه كه نه، بعضې حضراتو وئيلې دى چې ژوندئ وه، خو د جمهور مفسيرينو رائې ده چې د بنيامين د پيدا كيدو په وخت كښې وفات شوې وه، د هغې د وفات نه پس يعقوب عليه السلام د راحيل خور ﴿ليا﴾ سره نكاح كړې وه، او مجازا ترور ته هم مور وئيلې شى لكه ځرنگه چه تره ته مجازا پلار وئيلې شى په عبرانئ ژبه كښې بنيام د ماشوم دپيدا كيدو درد ته وائى په دې مناسبت سره د بينامين نوم ايښودلې شوې وو، دا هم ددې خبرې دليل دې چې د يوسف عليه السلام د مور انتقال شوې وو.

قوله: آمنين: اى آمنين من القحط وسائر المكاره.

[اياتونه: ۱۰۵ - ۱۱۱]

﴿وَكَأَيِّنْ﴾ وَكَمْ ﴿مِنْ آيَةٍ﴾ دَالَّة عَلَى وَحْدَانِيَّة الله ﴿فِى السماوات وَالْأَرْض يَمُرُّونَ عَلَيْهَا﴾ يُشَاهِدُونَهَا ﴿وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ﴾ لَا يَتَفَكَّرُونَ بِهَا ﴿وَمَا يُؤْمِن أَكْثَرهمْ بِاَللَّهِ﴾ حَيْثُ يُقِرُّونَ بِأَنَّهُ الخالق الرزاق ﴿إِلَّا وَهُمْ مُشْرِكُونَ﴾ بِهِ بِعِبَادَةِ الْأَصْنَام وَلِذَا كَانُوا يَقُولُونَ فِي تَلْبِيَتهمْ لَبَّيْكَ لَا شَرِيك لَك إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَك تَمْلِكهُ وَمَا ملك يعنونها ﴿أَفَأَمِنُوا أَنْ تَأْتِيهِمْ غَاشِيَة﴾ نِقْمَة تَغْشَاهُمْ ﴿مِنْ عَذَاب اللَّه أَوْ تَأْتِيهِمْ السَّاعَة بَغْتَة﴾ فَجْأَة ﴿وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾ بِوَقْتِ إتْيَانهَا قَبْله ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿هَذِهِ سَبِيلِي﴾ وَفَسَّرَهَا بِقَوْلِهِ ﴿أَدْعُو إلَى﴾ دِين ﴿اللَّه عَلَى بَصِيرَة﴾ حُجَّة وَاضِحَة ﴿أَنَا وَمَنْ اتَّبَعَنِي﴾ آمَنَ بِي عُطِفَ عَلَى أَنَا الْمبتدأ الْمُخْبَر عَنْهُ بِمَا قَبْله ﴿وَسُبْحَان اللَّه﴾ تَنْزِيهًا لَهُ عَنْ الشُّرَكَاء ﴿وَمَا أَنَا مِنْ الْمُشْرِكِينَ﴾ مِنْ جُمْلَة سَبِيله أَيْضًا ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلك إلَّا رِجَالًا يُوحَى﴾ وَفِي قِرَاءَة بِالنُّونِ وَكَسْر الْحَاء ﴿إلَيْهِمْ﴾ لَا مَلَائِكَة ﴿مِنْ أَهْل الْقُرَى﴾ الْأَمْصَار لِأَنَّهُمْ أَعْلَم وَأَحْلَم بِخِلَافِ أَهْل الْبَوَادِي لِجَفَائِهِمْ وَجَهْلهمْ ﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا﴾ أَهْل مَكَّة ﴿فِي الْأَرْض فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَة

Scanned with

الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ أَيْ آخِر أَمْرهمْ مِنْ إهْلَاكهمْ بِتَكْذِيبِهِمْ رُسُلهمْ ﴿وَلَدَارُ الْآخِرَةِ﴾ أَيْ الْجَنَّة ﴿خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَوا﴾ اللّٰه ﴿أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾ بِالْيَاءِ وَالتَّاء يَا أَهْل مَكَّة هَذَا فَتُؤْمِنُونَ ﴿حَتَّى﴾ غَايَة لِمَا دَلَّ عَلَيْهِ ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا﴾ أَيْ فَتَرَاخَى نَصْرهمْ حتى ﴿إِذَا اسْتَيْأَسَ﴾ يَئِسَ ﴿الرُّسُلُ وَظَنُّوا﴾ أَيْقَنَ الرُّسُل ﴿أَنَّهُمْ قَدْ كُذِّبُوا﴾ بِالتَّشْدِيدِ تَكْذِيبًا لَا إِيمَان بَعْده وَالتَّخْفِيف أَيْ ظَنَّ الْأُمَم أَنَّ الرُّسُل أُخْلِفُوا مَا وُعِدُوا بِهِ مِنَ النَّصْر ﴿جَاءَهُمْ نَصْرُنَا فَنُجِّيَ﴾ بِنُونَيْنِ مُشَدَّدًا وَمُخَفَّفًا وَبِنُونٍ مُشَدَّدًا مَاضٍ ﴿مَن نَّشَاءُ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُنَا﴾ عَذَابنَا ﴿عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِينَ﴾ الْمُشْرِكِينَ ﴿لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ﴾ أَيْ الرُّسُل ﴿عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ أَصْحَاب الْعُقُول ﴿مَا كَانَ﴾ هَذَا الْقُرْآن ﴿حَدِيثًا يُفْتَرَى﴾ يُخْتَلَق ﴿وَلَكِنْ﴾ كَانَ ﴿تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ قَبْله مِنَ الْكُتُب ﴿وَتَفْصِيلَ﴾ تَبْيِين ﴿كُلِّ شَيْءٍ﴾ يُحْتَاج إِلَيْهِ فِي الدِّين ﴿وَهُدًى﴾ مِنَ الضَّلَالَة ﴿وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ خُصُّوا بِالذِّكْرِ لِانْتِفَاعِهِمْ بِهِ دُون غَيْرهمْ

ترجمه: په آسمانون او زمکه کښې د الله په وحدانيت باندې دلالت کونکې بې شماره نښې دی هغې ته د کتلو باوجود مخ اړولو سره تيرېږی په دې کښې غور او فکر نه کوی او په دوی کښې ډير خلق په الله باندې ايمان لرونکی يعنی هغه خالق اورزاق منلو باوجود د بتانو عبادت کولو سره مشرکان دی او هم دغه وجه ده چې دوی به په تلبيه کښې وئيل لبيك لا شريك لك الا شريكا هو لك تملكه وما ملك، (ترجمه) مونږ ستا په حضور کښې حاضر يو، ستا څوک شريک نشته سوا د هغه شريک نه چې د هغه ته مالک ئې او د هغه څه هم ته مالک ئې چې د چا هغه مالک دې، او دوی به د الاشريکانه بتان مراد اخستل، آيا دوی ددې خبرې نه بې ويرې شوی دی چې په دوی باندې به د الله د عذابونو نه يو راخوريدونکې عذاب راشی، يا په دوی باندې اچانک قيامت راشی او دوی د مخکښې نه ددې د راتلو احساس هم اونه کړی، ته دوی ته اووايه چې دا څما طريقه ده، او د طريقه تفسير په ادعوا الله، الخ سره کړې دې چې څما او څما اتباع کونکی چا چې ما باندې ايمان راوړې دې د الله دين طرف ته على وجه البصيرة حجة واضحة سره دعوت ورکوی، د (من) عطف په (انا) مبتدأ باندې دې چې د هغې خبر ماقبل (على وجه البصيرت) دې او الله پاک دې هغه د شريک د نقص نه پاک دې او زه د مشرکانو نه نه يم، دا هم د نبى عليه السلام په طريقو کښې يوه طريقه ده، ستاسو نه مخکښې په کلی والو کښې چې مونږ څومره رسولان اوليږل هغه ټول سړی وو، نه چې فرشتې او ښځې، او يو قراءت کښې (نوحی) د نون او حاء مکسوره سره دې، يعنی د ښارونو اوسيدونکی وو، ځکه چې ښاريان د کلی والو په نسبت ډير پوهيدونکی او صبر کونکی وی، نه چې کلی وال د خپل جهالت او ظلم د وجې، آيا مکې والو په زمکه کښې ګرځيدلو سره اونه کتل، چې ددوی نه د مخکښې خلقو د خپل رسولانو د نه منلو د وجه څه انجام اوشو؟ دوی هلاک کولو سره يقينا د آخرت کور يعنی جنت د الله نه د ويردونکی خلقو د پاره بهتر دې، اې مکې والو آيا تاسو په دې

Scanned with

پوهیږئ نه، ؟ چې ایمان راوړئ، (یعقلون) یاء او تاء سره دي، (حتی) ددې د عایت د پاره ده، چې په هغې باندې وما ارسلنا من قبلك الا رجالا) دلالت کوي، یعنی ددوی نصرت روستو کړې شو، تردې چې کله رسولان ناامیده شو، او رسولانو یقین اوکړو چې ددوی تکذیب وکړې شو، (کذبوا د ذال تشدید سره) داسې تکذیب چې د هغې نه پس د ایمان توفیق نه وي، او د ذال تخفیف سره هم، یعنی امتونو ګمان اوکړو چې رسولانو د هغه مدد وعده خلافي اوکړه، د کوم چې هغوی وعده کړې وه، نو دوی ته زمونږ مدد اورسیدلو نو کوم چې مونږ غوارو، خلاصي ورکوو، (ننجی) دوه نونونو سره او د جیم تشدید سره، او د جیم تخفیف سره هم، او یو نون او جیم مشدد سره د ماضی مجهول هم صیغه ده، او زمونږ عذاب د مشرکانو نه به نه اخوا کیږي، بې شکه د دې رسولانو په قصو کښې د عقلمندو د پاره عبرت دې، دا قرآن د ځان نه لیکلې شوې نه دې، بلکه د مخکښینی کتابونو د تصدیق د پاره دې، او هر څیز صفا صفا بیانونکی دې، او د ایمان راوړونکو د پاره رحمت دې، د مومنانو ذکر ئې خاص طور سره ځکه اوکړو چې په حقیقت کښې هم دوی د دې نه فائده اخلی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: کاین: دا په اصل کښې (کای) وو، تنوین مو په نون سره بدل کړو، کاین جوړ شو، دا د کاف تشبیه او د (ای) نه مرکب دې، دا اکثر د (کم) خبریه په معنی کښې راځي، کوم چې د کثرت معنی ورکوي، مثلا کای من رجل رایت، ما ډیر سړي اوکتل، او کله کله د استفهام په معنی کښې استعمالیږي، څنګه چې ابی بن کعب رضي الله عنه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه معلومه کړه، کای تقرا سورة الاحزاب، تا سورة احزاب څو ځله اولوستلو، کاین مبتدأ ده، او (من آیة) تمیز مجرور په (من) سره دې.

قوله: یمرون علیها: په جمله کیدلو سره د کاین خبر دې، او (وهم عنها معرضون) جمله کیدو سره د یمرون د ضمیر نه حال دې.

قوله: المخبر عنه بما قبله: (انا) او (من) مبتدأ مؤخر. او (علی بصیرة) خبر مقدم دې، کما صرح.

قوله: بخلاف اهل البواد: په دې کښې اشاره ده چې د اهل القری نه د ښارونو مقابل مراد دې، لهذا اوس به دا اعتراض نه راځي، چې انبیاء اکثر په ښارونو کښې رالیږلې شوې وو،

قوله: یئس، استئس، (س، ت) دطلب د پاره نه دې،

قوله: تکذیبا لا ایمان بعده: په دې کښې ددې شبهې جواب دې چې تکذیب خو د مخکښې نه موجود وو، یعنی اوس داسې تکذیب اوشو چې د هغې نه پس د ایمان توقع ختمه شوه، او د (ظنوا) ترجمه، به ایقن الرسل قد کذبوا د تشدید په صورت کښې وي، د تخفیف په صورت کښې به ظنوا په خپله معنی کښې وي.

Scanned with

قوله: فننجي :د جیم تشدید سره، (تنجية) د تفعیل نه، (مونږ بچ کوو) فننجي مخففا (افعال) مضارع جمع متکلم، (نجي) ماضی مجهول واحد مذکر غائب (تنجية تفعيل) نه، (هغه بچ کړې شو) د (مشددا) تعلق په هر قراءت کښې د جیم سره دې. د ماضی مجهول په صورت کښې (من نشاء) نائب فاعل وی، په اولنی دوو صورتونو کښې به مفعول به وی، بعضې حضراتو مشددا د (نون) صفت گرځولې دې، کومه چې خطا ده.

[۱۳] سورة الرعد

سُورَة الرَّعْد مَكِّيَّة إِلَّا {وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا} الأية {ويقول الذين كفروا لست مُرْسَلًا} الأية أَوْ مَدَنِيَّة إِلَّا {وَلَوْ أَنَّ قرآنًا} الآيتين ٤٣ أو ٤٤ أو ٤٥ أو ٤٦ الأية

سورة رعد مکی دې علاوه د ولا يزال الذين كفروا پورې آیت نه، اود يقول الذين كفروا لست مرسلًا پورې آیت نه، یا مدنی دې د ولو أن قرآنًا دوه آیتونو نه چه هغه ۴۳، ۴۴ یا ۴۵، ۴۶ آیتونه دی.

[ایاتونه: ۱ - ۷]

بسم الله الرحمن الرحيم {المر} الله أَعْلَم بِمُرَادِهِ بِذَلِك {تِلْكَ} هَذِهِ الآيَات {آيَاتُ الْكِتَابِ} القرآن وَالْإِضَافَة بِمَعْنَى مِنْ {وَالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ} أَيْ الْقرآن مبتدأ خبره {الْحَقُّ} لَا شَكَّ فِيهِ {وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ} أَيْ أَهْل مَكَّة {لَا يُؤْمِنُونَ} بِأَنَّهُ مِنْ عِنْده تَعَالَى {اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا} أَيْ الْعَمَد جَمْع عِمَاد وَهُوَ الْأُسْطُوَانَة وَهُوَ صَادِق بِأَنْ لَا عَمَد أَصْلًا {ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ} اسْتِوَاء يَلِيق بِهِ {وَسَخَّرَ} ذَلَّلَ {الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ} مِنْهُمَا {يَجْرِي} فِي فَلَكه {لِأَجَلٍ مُسَمًّى} يَوْم الْقِيَامَة {يُدَبِّرُ الْأَمْرَ} يَقْضِي أَمْر مُلْكه {يُفَصِّلُ} يُبَيِّن {الْآيَاتِ} دِلَالَات قُدْرَته {لَعَلَّكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة {بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ} بِالْبَعْثِ {توقنون} {وَهُوَ الَّذِي مَدَّ} بَسَطَ {الْأَرْضَ وَجَعَلَ} خَلَقَ {فِيهَا رَوَاسِيَ} جِبَالًا ثَوَابِت {وَأَنْهَارًا وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ} مِنْ كُلّ نَوْع {يُغْشِي} يُغَطِّي {اللَّيْلَ} بِظُلْمَتِهِ {النَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ} الْمَذْكُور {لَآيَاتٍ} دِلَالَات عَلَى وَحْدَانِيّته تَعَالَى {لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} فِي صُنْع اللَّه {وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ} بِقَاع مُخْتَلِفَة {مُتَجَاوِرَاتٌ} مُتَلَاصِقَات فَمِنْهَا طَيِّب وَسَبِخ وَقَلِيل الرَّيْع وَكَثِيره وَهُوَ مِنْ دَلَائِل قُدْرَته تَعَالَى {وَجَنَّاتٌ} بَسَاتِين {مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ} بِالرَّفْعِ عَطْفًا عَلَى جَنَّات وَالْجَرّ عَلَى أَعْنَاب وَكَذَا قَوْله {وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ} جَمْع صِنْو وَهِيَ النَّخَلَات يَجْمَعهَا أَصْل وَاحِد وَتَتَشَعَّب فروعها {وغير صنوان} منفردة {تسقى} بِالتَّاءِ أَيْ الْجَنَّات وَمَا فِيهَا وَالْيَاء أَيْ الْمَذْكُور {بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ} بِالنُّونِ وَالْيَاء {بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ} بِضَمِّ الْكَاف وَسُكُونهَا فَمِنْ حُلْو وَحَامِض وَهُوَ مِنْ دَلَائِل قُدْرَته تَعَالَى {إِنَّ فِي ذَلِكَ} الْمَذْكُور {لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ} يتدبرون {وَإِنْ تَعْجَبْ} يَا مُحَمَّد مِنْ تَكْذِيب الْكُفَّار لك {فعجب} حقيق بالعجب {قولهم} منكرين البعث {ءإذا كنا ترابا أئنا لفي خلق جديد} لِأَنَّ الْقَادِر عَلَى إِنْشَاء الْخَلْق وَمَا تَقَدَّمَ عَلَى غَيْر مِثَال

قَادِر عَلَى إعَادَتهمْ وَفِي الْهَمْزَتَيْنِ فِي الْمَوْضِعَيْنِ التَّحْقِيق وَتَحْقِيق الْأُولَى وَتَسْهِيل الثَّانِيَة وَإِدْخَال أَلِف بَيْنهمَا عَلَى الْوَجْهَيْنِ وَتَرْكهَا وَفِي قِرَاءَة بِالِاسْتِفْهَامِ فِي الأول والخبر في الثاني واخرى وعكسه ﴿أولئك الذين كفروا بربهم وأولئك الأغلال في أعناقهم وأولئك أصحاب النار هم فيها خالدون﴾ وَنَزَلَ فِي اسْتِعْجَالهمْ الْعَذَاب اسْتِهْزَاء ﴿وَيَسْتَعْجِلُونَك بِالسَّيِّئَةِ﴾ العذاب ﴿قبل الحسنة﴾ الرحمة ﴿وقد خلت من قبلهم الْمَثُلَات﴾ جَمْع الْمَثُلَة بِوَزْنِ السَّمُرَة أَيْ عُقُوبَات أَمْثَالهمْ مِنْ الْمُكَذِّبِينَ أَفَلَا يَعْتَبِرُونَ بِهَا ﴿وَإِنَّ رَبّك لَذُو مَغْفِرَة لِلنَّاسِ عَلَى﴾ مَعَ ﴿ظُلْمهمْ﴾ وَإِلَّا لَمْ يَتْرُك عَلَى ظَهْرهَا دَابَّة ﴿وَإِنَّ رَبّك لَشَدِيد الْعِقَاب﴾ لِمَنْ عَصَاهُ ﴿وَيَقُول الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا﴾ هَلَّا ﴿أُنْزِلَ عَلَيْهِ﴾ عَلَى مُحَمَّد ﴿آيَة مِنْ رَبّه﴾ كَالْعَصَا وَالْيَد والناقة قال تعالى ﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِر﴾ مُخَوِّف الْكَافِرِينَ وَلَيْسَ عَلَيْك إتْيَان الْآيَات ﴿وَلِكُلِّ قَوْم هَادٍ﴾ نَبِيّ يَدْعُوهُمْ إلَى رَبّهمْ بِمَا يُعْطِيه مِنْ الْآيَات لَا بِمَا يقترحون

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم سره چې ډير مهربانه او ډير رحم والا دې، المر الله ښه پوهيږي په مراد ددې باندې دا ايتونه د قرآن کريم آيتونه دی او په ﴿آيات الکتاب﴾ کښې اضافت په معنی د ﴿من﴾ دې. او څه چې ستا د رب د طرف نه تاته نازلې شی، تول په حق سره دی، يعنی په دې کښې هيڅ شک نشته، ﴿والذي انزل اليک﴾ مبتدأ ده، او ﴿الحق﴾ ددې خبر دې. خو اکثر خلق په دې باندې ايمان نه راوړی. چې دا د الله دطرف نه دې، او د اهل مکه دی الله هغه دې کوم چې اسمانونو لره بغير د ستنو نه اوچت کړل کوم چې تاسو ته په نظر راځی. (العمد، د عماد جمع ده، او هغه ستنې دی، او نه کتل هغه وخت هم صادق راځی، چې ستنې هډو وې نه. بيا هغه د بادشاهۍ په تحت باندې جلوه افروز شو، داسې جلوه ئې اوخودله کومه چې د هغه شان سره مناسب ده. او هغه نور اوسيوږمۍ دواړو لره د قانون پابند جوړ کړل، او په دې کښې يو يو په خپل مدار باندې يو نيټې پورې يعنی قيامت پورې جاری وی، هم هغه الله د هر يو کار انتظام کوی، يعنی د خپلې باشاهۍ معاملات برابر کوی او هغه د خپل قدرتونو دليلونه ښکاره بيانوی، چې اې هل مکه! د قبر نه د پاسيدو په ذريعه تاسو د خپل رب ملاقات باندې يقين اوکړئ، او هغه داسې ذات دې چا چې زمکه خوره کړه او په دې کښې ئې نه ړکيدونکی غورونه پيدا کړل، او په زمکه کښې د هر قسم ميوو دوه دوه جوړې پيدا کړې او هغه دشپې د تيارې په وجه د ورځې رڼرا پټوی، يقينا په دې ذکر شوې څيزونو کښې د الله د وحدانيت ډيرې نښې دی، د الله په کارونو کښې د غور اوفکر کولو والو دپاره، او په زمکه کښې جدا جدا علاقې موندلې کيږی کومې چې يو بل سره يو ځائې دی، په هغې کښې زرخيز هم دی، او بنجر هم او قليل النفع هم، او کثير النفع هم، دا هم د الله د قدرتونو نه دې او د انګور باغانو هم دی، او پټۍ هم، (زرع) په رفع سره، په جنات باندې د عطف د وجې، او جر سره هم، په اعناب باندې د عطف دوجې، او د کهجورو اونې هم دی. ﴿صنوان﴾ صنو جمع

ده، د کهجورو هغه اونو ته وائی د چا چې جړه یوه وی، او هغې باندې ډیرې څانګې وی، او څه جدا هم دی، تول یو اوبو سره خړوب کوی، د (تسقی) ضمیر د مذکور طرف ته راجع دې. خو په مزه کښې بعضې مونږ بهترې جوړې کړو، او بعضې کمترې هم، (ننفصل) د نون او یاء سره، (الاکل) د کاف ضمې او سکون سره، (دوه قراتونه دی) بعضې په دې کښې خوږې او بعضې ترخې وی، دا هم د الله د قدرت د دلائلو نه دی، بې شکه دې ذکر شوې خبرو کښې د غور او فکر کولو دپاره نښې دی، او که اې محمد ﷺ تاسو ته د کفار د انکار کولو نه حیرانتیا کیږی، نو په حقیقت کښې د منکرینو د بعث دا خبره د خیرانتیا قابله ده، چې کله مونږ مړه شو او خاورې شو، نو آیا مونږ به بیا په دوباره راوژندی کیږو،؟ ځکه چې کوم ذات د مخکښې نمونې نه بغیر په اول ځل پیدا کولو او مذکوره څیزنو باندې قادر دې نو هغه ددوی په دوباره پیدا کولو باندې هم قادر دې، او په دواړو همزو کښې په دوړاه ځایونو کښې تحقیق، او د اولنی تحقیق او د دویمې تسهیل، او په دواړو صورتونو کښې په دواړو همزو کښې الف داخلولو سره، او د داخلیدلو پریښودلو سره (تول جائز دی) او یو قراءت کښې اول کښې استفهام او په دویم کښې خبر، اوپه دویم قراءت کښې ددې الټه، دا هغه خلق دی چا چې په خپل رب کفر اوکړو او دا هغه خلق دی چې د چا په ستونو کښې طوق دې، دا جهنمیان دی او همیشه به جهنم کښې وی او ددوی د توقو په توګه د عذاب د زر غوختلو په باره کښې دا راروان آیت نازل شو، داخلق نیکی یعنی رحمت نه مخکښې د بدو دپاره جلدی کوی، حالانکه ددوی نه مخکښې عبرتناک مثالونه تیر شوې دی مثلات، د مثلة جمع ده، د سمرة په وزن، یعنی ددوی په شان د تکذیب کونکو سزاګانې (تیر شوې دی) آیا دهغې نه عبرت نه حاصلوی؟ حقیقت دادې چې ستا رب د خلقو د زیادتی باوجود هغوی لره معاف کوی، ګنی د زمکې په سر باندې به ئې یو زنده سره پریښې نه وو او دا هم حقیقت دې چې ستا رب نافرمانی کولو والا ته سخت عذاب ورکونکې دې، او کافران وائی، ولې په محمد ﷺ باندې نازل شوې نه دی د هغه د رب د طرف نه نښې، لکه چې عصا د موسی علیه السلام او سپین لاس هم، او اوښه د صالح علیه السلام الله تعالی اوفرمائیل ته صرف کافرانو لره خبر ورکونکې یې، یعنی ویرونکې یې د معجزاتو راوړل ستا کار نه دې، او د هر قوم د پاره یو هدایت ورکونکې وی یعنی نبی ﷺ وی، چې خلق د هغه معجزاتو په وجه کوم چې الله هغه ته ورکړې وی، د هغوی رب طرف ته رابلی، نه چې د هغه معجزاتو د وجه کوم چې دوی خوښوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: سورة الرعد مکیة: سورة رعد مبتدأ ده مکیة خبر اول، او ثلث الخ خبر ثانی دې، د مکی مدنی کیدو په باره کښې پنځه قوله دی،

(۱) پوره سورت مکی سوا د (ولایزال الذین کفروا (الأیة) نه،

Scanned with

(۲) پوره سورت مکی دې، سوا د (هوالذی يريكم البرق، الى قوله، له دعوة الحق) نه.
(۳) پوره سورت مدنی دې، سوا د (ولوانا قرآنا (دوه آيتونو) نه
(۴) وئيلې شوی دی چې پوره سورت مدنی دې.
(۵) وئيلې شوی دی چې پوره سورت مکی دې.

قوله: الاضافة: بمعنى من: دا ددې سوال جواب دې چې په آيات الكتاب كښې اضافت (اضافة الشئ الى نفسه) لازميږی، ځكه چې آيات او كتاب دواړه يو څيز دې، د جواب حاصل دا دې چې اضافة الشئ الى نفسه هغه وخت لازميږی چې كله اضافت په معنى د لام وی، دلته په معنى د (من) دې، فلا حرج.

قوله: بأنه من عنده: دا جمله د يؤمنون مفعول به دې.

سوال: يؤمن متعدی بالی استعماليږی، نه چې متعدی بالباء؟

جواب: يؤمنون، ديقرون، معنى لره متضمن دې، لهذا تعديت بالباء صحيح ده.

قوله: الله الذي رفع السموات، الخ: الله مبتدأ ده، او الذی الخ ددې خبر دې.

قوله: وهو صادق بأن لا عمد اصلا: دا ددې شبهې جواب دې چې

شبه: د جمع نفی د مفهوم په توګه په ثبوت واحد باندې دلالت كوی، يعنى يوه ستنه ده،

جواب: د جواب حاصل دادې چې دمقيد نفی د مطلق په نفی باندې دلالت كوی، دلته نفی موصوف او صفت دواړو طرف ته راجع ده،

قوله: جعل: دا ددې شبهې جواب دې

شبه: چې جعل متعدی په دوه مفعول سره دې، حالانكه دلته دوه مفعول نشته؟

جواب: جعل په معنى د خلق دې، نه چې په معنى د صير

قوله: من كل نوع، كښې د من كل الثمرات تفسير دې،

قوله: يغشى الليل النهار: دا جمله مستانفه ده، او په ماقبل كښې د مذكوره افعالو د فاعل نه حال هم كيدې شی، د يغشى فاعل ضمير مستتر (هو) دې، كوم چې د الله طرف ته راجع دې، الليل مفعول اول، او النهار مفعول ثانى، يعنى الله تعالى د شپې په ذريعې سره ورځ لره پټوی،

قوله: صنوان: بالتثليث نخلة لها راسان واصلها واحد، د يو داسې كهجورې اونه چې د هغې جره يوه وی، او سرونه ئې دوه وی.

قوله: بالتاء، والياء تسقى: د مؤنث په صورت كښې ددې نائب فاعل الجنات به وی، او يسقى مذكر په صورت كښې ددې فاعل به مذكور وی.

قوله: بالياء: يعنى په نُفضّل كښې ياء او نون دواړه جائز دى، دمذكر غائب په صورت كښې به د يُدبّرُ سره مطابقت وى.

قوله: حقيق: بالعجب.

سوال: د فعجبٌ تفسير په حقيقٌ سره په كوم قصد سره شوې دې؟

جواب: ددې مقصد د يو سوال جواب دې: سوال دادې چه عجبٌ خبرمقدم دې او قولهم مبتداء مؤخر ده، او عجبٌ مصدردې اود مصدر حمل په قولهم باندې صحيح نه دې؟

جواب: ؟: حقيقٌ محذوف اومنلې شو دې دپاره چه حمل صحيح شى.

[اياتونه: ٨-١٨]

{اللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى} مِنْ ذَكَر وَأُنْثَى وَوَاحِد وَمُتَعَدِّد وَغَيْر ذَلِك {وَمَا تَغِيضُ} تَنْقُص {الْأَرْحَامُ} مِنْ مُدَّة الْحَمْل {وَمَا تَزْدَادُ} مِنْهُ {وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ} بِقَدَرٍ وَحَدٍّ لَا يَتَجَاوَزهُ {عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ} مَا غَابَ وَمَا شُوهِدَ {الْكَبِيرُ} العظيم {المتعال} عَلَى خَلْقه بِالْقَهْرِ بِيَاءٍ وَدُونهَا {سَوَاءٌ مِنْكُمْ} فِي عِلْمه تَعَالَى {مَنْ أَسَرَّ الْقَوْلَ وَمَنْ جَهَرَ بِهِ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍ} مُسْتَتِر {بِاللَّيْلِ} بِظَلَامِهِ {وَسَارِبٌ} ظَاهِر بِذَهَابِهِ فِي سربه اي طريقه {بالنهار} {لَهُ} لِلْإِنْسَانِ {مُعَقِّبَاتٌ} مَلَائِكَة تَتَعَقَّبُهُ {مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ} قُدَّامه {وَمِنْ خَلْفِهِ} وَرَائِهِ {يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللّٰهِ} اي بامره من الجن وغيره {إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ} لَا يَسْلُبهُمْ نِعْمَته {حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ} مِنَ الْحَالَة الْجَمِيلَة بِالْمَعْصِيَةِ {وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِقَوْمٍ سُوءًا} عَذَابًا {فَلَا مَرَدَّ لَهُ} مِنَ الْمُعَقِّبَات وَلَا غَيْرهَا {وَمَا لَهُمْ} لِمَنْ أَرَادَ اللّٰه بِهِمْ سُوءًا {مِنْ دُونِهِ} أَيْ غَيْر اللّٰه {مِنْ} زَائِدَة {وَالٍ} يَمْنَعهُ عَنْهُمْ {هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا} لِلْمُسَافِرِينَ مِنَ الصَّوَاعِق {وَطَمَعًا} لِلْمُقِيمِ فِي الْمَطَر {وَيُنْشِئُ} يَخْلُق {السَّحَابَ الثِّقَالَ} بِالْمَطَرِ {وَيُسَبِّحُ الرَّعْدُ} هُوَ مَلَك مُوَكَّل بِالسَّحَابِ يَسُوقهُ مُتَلَبِّسًا {بِحَمْدِهِ} أَيْ يَقُول سُبْحَان اللّٰه وَبِحَمْدِهِ {وَ} يُسَبِّح {الْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ} أَيْ اللّٰه {وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ} وَهِيَ نَار تَخْرُج مِنَ السَّحَاب {فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ} فَتُحْرِقهُ نَزَلَ فِي رَجُل بَعَثَ إِلَيْهِ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَدْعُوهُ فَقَالَ مَنْ رَسُول اللّٰه وَمَا اللّٰه أَمِنْ ذَهَب هُوَ أَمْ مِنْ فِضَّة أَمْ نُحَاس فَنَزَلَتْ بِهِ صَاعِقَة فَذَهَبَتْ بِقِحْفِ رَأْسه {وَهُمْ} أَيْ الْكُفَّار {يُجَادِلُونَ} يُخَاصِمُونَ النَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {فِي اللّٰهِ وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ} الْقُوَّة أَوْ الْأَخْذ {لَهُ} تَعَالَى {دَعْوَةُ الْحَقِّ} أَيْ كَلِمَته وَهِيَ لَا إِلٰه إِلَّا اللّٰه {وَالَّذِينَ يَدْعُونَ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء يَعْبُدُونَ {مِنْ دُونِهِ} أَيْ غَيْره وَهُمُ الْأَصْنَام {لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ} مِمَّا يَطْلُبُونَهُ {إِلَّا} اسْتِجَابَة {كَبَاسِطِ} أَيْ كَاسْتِجَابَةِ بَاسِط {كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ} عَلَى شَفِير الْبِئْر يَدْعُوهُ {لِيَبْلُغَ فَاهُ} بِارْتِفَاعِهِ مِنَ الْبِئْر إِلَيْهِ {وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ} أَيْ فَاهُ أَبَدًا فَكَذَلِكَ مَا هُمْ بِمُسْتَجِيبِينَ لَهُمْ {وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ} عِبَادَتهمْ الْأَصْنَام أَوْ حَقِيقَة الدُّعَاء {إِلَّا فِي ضَلَالٍ} ضَيَاع {وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا} كَالْمُؤْمِنِينَ {وَكَرْهًا} كَالْمُنَافِقِينَ وَمَنْ أُكْرِهَ بِالسَّيْفِ {وَ} يَسْجُد {ظِلَالُهُمْ بِالْغُدُوِّ} الْبُكَر {وَالْآصَالِ} الْعَشَايَا {قُلْ} يَا مُحَمَّد لِقَوْمِك {مَنْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

Scanned with

قل الله} إن لم يقولوه لا جواب غيره {قُلْ} لهم {أَفَاتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِ} أي غيره {أَوْلِيَاءَ} أصناما تعبدونها {لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا} وتركتم مالكهما استفهام توبيخ {قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ} الكافر والمؤمن {أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُمَاتُ} الكفر {وَالنُّورُ} الإيمان لا {أَمْ جَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ خَلَقُوا كَخَلْقِهِ فَتَشَابَهَ الْخَلْقُ} أي خلق الشركاء بخلق الله {عَلَيْهِمْ} فاعتقدوا استحقاق عبادتهم بخلقهم استفهام إنكار أي ليس الأمر كذلك ولا يستحق العبادة إلا الخالق {قُلِ اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ} لا شريك له فيه فلا شريك له في العبادة {وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ} لعباده ثم ضرب مثلا للحق والباطل فقال {أَنزَلَ} تعالى {مِنَ السَّمَاءِ مَاءً} مطرا {فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا} بمقدار ملئها {فَاحْتَمَلَ السَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا} عاليا عليه هو ما على وجهه من قذر ونحوه {وَمِمَّا يُوقِدُونَ} بالتاء والياء {عَلَيْهِ فِي النَّارِ} من جواهر الأرض كالذهب والفضة والنحاس {ابْتِغَاءَ} طلب {حِلْيَةٍ} زينة {أَوْ مَتَاعٍ} ينتفع به كالأواني إذا أذيبت {زَبَدٌ مِّثْلُهُ} أي مثل زبد السيل وهو خبثه الذي ينفيه الكير {كَذَٰلِكَ} المذكور {يَضْرِبُ اللَّهُ الْحَقَّ وَالْبَاطِلَ} أي مثلهما {فَأَمَّا الزَّبَدُ} من السيل وما أوقد عليه من الجواهر {فَيَذْهَبُ جُفَاءً} باطلا مرميا به {وَأَمَّا مَا يَنفَعُ النَّاسَ} من الماء والجواهر {فَيَمْكُثُ} يبقى {فِي الْأَرْضِ} زمانا كذلك الباطل يضمحل وينمحق وإن علا على الحق في بعض الأوقات والحق ثابت باق {كَذَٰلِكَ} المذكور {يَضْرِبُ} يبين {اللَّهُ الْأَمْثَالَ} {لِلَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمُ} أجابوه بالطاعة {الْحُسْنَىٰ} الجنة {وَالَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُ} وهم الكفار {لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُ مَعَهُ لَافْتَدَوْا بِهِ} من العذاب {أُولَٰئِكَ لَهُمْ سُوءُ الْحِسَابِ} وهو المؤاخذة بكل ما عملوه لا يغفر منه شيء {وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ} الفراش هي

ترجمه: الله ته ښه پته ده چې ماده د څه نه حامله ده؟ آيا هلک دې يا جينئ، يو دې يا دوه وغيره او په موده د حمل کښې چې کوم کمې زياتې کيږي هغه ورته هم پته ده، هر څيز د هغه په نيز په مقدار او حد سره دې، چې د هغه مقرر مقدار نه تجاوز نشي کيدې، په پټ او په ښکاره باندې علم لرونکې دې او هغه لوئې او په خپل مخلوق باندې د طاقت په ذريعه غالب دې، په المتعال کښې ياء او بغير د ياء دواړه قراتونه دی، په تاسو کښې يو کس که په مزه خبره اوکړي يا په زوره، د الله په علم کښې تول برابر دی، او هغه څوک چې د شپې په تياره کښې پټ وی يا په ورځ کښې په لار کښې د تلو راتلو د وجه ښکاره وی، د هر انسان سره مخکښې روستو د نګرانئ دپاره، د شپې ورځې ديوټئ والا فرشتې لګيدلې وی، کوم چې د الله په حکم سره نګراني کوی، يعنی د هغه په حکم سره د جناتو وغيره نه حفاظت کوی، حقيقت دادې چې الله د يو قوم حالات نه بدلوی يعنی د هغوی نعمتونه نه سلب کوی، تردې چې دوی خپله دې صفاتو لره بدل نه کړی کوم چې په دوی کښې دی، يعنی خپل ښه صفات په بدو صفاتو سره بدل نه کړی، او چې کله د يو قوم د عذاب فيصله اوکړی نو هغه څوک بدلولې نشی، اګرچې نګران فرشتې وی يا نور څوک الله تعالی چې چاته د سزا ورکولو اراده اوکړی نو د هغوی په

مقابله کښې د هغه څوک مددګار نه وي چې هغوي د عذاب نه بچ کړي (من وال) کښې (من) زائده دې، هم هغه ذات دې کوم چې ستاسو مخې ته بجلۍ پرکوي، چې هغې سره مسافرو ته فکر اولګي او مقيمينو ته د باران اميد وي، او هم هغه دې چې د اوبو نه ډکې اوريځې پيدا کوي او د اوريځو هغه آواز چې هغه يو فرشته ده کومه چې د اوريځو په چلولو باندې مقرره ده، د حمد سره تسبيح بيانوي يعنې هغه سبحان الله وبحمده وائي، او فرشتې د هغه يعنې د الله د ويرې نه د هغه تسبيح بيانوي، او هغه بجلۍ ليږي، او دا يو قسم اور دې، کوم چې د اوريځو نه راوځي، نو چې بيا هغه په چا باندې اوغواړي اوغورزوي ئې، نو هغوي اوسوزوي، مخکښې آيت د هغه سړي په باره کښې نازل شو چې د هغه د دعوت د پاره حضور ﷺ يو کس اوليږلو نو هغه کس اووئيل چې د الله رسول څوک؟ او الله څوک؟ آيا هغه د سرو زرو دې يا د سپينو يا د تانبې دې؟ نو هغه باندې د اسمان بجلي راپريوتله، او د هغه سر او کهوپړئي ئې والوزوله، او کافران د الله په باره کښې نبي ﷺ سره جګړې کوي، په واقع کښې هغه زبردست قوت والا دې، يا نيولو والا دې او د الله کلمه برحق ده، او هغه کلمه لا اله الا الله ده، او هغه هستيانې کومو ته چې دوي آواز کوي چې هغه بتان دي، دوي د هغوي عبادت کوي او دوي ته هيڅ جواب ورکولې نشي د هغه څيز په باره کښې کوم چې دوي غواړي، دوي ته آواز کول خو د قبوليت په باره کښې داسې دي چې څوک اوبو طرف ته لاس غزولو سره د کوهي په ژاڼې باندې اودريږي او اوبو ته اووائي چې اې اوبو تاسو د کوهي نه راوزئي څما خولې ته راشئ، حالانکه هغه اوبه به د هغه خولې ته چرې هم اونه رسيږي، دغه شان دا بتان هم ددوي اواز باندې جواب ورکولو والا نه دي، او د کافرانو د بتانو عبادت کول يا په حقيقت کښې هغوي ته اواز کول بې ضائع دي صرف يعنې غشې بې هدف دې، او هم الله دې چې د هغه د پاره د اسمانونو او زمکې هر څيز په خوشحالۍ سره لکه چې مومنان او په ناخوشحالۍ سره لکه منافقان او څوک چې د تورې په ذريعه مجبوره کړې شوي وي، او د ټولو څيزونو سورې سحر او مابنام الله ته سجده کوي اې محمد ﷺ د خپل قوم نه تپوس اوکړه چې د اسمانونو او د زمکې رب څوک دې؟ او که هغوي جواب درنکړي نو پخپله ورته اووايه چې هغه الله دې څکه چې ددې نه علاوه بل څه جواب نشته، بيا دوي ته اووايه چې کله حقيقت دادې نو آيا تاسو د الله نه غير يعنې بتانو لره مو کارساز جوړ کړې دي چې د چا عبادت کوئی کوم چې د خپلې ګټې او نقصان مالکان نه دي او تاسو د ګټې او نقصان مالک پريبنې دې؟ دا استفهام توبيخي دې، (دوي نه تپوس اوکړه) آيا ړوند او روغ يعنې کافر او مومن، او د کفر تياره او د ايمان رڼرا برابر کيدې شي نشي کيدلې، او که داسې نه وي، نو آيا دوي داسې شريکان جوړ کړې دي چې هغوي د الله په شان څه پيدا کړې وي، چې د هغې د وجې نه د شريکانو پيدا کړي څيزونه او د الله پيدا کړي څيزونه په دوي باندې مشتبه (ګډوډ) شول؟

چې د هغې د وجې نه دوی ئې مستحق د عبادت وګنړل، دا استفهام انکاری دې، یعنی خبره داسې نه ده، او د خالق حقیقی نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته، اووایه چې د ټولو څیزونو خالق صرف الله دې، په دې کښې د هغه سره څوک شریک نشته، لهذا په عبادت کښې هم د هغه شریک نشته، هغه یو دې، او خپلو بندګانو باندې غالب دې، بیا ئې د حق او د باطل مثال بیانولو سره اوفرمائیل الله تعالی د اسمان نه اوبه راوورولې، نو نالو ندی د خپل ګنجائش مناسب هغه اوبیولې، بیا دې سیلاب په اوبو باندې اوچت شوې زګ اوچت کړو، او هغه د اوبو په سر باندې راتلونکې ښځله ده، او د زمکې په دهاتونو کښې سره زر، سپین زر او تانبا چې هغه په اور کښې ګرموی، د زرو جوړولو دپاره یا د نور سازوسامان دپاره، چې د هغې نه فائده اوخستلې شی، مثلا لوښې کله چې دا ویلې کړې شی، دغه شان یعنی دسیلاب د رګونو په پشان زګونه دی او هغه خیرې دی کوم چې بهټۍ جدا کوی، د ذکر شوې مثال په شان الله تعالی د حق او باطل مثال بیانوی، د سیلاب او د ویلې شوې دهات زګ هغه ناکاره کیدو نه پس ختم شی، یعنی بیکار اوګنړلې شی او اوغوورزولې شی، او چې د څه نه خلق فائده اوچتوی، چې هغه اوبه او دهاتونه دی، نو هغه په زمکه باندې څه موده پورې ایسار وی، او حق ثابت او باقی وی، الله تعالی د مذکوره مثال په شان مثالونه بیانوی، او کومو خلقو چې د خپل رب حکم اومنلو، یعنی داطاعت په ذریعه ئې تابعداری اوکړه، دهغوی دپاره جنت دې، اوکومو خلقو چه هغوی کافران دی دهغه حکم اونه منلوکه ددوی د پاره په زمکه کښې چې څه دی دې سره دومره نور هم وی، نو هغه به د عذاب په بدله کښې ورکړی، هم دغه هغه خلق دی چې د هغوی دپاره بد حساب دې، او دا د دوی د ټولو عملونو مواخذه ده، په دې کښې به هیڅ نه معاف کیږی، او چې د چا ځائې جهنم دې نوهغه ډیر بد ځائې دې، ډیر خراب د ملاستې ځائې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: المتعال: اسم فاعل واحد مذکر غائب، (تفاعل نه) مصدر تعالی، المتعال، په اصل کښې المتعالی وو، د آخر نه یاء حذف شوه، ماده ئې علو ده، دلته ثلاثی مجرد ثلاثی مزید ته دا اوړلو مقصد په معنی کښې زیاتوالې بیانول دی، ددې معنی ده (ډیر اوچت، ډیر بزرګ، په المتعال کښې دوه قراتونه دی، یاء سره المتعالی، او بغیر د یاء نه یعنی المتعال.

قوله: سوآء منکم: الخ په دې کښې دوه ترکیبونه دی

① سواء خبر مقدم او (من اسرومن جهر، مبتدأ مؤخر.

سوال: چې مبتدأ دوه دی نو خبر به مو هم تثنیه راوړې وو، یعنی سواءان وئیل پکار وو؟

جواب: سواء چونکه مصدر په معنی د مستوِ دې، لهذا په دې کښې واحد، تثنیه، جمع

برابر دی.

۲ سواء مبتدأ، او اسر القول، الخ ددې خبر.

سوال: سواء نکره ده، ددې مبتدأ راتلل صحيح نه دی؟

جواب: د سواء صفت چونکه منکم موجود دې لهذا په دې کښې تخصيص پيدا شو، چې د هغې د وجې نه د سواء مبتدأ جوړيدل صحيح شول.

قوله: سارب، دا د سرب نه اسم فاعل دې، په معنی د (لار کښې تلونکې، په کوڅو کښې ګرځيدونکې، د سارب جمع سَرْب دې، څنګه چې د راکب جمع رکب راځی، د سارب عطف په (من هو مستخف) باندې دې نه چې په مستخف باندې.

قوله: معقبات: دا د اسم فاعل صيغه ده، او د معقبة جمع ده، (تفعيل) نه تعقيب مصدر دې، (په نمبر نمبر د شپې ورځې راتلونکې فرشتې

قوله: تعتقب: په دې کښې اشاره ده چې معقبات د اعتقب نه دې، په اصل کښې متعقبات وو، تاء ئې په قاف کښې مدغم کړه، هغه فرشتې چې په تلو راتلو کښې په يو بل پسې وی، مراد هغه فرشتې دی چې د شپې ورځې ډيوټی بدلوی.

قوله: مرد: اسم فعل، واپس کول،

قوله: من وال: (من) زائده دې، وال اسم فاعل، په اصل کښې والی وو، (ض) ياء حذف کړې شوه، مددګار، حمايتی

قوله: خوفاً وطمعاً: بعضې خلقو وئيلو دی چې دواړه د مصدريت د وجې نه منصوب دی، تقديری عبارت داسې دې لتخافوا خوفاً، ولتطمعوا طمعاً، او وئيلې شوی دی چې د يريکم د کاف نه حال دې، ای حال کونکم خائفين وطامعين، ابو البقاء وئيلې دی چې دا دواړه د خپل خپل فعلونو مفعول هم کيدې شی، (خو زمحشری انکار کړې دې) او بعضې حضراتو د البرق نه هم حال ګرځولې دی.

قوله: تسبح: په دې کښې اشاره ده چې د الملائکة عطف په الرعد باندې دې نه په قريب باندې.

قوله: بقحف: قحف کهوپړی، کاسه، سر (جمع) اقحاف، قحوف

قوله: اي كلمة: په دې کښې اشاره ده چې دعوت د (دعاء) په معنی کښې نه دې، او نه د الدعوة المجابة په معنی کښې دې.

قوله: استجابة: **سوال**: استجابة د مقدر ګرځولو څه ضرورت وو؟

جواب: دوو وجو نه، اول دا چې مستثنی د مستثنی منه د جنس نه شی، ځکه چې مستثنی متصل اصل دې او مستثنی منه (استجابة) دې کوم چې ديستجيبون نه معلوميږی، ځکه چې فعل په مصدر باندې دلالت کوی، دويم دا چې که استجابة مقدر او نه ګنړلې شی، نو

Scanned with

تشبيه العرض بالذات به لازم شي، کوم چې جائز نه دي ځکه چې استجابة عرض دې، او باسط کفيه ذات دې، د بتانو نه غوښتونکې ئې هغه سړی سره یو شان کړې دي چې اوبو ته وائي چې ته ځما خولې ته راشه، ښکاره ده چې دا بېوقوفي او کم عقلتوب دې، ځکه چې اوبه جماد دی، په دې کښې د چا د فرياد اوريدلو صلاحيت نشته، دغه شان هغه کس چې د بتانو نه مرادونه غواړی هغه هم کم عقل او بېوقوف دې، ځکه بتان هم بې حسه او جماد دی.

قوله: غدو: دغداة جمع ده، د سحرې وخت

قوله: الاصال: دااصيل جمع ده، د شپې وخت

قوله: جفاء: بروزن غراب، باطل، بې فائده، يقال، جفا الوادی والقدر، يعنی وادی، او کټوئ (هانډی) خپل زګ بهر کړو.

قوله: اجابوه بالطاعة: په دې کښې اشاره ده، چې استجابوا (استفعال) د افعال په معنی کښې دې لهذا دا اعتراض ختم شو چه دلته د طلب معنی مقصود نه ده.

قوله: الجنة: ددې اضافې سره دې خبرې طرف ته اشاره ده چې الحسنی د الجنة محذوف صفت دې، الجنة الحسنی، مبتدأ مؤخر او للذين الخ خبر مقدم دې.

[اياتونه: ۱۹ ـ ۲۶]

وَنَزَلَ فِي حَمْزَة وَأَبِي جَهْل ﴿أَفَمَنْ يَعْلَمُ أَنَّمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ الْحَقُّ﴾ فَآمَنَ بِهِ ﴿كَمَنْ هُوَ أَعْمَى﴾ لَا يَعْلَمهُ وَلَا يؤمن به لا ﴿إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ﴾ يتعظ ﴿أُولُوا الْأَلْبَابِ﴾ أَصْحَاب الْعُقُول ﴿الَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ﴾ الْمَأْخُوذ عَلَيْهِمْ وَهُمْ فِي عَالَم الذَّرّ أَوْ كُلّ عَهْد ﴿وَلَا يَنْقُضُونَ الْمِيثَاقَ﴾ بِتَرْكِ الْإِيمَان أَوْ الْفَرَائِض ﴿وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ﴾ مِنْ الْإِيمَان وَالرَّحِم وَغَيْر ذَلِك ﴿وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ﴾ أَيْ وَعِيده ﴿وَيَخَافُونَ سُوءَ الْحِسَابِ﴾ تَقَدَّمَ مثله ﴿وَالَّذِينَ صَبَرُوا﴾ عَلَى الطَّاعَة وَالْبَلَاء وَعَنْ الْمَعْصِيَة ﴿ابْتِغَاءَ﴾ طَلَب ﴿وَجْهِ رَبِّهِمْ﴾ لَا غَيْره مِنْ أَعْرَاض الدُّنْيَا ﴿وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا﴾ فِي الطَّاعَة ﴿مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ﴾ يَدْفَعُونَ ﴿بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ كَالْجَهْلِ بِالْحِلْمِ وَالْأَذَى بِالصَّبْرِ ﴿أُولَئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ﴾ أَيْ الْعَاقِبَة الْمَحْمُودَة فِي الدَّار الْآخِرَة هي ﴿جَنَّاتُ عَدْنٍ﴾ إقَامَة ﴿يَدْخُلُونَهَا﴾ هُمْ ﴿وَمَنْ صَلَحَ﴾ آمَنَ ﴿مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ﴾ وَإِنْ لَمْ يَعْمَلُوا بِعَمَلِهِمْ يَكُونُونَ فِي دَرَجَاتهمْ تَكْرِمَة لَهُمْ ﴿وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ﴾ مِنْ أَبْوَاب الْجَنَّة أَوْ الْقُصُور أَوَّل دُخُولهمْ لِلتَّهْنِئَةِ يَقُولُونَ ﴿سَلَامٌ عَلَيْكُمْ﴾ هَذَا الثَّوَاب ﴿بِمَا صَبَرْتُمْ﴾ بِصَبْرِكُمْ فِي الدُّنْيَا ﴿فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ عُقْبَاكُمْ ﴿وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مِيثَاقِهِ وَيَقْطَعُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ﴾ بِالْكُفْرِ وَالْمَعَاصِي ﴿أُولَئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ﴾ الْبُعْد مِنْ رَحْمَة اللَّه ﴿وَلَهُمْ سُوءُ الدَّارِ﴾ الْعَاقِبَة السَّيِّئَة فِي الدَّار الْآخِرَة وَهِيَ جهنم ﴿اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ﴾ يُوَسِّعهُ ﴿لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ﴾ يُضَيِّقهُ لِمَنْ يَشَاء ﴿وَفَرِحُوا﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة فَرَح بَطَر ﴿بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ أَيْ بِمَا نَالُوهُ فِيهَا ﴿وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا فِي﴾ جَنْب حَيَاة ﴿الْآخِرَةِ إِلَّا مَتَاعٌ﴾ شَيْء قَلِيل يُتَمَتَّع بِهِ ويذهب

Scanned with

ترجمه: او دا راروان آیت د (حضرت) حمزه او ابوجهل په باره کښې نازل شو **آیا هغه کس چې دا علم لري چې تاته ستا د رب د طرف نه څه نازل شوی دی هغه په حقه دی** او په هغې باندې ایمان هم راوړي **د هغه کس پشان کیدې شي څوک چې ړوند وی؟** چې نه دا پیژني او نه په دې یقین ساتي؟ **نه نصیحت خو هغه خلق قبلوی کوم چې عقلمند وی چې د الله وعده پورا کوی،** کومه چې د دوی نه هغه وخت اخستلې شوې وه چې کله دوی د عالم ذر یعنی د میږو په شکل کښې وو، یا مطلقا هره وعده نه ماتوی او هغوی د ایمان یا فرائض پریښودلو سره وعده نه ماتوی **او څوک چې یوزئی کوی هغه څه چې د هغې د یوزئی کولو چې الله حکم کړې دې** او هغه چې د کوم حکم ئې ورکړې دې هغه ایمان راوړل دی او صله رحمی کول دی وغیره وغیره **او د خپل رب نه ویریږی** یعنی د هغه د وعید نه **او د بد حساب نه ویریږی** دغه شان آیت مخکښې تیر شوې دې **او هغوی د خپل رب د رضامندئ غوښتلو د پاره** نه چې د دنیا د څه مطلب د پاره طاعت باندې او مصیبت باندې، او د ګناه نه لرې اوسیدلو باندې **صبر کوی او مونځونو لره برابر ادا کوی، او څه چې مونږ هغوی ته ورکړې دی د هغې نه** په تابعدارئی سره **په پټه او په ښکاره خرچ کوی، او بدئ لره په نیکئ سره لرې کوی،** مثلا جهالت لره په بردبادئ او تکلیف لره په صبر سره. **هم دغه دی د چا د پاره چې د آخرت کور دې.** یعنی په آخرت کښې ښه انجام هغه جنت دې، **چې په هغې کښې به دوی** اوسیږی **چرته چې به دوی پخپله هم ځی، او ددوی مور پلار او ښځې او بچی چا چې ایمان راوړې دې هغوی به هم ځی،** اګر چې هغوی به ددوی پشان عمل کړې نه وی هغوی به هم ددوی په درجو کښې وی او دا به د اکرام په توګه سره وی، **او فرشتې به دوی ته د جنت د هرې دورازې طرف نه راځی،** یا به د محفلو د هرې دروازې نه راځی، د فرشتو اول ځل راتلل به د مبارکئ د پاره وی او وائی به **په تاسو دې سلامتیا وی** دا اجر او ثواب **تاسو ته د هغه صبر په بدله کښې میلاؤ شوې دې** کوم چې تاسو په دنیا کښې کړې وو **څومره ښه بدله ده.** ستاسو د پاره **د آخرت د کور، او کوم خلق چې د الله وعده د کلکوالی نه پس ماتوی، او د کوم څیز الله د یوځاې کولو حکم کړې دې هغه پریکوی** او د کفر او ګناه د وجه **نه په زمکه کښې فساد کوی دا هغه خلق دی چې په دوی باندې لعنت دې** یعنی د الله د رحمت نه لرې دی **او دوی د پاره خراب کور دې،** یعنی په آخرت کښې ددوی دپاره خراب انجام دې او هغه جهنم دې **الله چې چاته روزی اوغواړی ئې زیاته کړی** او چا ته چې **اوغواړی کمه ئې کړی** او **اهل مکه خو د دنیا په زندګئ کښې پریوتلو سره مست شول** یعنی په هغې باندې کوم چې دوی ته د دنیا په زندګئ کښې حاصل شو **او ددنیا زندګی** د آخرت د زندګئ په مقابله کښې ډیره لږه ذخیره ده، د هغې نه فائده اخلی، او بیا دې پریږدی رخصت شي.

Scanned with

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: افمن يعلم: همزه په فعل محذوف باندې داخله ده، او فاء عاطفه ده، تقديري عبارت داسې دي ايستوى المؤمن والكافر فمن يعلم: الخ

قوله: لا: په دې كښې اشاره ده چې استفهام انكارى په معنى د نفى كښې دې.

قوله: اولئك لهم عقبى الدار: دا جمله د الذين صبروا مبتدأ خبر دې.

قوله: هي: په دې كښې اشاره ده چې جنت عدن د مبتدأ محذوف خبر دې نه چې د عقبى الدار نه خبر، څنګه چې بعضې خلقو وئيلې وو.

قوله: يدخلونها، هم

سوال: هم مقدر ګنړلو څه ضرورت راغلو؟

جواب: چې د (من صلح) عطف د يدخلونها په ضمير باندې صحيح شي، ځکه چې په ضمير مرفوع متصل باندې د عطف د پاره د ضمير منفصل په ذريعې سره تاكيد راوړل ضروري دي،

قوله: يقولون ئې مقدر اوګنړلو چې كلام مربوط او په ترتيب شي.

قوله: بما قالوا فيها: يعنى د دنيا زندګى خو هر چا ته حاصله ده په نفس زندګئ باندې مستبدل مراد نه دى، بلكه د دنيا په زندګئ كښې چې څه هم دوى ته حاصل وى په هغې باندې فخر او غرور كول مراد دى.

[اياتونه: ۲۷ - ۳۱]

{وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا} مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ {لَوْلَا} هَلَّا {أُنْزِلَ عَلَيْهِ} عَلَى مُحَمَّدٍ {آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ} كَالْعَصَا وَالْيَدِ وَالنَّاقَةِ {قُلْ} لَهُمْ {إِنَّ اللَّهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ} إِضْلَالَه فَلَا تُغْنِي عَنْهُ الْآيَاتُ شَيْئًا {وَيَهْدِي} يُرْشِدُ {إِلَيْهِ} إِلَى دِينِه {مَنْ أَنَابَ} رَجَعَ إِلَيْهِ وَيُبْدَلُ مِنْ من {الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ} تَسْكُنُ {قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ} أَيْ وَعْده {أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ} أَيْ قُلُوبُ الْمُؤْمِنِينَ {الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ} مبتدأ خَبَره {طُوبَى} مَصْدَر مِنَ الطِّيبِ أَوْ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ مَا يَقْطَعُهَا {لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ} مَرْجِعٍ {كَذَلِكَ} كَمَا أَرْسَلْنَا الْأَنْبِيَاءَ قَبْلَكَ {أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ} تَقْرَأَ {عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ} أَيِ الْقُرْآنَ {وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ} حَيْثُ قَالُوا لَمَّا أُمِرُوا بِالسُّجُودِ لَهُ وَمَا الرَّحْمَنُ {قُلْ} لَهُمْ يَا مُحَمَّدُ {هُوَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ} وَنَزَلَ لَمَّا قَالُوا لَهُ إِنْ كُنْتَ نَبِيًّا فَسَيِّرْ عَنَّا جِبَالَ مَكَّةَ وَاجْعَلْ لَنَا فِيهَا أَنْهَارًا وَعُيُونًا لِنَغْرِسَ وَنَزْرَعَ وَابْعَثْ لَنَا آبَاءَنَا الْمَوْتَى يُكَلِّمُونَا أَنَّكَ نَبِيٌّ {وَلَوْ أَنَّ قُرْآنًا سُيِّرَتْ بِهِ الْجِبَالُ} نُقِلَتْ عَنْ أَمَاكِنِهَا {أَوْ قُطِّعَتْ} شُقِّقَتْ {بِهِ الْأَرْضُ أَوْ كُلِّمَ بِهِ الْمَوْتَى} بِأَنْ يَحْيَوْا لَمَا آمَنُوا {بَلْ لِلَّهِ الْأَمْرُ جَمِيعًا} لَا لِغَيْرِهِ فَلَا يُؤْمِنُ إِلَّا مَنْ شَاءَ إِيمَانَهُ دُونَ غَيْرِه إِنْ أُوتُوا مَا اقْتَرَحُوا وَنَزَلَ لَمَّا أَرَادَ الصَّحَابَةُ إِظْهَارَ مَا

اقْتَرَحُوا طَمَعًا فِي إِيمَانِهِمْ ﴿أَفَلَمْ يَيْأَس﴾ يَعْلَم ﴿الَّذِينَ آمَنُوا أَنْ﴾ مُخَفَّفَة أَيْ أَنَّهُ ﴿لَوْ يَشَاءُ اللّٰهُ لَهَدَى النَّاس جَمِيعًا﴾ إِلَى الْإِيمَان مِنْ غَيْر آيَة ﴿وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ مِنْ أَهْل مَكَّة ﴿تُصِيبُهُمْ بِمَا صَنَعُوا﴾ بِصُنْعِهِمْ أَيْ كُفْرهمْ ﴿قَارِعَة﴾ دَاهِيَة تَقْرَعهُمْ بِصُنُوفِ الْبَلَاء مِنَ الْقَتْل وَالْأَسْر وَالْحَرْب وَالْجَدْب ﴿أَوْ تَحُلّ﴾ يَا مُحَمَّد بِجَيْشِك ﴿قَرِيبًا مِنْ دَارِهِمْ﴾ مَكَّة ﴿حَتَّى يَأْتِيَ وَعْدُ اللّٰه﴾ بِالنَّصْرِ عَلَيْهِمْ ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَاد﴾ وَقَدْ حَلَّ بِالْحُدَيْبِيَةِ حَتَّى أَتَى فَتْح مَكَّة

ترجمه: او د اهل مکه نه کافران وائی چې محمد ﷺ باندې د هغه د رب د طرف نه څه نخښه معجزه، همسا ید بیضا، او د صالح علیه السلام د اوښې پشان ولې نازل نه شول، دوی ته اووایه چې الله څوک گمراه کول اوغواړی نو بې لارې ئې کړی نښې او معجزې ورته څه فائده نه ورکوی او څوک چې هغه طرف ته رجوع اوکړی نو هغه د خپل دین طرف ته لار ښاودنه کوی او د (من) نه الذین امنوا، بدل دې، کومو خلقو چې ایمان راوړلو د هغوی زړونه د الله په ذکر یعنی د هغه د وعدو نه اطمینان حاصلوی، یاد ساتئ چې د الله د ذکر نه د منومنانو زړونو ته تسلی رسی، کومو خلقو چې ایمان راوړو او نیک عملونه ئې اوکړل د هغوی د پاره خوشحالی ده، اوبهترین ځائې دې، الذین آمنوا مبتدأ ده، او (طوبی) ددې خبر دې، (طوبی) د الطیب نه مصدر دې یا په جنت کښې داسې اونه ده چې په اس باندې سور کس په هغې باندې په سوونو کالونه ځی خو بیا به هم د هغې مسافت ختم نه کړی، یعنی څنګه چې مونږ ستا نه مخکښې پیغمبران راولیږل، دغه شان مونږ ته په یو داسې امت کښې راولیږلې ئې چې د هغې نه مخکښې ډیر امتونه تیر شوې دی، چې تاسو دوی ته قرآن اولولې کوم چې مونږ د وحی په ذریعه تاسو ته رالیږلې دې، دوی د رحمن نه انکار کونکی دی څکه چې کله دوی ته اووئیلې شول چې رحمن ته سجده اوکړئ نو دوی اووئیل چې رحمن څه څیز دې؟ ته ورته اووایه چې څما پروردگار هم هغه دې د هغه نه سوا بل معبود نشته، په هغه باندې څما بهروسه ده او هم هغه ته څما واپس کیدل دی، او دا راتلونکې آیت هغه وخت نازل شو چې کله کافرانو نبی ﷺ ته اووئیل که چرې ته پیغمبر یې نو د مکې غرونه ددې ځائې نه لرې کړه، او زمونږ د پاره په مکه کښې نهرونه او ولې جاری کړه چې مونږ اونې اوکړوو او پټی جوړ کړو، او زمونږ مړه پلار نیکیا ن ژوندی کړه چې هغوی مونږ ته اووائی چې ته د الله نبی ﷺ ئې او که فرض که داسې یو قرآن وو چې د هغې په ذریعې سره غرونه د خپل ځائې نه لرې کولې شوې یا د زمکې ټکړې ټکړې کیدې شوې یا د هغې په ذریعه سره د مړو سره خبرې کیدې شوې په داسې طریقه چې هغوی به ژوندی کولې شو، نو بیا به هم دوی ایمان راوړې نه وو بلکه پورا اختیا ر هم الله لره دې، نه چې بل چا لره، نو بیا به هم چا ایمان راوړې نه وو، خو هغه کس د چا ایمان چې الله غوښتلو نه چې بل چا، اګرچې ددوی د خوښې نښې اوښودلې شی، او راتلونکې آیت هغه وخت نازل شو چې کله صحابه کرامو د اهل مکه والو د ایمان په

خواهش کښې د غوښتونکو ننبو د ښکاره کولو تمنا اوکړه، نو آيا ايمان والا په دې خبره نه پوهيږي چې خبره داده چې که الله غوښتله نو بغير د ننبو نه ئې ټولو خلقو ته د ايمان هدايت ورکړې وو، او کافرانو ته به يعنى اهل مکه ته به د هغوى د کارونو د وجه يعنى د کفر په وجه داسې مصيبتونه ورسيږي چې دوى به پازابوى، لکه قتل، قيد، جنګ او قحط، اې محمد ﷺ ته به خپل لښکر سره مکې ته نزدې په حديبيه کښې نزول کوئې تر دې چې ددوى خلاف د الله د نصرت وعده راورسيږي يقينا الله د خپلې وعدې خلاف ورزى نه کوى، او نبى عليه السلام په حديبيه کښې نزول اوفرمائيلو تردې چې مکه فتح شوله.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: هلا: د لولا تفسير ئې په هلا سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې دلته لولا تحضيضيه دې،

قوله: ويبدل مِن مَن: يعنى (من اناب) نه واخله تر د الذين آمنوا الخ پورې جمله بدل الکل دې.

قوله: الذين آمنو: د ترکيب په لحاظ سره پنځه صورتونه کيدې شى

① الذين آمنوا مبتدأ او روستو راتلونکې (الذين آمنوا) جمله ددې خبر، او په مينځ کښې وتطمئن قلوبهم بذكر الله جمله معترضه

② الذين آمنوا، د (من اناب) نه بدل الکل

③ الذين آمنوا د (من) عطف بيان دې.

④ د مبتدأ محذوف خبر وى، اى هم الذين آمنوا،

⑤ فعل محذوف د وجه نه منصوب وى، اى امدح الذين آمنوا

قوله: اي وعده: د (ذکر الله) تفسير په وعده سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې دلته عام ذکر دې او خاص ترې مراد دې ګنى ذکر الله په وعده او وعيد دواړو ته شامل شوې وو، او وعيد سره زړونو د مطمئن کيدو په ځاې پريشانه کيږى، مفسر علام په (اى وعده) سره دې سوال طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: طوبى: خوبى، خوشحالى، د جنت د اونې نوم، علامه آلوسى طوبى د طاب يطيب مصدر ګرځولې دې، لکه بشرى، زلفى، او ياء ساکن په ماقبل کښې د ضمې د وجه په واؤ سره بدله ده، په اصل کښې طيبى وو،

قوله: فسيرعنا: اى سير بقرائتك عنا جبال مكة

قوله: شققت: يعنى د نبى عليه السلام د قراءت د وجه نه به زمکه اوشليده او ددې نه به چينې او نهرونه جارى شوې وو، او بعضو وئيلې دى، چې د قطعت مطلب دې، د قرآن

په ذريعه سره طی الارض، يعنى په تيزئى سره په ان فن کښې مزل کول.

قوله: لما آمنوا: دا د ﴿لو﴾ جواب دې کوم چې محذوف دې.

قوله: لا بغيرة: په دې کښې اشاره ده، چې لله الامر جميعا، اصل عبارت دې الامر جميعا لله، جار مجرور د اختصاص د وجې مقدم کړې شو، چې هغه مصنف علام په ﴿لا بغيره﴾ وئيلو سره ښکاره کړه.

قوله: يعلم: د ﴿ييئس﴾ تفسير ئې په ﴿يعلم﴾ سره کړې دې، يعنى ﴿لم ييئسوا﴾ تفسير په ﴿لم يعلموا﴾ سره په لغت د بنونخع يا د هوازن مطابق دې. او يا د ﴿ياس﴾ د علم معنې لره د متضمن کيدو د وجه کړې دې، ځکه چې کوم سړې خفا وی هغه ته پته وی چې دا کار کيدو والا نه دې.

قوله: بصنعهم: د ما صنعوا تفسير په ﴿بصنعهم﴾ سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې ﴿ما﴾ مصدريه ده، نه چې موصوله، لهذا د عدم عائد اعتراض به نه وی.

قوله: الداهية: الامر العظيم.

[اياتونه: ۳۲ ـ ۳۷]

﴿وَلَقَدْ اُسْتُهْزِءَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِك﴾ كَمَا اُسْتُهْزِئَ بِك وَهَذَا تَسْلِيَة لِلنَّبِيّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿فَأَمْلَيْت﴾ أَمْهَلْت ﴿لِلَّذِينَ كَفَرُوا ثُمَّ أَخَذْتهمْ﴾ بِالْعُقُوبَةِ ﴿فَكَيْفَ كَانَ عِقَاب﴾ أَيْ هُوَ وَاقِع مَوْقِعه فَكَذَلِكَ أَفْعَل بِمَنْ اسْتَهْزَأَ بِك ﴿أَفَمَنْ هُوَ قَائِم﴾ رَقِيب ﴿عَلَى كُلّ نَفْس بِمَا كَسَبَتْ﴾ عَمِلَتْ مِنْ خَيْر وَشَرّ وَهُوَ اللّٰه كَمَنْ لَيْسَ كَذَلِكَ مِنْ الْأَصْنَام لَا دل عَلَى هَذَا ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاء قُلْ سَمُّوهُمْ﴾ لَهُ مَنْ هُمْ ﴿أَمْ﴾ بَلْ أَ ﴿تُنَبِّئُونَهُ﴾ تُخْبِرُونَ اللّٰه ﴿بِمَا﴾ أَيْ بِشَرِيكٍ ﴿لَا يَعْلَم﴾ هُ ﴿فِي الْأَرْض﴾ اسْتِفْهَام إنْكَار أَيْ لَا شَرِيك لَهُ إذْ لَوْ كَانَ لَعَلِمَهُ تَعَالَى عَنْ ذَلِك ﴿أَمْ﴾ بَلْ تُسَمُّونَهُمْ شُرَكَاء ﴿بِظَاهِرٍ مِنْ الْقَوْل﴾ بِظَنٍّ بَاطِل لَا حَقِيقَة لَهُ فِي الباطن ﴿بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا مَكْرهمْ﴾ كُفْرهمْ ﴿وَصُدُّوا عن السبيل﴾ طريق الهدى ﴿ومن يضلل الله فما له من هاد﴾ ﴿لَهُمْ عَذَاب فِي الْحَيَاة الدُّنْيَا﴾ بِالْقَتْلِ وَالْأَسْر ﴿وَلَعَذَاب الْآخِرَة أَشَقّ﴾ أَشَدّ مِنْهُ ﴿وَمَا لَهُمْ مِنْ اللّٰه﴾ أَيْ عَذَابه ﴿مِنْ وَاقٍ﴾ مَانِع ﴿مَثَل﴾ صِفَة ﴿الْجَنَّة الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ﴾ مبتدا خبره محذوف اي فيما نقص عليكم ﴿تجرى من تحتها الأنهار أُكُلهَا﴾ مَا يُؤْكَل فِيهَا ﴿دَائِم﴾ لا يفنى ﴿وَظِلّهَا﴾ دَائِم لَا تَنْسَخهُ شَمْس لِعَدَمِهَا فِيهَا ﴿تِلْكَ﴾ أَيْ الْجَنَّة ﴿عُقْبَى﴾ عَاقِبَة ﴿الَّذِينَ اتَّقَوْا﴾ الشرك ﴿وعقبى الكافرين النار﴾ ﴿وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمْ الْكِتَاب﴾ كَعَبْدِ اللّٰه بن سَلَام وَغَيْره مِنْ مُؤْمِنِي الْيَهُود ﴿يَفْرَحُونَ بِمَا أُنْزِلَ إلَيْك﴾ لِمُوَافَقَتِهِ مَا عِنْدهمْ ﴿وَمِنْ الْأَحْزَاب﴾ الَّذِينَ تَحَزَّبُوا عَلَيْك بِالْمُعَادَاةِ مِنْ الْمُشْرِكِينَ وَالْيَهُود ﴿مَنْ يُنْكِر بَعْضه﴾ كَذِكْرِ الرَّحْمَن وَمَا عَدَا الْقَصَص ﴿قُلْ إنَّمَا أُمِرْت﴾ فِيمَا أُنْزِلَ إلَيَّ ﴿أَنْ﴾ أَيْ بِأَنْ ﴿أَعْبُد اللّٰه وَلَا أُشْرِك بِهِ إلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآب﴾ مَرْجِعِي ﴿وَكَذَلِكَ﴾ الْإِنْزَال ﴿أَنْزَلْنَاهُ﴾ أَيْ الْقُرْآن ﴿حُكْمًا عَرَبِيًّا﴾ بِلُغَةِ الْعَرَب تَحْكُم بِهِ بَيْن النَّاس ﴿وَلَئِنْ اتَّبَعْت أَهْوَاءَهُمْ﴾ أَيْ الْكُفَّار

Scanned with

لِمَا يَدْعُوْنَكَ اِلَيْهِ مِن مِلّتِهِم فرضا ﴿بَعْدَ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ﴾ بِالتَّوْحِيْدِ ﴿مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ﴾ زَائِدَة ﴿وَلِيّ﴾ نَاصِر ﴿وَّلَا وَاقٍ﴾ مَانِع مِنْ عَذَابِه

ترجمه: يقينا ستا نه مخکښې هم په رسولانو پسې، توقې شوې دي، څنګه چې تا پسې توقې کيږي، او دا نبي ﷺ ته تسلي ده، نو ما کافرانو ته مهلت ورکړو، بيا ما هغوی لره په سزا کښې اونيول، نو څما عذاب څنګه وو، يعنی هغه په خپل ځائې باندې واقع شو، زه به هر هغه کس سره داسې کوم څوک چې تا پورې توقې کوي آيا هغه ذات چې د هر ساه اغستونکې د ښه او بد ئې نګران دې او هغه الله دې، نو هغه د هغه چا پشان کيدې شي کوم چې داسې نه دی، چې هغه بتان دی، په دې (حذف د جواب) باندې وجعلوا لله. الخ دلالت کوي، ته دوی ته اووايه چې تاسو د هغوی نومونه خو واخلئ، هغه څوک دی؟ بلکه تاسو الله ته د هغه د شريک خبر ورکوئې، کوم چې هغه په زمکه کښې نه پيژني، استفهام انکاری دې يعنی د هغه څوک شريک نشته، ځکه چې که شريک وو نو هغه به د هغه په علم کښې وو، الله تعالی د دې نه اوچت دې، يا تاسو هسې دا خبره په باطل ګمان سره کړې ده، چې په واقع کښې ددې څه حقيقت نشته، بلکه حقيقت دادې چې د کافرانو د پاره د هغوی مکر (کفر) خائسته کړې شوې دې او دوی د لار د هدايت نه منع کړې شوې دی، او الله چې څوک ګمراه کړي هغه ته څوک هدايت ورکونکې نشته، د دوی د پاره په دنياوی ژوند کښې د قتل او د قيد عذاب دې، او د آخرت عذاب خو ددې نه زيات سخت دې، او دوی لره د الله د عذاب نه څوک بچ کونکې نشته، د هغه جنت صفت د کوم چې د نيکانو خلقو سره وعده کړې شوې ده، الجنة التی، الخ مبتدأ ده، ددې خبر محذوف دې، او هغه فيما نقص عليکم دې، په هغې به کښې نهرونه جاری وي، د هغې ميوې به هميشه وي، يعنی د جنت خوراکونه به هميشه وي، هغه به چرې ختم نه شي. او د هغې سورې به هم هميشه وي، هغه به نمر ختمولې نشي، ځکه چې په جنت کښې نمر نشته، دا د هغه خلقو به انجام وي چې د شرک نه ئې ځان ساتلې وي، او د کافرانو به انجام دوزخ وي او هغه خلق چاته چې مونږ کتاب ورکړې دې، لکه عبدالله بن سلام د يهوديانو د مومنانو نه وو هغوی ددې نه خوشحاليږي کوم چې ستا طرف ته نازليږلی، د هغه څيز مطابق کيدو د وجه کوم چې دوی سره دی، او د يهودو او مشرکانو ډله ولې چې د دشمنئ د وجه يو محاذ جوړ کړو په تا باندې ئې په يو ځائې حمله وکړه، د قرآن چې د بعضو خبرو انکار کوي او د قصو نه علاوه د احکامو انکار کوي، تاسو په ښکاره اووئې، چې کوم څيز په ما باندې نازل شوې دې ما ته خو په دې کښې حکم شوې هغې چې زه صرف د الله عبادت اوکړم او هغه سره څوک شريک جوړ نه کړم، زه هم د هغه طرف ته بلنه کوم او د هغه طرف ته څما ځائې دې، او دغه شان مونږ قرآن د عربئ فرمان جوړولو سره په عربئ ژبه کښې نازل کړو، چې ته ددې په ذريعه د خلقو په مينځ کښې فيصله اوکړې، او که تا لره د توحيد علم راتلو نه پس تا د کافرانو د خواهشاتو فرض کړه

که په هغه خبرو کښې د کومو چې دوی تاته دعوت درکوی، تابعداری دې اوکړه، نو د الله د طرف نه به نه ستا مددګاروی او نه به د هغه د عذاب نه څوک بچ کونکې وی. (من) زائده دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: كيف كان عقاب: اى على اى حالة كان عقابى؟ هل كان ظلما لهم او كان عدلا؟ يعنى ځما عذاب د ظلم وو يا د انصاف؟ ددې جواب شارح ﷫ د خپل قول (هو واقع موقعه) سره ورکړې دې.

قوله: كمن ليس كذلك: دا د (افمن هو قائم) مبتدأ خبر محذوف دې، قرينې د مقابلې د وجې، چونکه د خبر حذف مفهوم دې، ځکه د کلام د بې فائدې کیدو اعتراض نشته.

قوله: دل على هذا: يعنى په ذکر شوې باندې (جعلوا لله شركاء) دلالت کوی، او د مذکو ر نه مراد استفهام انکاری کیدل او په خبر محذوف باندې دلالت کول، يعنى جعلوا لله، دواړه خبرو باندې دلالت کوی.

قوله: مثل الجنة التى وعد المتقون: دا جمله مبتدأ، ددې خبر محذوف دې، او هغه فيما نقص عليكم دې، تجرى من تحتها الانهر، د ضمير محذوف نه حال دې، تقديرى عبارت دا دې، مثل الجنة التى وعدها المتقون تجرى من تحتها الانهار،

قوله: اكلها دائم وظلها دائم: دادواړه جملې هم مبتدأ خبر حال دې، او ظلها، د مبتدأ خبر دائم، د ماقبل د قرينې د وجه نه محذوف دې،

قوله: ما يؤكل فيها:

سوال: د اكلها تفسير په (مايؤكل) سره د څه مقصد د پاره کړې دې؟

جواب: ددې مقصد د دوۀ اعتراضونو جواب کول دی.

(۱) که اکلها مصدر اوګڼلې شی نو د دائم حمل په دې باندې صحیح نه دې، او که اکل په معنى د ماکول واخلې نو ماکول خو د خوړلو نه پس ختم شی، لهذا د دوام دلته هیڅ معنى نشته.

(۲) د اکل نه مراد ما من شانه ان يوكل، په دې تفسير سره دواړه اعتراضونه ختم شول.

قوله: فيها: په دې کښې اشاره ده چې په اكلها کښې اضافت په معنى د (فى) دې او دا اسناد مجازى دې، په دې کښې علاقه د ظرفيت ده.

قوله: حكما عربيا: دا دواړه د انزلناه د ضمير يعنى د قرآن نه حال دې، حالانکه د حکما او عربيا په قرآن باندې حمل صحیح نه دې.

جواب: حاصل دادې چې حکما مصدر په معنى د مفعول يعنى ما يحكم به بين الناس.

Scanned with

[اياتونه: ۳۸ ـ ۴۳]

وَنَزَلَ لَمَّا عَيَّرُوهُ بِكَثْرَةِ النِّسَاءِ ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً﴾ أَوْلَادًا وَأَنْتَ مِثْلُهُمْ ﴿وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ﴾ مِنْهُمْ ﴿أَنْ يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ لِأَنَّهُمْ عَبِيدٌ مَرْبُوبُونَ ﴿لِكُلِّ أَجَلٍ﴾ مُدَّةٍ ﴿كِتَابٌ﴾ مَكْتُوبٌ فيه تحديده ﴿يَمْحُو اللَّهُ﴾ مِنْهُ ﴿مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ﴾ بِالتَّخْفِيفِ وَالتَّشْدِيدِ فِيهِ مَا يَشَاءُ مِنَ الْأَحْكَامِ وَغَيْرِهَا ﴿وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتَابِ﴾ أصله الَّذِي لَا يَتَغَيَّرُ مِنْهُ شَيْءٌ وَهُوَ مَا كَتَبَهُ فِي الْأَزَلِ ﴿وَإِمَّا﴾ فِيهِ إِدْغَامُ نُونِ إِنْ الشَّرْطِيَّةِ فِي مَا الْمَزِيدَةِ ﴿نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ﴾ بِهِ مِنَ الْعَذَابِ فِي حَيَاتِكَ وَجَوَابُ الشَّرْطِ مَحْذُوفٌ أَيْ فَذَاكَ ﴿أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ﴾ قَبْلَ تَعْذِيبِهِمْ ﴿فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ﴾ مَا عَلَيْكَ إِلَّا التَّبْلِيغُ ﴿وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ﴾ إِذَا صَارُوا إِلَيْنَا فنجازيهم ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا﴾ أَيْ أَهْلُ مَكَّةَ ﴿أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ﴾ نَقْصِدُ أَرْضَهُمْ ﴿نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا﴾ بِالْفَتْحِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَاللَّهُ يَحْكُمُ﴾ فِي خَلْقِهِ بِمَا يَشَاءُ ﴿لَا مُعَقِّبَ﴾ لا راد ﴿لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ ﴿وَقَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ مِنَ الْأُمَمِ بِأَنْبِيَائِهِمْ كَمَا مَكَرُوا بِكَ ﴿فَلِلَّهِ الْمَكْرُ جَمِيعًا﴾ وَلَيْسَ مَكْرُهُمْ كَمَكْرِهِ لِأَنَّهُ تَعَالَى ﴿يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ﴾ فَيُعِدُّ لَهَا جَزَاءَهُ وَهَذَا هُوَ الْمَكْرُ كُلُّهُ لِأَنَّهُ يَأْتِيهِمْ بِهِ مِنْ حَيْثُ لا يشعرون ﴿وَسَيَعْلَمُ الْكَافِرُ﴾ الْمُرَادُ بِهِ الْجِنْسُ وَفِي قِرَاءَةٍ الْكُفَّارُ ﴿لِمَنْ عُقْبَى الدَّارِ﴾ أَيِ الْعَاقِبَةُ الْمَحْمُودَةُ فِي الدَّارِ الْآخِرَةِ أَلَهُمْ أَمْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وسلم واصحابه ﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ لَكَ ﴿لَسْتَ مُرْسَلًا قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿كَفَى بِاللَّهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ﴾ عَلَى صِدْقِي ﴿وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ﴾ مِنْ مُؤْمِنِي اليهود والنصارى

ترجمه: دا راتلونکې آيت هغه وخت نازل شو چې کله هغوی (کافرانو) نبی ﷺ ته په زياتو ودونو کولو باندې طعنه ورکړه مونږ ستا نه مخکښې هم رسولان ليږلي وو مونږ په هغې کښې هر يو د ښځو بچو والا جوړ کړې وو، او تاسو ﷺ هم د هغوی پشان يئ، په هغې کښې د يو رسول دا طاقت نه وو چې هغه د الله د اجازت نه بغير څه معجزه راوړی، ځکه چې هغه تربيت يافته بندګان دی، د هر يو دور د پاره يو کتاب دې، او هغه هم دغه دور د پاره محدود دې، الله چې کوم څيز غواړی د هغې نې نه ختموی او چې کوم احکام وغيره غواړی باقی ئې ساتی، ام الکتاب (اصل) هم د هغه سره دې، اصل کتاب چې په هغې کښې څه تبديلی نه کوی، او هغه هم هغه دې کوم چې هغه په ازل کښې ليکلې دی، او چې د کوم عذاب د دهمکيانو مونږ وعده کړې ده، (اما) کښې د (ان) شرطيه په ما زائده کښې ادغام دې، په هغې کښې بعضې مونږ تا ته اوښايو، يعنی ستا په زندګئ کښې په هغوی باندې عذاب راشی، او جواب شرط محذوف دې، ای فذاک، يعنی داسې هم کيدې شی، يا هغوی ته د عذاب ورکولو نه مخکښې مونږ تا وفات کړو، ستا په ذمه باندې خو صرف رسول دی او بس، يعنی په تا باندې د تبليغ نه علاوه بل څه ذمه داری نشته، او زمونږ په ذمه د هغوی حساب دې، چې کله مونږ له

راشی نو مونږ به هغوی له بدله ورکړو، آیا اهل مکه نه ګوري چې مونږ نبی ﷺ ته فتح ورکولو سره زمکه دهغې د طرفونو نه راغونډوو، او الله چې په مخلوق کښې څه غواړي حکم ئې کوی، څوک د هغه حکم روستو کونکې نشته، هغه زر حساب اخستونکې دې ددوی نه مخکښې امتونو هم خپلو پیغمبرانو سره چالونه کړې وو څنګه چې تاسره چالونه کوی، خو ټول تدبیرونه الله لره دی، او د دوی تدبیر د هغه د تدبیر پشان نه دې، ځکه چې الله تعالی ته د هر ساه والا په باره کښې علم دې، چې دې به څه کوی لهذا د هغه د پاره بدله تیاره ساتی او هم دغه دهغه مکمل تدبیر دې ځکه چې هغه دا داسې پکار راوړی چې دوی ته احساس هم نه وی، او کافرانو ته به ډیر زر معلومه شی، او د کافر نه مراد جنس کافر مراد دې، او په یو قراءت کښې د کافر په ځائې کفار دې، چې کور د آخرت د چا د پاره دې، یعنی په کور د آخرت کښې بهترین انجام د چا د پاره دې، ددوی یا د نبی ﷺ او د هغه د صحابه کرامو؟ د چا د پاره دې، ددوی یا د نبی ﷺ او د هغه د صحابه کرامو. کافران وائی چې ته د الله رسول نه یې، ته دوی ته اووایه چې ځما او ستا په مینځ کښې ځما په رشتنوالی باندې الله ګواه په اعتبار سره کافی دې، او هغه څوک چې چا سره د کتاب علم دې، او هغه د یهودو او نصاری مومنان دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: فذاك: مبتدأ ده، او «شافیک» ددې خبر محذوف دې، مبتدأ د خبر جمله، او بیا د «اما» جواب شرط شو.

قوله: نتوفینك: هم په شرط سابق باندې معطوف کیدو د وجې شرط دې، ددې هم جواب محذوف دې، او هغه «فلا تقصیر منک» دې، «فانما علیک» دې محذوف علت دې، کیدې شی چې مفسر علام د شرط ثانی د جواب د حذف ته په اول باندې اعتماد کولو سره یا په علت باندې اعتماد کولو اشاره اونکړه، په خلاف د اول شرط د جواب، چې د هغې علت بیان نه کړې شو.

قوله: المراد به الجنس:

سوال: دا د دې سوال جواب دې چې په الکافر کښې الف لام د عهد اغستلو څه قرینه نشته، ځکه چې یو مخصوص متیقن کافر مراد نه دې، نه مطلقا یو کافر مراد دې، نو بیا د کافر مفرد راوړلو څه مقصد دې؟

جواب: ددې سوال جواب دادې چې په الکافر کښې الف لام جنسی دې، کوم چې د جمع په معنی باندې مشتمل دې، فلا اعتراض.

Scanned with

[١٤] سورة ابراهيم

سورة ابراهيم مكية الا الم تر الي الذين بدلوا نعمة الله الايتين احدي او ثنتان او اربع او خمس خمسون اية

سورة ابراهيم مکی دي، مګر ألم تر إلى الذين..الخ، دوه آيتونه، په دې کښې ۵۱، ۵۲، ۵۳، ۵۴ آيتونه دي.

[اياتونه: ۱ ـ ٦]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿الٓر﴾ الله اعلم بمراده بذلك هذا القرآن ﴿كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ﴾ الْكُفْر ﴿إِلَى النُّورِ﴾ الْإِيمَان ﴿بِإِذْنِ﴾ بِأَمْرِ ﴿رَبِّهِمْ﴾ وَيُبْدَل مِنْ إِلَى النُّور ﴿إِلَىٰ صِرَاطِ﴾ طَرِيق ﴿الْعَزِيزِ﴾ الْغَالِب ﴿الْحَمِيدِ﴾ الْمَحْمُود ﴿اللَّهِ﴾ بِالْجَرِّ بَدَل أَوْ عَطْف بَيَان وَمَا بَعْده صِفَة وَالرَّفْع مبتدأ خَبَره ﴿الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ﴾ مُلْكًا وخلقا وعبيدا ﴿وويل للكافرين من عذاب شديد﴾ ﴿الَّذِينَ﴾ نَعْت ﴿يَسْتَحِبُّونَ﴾ يَخْتَارُونَ ﴿الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ﴾ النَّاس ﴿عَن سَبِيلِ اللَّهِ﴾ دِين الْإِسْلَام ﴿وَيَبْغُونَهَا﴾ أَيْ السَّبِيل ﴿عِوَجًا﴾ مُعْوَجَّة ﴿أُولَٰئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ﴾ عَنِ الْحَقّ ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ﴾ بِلُغَةِ ﴿قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ﴾ لِيُفَهِّمهُمْ مَا أَتَى بِهِ ﴿فَيُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ﴾ فِي مُلْكه ﴿الْحَكِيمُ﴾ فِي صُنْعه ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا﴾ التِّسْع وَقُلْنَا لَهُ ﴿أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ﴾ بَنِي إِسْرَائِيل ﴿مِنَ الظُّلُمَاتِ﴾ الْكُفْر ﴿إِلَى النُّورِ﴾ الْإِيمَان ﴿وَذَكِّرْهُم بِأَيَّامِ اللَّهِ﴾ بِنِعَمِهِ ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾ التَّذْكِير ﴿لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ﴾ عَلَى الطَّاعَة ﴿شَكُورٍ﴾ لِلنِّعَمِ ﴿وَ﴾ اُذْكُرْ ﴿إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَاءَكُمْ﴾ الْمَوْلُودِينَ ﴿وَيَسْتَحْيُونَ﴾ يَسْتَبْقُونَ ﴿نِسَاءَكُمْ﴾ لِقَوْلِ بَعْض الْكَهَنَة إِنَّ مَوْلُودًا يُولَد فِي بَنِي إِسْرَائِيل يَكُون سَبَب ذَهَاب مُلْك فِرْعَوْن ﴿وَفِي ذَٰلِكُم﴾ الْإِنْجَاء أَوْ الْعَذَاب ﴿بَلَاءٌ﴾ إِنْعَام أَوْ ابْتِلَاء ﴿مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ﴾

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم سره چې ډير مهربانه ډير رحم والا دې، الر الله د دې نه خپل مراد خه پيژني. دا قرآن کتاب عظيم الشان دي، اې محمد ﷺ دا مونږ په تا نازل کړو چې خلقو لره د کفر د تيارو نه د هغوی د رب په حکم سره د ايمان رڼړا طرف ته راوباسې او الى النور نه الى العزيز بدل دې، يعنی غالب او د تعريف قابل دې، د الله لارې طرف ته (راولې)، لفظ د الله جر د العزيز نه بدل يا عطف کيدو د وجې دې، او ما بعد يعنی الذى له، الخ د الله صفت دې، او د الله د رفع په صورت کښې لفظ الله به مبتدأ وی او الذى له به د دې خبر وی، هغه الله چې په آسمانونو او زمکه کښې چې څه دی ټول د الله دی، د ملک، تخليق او د مملوک په اعتبار سره، او د کافرانو د پاره خو د سخت عذاب د وجې هلاکت او بربادې ده څوک چې د دنيا ژوند د آخرت په مقابله کښې خوښوی، الذين د الكافرين صفت دې، او خلقو لره د الله د لارې نه يعنی دين اسلام نه منع کوی، او په دې لاره کښې کوږوالې راوباسی، دا خلق د لرې درجې په ګمراهئ کښې

Scanned with

دی، يعنی د حق نه لرې دی، مونږ هر نبی لره د هغه په قومی ژبه کښې ليږلی دی، چې هغه څه راوړې دی هغوی پر پوهه کړی، اوس چې الله څوک گمراه کول اوغواړی گمراه ئې کړی، او چاته چې اوغواړی هدايت نصيب کړی ورته، هغه په خپل بادشاهئ کښې غلبې والا او په خپل کارونو کښې حکمت والا دې، او دا کار واقعی دې چې مونږ موسی علیه السلام د نهه معجزو سره راليږلې وو او دوی ته مو دا اووئيل چې خپل قوم بنی اسرائيلو لره د کفر د تيارو نه د ايمان رڼرا طرف ته راوباسئ، او هغوی ته د الله نعمتونه ورياد کړئ، بې شکه دې يادولو کښې په طاعاتو باندې صبر کولو والو او په نعمتونو باندې شکر کولو والو د پاره نښې دی، او د هغه وخت ذکر چې کله موسی علیه السلام خپل قوم ته اووئيل تاسو په خپل ځان باندې د الله نعمتونه ياد کړئ چې کله ئې تاسو له د قوم د فرعون نه نجات درکړو، هغوی تاسو ته سخت تکليف رسولو، او ستاسو ماشومان هلکان ئې قتلول، او ستاسو ښځو لره به ئې ژوندئ پريښودلې، او په دې نجات يا عذاب کښې زمونږ د رب د طرف نه لوئې انعام يا لوئې امتحان وو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: هذا القرآن: په دې تقدير کښې اشاره ده چې کتاب انزلناه د مبتدأ محذوف خبر دې، نه چې کتاب مبتدأ او انزلناه ددې خبر، ځکه چې کتاب نکره محضه ده، چې د هغې مبتدأ ء راتلل صحيح نه دی.

قوله: ويبدل من الى النور: الى صراط العزيز د الى النور نه د عامل د اعادې سره بدل دې.

قوله: بالجر بدل اوعطف: بيان يعنی لفظ الله د العزيز نه بدل دې، يا عطف بيان دې.

سوال: لفظ لله علم دې او العزيز صفت دې، د علم د صفت نه بدل واقع کيدل صحيح نه دی؟

جواب: العزيز د صفت مختصه کيدو د وجه په منزله د علم دې، لهذا د لفظ د الله ددې نه بدل واقع کيدل صحيح دی.

قاعده معروفه: صفت د معرفې که په موصوف باندې مقدم وی نو د صفت اعراب به حسب عامل راځی، او موصوف بدل يا عطف بيان واقع کيږی، اصل عبارت داسې دې، الی صراط الله العزيز الذی له ما فی السموات وما فی الارض، د لفظ الله درې صفات دی، په دې کښې دوه مقدم دی، او يو مؤخر، العزيز او الحميد مقدم دی، او الذی له ما فی السموات الخ مؤخر دې.

ددې معروفې قاعدې په اعتبار سره لفظ الله، د العزيز نه بدل يا عطف بيان واقع شوې دې، دويم صورت په لفظ الله کښې د رفع دې، په دې لفظ الله مبتدأ او الذی له مافی السموات الخ ددې خبر به وی.

قوله: نعت: يعني الذين يستحبون، الخ جمله د للكافرين د پاره صفت د وجه محلا مجرور ده، او بعضې حضراتو وئيلي دي چې دمبتدأ كيدو د وجه محلا مرفوع ده، او اولئك في ضلال بعيد ددې خبر دې.

قوله: بنعمته: ايام الله، نه نعمت مراد داسې دې چې دا د ظرف ذكر كولو سره د مظروف مراد اخستلو دقبيلې نه دې، نعمتونه او انعامات چونكه په ورځو كښې حاصليږي څكه ورځې وئيلو سره انعامات او احسانات مراد اخستې دي.

قوله: يستبقون: د يستحبون تفسير په يستبقون سره كولو كښې ئې اشاره اوكړه چې د يستحبون معنى موضوع له مراد نه ده، بلكه لازم معنى مراد ده.

[اياتونه: ۷ ـ ۱۲]

﴿وَإِذْ تَأَذَّنَ﴾ أَعْلَمَ ﴿رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ﴾ نِعْمَتِي بِالتَّوْحِيدِ وَالطَّاعَةِ ﴿لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ﴾ جَحَدْتُمُ النِّعْمَةَ بِالْكُفْرِ وَالْمَعْصِيَةِ لَأُعَذِّبَنَّكُمْ دَلَّ عَلَيْهِ ﴿إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ﴾ ﴿وَقَالَ مُوسَى﴾ لِقَوْمِهِ ﴿إِنْ تَكْفُرُوا أَنْتُمْ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ﴾ عَنْ خَلْقِهِ ﴿حَمِيدٌ﴾ مَحْمُودٌ فِي صُنْعِهِ بِهِمْ ﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ﴾ اسْتِفْهَامُ تَقْرِيرٍ ﴿نَبَأُ﴾ خَبَرُ ﴿الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ﴾ قَوْمِ هُودٍ ﴿وَثَمُودَ﴾ قَوْمِ صَالِحٍ ﴿وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللَّهُ﴾ لِكَثْرَتِهِمْ ﴿جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ﴾ بِالْحُجَجِ الْوَاضِحَةِ عَلَى صِدْقِهِمْ ﴿فَرَدُّوا﴾ أَيِ الْأُمَمُ ﴿أَيْدِيَهُمْ فِي أَفْوَاهِهِمْ﴾ أَيْ إِلَيْهَا لِيَعَضُّوا عَلَيْهَا مِنْ شِدَّةِ الْغَيْظِ ﴿وَقَالُوا إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُمْ بِهِ﴾ فِي زَعْمِكُمْ ﴿وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ مُرِيبٍ﴾ مُوقِعٍ فِي الرِّيبَةِ ﴿قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِي اللَّهِ شَكٌّ﴾ اسْتِفْهَامُ إِنْكَارٍ أَيْ لَا شَكَّ فِي تَوْحِيدِهِ لِلدَّلَائِلِ الظَّاهِرَةِ عَلَيْهِ ﴿فَاطِرِ﴾ خَالِقِ ﴿السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَدْعُوكُمْ﴾ إِلَى طَاعَتِهِ ﴿لِيَغْفِرَ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ﴾ مِنْ زَائِدَةٌ فَإِنَّ الْإِسْلَامَ يُغْفَرُ بِهِ مَا قَبْلَهُ أَوْ تَبْعِيضِيَّةٌ لِإِخْرَاجِ حُقُوقِ الْعِبَادِ ﴿وَيُؤَخِّرَكُمْ﴾ بِلَا عَذَابٍ ﴿إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى﴾ أَجَلِ الْمَوْتِ ﴿قَالُوا إِنْ﴾ مَا ﴿أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا تُرِيدُونَ أَنْ تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا﴾ مِنَ الْأَصْنَامِ ﴿فَأْتُونَا بِسُلْطَانٍ مُبِينٍ﴾ حُجَّةٍ ظَاهِرَةٍ عَلَى صِدْقِكُمْ ﴿قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِنْ﴾ مَا ﴿نَحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ﴾ كَمَا قُلْتُمْ ﴿وَلَكِنَّ اللَّهَ يَمُنُّ عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ بِالنُّبُوَّةِ ﴿وَمَا كَانَ﴾ مَا يَنْبَغِي ﴿لَنَا أَنْ نَأْتِيَكُمْ بِسُلْطَانٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ﴾ بِأَمْرِهِ لِأَنَّنَا عَبِيدٌ مَرْبُوبُونَ ﴿وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ يَثِقُوا بِهِ ﴿وما لنا أ﴾ نْ ﴿لَا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللَّهِ﴾ أَيْ لَا مَانِعَ لَنَا مِنْ ذَلِكَ ﴿وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَى مَا آذَيْتُمُونَا﴾ عَلَى أَذَاكُمْ ﴿وعلى الله فليتوكل المتوكلون﴾

ترجمه: او چې كله ستاسو رب تاسو خبرادار كړئ چې كه چرې تاسو د توحيد او د تابعدارئ په ذريعه ځما د نعمتونو شكر وكړو نو ځه به بې شكه تاسو ته ډير دركړم، او كه تاسو كفر او د گناه په ذريعه ځما د نعمتونو ناشكري وكړه نو ځه به تاسو ته خامخا عذاب دركړم (لاعذبنكم) جواب محذوف باندې (ان عذابي لشديد) دلالت كوي يقينا ځما عذاب ډير سخت دې، او موسى

عليه‌السلام خپل قوم ته اوویل که چرې تاسو او په مخ د زمکې ټول خلقو ناشکري اوکړی نو بیا هم الله د مخلوق نه بې نیازه دې او په خپل کارونو کښې د ستاینې لائق دې آیا تاسو لره استفهام تقریري دې ستاسو نه د مخکښې خلقو یعنی قوم نوح او د عاد یعني قوم هود او د قوم ثمود یعنی قوم صالح او د هغه خلقو چې کوم د دوی نه پس وو، خبرونه راغلې نه دی؟ چې د هغې د تعداد د هغوی د زیاتوالی د وجه نه د الله نه سوا بل چا ته پته نشته، او دوی ته د دوی رسولانو په خپل صداقت باندې ښکاره دلیلونه راوړل نو دې امتونو خپل لاسونه په سخته سره د غصې د وجې نه د چک لګولو (کټ کولو) د پاره په خپله خوله کښې ورکړل او وئې وئیل چې په ستاسو په خیال چې تاسو کوم څیز سره رالیږلې شوی یې مونږ د هغې نه انکار کونکی یو، او مونږ د هغه څیز په باره کښې د کوم چې تاسو دعوت راکوې په شک کښې پریوتونکی یو، د هغوی رسولانو هغوی ته اوویل آیا تاسو د الله تعالی په باره کښې په شک کښې یئ؟ استفهام انکاري دې، په توحید باندې واضحه دلائل موجودیدو د وجې، د هغه په توحید کښې د څه شک ځائې نشته، هغه د اسمانونو او د زمکو پیدا کونکی دې، هغه تاسو خپل تابعدارئی طرف ته رابلی چې تاسو ته ستاسو ګناه معاف کړی، م‍ـ(من) زائد دې، او دا واقعی خبره ده چې د اسلام د وجه د اسلام نه مخکښې ګناه معاف کیږی، یا (من) تبعیضیه دې د حقوق العباد بهر کولو د پاره، او دا چې یو مقرر وخت پورې تاسو ته مهلت درکړی یعنی مرګ پورې هغوی اوویل چې تاسو خو زمونږ په شان انسانان یئ تاسو غواړئ چې مونږ د هغه معبودانو (بتانو) نه منع کړئی د چا عبادت چې زمونږ پلار نیکه کولو، خا نو زمونږ په مخکښې په خپل رشتنوالی باندې یو ښکاره دلیل پیش کړئ، هغه پیغمبرانو دوی ته اوویل دا رشتیا ده چې مونږ ستاسو په شان انسانان یو څنګه چې تاسو اووئیل، خو الله چې په خپلو بندګانو باندې په چا اوغواړی نبوت ورکولو سره پرې خپل فضل اوکړی، او زمونږ جرات نشته، چې مونږ د الله د حکم نه بغیر تاسو ته څه معجزه راوړو او اوښایو، خکه چې مونږ تربیت یافته بندګان یو او ایمان والو له صرف په الله باندې بهروسه کول پکار دی، آخر څه وجه ده چې مونږ په الله باندې بهروسه اونکړو، یعنی زمونږ د پاره د دې نه څه منع کونکې نشته، حالانکه هغه خو مونږ ته لارې اوخودلې والله چې کوم تکلیفونه تاسو مونږ ته راکوئی مونږ به خامخا په هغې باندې صبر کوو، یعنی ستاسو په تکلیفونو باندې د بهروسه کونکو د پاره هم دغه مناسبه ده، چې په الله باندې بهروسه اوکړی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اعلم: د (تاذن) تفسیر په (اعلم) سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې تاذن باب تفعل د خپل خاصیت په اعتبار سره په تکلف باندې دلالت کوی، کوم چې د شان باری مناسب نه دې، لهذا تاذن په معنی د اذن دې.

قوله: لاعذبنکم: دا د شرط جزا ده کومه چې محذوفه ده، نه چې ان عذابی لشدید، لهذا د

﴿ان عذابی﴾ په شرط باندې د عدم ترتیب اعتراض ختم شو، او په حذف د جواب باندې ﴿ان عذابی لشدید﴾ دلالت کوی.

قوله: اي اليها: په دې کښې اشاره ده چې فی په معنی د ﴿الی﴾ دې د ﴿ایدیهم﴾ او ﴿افواههم﴾ د دواړو ضمیرونه کفار طرف ته راجع دی، یعنی کافرانو د سختې غصې نه خپل لاسو نه په خولو کښې نیولې وواو د تفسیر د عضوا علیکم الانامل من الغیظ مطابق دې، او بعضو د ثانی هم ضمیر ﴿رسل﴾ طرف ته راجع کړې دې مطلب ئې دا بیان کړې دې چې د امت خلقو خپل لاسونه د رسولانو په خولو باندې کیخودل، چې رشتیا خبره اونکړې شی، خو دا خبره د ظاهر نه خلاف ده

قوله: بزعمکم: دا ددې سوال جواب دې چې

سوال: د بما ارسلتم نه معلومیږی چې کافران د ما جاء به الرسل منونکې وو، حالانکه حقیقت داسې نه دې؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې مونږ ته خو ستا رسول کیدل منظور نه دی خو ستا په خبره هم منلو ته تیار نه یو.

قوله: لاشك فی توحیده: د یو شبهې جواب دې،

شبه داده چې د همزه انکاری حق دادې چې شک په ﴿مظروف﴾ باندې داخل وی نه چې ظرف باندې، او دلته په لفظ د الله باندې داخل دې، کوم چې ظرف دې،

جواب: د جواب حاصل دادې چې خبره په شک کښې نه ده، بلکه خبره په مشکوک کښې ده، فتدبر،

[ایاتونه: ۱۳ _ ۲۱]

﴿وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ﴾ لَتَصِيرُنَّ ﴿فِي مِلَّتِنَا﴾ دِينِنَا ﴿فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ﴾ أَرْضَهُمْ ﴿مِن بَعْدِهِمْ﴾ بَعْدَ هَلَاكِهِمْ ﴿ذَٰلِكَ﴾ النَّصْر وَإِيرَاث الْأَرْض ﴿لِمَنْ خَافَ مَقَامِي﴾ أَيْ مَقَامه بَيْن يَدَيَّ ﴿وَخَافَ وَعِيدِ﴾ بِالْعَذَابِ ﴿وَاسْتَفْتَحُوا﴾ اسْتَنْصَرَ الرُّسُل بِاللَّهِ عَلَى قَوْمهمْ ﴿وَخَابَ﴾ خَسِرَ ﴿كُلُّ جَبَّارٍ﴾ مُتَكَبِّر عَنْ طَاعَة اللَّه ﴿عَنِيدٍ﴾ مُعَانِد لِلْحَقِّ ﴿مِّن وَرَائِهِ﴾ أَيْ أَمَامه ﴿جَهَنَّمُ﴾ يَدْخُلهَا ﴿وَيُسْقَىٰ﴾ فِيهَا ﴿مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ﴾ هُوَ مَا يَسِيل مِنْ جَوْف أَهْل النَّار مُخْتَلِطًا بِالْقَيْحِ وَالدَّم ﴿يَتَجَرَّعُهُ﴾ يَبْتَلِعهُ مَرَّة بَعْد مَرَّة لِمَرَارَتِهِ ﴿وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُ﴾ يَزْدَرِدُهُ لِقُبْحِهِ وَكَرَاهَته ﴿وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ﴾ أَيْ أَسْبَابه الْمُقْتَضِيَة لَهُ مِنْ أَنْوَاع الْعَذَاب ﴿مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن وَرَائِهِ﴾ بَعْد ذَلِكَ الْعَذَاب ﴿عَذَابٌ غَلِيظٌ﴾ قَوِيّ مُتَّصِل ﴿مَّثَلُ﴾ صِفَة ﴿الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ﴾ مبتدأ وَيُبْدَل مِنْهُ ﴿أَعْمَالُهُمْ﴾ الصَّالِحَة كَصِلَةٍ وَصَدَقَة فِي عَدَم الِانْتِفَاع بِهَا ﴿كَرَمَادٍ اشْتَدَّتْ بِهِ الرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍ﴾ شَدِيد هُبُوب الرِّيح فَجَعَلَتْهُ

هَبَاء مَنْثُورًا لَا يَقْدِر عَلَيْهِ وَالْمَجْرُور خَبَر الْمبتدأ ﴿لَا يَقْدِرُونَ﴾ أَيْ الْكُفَّار ﴿مِمَّا كَسَبُوا﴾ عَمِلُوا فِي الدُّنْيَا ﴿عَلَى شَيْءٍ﴾ أَيْ لَا يَجِدُونَ لَهُ ثَوَابًا لِعَدَمِ شَرْطه ﴿ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ﴾ الهلاك ﴿البعيد﴾ ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ تَنْظُر يَا مُخَاطَب اسْتِفْهَام تَقْرِير ﴿أن الله خلق السماوات وَالْأَرْض بِالْحَقِّ﴾ مُتَعَلِّق بِخَلَقَ ﴿إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ﴾ أَيُّهَا النَّاس ﴿وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ﴾ بَدَلكُمْ ﴿وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾ شَدِيد ﴿وَبَرَزُوا﴾ أَيْ الْخَلَائِق وَالتَّعْبِير فِيهِ وَفِيمَا بَعْده بِالْمَاضِي لتحقيق وُقُوعه ﴿لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ﴾ الْأَتْبَاع ﴿لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا﴾ الْمَتْبُوعِينَ ﴿إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا﴾ جَمْع تَابِع ﴿فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ﴾ دَافِعُونَ ﴿عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ﴾ مِنْ الْأُولَى لِلتَّبْيِينِ وَالثَّانِيَة لِلتَّبْعِيضِ ﴿قَالُوا﴾ الْمَتْبُوعُونَ ﴿لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ﴾ لَدَعَوْنَاكُمْ إِلَى الْهُدَى ﴿سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ﴾ زَائِدَة ﴿مَحِيصٍ﴾ ملجا

ترجمه: او کافرانو خپل رسولانو ته اوویل چې مونږ په خامخا تاسو د خپل ملک نه اوباسو مګر دا چې تاسو زمونږ په مذهب کښې داخل شئ نو د هغوی پروردګار د هغوی طرف ته وحی رالیږله چې مونږ به دې ظالمانو کافرانو لره تباه کړو، او ددوی د هلاکت نه پس به تاسو په دې زمکه باندې اوسیدونکی جوړ کړو دا مدد او د زمکې وارثان کیدل د هغه چا د پاره دی څوک ثې مخا مخې ته د اودریدو نه ویریږی، او زما د عذاب د وعید ویره ساتی، او رسولانو د خپل قوم په مقابله کښې د الله نه مدد اوغوښتلو او د الله د اطاعت په مقابله کښې هر سرکشی کونکی ضدی د حق دشمن نامراد شو، د هغه مخکښې جهنم دې، چې په هغې کښې دې به داخلیږی هلته به پرې د پیپ اوبه څکلولې شی، او هغه داسې اوبه دی چې د جهنمیانو د زخمونه نه به راوځی، او چې کوم به د وینې او دپیپ ملاوټ وی. چې هغه به دوی مجبورا څکی یعنی د هغې د تریخ والی د وجه نه به لګ لګ څکی، او د هغې د قبیح والی او ناخوښوالی د وجه به هغه تیرولې نشی، او ده ته به د هر طرف نه مرګ راځی، یعنی د مرګ اسباب کوم چې د مرګ غوښتونکې دی د مختلف قسم عذابونو نه خو دوی به مړه کیږی نه، او دې عذاب نه پس یو نه ختم کیدونکې سخت عذاب به وی، او د خپل رب سره کفر کولو والا خلقو اعمال صالحه یعنی صله رحمی، او د صدقې مثال، ددې نه فائده نه اوچتولو کښې، (الذین کفرو) مبتدأ (مبدل منه) او اعمالهم بدل دې. د هغه ایرې پشان دې په کومه چې تیزه هوا چلیدلې وی، او هغه یې الوزېدلې دوړو پشان کړې وی چې د هغې په اجر حاصلولو باندې قادر نه وی، (یعنی د خپلو نیکو عملونو اجر موندلو باندې به قادر نه وی) او مجرور (کرماد) د مبتدأ خبر دې. او کوم چې دوی په دنیا کښې عملونه (صالح) اوکړل، آیا کافران به په دې باندې یعنی ددې اجر موندلو باندې د هغې شرط نه موندلو په وجه قادر نه وی، دغه د لرې ګمراهی هلاکت دې، اې مخاطب! آیا تا اونه کتل استفهام تقریری دې چې واقعی خبره دا ده چې الله زمکو او آسمانونو لره په مقصد سره پیدا کړې دی، بالحق، د خلق متعلق دې، که هغه اوغواړی نو تاسو

Scanned with

تول به ختم کړي، او ستاسو په ځائې به يو نوې مخلوق پيدا کړي او دا د هغه د پاره څه مشکله خبره نه ده، او ټول مخلوق به د قيامت په ورځ د الله مخامخ :کيږي او تعبير دلته او مخکښې د صيغه ماضي په ذريعه د يقيني واقع کيدلو د وجې دې دغه وخت به کمزورې خلق يعنى تابعين به مشرانو ته يعنى د چا چې اتباع کړې شوې وي وائي، چې مونږ خو ستاسو تابعدار وو تبع د تابع جمع ده، نو آيا تاسو د الله د عذاب نه مونږ نه څه لرې کولې شئ، رومبی (من) د تبيين د پاره دې، او دويم د تبعيض د پاره دې، مخدومين به جواب ورکړي که الله مونږ ته هدايت نصيب کړې وو نو مونږ به هم ستاسو رهنمائي کړې وه، يعنى مونږ به تاسو ته هدايت طرف ته دعوت درکړې وو، اوس که مونږ چغې وهو يا صبر کوو، دواړه زمونږ د پاره برابر دي، اوس زمونږ د پاره يو د پناه ځائې نشته، (من) زائده دې.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله:لتصيرن: مفسر علام د (لتعودن) تفسير په لتصيرن سره کولو کښې د يو سوال جواب ورکړې دې

سوال: سوال دادې چې د عود د پاره اول په هغه حالت باندې کيدل ضروري دي، د کوم نه چې عود کيږي، ددې مطلب دا شو چې انبياء(عليهم السلام) مخکښې د خپل امت په دين باندې وو، روستو به د هغې پريښودلو سره په دين حق باندې راتلل، حالانکه واقعي خبره داسې نه ده، نبيان(عليهم السلام) به هميشه به دين حق باندې وي؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې (لتعودن) د (تصيرن) په معنى دې، يعنى تاسو زمونږ په دين باندې شئ.

قوله:بعد هلاکهم: دې کښې د مضاف حذف کولو طرف ته اشاره ده.

قوله:يدخلها: يدخلها محذوف ګڼړلو سره اشاره ئې اوکړه چې د (يسقى) عطف په محذوف باندې دې، چې عطف فعل على الاسم لازم رانشي.

قوله:فيها:

سوال: د فيها مقدر ګڼړلو څه فائده ده؟

جواب: چې کله معطوف جمله واقع شي نو په هغې کښې د عائد راوړل ضروري وي کوم چې معطوف عليه طرف ته راجع وي.

قوله:يزدرده: الازدراد، په آسانئ او په سهولت سره يو څيز حلق ته بوتلل.

قوله:اسبابه المقتضية للموت: په دې کښې اشاره ده، چې په جهنم کښې به مرګ نه وي، څکه چې د مرګ د پاره خو يو سبب کافي وي، او بيا چې دير اسباب موجود وي او بيا هم مرګ رانشي، نو دا د مرګ د نه راتللو دليل دې.

Scanned with

قوله: ويبدل منه: دا د يو سوال جواب دې.

سوال: د مبتدأ او د خبر په مينځ كښې د (اعمالهم) فصل بالاجنبى لازميږى كوم چې صحيح نه دې؟

جواب: دا فصل اجنبى نه دې، بلكه هغه د مبتدأ نه بدل دې، او بدل د مبدل منه نه اجنبى نه وى.

قوله: في يوم عاصف: د عاصف يوم طرف ته اسناد د مجاز په طور سره دې، او يوم عاصف، نهاره صائم، وليله صائم، د قبيلې نه دې.

قوله: من الاولى للتبيين: يعنى (من) د مابعد واقع كيدونكى څيز د بيان د پاره دې، او بيان چې هغه د الله عذاب دې، مبين يعنى په څيز باندې مقدم دې، تقديرى عبارت دا دې هل انتم مغنون عنا بعض الشئ هو بعض عذاب الله.

[اياتونه: ۲۲ _ ۲۷]

{وَقَالَ الشَّيْطَانُ} إبْلِيس {لَمَّا قُضِيَ الْأَمْرُ} وَأُدْخِلَ أَهْل الْجَنَّة الْجَنَّة وَأَهْل النَّار النَّار وَاجْتَمَعُوا عَلَيْهِ {إِنَّ اللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ} بِالْبَعْثِ وَالْجَزَاء فَصَدَقَكُمْ {وَوَعَدْتُكُمْ} أَنَّهُ غَيْر كَائِن {فَأَخْلَفْتُكُمْ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ} زَائِدَة {سُلْطَانٍ} قُوَّة وَقُدْرَة أَقْهَركُمْ عَلَى مُتَابَعَتِي {إِلَّا} لَكِنْ {أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي فَلَا تَلُومُونِي وَلُومُوا أَنْفُسَكُمْ} عَلَى إجَابَتِي {مَا أَنَا بِمُصْرِخِكُمْ} بِمُغِيثِكُمْ {وَمَا أَنْتُمْ بِمُصْرِخِيَّ} بِفَتْحِ الْيَاء وَكَسْرهَا {إِنِّي كَفَرْتُ بِمَا أَشْرَكْتُمُونِ} بِإِشْرَاكِكُمْ إيَّايَ مَعَ اللَّه {مِنْ قَبْلُ} فِي الدنيا قال تعالى {إِنَّ الظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ {لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم {وَأُدْخِلَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ} حَال مُقَدَّرَة {فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا} مِنَ اللَّه وَمِنَ الملائكة وفيما بينهم {سَلَامٌ} {أَلَمْ تَرَ} تنظر {كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا} وَيُبْدَل مِنْهُ {كَلِمَةً طَيِّبَةً} أَيْ لَا إلَه إلَّا اللَّه {كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ} هِيَ النَّخْلَة {أَصْلُهَا ثَابِتٌ} في الأرض {وَفَرْعُهَا} غصنها {فِي السَّمَاءِ} {تُؤْتِي} تُعْطِي {أُكُلَهَا} ثَمَرهَا {كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا} بِإِرَادَتِهِ كَذَلِكَ كَلِمَة الْإِيمَان ثَابِتَة فِي قَلْب الْمُؤْمِن وَعَمَله يَصْعَد إلَى السَّمَاء وَيَنَالهُ بَرَكَته وَثَوَابه كُلّ وَقْت {وَيَضْرِبُ} يُبَيِّن {اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ فَيُؤْمِنُونَ {وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ} هِيَ كَلِمَة الْكُفْر {كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ} هِيَ الْحَنْظَل {اجْتُثَّتْ} اُسْتُؤْصِلَتْ {مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ} مُسْتَقَرّ وَثَبَات كَذَلِكَ كَلِمَة الْكُفْر لَا ثَبَات لَهَا وَلَا فَرْع وَلَا بَرَكَة {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ} هِيَ كَلِمَة التَّوْحِيد {فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ} أَيْ فِي الْقَبْر لَمَّا يَسْأَلهُمْ الْمَلَكَانِ عَنْ رَبّهمْ وَدِينهمْ وَنَبِيّهمْ فَيُجِيبُونَ بِالصَّوَابِ كَمَا فِي حَدِيث الشَّيْخَيْنِ {وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ} الْكُفَّار فَلَا يَهْتَدُونَ لِلْجَوَابِ بِالصَّوَابِ بَلْ يَقُولُونَ لَا نَدْرِي كَمَا فِي الْحَدِيث {وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ}

ترجمه: او چې كله فيصله اوكړې شى، او دوزخيان دوزخ ته، او جنتيان جنت ته داخل كړې

Scanned with

شی، نو دوزخیان به شیطان سره جمع شی، نو ابلیس به هغوی ته اووئی چې حقیقت دادې چې الله چه د بعث او د بدلې څومره وعدې کړې وې هغه ټولې رشتیا وې او ما چې تاسو سره کومه وعده کړې وه، چې بعث وغیره هیڅ نشته، ما هغه پورا نه کړه، یعنی د هغې دروغ کیدل ښکاره شول، او ځما خو په تاسو باندې څه زور زبردستی نه وه، چې د هغې په ذریعه به ما تاسو په خپل عبادت مجبوروئ، البته دومره خبره ده چې ما تاسو ته دعوت درکړې وو، نو تاسو ځما په خبره باندې لبیک اووئیلو، لهذا اوس تاسو ځما په دعوت باندې لبیک وئیلو سره ما ملامت کوئی مه، بلکه خپل ځان ملامته کړئ، ځه نه ستاسو فریاد اوریدې شم او نه تاسو ځما، مصرخی، د یاء فتحې او کسرې سره دې، ددې نه مخکښې په دنیا کښې تاسو چې ځه د خدائی شریک جوړوم ځه د هغې نه بری الذمه یم، الله تعالی اوفرمائیل د داسې ظالمانو د پاره دردناک عذاب یقیني دې، په خلاف د هغه خلقو چې ایمان ئې راوړې دې هغوی به داسې باغونو ته داخل کړې شی، چې په هغې کښې به نهرونه بهیږی، چه په هغې کښې به دوی د خپل رب په اجازت سره همیشه اوسیږی، په دې کښې به ددوی د په پاره د الله د طرف نه او د فرشتو د طرف نه او خپلو کښې هم د سلامتئ مبارکی به وی، خالدین د جنت نه حال مقدره دې، آیا تاسو نه گورئی چې الله تعالی د کلمې طیبې د کوم څیز سره مثال ورکړې دې؟ یعنی لا اله الا الله، او کلمه طیبه د مثلا نه بدل دې، ددې مثال داسې دې چې د ښه نسل اونه وی، او هغه د کهجور اونه ده، چې د هغې جرړې په زمکه کښې لاندې انختې وی، او د هغې څانگې د اسمانه پورې ختلې وی، په هر وخت کښې د خپل رب په حکم او ارادې سره میوې ورکوی، د ایمان د کلمې مثال داسې دې چې د مومن په زړه کښې کلمه انختې وی او د هغه عمل آسمان طرف ته خیژی، او مومن د خپل عمل ثواب او برکت هر وخت مومی. دا مثالونه الله تعالی ځکه ورکوی چې خلق ددې نه نصیحت سبق حاصل کړی، او ایمان راوړی او د خبیثې کلمې مثال چې هغه د کفر کلمه ده د خراب نسل د اونې پشان دې او هغه د حنظل اونه ده، چې هغه د زمکې د سطحې نه د جرړو نه اوخکلې شی، او د هغې د پاره څه مضبوطیا نشته، کلمه د کفر داسې ده چې د هغې د پاره نه مضبوطیا شته او نه د هغې څانگې او نه برکت، ایمان والو د پاره الله د یو قول ثابت په بنیاد باندې چې هغه کلمهٔ توحید ده، په دنیا او آخرت یعنی د قبر په ژوند کښې ثبات ورنصیب کوی، چې کله دوه فرشتې د الله، د هغه نبی ﷺ او د دین په باره کښې سوال اوکړی، نو هغه به صحیح جواب ورکړی، ځنگه چې د شیخینو حدیث دې، او د ظالمانو لره کافرانو لره الله گمراه کوی چې د هغې د وجې نه هغوی صحیح جواب نه ورکوی، بلکه هغوی وائی «ها ها لا ندری» هائې افسوس چې مونږ ته پته نه لگی، ځنگه چې په حدیث کښې راغلی دی، او الله ته اختیار دې چې څه غواړی کوی.

......

Scanned with

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: وعد الحق، أي وعدا من حقه أن ينجز: يعنى داسې وعده چې د هغې حق دادې چې هغه پوره كړې شي، او اضافت إلى الصفت هم كرځولې شي، إلى الوعد الحق.

قوله: لكن: په دې كښې اشاره ده چې الا أن دعوتكم، دعوتكم مستثنى منقطع ده، ځكه چې دعاء د سلطان د جنس نه، نه ده.

قوله: بالفتح: يعنى په (مصرخى) كښې ياء باندې د فتحې اوكسرې دواړه صورتونه دې، فتحه د تخفيف د پاره ده، او كسره د اصل مطابق، مصرخ، اسمْ فاعل مذكر، فرياد رسى كونكې (فرياد اوريدونكى)، (افعال) اصراخ د اضدادو نه دې، ددې معنى فرياد رسى كولو والا، او فرياد خواه، فرياد اوريدونكى (مدد كونكې).

قوله: حال مقدرة: يعنى مقدرين خلودهم، خالدين د جنت نه حال دې، د جنت وجود مقدم دې او جنت ته به داخليدل روستو كيږي، معلومه شوه چې د حال او ذو الحال زمانه يوه نه ده، حالانكه يوه كيدل ضروري دي، جواب دا دې چې حال مقدره دې، اى مقدرين خلودهم.

قوله: تعطى: په دې كښې اشاره ده چې (تؤتى) د ايتاء نه دې، نه چې د اتيان نه.

قوله: اجتثت: هغه راوخكلې شو، ماضى مجهول واحد مؤنث غائب، مصدر اجتثاث، (افتعال)

[اياتونه: ٢٨ _ ٣٤]

﴿أَلَمْ تَرَ﴾ تنظر ﴿إِلَى الَّذِينَ بَدَّلُوا نِعْمَةَ اللَّهِ﴾ أي شكرها ﴿كُفْرًا﴾ هم كفار قريش ﴿وَأَحَلُّوا﴾ أنزلوا ﴿قَوْمَهُمْ﴾ بإضلالهم إياهم ﴿دَارَ الْبَوَارِ﴾ الهلاك ﴿جَهَنَّمَ﴾ عطف بيان ﴿يَصْلَوْنَهَا﴾ يدخلونها ﴿وَبِئْسَ الْقَرَارُ﴾ المقر هي ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا﴾ شركاء ﴿لِيُضِلُّوا﴾ بفتح الياء وضمها ﴿عَنْ سَبِيلِهِ﴾ دين الإسلام ﴿قُلْ﴾ لهم ﴿تَمَتَّعُوا﴾ بدنياكم قليلا ﴿فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ﴾ مرجعكم ﴿إِلَى النَّارِ﴾ ﴿قُلْ لِعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ﴾ فداء ﴿فِيهِ وَلَا خِلَالٌ﴾ مخالة أي صداقة تنفع هو يوم القيامة ﴿اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ﴾ السفن ﴿لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ﴾ بالركوب والحمل ﴿بِأَمْرِهِ﴾ بإذنه ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ﴾ ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ﴾ جاريين في فلكهما لا يفتران ﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ﴾ لتسكنوا فيه ﴿وَالنَّهَارَ﴾ لتبتغوا فيه من فضله ﴿وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ﴾ على حسب مصالحكم ﴿وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ﴾ بمعنى إنعامه ﴿لَا تُحْصُوهَا﴾ لا تطيقوا عدها ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ﴾ الكافر ﴿لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ كثير الظلم لنفسه بالمعصية والكفر لنعمة ربه

ترجمه: آيا تا په هغه كسانو باندې نظر اچولې نه دې چا چې د الله نعمتونو يعنى د هغې شكر په ناشكرئى سره بدل كړو، او هغه د قريشو كافران دى، او خپل قوم ئې كمراه كولو سره د هلاكت

په کور کښې واچولو، یعنی په جهنم کښې دا عطف بیان دې، چې په هغې کښې به دا ټول داخلیږي، او هغه ډیر بد د اوسیدو ځائې دې، هغوی الله تعالی سره شریک جوړ کړو چې خلقو لره د الله د لارې دین اسلام نه گمراه کړي د یاء په فتحې او ضمې سره، تاسو دوی ته اووایئ چې په خپله دنیا کښې یو څو ورځې مزې واخلئ ستاسو د واپس تلو ځاې خو آخری جهنم دې، اې نبي ﷺ ځما هغه بندګانو ته چا چې ایمان راوړې دې اووایه، چې د مونځ پابندي کوي او څه چې مونږ هغوی ته ورکړې دی د هغې نه دې په ښکاره او پټه باندې خرچ کوي، مخکښې ددې نه چې هغه ورځ راشي چې په هغې کښې به نه اخستل او خرڅول وي او نه دوستي، نه به هغوی سره څه وي چې په فدیه کښې ئې ورکړي، او هغه د قیامت ورځ ده، الله هغه ذات دې چا چې زمکه او آسمانونه پیدا کړل، او د وریځو نه ئې اوبه نازل کړې، او د هغې اوبو په ذریعه ستاسو د رزق د پاره میوې پیدا کړې او کشتیانې ئې ستاسو تابع کړې، چې په سیند کښې سورلئ او بوجهونه، د الله په اجازت سره اوړي، او هغه سیندونه ستاسو په اختیار کښې کړل، او نور سپوږمئ ئې ستاسو مسخر کړل، یعنی ستاسو په کار کښې ئې اولګول، چې په خپلو منزلونو باندې راون دی، ذره برابر سستي نه کوي، او شپه ئې هم ستاسو په کار کښې اولګوله چې تاسو په دې کښې آرام اوکړئ، او ورځ هم چې تاسو په دې کښې د الله فضل یعنی روزي تلاش کړئ، او کوم څیز چې تاسو د هغه نه اوغوښتلو په هغې کښې ئې ستاسو د مصلحت مطابق تاسو ته درکړل، او که تاسو د الله نعمتونو لره شمیرل اوغواړئ نو شمیر به ئې نه کړئ، یعنی ستاسو کښې د هغې د شمیر طاقت نشته، یقینا کافر انسان ډیر ناانصاف او ناشکره دې، یعنی د خپل رب د نعمتونو ناشکري او ګناه کولو سره په خپل ځان باندې ډیر ظلم کونکې دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: أي شكرها: دا اضافه د یو سوال جواب دې.

سوال: دادې چې د (بدلوا نعمة الله كفرا) معنی دا ده چې هغه خلقو د الله نعمت په کفر سره بدل کړو حالانکه نعمت عین دې، او کفر وصف دې، او د عین په وصف سره د بدلولو څه معنی نشته؟

جواب: مضاف محذوف دې، مطلب دادې چې د نعمت شکر ئې په ناشکرئ سره بدل کړو یعنی دشکر په ځائې ئې ناشکري اوکړه،

قوله: ليضلوا:

سوال: د (جعلوا لله أندادا) غرض ئې اضلال او ضلال ګرځولې دې،حالانکې شریک جوړولو کښې د مشرکینو غرض اضلال او ضلال نه وو؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې اضلال او ضلال اګرچې د انداد غرض نه دې خو نتیجه ئې ضرور ده، لهذا نتیجه ئې غرض اوګرځولو،

Scanned with

قوله: قل لعبادي الذين آمنوا يقيموا الصلاة: الخ

سوال: د (يقيمون الصلاة) مقوله واقع كيدل صحيح نه دى، ځكه چې اقامت صلوة د مخاطب عمل دې، نه چې د قائل مقوله، حالانكه د مقولې د پاره هم د قائل مقوله كيدل ضروري ده.

جواب: د (قل) مقوله محذوف ده.او جواب امر كوم چې يقيموا الصلاة دې، په حذف باندې دلالت كوى، تقديرى عبارت داسې دې قل لعبادى الذين آمنوا اقيموا، وانفقوا يقيموا الصلوة وينفقوا، بعضې حضراتو وئيلې دى چې امر مقوله ده، تقديرى عبارت داسې دې قل لهم ليقيموا، الخ د (قل) د لالت د وجې نه لام حذف كړې شو نو (يقيموا) شو، او كه د حذف په ابتدا سره يقيموا مقوله اوګرځولې شى نو صحيح به نه وى.

قوله: سرا وعلانية: دواړه د انفقوا د ضمير نه د حال واقع كيدو د وجه منصوب دى.اى ينفقون مسرين ومعلنين.

قوله: السفن: اسد په وزن باندې لهذا د تجرى فعل مؤنث راوړل صحيح دى.

قوله: دائبين: په يو طريقه باندې تلونكې، دا د (دائب) جمع ده، په معنى د حال، عادت، رسم، دستور (ف) داب يداب، دابا، مسلسل په يو كار كښې لګيدل.

[اياتونه: ٣٥ ـ ٤١]

{و} اذكر {إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا الْبَلَدَ} مَكَّة {آمِنًا} ذَا أمْن وَقَدْ أَجَابَ اللّه دُعَاءَهُ فَجَعَلَهُ حَرَمًا لَا يُسْفَك فِيهِ دَم إنْسَان وَلَا يُظْلَم فِيهِ أَحَد وَلَا يُصَاد صَيْده وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهُ {وَاجْنُبْنِي} بعدني {وَبَنِيَّ} عن {أَن نَّعْبُدَ الْأَصْنَامَ} {رَبِّ إِنَّهُنَّ} أَيْ الْأَصْنَام {أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ} بِعِبَادَتِهِمْ لَهَا {فَمَن تَبِعَنِي} عَلَى التَّوْحِيد {فَإِنَّهُ مِنِّي} مِنْ أَهْل دِينِي {وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ} هَذَا قَبْل عِلْمه أَنَّهُ تَعَالَى لَا يَغْفِر الشِّرْك {رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي} أَيْ بَعْضهَا وَهُوَ إسْمَاعِيل مَعَ أُمّه هَاجَر {بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ} هُوَ مَكَّة {عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ} الَّذِي كَانَ قَبْل الطُّوفَان {رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً} قُلُوبًا {مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي} تَمِيل وتحن {إِلَيْهِمْ} قال بن عبّاس لَوْ قَالَ أَفْئِدَة النَّاس لَحَنَّتْ إلَيْهِ فَارِس وَالرُّوم وَالنَّاس كُلّهمْ {وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ} وَقَدْ فَعَلَ بِنَقْلِ الطَّائِف إلَيْهِ {رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي} نُسِرّ {وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِن} زَائِدَة {شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ} يَحْتَمِل أَنْ يَكُون مِنْ كَلَامه تَعَالَى أَوْ كَلَام إبراهيم {الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي} أَعْطَانِي {عَلَى} مَعَ {الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ} وُلِدَ وَلَهُ تِسْع وَتِسْعُونَ سَنَة {وَإِسْحَاقَ} وُلِدَ وَلَهُ مِائَة وَاثْنَتَا عَشْرَة سنة {إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاءِ} {رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَ} اجْعَلْ {مِن ذُرِّيَّتِي} من يقيمهما وَأَتَى بِمَنْ لِإِعْلَامِ اللّه تَعَالَى لَهُ أَنَّ مِنْهُمْ كُفَّارًا {رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ} الْمَذْكُور {رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ} هَذَا قَبْل أَنْ يَتَبَيَّن لَهُ عَدَاوَتهمَا لِلّهِ عَزّ وَجَلّ وَقِيلَ أَسْلَمَتْ أُمّه وَقُرِئَ وَالِدِي مُفْرَدًا وَوَلَدِي {وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ} يثبت {الْحِسَابُ}

Scanned with

ترجمه: او هغه وخت یاد کړه چې کله ابراهیم ﷺ دعا اوکړه چې اې د زما پروردګاره! ته دا د مکې ښار امن والا جوړ کړې، بې شکه الله د هغه دعا قبوله کړه، او هغه ئې محترم جوړه کړه، چې هلته نه د یو انسان وینه تویګی او نه هلته په چا باندې ظلم کیږی، او نه د هغې ځانور لره ښکار کولې شی، او نه د هغې شین بوټې کټ کولې شی، او ته اې ځما پروردګاره ما او ځما اولاد لره ددې خبرې نه چې مونږ بت پرستی اوکړو لرې وساته، اې پروردګار دې بتانو ډیرو انسانانو لره د دې د بندګی کولو د وجه نه ګمراه کړې دی، نو چا چې د توحید په معامله کښې ځما اتباع اوکړه نو هغه ځما د اهل ملت نه دې او چا چې ځما نافرمانی اوکړه نو ته ډیر زیات معافی کولو والا یې او ډیر رحم والا یې، (د ابراهیم ﷺ دا دعا د دې علم نه مخکې وه چې الله تعالی شرک نه معاف کوی، اې ځما پروردګاره ما خپل بعضې اولاد لره چې هغه اسماعیل دې سره د خپلې مور هاجرې، بې اوبو او بې ګیاه کلی کښې ستا محترم کور سره چې هغه د طوفان نوح نه مخکښې کور وو، ډیره کړل، اې ځما پروردګاره! دا مې ځکه وکړل چې هغوی مونځ قائم کړی نو د څه خلقو زړونو لره دې کور ته مائل او شوق مند کړی، حضرت ابن عباس ﷠ اوفرمائیل چې که ابراهیم ﷺ افئدة الناس وئیلې وو نو د هغې طرف ته به د فارس او د روم ټول خلق مائل وو، او ته دوی ته د میوو (د هر قسم پیداوار) روزی ورکړه چې هغوی ستا شکر ادا کړی، او د طائف علاقې لره منتقل کولو سره دا دعا قبوله کړې شوه، اې پروردګاره! ته ښه پیژنې چې کوم څه مونږ پټوو، یا ئې ښکاره کوو په الله باندې د زمکې او د اسمان هیڅ څیز پټ نه دې، من زائده دې په مذکوره کلام کښې احتمال دې چې د الله تعالی کلام دې یا د ابراهیم ﷺ د الله شکر دې چې هغه په دې بوډها والی کښې ځوئې اسماعیل ﷺ راکړو د اسماعیل ﷺ پیدائش هغه وخت شوې وو چې کله ابرهیم ﷺ د ۹۹ کالو وو او اسحق ئې راکړو هغه وخت شوې وو چې کله د ابراهیم ﷺ عمر ۱۱۲ کاله وو په دې کښې هیڅ شک نشته چې ځما پروردګار دعا اوریدونکې دې اې پروردګاره ته ما د مونځ پابند جوړ کړې او ځما په اولاد کښې هم داسې خلق پیدا کړه چې مونځ ادا کوی، او لفظ (من)ئې استعمال کړو ددې وجې نه چې الله تعالی ابراهیم ﷺ ته اوفرمائیل چې په دوی کښې به څه کافران هم وی. اې پروردګاره ته دا ذکر شوې دعا قبوله کړه، اې پروردګاره ته ما او ځما مورپلار اوبخښه، او نورو مسلمانانو لره هم چې کله ته حساب کوې د مورپلار د پاره دا دعا د هغوی د الله سره د دشمنۍ خکاره کیدو نه مخکښې وه، او وئیلې شوې دی چې د هغوی مور ایمان راوړې وو، او په یو قراءت کښې والدی اوولدی افراد سره دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

سوال: په سورة بقره کښې (بلدا) نکره استعمال شوې ده او دلته (البلدة) معرفه ده، په دې کښې څه حکمت دې؟

جواب: په سورة بقره کښې د بلد د تعمير نه مخکښې دعا ذکرده چې يا الله دلته يو ښار جوړ کړه او دلته چې کومه دعا ده هغه د ښار جوړيدلو نه پس د هغې د امن د پاره ده.

قوله: ذاأمن:

سوال: د آمنا تفسير په ذا امن سره د کولو څه مصلحت دې؟

جواب:: مصلحت دادې چې آمن د نسبت صيغه ده نه چې د اسم فاعل،لکه تامر، کهجورو خرخولو والا، د آمن معنى ده امن والا، نه چې امن ورکولو والا، ځکه آمن اسم فاعل په معنى د امن ورکولو والا صحيح نه دې، ځکه چې بلد غير ذى روح او غير ذوى العقول دې، لهذا په دې کښې د امن ورکولو څه صلاحيت نشته، او نه د امن نسبت بلد طرف ته کول مناسب دى، ځکه چې امن ورکول په حقيقت کښې د الله کار دې،

قوله: يختلي:دا د اختلاء د (افتعال) نه دې، په معنى د شنه گياه اوخکل.

قوله: اجنبني: (ن) امر واحد مذکر حاضر، په اصل کښې اجنب دې، په دې کښې نون وقايه او يائې متکلم ده، (ته ما بچ کړه) (ته ما لرې وساته.

قوله: عن ان نعبد الاصنام: د (عن) اضافه کولو سره ئې اوفرمائيل چې په ان نعبد کښې (ان) مصدريه دې نه چې تفسيريه، ځکه چې د ان تفسيريه د پاره په ماقبل کښې لفظ قول، يا ددې هم معنى ضرورى دې، کوم چې دلته نشته.

قوله: اضللن کثيرا: د اضلال اسناد بتانو طرف ته مجازى دې دا د اسناد الشئ الى سببه د قبيلې نه دې، چونکه دا بتان د خلقو د گمراه کيدو وجه ده ځکه داضلال نسبت دې طرف ته اوکړې شو،

قوله: الذي کان قبل الطوفان: دا اضافه ددې سوال جواب دې چې عند بيتك المحرم وئيل څنگه صحيح دى، په وادى غير ذى زرع کښې څه کور هلته وونه؟

جواب : د جواب حاصل دادې چې بيت وئيل خو يا د (ما کان) په اعتبار سره دې يا د (ما يکون) اعتبار سره، يعنى د طوفان نوح نه مخکښې هلته کښې کور وو راروان وخت کښې به هم موجود وى.

قوله: تهوى،اي تشتاق وتميل

قوله: افئدة الناس: يعنى که بغير د من تبعيضيه نه ئې وئيلې وو نو د هر چا به شوق او رغبت وو،

قوله: اسماعيل، اسحق: د اسمعيل نوم اسمعيل ځکه شو چې کله به ابراهيم عليه السلام د الله تعالى نه د اولاد درخواست کولو نو فرمائيل به ئې اسمع يا ايل، اسمع امر په معنى د واوره، او ايل په عبرانئ کښې الله ته وائى، اوس د اسمعيل معنى شوه چې اې الله ته

Scanned with

واوره، او چې كله الله تعالى د ابراهيم عليه السلام دعا واوريدله او بچې ئې ورته ورکړو نو د هغه نوم ئې اسمعيل كيخودلو، او اسحق ته عبرانئي كښې اضحاک وائي.

قوله: اجعل: به دې كښې اشاره ده چې د ومن ذريتي عطف د اجعلني په ضمير باندې دې.

قوله: من يقيمها: دې كښې اشاره ده چې د اجعلني مفعول ثانی محذوف دې.

[اياتونه: ٤٢ _ ٥٢]

قال تعالى ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ﴾ الْكَافِرُونَ مِنْ أَهْلِ مَكَّة ﴿إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ﴾ بِلَا عَذَاب ﴿لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ﴾ لِهَوْلِ مَا تَرَى يُقَال شَخَصَ بَصَرُ فُلَانٍ أَيْ فَتَحَهُ فلم يغمضه ﴿مُهْطِعِينَ﴾ مسرعين حال ﴿مُقْنِعِي﴾ رافعي ﴿رُءُوسِهِمْ﴾ إلى السماء ﴿لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ﴾ بَصَرهمْ ﴿وَأَفْئِدَتُهُمْ﴾ قُلُوبهمْ ﴿هَوَاءٌ﴾ خَالِيَة مِنَ الْعَقْل لِفَزَعِهِمْ ﴿وَأَنْذِرِ﴾ خَوِّفْ يَا مُحَمَّد ﴿النَّاسَ﴾ الْكُفَّار ﴿يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ﴾ هُوَ يَوْم الْقِيَامَة ﴿فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ كفروا ﴿رَبَّنَا أَخِّرْنَا﴾ بِأَنْ تَرُدّنَا إِلَى الدُّنْيَا ﴿إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ نُجِبْ دَعْوَتَكَ﴾ بِالتَّوْحِيدِ ﴿وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ﴾ فيقال لهم توبيخا ﴿أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُمْ﴾ حَلَفْتُمْ ﴿مِنْ قَبْلُ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿مَا لَكُمْ مِنْ﴾ زَائِدَة ﴿زَوَالٍ﴾ عَنْهَا إِلَى الآخرة ﴿وَسَكَنْتُمْ﴾ فِيهَا ﴿فِي مَسَاكِنِ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ بِالْكُفْرِ مِنَ الْأُمَم السَّابِقَة ﴿وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ﴾ مِنَ الْعُقُوبَة فَلَمْ تَنْزَجِرُوا ﴿وَضَرَبْنَا﴾ بَيَّنَّا ﴿لَكُمُ الْأَمْثَالَ﴾ فِي الْقُرآن فَلَمْ تَعْتَبِرُوا ﴿وَقَدْ مَكَرُوا﴾ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿مَكْرَهُمْ﴾ حَيْثُ أَرَادُوا قَتْله أَوْ تَقْيِيده أَوْ إِخْرَاجه ﴿وَعِنْدَ اللَّهِ مَكْرُهُمْ﴾ أَيْ عِلْمه أَوْ جَزَاؤُهُ ﴿وَإِنْ﴾ مَا ﴿كَانَ مَكْرُهُمْ﴾ وَإِنْ عَظُمَ ﴿لِتَزُولَ مِنْهُ الْجِبَالُ﴾ الْمَعْنَى لَا يُعْبَأ بِهِ وَلَا يَضُرّ إِلَّا أَنْفُسهمْ وَالْمُرَاد بِالْجِبَالِ هُنَا قِيلَ حَقِيقَتهَا وَقِيلَ شَرَائِع الْإِسْلَام الْمُشَبَّهَة بِهَا فِي الْقَرَار وَالثَّبَات وَفِي قِرَاءَة بِفَتْحِ لَام لَتَزُولَ وَرَفْع الْفِعْل فَإِنْ مُخَفَّفَة وَالْمُرَاد تَعْظِيم مَكْرهمْ وَقِيلَ الْمُرَاد بِالْمَكْرِ كُفْرهمْ وَيُنَاسِبهُ عَلَى الثَّانِيَة ﴿تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا﴾ وَعَلَى الْأَوَّل مَا قُرِئَ وما كان ﴿فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِ رُسُلَهُ﴾ بِالنَّصْرِ ﴿إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ﴾ غَالِب لَا يُعْجِزهُ شَيْء ﴿ذُو انْتِقَامٍ﴾ مِمَّنْ عَصَاهُ اذكُر ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ﴾ هُوَ يَوْم الْقِيَامَة فَيُحْشَر النَّاس عَلَى أَرْض بَيْضَاء نَقِيَّة كَمَا فِي حَدِيث الصَّحِيحَيْنِ وَرَوَى مُسْلِم حَدِيث سُئِلَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ النَّاس يَوْمَئِذٍ قَالَ عَلَى الصِّرَاط ﴿وَبَرَزُوا﴾ خرجوا من القبور ﴿لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ ﴿وَتَرَى﴾ يَا مُحَمَّد تُبْصِر ﴿الْمُجْرِمِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ﴾ مَشْدُودِينَ مَعَ شَيَاطِينهمْ ﴿فِي الْأَصْفَادِ﴾ الْقُيُود او الأغلال ﴿سَرَابِيلُهُمْ﴾ قُمُصهمْ ﴿مِنْ قَطِرَانٍ﴾ لِأَنَّهُ أَبْلَغ لِاشْتِعَالِ النار ﴿وَتَغْشَى﴾ تعلو ﴿وُجُوهَهُمُ النَّارُ﴾ ﴿لِيَجْزِيَ﴾ مُتَعَلِّق بِبَرَزُوا ﴿اللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ﴾ مِنْ خَيْر وَشَرّ ﴿إِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾ يُحَاسِب جَمِيع الْخَلْق فِي قَدْر نِصْف نَهَار مِنْ أَيَّام الدُّنْيَا لِحَدِيثٍ بِذَلِكَ ﴿هَذَا﴾ الْقُرآن ﴿بَلَاغٌ لِلنَّاسِ﴾ أَيْ أُنْزِلَ لِتَبْلِيغِهِمْ ﴿وَلِيُنْذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا﴾ بِمَا فِيهِ مِنَ الْحُجَج ﴿أَنَّمَا هُوَ﴾ أَيْ اللَّه ﴿إِلَهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ﴾ بِإِدْغَامِ التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال يَتَّعِظ ﴿أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ اصحاب العقول

Scanned with

ترجمه: د مکې کافران چې څه کوی ددې نه ته الله هيڅ کله غافله مه ګڼره، هغه خو دوی ته د
عذاب نه د هغه ورځې پورې مهلت چې په کومه ورځ به د منظر د هولناکئ په وجه سترګې کولاو
پاتې شی، وئيلې شی چې شخص بصر فلان، د هغه سترګې کولاؤ پاتې شوې کومې چې
هغه بندې نه کړې شوې حال دا چې آسمان طرف ته به ئې خپل سرونه اوچت کړی وی او د
رابلونکی آواز طرف ته به) په تيزئی سره ورروان وی، د يوې لمحې د پاره به هم د هغوی
سترګه نه رپيږی، او د هغوی زړونه به د هغوی د ويرې د وجې نه د عقل نه خالی وی، او اې
محمد ﷺ ته کافران د هغه ورځې نه اويروه په کومه ورځ چې به په دوی باندې عذاب راشی، او
هغه به د قيامت ورځ وی، او ظالمان کافران به وائی اې زمونږ پروردګاره ته مونږ ته د لږ وخت د
پاره مهلت راکړه په دې صورت کښې چې ته مونږ دنيا ته واپس اوليږې، چې مونږ ستا د
توحيد دعوت قبول کړو، او ستا د رسولانو اتباع اوکړو نو دوی ته به د رټنې په توګه اووئيلې
شی، چې د دې نه مخکښې به تاسو په دنيا قسمونه نه خورل؟ چې زمونږ د پاره خو د دنيا نه آخرت
طرف ته تلل نشته، حالانکه تاسو په دنيا کښې د هغه خلقو په کلو کښې اوسيدلې وئ، چې چا
په مخکښې امتونو کښې کفر کولو سره په خپل ځان باندې ظلم اوکړو او تاسو ته ښکاره
شوې وه چې مونږ هغوی سره د عذاب څه معامله اوکړه؟ بيا هم تاسو منع نه شوئ، او مونږ
ستاسو د پوهه کولو د پاره په قرآن کښې مختلف مثالونه بيان کړل، خو تاسو عبرت حاصل نه
کړو، او داخلق د نبی ﷺ سره خپل چالونه کوی په داسې طريقه چې دوی د هغوی ﷺ د
قتل يا د هغوی د وطن نه د ويستلو يا د قيد کولو اراده اوکړه، او الله ته د هغوی د مکر علم
دې، يا الله سره د هغوی د پاره سزا ده، او ددوی چالونه اګرچې هر څومره لوئې وو داسې نه
وو چې غرئې د خپل ځائې نه خوزولې وو، مطلب دا چې د هغوی چالونه د توجه قابل نه دی،
او خپل نقصان کوی، او د غرونو نه مراد حقيقی غرونه مراد دی، يا اسمانی احکام دی
کوم چې په ثبات او پوخوالی کښې د غرونو سره مشابه دی، او په يو قراءت کښې
(لتزول) دلام په فتحې سره او د فعل رفع سره دې، او (ان) مخففه دې، او مقصد ددوی د
مکر لويوالې بيانول دی، او وئيلې شوې دی چې د مکر نه مراد د دوی کفر دې، او (تکاد
السموات يتفطرن) د دويم قراءت مناسب دې، او د رومبی قراءت مناسب هغه دې کوم
چې اولوستلې شو (يعنی وما کان مکرهم) الخ، تاسو هرګز دا خيال مه کوئی چې الله تعالی به د
خپلو نبيانو سره د نصرت په باره کښې وعده خلافی اوکړی الله تعالی غالب دې، هغه څوک
عاجزه کولې نشی، او د خپله نافرمانو کولو والو نه بدله اخستونکې دې، او هغه ورځ ياد
کړه چې دا زمکه به بلې زمکې سره بدله کړې شی، او اسمان هم او هغه به د قيامت ورځ وی، نو
خلق به يو صفا ستره زمکه باندې راغونډ کړې شی، څنګه چې د صحيحنو په حديث
کښې دی، او مسلم يو حديث روايت کړې دې چې په هغې کښې د رسول الله ﷺ نه سوال

Scanned with

کړې شوې دې چې د زمکې د بدليدلو په وخت کښې به خلق کوم ځائې وي،؟ نو حضور ﷺ اوفرمائيل چې په پل صراط باندې، تول خلق به د قبرونو نه وتلو سره د يو غالب خداې په مخامخ شي، او اې محمد ﷺ تاسو په هغه ورځ باندې مجرمان کافران په بيړو کښې يا په طوقونو کښې د شيطانانو سره تړلې شوې وينئ، په داسې حال چې ددوی کپړې به د ګندهک (ياد تارکولو) نه جوړې وي، ځکه چې ګندهک سره اور ډير تيزيګي، او اور به ددوی په مخونو باندې هم خور وي، چې الله هر کس ته د هغه د اعمالو بدله ورکړي، ليجزی، د برزوا متعلق دې. بې شکه الله ډير زر حساب اغستونکې دې. الله تعالی به د تولې دنيا حساب د دنيا د ورځو په اعتبار سره په نيمه ورځ کښې واخلي، د ددې مضمون د حديث د وجې نه دا قرآن د تولو خلقو د پاره خبرداري دې، يعنی د خلقو د تبليغ د پاره نازل شوې دې، چې خلق ددې په ذريعه خبردار کړی شي، او خلق هغه دليلونو باندې پوهې شي، کوم چې په قرآن کښې دی چې الله يو دې او د عبادت لائق دې، او داچې اهل عقل او بصيرت ددې نه نصيحت حاصل کړي، (يذکر) په اصل کښې د تاء په ذال کښې ادغام دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: تشخص: (ف) مضارع واحد مؤنث غائب، مصدر شخوص، چاته مسلسل کتل، نيغ نيغ کتل، د سترګو کولاؤ پاتې کيدل، د سترګو بره تلل.

قوله: مهطعين: مهطع د اسم فاعل جمع ده، (افعال) اهطاع، سر تيټول، په تيزئی سره تلل، مهطعين: د اصحاب، مضاف چې محذوف دې د هغې نه حال دې، تقديری عبارت داسې دې، اصحاب الابصار مهطعين.

قوله: مقنعی، د اقناع نه اسم فاعل، اوچت شوې، (افعال) په اصل کښې مقنعين وو، نون د اضافت د وجه نه حذف شو، ماده ئې قنع ده.

قوله: أفئدتهم: افئدة د فؤاد جمع ده، په معنی د زړه

قوله: هواء: دا اسم دې، په معنی د خالی، د ويرې د وجه نه د زړه خالی کيدل، د هر خير خبرې نه خالی کيدل، هوا هغه فضا ته وئيلې شي، کومه چې د اسمان او زمکې په مينځ کښې ده، په محاوره کښې د ويريدونکی زړه په صفت کښې راځی.

قوله: نجب: دا د اخرنا امر جواب دې

قوله: يقال لهم: د ماقبل سره د ربط د پاره ددې محذوف ګنړلو ضرورت راغلو.

قوله: تبين: ددې فاعل د کلام د دلالت د وجې نه مضمر دې، او هغه حال دې، تقديری عبارت داسې دې، تبين لکم کيف فعلنا بهم؟

قوله: ان ما: په دې کښې اشاره ده چې (ان) نافيه ده، او په لتزول کښې لام د نفی د تاکيد

Scanned with

د پاره دي. وفي قراءة بفتح لام الاولى ورفع الاخيرة، اي لتزول، په دې صورت كښې به (ان مخففه عن الثقيله) وي، مطلب به داوي چې ددوى مكر دومره سخت وو چې غرونه به هم د خپل ځائې نه اوخوزيږي، د (لتزول) لام د مخففه او نافيه په مينځ كښې فرق كونكې دې.

قوله: قطران: قطران يو توره غليظه ماده وي، چې په هغې كښې گرموالې وي او كه د هغې د خارختى اوښ مالش اوكړې شي، نو خارخ به ختم شي، دا ماده اور ډير زر نيسى، او بدبوداره وي، بعضې حضراتو ددې ترجمه گندهک كړې دې او بعضو تاركول كړې دې.

قوله: متعلق ببرزوا: يعني ليجزى، د برزوا متعلق سره دې، او په مينځ كښې جمله معترضه ده.

قوله: انزل لبليغهم: په (هذا بلاغ) كښې چونكه د وصف حمل په ذات باندې لازميږى، ځكه شارح رحمه الله ذكر شوې عبارت مقدر اوګڼړلو چې حمل درست شي يعنى دا د هذا خبر نه دې، بلكه خبر محذوف دې، د خبر د علت قائمقام ئې كړو.

پاره نمبر ١٤ [رُبَمَا]

[١٥] سورة الحجر

سورة الحجر مكية تسع وتسعون اية

سورة حجر مكى دې، يوكم سل (٩٩) آيتونه دى.

[اياتونه: ١ - ١٥]

بسم الله الرحمن الرحيم {الر} اللّٰه أعْلَم بِمُرَادِهِ بِذَلِكَ {تِلْكَ} هَذِهِ الآيَات {آيَاتُ الْكِتَابِ} الْقرآن وَالإضَافَة بِمَعْنَى مِنْ {وَقُرآنٍ مُبِينٍ} مُظْهِر لِلْحَقّ مِنَ الْبَاطِل عَطْف بِزِيَادَةِ صفة {رُبَمَا} بِالتَّشْدِيدِ وَالتَّخْفِيف {يَوَدُّ} يَتَمَنَّى {الَّذِينَ كَفَرُوا} يَوْم الْقِيَامَة إذَا عَايَنُوا حَالهمْ وَحَال الْمُسْلِمِينَ {لَوْ كَانُوا مُسْلِمِينَ} وَرُبَّ لِلتَّكْثِيرِ فَإِنَّهُ يَكْثُر مِنْهُمْ تَمَنِّي ذَلِك وَقِيلَ لِلتَّقْلِيلِ فَإِنَّ الأَهْوَال تُدْهِشهُمْ فَلَا يُفِيقُونَ حَتَّى يَتَمَنَّوْا ذَلِكَ إلَّا فِي أَحْيَان قَلِيلَة {ذَرْهُمْ} اُتْرُكْ الْكُفَّار يَا مُحَمَّد {يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا} بِدُنْيَاهُمْ {وَيُلْهِهِمْ} يَشْغَلهُمْ {الأَمَلُ} بِطُولِ الْعُمْر وَغَيْره عَنْ الإِيمَان {فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ} عَاقِبَة أَمْرهمْ وَهَذَا قَبْل الأَمْر بِالْقِتَالِ {وَمَا أَهْلَكْنَا مِنْ} زَائِدَة {قَرْيَةٍ} أُرِيدَ أَهْلهَا {إلَّا وَلَهَا كِتَابٌ} أَجَل {مَعْلُومٌ} مَحْدُود لإِهْلَاكِهَا {مَا تَسْبِقُ مِنْ} زَائِدَة {أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ} يَتَأَخَّرُونَ عَنْهُ {وَقَالُوا} أَيْ كُفَّار مَكَّة لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وسلم {يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ} القرآن فِي زَعْمه {إنك لمجنون} {لوما} هَلَّا {تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ إنْ كُنْت مِنَ الصَّادِقِينَ} فِي قَوْلك إنَّك نَبِيّ وَإِنَّ هَذَا القرآن من عند الله قال تعالى {مَا نُنَزِّلُ} فِيهِ حَذْف إحْدَى التَّاءَيْنِ {الْمَلَائِكَةَ إلَّا بِالْحَقِّ} بِالْعَذَابِ {وَمَا كَانُوا إذًا} أَيْ حِين نُزُول الْمَلَائِكَة بِالْعَذَابِ {مُنْظَرِينَ} مُؤَخَّرِينَ {إنَّا نَحْنُ} تَأْكِيد لاِسْمِ إنَّ أَوْ فَصْل {نَزَّلْنَا الذِّكْرَ} القرآن {وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ} مِنَ التَّبْدِيل وَالتَّحْرِيف وَالزِّيَادَة وَالنَّقْص {وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ} رُسُلًا {فِي شِيَعِ} فِرَق {الأَوَّلِينَ} {وَمَا} كَانَ {يَأْتِيهِمْ مِنْ رَسُولٍ إلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ} كاستهزاء قومك به وَهَذَا تَسْلِيَة لَهُ صَلَّى

Scanned with

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿كَذٰلِكَ نَسْلُكُهُ﴾ أَيْ مِثْلَ إِدْخَالِنَا التَّكْذِيبَ فِي قُلُوبِ أُولٰئِكَ نُدْخِلُهُ ﴿فِي قُلُوبِ الْمُجْرِمِينَ﴾ أَيْ كفار مكة ﴿لَا يُؤْمِنُونَ بِهِ﴾ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَقَدْ خَلَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ﴾ أَيْ سُنَّةُ اللّٰهِ فِيهِمْ مِنْ تَعْذِيبِهِمْ بِتَكْذِيبِهِمْ أَنْبِيَاءَهُمْ وَهٰؤُلَاءِ مثلهم ﴿وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَظَلُّوا فِيهِ﴾ فِي الْبَابِ ﴿يَعْرُجُونَ﴾ يَصْعَدُونَ ﴿لَقَالُوا إِنَّمَا سُكِّرَتْ﴾ سُدَّتْ ﴿أَبْصَارُنَا بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُورُونَ﴾ يُخَيَّلُ إِلَيْنَا ذٰلِكَ

ترجمه: الر الله ددې نه خپل مراد ښه پيژني، دا ايتونه د قرآن ايتونه دي، او اضافت په معنی د ﴿من﴾ دې، او د قرآن مبين ﴿آيتونه﴾، کوم چې د حق او د باطل په مينځ کښې فرق کونکې دی، دا د صفت د زياتوالی سره عطف دې، لرې نه ده چې کافر خلق به د قيامت په ورځ د خان حال او د مسلمانانو حال اوګوری، نو خواهش به اوکړی چې مونږ هم غاره کيخودلې وې ﴿اسلام مو راوړې وې﴾، ﴿ربما﴾ د تشديد او تخفيف سره دې، ﴿رب﴾ د زياتوالی د پاره راځی، په دې شان چې ددوی د طرف نه به ددې ډير خواهش وی، او وئيلې شوې دی چې ﴿رب﴾ د تقليل د پاره دې، امر واقعه داده چې د قيامت سختئی به دوی مدهوش کړې وی، چې د هغې د وجه نه به دوی ته هوش نه وی، چې دوی د هغې تمنا اوکړی، مګر دا چې ډير لږ وخت د پاره اې محمد ﷺ دا کافران پريږده چې خپله دنيا کښې اوخوری اوڅکی، او مزې واخلی، او د ډير عمر اميد دوی لره د ايمان نه په غفلت کښې واچوی، د خپل اعمالو انجام به دوی ته ډير زر معلوم شی او دا حکم د قتال نه مخکښې دې. او مونږيو کلی له يو کلی والو لره هلاک نه کړل مګر دا چې ددوی د پاره ليکلې شوې وه، يعنی ددوی د هلاکت وخت مقرر وو، ﴿من﴾ زائده دې، او د قريه نه اهل قريه مراد دی. يو ساه اخستونکې د خپل مقرر شوې مرګ وخت نه مخکښې تلې نشی، او نه دهغې نه روستو کيدې شی، ﴿من﴾ زائده دې، کفار مکه نبی ﷺ ته وائی چه اې هغه سړيا په چا چې په خپل خيال قرآن نازل شوې دې، بې شکه ته ليونئ ئې، که ته په خپله دعوی کښې چې ته نبی ئې او دا قرآن د الله د طرف نه دې، رشتونې يې نو زمونږ خوا له فرشتې ولې نه راځی، او مونږ فرشتې په حق سره نازلوو، يعنی په عذاب سره، او چې کله فرشتې عذاب راوړی، نو بيا به دوی ته مهلت نه ورکولې شی، هم مونږ دا قرآن نازل کړې دې ﴿نحن﴾ د ﴿ان﴾ د اسم تاکيد يا ضمير فصل دې، او مونږ د تبديل او بدلولو، او د زياتی او نقصان نه حفاظت کونکی يو، او مونږ ستا نه مخکښې په تير شوې قومونو کښې هم برابر رسولان راليږلې دی، او داسې چرته هم شوې نه دی، چې هغوی ته رسول راغلو او هغوی ستا د قوم تاپسې خندا کولو پشان هغوی پسې خندا کړې نه وه. او دا نبی ﷺ ته تسلی ده، او دغه شان د هغه خلقو په زړونو کښې د تکذيب غورزولو په شان د مجرمانو يعنی د کافرانو د مکې په زړونو کښې اچولو، چې د هغې د وجه نه دا خلق د نبی ﷺ د رسالت تصديق نه کوی، او دا دستور د مخکښې نه راروان دې يعنی دهغوی د تکذيب

Scanned with

په وجه هغوی ته د سزا ورکولو د الله دستور د مخکښي نه راروان دي او دوی هم په تکذیب کښې د هغوی په شان دی، او که مونږ ددوی د پاره د اسمان دروازه کولاو هم کړو او دوی په هغه دروازې بره هم اوخیژی نو بیا به هم دوی دا وائی چې زمونږ خو نظرونه بند کړې شو، بلکه په مونږ باندې جادو او کړې شو، یعنی دا اسمان ته ختل زمونږ په خیال کښې واچولې شول.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: هذه الآيات:

سوال: د تلك تفسير په «هذه» سره د كولو څه فائده ده؟

جواب: قرب حسی بیانول مقصود دی.

سوال: نو بيا «هذه» ولې استعمال نكړې شو.

جواب: تلك سره د مرتبې اوچتوالې بيانول مقصود دی، تلک د «هذه» په معنی کښې اخستلو سره دواړه فائدې حاصلې شوې، که د تلک په ځائې «هذه» استعمال کړې شوې وې نو صرف د قرب حسی فائده به ئې ورکوله.

قوله: اضافت: بمعنى من ای آيات من الكتاب

قوله: مظهر الحق:

سوال: مفسر علام د «مبين» تفسير عام طور سره په «بين» سره كوی، او دا قياس ته نزدې هم ده، حکه چې متعدی په معنی د لازم اخستل مقصود دی، خو دلته د مبین نه هم متعدی معنی اخستلې شوې ده، نه چې لازمه. څکه مفسر علام د «مبين» تفسير په «مظهر» سره کړې دې.

قوله: عطف بزيادة الصفة

سوال: ددې اضافې څه مقصد دې؟

جواب: دا د یو سوال جواب دې

سوال: دا دې چې د قرآن عطف په کتاب باندې کیږی، او د دواړو مصداق هم یو دې، لهذا دا د عطف الشئ على نفسه د قبیلې نه شو، حالانکه عطف مغایرت غواړی.

جواب: كتاب كوم چې معطوف دې مطلق دې، او قرآن د «مبين» صفت سره مقيد دې، لهذا دا عطف د مقيد على المطلق د قبیلې نه دې، او په دواړو کښې مغایرت ښکاره دې، لهذا هیڅ اعتراض نشته، مفسر علام عطف بزيادة الصفة سره ددې سوال جواب ورکړې دې.

قوله: يتأخرون عنه: دا هم د یو سوال جواب دې.

سوال: دا دې چې يستأخرون د باب استفعال نه دې، کوم چې په طلب باندې دلالت کوی، حالانکه دلته د طلب معنی مقصود نه ده؟

Scanned with

جواب: استفعال په معنى د تفعل دې.

قوله: انا نحن نزلنا الذكر وانا له لحفظون: دا د مشركانو د رد او د انكار جواب دې، كوم چې مشركينو (انه لمجنون) وئيلو سره د نزول ذكر نه په تاكيد سره انكار كړې وو، لهذا د نزول ذكر اثبات هم الله تعالى په تاكيد سره اوكړو، انا نحن نزلنا الذكر، الخ وئيلو سره ئې اوفرمائيل.

قوله: تاكيد اوفصل: يعنى (نحن) د (نا) د اسم تاكيد دې يا دا چې فصل دې. (نحن) فصل گرځولو په صورت كښې دا سوال به كيږي، چې فصل د دوو اسمونو په مينځ كښې راځي، نه چې د اسم او فعل په مينځ كښې، څنگه چې دلته دى، او دويم سوال به دا وى چې فصل د ضمير غائب نه وى، نه چې ددې علاوه نه، البته جرجانى رحمه الله د اسم او فعل په مينځ كښې هم فصل جائز كړې دې، غالبا چې مفسر علام د جرجانى په مسلك باندې عمل كړې دې.

قوله: كان: د كان اضافه ددې سوال جواب دې چې ما حاليه په هغه مضارع باندې داخليږى، كومه چې د حال په معنى كښې وى يا په هغه ماضى باندې داخليږى، كومه چې قريب الى الحال وى، مفسر علام (كان) مقدر گڼړلو سره اشاره اوكړه چې (ما) حاليه په ماضى قريب الى الحال باندې داخله ده.

قوله: تدخله: اى الاستهزاء، د (ه) ضمير مرجع استهزاء ده.

[اياتونه: ۱۶ ـ ۲۵]

{وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَاءِ بُرُوجًا} اِثْنَيْ عَشَرَ الْحَمَل وَالثَّوْر وَالْجَوْزَاء وَالسَّرَطَان وَالْأَسَد وَالسُّنْبُلَة وَالْمِيزَان وَالْعَقْرَب وَالْقَوْس وَالْجَدْي وَالدَّلْو وَالْحُوت وَهِيَ مَنَازِل الْكَوَاكِب السَّبْعَة السَّيَّارَة الْمِرِّيخ وَلَهُ الْحَمَل وَالْعَقْرَب وَالزُّهَرَة وَلَهَا الثَّوْر وَالْمِيزَان وَعُطَارِد وَلَهُ الْجَوْزَاء وَالسُّنْبُلَة وَالْقَمَر وَلَهُ السَّرَطَان وَالشَّمْس وَلَهَا الْأَسَد وَالْمُشْتَرِي وَلَهُ الْقَوْس والحوت وزحل له الجدي والدلو {وزيناها} بالكواكب {للناظرين} {وَحَفِظْنَاهَا} بِالشُّهُبِ {مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ} مَرْجُوم {إِلَّا} لكِن {مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ} خَطِفَهُ {فَأَتْبَعَهُ شِهَابٌ مُبِينٌ} كَوْكَب يُضِيء وَيُحْرِقهُ أَوْ يَثْقُبهُ او يخبله {وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا} بَسَطْنَاهَا {وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ} جِبَالًا ثَوَابِت لِئَلَّا تَتَحَرَّك بِأَهْلِهَا {وَأَنْبَتْنَا فِيهَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَوْزُونٍ} مَعْلُوم مُقَدَّر {وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ} بِالْيَاءِ مِنَ الثِّمَار وَالْحُبُوب {وَ} جَعَلْنَا لَكُمْ {مَنْ لَسْتُمْ لَهُ بِرَازِقِينَ} مِنَ الْعَبِيد وَالدَّوَابّ وَالْأَنْعَام فَإِنَّمَا يَرْزُقهُمْ الله {وَإِنْ} مَا {مِنْ} زَائِدَة {شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَائِنُهُ} مَفَاتِيح خَزَائِنه {وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَعْلُومٍ} عَلَى حَسَب الْمَصَالِح {وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ} تُلَقِّح السَّحَاب فَيَمْتَلِئ مَاء {فَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ} السَّحَاب {مَاءً} مَطَرًا {فأسقيناكموه وَمَا أَنْتُمْ لَهُ بِخَازِنِينَ} أَيْ لَيْسَتْ خَزَائِنه بأيديكم {وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ}

Scanned with

الْبَاقُونَ نَرِث جَمِيع الْخَلْق ﴿وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ﴾ أَيْ مَنْ تَقَدَّمَ مِنَ الْخَلْق مِنْ لَدُنْ آدَم ﴿وَلَقَدْ عَلِمْنَا الْمُسْتَأْخِرِينَ﴾ الْمُتَأَخِّرِينَ إِلَى يَوْم الْقِيَامَة ﴿وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُ حَكِيمٌ﴾ فِي صُنْعه ﴿عَلِيمٌ﴾ بِخَلْقِهِ

ترجمه: او بې شکه مونږ په اسمان کښې غټ غټ دولس برجونه جوړ کړل، حمل، ثور، جوزا، سرطان، اسد، سنبله، میزان، عقرب، قوس، جدی، دلو، حوت، د اووه سیارو دولس منزلونه دی، د مریخ د پاره حمل او عقرب دی، او د زهره دپاره ثور او میزان دی، او د عطارد دپاره جوزاء او سنبله دی، او د قمر د پاره سرطان دې، او د شمس د پاره اسد دې، او د مشتری د پاره قوس او حوت دې، او مونږ اسمان د کتونکو دپاره په ستورو ښکلې کړو او اسمانونه مونږ د ستورو په ذریعه د هر شیطان مردود نه محفوظ کړو، خو دا چې څوک په غلا باندې څه واوری او اوتختی، نو ددې پسې یو روښانه ستورې لګی، کوم چې دا اوسوزوی، یا پکښې سوری وکړی یا ئې بدحواسه کړی، او مونږ زمکه خوره کړه او په دې کښې مو نه خوزیدونکې غرونه ښخ کړل، چې زمکه خپل اوسیدونکو سره حرکت نه کوی، او مونږ په دې کښې هر یو څیز په یو اندازې سره رازرغون کړو، او مونږ ستاسو د پاره د ژوند تیرولو سامان پیدا کړو، (معایش) یا سره دې، او هغه سامان میوې او غلې دی، او ستاسو د پاره مو هغه څیزونه جوړ کړل کوم ته چې تاسو په حقیقت کښې روزی نه ورکوئی او هغه غلام او څناور دی، دوی ته په حقیقت کښې الله روزی ورکوی، او څومره څیزونه چې دې، ددې مونږ سره خزانې دی، (من) زائده دې، یعنی ددې خزانو چینې مونږ سره دی، او مونږ هر څیز د مصلحت مطابق، په مقرره اندازه رالیږو، او هم مونږ ډکونکې هواګانې چلوو، کوم چې وریځې د اوبو نه ډکې کړی، چې د هغې د وجه نه و ریځې د اوبو نه ډکې شی، او مونږ د وریځو نه اوبه راواروو، او هغه اوبه په تاسو څکو، او تاسو ددې جمع کونکی نه وئی، یعنی ددې خزانې ستاسو په قدرت کښې نه دی، او بې شکه مونږ پیدا کول کوو، او مړه کول کوو، او په آخر کښې هم مونږ وارثان یو، باقی پاتې کیدونکې یو، د ټول مخلوق وارثان به یو. او ستاسو نه مخکښې خلق زمونږ په علم کښې دی، یعنی د آدم ﷺ په اولاد کښې چې څوک مخکښې تلې دی هغه زمونږ په علم کښې دی، او باقی پاتې خلق هم زمونږ په علم کښې دی، یعنی د قیامت پورې راتلونکی خلق او یقینا ستا رب به ټول انسانانو لره جمع کړی، یقینا هغه په خپل صنعت کښې باحکمت او د خپل مخلوق په باره کښې خبردار دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بروجاً: د (برج) جمع ده، چې د هغې معنی ښکاره کیدل دی، په دې معنی کښې تبرج د ښځې د زینت اظهار ته وئیلې شی، دلته د اسمان ستورو ته برج وئیلې شوې دی، څکه چې هغه هم اوچت او ښکاره دی، او د بعضې مفسرینو خیال دې چې د اوو سیارو د

Scanned with

دولسو منزلونو نوم برج دي، په علم هئيت کښې هم دغه مراد دي.

قوله: المريخ: دا د سبع سيارو بيان دي.

قوله: المريخ وله الحمل والعقرب: د حمل او عقرب د مريخ منزل کيدو مطلب دادي چې مريخ دې دوارو منزلونو ته داخليږي، او د تفاسيرو په کتابونو او په حکمت کښې چې دا ليکې دی چې دولس برجونه د نمر دی، ددې مطلب دادي چې نمر ددې په محاذاتو کښې واقع کيږي نه دا چې نمر په دې کښې داخليږي، د نورو سيارو هم دا حال دي، لهذا په دوارو نظريو کښې څه تضاد نشته.

قوله: مرجوم: په دې کښې اشاره ده چې فعيل په معنی د مفعول دي.

قوله: لکن: د (الا) تفسير ئې په (لکن) سره کولو کښې اشاره اوکړه چې استثناء منقطع ده، ځکه چې استراق د جنس حفظ نه نه دي.

قوله: خطفه: د استرق تفسير ئې په خطفه سره کولو کښې د يو اعتراض جواب مقصود دي، اعتراض دادي چې سمع يو صفت دي کوم چې سامع سره قائم دي، لهذا ددې انتقال ممکن نه دي، لهذا د استرق السمع، څه مطلب شو؟

جواب: استرق په معنی د الاختلاس سرا، يعنی په پټه باندې تختول، او دا د تشبيه په توګه باندې ده، نو اوس څه اعتراض نشته.

قوله: لحقه: د اتبعه تفسير په لحقه سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چه افعال په معنی د مجرد لازم دي لهذا معنی صحيح نه ده.

قوله: يخبله: دا د خبل څخه دي، ددې معنی ده بدحواس کول، ليونې جوړول، شيطان د شهاب (ځکروټې) په ويشتلو سره بدحواس کيږي، غول يعنی ځنګلی بهوت ترې جوړيږي کوم چه په ځنګل کښې خلق ويروی او دهوکه کوی.

قوله: وجعلنا لکم: په دې کښې اشاره ده چه د: من لستم عطف په معايش باندې دي، لهذا دا شبه ختمه شوه چه د من لستم عطف د لکم په ضمير مجرور باندې دي، او په ضمير مجرور باندې عطف بغير د اعادې د جار نه صحيح نه دي.

[اياتونه: ۲۶ - ۴۴]

(وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ) آدم (مِنْ صَلْصَالٍ) طِين يَابِس يُسْمَع لَهُ صَلْصَلَة إِذَا نُقِرَ (مِنْ حَمَإٍ) طِين أَسْوَد (مَسْنُونٍ) مُتَغَيِّر (وَالْجَانَّ) أَبَا الْجَانّ وَهُوَ إِبْلِيس (خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ) أَيْ قَبْل خَلْق آدَم (مِنْ نَارِ السَّمُومِ) هِيَ نَار لَا دُخَان لَهَا تَنْفُذ فِي الْمَسَام (وَ) اذكر (إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي خَالِقٌ بَشَرًا مِنْ صَلْصَالٍ مِنْ حَمَإٍ مَسْنُونٍ) (فَإِذَا سَوَّيْتُهُ) أَتْمَمْته (وَنَفَخْتُ) أَجْرَيْت (فِيهِ مِنْ رُوحِي) فَصَارَ حَيًّا وَإِضَافَة الرُّوح إِلَيْهِ تَشْرِيف

لآدم ﴿فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ﴾ سُجُود تَحِيَّة بِالإنحِنَاء ﴿فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ﴾ فِيهِ تَأكِيدَانِ ﴿إِلَّا إِبْلِيسَ﴾ هُوَ أَبُو الْجِنّ كَانَ بَيْنَ الْمَلَائِكَة ﴿أَبَى﴾ امْتَنَعَ مِنْ ﴿أَنْ يَكُونَ مَعَ السَّاجِدِينَ﴾ ﴿قَالَ﴾ تَعَالَى ﴿يَا إِبْلِيسُ مَا لَكَ﴾ مَا منعك ﴿أ﴾ ن ﴿لا﴾ زائدة ﴿تكون مع الساجدين﴾ ﴿قَالَ لَمْ أَكُنْ لِأَسْجُدَ﴾ لا يَنْبَغِي لي أن اسجد ﴿لبشر خلقته من صلصال من حمأ مسنون﴾ ﴿قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا﴾ أيْ مِنَ الْجَنَّة وَقِيلَ مِنَ السَّمَاوَات ﴿فَإِنَّكَ رَجِيمٌ﴾ مَطْرُود ﴿وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ﴾ الْجَزَاء ﴿قَالَ رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾ أيْ النَّاس ﴿قال فإنك من المنظرين﴾ ﴿إِلَى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ﴾ وَقْت النَّفْخَة الأُولَى ﴿قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي﴾ أَيْ بِإِغْوَائِكَ لي وَالْبَاء لِلْقَسَم وَجَوَابه ﴿لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ المعاصي ﴿ولأغوينهم أجمعين﴾ ﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ أيْ الْمُؤْمِنِينَ ﴿قَالَ﴾ تعالى ﴿هذا صراط على مستقيم﴾ وَهُوَ ﴿إِنَّ عِبَادِي﴾ أَيْ الْمُؤْمِنِينَ ﴿لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾ قُوَّة ﴿إِلَّا﴾ لكِنْ ﴿مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ الْكَافِرِينَ ﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ أيْ مَنْ اتَّبَعَكَ معك ﴿لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَابٍ﴾ أطْبَاق ﴿لِكُلِّ بَابٍ﴾ مِنْهَا ﴿منهم جزء﴾ نصيب ﴿مقسوم﴾

ترجمه: بې شکه مونږ انسان یعنی آدم د یو تورې زړې تکرئی خاورې نه پیدا کړو، یعنی داسې اوچه خاوره، چې کله هغه اوټنګولې شی نو د هغې نه آواز راوځی، او ددې نه مخکښې یعنی د آدم د پیدا کیدو نه مخکښې مونږ ابو الجن یعنی د شیطانانو پلار چې هغه ابلیس دې د شعلې نه په کومه کښې چې لوګې نه وی، او هغه د بدن په مساماتو کښې ننوځی، پیدا مو کړو، او د هغه وخت تذکره اوکړه چې کله ستا پروردګار فرشتو ته اوفرمائیل چې څه انسان د تورې زړې تیکرئی خاورې نه پیدا کوم چې کله هغه څه پورا کړم او په هغې کښې خپل روح واچوم، او ژوندې شی، او د روح نسبت د الله طرف ته د آدم د کرامت د پاره دی، نو تاسو ټول د هغه ته په سجده کښې پریوزئی، یعنی په تیټه باندې د هغه عزت اوکړئ، چنانچه ټولو فرشتو په شریکه سجده اوکړه خو ابلیس اونکړه، او هغه د جناتو پلار وو، کوم چې به د فرشتو په مینځ کښې اوسیدلو په سجده کونکو کښې د شاملیدو نه ئې انکار اوکړو الله تعالی اوفرمائیل چې ابلیس تا باندې څه شوې دی، چې ته په سجده کونکو کښې شامل نه شوې من زائده دې، هغه اووئیل چې څه داسې کار کونکو کښې نه یم، یعنی ځما د پاره هیڅ کله مناسب نه دی، چې څه داسې انسان ته سجده اوکړم کوم چې تا د زړې تورې تکرئی خاورې نه پیدا کړې دې، الله اوفرمائیل، د جنت نه اوځه، او اوئیلې شوی دی چې د اسمانونو نه اوځه، بې شکه ته مردوده ئې، او په تا باندې ځما لعنت دې د ورځې دقیامت پورې، وئې وئیل چې ماته د هغې ورځې پورې مهلت راکړه، چې خلقو لره په کومه ورځ ژوندی کیدو نه پس پاسولې شی، الله تعالی اوفرمائیل، څه تاته د مقرر وخت پورې مهلت دې، یعنی د نفخه اولی پورې، شیطان اووئیل چونکه تا څه ګمراه کړې یم، یعنی ستا مالره د ګمراه کولو په وجه باندې، او باء قسمیه ده، او ددې جواب (لازیننه) دې، ځما دې هم قسم وی چې څه به هم ددوی د پاره په دنیا

کښې گناهونو لره ښائسته کړم، او دوی ټول به وخویوم سوا ستا د هغه بندګانو نه کوم چې مخلصان دي،، ارشاد اوشو چې هم دغه ماته د رارسیدو نیغه لاره ده، مخلصه بندګانو باندې یعنې مومنانو باندې ستا قابو راتلې نشي، سوا د هغه ګمراه ولې نه کومه چې ستا تابعداري کوي، د هغوی ټولو د وعدې ځائې جهنم دې، یعنې د هغه سړي دپاره کوم چې ستا تابعداري اوکړي، چې د هغې اووه طبقې دي د هرې طبقې دپاره د هغوی نه یوه خاصه حصه مقرر شوې ده،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ادم: د انسان تفسیر ئې په آدم سره کولو کښې دې ته اشاره اوکړه چې په الانسان کښې الف لام عهدی دې.

قوله: حما: خټه، تکرئی توره خاوره،

قوله: تنفذفی المسام: په دې کښې د سموم وجه تسمیه ته اشاره ده.

قوله: فقعو، د وقع یقع نه امر جمع مذکر حاضر، تاسو ټول پریوځئ، «فاء» د جواب شرط کیدو د وجې داخله ده.

قوله: تاکیدان: اول تاکید د اطلاق الجمع علی البعض احتمال ختم کړو، څنګه چې اذقالت الملائکة یا مریم، کښې د جمع اطلاق په بعضې باندې شوې دې، خو اوس هم احتمال د انفراد باقی دې، هغه ئې په اجمعون سره ختم کړو، اوس د آیت مفهوم دا شو چې ټولو فرشتو سجده اوکړه، ګویا چې حکم موجود اوشو، چې په هغې کښې ابلیس هم وو:

قوله: باغوائك: په دې کښې اشاره ده چې په بما اغویتنی کښې «ما» مصدریه ده، نه چې موصوله، چې د عائد ضرورت وی او باء قسمیه ده، یعنې قسم دې ستا مالره په ګمراه کولو باندې.

قوله: ازینن: : دا د تزیین «تفعیل» نه مضارع واحد متکلم بانون ثقیله دې، څه به خښکلې والې ورکوم، ښائسته کوم به ئې.

قوله: المعاصی، : په دې کښې اشاره ده چې ازیین متعدی دې، او ددې مفعول «معاصی» محذوف دې.

قوله: مخلصین: ای خلصته لعبادتك

قوله: هذا : ای تخلص المؤمنین من اغوائك

قوله: صراط علی: ای حق علی

قوله: وهو: په دې کښې اشاره ده چې د «هو» مرجع ان عبادی الخ دې، او ان عبادی د صراط مستقیم بیان دې.

قوله: اطباق: دا د طبق جمع ده، یعنی هغه درجات چې په هغې کښې د شیطان د اتباع د مراتبو مناسب په ترتیب سره به جهمیان داخلولې شی، او د جهنم په ترتیب سره اووه درجې دی، ① جهنم ② لظی ③ السقر ④ السعیر ⑤ الجحیم ⑥ الحطمه ⑦ الهاویه.

[ایاتونه: ٤٥ـ٦٠]

﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ﴾ بَسَاتِين ﴿وَعُيُونٍ﴾ تَجْرِي فيها ويقال لَهُمْ ﴿ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ﴾ أَيْ سَالِمِينَ مِنْ كُلّ مَخُوف أَوْ مَعَ سَلَام أَيْ سَلِّمُوا وَادْخُلُوا ﴿آمِنِينَ﴾ مِنْ كُلّ فَزَع ﴿ونزعنا ما في صدورهم من غل﴾ حقد ﴿إِخْوَانًا﴾ حَال مِنْهُمْ ﴿عَلَى سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ﴾ حَال أَيْضًا أَيْ لَا يَنْظُر بَعْضهمْ إِلَى قَفَا بَعْض لِدَوَرَانِ الْأَسِرَّة بِهِمْ ﴿لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ﴾ تَعَب ﴿وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ﴾ أَبَدًا ﴿نَبِّئْ﴾ خَبِّرْ يَا مُحَمَّد ﴿عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ﴾ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿الرَّحِيمُ﴾ بِهِمْ ﴿وَأَنَّ عَذَابِي﴾ لِلْعُصَاةِ ﴿هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ﴾ الْمُؤْلِم ﴿وَنَبِّئْهُمْ عَنْ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ﴾ وَهُمْ الْمَلَائِكَة اثْنَا عَشَر أَوْ عَشَرَة أَوْ ثَلَاثَة مِنْهُمْ جِبْرِيل ﴿إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا﴾ أَيْ هَذَا اللَّفْظ ﴿قَالَ﴾ إِبْرَاهِيم لَمَّا عَرَضَ عَلَيْهِمْ الْأَكْل فَلَمْ يَأْكُلُوا ﴿إِنَّا مِنْكُمْ وَجِلُونَ﴾ خَائِفُونَ ﴿قَالُوا لَا تَوْجَلْ﴾ لَا تَخَفْ ﴿إِنَّا﴾ رُسُل رَبّك ﴿نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ عَلِيمٍ﴾ ذِي عِلْم كَثِير هُوَ إِسْحَاق كَمَا ذَكَرْنَا فِي سُورَة هُود ﴿قَالَ أَبَشَّرْتُمُونِي﴾ بِالْوَلَدِ ﴿عَلَى أَنْ مَسَّنِيَ الْكِبَرُ﴾ حال اي مع مسه إياي ﴿فبم﴾ فباي شيء ﴿تبشرون﴾ استفهام تعجب ﴿قَالُوا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ﴾ بِالصِّدْقِ ﴿فَلَا تَكُنْ مِنَ الْقَانِطِينَ﴾ الآيسين ﴿قَالَ وَمَنْ﴾ أَيْ لَا ﴿يَقْنَطُ﴾ بِكَسْرِ النُّون وَفَتْحهَا ﴿مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ﴾ الْكَافِرُونَ ﴿قال فما خطبكم﴾ شانكم ﴿أيها المرسلون﴾ ﴿قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَى قَوْمٍ مُجْرِمِينَ﴾ كَافِرِينَ أَيْ قَوْم لُوط لِإِهْلَاكِهِمْ ﴿إِلَّا آلَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ لِإِيمَانِهِمْ ﴿إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَا إِنَّهَا لَمِنَ الْغَابِرِينَ﴾ الْبَاقِينَ فِي الْعَذَاب لِكُفْرِهَا

ترجمه: د شرک او کفر نه بچکیدونکی متقیان به په باغونو او چینو کښې وی، کوم چې به په باغونو کښې بهیږی، دوی ته به وئیلې شی، د هرې ویرې نه په سلامتیا سره او په امن سره په دې کښې داخل شئ، یعنی په داسې حال کښې چې تاسو د هرې خطرې نه په سلامتیا سره داخل شئ، یا سلام کوئی او داخل شئ، او چې ددوی په زړونو کښې کوم لږ ډیر خفگان وی هغه به مونږ لرې کړو، او خپل مینځ کښې به کله د رونړو پشان په تحت باندې یو بل ته مخامخ ناست وی، (اخوانا د (هم) ضمیر نه حال دې، (متقابلین) هم د (اخوانا) نه حال دې، یعنی څوک به د چا شاه ته نه گوری، ځکه چې ددوی تحتونه به د دائرې پشان وی، نه به ورته هلته څه تکلیف ملاوېږی، او نه به د هغه ځائې نه دوی ویستلې شی، اې محمد ﷺ ځما بندگانو ته اووایه چې څه دمومنانو دپاره معافی کولو والا او په دوی باندې ډیر مهربانه یم، او ورسره دا هم اووایه چې د نافرمانو دپاره، ځما عذابونه ډیر دردناک دی، او دوی ته د ابرهیم ﷺ دمیلمنو قصې واوروه، او هغه میلمانه دولس یا لس یا درې فرشتې وې، په هغې کښې جبرائیل ﷺ هم وو، کله چه هغوی ابراهیم علیه السلام ته راغلل او هغه ته ئې سلام اوکړو

Scanned with

يعنى هغوى لفظ سلامًا اووئيل، چې كله ابراهيم عليه السلام د هغوى مخكښې روټئى كيخودله، نو ابرهيم عليه السلام اوفرمائيل چې مونږ ته خو ستاسو نه ويره كيږي، هغوى اوفرمائيل چې ويريږئ مه، مونږ ستا د رب راغوشتې شوې يو، د يو هوښيار ځوى تاته زيرې دركوو، يعنى د زيات علم والا ځوئى، او هغه ځوې اسحاق دې، څنګه چې په سوره هود كښې تير شوې دى ابرهيم عليه السلام اوفرمائيل تاسو د بوډا والى په حالت كښې ماته د هلک زيرې راكوئى؟ (على ان الخ) حال دې، يعنى حال دا دې چې ماته بوډوالې رارسيدلې دې، دا خوشخبرى تاسو ماته په كومه وجه راكوئى؟ استفهام تعجبى دې، فرشتو جواب وركړو مونږ تاته بالكل صحيح خوش خبرى دركوو، لهذا تاسو د مايوسى كونكو نه مه كيږئى، ابرهيم عليه السلام اوفرمائيل د خپل رب د رحمت نه خو صرف ګمره خلق نا اميده كيږي، (يقنط) د نون كسرې سره او د هغه فتحې سره دې، ابراهيم عليه السلام تپوس وكړو چې اې د خدائې راليږلو شوو، تاسو په كوم كار پسې راغلې يئ، هغوى اووئيل چې مونږ يو مجرم قوم پسې راليږلې شوې يو، يعنى قوم لوط دپاره، د هغوى د هلاک كولو دپاره، صرف د لوط عليه السلام كور والا به محفوظ وى، مونږ به دوى ټول د ايمان د وجې نه بچ كړو سوا د هغه د ښځې نه، چې د هغې د پاره الله فرمائى چې مونږ مقدر كښې ليكلې ده چې هغه به د روستو پاتې كيدونكو نه به وى. يعنى د خپل كفر په وجه به په عذاب كښې ګير شوې خلقو نه وى.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:سالمين: د سلام تفسير په سالمين سره كولو كښې د يو سوال جواب وركول مقصود دى.

سوال: دادې چې سلام مصدردې، ددې حمل په (ها) ضمير باندې صحيح نه دې، ځكه چې د ضميرنه مراد جنت دې، كوم چې ذات دې، او د مصدر حمل په ذات باندې صحيح نه دې؟

جواب: دا دې چې مصدر په تاويل د مشتق سالمين دې او سالمين حال شو، لهذا حمل صحيح دې.

قوله:مع سلام: په دې كښې اشاره ده چې په (بسلام) كښې باء په معنى د مع دې. نه چې سببيه.

قوله:اى سلموا: اى سلم عليكم الملائكة.

قوله:ادخلوا:

سوال: ادخلوا، د مقدر ګڼړلو څه ضرورت وو؟

جواب: په دې كښې اشاره ده چې (آمنين) د (ادخلوا) د ضمير نه دويم حال دې، نه چې د بسلام نه، ځكه چې په عمل كښې اصل فعل دې نه چې مصدر.

قوله:حال من هم: يعنى اخواناً د (هم) نه حال دې، نه چې صفت دې.

Scanned with

سوال: حال د مضاف نه وی نه چې د مضاف اليه نه، او دلته اخوانا د ﴿هم﴾ نه حال واقع شوې دې، کوم چې مضاف اليه دې؟

جواب: مضاف اليه چې کله د مضاف جز وی نو حال واقع کيدل ئې صحيح وی، دلته چونکه مضاف اليه د مضاف بعض دې، لهذا حال واقع کيدل صحيح دی، او د ادخلوا د ضمير نه حال واقع کيدل هم صحيح دی، او ﴿متقابلين﴾ د ﴿اخوانا﴾ نه هم حال دې، او ﴿اخوانا﴾ د متصافين، يا د متحابين په معنى کښې دې، او د اخوانا صفت هم واقع کيدې شي.

قوله: كما ذكر في الهود: اى فبشرنها باسحق

قوله: يكسر النون: اى من باب ضرب، وبفتح النون اى من باب فتح.

[اياتونه: ٦١ ـ ٧٩]

﴿فلما جاء آل لوط﴾ أي لوطا ﴿المرسلون﴾ ﴿قَالَ﴾ لَهُمْ ﴿إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُنْكَرُونَ﴾ لَا أَعْرِفُكُمْ ﴿قَالُوا بَلْ جِئْنَاكَ بِمَا كَانُوا﴾ أَيْ قَوْمك ﴿فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾ يَشُكُّونَ وَهُوَ الْعَذَاب ﴿وَآتَيْنَاكَ بِالْحَقِّ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ﴾ فِي قَوْلنَا ﴿فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ﴾ امْشِ خَلْفهمْ ﴿وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ أَحَدٌ﴾ لِئَلَّا يَرَى عَظِيم مَا يَنْزِل بِهِمْ ﴿وَامْضُوا حَيْثُ تُؤْمَرُونَ﴾ وهو الشام ﴿وَقَضَيْنَا﴾ أَوْحَيْنَا ﴿إِلَيْهِ ذَلِكَ الْأَمْرَ﴾ وَهُوَ ﴿أَنَّ دَابِرَ هَؤُلَاءِ مَقْطُوعٌ مُصْبِحِينَ﴾ حَال أَيْ يَتِمّ اسْتِئْصَالهمْ فِي الصَّبَاح ﴿وَجَاءَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ﴾ مَدِينَة سدوم وَهُمْ قَوْم لُوط لَمَّا أُخْبِرُوا أَنَّ فِي بَيْت لُوط مُرْدًا حِسَانًا وَهُمْ الْمَلَائِكَة ﴿يَسْتَبْشِرُونَ﴾ حَال طَمَعًا فِي فِعْل الْفَاحِشَة بِهِمْ ﴿قَالَ﴾ لُوط ﴿إِنَّ هَؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ﴾ ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ﴾ بِقَصْدِكُمْ إِيَّاهُمْ بِفِعْلِ الفاحشة بهم ﴿قَالُوا أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾ عَنْ إِضَافَتهمْ ﴿قَالَ هَؤُلَاءِ بَنَاتِي إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ﴾ مَا تريدون من قضاء الشهوة فتزوجوهن قال تعالى ﴿لَعَمْرُكَ﴾ خِطَاب لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ وَحَيَاتك ﴿إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾ يَتَرَدَّدُونَ ﴿فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ﴾ صَيْحَة جِبْرِيل ﴿مُشْرِقِينَ﴾ وَقْت شُرُوق الشمس ﴿فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا﴾ أَيْ قُرَاهُمْ ﴿سَافِلَهَا﴾ بِأَنْ رَفَعَهَا جِبْرِيل إِلَى السَّمَاء وَأَسْقَطَهَا مَقْلُوبَة إِلَى الْأَرْض ﴿وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ﴾ طِين طُبِخَ بالنار ﴿إن في ذلك﴾ المذكور ﴿لآيات﴾ دلالات على وَحْدَانِيَّة اللَّه ﴿لِلْمُتَوَسِّمِينَ﴾ لِلنَّاظِرِينَ الْمُعْتَبِرِينَ ﴿وَإِنَّهَا﴾ أَيْ قُرَى قَوْم لوط ﴿لَبِسَبِيلٍ مُقِيمٍ﴾ طَرِيق قُرَيْش إِلَى الشَّام لَمْ تَنْدَرِس أَفَلَا يَعْتَبِرُونَ بِهِمْ ﴿إن في ذلك لآية﴾ لعبرة ﴿للمؤمنين﴾ ﴿وَإِنْ﴾ مُخَفَّفَة أَيْ إِنَّهُ ﴿كَانَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ﴾ هِيَ غَيْضَة شَجَر بِقُرْبِ مَدْيَن وَهُمْ قَوْم شُعَيْب ﴿لَظَالِمِينَ﴾ بِتَكْذِيبِهِمْ شُعَيْبًا ﴿فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ﴾ بِأَنْ أَهْلَكْنَاهُمْ بِشِدَّةِ الْحَرّ ﴿وَإِنَّهُمَا﴾ أَيْ قُرَى قَوْم لُوط وَالْأَيْكَة ﴿لَبِإِمَامٍ﴾ طَرِيق ﴿مبين﴾ واضح افلا تَعْتَبِرُونَ بِهِمْ يَا أَهْل مَكَّة

ترجمه: چې کله دا راليږلې شوې فرشتې آل لوط ته يعنى لوط عليه السلام ته اورسيدلې نو لوط عليه السلام هغوى ته اوفرمائيل چې تاسو خلق ناشنا معلوميږئى، څه تاسو نه پيژنم فرشتو جواب ورکړو چې مونږ تاته هغه څيز راوړې دې چې د هغې په راتلو کښې ستا قوم شک کولو، او هغه عذاب

Scanned with

دي، او مونږ تاته ښکاره حق راوړي دي، او مونږ په خپله خبره کښې بالکل رشتونې يو، اوس ته د شپې په يو حصه کښې خپل کور والا ځان سره اوباسه، او ته د دوی شاته ځه، يعنی د دوی شا شا ته ځئ، او په تاسو کښې دې څوک شاته اونه ګوری، چې هغه لونې عذاب اونه وينی کوم چې په دوی باندې نازليږی، او د کوم ځائې چې تاته د تلو حکم شوې دې، هغه شام دې هلته سيدها لاړ شه، او مونږ دوی ته خپله دا فيصله راورسوله، او هغه دا چې د سحر کيدو سره به ددوی جرې کټ کړې شی، (مصبحين) حال دې، يعنی د سحر کيدو سره به ددوی جرې اوويستلې شی، او د ښارې والا يعنی د سدوم اوسيدونکی، اوهغه د لوط عليه السلام د قوم خلق وو، چې کله هغوی ته دا خبر ميلاؤ شو چې د لوط عليه السلام کور ته بې ګيرې هلکان راغلې دی، حالانکه هغه فرشتې وې، (يستبشرون) حال دې، هغوی سره د بدفعلۍ خواهش کولو سره، په خوشحالئی باندې راغلل، لوط عليه السلام اوفرمائيل رونړو دا ځما ميلمانه دی، تاسو ما ددوی په باره کښې رسوا کوئی مه، د الله نه اويريږئ، او دوی سره د بدفعلۍ اراده کولو سره ځما سپکاوې مه کوئی، وئې وئيل چې مونږ ته د ټولې دنيا د ټهيکدارئی نه يعنی ددوی د ميلمستيا نه منع کړې نه ئې، لوط عليه السلام اوفرمائيل چې که تاسو خپل خواهش پورا کول غوارئی نو دا ځما لونړه دی، دوی سره نکاح اوکړئ الله تعالی اوفرمائيل ستا د عمر قسم دا حضور صلی الله عليه وسلم ته خطاب دې، يعنی ستا د ژوند قسم، هغوی په خپله مستۍ کښې پراته وو، آخر کښې سحر کيدو سره يوې چغې يعنی د جبرائيل چغې اونيول يعنی د نمر د راختو په وخت کښې او اخر مونږ دا ښار لاندې باندې کړو، په داسې طريقه چې جبرائيل عليه السلام دا کلې بره اوچت کړو او زمکې ته ئې واپس راغوزار کړو او مونږ په دې خلقو باندې ئې کانړی راوورول، يعنی په اور کښې پاخه شوې کانړی بې شکه په دې ذکر شوې واقعاتو کښې د بصيرت والو د پاره د عبرت حاصل کونکو دپاره د الله په وحدانيت باندې دلالت کونکی نښې دی، او د قوم لوط عليه السلام دا کلی د قريشو شام ته تلونکی لار باندې واقع دی، او اوسه پورې د هغوی نښې ورانې شوې نه دی، نو آيا دا خلق د هغې نه نصيحت نه حاصلوی بې شکه په دې ذکر شوو کښې د مومنانو د پاره عبرت دې، او (ان) مخففه دې يعنی انه کان، او اصحاب ايکه چې هغه (ايکه) مدين سره نزدې وو چې د شعيب عليه السلام قوم وو، يو بنړ وو، دا هم د حضرت شعيب عليه السلام د تکذيب د وجه نه دير ظالمان وو د چا نه چې مونږ بدله واخستله مونږ هغوی په سخته ګرمئ سره هلاک کړل، او دا دواړه يعنی د قوم لوط کلی او ايکه، په لار باندې واقع وو آيا دا اهل مکه د دوی عبرت نه حاصلوی؟

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ای لوطا: په دې کښې اشاره ده، چې د آل لوط نه صرف لوط عليه السلام مراد دې، ځکه چې د الله تعالی قول ولقد جاءت رسلنا لوطا، نه هم دا مفهوم ده.

قوله: لا اعرفكم: تاسو نااشنائي ځکه چې نه خو تاسو مقامي ئې ګڼی ما به ضرور تاسو پيژندلی وئ، او مسافر ښکارئ ځکه چې په تاسو باندې د سفر هيڅ علامه نشته.

قوله: اوحينا: دا ددې سوال جواب دې، چې د قضينا صله (الی) نه رازی، حالانکه دلته صله الی استعمال شوې ده؟

جواب: دلته قضينا د اوحينا معنې لره متضمن دې.

قوله: ذلك الامر: دا مبهم دې، ددې تفصيل ئې ان دابر هؤلاء مقطوع مصبحين، سره کړې دې.

قوله: حال: يعنی د هؤلاء نه حال دې، او بعضې حضراتو د مقطوع د ضمير نه حال ګرځولې دې، او مقطوع په معنی د مقطوعين کښې دې.

قوله: مردا: دا د امرد جمع ده، بې ګيرې ځوان ته وائی.

قوله: حال: يعنی يستبشرون، د اهل المدينة نه حال دې، نه چې صفت، ځکه چې جمله نکره واقع کيدو سره د معرفې صفت راتلې نشی.

قوله: عن اضافتهم: ای ضيافتهم، ميلمستيا کول.

قوله: يترددون: ای يتحيرون، فكيف يسمعون نصيحتك.

قوله: وقت شروق الشمس: د عذاب شروع کيدل د سحر په وخت کښې شوې وو، او پورا والې ئې د جبرئيل عليه السلام په چغې سره د طلوع شمس په وخت کښې اوشو، لهذا هيڅ منافات نشته.

قوله: تندرس: اندراس، خرابيدل، ختميدل

قوله: طريق: په دې کښې اشاره ده چې د امام نه دلته معروف معنی مراد نه ده، ای ما يؤتم به بلکه دلته لاره مراد ده، ځکه چې مسافر د لارې اقتدا کوی، لار چې چرته ځی، مسافر هم هغه طرف ته ځی،

قوله: متوسمين: متوسم د اسم فاعل جمع ده، (تفعل) توسم مصدر دې، اهل فراست، په غورسره کتلو والا، وسم ماده ده، علامت.

[اياتونه: ۸۰ - ۹۹]

{وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ} وَادٍ بَيْنَ الْمَدِينَة وَالشَّام وَهُمْ ثَمُود {الْمُرْسَلِينَ} بِتَكْذِيبِهِمْ صَالِحًا لِأَنَّهُ تَكْذِيب لِبَاقِي الرُّسُل لِاشْتِرَاكِهِمْ فِي الْمَجِيء بِالتَّوْحِيدِ {وَآتَيْنَاهُمْ آيَاتِنَا} فِي النَّاقَة {فَكَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ} لا يتفكرون فيها {وكانوا ينحتون من الجبال بيوتا آمنين} {فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ} وَقْت الصَّبَاح {فَمَا أَغْنَى} دَفَعَ {عَنْهُمْ} الْعَذَاب {مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ} مِنْ بِنَاء الْحُصُون وَجَمْع الْأَمْوَال {وما خلقنا السماوات وَالْأَرْض وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَإِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ} لَا مَحَالَة فَيُجَازَى كُلّ أَحَد بِعَمَلِهِ {فَاصْفَحْ} يَا مُحَمَّد عَنْ

Scanned with

قومك ﴿الصَّفْحَ الْجَمِيلَ﴾ أعرض عنهم إعراضا لا جزع فيه وهذا منسوخ بآية السيف ﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ الْخَلَّاقُ﴾ لكل شيء ﴿الْعَلِيمُ﴾ بكل شيء ﴿وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي﴾ قال صلى الله عليه وسلم هي الفاتحة رواه الشيخان لأنها تثنى في كل ركعة ﴿وَالْقُرْآنَ الْعَظِيمَ﴾ ﴿لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا﴾ أصنافا ﴿مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ﴾ إن لم يؤمنوا ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ﴾ ألن جانبك ﴿لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ ﴿وَقُلْ إِنِّي أَنَا النَّذِيرُ﴾ من عذاب الله أن ينزل عليكم ﴿الْمُبِينُ﴾ البين الإنذار ﴿كَمَا أَنزَلْنَا﴾ العذاب ﴿عَلَى الْمُقْتَسِمِينَ﴾ اليهود والنصارى ﴿الَّذِينَ جَعَلُوا الْقُرْآنَ﴾ أي كتبهم المنزلة عليهم ﴿عِضِينَ﴾ أجزاء حيث آمنوا ببعض وكفروا ببعض وقيل المراد بهم الذين اقتسموا طرق مكة يصدون الناس عن الإسلام وقال بعضهم في القرآن سحر وبعضهم كهانة وبعضهم شعر ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾ سؤال توبيخ ﴿عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ ﴿فَاصْدَعْ﴾ يا محمد ﴿بِمَا تُؤْمَرُ﴾ به أي اجهر به وامضه ﴿وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ هذا قبل الأمر بالجهاد ﴿إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ﴾ بك بإهلاكنا كلا منهم بآفة وهم الوليد بن المغيرة والعاصي بن وائل وعدي بن قيس والأسود بن المطلب والأسود بن عبد يغوث ﴿الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ﴾ صفة وقيل مبتدأ ولتضمنه معنى الشرط دخلت الفاء في خبره وهو ﴿فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ عاقبة أمرهم ﴿وَلَقَدْ﴾ للتحقيق ﴿نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ﴾ من الاستهزاء والتكذيب ﴿فَسَبِّحْ﴾ ملتبسا ﴿بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾ أي قل سبحان الله وبحمده ﴿وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ﴾ المصلين ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ الموت

ترجمه: او حجر والو، حجر د مديني او د شام په مينځ کښې يو وادی ده، او هغه ثموديان وو، د صالح علیه السلام تکذيب کولو سره د رسولانو تکذيب اوکړو، ځکه چې دصالح علیه السلام تکذيب کول د ټولو پيغمبرانو تکذيب دې، ځکه چې د توحيد راوړلو کښې ټول شريک دی، او مونږ هغوی ته د اوښې په شکل کښې خپلې نښې هم ورکړې خو هغوی هم ددې نه اعراض کولو، يعنی هغوی په دې نښو کښې غور او فکر اونکړو، او دې خلقو به بې ويرې غرونه کنستلو سره کورونه جوړول، خو په آخر کښې هغوی هم دسحر په وخت کښې يو زوردار اواز اونيول، نو د هغوی څه تدبير او عمل هغوی ته د عذاب لرې کولو کښې هيڅ فائده ورنکړه، يعنی د هغوی قلعو او د هغوی مال جمع کولو هغوی ته هيڅ فائده ورنکړه، او مونږ اسمانونه او زمکې او څه چې ددې په مينځ کښې دی په حق سره يعنی په مقصد باندې پيدا کړې دی، او قيامت خامخا راتلونکې دې هر کس ته به د هغه د عمل بدله ميلاوېږی، اې محمد ﷺ ته خپل قوم ته په ښې طريقې سره معافی اوکړه، يعنی ددوی نه مخ واړوه، په داسې طريقه چې دوی سره بحث مه کوه، او دا حکم په آيت سيف سره منسوخ شو، يقينا ستا رب د هر څيز پيدا کونکې او په هر څيز عالم دې، او يقينا مونږ ته اووه آيتونه درکړې دی يعنی سبع مثانی، حضور ﷺ اوفرمائيل هغه سورة فاتحه ده (رواه الشيخان) ځکه دا په هر آيت کښې لوستلې شی، او قرآن عظيم مو هم درکړې دې او ته هيڅ کله خپل نظرونه هغه څيزونو طرف

ته مه اوچتوه، کوم چې مونږ د ددوی مختلف خلقو ته ورکړي دي، او که دوی ایمان نه راوړي نو ته په دوی باندې غم مه کوه، او د مومنانو د پاره خپل اوگې ټيټ ساته، يعنی دوی سره د نرمښی رويه کوه، او اووايه چې څه خو د الله د عذاب نه په ښکاره ويرونکې يم، دا چې په تاسو باندې عذاب نازل شی، څنگه چې مونږ دې تقسيمونکې يهوديانو او نصاراؤ باندې نازل کړو چا چې قرآن يعنی هغه کتابونه کوم چې په دوی باندې نازل شوې وو، ټکړې ټکړې کړل، په داسې طريقه چې په بعضې حصه باندې ئې ايمان راوړو او د بعضې نه ئې انکار اوکړو، او وئيلې شوی دی چې مراد هغه خلق دی، چا چې د مکې لارې راتلونکو لره د اسلام نه منع کولو د پاره تقسيمې کړې وې، او بعضې د قرآن په باره کښې جادو اووئيل، او چا ورته کهانت اووئيل، او بعضې ورته اشعار اووئيل، قسم دې ستا د رب! مونږ به خامخا ددوی نه د دوی د اعمالو په باره کښې تپوس کوو، او دا سوال د رټنې د پاره دې، نو اې محمد ﷺ کوم حکم چې تاته درکولې شی په ښکاره دوی ته اووروه، او نافذ ئې کړه پرې، او د مشرکينو نه مخ واړوه، دا حکم د جهاد د آيت د راتلو نه مخکښې وو، تا پورې چې کوم خلق توقې کوی مونږ د هغوی د پاره ستا د طرف نه کافی يو، په داسې طريقه چې مونږ به دوی ټولو لره د څه آفت په وجه باندې هلاک کړو، او هغه وليد بن مغيره، عاص بن وائل، عدی بن قيس، اسود بن المطلب او اسود بن عبد يغوث دی، کوم خلق چې الله سره بل معبود جوړوی، هغوی ته به ډير زر ددې د انجام پته اولگی، وئيلې شوی دی چې صفت دې او وئيلې شوې دی چې مبتدأ متضمن په معنې د شرط سره ده، ځکه ئې ددې په خبر باندې «فاء» راوړې ده، او هغه خبر «فسوف تعلمون» دې او مونږ ته ښه پته ده چې ددوی په دې خبرو باندې ستا زړه تنگيږی، او هغه خبرې د توقو او د تکذيب دی تاسو د خپل رب تسبيح بيانوه يعنی سبحان الله وبحمده وايه او په سجده کونکو کښې يعنی مونځ کونکو کښې شامل اوسيږه، او د خپل رب عبادت کوه تر دې چې ستا يقينی «دمرگ» وخت راشی،

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: في الناقة: مفسر علام فی الناقة وئيلو سره ددې سوال جواب ورکړې دې چې آيتنا جمع ده، او ددې تفسير په الناقة مفرد سره کړې دې کوم چې صحيح نه دې؟

د جواب حاصل دادې چې ناقة په ډير آيتونو باندې مشتمل وه، د اوښې د غر نه راوتل، او راتللو سره فورا بچې راوړل، او په خپل نمبر کښې تولې اوبه څکل، او په ډير مقدار کښې پئ ورکول، لهذا د آيتنا تفسير په ناقة سره صحيح دې.

قوله: اصنافا: د ازواجا تفسير په اصنافا سره کولو کښې ئې دې ته اشاره اوکړه چې د ازواجا معروف معنی مراد نه ده، بلکه اصناف او اقسام مراد دی، مثلا کافر، يهود،

نصارى، مجوس، بت پرست وغيره.

قوله: كتبهم: د قرآن تفسير په كتبهم سره كولو كښې اشاره اوكړې شوه، چې د قرآن نه دلته معروف قرآن مراد نه دې.

قوله: اجزاء: دا د عضين لغوي معنى بيانولو د پاره اضافه كړې شوې ده، عضين د عضة جمع ده، ددې اصل عضوة دې، بروزن فعلة. دا د عضى الشاة نه خستلې شوې دې، يعنى ټكړې ټكړې كول.

قوله: صفة: يعنى الذين، د مستهزئين صفت دې، لهذا فصل بالاجنبى نشته.

[١٦] سورة النحل

سورة النحل مكية الا وان عاقبتم الي اخرها ماة وثمان وعشرون اية

سورة نحل مكى دې، سوا د وان عاقبتم نه تر آخره پورې، ۱۲۸ آيتونه دى.

[اياتونه: ۱ - ۹]

بسم الله الرحمن الرحيم لَمَّا اسْتَبْطَأَ الْمُشْرِكُونَ الْعَذَابَ نَزَلَ ﴿أَتَى أَمْرُ اللَّهِ﴾ أَيِ السَّاعَةُ وَأَتَى بِصِيغَةِ الْمَاضِي لِتَحَقُّقِ وُقُوعِه أَيْ قَرُبَ ﴿فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ﴾ تَطْلُبُوهُ قَبْلَ حِينِه فَإِنَّهُ وَاقِعٌ لَا مَحَالَةَ ﴿سُبْحَانَهُ﴾ تَنْزِيهًا لَهُ ﴿وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ بِهِ غَيْرَه ﴿يُنَزِّلُ الْمَلَائِكَةَ﴾ أَيْ جِبْرِيلَ ﴿بِالرُّوحِ﴾ بِالْوَحْيِ ﴿مِنْ أَمْرِهِ﴾ بِإِرَادَتِهِ ﴿عَلَى مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ﴾ وَهُمُ الْأَنْبِيَاءُ ﴿أَنْ﴾ مُفَسِّرَةٌ ﴿أَنْذِرُوا﴾ خَوِّفُوا الْكَافِرِينَ بِالْعَذَابِ وَأَعْلِمُوهُمْ ﴿أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاتَّقُونِ﴾ خافون ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ﴾ أَيْ مُحِقًّا ﴿تَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ بِهِ مِنَ الْأَصْنَامِ ﴿خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ﴾ مَنِيٍّ إِلَى أَنْ صَيَّرَهُ قَوِيًّا شَدِيدًا ﴿فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ﴾ شَدِيدُ الْخُصُومَةِ ﴿مُبِينٌ﴾ بَيِّنُهَا فِي نَفْيِ الْبَعْثِ قَائِلًا ﴿مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ﴾ ﴿وَالْأَنْعَامَ﴾ الْإِبِلَ وَالْبَقَرَ وَالْغَنَمَ وَنَصْبُه بِفِعْلٍ مُقَدَّرٍ يُفَسِّرُهُ ﴿خَلَقَهَا لَكُمْ﴾ فِي جُمْلَةِ النَّاسِ ﴿فِيهَا دِفْءٌ﴾ مَا تَسْتَدْفِئُونَ بِهِ مِنَ الْأَكْسِيَةِ وَالْأَرْدِيَةِ مِنْ أَشْعَارِهَا وَأَصْوَافِهَا ﴿وَمَنَافِعُ﴾ مِنَ النَّسْلِ وَالدَّرِّ وَالرُّكُوبِ ﴿وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾ قَدَّمَ الظَّرْفَ لِلْفَاصِلَةِ ﴿وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ﴾ زِينَةٌ ﴿حِينَ تُرِيحُونَ﴾ تَرُدُّونَهَا إِلَى مَرَاحِهَا بِالْعَشِيِّ ﴿وَحِينَ تَسْرَحُونَ﴾ تُخْرِجُونَهَا إِلَى الْمَرْعَى بِالْغَدَاةِ ﴿وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ﴾ أَحْمَالَكُمْ ﴿إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ﴾ وَاصِلِينَ إِلَيْهِ عَلَى غَيْرِ الْإِبِلِ ﴿إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ﴾ بِجَهْدِهَا ﴿إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ بِكُمْ حَيْثُ خَلَقَهَا لَكُمْ ﴿وَ﴾ خَلَقَ ﴿الْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً﴾ مَفْعُولٌ لَهُ وَالتَّعْلِيلُ بِهِمَا بِتَعْرِيفِ النِّعَمِ لَا يُنَافِي خَلْقَهَا لِغَيْرِ ذَلِكَ كَالْأَكْلِ فِي الْخَيْلِ الثَّابِتِ بِحَدِيثِ الصَّحِيحَيْنِ ﴿وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ مِنَ الْأَشْيَاءِ الْعَجِيبَةِ الْغَرِيبَةِ ﴿وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ﴾ أَيْ بَيَانُ الطَّرِيقِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿وَمِنْهَا﴾ أَيِ السَّبِيلِ ﴿جَائِرٌ﴾ حَائِدٌ عَنِ الِاسْتِقَامَةِ ﴿وَلَوْ شَاءَ﴾ هِدَايَتَكُمْ ﴿لَهَدَاكُمْ﴾ إِلَى قَصْدِ السَّبِيلِ ﴿أَجْمَعِينَ﴾ فَتَهْتَدُونَ إِلَيْهِ بِاخْتِيَارٍ مِنْكُمْ

ترجمه: شروع كوم د الله په نوم سره كوم چې ډير مهربان او ډير رحم والا دې، چې كله مشركانو د

Scanned with

عذاب راتللو کښې روستوالې اوکتلو نو د عذاب مطالبه ئې اوکړه، په هغه وخت کښې دا آیت نازل شو، د الله حکم راغلو یعنی قیامت او د قیامت یقینی راتللو د وجه نه د (اتی) ماضی صیغه استعمال شوۀ،او (اتی) په معنی د (قرب) دې، یعنی د قیامت وخت نزدې راغلو، نو تاسو د هغې د وخت نه مخکښې زر غوښتل مه کوئی، هغه یقینا واقع کیدونکې دې الله پاک دې او کوم غیر الله چې دوی د الله شریک جوړوئی، الله د هغې نه اوچت او برتر دې، الله فرشتو ته یعنی جبرائیل علیه السلام لره وحی ورکولو سره د حکم او ارادې سره په خپل بندګانو کښې چې په چا غواړی نازلوی او هغه پیغمبران دی چې خلقو لره خبردار کړی، (ان) مفسره دې، کافرانو لره د عذاب نه اویروئی، او دوی ته دا اووایئ چې ځما نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته، لهذا هم ځما نه اوویریږئ، هغه آسمانونه او زمکې لره په حقه سره یعنی د یو مقصد لاندې پیدا کړل، او د دې بتانو نه ډیر اوچت او لوئ ذات دې،کوم چې دا خلق د هغه شریک جوړوئی، انسان ئې د منی د نطفې نه پیدا کړو، تر دې چې هغه ئې طاقت ور او مضبوط کړو نو هغه د مرګ نه پس د ژوند انکار کولو سره په ښکاره جهګړمار جوړ شو دې وئیلو سره چې وراسته هډونکی څوک ژوندی کولې شی، او ستاسو د پاره ئې څناورو لره مثلا اوښ، غوا، غوې او چیلئی وغیره پیدا کړل، او د انعام نصب د فعل مقدر د وجه دې، چې د هغې تفسیر خلقها لکم کوی، سره د نورو خلقو ستاسو د پاره ئې څناور پیدا کړل چې د هغې د وړئی او ویښتو نه جوړشوې په ګرم ځادرو او کپړو سره د یښنځ نه ستاسو حفاظت دې، ددې نه علاوه د نسل، پیو، او د سورلئ فائدې هم دی، او په دې کښې بعضې تاسو خورئی، او ظرف (منها) د فواصلو د رعایت دوجه مقدم کړې شوې دې، او ستاسو د پاره هغه د زینت وجه هم وی، چې کله تاسو د ماښام وخت کښې خپلو باړو طرف ته واپس راولئ اوهغه وخت هم (باعث د زینت وی) کله چه تاسو دا د سحر په وخت کښې ددې چراهګاهو (د څر ځایونو) په طرف بوځئی، او هغه ستاسو د سامان بوج اچتولو سره داسې ښاریو ته وړی، کوم ځائې ته چې تاسو د اوښانو نه بغیر نه رسئ خو د سخت زړه چودن نه پس، حقیقت دادې چې ستاسو رب ډیر شفیق او مهربانه دې ځکه چې هغه ستاسو د پاره دې ځناورو لره پیدا کړل، او هغه اسونه، خچر، او خره پیدا کړل ستاسو د سورلئ د پاره او د زینت د پاره دواړه مفعول له دی، او رکوب او زینت علت ګرځول د نعمتونو تعارف د پاره دی، لهذا ددې نه علاوه دپاره د تخلیق سره منافی نه دی، لکه چې اس د خوړلو د پاره هم دې، کوم چې د صحیحنو د حدیث نه ثابت دې، او هغه ډیر عجیب او نا اشنا څیزونه پیدا کوی، څنګه چې تاسو پیژنئ هم نه، او نیغه لاره خودل د الله په ذمه ده حالانکه کږې لارې هم موجود دی، که هغه ستاسو هدایت غوښتلو نو ټولو ته به ئې هدایت ورکړې وو، نو ستاسو به په اختیار سره هغې رسیدنه شوې وه.

Scanned with

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله:ای قرب : ای قرب، وقوعه، تطلبوه، ای تطلبوا وقوعه

قوله:سبحانه: دا د فعل محذوف مفعول مطلق دي، ای سبح سبحانه

قوله:به : په دي کښې اشاره ده، چې په (عما) کښې (ما) موصوله ده، چې د هغې په صله کښې عائد راوړل ضروری دی، او که ما مصدریه وی نو بیا د عائد ضرورت نشته.

قوله:عما: کښې سبحانه و تعالی دواړه فعل تنازع کوئ، هر یو په عما کښې ما لره خپل مفعول جوړول غواړی، دا دواړه د تنازع فعلان نه دی، بصریان وائی چې دویم فعل ته او کوفیان وائی چې اول فعل ته به عمل ورکولې شی.

قوله:ای جبرئیل:

سوال: الملائکة صیغه د جمع وئیلو سره یوه ملائکه مراد اخستلې شوې ده؟

جواب: داسې مجازا کړې دی، ځنګه چې اذ قالت الملائکة کښې د ملائکه نه جبرئیل امین مراد دې، واحدی وئیلې دی چې کله یو فرد د جماعت سردار وی نو په هغه باندې د جمع اطلاق کیږی، جبرئیل علیه السلام چونکه د فرشتو سردار دې لهذا په هغه باندې هم د جمع اطلاق صحیح دې.

قوله:بإرادته: په دې کښې اشاره ده چې په (من امره) کښې (من) په معنی د (باء) دې، لهذا دا اعتراض ختم شو چې په (من امره) کښې من نه بیانیه کیدې شی، نه تبعیضیه او نه ابتدائیه.

قوله:ان مفسرة:

سوال: (ان) مفسره د (قال) یا د (قال) مشتقاتو یا د هم معنې نه پس واقع کیږی، او دلته داسې نه ده شوې؟

جواب: دلته روح چونکه د وحی په معنی کښې دې او وحی د قال په معنی کښې ده لهذا ان مفسره کیدل صحیح دی.

قوله:واعلموهم: دا اضافه د یو سوال مقدر جواب دې.

سوال: انذار متعدی په یو مفعول سره دې، او هغه محذوف دې، ای انذرو المشرکین، لهذا په انه لااله کښې د (ان) د فتحې څه ضرورت دې، د قیاس تقاضه خو دا ده، چې ان په کسرې د همزې سره وی؟

جواب: دادې چې دلته اعلموا مقدر دې او انه لااله الاانا، مفعول ثانی دې، ددې وجه نه ئې انه راوړې دې.

قوله:محقا: په دې کښې اشاره ده چې (بالحق) د حال کیدو د وجه نه منصوب دې.

Scanned with

قوله:شديد الخصومة: په دې کښې اشاره ده چې خصيم (فعيل) د مبالغې د پاره دې.

قوله:نصبه بفعل يفسره خلقها: يعنى دا د (ما اضمر عامله) دقبيل نه دې، تقديرى عبارت دادې خلق الانعام خلقها لكم،

قوله:دفء: د يخنئ کپړې، ګرمې کپړې، د ګرمئ حاصلولو سامان، د اوښانو د پيداوار او د هغې نه چې کومه نفع حاصله وى، د فئ (دفاء، دفاءة، ګرميدل،، ګرمى محسوسول، استدفاء، ګرمې کپړې اغوښتل.

قوله:من اشعارها واصوافها: دا په (ما تستدفئون) کښې د (ما) بيان دې، د (دفء) تفسير په ما تستدفئون سره کښې ئې دا اشاره اوکړه چې دفء مصدر د اسم مفعول په معنى کښې دې، دغه شان د د (دفء) حمل هم صحيح شو.

قوله:قدم الظرف للفاصلة: يعنى (ومنها تأكلون) په اصل کښې (تأكلون منها) وو، د فواصلو د رعايت کولو د وجه نه ظرف ئې مقدم کړو.

قوله:مراح بضم الميم: د آرام ځائې، د څناورو د اوسيدو ځائې، باړا

قوله:وخلق: خلق مقدر ګڼړلو سره اشاره ئې اوکړه چې د الخيل عطف په الانعام باندې دې، اى خلق الانعام وخلق الخيل،الخ

قوله:مفعول له: زينة مفعول له دې، او د لتركبوها په محل باندې عطف دې، يعنى تركبوها، او زينة دواړه د خلق مفعول له دى.

سوال: دواړه مفعول له دى خو دواړه ئې په يو طرز کښې راوړې نه دى؟

جواب: په دواړو کښې فرق دادې چې رکوب د مخاطبينو فعل دې، او زينة د خالق فعل دې.

قوله:والتعليل بهما لتعريف النعم: الخ دا د احنافو د استدلال جواب دې د احنافو استدلال ددې آيت نه داسې دې چې الله تعالى د اسونو خچرو او د خرو د پيدا کولو علت زينت ښودلې دې، او ددې دريواړو په تخليق کښې ئې د خوړلو علت نه دې ګرځولې، څنګه چې په انعام کښې د تخليق علت اکل بيان شوې دې. حالانکه د اکل فائده د نورو فائدو نه اهم ده، او آيت د نعمتونو د بيان د پاره راغلې دې، او دا خبره هيڅ کله مناسب نه ده چې د احسان ښکاره کولو په موقع باندې د لږ نعمت ذکر اوکړې شى، او اعلى پرېښودلې شى،

قوله:-قصد السبيل: دا اضافت صفت الى الموصوف دې، اى السبل القصد، او قصد په معنى د قاصد دې چې حمل صحيح شى، قصد نيغې لارې ته وائى، يقال سبيل قصد، وسبل قاصد، نيغه لاره.

[ایاتونه: ١٠ ـ ٢١]

{هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لَكُمْ مِنْهُ شَرَاب} تَشْرَبُونَهُ {وَمِنْهُ شَجَر} يَنْبُت بِسَبَبِهِ {فِيهِ تُسِيمُونَ} تَرْعَوْنَ دَوَابَّكُمْ {يُنْبِت لَكُمْ بِهِ الزَّرْع وَالزَّيْتُون وَالنَّخِيل وَالْأَعْنَاب وَمِنْ كُلّ الثَّمَرَات إِنَّ فِي ذَٰلِكَ} الْمَذْكُور {لَآيَة} دَالَّة عَلَى وَحْدَانِيَّته تَعَالَى {لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} فِي صُنْعِهِ فَيُؤْمِنُونَ {وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْس} بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى مَا قَبْله وَالرَّفْع مبتدأ {وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوم} بِالْوَجْهَيْنِ {مُسَخَّرَات} بِالنَّصْبِ حَال وَالرَّفْع خَبَر {بِأَمْرِهِ} بِإِرَادَتِهِ {إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَات لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ} يتدبرون {وَ} سَخَّرَ لَكُمْ {مَا ذَرَأَ} خَلَقَ {لَكُمْ فِي الْأَرْض} مِنَ الْحَيَوَان وَالنَّبَات وَغَيْر ذَٰلِكَ {مُخْتَلِفًا أَلْوَانه} كَأَحْمَر وَأَصْفَر وَأَخْضَر وَغَيْرهَا {إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَة لِقَوْمٍ يَذَّكَّرُونَ} يَتَّعِظُونَ {وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ} ذَلَّلَهُ لِرُكُوبِهِ وَالْغَوْص فِيهِ {لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا} هُوَ السَّمَك {وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَة تَلْبَسُونَهَا} هِيَ اللُّؤْلُؤ وَالْمَرْجَان {وَتَرَى} تُبْصِر {الْفُلْكَ} السُّفُن {مَوَاخِرَ فِيهِ} تَمْخَر الْمَاء أَيْ تَشُقّهُ بِجَرْيِهَا فِيهِ مُقْبِلَة وَمُدْبِرَة بِرِيحٍ وَاحِدَة {وَلِتَبْتَغُوا} عَطْف عَلَى لِتَأْكُلُوا تَطْلُبُوا {مِنْ فَضْله} تَعَالَى بِالتِّجَارَةِ {وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} اللّٰه على ذلك {وألقى في الأرض رواسي} جبالا ثوابت ل {أن} لا {تميد} تتحرك {بِكُمْ و} جَعَلَ فِيهَا {أَنْهَارًا} كَالنِّيلِ {وَسُبُلًا} طُرُقًا {لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ} إِلَى مَقَاصِدكُمْ {وَعَلَامَات} تَسْتَدِلُّونَ بِهَا عَلَى الطُّرُق كَالْجِبَالِ بِالنَّهَارِ {وَبِالنَّجْمِ} بِمَعْنَى النُّجُوم {هُمْ يَهْتَدُونَ} إِلَى الطُّرُق والقبلة بالليل {أَفَمَنْ يَخْلُق} وَهُوَ اللّٰه {كَمَنْ لَا يَخْلُق} وَهُوَ الْأَصْنَام حَيْثُ تُشْرِكُونَهَا مَعَهُ فِي الْعِبَادَة لَا {أَفَلَا تَذَكَّرُونَ} هَذَا فَتُؤْمِنُونَ {وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوهَا} تَضْبِطُوهَا فَضْلًا أَنْ تُطِيقُوا شُكْرهَا {إِنَّ اللّٰهَ لَغَفُور رَحِيم} حَيْثُ يُنْعِم عَلَيْكُمْ مَعَ تَقْصِيركُمْ وَعِصْيَانكُمْ {والله يعلم ما تسرون وما تعلنون} {وَالَّذِينَ تَدْعُونَ} بِالتَّاءِ وَالْيَاء تَعْبُدُونَ {مِنْ دُون اللّٰه} وَهُمْ الْأَصْنَام {لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ} يُصَوَّرُونَ مِنَ الْحِجَارَة وَغَيْرهَا {أَمْوَات} لَا رُوح فِيهِمْ خَبَر ثَانٍ {غَيْر أَحْيَاء} تَأْكِيد {وَمَا يَشْعُرُونَ} أَيْ الْأَصْنَام {أَيَّانَ} وَقْت {يُبْعَثُونَ} أَيْ الْخَلْق فَكَيْفَ يَعْبُدُونَ إِذْ لَا يَكُون إِلَٰهًا إِلَّا الْخَالِق الْحَيّ الْعَالِم بالغيب

ترجمه: الله هم هغې دې چا چې ستاسو د فائدې د پاره د آسمان نه (اوريځو نه) اوبه راوورولې، هغه تاسو څکئ، او د هم هغې نه بوټي راټوکيږي، چې په هغې کښې د څرلو د پاره تاسو خپل څناور پريږدئ، هم دغه اوبو سره ستاسو د پاره پټي، زيتون او کهجور او انګور او هر قسم ميوې راټوکوئي، بې شکه دې ټولو څيزونو کښې د الله په وحدانيت باندې دلالت کونکې نښې دي، د هغه خلقو د پاره چې د هغه په صنعت کارئ کښې غوراو فکر کوي، چې د هغې په نتيجه کښې هغوی ايمان راوړي، او هم هغه شپه او ورځ او نور او سپوږمۍ او ستورو لره په خپل قدرت سره ستاسو په کار کښې لګولې دي الشمس په نصب سره په ماقبل باندې عطف دې، او په رفع سره د مبتدأ د وجه، او په القمر او النجوم کښې هم مذکوره دواړه اعراب دي، مسخرات نصب سره دې د حال د وجه نه، او رفع سره دې د خبر د وجه نه. بې شکه په دې

Scanned with

کښې ډیرې نښې دي، د هغه خلقو د پاره څوک چې د عقل نه کار اخلي، یعني غور او فکر کوئي، ډیر څیزونو لره هغه د زمکې نه پیدا کړل چې د هغې رنګ او ډول مختلف دی، لکه سور، شین، او زیړ وغیره، هغه حیوان او نباتات وغیره دي یقینا په دې ذکر شوې څیزونو کښې د نصیحت اخستونکو د پاره ډیر نصیحتونه دي، او دریاب هم هغه ستاسو د سورلئ د پاره او په هغې کښې د غوښې وهلو د پاره ستاسو په اختیار کښې کړل چې تاسو د هغې نه تازه غوښه راوباسئ، هغه مهې دې او د هغې نه کالي راوباسئ چې هغه تاسو اغوندئ، او هغه ملغره او کنجکې دی او ته کشتیانو لره ګورئ چې او به شلولو سره ګرځي، یعني په یو هوا سره تلو راتلو کښې په دریاب کښې اوبو لره شلوی او رواني وي، او دا چې تاسو د تجارت په ذریعه باندې د الله فضل (روزي) طلب کړئ، لتبتغوا په لتاکلو باندې عطف دې او دا چې په دې باندې تاسو د الله شکر ادا کړئ، او هغه په زمکه کښې نه خوزیدونکي غرونه کلک کړل، چې په تاسو نه خوزي، یعني اضطرابی حرکت نه کوي، او په زمکه باندې د نیل په شان نهرونه ئې جوړ کړل او لارې ئې جوړې کړې چې تاسو خپل مقصد ته رسیدنه حاصل کړئ، او ډیرې داسې نښې ئې جوړې کړې چې د هغې نه تاسو رهنمائي حاصلوئي، لکه د غرونو نه په ورځ کښې او د ستورو په ذریعه باندې او نجم په معنی د نجوم دې، د لارې او د قبلې د شپې رهنمائي حاصلوئي، آیا هغه الله څوک چې پیدا کول کوي د هغه چا برابر دې څوک چې څه نه پیدا کوي، او هغه بتان دي چې هغوی لره تاسو په عبادت کښې د الله شریک جوړوئي، (یعني برابر کیدې نه شي) آیا تاسو ددې نه نصیحت نه حاصلوئي، چې ایمان راوړئي، او که تاسو د الله نعمتونه شمیرل او غوارئي نو شمیرلې ئې نشئ څه به تاسو د هغه شکر ادا کړئ بې شکه الله ډیر بخښنې والا او ډیر مهربانه دې ځکه چې هغه ستاسو د کمو او خطاګانو باوجود تاسو ته خپل نعمتونه درکوي، او څه چې تاسو پټوئي او څه چې تاسو ښکاره کوئي الله ته د هغې پته ده، او کومو خلقو ته چې دا خلق د الله پریښودلو سره آوازونو کوي بندګی ئې کوي او هغه بتان دي هغوی هیڅ څیز پیدا کولې نشي، او هغه خو خپله مخلوق دي، یعني د کاڼي وغیره نه تراشلې (توګلې) شوې دي بې ساه دي، دا خبر ثاني دې په هغې کښې ساه نشته، دا تاکید دې، او دې بتانو ته خو دا پته نشته چې مخلوق به کله اوچتولې شي؟ نو بیا دې د هغوی بندګی ولې وکړې شي، ځکه چې معبود خو هغه کیدې شي، څوک چې خالق وي، ژوندې وي او عالم الغیب وي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: بالنصب: مسخرات په الشمس باندې د نصب په صورت کښې به د حال د وجه نه منصوب وي، او په ماقبل کښې د مذکور تولونه به حال وي، او عامل به د سخر ضمیر وي، او په الشمس باندې د رفع په صورت کښې به مسخرات د مبتدأ خبر د وجې مرفوع وي.

قوله: ماذرا: ددې عطف په الليل باندې دې مفسر علام سخر محذوف راوښکلو سره دې طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: مواخر: دا د (ماخر) جمع ده، مخرا، مخورا، او به شلول.

قوله: عطف علی لتاکلوا: یعنی تبتغوا، ددې عطف په لتاکلو باندې دې، په مینځ کښې جمله معترضه ده.

قوله: وجعل فیها: ددې عطف په راوسی باندې دې، ځکه چې په القی کښې د جعل معنی ده.

قوله: خبر ثان: یعنی اموات، د الذین یدعون خبر ثانی دې، او اول خبر ئې من دون الله دې.

قوله: تاکید: یعنی (غیر أحیاء) د اموات تاکید دې، لهذا د عدم حاجت اعتراض ختم شو.

[ایاتونه: ۲۲ ـ ۲۵]

{إِلَٰهُكُمْ} الْمُسْتَحِقّ لِلْعِبَادَةِ مِنْكُمْ {إِلَٰهٌ وَاحِدٌ} لَا نَظِير له في ذاته ولا صِفَاته وَهُوَ اللّٰه تَعَالَى {فَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ قُلُوبُهُمْ مُنْكِرَةٌ} جَاحِدَة لِلْوَحْدَانِيَّةِ {وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ} مُتَكَبِّرُونَ عَنْ الْإِيمَان بِهَا {لَا جَرَمَ} حَقًّا {أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ} فَيُجَازِيهِمْ بِذَلِكَ {إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْتَكْبِرِينَ} بِمَعْنَى أَنَّهُ يُعَاقِبهُمْ وَنَزَلَ فِي النَّضْر بْن الْحَارِث {وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ مَا} اسْتِفْهَامِيَّة {ذَا} مَوْصُولَة {أَنْزَلَ رَبُّكُمْ} عَلَى مُحَمَّد {قَالُوا} هُوَ {أَسَاطِيرُ} أَكَاذِيب {الْأَوَّلِينَ} إضلالا للناس {لِيَحْمِلُوا} فِي عَاقِبَة الْأَمْر {أَوْزَارَهُمْ} ذُنُوبهمْ {كَامِلَةً} لَمْ يُكَفَّر مِنْهَا شَيْء {يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمِنْ} بَعْض {أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ} لِأَنَّهُمْ دَعَوْهُمْ إِلَى الضَّلَال فَاتَّبَعُوهُمْ فَاشْتَرَكُوا فِي الْإِثْم {أَلَا سَاءَ} بِئْسَ {مَا يَزِرُونَ} يَحْمِلُونَهُ حَمْلهمْ هذا

ترجمه: ستاسو د عبادت مستحق خو صرف یو معبود دې، په ذات او صفاتو کښې د هغه نظیر نشته، او هغه الله تعالی دې او څوک چې په آخرت باندې ایمان نه راوړی د هغوی زړونه د وحدانیت نه منکر دی، او هغوی په وحدانیت باندې د ایمان راوړلو نه تکبر کونکی دې، یقینی خبره ده، چې الله هر هغه خبره پیژنی کومه چې هغوی پټوی او ښکاره کوی ئې. لهذا هغه به دوی ته ددې بدله ورکړی هغه تکبر کونکی نه خوښوی په دې معنی چې هغوی ته به سزا ورکړی، او د نضر بن الحارث په باره کښې دا راروان آیت نازل شو. او چې کله د هغوی نه تپوس اوکړې شی، چې ستاسو رب په محمد ﷺ باندې څه نازل کړې دی؟ (ما) استفهامیه ده، او (ذا) موصوله دې.نو خلقو لره د گمراه کولو د پاره ئې جواب ورکړو، چې دا د مخکښنې خلقو دروغې قصې دی، ددې نتیجه به دا وی چې آخر کار دا خلق به خپل ټول گناهونه چې په هغې کښې هیڅ هم معاف شوې نه وی د قیامت په ورځ اوچت کړی او د هغه خلقو د گناهونو هم څه حصه کوم چې دې خلقو د لاعلمئ د وجه نه گمراه کړې وی ځکه دې خلقو هغوی لره د گمراهئ طرف ته راوبلل، نو هغوی ددوی اتباع اوکړه چې د هغې د وجې نه په گناه کښې دواړه

شریک شول، اوګوره څومره خراب بوج دې؟ کوم چې دوی اوچتوی، یعنی ددوی دا اوچتول ډیر خراب دی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: متکبرون: د مستکبرون تفسیر په متکبرون سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې استفعال د تفعل په معنی دې، لهذا دا اعتراض ختم شو، چې دلته د طلب معنی صحیح نه ده.

قوله: بمعنی انه یعاقبهم: دا ددې سوال جواب دې، چې د (حب) لفظ د الله تعالی د پاره استعمالول صحیح نه دی، ځکه چې د (حب) تعلق قلب سره دې، او قلب مجسم وی، کوم نه چې الله تعالی پاک دې؟

جواب: د عدم حب لازم معنی مراد ده، یعنی سزا، لهذا اوس څه اعتراض پاتې نه شو.

قوله: هو: **سوال:** د (هو) مقدر ګنړلو څه ضرورت وو؟

جواب: اساطیر الاولین چونکه د قال مقوله ده، او د مقولې د پاره جمله کیدل ضروری دی، حالانکه اساطیر الاولین مفرد دې، یعنی جمله تام نه ده. مفسر علام (هو) محذوف ګنړلو سره اشاره اوکړه چې اساطیر الاولین د مبتدأ محذوف خبر کیدو سره جمله تام ده.

قوله: فی عاقبة الامر: په دې کښې اشاره ده چې په (لیحملوا) کښې لام د عاقبت دې.

قوله: حملهم هذا: دا مخصوص بالذم دې.

[ایاتونه: ۲۶ _ ۳۴]

{قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ} وَهُوَ نَمْرُودُ بَنَى صَرْحًا طَوِيلًا لِيَصْعَدَ مِنْهُ إِلَى السَّمَاءِ لِيُقَاتِلَ أَهْلَهَا {فَأَتَى اللَّهُ} قَصَدَ {بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ} الأَسَاسِ فَأَرْسَلَ عَلَيْهِ الرِّيحَ وَالزَّلْزَلَةَ فَهَدَمَتْهُ {فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ} أَيْ هُمْ تَحْتَهُ {وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ} مِنْ جِهَةٍ لَا تَخْطُرُ بِبَالِهِمْ وَقِيلَ هَذَا تَمْثِيلٌ لِإِفْسَادِ مَا أَبْرَمُوهُ مِنَ الْمَكْرِ بِالرُّسُلِ {ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُخْزِيهِمْ} يُذِلُّهُمْ {وَيَقُولُ} اللَّهُ لَهُمْ عَلَى لِسَانِ الْمَلَائِكَةِ تَوْبِيخًا {أَيْنَ شُرَكَائِيَ} بِزَعْمِكُمْ {الَّذِينَ كُنْتُمْ تُشَاقُّونَ} تُخَالِفُونَ الْمُؤْمِنِينَ {فِيهِمْ} فِي شَأْنِهِمْ {قَالَ} أَيْ يَقُولُ {الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ} مِنَ الأَنْبِيَاءِ وَالْمُؤْمِنِينَ {إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوءَ عَلَى الْكَافِرِينَ} يَقُولُونَهُ شَمَاتَةً بِهِمْ {الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ} بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ {الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ} بِالْكُفْرِ {فَأَلْقَوُا السَّلَمَ} انْقَادُوا وَاسْتَسْلَمُوا عِنْدَ الْمَوْتِ قَائِلِينَ {مَا كُنَّا نَعْمَلُ مِنْ سُوءٍ} شِرْكٍ فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ {بَلَى إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} فَيُجَازِيكُمْ بِهِ وَيُقَالُ لَهُمْ {فَادْخُلُوا أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا فَلَبِئْسَ مَثْوَى} مَأْوَى {الْمُتَكَبِّرِينَ} {وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا} الشِّرْكَ {مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا خَيْرًا لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا} بِالإِيمَانِ {فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ} حَيَاةٌ طَيِّبَةٌ {وَلَدَارُ الْآخِرَةِ} أَيِ الْجَنَّةُ {خَيْرٌ} مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا قَالَ تَعَالَى فِيهَا {وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ} هِيَ {جَنَّاتُ عَدْنٍ} إِقَامَةٍ

Scanned with

مبتدأ خبره ﴿يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ كَذَٰلِكَ﴾ الجزاء ﴿يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ﴾ ﴿الَّذِينَ﴾ نعت ﴿تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ﴾ طَاهِرِينَ مِنَ الْكُفْرِ ﴿يَقُولُونَ﴾ لَهُمْ عِنْدَ الْمَوْتِ ﴿سَلَامٌ عَلَيْكُمُ﴾ وَيُقَالُ لَهُمْ فِي الْآخِرَة ﴿ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ ﴿هَلْ﴾ مَا ﴿يَنْظُرُونَ﴾ يَنْتَظِرُ الْكُفَّار ﴿إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ﴾ بِالتَّاءِ وَالْيَاءِ ﴿الْمَلَائِكَةُ﴾ لِقَبْضِ أَرْوَاحِهِمْ ﴿أَوْ يَأْتِيَ أَمْرُ رَبِّكَ﴾ الْعَذَاب أَوْ الْقِيَامَة الْمُشْتَمِلَة عَلَيْهِ ﴿كَذَٰلِكَ﴾ كَمَا فَعَلَ هَؤُلَاءِ ﴿فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ مِنَ الْأُمَمِ كَذَّبُوا رُسُلَهُمْ فَأُهْلِكُوا ﴿وَمَا ظَلَمَهُمُ اللَّهُ﴾ بِإِهْلَاكِهِمْ بِغَيْرِ ذَنْب ﴿وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ بِالْكُفْرِ ﴿فَأَصَابَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا﴾ أَيْ جَزَاؤُهَا ﴿وَحَاقَ﴾ نَزَلَ ﴿بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ﴾ أي العذاب

ترجمه: ددوی نه مخکښې خلقو هم مکر کړې وو او هغه نمرود وو، چا چې یو اوچته مناره جوړه کړې وه، چې په هغې باندې اوخیژی او اسمان والو سره جنګ اوکړی الله تعالی آخر هغه د هغې بنیادونه د جړو نه راوخکل، چې په هغې باندې ئې زلزله او څیلئی رولیږله او هغه ټوله ئې نیست ونابود کړه، د هغوی په سرونو باندې د هغوی چتونه د بره نه راپریوتل، کوم وخت چې هغوی ددې لاندې وو او دوی باندې عذاب د هغه ځائې نه راغلو د کوم ځائې نه چې د هغوی خیال او ګمان هم نه وو، یعنی د داسې طرف نه چې د هغوی په خیال او خوب کښې هم نه وو، او وئیلې شوې دی چې دا تمثیل دې د هغه منصوبو ناکامولو د پاره کوم چې دوی د رسول الله ﷺ خلاف تیارې کړې وې، بیا به په ورځې د قیامت باندې هم الله تعالی دوی ذلیله کړی، او د فرشتو په ذریعه باندې به دوی ته په زورنې اووائی، ستاسو په ګمان کښې زما هغه شریکان اوس کوم ځائې دی چې د هغې په باره کښې به تاسو مومنانو سره جهګړې کولې، یعنی مومنانوسره به مو اختلاف کولو او چاته چې علم ورکړې شو یعنی نبیان او مومنان به وائی یقینا نن ورځ د کافرانو د پاره رسوائی او بدبختی ده، او دا خبره به د هغوی په مصیبتونو باندې د خوشحالیدو د وجه کوی، د کوم کافرانو روحونه چې فرشتې د کفر په حالت کښې قبض کوی چې د آخر وخت پورې کفر کولو سره ئې په خپل ځان باندې ظلم اوکړو، دا وخت دا خلق اسلحه ږدی، او د مرګ په وخت کښې د تسلیم او د رضا اظهار کوی، اووائی، مونږ خو هیڅ شرک نه کولو، نو فرشتې به اووائی او ولې نه الله ته خه پته ده، څه چې تاسو کول، هغه به تاسو ته د هغې سزا درکړی او دوی ته به اووئیلې شی اوس تاسو د جهنم په دروازو باندې د همیشه د پاره داخل شئ، هغه څه خراب د اوسیدو ځاې دې د تکبر کونکو د پاره، او کوم خلق چې د شرک نه بچ کیږی، هغوی نه فرشتې تپوس کوی، ستاسو رب څه نازل کړې دی؟ نو هغوی جواب ورکوی چې صرف خیر ئې نازل کړې دې، یعنی کومو خلقو د ایمان په ذریعه سره په دې دنیا کښې نیکی اوکړه د هغوی د پاره صرف خیر دې، یعنی پاکه زندګی ده، او د آخرت کور یعنی جنت ډیر ښه دې، د دنیا نه او څه چې په دې دنیا کښې دی د هغې نه، الله

تعالى د جنت په باره کښې اوفرمائيل، جنت د متقيانو د پاره څه ښه کور دې، د هميشه اوسيدلو باغونه دی جنت عدن مبتدأ ده، يدخلونها ددې خبر دې. چې په هغې کښې به دوی داخليږی، چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږی، او څه چې دا خلق په هغې کښې غواړی، هغه به ورته ملاويږی، الله تعالى پرهيزګارو ته داسې بدله ورکوی، هغه پرهيزګار چې د هغوی روحونه فرشتې په داسې حالت کښې قبض کوی چې هغوی د کفر نه پاک وی، فرشتې دوی ته د مرګ په وخت وائی ستاسو د پاره سلامتی ده، او په آخرت کښې به دوی ته اووئيلې شی د خپلو اعمالو په بدله کښې جنت ته داخل شئ. دوی ته صرف ددې خبرې انتظار دې چې فرشتې دوی له د روح قبض کولو د پاره راشی، ياتيهم د ياء او تاء سره دې، يا ستا د رب حکم، يعنی عذاب يا د قيامت ورځ کومه چې په عذاب باندې مشتمله به وی راشی، دغه شان څنګه چې دوی وکړل د دوی نه مخکښې امتونو هم کړې وو، يعنی خپل رسولانو پورې ئې توقی اوکړې او هغوی ئې شهيدان کړل، هغوی له بغير د جرم نه هلاک کولو د وجه الله په دوی باندې څه ظلم نه دې کړې خو هغوی د کفر په وجه په خپل ځان باندې ظلم کولو، نو دوی ته ددوی د خرابو اعمالو نتيجه ميلاؤ شوه، يعنی ددوی د اعمالو سزا دوی ته ميلاؤ شوه، او چې کوم عذاب پورې هغوی توقې کولې هم هغه عذاب په هغوی باندې نازل شو.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: قصد: د اتيان اطلاق چونکه د الله د پاره ناممکن دې، ځکه ئې د (اتيان) تفسير مجازا په (قصد) سره اوکړو.

قوله: بنيانهم: ددې نه مخکښې مضاف محذوف دې، ای قصد استيصال بنيانهم

قوله: لافساد ما ابرموه: يعنی تمثيل مراد اخستلو په صورت کښې د هغوی هغه منصوبې کومې چې هغوی تيارې کړې وې، ناکامه کول به مراد وی، نه چې د نمرود جوړ کړې شوې عمارت ورانول.

قوله: ای يقول: په دې کښې اشاره ده، چې ماضی په معنی د مضارع کښې ده، د تحقق وقوع د وجه نه د مضارع ئې په ماضی سره تعبير اوکړو.

قوله: قائلين: د قائلين اضافه ئې د کلام مضبوط او مربوط جوړولو د پاره کړې ده، ددې نه بغير په ماقبل او مابعد کښې ربط نه پاتې کيږی.

قوله: نعت: يعنی المتقين موصوف دې، او تتوفاهم ددې صفت دې، او طيبين د (تتوفاهم) د ضمير نه حال دې.

......

[اياتونه: ۳۵ ـ ٤٠]

﴿وَقَالَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا﴾ مِنْ أَهْلِ مَكَّة ﴿لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ نَحْنُ وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ﴾ مِنَ الْبَحَائِرِ وَالسَّوَائِبِ فَإِشْرَاكُنَا وتحريمنا بمشيئته فهو راض به قال تعالى ﴿كَذَٰلِكَ فَعَلَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ﴾ أَيْ كَذَّبُوا رسلهم فيما جاؤوا بِهِ ﴿فَهَلْ﴾ فَمَا ﴿عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾ وَلَيْسَ عَلَيْهِمْ هِدَايَة ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا﴾ كَمَا بَعَثْنَاكَ فِي هٰؤُلَاءِ ﴿أَنِ﴾ أَيْ بِأَنْ ﴿اعْبُدُوا اللَّهَ﴾ وَحِّدُوهُ ﴿وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ الْأَوْثَان أَنْ تَعْبُدُوهَا ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى اللَّهُ﴾ فَآمَنَ ﴿وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ﴾ وَجَبَتْ ﴿عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ﴾ فِي عِلْمِ اللهِ فَلَمْ يُؤْمِن ﴿فَسِيرُوا﴾ يَا كُفَّار مَكَّة ﴿فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ﴾ رُسُلَهُمْ من الهلاك ﴿إِنْ تَحْرِصْ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿عَلَىٰ هُدَاهُمْ﴾ وَقَدْ أَضَلَّهُمُ اللهُ لَا تَقْدِر عَلَى ذَلِكَ ﴿فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي﴾ بِالْبِنَاءِ لِلْمَفْعُولِ وَلِلْفَاعِلِ ﴿مَنْ يُضِلُّ﴾ مَنْ يُرِيد إِضْلَاله ﴿وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ﴾ مَانِعِينَ مِنْ عَذَابِ اللهِ ﴿وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ﴾ أَيْ غَايَة اجْتِهَادِهِمْ فِيهَا ﴿لَا يَبْعَثُ اللَّهُ مَنْ يَمُوتُ﴾ قَالَ تَعَالَى ﴿بَلَىٰ﴾ يَبْعَثُهُمْ ﴿وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا﴾ مَصْدَرَانِ مُؤَكِّدَانِ مَنْصُوبَانِ بِفِعْلِهِمَا الْمُقَدَّر أَيْ وَعَدَ ذَلِكَ وَحَقَّهُ حَقًّا ﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة ﴿لَا يَعْلَمُونَ﴾ ذَلِكَ ﴿لِيُبَيِّنَ﴾ مُتَعَلِّق بِيَبْعَثُهُمُ الْمُقَدَّر ﴿لَهُمُ الَّذِي يَخْتَلِفُونَ﴾ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿فِيهِ﴾ مِنْ أَمْرِ الدِّين بِتَعْذِيبِهِمْ وَإِثَابَة الْمُؤْمِنِينَ ﴿وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ كَانُوا كَاذِبِينَ﴾ فِي إِنْكَار الْبَعْث ﴿إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ﴾ أَيْ أَرَدْنَا إِيجَاده وَقَوْلُنَا مبتدأ خَبَرُهُ ﴿أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ أَيْ فَهُوَ يَكُون وَفِي قِرَاءَة بِالنَّصْبِ عَطْفًا عَلَى نَقُول وَالْآيَة لِتَقْرِيرِ الْقُدْرَة على البعث

ترجمه: او د مکې مشرکانو اووئیل که چرې الله تعالی غوښتله نو مونږ او زمونږ پلار نیکه به د هغه نه بغیر د بل چا عبادت نه کولو او نه به مو د بحائرو او د سوائبو نه څه په خپلې مرضۍ سره حرام ګرځول، نو معلومه شوه، چې زمونږ شرک کول او حرام ګرځول، د هغه د خوښې مطابق دی، او هغه په دې راضی دې، او دغه شان حرکت ددوی نه مخکښې خلقو کړې وو، یعنی رسول چې کوم حکم راوړې وو په هغې کښې دوی خپل رسول دروغژن اوګڼړلو، نو آیا په رسولانو باندې د صفا صفا خبرې رسولو نه علاوه نور څه ذمه داری شته؟ یعنی په واضح توګه باندې د رسولو، او په دوی د هدایت ورکولو ذمه داری نشته، څنګه چې په دوی کښې مونږ ته رسول جوړ کړې رالیږلې ئې، دغه شان مونږ په هر قوم کښې رسولان لیږلې دی، چې اې خلقو تاسو صرف د الله عبادت اوکړئ. د هغه د توحید عقیده اوساتئ، او د بتانو نه بچ شئ یعنی د هغوی د بندګئ نه بچ شئ، نو په دوی کښې څه داسې وو چې هغوی ته الله تعالی هدایت نصیب کړو، نو هغوی ایمان راوړو، او په دوی کښې څه داسې هم وو، چې په هغوی باندې د الله په علم کښې ګمراهی لیکلې شوې وه، چې د هغې د وجه نه هغوی ایمان راونړو، لهذا اې د مکې کافرانو تاسو په زمکه باندې ګرځئ او ګورئ چې د خپلو رسولانو تکذیب کونکو د هلاکت په ذریعه څنګه انجام اوشو؟ اې محمد ﷺ تاسو ددوی د هدایت

Scanned with

اگرچې هر څومره خواهشمند ئې او الله دوی گمراه کړې دی، تاسو ددوی په هدایت باندې قادر نه یئ ځکه چې الله د چا د گمراهۍ فیصله اوکړی نو بیا هغه ته هدایت نه ورکوی یهدی مجهول او معروف دواړه قراءتونه دی او نه به د هغوی مددگاروی یعنی د الله د عذاب نه بچ کونکې هغوی ډیر درانه درانه قسمونه خوری یعنی ډیر تاکیدی قسمونه چې الله به هیڅ کله مړه نه ژوندی کوی ولې نه خامخا به ئې ژوندی کوی، دا خو د هغه برحقه فیصله ده (وعدا، او حقا) دواړه مصدر تاکیدی دی، د خپل فعل مقدر د وجه نه منصوب دی، تقدیری عبارت داسې دې وعد وعدا وحقه حقا خو اکثر خلق یعنی مکې والا دې باندې نه پوهیږی، داسې کیدل ځکه ضروری ده چې الله ددوی په مخکښې هغه حقیقت کولاؤ کړی د کوم دین په خبره کښې چې دوی د مومنانو سره جهگړې کوی، دوی ته په عذاب ورکولو او مومنانو لره ثواب ورکولو سره، او ځکه هم ضروری ده چې کافرانو ته پته اولگی چې هغوی د بعث بعد الموت نه د انکار په باره کښې په غلطه دی (لیبین) د بیعثهم مقدر متعلق دې، کله چې مونږ د یو څیږد ایجادولو فیصله اوکړونو مونږ هغې ته وایو چې شه، نو هغه شی، قولنا مبتدأ ده، او (ان نقول..الخ) ددې خبر دې، او په یو قراءت کښې (یکون) په نصب سره دې، په نقول باندې د عطف د وجه نه، او آیت د مرگ نه پس په ژوندی کولو باندې د قدرت د ثابتولو د پاره دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله:فهوراض: دا اضافه ددې شبهې جواب دې چې د کافرانو او د مشرکانو دا وینه وه چې زمونږ شریک کول او یو څیز حرامول د الله د خوښې او ارادې د وجې دی، دا خبره بالکل صحیح ده ځکه چې د الله د خوښې او ارادې نه بغیر خو هیڅ هم نه کیږی نو بیا د دې نه د انکار کولو او ددې رد کولو څه وجه ده؟

جواب: (فهو راض به) سره ددې شبهې جواب دې خلاصه داده چې د الله د مشیت او ارادې نه مقصد ددوی د الله راضی مندی ده حالانکه مشیت او ارادې د پاره رضامندی ضروری نه ده.

قوله:الابلاغ البین: د البلاغ المبین تفسیر په الابلاغ المبین سره کولو کښې دې ته اشاره اوشوه چې دوړاه په معنی کښې متعدی دې.

قوله:ان تعبدوها: په دې کښې د حذف مضاف طرف ته اشاره ده ځکه چې صرف د بتانو نه د بچ کیدو هیڅ مقصد نشته.

قوله:لا تقدر: په دې کښې اشاره ده چې د (ان تحرص) جزاء محذوف ده، او هغه جزاء لا تقدر علی ذلک ده.

Scanned with

قوله: بالبناء للمفعول: ددې وجه دا ده چې ﴿من يضل﴾ مبتدأ ده او ﴿لا يهدى﴾ ددې خبر دې معنى ئې دا ده من يضل الله لا يهدى اليه لعدم تغيير فعل الله تعالى

قوله: من يريد اضلاله: يعني كه د ﴿من يضل﴾ نه حقيقة ضلالت مراد وى، نو بيا د هدايت د نفى ضرورت نشته.

قوله: ليبين: متعلق بيعثهم المقدر، ددې عبارت مطلب دادې چې د ﴿ليبين﴾ تعلق د ﴿يبعثهم﴾ سره دې، نه چې ﴿لا يعلمون﴾ سره، لهذا دا شبهه ختمه شوه، چې د ﴿ليبين﴾ د ﴿لا يعلمون﴾ علت جوړيدل صحيح نه دى، اوس تقديرى عبارت څه دا رنګه به وى انهم يبعثون ليبين لهم الذى يختلفون فيه.

قوله: اي فهو يكون: په دې كښې اشاره ده چې دا د مبتدأ محذوف خبر دې، او جمله په محل د نصب كښې دې، او كومو حضراتو چې يكون جواب امر ګرځولو سره منصوب منلې دې هغه صحيح نه ده، ځكه چې دواړه مصدرونه متحد دى، حالانكه په جواب امر كښې دا شرط دې چې اول د دويم د پاره سبب وى او دا تغاير غواړى، د نصب صورت هم صحيح دې كه په ﴿نقول﴾ باندې عطف وى نه چې د جواب امر كيدو د وجه نه، ګنى يو موجود ﴿مكون﴾ د پاره ﴿دوه وجوده﴾ يعنى د دوو كونونو راتلل به لازم راشى، چې په هغې كښې به يو د بل سبب وى.

قوله: والآية لتقرير القدرة على البعث: ددې عبارت د اضافې مقصد دې اعتراض لره ختمول دى چې الله تعالى قول ﴿كن﴾ يا خو به موجود ته وى، په دې صورت كښې به تحصيل د حاصل راشى، يا به دا معدوم ته خطاب وى، نو معدوم ته به خطاب لازم شى كوم چې محال او ناممكن دې؟

د جواب خلاصه داده چې د ﴿كن﴾ مقصد دقدرت على البعث اثبات دې، او سرعت فى الايجاد دې، لهذا اوس څه اعتراض نشته.

[اياتونه: ٤١ ـ ٥٠]

﴿وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ﴾ لِإِقَامَةِ دِينه ﴿مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا﴾ بِالْأَذَى مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ وَهُمُ النَّبِيّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابه ﴿لَنُبَوِّئَنَّهُمْ﴾ نُنْزِلهُمْ ﴿فِي الدُّنْيَا﴾ دَارًا ﴿حَسَنَةً﴾ هِيَ الْمَدِينَة ﴿وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ﴾ أَيْ الْجَنَّة ﴿أَكْبَرُ﴾ أَعْظَم ﴿لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾ أَيْ الْكُفَّار أَوْ الْمُتَخَلِّفُونَ عَنْ الْهِجْرَة مَا لِلْمُهَاجِرِينَ مِنْ الْكَرَامَة لَوَافَقُوهُمْ هُمْ ﴿الَّذِينَ صَبَرُوا﴾ عَلَى أَذَى الْمُشْرِكِينَ وَالْهِجْرَة لِإِظْهَارِ الدِّين ﴿وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾ فَيَرْزُقهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُونَ ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلك إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ﴾ لَا مَلَائِكَة ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ الْعُلَمَاء بِالتَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيل ﴿إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ ذَلِكَ فَإِنَّهُمْ يَعْلَمُونَهُ وَأَنْتُمْ إِلَى تَصْدِيقهمْ أَقْرَب مِنْ تَصْدِيق الْمُؤْمِنِينَ

بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿بِالْبَيِّنَاتِ﴾ مُتَعَلِّق بِمَحْذُوفٍ أَيْ أَرْسَلْنَاهُمْ بِالْحُجَجِ الْوَاضِحَة ﴿وَالزُّبُرِ﴾ الْكُتُب ﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ﴾ القرآن ﴿لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ﴾ فِيهِ مِنَ الْحَلَال وَالْحَرَام ﴿وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ فِي ذٰلِكَ فَيَعْتَبِرُونَ ﴿أَفَأَمِنَ الَّذِينَ مَكَرُوا﴾ المكرات ﴿السَّيِّئَاتِ﴾ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي دَار النَّدْوَة مِنْ تَقْيِيده أَوْ قَتْله أَوْ إِخْرَاجه كَمَا ذُكِرَ فِي الْأَنْفَال ﴿أَنْ يَخْسِفَ اللّٰهُ بِهِمُ الْأَرْضَ﴾ كَقَارُونَ ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ﴾ أَيْ مِنْ جِهَة لَا تَخْطِر بِبَالِهِمْ وَقَدْ أُهْلِكُوا بِبَدْرٍ وَلَمْ يَكُونُوا يُقَدِّرُونَ ذٰلِكَ ﴿أَوْ يَأْخُذَهُمْ فِي تَقَلُّبِهِمْ﴾ فِي أَسْفَارهمْ لِلتِّجَارَةِ ﴿فَمَا هُمْ بِمُعْجِزِينَ﴾ بِفَائِتِي الْعَذَاب ﴿أَوْ يَأْخُذَهُمْ عَلَىٰ تَخَوُّفٍ﴾ تَنَقُّص شَيْئًا فَشَيْئًا حَتَّى يَهْلِك الْجَمِيع حَال مِنَ الْفَاعِل أَوِ الْمَفْعُول ﴿فَإِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ حَيْثُ لَمْ يعاجلهم بالعقوبة ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَىٰ مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ﴾ له ظل كشجرة وجبل ﴿يَتَفَيَّؤُا﴾ يميل ﴿ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ﴾ جَمْع شِمَال أَيْ عَنْ جَانِبَيْهِمَا أَوَّل النَّهَار وَآخِره ﴿سُجَّدًا لِلّٰهِ﴾ حَال أَيْ خَاضِعِينَ لَهُ بِمَا يُرَاد مِنْهُمْ ﴿وَهُمْ﴾ أَيِ الظِّلَال ﴿دَاخِرُونَ﴾ صَاغِرُونَ نُزِّلُوا منزلة العقلاء ﴿وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مِنْ دَابَّةٍ﴾ أَيْ نَسَمَة تَدِبّ عَلَيْهَا أَيْ تَخْضَع لَهُ بِمَا يُرَاد مِنْهَا وَغَلَبَ فِي الْإِتْيَان بِمَا لَا يَعْقِل لِكَثْرَتِهِ ﴿وَالْمَلَائِكَةُ﴾ خَصَّهُمْ بِالذِّكْرِ تَفْضِيلًا ﴿وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ يَتَكَبَّرُونَ عن عبادته ﴿يَخَافُونَ﴾ أَيِ الْمَلَائِكَة حَال مِنْ ضَمِير يَسْتَكْبِرُونَ ﴿رَبَّهُمْ مِنْ فَوْقِهِمْ﴾ حَال مِنْ هُمْ أَيْ عَالِيًا عَلَيْهِمْ بِالْقَهْرِ ﴿وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾ بِهِ

ترجمه: او هغه خلق چا چې د الله دين قائمولو دپاره د اهل مكه د تكليفونو ظلم زغملو نه بعد خپل وطن پرېښودلو او هغه نبي ﷺ او د هغه اصحاب دي، مونږ به هغوی ته په دنيا کښې بهترين ځائې ورکړو او هغه ځائې مدينه ده او د آخرت اجر يعنى جنت ډېر لوئې دې كاش كافر يا نه هجرت كونكى دې خبره باندې پوهيدلې، چې د مهاجرو د پاره كومې مرتبې دی نو خامخا به ئې دمهاجرينو په هجرت کښې موافقت كولو دا هغه خلق دی چا چې د مشركانو د تكليفونو او د دين د ښكاره كولو د پاره په هجرت باندې صبر اوكړو او په خپل رب باندې بهروسه كوی، نو هغه هغوی ته داسې طريقې سره رزق وركوی چې هغوی ته وهم او گمان هم نه وی او ستاسو نه مخکښې هم مونږ رسولان خلقو ته راليږل، چې هغوی طرف ته مونږ وحی ليږله نه چې فرشتو لره نو تاسو پوهه والو يعنى د تورات زبور او د انجيل د عالمانو نه معلوم کړئ که چرې تاسو دې باره کښې نه پوهيږئ، ځکه چې هغوی دې باره کښې علم لری او تاسو د هغوی تصديق ته ډېر نزدې يئ، په نسبت د تصديق د مومنانو په رسول الله ﷺ باندې. او مونږ هغوی په دلائلو سره اوليږل (بالبينت) د محذوف متعلق دې، يعنى مونږ هغوی په واضحه دليلونه سره اوليږل، او كتابونو سره او مونږ په تا باندې ذكر (قرآن) نازل کړو، چې دوی په دې کښې غور او فكر اوکړی، او عبرت حاصل کړی آيا هغه خلق كوم چې د نبی سره په دارالندوه کښې د حضور ﷺ د قيد يا د قتل يا د وطن نه د ويستلو په باره

Scanned with

کښې بدترين چالونه جوړوي څنګه چې په سورة انفال کښې ذکر کړې شوې دی د دې خبرې نه بې ويرې شوې دی چې الله به دوی د قارون په شان په زمکه کښې ښخ کړی يا به دوی باندې عذاب داسې ځائې نه راشی چې دوی ته به وهم او ګمان هم نه وی يعنی د داسې طرف نه چې د هغې په باره کښې چرته د دوی په زړه کښې خيال هم تير شوې نه وی، او دوی په بدر کښې هلاک کړې شول، او دوی چرته داسې سوچ هم کړې نه وو، يا دوی به د تجارتی سفر په دوران کښې په تلو راتلو کښې ګير کړې، او دوی هغه عاجزه کولې نه شی، يعنی د هغه د عذاب نه بچ کيدلې نشی، يا به د دوی په مزه مزه نيول کوی تر دې چې ټول هلاک کړی، (علی تخوف) د فاعل يا د مفعول نه حال دې، ستاسو پروردګار ډير شفقت والا او ډير مهربانه دې، څکه د دوی زر نيول نه کوی آيا دوی هغه څيزونه او نه ليدل چې کوم الله تعالی سوری والا پيدا کړل، لکه چې اونې او غرونه چې د هغې سورې په ترتيبه باندې الله تعالی ته سجده کوی، شمائيل د شمال جمع ده، يعنی دا څيزونه ښی او چپ طرف ته، د ورځې په اوله حصه کښې او دويمه حصه کښې (سجدا) د ظلاله د ضمير نه حال دې، يعنی چې کوم د دوی نه مطلوب دې، هغې ته سر ښکته کوی او هغه سورې اظهار د عاجزئی کوی او سورې ئې د ذوی العقول په درجه کښې واچو، او د اسمانونو او د زمکې هر ساه لرونکې کوم چې په زمکه باندې ګرځی، الله تعالی ته سجده کوی، يعنی څه چې د هغې نه مطلوب دې هغې ته سر لاندې کوی او (ما) راوړلو سره غير ذوی العقول ته د زياتوالی د وجه په ذوی العقول باندې غلبه ورکړې شوې ده، او فرشتې هم سجده کوی د هغوی د فضيلت د وجه نه په خصوصيت سره د هغوی ذکر اوشو، او هغوی د هغه د عبادت نه تکبر نه کوی، او فرشتې په داسې حال کښې چې د خپل رب نه کوم چې په غلبه کښې د دوی د پاسه دې، ويرېږی، او دوی ته چې کوم حکم ورکړې شی، د هغې پورا والې کوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله :لاقامة دينه: په دې اضافه کښې د دې سوال جواب دې، چې په (فی الله) کښې لفظ (الله) د مهاجرت ظرف واقع شوې دې، حالانکه د الله ظرف واقع کيدل هيڅ معنی نه لری، د جواب حاصل دادې چې (فی) په معنی د لام دې، او مضاف محذوف دې، فی الله ای لدين الله.

قوله: لنبوانهم: (د تفعيل) نه مضارع جمع متکلم لام تاکيد بانون ثقيله، مونږ دوی خامخا کوزوو، خامخا به ځائې ورکوو، ماده ئې (بوء) ده، او (هم) ضمير دلته د جمع مذکر غائب دې.

قوله: دارا: په دې اضافه کښې د (حسنة) د تانيث علت طرف ته اشاره ده.

قوله: ای الکفار او المتخلفون عن الهجرة: په دې کښې د يعلمون په ضمير کښې د دوو احتمالاتو طرف ته اشاره ده.

قوله: ماللمهاجرين: دا د يعلمون مفعول دې.

قوله: لوافقهم: په دې کښې اشاره ده چې د (لو) جواب محذوف دې.

قوله: فانهم ليعلمونه: دا د (ان) شرطيه جواب دې کوم چې محذوف دې.

قوله: متعلق بمحذوف: يعني بالبينت، دارسلنا محذوف متعلق دې، نه چې د ماارسلنا مذکور، او نه د نوحی، او نه د تعلمون، ځکه چې په اولنی دوو صورتونو کښې متعلق او متعلق په مينځ کښې فصل بالاجنبی راځی، او هغه فاسئلوا اهل الذکر دې او په دريم صورت کښې شرط د تبکيت او د الزام د پاره دې، ځکه چې د د دوی د عالم کيدو نفی ثابته ده.

قوله: المکرات: دا د (السيئات) وجه تانيث طرف ته اشاره ده.

قوله: يتفيوا: مضارع واحد مذکر غائب، مصدر تفيّی، (تفعل) ماده ئې (فی) معنی ئې ده (تيتيگی)

قوله: تنقص: د تخوف تفسير په تنقص سره کول د معنی د بيان د پاره دې، ځکه چې د تخوف معنی د ويرې د پاره هم راځی، او په قلار قلار کمولو د پاره هم، دا کمې اگرچې په نفس کښې وی يا په مال کښې، مفسر علام دلته هم دغه معنی مراد اخستلې ده، يقال تخوف الشیٔ ای تنقصه.

قوله: حال من الفاعل اوالمفعول: يعنی (علی تخوف) يا خو د (ياخذ) د ضمير نه حال دې، يا د (هم) د ضمير نه.

قوله: جمع شمال: دا د انسان د بنی او گس نه کنايه ده، او غالبا د (يمين) مفرد راوړلو کښې د (ما) د لفظ، او د شمائل په جمع راوړلو کښې د (ما) د معنې رعايت کړې دې، ځنکه چې په ظلاله کښې د (ما)د لفظ رعايت دې، او په سجدا کښې د (ما)د معنې.

قوله: نزلومنزلة العقلاء: په دې کښې د يوې شبهې جواب دې، چې واؤ نون سره جمع د ذوی العقول راوړلې شی، او ظلال د ذوی العقول نه نه دې، حالانکه ددې جمع داخرون د واؤنون سره راوړلې شوې ده؟

جواب: چونکه ظلال ته د دخور (يعنی د عاجزئی) نسبت شوې دې، کوم چې د ذوی العقول صفت دې، ځکه واو نون سره جمع راوړلې شوه.

قوله: من دابة: دا د ما فی السموات وما فی الارض بيان دې، او په دې کښې ددې سوال جواب طرف ته اشاره ده، چې دابة هغې ته وئيلې شی، کوم چې په زمکه باندې گرځی، لهذا په دې کښې هغه مخلوق شامل نه دې، کوم چې په اسمانونو او فضا کښې حرکت کوی، او گرځی؟

ددې جواب ئې دا ورکړې دې چې ان الدبيب هي حركة جسمانية سواء كان في الارض اوفي السماء لهذا دا وئيل چې دابه صرف ما يدب على الارض ته وئيلې شي، چې په هغې کښې ملائکې وغيره داخل نه دی، صحيح نه دی.

[اياتوله: ٥١ ـ ٦٠]

{وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَٰهَيْنِ اثْنَيْنِ} تَأْكِيد {إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ} أَتَى بِهِ لِإِثْبَاتِ الْإِلَٰهِيَّة وَالْوَحْدَانِيَّة {فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ} خَافُونِ دُون غَيْرِي وَفِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة {وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} مُلْكًا وَخَلْقًا وَعَبِيدًا {وَلَهُ الدِّينُ} الطَّاعَة {وَاصِبًا} دَائِمًا حَال مِنَ الدِّين وَالْعَامِل فِيهِ مَعْنَى الظَّرْف {أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ} وَهُوَ الْإِلَٰه الْحَقّ وَلَا إِلَٰه غَيْره وَالْاِسْتِفْهَام لِلْإِنْكَارِ وَالتَّوْبِيخ {وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ} لَا يَأْتِي بِهَا غَيْره وَمَا شَرْطِيَّة أَوْ مَوْصُولَة {ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ} أَصَابَكُمْ {الضُّرُّ} الْفَقْر وَالْمَرَض {فَإِلَيْهِ تَجْأَرُونَ} تَرْفَعُونَ أَصْوَاتكُمْ بِالْاِسْتِغَاثَةِ وَالدُّعَاء وَلَا تَدْعُون غَيْره {ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ} {لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ} مِنَ النِّعْمَة {فَتَمَتَّعُوا} بِاجْتِمَاعِكُمْ عَلَى عِبَادَة الْأَصْنَام أَمْر تَهْدِيد {فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ} عاقبة ذلك {وَيَجْعَلُونَ} أَيِ الْمُشْرِكُونَ {لِمَا لَا يَعْلَمُونَ} أَنَّهَا تَضُرّ وَلَا تَنْفَع وَهِيَ الْأَصْنَام {نَصِيبًا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ} مِنَ الْحَرْث وَالْأَنْعَام بِقَوْلِهِمْ هَٰذَا لِلَّهِ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا {تَاللَّهِ لَتُسْأَلُنَّ} سُؤَال تَوْبِيخ وَفِيهِ الْتِفَات عَنِ الْغَيْبَة {عَمَّا كُنْتُمْ تَفْتَرُونَ} عَلَى اللَّه مِنْ أَنَّهُ أَمَرَكُمْ بِذَٰلِكَ {وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ} بِقَوْلِهِمُ الْمَلَائِكَة بَنَات اللَّه {سُبْحَانَهُ} تَنْزِيهًا لَهُ عَمَّا زَعَمُوا {وَلَهُمْ مَا يَشْتَهُونَ} ه أَيِ الْبَنُونَ وَالْجُمْلَة فِي مَحَلّ رَفْع أَوْ نَصْب بِيَجْعَل الْمَعْنَى يَجْعَلُونَ لَهُ الْبَنَات الَّتِي يَكْرَهُونَهَا وَهُوَ مُنَزَّه عَنِ الْوَلَد وَيَجْعَلُونَ لَهُمُ الْأَبْنَاء الَّذِينَ يَخْتَارُونَهُمْ فَيَخْتَصُّونَ بِالْأَبْنَاء لِقَوْلِهِ {فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ} {وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَىٰ} تُولَد لَهُ {ظَلَّ} صَارَ {وَجْهُهُ مُسْوَدًّا} مُتَغَيِّرًا تَغَيُّر مُغْتَمّ {وَهُوَ كَظِيمٌ} مُمْتَلِئ غَمًّا فَكَيْفَ تُنْسَب الْبَنَات إِلَيْهِ تعالى {يَتَوَارَىٰ} يَخْتَفِي {مِنَ الْقَوْمِ} أَيْ قَوْمه {مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ} خَوْفًا مِنَ التَّعْيِير مُتَرَدِّدًا فِيمَا يَفْعَل بِهِ {أَيُمْسِكُهُ} يَتْرُكهُ بِلَا قَتْل {عَلَىٰ هُونٍ} هَوَان وَذُلّ {أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ} بِأَنْ يَئِدهُ {أَلَا سَاءَ} بِئْسَ {مَا يَحْكُمُونَ} حُكْمهمْ هَٰذَا حَيْثُ نَسَبُوا لِخَالِقِهِمُ الْبَنَات اللَّاتِي هُنَّ عِنْدهمْ بِهَٰذَا الْمَحَلّ {لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ} أَيِ الْكُفَّار {مَثَلُ السَّوْءِ} أَيِ الصِّفَة السُّوأَى بِمَعْنَى الْقَبِيحَة وَهِيَ وَأْدهمُ الْبَنَات مَعَ احْتِيَاجهمْ إِلَيْهِنَّ لِلنِّكَاحِ {وَلِلَّهِ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ} الصِّفَة الْعُلْيَا وَهُوَ أَنَّهُ لَا إِلَٰه إِلَّا هُوَ {وَهُوَ الْعَزِيزُ} فِي مُلْكه {الْحَكِيمُ} فِي خَلْقه

ترجمه: الله تعالى فرمائيلی دی چې دوه معبودان مه جوړوئ اثنين د الهين تاکيد دې، معبود خو صرف هغه يواځې دې دائ د وحدانيت او د الوهيت ثابتولو د پاره راوړې دې نو تاسو تول ځما ويره کوئ يعنی ځما نه ويريږئ نه چې د بل چا نه، په دې کښې غيبت نه تکلم طرف ته التفات دې په اسمانونو او زمکه کښې چې څه دی ټول د هغه دی، د ملک، مخلوق او غلام کيدو په اعتبار سره او تابعداری هميشه د هغه لازم ده واصبا د دين نه حال دې، او په

Scanned with

دې کښې عامل ظرف دې (ای ثبت له الدین) آیا بیا هم تاسو د غیر الله نه ویرېږئ؟ معبود برحق هم هغه دې، د هغه نه سوا بل معبود نشته، او استفهام د انکار یا د توبیخ د پاره دې او تاسو سره چې څومره هم نعمتونه دی ټول د الله ورکړې شوې دی یعنی دا نعمتونه د الله نه سوا بل څوک ورکولې نشی، او ما شرطیه یا موصوله ده، نو اوس هم چې تاسو ته څه فقیری مرض وغیره مصیبت راشی نو تاسو هم هغه ته فریاد او ژړا کوئی یعنی د فریاد اوریدلو د پاره هغه ته په زوره زوره آوازونه کوئی او د هغه غیر ته اواز نه کوئی او کله چې هغه ستاسو مصیبت لرې کړو نو په تاسو کښې یوه ډله د خپل رب سره شرک شروع کړی چې د هغه نعمتونو ناشکری اوکړی، کوم چې مونږ هغوی ته ورکړې دی، خه نو د بتانو په عبادت باندې په یوځائې څه مزې واخلئ ددې انجام به تاسو ته معلوم شی او مشرکان د هغه چا د پاره کوم چې نه پیژنی چې هغه نه نقصان رسولې شی او نه نفع رسولې شی، او هغه بتان دی، زمونږ د ورکړې شوې رزق نه چې هغه پټی او څناور دی دا وئیلو سره حصه لګوی چې دا د الله دی او دا زمونږ د شریکانو بتانو د پاره دی والله تاسو چې په الله باندې کوم الزام لګوئ چې هغه مونږ ته د شرک حکم راکړې دې دې باره کښې به تاسو نه ضرور تپوس کیږی په دې کښې د غیبت نه خطاب ته التفات دې او هغوی د الله د پاره دا وئیلو سره چې فرشتې دالله لوریاندې دی لوریانې ثابتوی دوی چې کومه عقیده لری الله ددې نه پاک دې او د ځان د پاره هغه څه ثابتوی کوم چې دوی ته خوښ وی یعنی هلکان، جمله د ما یشتهون په محل د رفع کښې ده یا د جعل د وجه نه په محل د نصب کښې ده، د آیت معنی داده چې د الله د پاره لوریانې خوښوی کومې چې دوی خپله ځان دپاره نه خوښوی حالانکه هغه خو داولاد نه پاک دې او د ځان د پاره هلکان ثابتوی کوم چې دوی ځان دپاره خوښوی، یعنی ځامن د ځان د پاره مخصوص کوی، دلیل د الله قول دې تاسو دوی نه تپوس اوکړئ چې آیا ستاسو رب د پاره جینکئ دی او دوی د پاره لوریانې؟ او چې کله په د دوی کښې چا ته د جینئ پیدا کیدو خوشخبری ورکړې شی، نو د هغه مخ تور شی یعنی داسې بدل شی لکه چې یو غم ذیلې، او دې په زړه زړه کښې خفه کیږی یعنی د غم نه ډک وی، نو بیا د الله تعالی طرف ته د جینکو نسبت ولې کولې شی؟ او دې خراب خبر د وجه نه په خپل قوم کښې د شرم نه پټ پټ ګرځی، او دې خفګان کښې پروت وی چې د دې نوی بچی به څه کوم؟ آیا په ذلت سره بغیر د قتل نه ئې ځان سره ایسار کړی یعنی ژوندې ئې پریږدی یا ئې هغه په خاورو کښې دفن کړی یعنی هغه ژوندې خښ کړی آه: دا څنګه غلطې فیصلې کوی یعنی ددوی دا حکم چې د خپل خالق طرف ته د لوریانو نسبت کوی چې کوم خپلې ددوی په نیز د سپکوالی په درجه کښې دی د دې کافرانو کوم چې په آخرت باندې ایمان نه لری، ډیر خراب مثال دې، یعنی ډیر خراب صفت دې، او (السوٰی) په معنی د قبیحه دې اودا (بد صفت) ددوی جینکو لره

Scanned with

ژوندئ دفن کول دي ددوي سره د نکاح دحاجت باوجود او د الله خو ډير لوئي صفت دې (ای الصفة العلیا) او هغه دا دي چې د هغه نه سوا بل د عبادت لائق نشته، هغه په خپله بادشاهئ کښې غالب دې، او د خپل مخلوق په باره کښې باحکمت دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تأکید: یعني (اثنين) د (الهين) تاکيد دې، د لاتتخذوا الهين اثنين په ترکيب کښې دوه قولونه دي او په لفظ د اثنين کښې دوه احتماله دي

① دا چې اثنين د الهين تاکيد دې، په دې صورت کښې لاتتخذوا په يو مفعول سره متعدي دې، او لا تتخذوا به په معنی د لا تعبدوا وي.

② دويم احتمال دا دي چې لا تتخذوا متعدی په دوه مفعول سره دې، مفعول ثانی محذوف دې، ای لاتتخذوا الهين معبودا، الهين مفعول اول دې، او اثنين ددې تاکيد دې، او معبودا مفعول ثاني دې، کوم چې محذوف دې.

دويم قول: دا چې (اثنين) د لا تتخذوا مفعول اول دې، خودې لره روستو کړې شوې دې، او الهين مفعول ثاني دې کوم چې لفظا مقدم دې، اصل عبارت دا دې، لاتتخذوا اثنين الهين.

قوله: الهين اثنين:

سوال: الهين د تثنيه په وجه په خپله په دوو باندې دلالت کوي په دې کښې د معدود ضرورت نه وي دغه شان په اله واحد کښې هم د معدود د ذکر کولو ضرورت نشته، ځکه چې الهين او اله دواړه په عدد او معدود دواړو باندې دلالت کوي، البته د اثنين نه بره د پاره د معدود راوړل ضروري دي، مثلا رجل، يو سړې، د رجل واحد وئيلو ضرورت نشته، دغه شان رجلين دوه سړي، پدې کښې د رجلين اثنين وئيلو ضرورت نشته، په خلاف د رجال ثلثة، او نساء ثلثة نه، چې په دې کښې د معدود د ذکر کولو ضرورت شته، ځکه چې رجال او نساء مبهم دې، ددې ابهام لرې کولو د پاره د معدود ضرورت شته؟

جواب: ددې سوال جواب په يو څو طريقو باندې دې

① په عبارت کښې تقديم او تاخير دې، تقدير دا دې لاتتخذوا اثنين الهين

② يو څيز چې کله مستنکر او قبيح وي او ددې په قباحت کښې مبالغه مقصود وي نو دا په ډير عبارت سره تعبير کوي چې کثرتِ حروف په کثرتِ معاني باندې دلالت اوکړي.

قوله: اتى به لاثبات الواحدنية: دا ددې سوال جواب دې چې اله خپله په واحد باندې دلالت کوي بيا د واحد راوړلو څه ضرورت؟

جواب: صرف اله ذکر کولو سره دا شبه کيدې شوه چې کيدې شي صرف الوهيت ثابتول مقصود وي، ددې وجه ئې د واحد اضافه اوکړه چې په الوهيت او وحدانيت دواړو

باندې دلالت اوکړي.
لهذا دا اعتراض ختم شو، چې لفظ اله، په جنسیت او وحدانیت دواړو باندې دلالت کوي لهذا د واحد سره د تاکید حاجت نشته.

قوله:الطاعة: په دې کښې اشاره ده چې دین په معنی د طاعت دې نه چې په معنی د جزاء، ځکه چې جزاء دائما نه ده، ځکه چې جزاء به په آخرت کښې وی.

قوله:واصب: دا د وصوب نه اسم فاعل واحد مذکر غائب دې، قائم پاتې کیدونکې، همیشه پاتې کیدونکې.

قوله:حال: یعنی واصبا، د (دین) نه حال دې نه چې صفت، ځکه چې نکره د معرفې نه صفت نه واقع کیږي، او عامل په دې کښې هغه فعل دې کوم چې د جار مجرور نه مفهوم کیږي، ای استقر یا ثبت او بعضې د استقر یا د ثبت د ضمیر مستتر نه حال ګرځولې دې، او معنی په دواړو صورتونو کښې یوه ده، تقدیری عبارت دادې استقر الدین وثبت له حال کونه دائما.

قوله:تجأرون: تاسو فریاد کوئی، تاسو آوازونه اوچتوی، الجوار، رفع الصوت فی الدعاء مضارع جمع مذکر حاضر.

قوله:ولا تدعون غیره: ددې اضافې مقصد په الیه تجأرون کښې د ظرف د تقدیم د فائدې یعنی تخصیص طرف ته اشاره ده.

قوله:امر تهدید: یعنی فتمتعوا کښې امر د تهدید د پاره دې.

قوله:لما لا یعلمون انها: «یعلمون» ضمیر مشرکینو طرف ته راجع دې، او ما ته راجع ضمیر محذوف دې کوم چې علامه سیوطی رحمه الله په انها سره ښکاره کړې دې، لهذا د عدم عائد اعتراض ختم شو، تقدیری عبارت دادې لا یعلمونها انهم الهة ویعتقدون فیها انها تضرو وتنفع ولیس کذلک لانها جماد لا تنفع ولا تضر

قوله:والجملة فی محل رفع او نصب بیجعل: یعنی ولهم ما یشتهون کښې دوه اعراب جائز دی، اول (ما یشتهون) جمله په محل د رفع کښې، او (لهم) د محذوف (ثابت) وغیره متعلق کیدو سره خبرمقدم، او (البنات) باندې د عطف د وجه نه د یجعل مفعول کیدو د وجه نه منصوب دې.

قوله:سبحانه: دا د معطوف او معطوف الیه په مینځ کښې جمله معترضه ده، نه چې فصل بالاجنبی.

قوله:یختارونها: په نسخ متداوله کښې دغه شان دی او ښکاره ده چې یختارونهم پکار وو، ځکه چې ضمیر ابناء ته راجع دې.

Scanned with

قوله: الذين يختارون: دا اضافه د يو سوال جواب دې.

سوال: سوال دا دې چې د «يجعلون» ضمير فاعل كوم چې كفارو ته راجع دې او د مفعول ضمير كوم چې (لهم) دې د دواړو مصداق يو دې، او هغه كفار دي حالانكه د علم نحو قاعده ده چې د فاعل او مفعول د ضميرونو تعدد د نفس د واسطې نه بغير جائز نه دې، سوا د باب د ظن نه، او د هغې د اخواتو نه، دغه وجه ده چې زيد ضربه، جائز نه دې البته زيد ظنه قائما اى نفسه وئيل صحيح دى؟

جواب: الذين يختارون سره هم دغه سوال جواب دې، چې يجعلون په معنى د يختارون دې، ځكه چې اختيار د دووو مفعولو تقاضه نه كوى، او يو مفعول مايشتهون دې، لهذا لام به د اجل په معنى كښې وى.

قوله: بمعنى القبيحة: دا ددې سوال جواب دې چې مثل په معنى د صفت مؤنث دې او السوء مذكر دې حالانكه په موصوف صفت كښې مطابقت ضرورى دې؟

د جواب حاصل دادې چې السوء، السواى قبيحة په معنى كښې دې لهذا موافقت موجود دې.

قوله: الصفة العليا: دا اضافه دغه شان سوال جواب دې.

[اياتونه: ٦١ـ٦٥]

﴿وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِظُلْمِهِمْ﴾ بِالْمَعَاصِي ﴿مَا تَرَكَ عَلَيْهَا﴾ أَيْ الْأَرْض ﴿مِنْ دَابَّةٍ﴾ نَسَمَة تَدِبّ عَلَيْهَا ﴿وَلَكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ﴾ عَنْهُ ﴿سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ عَلَيْهِ ﴿وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ مَا يَكْرَهُونَ﴾ لِأَنْفُسِهِمْ مِنَ الْبَنَات وَالشَّرِيك فِي الرِّيَاسَة وَإِهَانَة الرُّسُل ﴿وَتَصِفُ﴾ تَقُول ﴿أَلْسِنَتُهُمْ﴾ مَعَ ذَلِكَ ﴿الْكَذِبَ﴾ وَهُوَ ﴿أَنَّ لَهُمُ الْحُسْنَى﴾ عِنْد اللّٰه أَيْ الْجَنَّة لِقَوْلِهِ ﴿وَلَئِنْ رُجِعْتُ إِلَى رَبِّي إِنَّ لِي عِنْدَهُ لَلْحُسْنَى﴾ قال تعالى ﴿لَا جَرَمَ﴾ حَقًّا ﴿أَنَّ لَهُمُ النَّارَ وَأَنَّهُمْ مُفْرَطُونَ﴾ مَتْرُوكُونَ فِيهَا أَوْ مُقَدَّمُونَ إِلَيْهَا وَفِي قِرَاءَة بِكَسْرِ الرَّاء أَيْ مُتَجَاوِزُونَ الْحَدّ ﴿تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ﴾ رُسُلًا ﴿فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ﴾ السَّيِّئَة فَرَأَوْهَا حَسَنَة فَكَذَّبُوا الرُّسُل ﴿فَهُوَ وَلِيُّهُمُ﴾ مُتَوَلِّي أُمُورهمْ ﴿الْيَوْمَ﴾ أَيْ فِي الدُّنْيَا ﴿وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ مُؤْلِم فِي الْآخِرَة وَقِيلَ الْمُرَاد بِالْيَوْمِ يَوْم الْقِيَامَة عَلَى حِكَايَة الْحَال الْآتِيَة أَيْ لَا وَلِيّ لَهُمْ غَيْره وَهُوَ عَاجِز عَنْ نَصْر نَفْسه فَكَيْفَ يَنْصُرهُمْ ﴿وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿الْكِتَابَ﴾ الْقُرْآن ﴿إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ﴾ مِنْ أَمْر الدِّين ﴿وَهُدًى﴾ عَطْف عَلَى لِتُبَيِّن ﴿وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ بِهِ ﴿وَاللَّهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ﴾ بِالنَّبَاتِ ﴿بَعْدَ مَوْتِهَا﴾ يُبْسهَا ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ الْمَذْكُور ﴿لَآيَةً﴾ دَالَّة عَلَى الْبَعْث ﴿لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ﴾ سَمَاع تَدَبُّر

ترجمه: كه د ګناهونو په وجه الله د خلقو نيول كول نو په زمكه باندې به ئې يو هم تلونكې (ساه اخستونكې) نه وو پرېښودلې خو هغه دوى ته يو مقرر وخت پورې مهلت وركوى نو چې كله د دوى

وخت مقرره راشي نو دوی د هغې نه يو ساعت نه مخکښې کيږي او نه روستو کيږي، او د الله د پاره هغه څيز ثابت کوي کوم چې دوی خپله خپل ځان د پاره نه خوښوي او هغه ځيزونه لورياڼې او په ملک کښې شرکت او د رسول الله ﷺ سپکوالې دې، او ددې سره سره دوی دروغ وائي او هغه دا چې ددوی د پاره د الله په نيز ښه بدله ده، يعني جنت څنګه چې دوی وائي که چرې څه الله طرف ته واپس شوم نو يقينا ځما د پاره هغه سره ښه بدله ده الله تعالى اوفرمائيل يقيني خبره خو داده چې ددوی دپاره اور دې او دوی به اور ته اچولو نه پس پريښودلې شي يا دوی به تولو نه مخکښې اور ته ورمخکښې کړې شي، او په يو قراءت کښې د راء د کسرې سره دې يعني دوی دحد نه تجاوز کونکی دی والله مونږ ستا نه مخکښې امتونو طرف ته رسولان اوليږل خو شيطان د هغوی د پاره د هغوی خراب عملونه ښائسته کړل چې د هغې د وجې نه هغوی هغه عملونه ښه اوګڼړل نو هغوی د رسولانو تکذيب وکړو هغه شيطان نن هم يعني په دنيا کښې ددوی دوست او ددوی د کارونو جوړونکی دې، او ددوی د پاره په آخرت کښې دردناک عذاب دې وئيلې شوې دی چې د اليوم نه د راتلونکی حالت بيانولو په توګه د قيامت ورځ مراد ده، يعني د قيامت په ورځ به ددوی د شيطان نه بغير بل څوک دوست نه وی، حالانکه هغه شيطان به خپله د خپل ځان د مدد نه عاجز وی نو ددوی به څنګه مدد اوکړي؟ او اې محمد ﷺ مونږ کتاب يعني قرآن په تا باندې ځکه نازل کړې دې چې ته د خلقو د پاره د دين د کارونو نه هر هغه څيز په ښکاره بيان کړې چې په کوم کښې دوی اختلاف کوی او هغه قرآن لار ښودونکی دې ددې په لتبيين باندې عطف دې او د هغه خلقو دپاره رحمت دې، څوک چې په هغې باندې ايمان راوړي، او الله د اسمان نه اوبه راوروليې او ددې اوبو نه ګياګانې راټوکولو سره ئې زمکه ژوندۍ کړه ددې بنجر کيدو يعني د اوچيدو نه پس يقينا په دې ذکر شوې څيزونو کښې د داسې خلقو د پاره کوم چې د غور او فکر سره اوري، د مرګ نه پس راپاسيدو باندې دلالت کونکی نښې دی.

د قيودات و فوائد او تسهيل

قوله: الارض:

سوال: د عليها ضمير مرجع الارض ګرځولې دې، حالانکه په ماقبل کښې د الارض ذکر نشته، په دې کښې اضمار قبل الذکر لازميږي.

جواب: چونکه ناس او دابة په ارض باندې دلالت کوی لهذا ارض اګر چې په ښکاره توګه ذکر نه دې خو دلالت مذکور دې، لهذا د اضمار قبل الذکر اعتراض به وارديږي نه.

قوله: نسمة: کس، روح (جمع) نسم ونسمات

قوله: تقول: د تصف تفسير په تقول سره کولو مقصد ددې سوال جواب ورکول دی چې د تصف لفظ موصوف او د صفت تقاضه کوی، حالانکه دلته نه موصوف شته او نه صفت؟

Scanned with

جواب: دلته تصف په معنی د تقول دې، لهذا د موصوف او د صفت حاجت به نه وی.

قوله: هو: ددې په تقدیر کښې اشاره ده چې (ان) سره د خپل مدخول نه جمله د هو مبتدأ محذوف خبر دې نه د تصف مفعول، ځکه چې د تصف مفعول الکذب موجود دې.

قوله: مقدمون: مخکښې کړې شوي، دا د افرطته فی طلب الماءنه ماخوذ دې، ای قدمته له، ما هغه د اوبو د پاره مخکښې اولیږلو.

[ایاتونه: ٦٦ ـ ٧٠]

﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً﴾ اعْتِبَار ﴿نُسْقِيكُمْ﴾ بَيَان لِلْعِبْرَةِ ﴿مِمَّا فِي بُطُونِه﴾ أَيْ الْأَنْعَام ﴿مِنْ﴾ لِلِابْتِدَاءِ مُتَعَلِّقَة بِنُسْقِيكُمْ ﴿بَيْنِ فَرْثٍ﴾ ثُفْل الْكَرِش ﴿وَدَمٍ لَبَنًا خَالِصًا﴾ لَا يَشُوبهُ شَيْء مِنْ الْفَرْث وَالدَّم مِنْ طَعْم أَوْ رِيح أَوْ لَوْن و هو بَيْنهمَا ﴿سَائِغًا لِلشَّارِبِينَ﴾ سَهْل الْمُرُور فِي حَلْقهمْ لَا يُغَصّ بِهِ ﴿وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيلِ وَالْأَعْنَابِ﴾ ثَمَر ﴿تَتَّخِذُونَ مِنْهُ سَكَرًا﴾ خَمْرًا يُسْكِر سُمِّيَتْ بِالْمَصْدَرِ وَهَذَا قَبْل تَحْرِيمهَا ﴿وَرِزْقًا حَسَنًا﴾ كَالتَّمْرِ وَالزَّبِيب وَالْخَلّ وَالدِّبْس ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ﴾ الْمَذْكُور ﴿لَآيَة﴾ دَالَّة عَلَى قُدْرَته تَعَالَى ﴿لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾ يَتَدَبَّرُونَ ﴿وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ﴾ وَحْي إِلْهَام ﴿أَنْ﴾ مُفَسِّرَة أَوْ مَصْدَرِيَّة ﴿اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا﴾ تَأْوِينَ إِلَيْهَا ﴿وَمِنَ الشَّجَرِ﴾ بُيُوتًا ﴿وَمِمَّا يَعْرِشُونَ﴾ أَيْ النَّاس يَبْنُونَ لَك مِنْ الْأَمَاكِن وَإِلَّا لَمْ تَأْوِ ﴿إِلَيْهَا﴾ ﴿ثُمَّ كُلِي مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي﴾ أُدْخُلِي ﴿سُبُلَ رَبِّكِ﴾ طُرُقه فِي طَلَب الْمَرْعَى ﴿ذُلُلًا﴾ جَمْع ذَلُول حَال مِنْ السُّبُل أَيْ مُسَخَّرَة لَك فَلَا تَعْسُر عَلَيْك وَإِنْ تَوَعَّرَتْ وَلَا تَضِلِّي عَلَى الْعَوْد مِنْهَا وَإِنْ بَعُدَتْ وَقِيلَ حَال مِنْ الضَّمِير فِي اُسْلُكِي أَيْ مُنْقَادَة لِمَا يُرَادُ مِنْك ﴿يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ﴾ هُوَ الْعَسَل ﴿مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ﴾ مِنْ الْأَوْجَاع قِيلَ لِبَعْضِهَا كَمَا دَلَّ عَلَيْهِ تَنْكِير شِفَاء أَوْ لِكُلِّهَا بِضَمِيمَتِهِ إلى غيره اقول وَبِدُونِهَا بِنِيَّة وَقَدْ أَمَرَ بِهِ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اسْتَطْلَقَ عَلَيْهِ بَطْنه رَوَاهُ الشَّيْخَانِ ﴿إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ في صنعه تعالى ﴿والله خلقكم﴾ ولم تكونوا شيئا ﴿ثم يتوفاكم﴾ عند انقضاء آجالكم ﴿ومنكم من يرد إلى أرذل العمر﴾ أي أخسه من الهرم والخرف ﴿لكي لا يعلم بعد علم شيئا﴾ قَالَ عِكْرِمَة مَنْ قَرَأَ القرآن لم يصر بهذه الحالة ﴿إن الله عليم﴾ بتدبير خلقه ﴿قدير﴾ على ما يريده

ترجمه: او امر واقع دادې چې په څناورو کښې هم ستاسو د پاره لوئې عبرت دې، د څناورو په ګیډه کښې چې څه دی مونږ هم هغه غوشیانو یعنی د معدې د فضلاتو او د وینې د مینځ نه (نسقیکم) د عبرت بیان دې، من ابتدائیه ده، د نسقیکم متعلق دې، مونږ څکونکو والوته خوشګوار ښه ذائقې والا صفا پئ څکوو، کوم چې په مرئ کښې په آسانئ سره تیریدونکی دی او په مرئ کښې اینختیدونکی نه دی چې په هغې کښې نه د غوشیانو او د وینې ملاوټ دې او نه رنګ او بوئی، حالانکه هغه ددې دواړو په مینځ کښې وی او د انګورو او د کهجورو په میوو کښې هم ستاسو د پاره عبرت دې چې د کوم نه تاسو شراب جوروئی کوم چې نشې والا دی، د خمر نوم سکر په طور د مبالغې مصدر سره ذکر شوې دې، او دا احسان

د شرابو د حرامولو نه مخکښې وو، او د خوړلو ښه ښه څيزونه جوړوئ مثلا چهوارې، اوڅکې، سرکه او شيره وغيره كوم خلق چې عقل سليم لرى يعنى غور او فكر كوى، د هغوى د پاره په دې ذكر شوو څيزونو كښې د الله د قدرت لوئې نښې دى، او ستا رب د شهدو مچۍ په زړه كښې د وحى الهامى په ذريعه سره دا خبره واچوله ان مفسره يا مصدريه ده چې په غرونو كښې كوروته (چهتې) چوړې كړه او په اونه كښې هم چهتې جوړې كړى، او د هغې ځانګو كښې هم د كوم نه چې خلق ستا د پاره د اوسيدو ځائې جوړوى ګنى تا په هغې كښې پناه اخستلې نه شوه او د هرقسم ميوو رس خوره، او د خپل رب په آسانو لارو كښې د خپل خوراک د پاره داخليدو سره ګرځه ذللا د ذلول جمع ده، او ذللا د سبل نه حال دې، يعنى حال دادې چې ستا د پاره لارې ئې اسانې كړې، چې د هغې د وجې نه ستا د پاره څه تكليف نشته، اګر چه هغه لارې د نورو د پاره ګرانې ولې نه وى، او ته په لار باندې وركيږې نه، اګرچې هغه څومره هم لرې نه وى، او وئيلې شوې دى چې ذللا د اسلكى د ضمير نه حال دې، يعنى د هغه د حكم تابعتدار جوړ شوې داخل شئ كوم چې ستاسو نه مطلوب دې او د هغې د ګيډې نه رنګا رنګ څکاک راوځى، او هغه شهد دى په دې كښې د خلقو د پاره شفا ده، وئيلې شوې دى چې د بعضې بيمارو د پاره پكښې شفا ده څنګه چې د شفا نكره والې په دې باندې دلالت كوى، يا د ټولو بيمارو د پاره شفا ده، نورو دوايانو سره ميلاويدو سره، او نه ميلاويدو سره، په شرطددې چې نيت صفا وى، او حضور ﷺ د شهد د استعمال هغه كس ته حكم كړې وو كوم چې د خيټې په مرض كښې مبتلا وو يعنى دستونه ئې وو (رواه الشيخان) او د الله په صنعت كښې د غور اوفكر كولو والا د پاره په دې كښې لوئې نښې دى او الله تاسو پيدا كړئ حالانكه ستاسو وجود نه وو، او ستاسو د عمر موده د پوره كيدو نه پس به تاسو ته مرګ دركړى، په تاسو كښې بعضې هغه دى چې بيكاره عمر ته رسولې شى بعضې خراب ترين عمر ته، او هغه د بوډها والى او د د كم عقلى عمر دې چې په دير څه باندې د پوهيدو باوجود بيا هم نه پوهيږى حضرت عكرمه ﷺ فرمائى چې كوم سړې د قرآن مشغله ساتى، د هغه به داسې حالت نه كيږى، بې شكه الله تعالى د خپل مخلوق د تدبير نه خبردار دې او هغه چې څه غواړى په هغې باندې قادر دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: ممـا في بطونه: من تبعيضيه ده، ابتدائيه دې.

قوله: من بين فرث: دلـمـانه حال مقدم دې، يا د (ما) نه حال دې كوم چې ددې نه مقدم دې.

سوال: د بطون ضمير انعام طرف ته راجع دې او انعام د جمع په وجه مؤنث دې، او دې طرف ته راجع كيدونكې ضمير مذكر دې په دواړو كښې مطابقت نشته؟

جواب: د لفظ انعام د رعايت د وجه نه د مذكر ضمير راوړې دې او په سورة مؤمنون كښې د معنې د رعايت د وجه مؤنث راوړې دې، سيبويه وئيلې دى چې انعام په وزن د افعال مفرد دې،

قوله: وهو بينهما: دا د لبنا نه حال دې.،

قوله: من ثمرات النخيل: دا د نسقيكم محذوف متعلق دې، او ددې عطف په وان لكم فى الانعام، الخ باندې دې.

قوله: سميت للمصدر: يعنى سكرا اگرچې مصدر دې خو په معنى د خمر كښې دې، اى تتخذون من خمرا، اوس د حمل په باره كښې هيڅ اشكال نشته، او د خمر نوم مبالغة او مجازا ايښودلې شوې دې.

قوله: هذا قبل تحريمها: دا ددې سوال جواب دې، چې تتخذون منه سكرا د احسان يادولو په طور بيان شو، حالانكه شراب حرام دى او حرام څيز سره احسان يادول صحيح نه دى؟ د جواب حاصل دادې چې دا احسان د حرمت د نازليدو نه مخكښې وو، او د شرابو حرمت په مدينه كښې نازل شوې وو.

قوله: مما يعرشون: اى ما يبنى الناس بيوتاً للنحل التى تتعسل فيها، يعنى د يعرشون نه مراد هغه چهتې (ګبين) دى كوم چې خلق د شهد و مچو ساتلو د پاره چهتې جوړه وى.

قوله: جمع ذلول: دا ددې سوال جواب دې چې سبل جمع ده، كوم چې ذوالحال دې او ذللا مفرد دې، حال او ذو الحال كښې مطابقت نشته؟ د جواب حاصل دا دې ذللا مفرد نه دې بلكه د ذلول جمع ده، لهذا د عدم مطابقت اعتراض ختم شو.

قوله: وان توعرت: الوعر، ضد السهل، سخت.

[اياتونه: ٧١ - ٧٦]

﴿وَاللَّهُ فَضَّلَ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الرِّزْقِ﴾ فَمِنْكُمْ غَنِيٌّ وَفَقِيرٌ وَمَالِكٌ وَمَمْلُوكٌ ﴿فَمَا الَّذِينَ فُضِّلُوا﴾ أَيِ الْمَوَالِي ﴿بِرَادِّي رِزْقِهِمْ عَلَى مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ﴾ أَيْ بِجَاعِلِي مَا رَزَقْنَاهُمْ مِنَ الأَموال وغيرها شركة بينهم وبين مماليكهم ﴿فَهُمْ﴾ أَيِ الْمَمَالِيكُ ﴿وَالْمَوَالِي فِيهِ سَوَاءٌ﴾ شُرَكَاءُ الْمَعْنَى لَيْسَ لَهُمْ شُرَكَاءُ مِنْ مَمَالِيكِهِمْ فِي أَمْوَالِهِمْ فَكَيْفَ يَجْعَلُونَ بَعْضَ مَمَالِيكِ اللهِ شُرَكَاءَ لَهُ ﴿أَفَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ﴾ يَكْفُرُونَ حَيْثُ يَجْعَلُونَ له شركاء ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا﴾ فَخَلَقَ حَوَّاءَ مِنْ ضِلْعِ آدَمَ وَسَائِرَ النَّاسِ مِنْ نُطَفِ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً﴾ أَوْلَادَ الأَوْلَادِ ﴿وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ﴾ مِنْ أَنْوَاعِ الثِّمَارِ وَالْحُبُوبِ وَالْحَيَوَانِ ﴿أَفَبِالْبَاطِلِ﴾ الصَّنَمِ ﴿يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ﴾ بِإِشْرَاكِهِمْ ﴿وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ أَيْ غَيْرِهِ ﴿مَا لَا يَمْلِكُ لَهُمْ رِزْقًا مِنَ السَّمَاوَاتِ﴾ بِالْمَطَرِ ﴿وَالْأَرْضِ﴾ بِالنَّبَاتِ ﴿شَيْئًا﴾ بَدَلٌ مِنْ رِزْقًا ﴿وَلَا يَسْتَطِيعُونَ﴾ يَقْدِرُونَ عَلَى شَيْءٍ وَهُوَ الأَصْنَامُ ﴿فَلَا تَضْرِبُوا لِلَّهِ الْأَمْثَالَ﴾ لَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَشْبَاهًا تُشْرِكُونَهُمْ بِهِ

Scanned with

﴿إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ﴾ أَنْ لَا مِثْل لَهُ ﴿وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ ذٰلِكَ ﴿ضرب الله مثلا﴾ ويبدل منه ﴿عَبْدًا مَمْلُوكًا﴾ صِفَة
تُمَيِّزُهُ مِنَ الْحُرِّ فَإِنَّهُ عَبْد الله تعالى ﴿لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ﴾ لِعَدَم مِلْكه ﴿وَمَنْ﴾ نَكِرَة مَوْصُوفَة أَيْ حُرًّا ﴿رَزَقْنَاهُ
مِنَّا رِزْقًا حَسَنًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ سِرًّا وَجَهْرًا﴾ أَيْ يَتَصَرَّف فِيهِ كَيْفَ يَشَاء وَالْأَوَّل مَثَل الْأَصْنَامِ وَالثَّانِي مَثَلُهُ تَعَالَى
﴿هَلْ يَسْتَوُونَ﴾ أَيْ الْعَبِيد الْعَجَزَة وَالْحُرّ الْمُتَصَرِّف لَا ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ وَحْده ﴿بَلْ أَكْثَرُهُمْ﴾ أَيْ أَهْل مَكَّة ﴿لَا
يَعْلَمُونَ﴾ مَا يَصِيرُونَ إِلَيْهِ مِنَ الْعَذَاب فيشركون ﴿وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا﴾ وَيُبْدَل مِنْهُ ﴿رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا أَبْكَمُ﴾ وُلِدَ
أَخْرَس ﴿لَا يَقْدِرُ عَلَىٰ شَيْءٍ﴾ لِأَنَّهُ لَا يَفْهَم وَلَا يُفْهِم ﴿وَهُوَ كَلٌّ﴾ ثَقِيل ﴿عَلَىٰ مَوْلَاهُ﴾ وَلِيّ أَمْره ﴿أَيْنَمَا يُوَجِّهْهُ﴾
يَصْرِفهُ ﴿لَا يَأْتِ﴾ مِنْهُ ﴿بِخَيْرٍ﴾ يَنْجَح وَهٰذَا مَثَل الْكَافِر ﴿هَلْ يَسْتَوِي هُوَ﴾ أَيْ الْأَبْكَم الْمَذْكُور ﴿وَمَنْ يَأْمُرُ
بِالْعَدْلِ﴾ أَيْ وَمَنْ هُوَ نَاطِق نَافِع لِلنَّاسِ حَيْثُ يَأْمُر بِهِ وَيَحُثّ عَلَيْهِ ﴿وَهُوَ عَلَىٰ صِرَاطٍ﴾ طَرِيق ﴿مُسْتَقِيمٍ﴾ وَهُوَ
الثَّانِي الْمُؤْمِن لَا وَقِيلَ هٰذَا مَثَل اللّٰهِ وَالْأَبْكَمُ لِلْأَصْنَامِ وَالَّذِي قَبْله مَثَل الْكَافِر وَالْمُؤْمِن

ترجمه: او الله تعالی په رزق کښې بعضو لره په بعضو باندې اوچتوالې ورکړې دې نو په تاسو کښې مالک او مملوک غریب او مالداره دواړه قسم خلق شته، یعنی کوم مال وغیره چې مونږ هغوی ته ورکړې دې په دې کښې د خان او د غلامانو په مینځ کښې شرکت کولو والا نه دی، په داسې طریقه چې آقا او غلام په دې کښې برابر شریک شی مطلب دادې چې ددوی په غلامانو کښې یو غلام هم ددوی په مال کښې شریک نه دې نو بیا د الله په غلامانو کښې بعضو لره د هغه شریک ولې جوړوی؟ نو آیا دا خلق د الله د نعمتونو نه منکر دی؟ په داسې طریقه چې د هغه شریک جوړوی او هغه الله دې چې چا ستاسو د جنس نه تاسو ته بیبیانې درکړې چنانچه حوا علیها السلام ئې د آدم د پښتئ نه پیدا کړه او ټول انسانان ئې د ښځو او د سړو د نطفو نه پیدا کړل، او ستاسو د بیبیانو نه ئې تاسو لره ځامن او نمسی درکړل، یا د اولاد اولاد ئې درکړلو او تاسو ته ئې ښه ښه څیزونه درکړل یعنی د قسم قسم میوې او غلې او څناور ئې د رزق په طور درکړل آیا بیا به هم دا خلق په باطل (بت) باندې ایمان راوړی او آیا دا خلق به د الله شریک جوړولو سره د الله د نعمتونو ناشکری کوی او د الله پریښودلو سره به د غیر الله بندګی کوی او هغوی د باران په ذریعه د اسمان نه د نباتاتو په ذریعه د زمکې نه د رزق ورکولو هیڅ اختیار نه لری، شیئا د رزقا نه بدل دې، او نه په یو څیز باندې قدرت لری، او هغه بتان دی، نو تاسو د الله د پاره مثالونه مه جوړوئی یعنی د الله څوک مشابه کوئی مه، چې تاسو د هغه شریکان جوړ کړئ، او الله تعالی ته ښه پته ده چې د هغه څوک مثال نشته، او تاسو هغه نه پیژنئ، الله د عبد مملوک یو مثال بیان کړې دې، عبداً مملوکا، د مثلا نه بدل دې، (مملوکا) د عبدا صفت دې، چې د هغې د وجې نه غلام د ازاد نه ممتاز شو، ځکه چې آزاد هم د الله بنده وی، چې هغه د خپل ملکیت نه کیدو د وجه نه په هیڅ یو څیز باندې قدرت نه لری، او یو سړې هغه دې، چاته چې الله د خپل طرف نه معقول (ښه) روزی ورکړی (من) نکره

Scanned with

موصوفه ده، ای عبدا حرا او هغه په پټه او په ښکاره د هغې نه خرچ کوی، یعنې چې څنګه غوارې نو په هغې کښې تصرف کوی، اولنې د بتانو مثال دې، او دویم د الله مثال دې نو آیا یو عاجز بنده او یو آزاد خومختاره بنده په تصرف کښې یو شان کیدې شی؟ نشی کیدې ټول تعریفونه د الله وحده د پاره دی، خو په دوی کښې اکثر یعنی اهل مکه دې عذاب لره نه پیژنی، چې کوم طرف ته دوی روان دی، هم دې ددې ناخبرتیا د وجه نه هغوی شرک کوی، الله د دوو سړو یو بل مثال بیان فرمائی رجلین د مثلا نه بدل دې یو په دې کښې پیدائشی ګونګا دې هغه د هیڅ کار نه دې، څکه چې هغه نه په څه پوهیږی او نه ئې څوک پوهه کولې شی بلکه هغه خو په خپل صاحب باندې بوج دې، کوم طرف ته چې هغه دې اولیږی هغه یو کار صحیح نه کوی، یعنی کامیابی نه حاصلوی، دا د کافر مثال دې آیا داسې یعنې ذکر شوې ګونګا کس او هغه کس کوم چې د انصاف حکم ورکوی یعنی هغه کس کوم چې خبرې کولې شی او خلو ته فائده رسونکی دې، په داسې طریقه چې هغه د عدل حکم کولو والا دې او په دې باندې آماده کولو والا دې، برابر کیدې شی؟ حال دا چې هغه خپله په صحیح لاره باندې دې، او دا دویم مومن دې، برابر نشی کیدې، او وئیلې شوې دی چې دا د الله تعال مثال دې، او ګونګا د بتانو مثال دې، او ددې نه مخکښې مثال د کافر او مومن دې.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: برادي: باء جاره ده، رادی په اصل کښې رادین وو، اړولو والا، واپس کولو والا، ورکولو والا، ماده (رد) ده، نون د جمع اضافت د وجه اوغورزیدو.

قوله: بجاعلي: دا د جعل نه اسم فاعل مذکر غائب په حالت د جر کښې دې، نون د جمع اضافت د وجه سأقط شو.

قوله: المعنى ليس لهم: دا جمله د جواب نفی په مقام کښې واقع شوې ده، او دا رد دې په مشرکینو باندې چې هغه خپل غلامان په ملکیت کښې په برابر طریقه باندې شریک کولو د پاره تیار نه دی، او د الله بعضې غلامان په الوهیت کښې د هغه شریک کوی.

قوله: یکفرون: د یجحدون تفسیر به بکفرون سره کولو کښې اشاره اوشوه، چې یجحدون د یکفرون معنې لره متضمن دې، لهذا ددې متعدی بالباء کیدل صحیح دی، ګنی یجحدون متعدی بنفسه دې.

قوله: بدل من رزقا: څه نه وې که مفسر علام شیئا د رزق بدل واقع کولو په ځائې مفعول به ګرځولې وی، رزقا که مصدر ګنړې یا اسم مصدر، څکه چې بدل په دوو معنو کښې د یوې د پاره راځی، یا د بیان د پاره یا د تاکید د پاره، او دلته دا دواړه صحیح نه دی.

قوله: ولایستطیعون: دا د یو سوال جواب دې

سوال: دلته د جمع صیغه راوړې شوې ده، او په ما لا یملک د واحد حالانکه مرجع د دواړو ضمیرونو یو دې، او هغه دې شرکاء؟
جواب: په یملک کښې د (ما) د لفظ رعایت شوې دې، او په یستطیعون کښې د (ما) د معنې رعایت شوې دې.
قوله: یصرفه، ای یصرفه
قوله: نجح بضم النون: ای الظفر بالشئ.

[ایاتونه: ۶۷ _ ۸۳]

{وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ} أَيْ عِلْم مَا غَابَ فِيهِمَا {وَمَا أَمْرُ السَّاعَةِ إِلَّا كَلَمْحِ الْبَصَرِ أَوْ هُوَ أَقْرَبُ} لِأَنَّهُ بِلَفْظِ كُنْ فَيَكُون {إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ} {وَاللَّهُ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا} الْجُمْلَة حَال {وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ} بِمَعْنَى الأَسماع {وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ} القلوب {لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ} عَلَى ذَلِكَ فَتُؤْمِنُونَ {أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ} مُذَلَّلَات لِلطَّيَرَانِ {فِي جَوِّ السَّمَاءِ} أَيْ الْهَوَاء بَيْن السَّمَاء وَالْأَرْض {مَا يُمْسِكُهُنَّ} عِنْد قَبْض أَجْنِحَتِهِنَّ و بَسْطهَا أَنْ يَقَعْنَ {إِلَّا اللَّهُ} بِقُدْرَتِهِ {إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ} هِيَ خَلْقهَا بِحَيْثُ يُمْكِنهَا الطَّيَرَانُ وَخَلْقَ الْجَوّ بِحَيْثُ يُمْكِن الطَّيَرَان فِيهِ وَإِمْسَاكهَا {وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ بُيُوتِكُمْ سَكَنًا} مَوْضِعًا تَسْكُنُونَ فِيهِ {وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ جُلُودِ الْأَنْعَامِ بُيُوتًا} كَالْخِيَامِ وَالْقِبَاب {تَسْتَخِفُّونَهَا} لِلْحَمْلِ {يَوْمَ ظَعْنِكُمْ} سَفَرِكُمْ {وَيَوْمَ إِقَامَتِكُمْ وَمِنْ أَصْوَافِهَا} أَيْ الْغَنَم {وَأَوْبَارِهَا} أَيْ الْإِبِل {وَأَشْعَارِهَا} أَيْ الْمَعْز {أَثَاثًا} مَتَاعًا لِبُيُوتِكُمْ كَبُسُطٍ وَأَكْسِيَة {وَمَتَاعًا} تَتَمَتَّعُونَ بِهِ {إِلَى حِينٍ} تَبْلَى فِيهِ {وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِمَّا خَلَقَ} مِنَ الْبُيُوت وَالشَّجَر وَالْغَمَام {ظِلَالًا} جَمْع ظِلّ تَقِيكُمْ حَرّ الشَّمْس {وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا} جَمْع كِنّ وَهُوَ مَا يُسْتَكَنّ فِيهِ كَالْغَارِ وَالسِّرْدَاب {وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ} قُمُصًا {تَقِيكُمُ الْحَرَّ} أَيْ وَالْبَرْد {وَسَرَابِيلَ تَقِيكُمْ بَأْسَكُمْ} حَرْبكُمْ أَيْ الطَّعْن وَالضَّرْب فِيهَا كَالدُّرُوعِ وَالْجَوَاشِنِ {كَذَلِكَ} كَمَا خَلَقَ هَذِهِ الْأَشْيَاء {يُتِمُّ نِعْمَتَهُ} فِي الدُّنْيَا {عَلَيْكُمْ} بِخَلْقِ مَا تَحْتَاجُونَ إِلَيْهِ {لَعَلَّكُمْ} يَا أَهْل مَكَّة {تُسْلِمُونَ} تُوَحِّدُونَهُ {فَإِنْ تَوَلَّوْا} أَعْرَضُوا عَنْ الْإِسْلَام {فَإِنَّمَا عَلَيْكَ} يَا مُحَمَّد {الْبَلَاغُ الْمُبِينُ} الْإِبْلَاغ الْبَيِّن وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ {يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ} أَيْ يُقِرُّونَ بِأَنَّهَا مِنْ عِنْده {ثُمَّ يُنْكِرُونَهَا} بإشراكهم {وَأَكْثَرُهُمُ الْكَافِرُونَ}

ترجمه: د اسمانونو او د زمکې د پټو څیزونو علم الله لره دې یعنی په دې دواړو کښې د پټو څیزونو علم د قیامت معامله خو به بس داسې وی لکه چې د سترګو رپ، یا د دې نه هم زیات نیزدې ځکه چې هغه به په لفظ (کن) سره کیږی نو هغه به وشی، یقینا الله په هر څیز باندې قادر دې او الله تاسو د میندو د ګیډو نه داسې پیدا کړئ چې تاسو هیڅ هم نه پیژندل، لاتعلمون د (کم) ضمیر نه حال دې او هغه تاسو ته غوږونه درکړل سمع د اسماع په معنی کښې دې او سترګې ئې درکړې او زړونه ئې درکړل چې تاسو د هغه شکریه ادا کړئ او ایمان راوړئی آیا خلقو مرغو ته کتلې نه دی،؟ چې هغه د الوتلو د پاره د اسمان په فضا کښې مسخر کیږی، یعنی د اسمان او

Scanned with

زمکې په مینځنی فضا کښې د هغوی د وزرو د کولاولو او د بندولو په حالت کښې هم د الله قدرت دې چې هغه ئې د غورزیدلو نه منع کړې دی، د ایمان والو د پاره په دې کښې د قدرت ګڼه نښې دی، یعنی هغه دا داسې جوړکړې دی چې ددوی پرواز ممکن وی، او فضا ئې داسې جوړه کړه چې په هغې کښې د هغې الوتنه ممکن وی، او الله تعالی ستاسو کورونه ستاسو د پاره د آرام ځائې اوګرځولو یعنی داسې ځائې کوم کښې چې تاسو ارام حاصل کړئ او ستاسو د پاره ئې د څناورو څرمنو نه کورونه جوړ کړل، لکه خیمې او قبې، چې د سفر په وخت تاسو هغه په اوچتولو کښې سپک مومئ، او د قیام په دوران کښې هم او د ګډو چیلو د وړو نه او د اوښانو د وړئ او د چیلئی د ویختو نه د خپل کورونو سامان جوړوئی، لکه تکیې او څادرونه او داسې سامان چې د هغې نه تاسو یو مودې پورې چې په هغې کښې هغه زوړ شی فائده حاصلوئی، الله تعالی د خپل پیدا کړې شوې څیزونو نه لکه ونې، کورونه او اوریځې ستاسو د پاره سورې جوړ کړو، ظلال د ظل جمع ده، کوم چې ستاسو د د نمر ګرمئ نه بچ کوی، او ستاسو د پاره په غورونو کښې د پناه ځایونه جوړ کړل، اکنان د (کن) جمع ده، او دا هغه دی چې په هغې کښې پټیدې شی، مثلا غار او تهه خانې، او ستاسو د پاره ئې داسې لباس جوړ کړو کوم چې تاسو د ګرمئ نه بچ کوی، او داسې لباس (زغره) ئې جوړه کړه چې کوم تاسو د خپل مینځ په جنګ کښې د نیزې او د تورې د وهلو نه بچ کوی، لکه زغره او سینه بند، دغه شان څنګه چې هغه دا څیزونه پیدا کړل هغه په دنیا کښې هم ستاسو د ضرورت څیزونه پیدا کولو سره په تاسو باندې خپل نعمتونه پورا کوی، چې تاسو اې اهل مکه فرمانبردار شئ یعنی د هغه د توحید قائل شئ که دا خلق د اسلام نه مخ واړوی نو اې محمد ﷺ ستا په ذمه خو صفا صفا رسول دی یعنی واضح طور باندې بیان کول، او دا حکم د جهاد د حکم د نازلیدو نه مخکښې وو، دا خلق د الله نعمتونه خو پیژنی یعنی ددې خبرې اقرار کوی چې دا ټول نعمتونه د الله د طرف نه دی، بیا هم شرک کولو سره ددې نعمتونو انکار کوی، او په دوی کښې دیر ناشکره دی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: علم ما غاب: ای ما غاب عن العباد

قوله: کلمح البصر: ای کرجع الطرف من اعلی الحدقة الی اسفلها

قوله: اوهو اقرب اولللتخییر اوبمعنی هل

قوله: الجملة حال: لاتعلمون جمله د (کم) ضمیر نه حال دې، او د شیئا مفعول به دې،

قوله: جعل لکم: ددې عطف په اخرجکم باندې دې، ددې فاعل په دې کښې پټ دې،

قوله: بسط: بستره، (واحد) بساط

قوله: اکسیة: (واحد) کساء، څادر

Scanned with

قوله:ظعنكم: ظعن، سفر، (ف) ظعنا، تلل، سفر كول

قوله:قباب:دا د قبة جمع ده، په معنى د قبه، گنبد

قوله:سرابيل: كرته، قميص، دا د (سربال) جمع ده، مطلقا د لباس په معنې كښې هم مجازا استعماليږي

قوله:الجواشن:دا د جوشن جمع ده، زغره، بكتر، سربال عام دې، د اوسپنې وى يا د بل څه، يا دلته جنگى توپئ مراد دې.

[اياتونه: ٨٤ ـ ٨٩]

{وَ} اذكر {يَوْمَ نَبْعَثُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا} هُوَ نَبِيُّهَا يَشْهَد لَهَا وَعَلَيْهَا وَهُوَ يَوْم الْقِيَامَة {ثُمَّ لَا يُؤْذَنُ لِلَّذِينَ كَفَرُوا} فِي الِاعْتِذَار {وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ} لَا يُطْلَب مِنْهُمْ الْعُتْبَى أَيْ الرُّجُوع إِلَى مَا يُرْضِي الله {وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ ظَلَمُوا} كَفَرُوا {الْعَذَابَ} النَّار {فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ} الْعَذَاب {وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ} يُمْهَلُونَ عَنْهُ إِذَا رَأَوْهُ {وَإِذَا رَأَى الَّذِينَ أَشْرَكُوا شُرَكَاءَهُمْ} مِنَ الشَّيَاطِين وَغَيْرهَا {قَالُوا رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ شُرَكَاؤُنَا الَّذِينَ كُنَّا ندعوا} نَعْبُدهُمْ {مِن دُونِكَ فَأَلْقَوْا إِلَيْهِمُ الْقَوْلَ} أَيْ قَالُوا لَهُمْ {إِنَّكُمْ لَكَاذِبُونَ} فِي قَوْلكُمْ إِنَّكُمْ عَبَدْتُمُونَا كَمَا فِي آيَة أُخْرَى {مَا كَانُوا إِيَّانَا يَعْبُدُونَ} سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ {وَأَلْقَوْا إِلَى اللَّهِ يَوْمَئِذٍ السَّلَمَ} أَيْ اسْتَسْلَمُوا لِحُكْمِهِ {وَضَلَّ} غَابَ {عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ} مِنْ أَنَّ آلِهَتهمْ تَشْفَع لَهُمْ {الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا} النَّاس {عَن سَبِيلِ اللَّهِ} دِينه {زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ} الَّذِي اسْتَحَقُّوهُ بكفرهم قال ابن مَسْعُود عَقَارِب أَنْيَابهَا كَالنَّخْلِ الطِّوَال {بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ} بِصَدِّهِمْ النَّاس عَنْ الْإِيمَان {وَ} اذكر {يَوْمَ نَبْعَثُ فِي كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا عَلَيْهِم مِّنْ أَنفُسِهِمْ} وَهُوَ نَبِيّهمْ {وَجِئْنَا بِكَ} يَا مُحَمَّد {شَهِيدًا عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ} أَيْ قَوْمك {وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ} الْقُرْآن {تِبْيَانًا} بَيَانًا {لِّكُلِّ شَيْءٍ} يَحْتَاج إِلَيْهِ النَّاس مِنْ أَمْر الشَّرِيعَة {وَهُدًى} مِنْ الضَّلَالَة {وَرَحْمَةً وَبُشْرَىٰ} بِالْجَنَّةِ {لِلْمُسْلِمِينَ} الموحدين

ترجمه: او ياد كړه هغه ورځ چې په كومه ورځ به مونږ د هر امت نه گواه اودروو، او هغه به ددې امت نبى وى، هغه به ددوى د ايمان او كفر گواهى وركړى، او هغه به د قيامت ورځ وى، بيا به كافرانو ته نه د عذر پيش كولو اجازت وركولې شى او نه به ددوى نه خوشنودى طلب كولې شى، يعنى نه به ددوى نه د هغه څيز طلب كولې شى كوم سره چې الله رضا شى، او كله چې كافران عذاب اوينى، نو نه به ددوى نه د عذاب سپكوالې كيږى او نه به دوى ته د عذاب نه مهلت وركولې شى، چې كله هغوى دا اوگورى او چې كله مشركان شيطانان وغيره خپل شريكان اوگورى نو وائى به چې اې زمونږ پروردگاران هم دا دى زمونږ شريكان، د كومو چې سونږ ستا نه علاوه بندگى كوله، نو هغوى به دوى ته جواب وركړى تاسو په دې خبره كښې چې تاسو به زمونږ بندگى كوله بالكل دروغژن يئ څنگه چې په بل آيت كښې دى ما كانوا اياانا يعبدون: هغوى به زمونږ بندگى نه كوله، يعنى ډير زر به ددوى د عبادت نه انكار اوكړى، او په

Scanned with

دغه ورځ به د الله حکم ته سرونه ښکته کړي، او ددوی دا دروغ چې ددوی معبودان به ددوی سفارش کوی ورک به شی، ختم به شی او چا چې کفر کړی دي او خلقو لره ئې د الله د دین نه منع کړي دی مونږ ددوی عذاب باندې چې د هغې دوی د خپل کفر د وجه لائق دی، په عذاب باندې عذاب زیاتوو، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چې داسې لرمانان به وی چې د هغوی د غاښونو اوږدوالې به د کهجورې د اونې برابر وی ددې وجه نه چې هغوی به خلقو لره د ایمان نه منع کولو سره فساد کولو، اویاد ساته، هغه ورځ چې په کومه به د هر امت نه یو گواه اودرولې شی هغه به ددوی نبی ﷺ وی، او اې محمد ﷺ مونږ به تا په دوی باندې یعنی تا به په قوم باندې گواه اودروو، او مونږ په تاسو باندې دا کتاب قرآن نازل کړو، چې په هغې کښې د شرعی ضروریاتو نه د هر ضرورت پورا بیان دې، چې د هغې خلقو ته حاجت وی، او د گمراهی نه هدایت دې، او رحمت دې، د مسلمانانو توحید منونکو د پاره د جنت خوشخبری ده.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: یستعتبون: استعتاب، د استفعال نه مضارع جمع مذکر غائب، د خوشنودی حاصلولو د پاره وئیل، د رضامندئ خواهش کول، بعضې مفسرینو د لا یستعتبون ترجمه کړې ده، چې نه به ددوی عذر قبلولې شی، علامه محلی ددې لفظ په تشریح کښې لیکلې دی لا یطلب منهم ان یرضوا ربهم بالتوبة والطاعة لانها لاتنفع یومئذ، ددوی نه به ددې خبرې طلب نه کیږی چې د طاعت او د توبې په ذریعې سره خپل رب رضا کړی، ځکه چې په دغه ورځ به دا څیزونه مفید نه وی.

قوله: الذین کفروا: الخ مبتدأ ده، او (زدناهم) ددې خبر دې، او دا هم کیدې شی، چې الذین کفروا، الخ د یفترون فاعل وی، زدنهم جمله مستانفه ده.

قوله: بما کانوا یفسدون: باء سببیه ده، او (ما) مصدریه ده، ای بسبب کونهم مفسدین

قوله: اي قومك: دا یو تفسیر دې، یعنی هر نبی ﷺ به د خپل امت متعلق گواهی ورکوی، حضور ﷺ به هم د خپل امت په باره کښې گواهی ورکوی، بیضاوی هم داسې لیکلې دی، او بعضې مفسرینو لیکلې دی، چې د هؤلاء نه مراد انبیاء دی، یعنی هغوی ﷺ به د انبیاؤ په باره کښې گواهی ورکوی ځکه چې د هر نبی ﷺ د خپل امت په باره کښې گواهی ورکول چې په هغوی کښې حضور ﷺ هم شامل دې، د یوم نبعث فی کل امة شهیدا علیهم من انفسهم نه مفهوم دې، دې خبرې لره دوباره ذکر کول تکرار بغیر د فائدې نه دې، لهذا د شهیدا علی هؤلاء نه شهادت علی الانبیاء مراد دې، او د ابوسعود عبارت څه داسې دې، چې علی هؤلاء الامم وشهدائهم

[اياتونه: ۹۰ ـ ۱۰۰]

{إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ} التَّوْحِيد أَوْ الْإِنْصَاف {وَالْإِحْسَانِ} أَدَاء الْفَرَائِض أَوْ أَنْ تَعْبُد اللّه كَأَنَّك تَرَاهُ كَمَا فِي الْحَدِيث {وَإِيتَاءِ} إِعْطَاء {ذِي الْقُرْبَى} الْقَرَابَة خَصَّهُ بِالذِّكْرِ اهْتِمَامًا بِهِ {وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ} الزِّنَى {وَالْمُنْكَرِ} شَرْعًا مِنَ الْكُفْر وَالْمَعَاصِي {وَالْبَغْيِ} الظُّلْم لِلنَّاسِ خَصَّهُ بِالذِّكْرِ اهْتِمَامًا كَمَا بَدَأَ بِالْفَحْشَاءِ كَذَلِكَ {يَعِظُكُمْ} بِالْأَمْرِ وَالنَّهْي {لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ} تَتَّعِظُونَ وَفِيهِ إِدْغَام التَّاء فِي الْأَصْل فِي الذَّال وفي المستدرك عن بن مَسْعُود هَذِهِ أَجْمَع آيَة فِي الْقُرْآن لِلْخَيْرِ والشر {وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ} مِنَ الْبَيْعَة وَالْأَيْمَان وَغَيْرهَا {إِذَا عَاهَدْتُمْ وَلَا تَنْقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا} تَوْثِيقهَا {وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا} بِالْوَفَاء حَيْثُ حَلَفْتُمْ بِهِ وَالْجُمْلَة حَال {إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ} تَهْدِيد لَهُمْ {وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ} أَفْسَدَتْ {غَزْلَهَا} مَا غَزَلَتْهُ {مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ} إِحْكَام لَهُ وَبَرْم {أَنْكَاثًا} حَال جَمْع نِكْث وَهُوَ مَا يُنْكَث أَيْ يُحَلّ إِحْكَامه وَهِيَ امْرَأَة حَمْقَاء مِنْ مَكَّة كَانَتْ تَغْزِل طُول يَوْمهَا ثُمَّ تَنْقُضهُ {تَتَّخِذُونَ} حَال مِنْ ضَمِير تَكُونُوا أَيْ لَا تَكُونُوا مِثْلهَا فِي اتِّخَاذكُمْ {أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا} هُوَ مَا يَدْخُل فِي الشَّيْء وَلَيْسَ مِنْهُ أَيْ فَسَادًا أَوْ خَدِيعَة {بَيْنَكُمْ} بِأَنْ تَنْقُضُوهَا {أَنْ} أَيْ لِأَنْ {تَكُونَ أُمَّةٌ} جَمَاعَة {هِيَ أَرْبَى} أَكْثَر {مِنْ أُمَّةٍ} وَكَانُوا يُحَالِفُونَ الْحُلَفَاء فَإِذَا وَجَدُوا أَكْثَر مِنْهُمْ وَأَعَزّ نَقَضُوا حِلْف أُولَئِكَ وَحَالَفُوهُمْ {إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ} يَخْتَبِركُمْ {اللَّهُ بِهِ} أَيْ بِمَا أَمَرَ بِهِ مِنَ الْوَفَاء بِالْعَهْدِ لِيَنْظُر الْمُطِيع مِنْكُمْ وَالْعَاصِيَ أَوْ بِكَوْن أُمَّة أَرْبَى لِيَنْظُر أَتَفُونَ أَمْ لَا {وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ} فِي الدُّنْيَا مِنْ أَمْر الْعَهْد وَغَيْره بِأَنْ يُعَذِّب النَّاكِث وَيُثِيب الوافي {وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً} أَهْل دِين وَاحِد {وَلَكِنْ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَلَتُسْأَلُنَّ} يَوْم الْقِيَامَة سُؤَال تَبْكِيت {عَمَّا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} لتجازوا عليه {وَلَا تَتَّخِذُوا أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ} كَرَّرَهُ تَأْكِيدًا {فَتَزِلَّ قَدَمٌ} أَيْ أَقْدَامكُمْ عَنْ مَحَجَّة الْإِسْلَام {بَعْدَ ثُبُوتِهَا} اسْتِقَامَتهَا عَلَيْهَا {وَتَذُوقُوا السُّوءَ} أَيْ العذاب {بِمَا صَدَدْتُمْ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ} أَيْ بِصَدِّكُمْ عَنِ الْوَفَاء بِالْعَهْدِ أَوْ بِصَدِّكُمْ غَيْركُمْ عَنْهُ لِأَنَّهُ يَسْتَنّ بِكُمْ {وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ} فِي الآخرة {وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا} مِنَ الدُّنْيَا بِأَنْ تَنْقُضُوهُ لِأَجْلِهِ {إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ} مِنَ الثَّوَاب {هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ} مِمَّا فِي الدُّنْيَا {إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ} ذَلِكَ فَلَا تَنْقُضُوا {مَا عِنْدَكُمْ} مِنَ الدُّنْيَا {يَنْفَدُ} يَفْنَى {وَمَا عِنْدَ اللَّهِ بَاقٍ} دَائِم {وَلَيَجْزِيَنَّ} بِالْيَاء وَالنُّون {الَّذِينَ صَبَرُوا} على الْوَفَاء بِالْعُهُودِ {أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ} أَحْسَن بِمَعْنَى حَسَن {مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً} قِيلَ هِيَ حَيَاة الْجَنَّة وَقِيلَ فِي الدُّنْيَا بِالْقَنَاعَةِ و الرزق الحلال {ولنجزينهم أجرهم بأحسن ما كانوا يعملون} {فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ} أَيْ أَرَدْت قِرَاءَته {فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ} أَيْ قُلْ أَعُوذ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَان الرَّجِيم {إنه ليس له سلطان} تسلط {على الذين آمنوا وعلى ربهم يتوكلون} {إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ} بِطَاعَتِهِ {وَالَّذِينَ هُمْ بِهِ} أَيْ اللّه {مُشْرِكُونَ}

ترجمه: بې شکه الله تعالی د عدل یعنی د توحید یا د انصاف او د احسان یعنی د فرضو د ادا

Scanned with

کولو یا د داسې عبادت کولو ګویا چې ته هغه وینې، څنګه چې په حدیث کښې وارد دی
او د رشته دارو سره د ښه سلوک کولو د اهتمام د وجه نه، خاص طور سره د رشته دارو ذکر
کړې دې حالانکه د احسان په حکم کښې نور هم داخل دی، حکم ورکوی او الله د بې حیائی
یعنی د زنا او د شرعی بدو نه مثلا کفر، ګناه او په خلقو باندې ظلم کولو نه منع فرمائی منع
د ظلم نه ئې د اهتمام د وجه نه خاص طور سره ذکر کړو، ګنی خو په نهی عن الفحش کښې
هم په ظلم داخل دی، د امر او نهی تاسو ته نصیحت کوی چې تاسو سبق حاصل کړئ په تذکرون
کښې په اصل کښې د تاء په ذال کښې ادغام دې، او په مستدرک کښې د ابن مسعود
رضی الله عنه نه نقل دی چې د قرآن په آیتونو کښې دا آیت د خیر او شر د بیانولو د پاره جامع آیت
دې، او تاسو د الله وعده پوره کړئ د بیعت په توګه وی او که د ایمان وغیره په توګه، چې
کله تاسو خپل مینځ کښې معاهده کوئی او قسمونه ددې د پخولو نه پس مه ماتوئی، حالانکه
تاسو الله لره په خپل ځان باندې ګواه جوړ کړې دې، په عهد پوره کولو باندې، ځکه چې تاسو د
هغه قسم خوړلې دې، او وقد جعلتم جمله حال دې، الله ته ښه پته ده څه چې تاسو کوئی دا ددوی
د پاره دهمکی ده او تاسو د هغه ښځې پشان مه کیږئی چا چې خپلې ریشلې تار ونه مضبوطولو نه
پس ټکړې ټکړې کولو سره سپړدل انکاثا حال دې، او د نکث جمع ده، سپړدلو سره د هغې
مضبوطوالې ختم کړې شوې وی، دا واقعه د مکې د یو لیونۍ ښځې ده توله ورځ به ئې
ریشلې جوړوله، او ماښام به ئې سپړدل او خرابول، تاسو خپل قسمونه په خپل مینځ کښې د
دهوکې د ذریعه جوړوئی تتخذون د تکونوا د ضمیر نه حال دې، دخلا اجنبی څیز ته وئیلې
شی، چې د چا جنس نه وی، یعنی تاسو خپل قسمونه فساد او دهوکه مه جوړوئی، په
داسې صورت چې هغه مات کړئ، چې په تاسو کښې یو جماعت د بل جماعت نه زیات شی، او
دې خلقو به خپل حلیفانو سره معاهدې کولې، او چې کله یو لوئې جماعت یا ددوی نه
زیات عزت والا وموندلو نو د مخکښې معاهده کونکی خلقو وعده به ئې ختمه کړه، او
د نورو حلیفان به شول، حقیقت دا دې چې الله تعالی ددې په وجه باندې امتحان اخلی، یعنی د
وعدې د پورا کولو حکم کولو سره ستاسو امتحان اخلی، چې په تاسو کښې فرمانبردار
او نافرمان ښکاره کړی او یا یو جماعت زیات شی چې الله اوګوری چې تاسو د وعدې
پورا والې کوئی یا نه کوئی، او د قیامت په ورځ به الله تعالی ستاسو مخکښې چې د کومې
وعدې په باره کښې تاسو په دنیا کښې اختلاف کولو، ښکاره ښکاره بیان کړی، دا چې د وعدې
ماتونکی ته به سزا ورکړی او پوراکولو والا ته به بدله ورکړی، او که الله غوښتله، نو تاسو
به ئې د یو امت یعنی یو قوم والا جوړکړې وئی، خو الله چې د چا ګمراه کول اوغواړی ګمراه
ئې کړی، او چا ته چې اوغواړی هدایت ورکړی، څه چې تاسو کوئی ددې باره کښې د
قیامت په ورځ به یقینا ستاسو د لاجواب کولو د پاره تاسو نه تپوس کولې وکړې شی او

Scanned with

تاسو خپل قسمونه په خپل مینځ کښې د دهوکې ذریعه مه جوړوئی، د تاکید د پاره ئې مکرر راوړې دې، بیا به ستاسو قدمونه د اسلام د لارې نه په دې باندې د ګلګیدو نه پس اوخوېږي، او تاسو به د بدترین عذاب مزه اوڅکئی، ستاسو د الله د لارې نه د بندولو د وجه نه یعنی ستاسو د وعدې نه پورا کولو د وجه نه، یا نورو لره د د وعدې پورا کولو نه د منع کولو د وجه نه، چې هغوی ستاسو په نقشق قدم باندې لاړشی او تاسو ته به په آخرت کښې لوئې عذاب وی، او تاسو د الله وعده د دنیا د لږ قیمت د پاره مه خرڅوئی، په داسې طریقه چې ددې د پاره وعده ماته کړئ بې شکه الله تعالی سره ستاسو د پاره ښه اجر دې، د هغه نه کوم څه چې په دې دنیا کښې دی، که تاسو ته ددې خبرې علم وی نو تاسو وعده مه ماتوئی او د دنیا څه سامان چې تاسو سره دې، هغه ختمیدونکې دې، او کوم چې الله سره دې هغه همیشه د پاره دې او مونږ به لیجزین) د یا او نون سره دې، یقینا په وعده باندې صبر کولو والا ته د هغوی د اعمالو بهترینه بدله ورکړو، احسن په معنی د حسن دې، او کوم سړې چې نیک عملونه اوکړی، ښځه وی او که سړې، او هغه ایماندار وی، نو مونږ به خامخا هغه ته ښه ژوند ورکړو، وئیلې شوې دی، چې هغه د جنت ژوند دې، او وئیلې شوې دی چې په دنیا کښې قناعت او رزق حلال دې، او ددوی د نیک اعمالو بدله به مونږ خامخا ورکوو، او چې کله ته قرآن تلاوت کوی یعنی د وئیلو اراده اوکړې نو د شیطان مردود نه پناه اوغواړه، یعنی اعوذ بالله من الشیطان الرجیم اووایه، یقینی خبره ده چې په ایمان والو او په خپل پروردګار باندې یقین ساتلو والا باندې د هغه بالکل زور نه رسی، خو د هغه زور په هغه چا باندې خامخا چلیږی څوک چې د شیطان په اطاعت کښې هغه خپل مشر ګنړی، او څوک چې الله تعالی سره شرک کوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: القربی: اسم مصدر دې په معنی د رشته دارئی

قوله: تخصیص بعد التعمیم: رشته دارو سره ښه سلوک، په احسان کښې داخل دی، خو ددې د اهمیت د وجه ئې دوباره خاص طور سره ذکر شو.

قوله: کما بدا بالفحشاء لذلك: یعنی د اهتمام د وجه نه اول ئې فحشاء یعنی زنا مخکښې کړه، څکه چې د زنا د وجه نسب محفوظ نه پاتې کیږی، او د الله د غضب هم سبب جوړیږی.

قوله: من البیعة: ای بیعة الرسول علی الاسلام، ددې نه بیعت رضوان مراد نه دې، څکه چې دا سورت مکې دې، او بیعت رضوان د هجرت نه پس شوې وو،

قوله: کفیلا: ای شاهدا

قوله: والجملة حال، یعنی (وقد جعلتم) جمله د (تنقضوا) د ضمیر نه حال دې، نه چې معطوف، ګنی عطف خبر علی الانشاء بهٔ لازم شی.

قوله: تهديد لهم: دا اضافه ددې سوال جواب دې، چې ان الله يعلم ما تفعلون د معطوف عليه، لا تنقضوا، او معطوف (لاتكونوا) په مينځ كښې فصل بالاجنبي دې.

د جواب حاصل دادې چې (ان الله يعلم ما تفعلون) جمله تهديديه ده، كومه چې دلته اجنبي نه ده.

قوله: ما غزلته: دا ددې سوال جواب دې چې غزل مصدر دې، ددې طرف ته نقض (ماتولو) نسبت صحيح نه دې، مفسر علام د غزل تفسير د (ما غزلته) سره كولو كښې اشاره اوكړه چې مصدر په معنى د مفعول دې، يعنى څه ئې چې وريشل هغه ئې وسپړدل.

قوله: بعد قوة: بعضې حضراتو د بعد قوة معنى، د مضبوطولو نه پس، كړې ده، مفسرعلام هم دا معنى مراد اخستې ده، او نورو مفسرينو د بعد قوة معنى، محنت سره د ريشلې نه پس اخستې ده.

قوله: غزلها: دا د (ض) نه مصدر دې، كوم چې (ها) ضمير طرف ته مضاف دې، ددې معنى تارونه ريشل، په معنى د اسم مفعول، يعنى ريشلې شوې، په مكه كښې يو ليونئ ښځه وه، چې د سحر نه د ماښام پورې به ئې سوتلئ جوړوله خپلو وينځو سره، او د ماښام به ئې توله تول ريشلې وسپړدل او ضائع به ئې كړل، ددې ښځې نوم ريطه بنت عمر وو، دا د اسد بن عبدالغزى مور، او د سعد لور وه، بعضو وئيلې دى چې ددې نوم ريطة بنت سعد بن تيم القرشية وو، مطلب دادې چې تاسو الله سره كومه وعده كړې ده، هغه ماتوئى مه، گنى ستاسو تول شوې محنت به بې كاره شى.

قوله: برم: صحيح كول، يعنى سوتلئ دوباره بنړول (صراح)

قوله: حال من ضمير تكونوا: يعنى تتخذون د تكونوا د ضمير نه حال دې، نه چې مفعول ثانى، ځكه چې تكون متعدى په دوو مفعولو سره نه وى، خو تر دې چې د تصيير وغيره معنې لره متضمن شى.

قوله: انكاثا: دا د نكث جمع ده، زړه مالوچ د ريشولو نه پس تكړې تكړې كول.

قوله: وهو ما ينكث: په دې كښې اشاره ده چې نكث په معنى د منكوث (منقوض) ده.

قوله: دخلا: دا د لاتكون د ضمير نه حال دې، اى لاتكونوا متشابهين بامراة شانها هذا.

قوله: دخلا: بهانه، دهوكه، فساد، ظلم كول، پردې.

قوله: اربى: ښتلې شوې، زيات شوې، (ن) دا د (ربا) نه د اسم تفضيل صيغه ده.

قوله: اتفون: همزه د استفهام ده، تفون دا د (وفى) نه مضارع جمع مذكر حاضر صيغه ده، تاسو وفا كوئى.

Scanned with

قوله: اي اقدام: د قدم تفسير په اقدام سره كولو كښې ئې دا اشاره اوكړه، چې د يو قدم د خويدل د شرم او د عزت او د سزا لائق دې، نو چې كله دواړه قدمونه اوخويږي نو څه حال به وي.

قوله: محجة: مينځنۍ لاره، عام لاره

قوله: يصدكم عن الوفاء: په دې كښې اشاره ده چې صد لازم دې.

قوله: بصدكم غيركم: په دې كښې اشاره ده، چې صد د منع معنې لره متضمن كيدو د وجه نه متعدى هم استعماليږي

قوله: فلا تنقضوا: دا د (ان) شرطيه جواب دې.

[اياتونه: ۱۰۱ ـ ۱۰۱]

{وَإِذَا بَدَّلْنَا آيَةً مَّكَانَ آيَةٍ} بِنَسْخِهَا وَإِنْزَالِ غَيْرِهَا لِمَصْلَحَةِ الْعِبَادِ {وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُنَزِّلُ قَالُوا} أَيِ الْكُفَّار لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {إِنَّمَا أَنتَ مُفْتَرٍ} كَذَّاب تَقُولُهُ مِنْ عِنْدِك {بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ} حَقِيقَةَ الْقُرآن وفائدة النسخ {قُلْ} لَهُمْ {نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ} جِبْرِيل {مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ} مُتَعَلِّق بِنَزَّلَ {لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا} بإيمانهم به {وهدى وبشرى للمسلمين} {وَلَقَدْ} لِلتَّحْقِيقِ {نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ} الْقُرآن {بَشَرٌ} وَهُوَ قَيْن نَصْرَانِيّ كَانَ النَّبِيّ صلى الله عليه وسلم يدخل عليه قال تعالى {لِّسَانُ} لُغَة {الَّذِي يُلْحِدُونَ} يَمِيلُونَ {إِلَيْهِ} أَنَّهُ يُعَلِّمُهُ {أَعْجَمِيٌّ وَهَذَا} الْقُرآن {لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ} ذُو بَيَان وَفَصَاحَة فَكَيْفَ يُعَلِّمُهُ أَعْجَمِيّ {إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ لَا يَهْدِيهِمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} مُؤْلِم {إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ} الْقُرآن بِقَوْلِهِمْ هَذَا مِنْ قَوْل الْبَشَر {وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَاذِبُونَ} وَالتَّأْكِيد بِالتَّكْرَارِ وَإِنَّ وَغَيْرهمَا رَدّ لِقَوْلِهِمْ {إِنَّمَا أَنتَ مُفْتَرٍ} {مَن كَفَرَ بِاللَّهِ مِن بَعْدِ إِيمَانِهِ إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ} عَلَى التَّلَفُّظ بِالْكُفْرِ فَتَلَفَّظَ بِهِ {وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ} وَمَنْ مبتدا أَوْ شَرْطِيَّة وَالْخَبَر أَو الْجَوَاب لَهُمْ وَعِيد شَدِيد دَلَّ عَلَى هَذَا {وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِالْكُفْرِ صَدْرًا} لَهُ أَيْ فَتَحَهُ وَوَسَّعَهُ بِمَعْنَى طَابَتْ بِهِ نفسه {فعليهم غضب من الله ولهم عذاب عظيم} {ذَٰلِكَ} الْوَعِيد لَهُمْ {بِأَنَّهُمُ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا} اختاروها {على الآخرة وأن الله لا يهدي القوم الكافرين} {أُولَٰئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} عَمَّا يُرَاد بِهِمْ {لَا جَرَمَ} حَقًّا {أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْخَاسِرُونَ} لِمَصِيرِهِمْ إِلَى النَّار الْمُؤَبَّدَة عَلَيْهِمْ {ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ هَاجَرُوا} إِلَى الْمَدِينَة {مِن بَعْدِ مَا فُتِنُوا} عُذِّبُوا وَتَلَفَّظُوا بِالْكُفْرِ وَفِي قِرَاءَة بِالْبِنَاءِ لِلْفَاعِلِ أَيْ كَفَرُوا أَوْ فَتَنُوا النَّاس عَن الْإِيمَان {ثُمَّ جَاهَدُوا وَصَبَرُوا} عَلَى الطَّاعَة {إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا} أَيِ الْفِتْنَة {لَغَفُورٌ} لَهُمْ {رَّحِيمٌ} بِهِمْ وَخَبَر إِنَّ الْأُولَى دَلَّ عَلَيْهِ خَبَر الثَّانِيَة

ترجمه: او كله چې مونږ يو آيت منسوخ كولو سره بل ددې په ځائې د بندګانو د مصلحت د پاره نازل كړو او څه چې نازل كړو الله په هغې باندې پورا خبردار دې، نو كفار نبى ﷺ ته وائى ته

خو په دروغه باندې جوړونکې ئې، دروغژن ئې قرآن دې د خپل ځان نه جوړ کړې دې، (داسې نه ده) بلکه حقیقت دا دې چې په دوی کښې ډیر خلق د قرآن د حقیقت او د نسخ د فائدې نه ناخبر دی تاسو دوی ته اووایئ چې دې له جبرئیل علیه السلام د خپل رب د طرف نه په حقه سره نازلوی، بالحق د نزل متعلق دې، چې اهل ایمان ددې په ذریعې سره په ایمان باندې ثابت قدم وساتی او د مسلمانانو د پاره هدایت او خوشخبری وی، مونږ ته خه پته ده چې کافران وائی چې ده ته قرآن یو سړې ورښائی، لقد د تحقیق د پاره دې، هغه یو نصرانی لوهار دې، نبی علیه السلام به هغه خوا ته تلو، الله تعالی فرمائی د هغه سړی ژبه چې کوم ته دوی اشاره کوی، چې فلانکې ده ته ښائی عجمی دې، او دا قرآن په صفا عربئ کښې دې، کوم چې فصیح او بلیغ دې، نو ده ته یو عجمی څنګه خو د نه کولې شی، څوک چې د الله په آیتونو باندې ایمان نه راوړی، هغه ته د الله د طرف نه هدایت نه ملاویږی، او د هغوی د پاره دردناک عذاب دې، دروغ خو هغه خلق وائی څوک چې د الله په آیتونو باندې ایمان نه راوړی، ددوی دې وینه د وجې چې دا خو د انسان خبرې دی په حقیقت کښې دروغژن دا خلق دی، او تکرار او (ان) وغیره سره تاکید ددوی قول (انما انت مفتر) د رد د پاره دې، او کوم کس چې د ایمان نه روستو د الله نه منکر شو، نو د هغوی د پاره سخت وعید دې، البته هغه سړې ددې نه خلاص دې څوک چې د کفر په کلمه باندې مجبور کړې شو، او هغه په ژبه د کفر کلمه اوونیله، په داسې حال چې د هغه زړه په ایمان باندې مطمئن وو او (من) مبتدأ یا شرطیه دې، او خبر یا جواب ئې (لهم وعید شدید) دې چې د هغې په حذف باندې دا آیت (علیهم غضب من الله) دلالت کوی خو چې کوم خلق په کولاؤ سینه سره د کفر مرتکب شول یعنی په کولاؤ زړه سره ئې کفر اختیار کړو، یعنی د کفر نه د هغوی زړونه خوشحاله شول نو په هغوی باندې د الله غضب دې، او ددوی د پاره د الله لوئې عذاب دې، ددوی د پاره د عذاب دا وعید ددې وجې دې چې دوی د دنیا ژوند د آخرت په مقابله کښې خوښ کړو یعنی هغه ئې اختیار کړو، او الله د کافرانو رهنمائی نه کوی، دا هغه خلق دی، چې الله د چا په زړونو باندې او غوږونو باندې او په سترګو باندې مهر لګولې دې، او چې کوم کار ددوی نه مقصود دې د هغې نه دا خلق غافله دی، او دا خبره یقینی ده چې دا خلق په آخرت کښې د همیشګیر اور طرف ته تللو د وجه نه په تاوان کښې دی بیا یقینا ستا رب د هغه خلقو د پاره چا چې د تکلیفونو نه پس مدینې طرف ته هجرت اوکړو، او د کفر کلمه د ژبې نه اوخکلو نه پس او په یو قراءت کښې (فتنوا) معلومې صیغې سره دې، یعنی مشرکینو کفر کولو او خلقو له ئې د ایمان نه منع کولو نه پس بیا هغوی جهاد اوکړو او په طاعت باندې ئې صبر اوکړو، بې شکه ستا رب دې امتحانونو نه پس دوی له معاف کونکې او په دوی باندې رحم کونکې دې، او د اول (ان) خبر محذوف دې، چې په هغې باندې د دویم (ان) خبر دلالت کوی.

....

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اذا: شرطیه دې، قـالوا انمـا انت مفتر، جواب شرط دې.

قوله: والله اعلم بمـا ينزل: شرط او جزاء په مينځ کښې جمله معترضه ده.

قوله: روح القدس: دا اضافت موصوف الی الصفت دې، ای الروح المقدس، د القدس په دال باندې ضمه او سکون دواړه جائز دی.

قوله: متعلق ينزل: يعنی متلبسا لره متعلق کيدو نه پس د «نزله» د ضمير مفعول نه حال دې، ای نزله متلبسـا بالحق

قوله: هدي وبشري:

سوال: ددې عطف په «ليثبت» باندې دې، حالانکه دا عطف صحيح نه دې، ځکه چې دا دواړه معطوف عليه سره نه په اعراب کښې متحد دی او نه په علت کښې، حالانکه دا دواړه خبرې ضروری دی؟

جواب: هدی او بشرا عطف د ليثبت په محل باندې دې، ليثبت کښې لام د تعليل دې، چې د هغې نه پس ان مصدريه مقدر دې، چې د هغې د وجه نه مضارع د مصدر په معنی کښې ده، په يثبت کښې «هو» ضمير فاعل دې، چې د هغې مرجع قرآن دې، او ليثبت مفعول لاجله کيدو د وجه نه محلا منصوب دې، او هدی او بشرا دواړه مصدر دی، چې د هغې عطف د ليثبت په محل باندې دې، ای تثبيتاً وهداية وبشارة لهذا اوس د مطابقت نه موجود کيدو دلته اعتراض نشته.

قوله: لتحقيق: دا ددې سوال جواب دې، چې کله «قد» په مضارع باندې داخل شی، نو عموما د تقليل په معنی کښې وی حالانکه دلته د تقليل، نه د لنعلم سره سمون خوری او نه د الله پاک د شان سره مناسب دې؟

د جواب حاصل دادې چې «قد» دلته د تحقيق د پاره دې، په «لقد» کښې لام قسميه دې.

قوله: قين: لوهار، «جمع» قيون، واقيان

قوله: يميلون اليه اي يشيرون اليه:

قوله: اعجمي: کوم چې فصيح اللسان نه وی اگرچې عربی وی او عجمی منسوب الی العجم، څوک چې د عربئ نه واقف نه وی، اگرچې فصيح وی.

قوله: والتاکيد بالتکرار وان غيرهمـا: چونکه کافرانو ډير په تاکيد سره انمـا انت مفتر وئيلو سره د قرآن د نزول نه انکارکړې وو، نو د هغې جواب هم په ډيرو تکيداتو سره ورکړې شو، د اول تکرار نه مراد د ان الذين لا يؤمنون تکرار دې، او د غيرهما نه ضمير فصل مراد دې او

Scanned with

تعریف د مسند او د جملې اسمیه کیدل دی، لهذا په ظاهر کښې چې د تکذیب حصر کوم چې په قریشو کښې معلومیدو، ختم شو.

قوله:من مبتدأ: اوشرطية: د (من کفر الله) په (من) کښې دوه احتماله دی، یو دا چې (من) موصوله مبتدأ وی نه چې الذین لایؤمنون بایات الله، نه بدل، ځکه چې د بدل او مبدل منه په مینځ کښې فصل بالاجنبی جائز نه دې، او دلته، اولئك هم الكافرون) فصل موجود دې، (من) موصوله مبتدأ ګڼړلو په صورت کښې (کفر) ددې صله به وی، او موصوله به صلې سره میلاویدو نه پس مبتدأ وی، او ددې خبر به محذوف وی، او هغه ولهم وعید شدید، دی او دویم احتمال دادې چې (من) شرطیه وی او جزا مقدر وی، او هغه ولهم وعید شدید، دې، څنګه علامه سیوطی ښکاره کړې ده، او دال په حذف دا مخکښې جمله فعليهم من الله، یاولهم عذاب شدید ده.

قوله:صدراله: د (له) اضافه ددې شبهې جواب دې، چې د شرح صله باء نه رازی حالانکه دلته بالکفر کښې باء صله واقع شوې ده؟

جواب دادې چې باء په معنی د لام ده.

قوله:بمعنی طابت: دا ددې شبهې جواب دې چې دلته د فتحه هیڅ معنی نشته،

جواب دادې چې فتحه په معنی د طاب دې، او دې خبرې طرف ته هم اشاره اوشوه، چې صدرا مفعول نه منقول کیدو سره تمیز واقع شوې؟

قوله:اختاروها: دا اضافه ددې سوال جواب دې، چې د استحبوا صله علی نه رازی، حالانکه دلته علی صله واقع شوې دې،

د جواب حاصل دادې چې استحبوا، د اختاروا په معنی کښې دې، لهذا اوس څه اعتراض پاتې نشو.

قوله:وفی قراءة بالبناء للفاعل: یعنی په (فتنوا) کښې دوه قراءتونه دی، مجهول او معروف، د مجهول په صورت کښې مهاجرین به نائب فاعل وی، او د کفروا فاعل هم، او د معروف په صورت کښې د دواړو فعلونو فاعل به کفار وی، یعنی مشرکینو کفر اوکړو، او خلق ئې د ایمان نه منع کړل.

قوله:خبران الاولی،الغ: اول (ان) خبر حذف کړې شوې دې، ځکه چې د دویم (ان) خبر د خبر په حذف باندې دلالت کوی.

[ایاتونه:۱۱۱ ـ ۱۱۹]

اذکر (يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ) تُحَاجُّ (عَنْ نَّفْسِهَا) لَا يُهِمُّهَا غَيْرُهَا وَهُوَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ (وَتُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ) جَزَاءَ (مَا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ) شَيْئًا (وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا) وَيُبْدَلُ مِنْهُ (قَرْيَةً) هِيَ مَكَّةُ وَالْمُرَادُ أَهْلُهَا

﴿كَانَتْ آمِنَةً﴾ مِنَ الغَارَاتِ لَا تُهَاجُ ﴿مُطْمَئِنَّةً﴾ لَا يُحْتَاجُ إِلَى الإِنْتِقَالِ عَنْهَا لِضِيقٍ أَوْ خَوْفٍ ﴿يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا﴾ وَاسِعًا ﴿مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ﴾ بِتَكْذِيبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ﴾ فَقُحِطُوا سَبْعَ سِنِينَ ﴿وَالْخَوْفِ﴾ بسرايا النبي صلى الله عليه وسلم ﴿بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ﴾ ﴿وَلَقَدْ جَاءَهُمْ رَسُولٌ مِنْهُمْ﴾ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ﴾ الْجُوعُ وَالْخَوْفُ ﴿وَهُمْ ظَالِمُونَ﴾ ﴿فَكُلُوا﴾ ايها المؤمنون ﴿مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا وَاشْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾ ﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ﴾ أَيْ لِوَصْفِ أَلْسِنَتِكُمْ ﴿الْكَذِبَ هَذَا حَلَالٌ وَهَذَا حَرَامٌ﴾ لِمَا لَمْ يُحِلَّهُ اللهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهُ ﴿لِتَفْتَرُوا عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ﴾ بنسبة ذلك إليه ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ﴾ لَهُمْ ﴿مَتَاعٌ قَلِيلٌ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿وَلَهُمْ﴾ فِي الآخِرَةِ ﴿عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ مُؤْلِمٌ ﴿وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا﴾ أَيِ الْيَهُودِ ﴿حَرَّمْنَا مَا قَصَصْنَا عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ﴾ فِي آيَةِ ﴿وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ﴾ إِلَى آخِرِهَا ﴿وَمَا ظَلَمْنَاهُمْ﴾ بِتَحْرِيمِ ذَلِكَ ﴿وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾ بِارْتِكَابِ الْمَعَاصِي الْمُوجِبَةِ لِذَلِكَ ﴿ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ﴾ الشِّرْكَ ﴿بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا﴾ رَجَعُوا ﴿مِنْ بَعْدِ ذَلِكَ وَأَصْلَحُوا﴾ عَمَلَهُمْ ﴿إِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا﴾ أَيِ الْجَهَالَةِ أَوِ التَّوْبَةِ ﴿لَغَفُورٌ﴾ لَهُمْ ﴿رَحِيمٌ﴾ بِهِمْ

ترجمه: هغه ورځ ياد کړه چې په کومه ورځ به هر کس د خپل ځان د پاره جګړه او دليل پيش کولو سره راشي، هغه ته به د بل چا غم نه وي، او هغه به د قيامت ورځ وي، هر کس ته به د هغه د اعمالو پورا پورا بدله ورکړې شي، او هغه باندې به بالکل ظلم نه کيږي، او الله تعالی د يو کلي عجيبه حالت بيانوي، قرية د مثلا نه بدل دې، او هغه کلې مکه ده، او مراد ترې نه د مکې اوسيدونکي دي، چې هغوی د تاخت او تاراج نه په امن او حفاظت کښې وو، د څه تنګۍ او د ويرې نه د هغه ځاې نه د منتقل کيدو ضرورت نه وو، د هغه کلي والا رزق يا فراغت د هر ځائې نه راروان وو، بيا هغوی د حضور ﷺ تکذيب کولو سره د الله د نعمتونو ناشکري اوکړه نو الله تعالی دوی ته د اوږدې لوږې عذاب چې اوو کاله په قحط کښې مبتلا وو، او د حضور ﷺ د سرايو د ويرې مزه اوڅکوله، دا ټول هر څه ددوی د کارونو د وجه اوشول دوی ته ددوی نه يو رسول محمد ﷺ راغلو، بيا هم دوی هغه دروغ اوګڼړلو، نو هغوی د لوږې او د ويرې عذاب اونيول، او هغوی خو وو ظالمان، اې ايمان والو الله چې تاسو ته کوم حلال رزق درکړې دې د هغې نه خوراک کوئی، او د الله د نعمتونو شکر ادا کړئ که چرې تاسو د هغه بندګي کوئی، په تاسو باندې صرف مرداره او وينه او د خنزير (سور) غوښه، او په کوم څيز چې د الله نه بغير د بل چا نوم واخستلې شي، حرام کړې شوې دي، بيا هغه کس چې د لوږې د وجې نه بالکل بې قراره شي، په شرط ددې چې د لذت غوښتونکې نه وي، او نه د حد نه تجاوز کونکې وي، نو ددې دې خوراک لره الله تعالی معاف کونکې او رحم کونکې دې، او يو څيز نه چې د ژبې نه اوزی دروغ مه وائی چې دا حلال دی او دا حرام دی، څکه چې الله دې لره نه حرام کړې دی او نه ئې حلال کړې دی، او نه دې

Scanned with

ته حرام وئیلو سره د دې (د حلت او د حرمت) نسبت الله تعالی ته کولو سره په الله باندې الزام تراشی کوئی، یقینا هغه خلق څوک چې په الله باندې الزام لګوی هغوی چرته هم کامیابی نه مومی، ددوی د پاره په دنیا کښې څو ورځې خوشحالی ده، او په آخرت کښې ددوی دپاره دردناک عذاب دې، او په یهودیانو باندې مونږ هغه څیزونه حرام کړل، چې د هغې بیان مونږ ددې نه مخکښې تاته کړې دې، وعلى الذين هادوا حرمنا كل ذى ظفر (الخ) یعنی مونږ په یهودیانو باندې هر نوکونو والا څناور حرام کړې دی، دې څیزونو لره حرام ګولو سره مونږ په دوی باندې ظلم نه دې کړې، بلکه د هغه ګناهونو ارتکاب کولو سره، کوم چې د دی سزا سبب دې په خپله ځان باندې ظلم اوکړو، بیا ستا رب داسې خلقو د پاره چا چې د کم عقل توب د وجه نه شرک اوکړو بیا هغوی دې نه پس توبه اوکړه، او د خپل اعمالو اصلاح ئې اوکړه، نو ستا رب ددوی د جهالت یا د توبې نه پس ډیر بخښنې والا او لوئې رحمت والا دې.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: تحاج: د تجادل صله چونکه (عن) نه رازی څکه مفسر علام اشاره اوکړه چې تجادل د تحاج په معنې کښې دې،

قوله: لايهمها غيرها: یعنی چاته به دچا غم نه وی، بلکه هرسړې به نفسی نفسی اوازونه کوی.

قوله: جزاء: په دې کښې د مضاف حذف طرف ته اشاره ده، چې دتوفی عمل هیڅ معنی نشته، څکه چې د اعراضو انتقال نه کیږی.

قوله: لا تهاج: دا د (اهاج الغبار) نه ماخوذ دې، په معنی د دوړو الوزولو، او په فارسئ کښې په معنی د تاراج شد.

قوله: لباس الجوع: لوږې او ویرې لره ئې د لباس سره مشابهت ورکړو، په دواړو کښې وجه تشبیه دا ده، چې څنګه لوږه او ویره د انسان جسم د څلورواړو طرفونو نه ګیر کړی، او ددې اثر په پورا جسم باندې وی، دغه شان لباس هم پورا جسم لره پټوی، څکه ئې د لوږې او د ویرې تشبیه د لباس سره ورکړه، او د ادراک ئې د څکلو سره څکه تعبیر اوکړو چې د څکلو سره د بعضې څیزونو ادراک کیږی.

قوله: لوصف السنتكم: په دې کښې اشاره ده چې په لما تصف کښې ما مصدریه ده.

قوله: الكذب: د لا تقولو د وجه نه منصوب دې.

قوله: هذا حلال وهذا حرام: دا د الكذب نه بدل دې.

قوله: لهم: متاع، متاع قليل مبتدأ، او لهم خبر مقدم دی.

سوال: يوم تأتى كل نفس تجادل عن نفسها: دلته یو سوال پیدا کیږی چې په عن نفسها کښې د نفس اضافت نفس طرف ته کیږی، حالانکه د مضاف او مضاف الیه په مینځ کښې تغایر

Scanned with

پکار وی، گنې اضافة الشئ الى نفسه به لازم راشی؟

جواب: اول نفس نه پورا د انسان جسم مراد دې، او د ثاني نفس نه ذات عبارت دې، کل انسان يجادل عن ذاته ولا يهمه غيرها، د مجادله معنی غذر پيش کول.

[اياتونه: ۱۲۰ ـ ۱۲۸]

{إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً} إِمَامًا قُدْوَة جَامِعًا لِخِصَالِ الْخَيْر {قَانِتًا} مُطِيعًا {لِلَّهِ حَنِيفًا} مَائِلًا إلى الدين القيم {ولم يك من المشركين} {شاكرا لأنعمه اجتباه} اصطفاه {وهداه إلى صراط مستقيم} {وَآتَيْنَاهُ} فِيهِ الْتِفَات عَنْ الْغَيْبَة {فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً} هِيَ الثَّنَاء الْحَسَن فِي كُلّ أَهْل الْأَدْيَان {وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ} الَّذِينَ لَهُمْ الدَّرَجَات الْعُلَى {ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ} يَا مُحَمَّد {أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ} دِين {إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ} كُرِّرَ رَدًّا عَلَى زَعْم الْيَهُود وَالنَّصَارَى أَنَّهُمْ عَلَى دِينه {إِنَّمَا جُعِلَ السَّبْتُ} فُرِضَ تَعْظِيمه {عَلَى الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ} عَلَى نَبِيّهمْ وَهُمْ الْيَهُود أُمِرُوا أَنْ يَتَفَرَّغُوا لِلْعِبَادَةِ يَوْم الْجُمُعَة فَقَالُوا لَا نُرِيدهُ وَاخْتَارُوا السَّبْت فَشُدِّدَ عَلَيْهِمْ فِيهِ {وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} مِنْ أَمْره بِأَنْ يُثِيب الطَّائِع وَيُعَذِّب الْعَاصِيَ بِانْتِهَاكِ حُرْمَته {ادْعُ} النَّاس يَا مُحَمَّد {إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ} دِينه {بِالْحِكْمَةِ} بِالْقرآن {وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ} مَوَاعِظه أَوْ القول الرقيق {وجادلهم بالتي} أَيْ الْمُجَادَلَة الَّتِي {هِيَ أَحْسَنُ} كَالدُّعَاءِ إِلَى اللَّه بِآيَاتِهِ وَالدُّعَاء إِلَى حُجَجه {إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ} أَيْ عَالِم {بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} فَيُجَازِيهِمْ وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ وَنَزَلَ لَمَّا قُتِلَ حَمْزَة وَمُثِّلَ بِهِ فَقَالَ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ رَآهُ لَأُمَثِّلَنَّ بِسَبْعِينَ مِنْهُمْ مَكَانك {وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ} عَنْ الِانْتِقَام {لَهُوَ} أَيْ الصَّبْر {خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ} فَكَفَّ صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَفَّرَ عَنْ يَمِينه رَوَاهُ الْبَزَّار {واصبر وما صبرك إلا بالله} بتوفيقه {ولا تحزن عليهم} أي الكفار وإن لَمْ يُؤْمِنُوا لِحِرْصِك عَلَى إِيمَانهمْ {وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِمَّا يَمْكُرُونَ} أَيْ لَا تَهْتَمّ بِمَكْرِهِمْ فَأَنَا نَاصِرك عَلَيْهِمْ {إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا} الْكُفْر وَالْمَعَاصِيَ {وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ} بِالطَّاعَةِ وَالصَّبْر بِالْعَوْنِ وَالنَّصْر

ترجمه: بې شک ابراهيم عليه السلام امام پيشوا وو، چې د تولو ښو عادتونو جامع وو، د الله فرمانبردار، صحيح دين طرف ته مخ کونکې وو، هغه د مشرکانو نه نه وو، د الله د نعمتونو شکرگزار وو، الله دې خپل خوښ جوړ کړې وو، او هغه ته ئې نيغه لاره خودلې وه، او مونږ هغه ته په دنيا کښې بهتروالې ورکړې وو، او د هر مذهب او ملت کښې د دوی خه تذکره ده، په دې کښې د غائب نه متکلم طرف ته التفات دې، او هغه به په آخرت کښې هم د نيکوکارو نه وی، داسې خلقو د پاره اوچتې درجې دی، بيا اې محمد صلى الله عليه وسلم مونږ ستا طرف ته وحی راوليږله، چې ته د ابراهيم حنيف د ملت تابعداری اوکړه، او ابراهيم د مشرکانو نه نه وو، دې آيت لره د يهوديانو او عيسايانو دې دعوې د رد د پاره مکرره کړو، چې دوی د ابراهيم عليه السلام په ملت باندې دی، د خالی د ورځې عظمت هم په هغه خلقو باندې فرض کړې شوې وو، چا چې د خپل نبی سره

Scanned with

اختلاف اوکړو، او هغه یهود وو، دوی ته حکم ورکړې شوې وو، چې دوی د عبادت د پاره دې د جمعې په ورځ باندې فارغ وی نو دوی اووئیل چې مونږ د دی اراده نه کوو یعنی مونږ دا نه خوښوو او دوی د هغې ورځ خوښه کړه، نو الله تعالی دهفتې په ورځ باندې لږه سختی اوکړه او یقینا ستا رب چې په کوم څیز کښې دوی اختلاف کوی د قیامت په ورځ باندې به د هغې په باره کښې فیصله اوکړی، په داسې طریقه چې فرمانبردارو ته به ثواب ورکړی او د یوم السبت بې حرمتی کولو والو ته به عذاب ورکړی، اې محمد ﷺ د خپل رب دین طرف ته په حکمت سره یعنی د قرآن په ذریعه او د ښو نصیحتونو په ذریعه دعوت ورکړه، یا په نرمئ سره دعوت ورکړه، او دوی سره په ښې طریقې سره بحث اوکړه، مثلا د الله د آیتونو په ذریعه الله طرف ته رابلل، او د هغې دلائلو طرف ته دعوت ورکول یقینا ستا رب هغه خلقو لره ښه پیژنی، څوک چې د هغه د لارې نه اوړیدلې وی، او هغه د هدایت کړې شوو خلقو نه هم خبردار دې، لهذا هغه به دوی ته سزا ورکړی، او دا حکم د جهاد حکم د نازلیدو نه مخکښې دې، او راروان آیت هغه وخت نازل شو، چې کله حمزه ﷺ شهید کړې شو، او د هغوی پوزه سترګې کټ شول، نوحضور ﷺ چې کله دوی اوکتل نو وئې فرمائیل چې څه به اویا کسان دده په ځائې باندې مُثله (مسخ) کوم، او که ته بدله اخلې نو صرف دومره واخله چې څومره تاته تکلیف درسیدلې دې، او که ته د انتقام نه صبر اوکړې نو دا صبر د صبر کونکو د پاره ډیر بهتر دې، چنانچه حضور ﷺ د خپلې ارادې نه واوړیدلو، او د خپل قسم کفاره ئې ادا کړه، (رواه البزار) ته صبر اوکړه یقینا ستا صبر کول د الله په توفیق سره به وی، او ته ددوی د ایمان په باره کښې د سخت حریص کیدو د وجه نه چې دوی ایمان نه راوړی نوتاسو خفه کیږئ مه، او ددوی مکرونو نه دې ستا زړه نه تنګیږی، یعنی ددوی مکرونو سره خفه کیږه مه، ځکه چې مونږ یقینا ددوی په مقابله کښې ستا مددګاریو، بې شکه الله هغه خلقو سره دې، چې د کفر او د ګناه نه ځان بچ کوی، او دمدد او نصرت په ذریعه، د هغه خلقو سره دې، چې د طاعت او د صبر په ذریعه نیکان دی.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: امة: لفظ د امة په باره کښې د مفسرینو نه ډیر اقوال منقول دی، په دې آیت کښې د امة اطلاق په ابراهیم ﷺ باندې شوې دې، یا خو ابرهیم ﷺ یواځې په ټولو کمالی صفتونو باندې متصف کیدو د وجه نه د یو امت قائم مقام وو، لکه چې یو شاعر وائی:

لیس من الله بمستنکر　　ان یجمع العالم فی واحد

دویمه وجه د ابراهیم ﷺ ته د امت وئیلو دا هم کیدې شی چې دوی په خپله زمانه کښې یوازې مومن وو، باقی ټول کافران وو، ددې وجه نه دوی ته امت اووئیلې شو،

دریمه وجه داده، چې امة په معنی د ماموم، یعنی مقتدا او امام، څنګه چې الله تعالی

او فرمائيل اني جاعلك للناس اماماً: ذكر شوي تولو توجيهاتو په رڼا كښې دا اعتراض ختم شو چې د امة اطلاق په ابراهيم عليه السلام باندې صحيح نه دې، ځكه چې ابراهيم عليه السلام يوازې وو، او د امة اطلاق په جمع باندې كيږي.

قوله:اجتباه: اى للنبوة

قوله:فرض: دې كښې اشاره ده چې جعل په معنى د فرض كښې د ې.

قوله:تعظيمه: په دې كښې د مضاف د حذف طرف ته اشاره ده، ځكه چې د فرض تعلق د فعل سره وى، نه چې ځيزونو او زمانې سره، او د خالى ورځ زمانه ده.

قوله:القول الرفيق: رفيق د رفق نه ماخوذ دې، ددې معنى نرمى اوسهولت دې، مطلب دادې چې د دين دعوت په نرمې خبرې، په خوږې ژبې سره وركړئ.

پاره نمبر ۱۵ [سُبْحَانَ الَّذِي] [۱۷] سورة الإسراء

سورة الاسراء مكية الا وان كادوا ليفتنونك الايات الثمان مائة وعشر ايات اواحدي عشرة اية

سورة اسراء مكى د ې سوا د «وَإِنْ كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ» اته آيتونو نه، ۱۱۰ يا ۱۱۱ آيتونه دى.

[اياتونه: ۱-۱۰]

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿سُبْحَانَ﴾ أي تنزيه ﴿الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ﴾ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿لَيْلًا﴾ نُصِبَ عَلَى الظَّرْف وَالْإِسْرَاء سَيْر اللَّيْل وَفَائِدَة ذِكْره الْإِشَارَة بِتَنْكِيرِهِ إِلَى تَقْلِيل مُدَّته ﴿مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى﴾ بَيْت الْمَقْدِس لِبُعْدِهِ مِنْهُ ﴿الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ﴾ بِالثِّمَارِ وَالْأَنْهَار ﴿لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا﴾ عَجَائِب قُدْرَتنَا ﴿إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ أَيْ الْعَالِم بِأَقْوَالِ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَفْعَاله فَأَنْعَمَ عَلَيْهِ بِالْإِسْرَاءِ الْمُشْتَمِل عَلَى اجْتِمَاعه بِالْأَنْبِيَاء وَعُرُوجه إِلَى السَّمَاء وَرُؤْيَة عَجَائِب الْمَلَكُوت وَمُنَاجَاته لَهُ تَعَالَى فَإِنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُتِيت بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّة أَبْيَض فَوْق الْحِمَار وَدُون الْبَغْل يَضَع حَافِره عِنْد مُنْتَهَى طَرَفه فَرَكِبْته فَسَارَ بِي حَتَّى أَتَيْت بَيْت الْمَقْدِس فَرَبَطْت الدَّابَّة بِالْحَلْقَةِ الَّتِي تَرْبِط فِيهَا الْأَنْبِيَاء ثُمَّ دَخَلْت فَصَلَّيْت فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْت فَجَاءَنِي جِبْرِيل بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْر وَإِنَاء مِنْ لَبَن فَاخْتَرْت اللَّبَن قَالَ جِبْرِيل أَصَبْت الْفِطْرَة قَالَ ثُمَّ عُرِجَ بِي إِلَى السَّمَاء الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل قِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل قِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد قِيلَ أَوَ قَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِآدَم فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِالْخَيْرِ ثُمَّ عُرِجَ بِي إِلَى السَّمَاء الثَّانِيَة فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل فقيل مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل قِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد قِيلَ أَوَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا انا بِابْنَيْ الْخَالَة يَحْيَى وَعِيسَى فَرَحَّبَا بِي وَدَعَوَا لِي بِالْخَيْرِ ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاء الثَّالِثَة فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل فَقِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد فَقِيلَ أَوَ قَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِيُوسُف وَإِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْر الْحُسْن فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاء الرَّابِعَة فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل فَقِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد فَقِيلَ أَوَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِدْرِيس فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عُرِجَ

Scanned with

بنا الي السَّمَاء الْخَامِسَة فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل فَقِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد فَقِيلَ أَوَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِهَارُونَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاء السَّادِسَة فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيل فَقِيلَ مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل فَقِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد فَقِيلَ أَوَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِمُوسَى فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ ثُمَّ عُرِجَ بِنَا إِلَى السَّمَاء السَّابِعَة فَاسْتَفْتَحَ جبريل فقيل مَنْ أَنْتَ قَالَ جِبْرِيل قِيلَ وَمَنْ مَعَك قَالَ مُحَمَّد فَقِيلَ أَوَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ قَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ فَفُتِحَ لَنَا فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيم فَإِذَا هُوَ مُسْتَنِد إِلَى الْبَيْت الْمَعْمُور وَإِذَا هُوَ يَدْخُلهُ كُلّ يَوْم سَبْعُونَ أَلْف مَلَك ثُمَّ لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَى سِدْرَة الْمُنْتَهَى فَإِذَا أَوْرَاقهَا كَآذَانِ الْفِيَلَة وَإِذَا ثَمَرهَا كَالْقِلَالِ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ امر الله ما غَشِيَهَا تغيرت فَمَا أَحَد مِنْ خَلْق اللَّه تَعَالَى يَسْتَطِيع أَنْ يَصِفهَا مِنْ حُسْنهَا قَالَ فَأَوْحَى اللَّه إِلَيَّ مَا أَوْحَى وَفَرَضَ عَلَيَّ فِي كُلّ يَوْم وَلَيْلَة خَمْسِينَ صَلَاة فَنَزَلْت حَتَّى انْتَهَيْت إِلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبّك عَلَى أُمَّتك قُلْت خَمْسِينَ صَلَاة فِي كُلّ يَوْم وَلَيْلَة قَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبّك فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيف فَإِنَّ أُمَّتك لَا تُطِيق ذَلِكَ وَإِنِّي قَدْ بَلَوْت بَنِي إِسْرَائِيل وَخَبَرْتهمْ قَالَ فَرَجَعْت إِلَى رَبِّي فَقُلْت أَيْ رَبّ خَفِّفْ عَنْ أُمَّتِي فَحَطَّ عَنِّي خَمْسًا فَرَجَعْت إِلَى مُوسَى قَالَ مَا فَعَلْت فَقُلْت قَدْ حَطَّ عَنِّي خَمْسًا قَالَ إِنَّ أُمَّتك لَا تُطِيق ذَلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبّك فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيف لِأُمَّتِك قَالَ فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِع بَيْن رَبِّي وَبَيْن مُوسَى وَيَحُطّ عَنِّي خَمْسًا خَمْسًا حَتَّى قَالَ يَا مُحَمَّد هِيَ خَمْس صَلَوَات فِي كُلّ يَوْم وَلَيْلَة بِكُلِّ صَلَاة عَشْر فَتِلْكَ خَمْسُونَ صَلَاة وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَة فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ وَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ فَإِنْ عَمِلَهَا كتبت له سيئة واحدة فنزلت حتى انتهت إِلَى مُوسَى فَأَخْبَرْته فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبّك فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيف لِأُمَّتِك فَإِنَّ أُمَّتك لَا تُطِيق ذَلِكَ فَقُلْت قَدْ رَجَعْت إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْت رَوَاهُ الشَّيْخَانِ وَاللَّفْظ لِمُسْلِمٍ وَرَوَى الْحَاكِم فِي المستدرك عن بن عَبَّاس قَالَ قَالَ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وسلم رايت ربي عز وجل قال تعالى ﴿واتينا موسى الكتاب﴾ التوراة ﴿وجعلناه هدي لبنى إسرائيل﴾ ل ﴿أ﴾ ن ﴿لا يتخذوا مِنْ دُونِي وَكِيلًا﴾ يُفَوِّضُونَ إِلَيْهِ أَمْرهمْ وَفِي قِرَاءَة تَتَّخِذُوا بِالْفَوْقَانِيَّةِ الْتِفَاتًا فَأَنْ زَائِدَة وَالْقَوْل مضمر يا ﴿ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ﴾ فِي السَّفِينَة ﴿إِنَّه كان عبدا شَكُورًا﴾ كَثِير الشُّكْر لَنَا حَامِدًا فِي جَمِيع احواله ﴿وقضينا﴾ اوحينا ﴿إلى بنى إسرائيل فِي الْكِتَاب﴾ التَّوْرَاة ﴿لَتُفْسِدُنَّ فِي الْأَرْض﴾ أَرْض الشام بالمعاصي ﴿مرتين وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا﴾ تَبْغُونَ بَغْيًا عَظِيمًا ﴿فَإِذَا جَاءَ وَعْد أُولَاهُمَا﴾ اولى مَرَّتَيْ الْفَسَاد ﴿بعثنا عليكم عبادا لنا أولي بَأْس شَدِيد﴾ أَصْحَاب قُوَّة فِي الْحَرْب وَالْبَطْش ﴿فَجَاسُوا﴾ تَرَدَّدُوا لِطَلَبِكُمْ ﴿خِلَال الدِّيَار﴾ وَسْط دِيَارِكُمْ لِيَقْتُلُوكُمْ وَيَسْبُوكُمْ ﴿وَكَانَ وَعْدًا مَفْعُولًا﴾ وَقَدْ أَفْسَدُوا الْأُولَى بِقَتْلِ زَكَرِيَّا فَبَعَثَ عَلَيْهِمْ جَالُوت وَجُنُوده فَقَتَلُوهُمْ وَسَبَوْا أَوْلَادهمْ وَخَرَّبُوا بَيْت الْمَقْدِس ﴿ثم رددنا لكم الْكَرَّة﴾ الدَّوْلَة وَالْغَلَبَة ﴿عَلَيْهِمْ﴾ بَعْد مِائَة سَنَة بقتل جالوت ﴿وأمددناكم بأموال وبنين وجعلناكم أكثر نفيرا﴾ عشيرة وقلنا ﴿إِنْ أَحْسَنْتُمْ﴾ بِالطَّاعَةِ ﴿أَحْسَنْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ﴾ لِأَنَّ ثَوَابه لها ﴿وان أسأتم﴾ بالفساد ﴿فلها﴾ إساءتكم ﴿فإذا جاء وَعْد﴾ الْمَرَّة ﴿الْآخِرَة﴾ بَعَثْنَاهُمْ ﴿لِيَسُوءُوا وُجُوهكُمْ﴾ يُحْزِنُوكُمْ بِالْقَتْلِ وَالسَّبْي حُزْنًا يَظْهَر فِي وُجُوهكُمْ ﴿وَلِيَدْخُلُوا الْمَسْجِد﴾ بَيْت الْمَقْدِس فَيُخَرِّبُوهُ ﴿كَمَا دَخَلُوهُ﴾ وَخَرَّبُوهُ

Scanned with

{أول مرة وليتبروا} يهلكوا {ما علوا} غلبوا عَلَيْهِ {تَتْبِيرًا} هَلَاكًا وَقَدْ أَفْسَدُوا ثَانِيًا بِقَتْلِ يَحْيَى فَبَعَثَ عَلَيْهِمْ بُخْتُ نَصَّرَ فَقَتَلَ مِنْهُمْ أُلُوفًا وسبى ذريتهم وخرب بيت المقدس وقلنا في الكتاب {عسى ربكم أن يَرْحَمَكُمْ} بَعْدَ الْمَرَّةِ الثَّانِيَةِ إِنْ تُبْتُمْ {وَإِنْ عُدْتُمْ} إِلَى الْفَسَادِ {عُدْنَا} إِلَى الْعُقُوبَةِ وَقَدْ عَادُوا بِتَكْذِيبِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسُلِّطَ عَلَيْهِمْ بِقَتْلِ قُرَيْظَةَ وَنَفْيِ النَّضِيرِ وَضَرْبِ الْجِزْيَةِ عَلَيْهِمْ {وجعلنا جهنم للكافرين حصيرا} محبسا وسجنا {إن هذا القرآن يهدي لِلَّتِي} أَيْ لِلطَّرِيقَةِ الَّتِي {هِيَ أَقْوَمُ} أعدل واصوب {ويبشر المؤمنين الذين يعملون الصالحات أن لهم أجرا كبيرا} {وَ} يُخْبِرُ {أَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا} أعددنا {لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا} مُؤْلِمًا هُوَ النار

ترجمه: شروع کوم د الله په نوم سره چې ډیر مهربان ډیر رحم کولو والا دی، پاک دی هغه ذات چې خپل بنده، محمد ﷺ لیلا د ظرفیت د وجه نه منصوب دی، او اسراء د شپې سفر ته وئیلې شی، او د لیل د ذکر کولو فائده د لیل د نکره والی نه د سفر د مودې د لږوالی طرف ته اشاره ده، مسجد حرام یعنی د مکې نه مسجد اقصی یعنی بیت المقدس پورې د بیت المقدس نوم بیت الاقصی، ددې د مسجد حرام نه د لرې والی د وجه نه دی، چې د هغې په اطرافو کښې مونږه د میوو او نهرونو په ذریعه سره برکت ایښودې دی، چې مونږ محمد ﷺ ته د خپل قدرت عجائبات اوخایو، بې شکه هغه اوریدو والا او لیدو والا دی، یعنی هغه د نبی ﷺ د خبرو او کارونو نه خبردار دی، نو الله تعالی په دوی باندې د شپې د سفر انعام اوکړو، کوم چې د انبیاؤ سره د ملاقات، په اسمانونو ته د هغوی تشریف اوړل، او د عالم بالا عجائبات لیدلو سره، او د الله تعالی په خبرو باندې مشتمل وو، خلاصه دا چې حضور ﷺ اوفرمائیل چې زما طرف ته یو سپین ځناور راوړې شو، کوم چې د خر نه غټ او د خچر نه وړوکې وو، هغه خپل قدم د نظر په اختتام بادې ایښودلو چنانچه ځهٔ په هغې باندې سور شوم، نو هغه روان شو تردې چې زه بیت المقدس ته اورسیدم، او ما هغه ځناور هغه حلقې سره اوتړلو کومې سره چې به پیغمبرانو خپلې سورلئ تړلې، بیا ځه بیت المقدس ته داخل شوم، ما په هغې کښې دوه رکعته مونځ اوکړو، نو بیا ځه بهر راوتلم، نو جبرائیل ﷺ ماته دوه لوښې راوړل، په یو کښې شراب وو او بل کښې پئ، ما پئ خوښ کړل، جبرائیل ﷺ عرض اوکړو چې تا فطرف اختیار کړو، بیا هغوی اوفرمائیل چې ځه د دنیا داسمان نه (نزدې اسمان) طرف ته ئې روان کړم، نو جبرائیل ﷺ دستک اوکړو ددوی نه معلومات اوکړې شو، چې تاسو څوک یئ؟ نو جواب ئې ورکړو، چې ځه جبرائیل ﷺ بیا سوال اوکړې شو، چې تاسو سره څوک دی؟ وې فرمائیل محمد ﷺ دی، نو بیا تپوس اوکړې شو، چې ایا هغه ته دعوت ورکړې شوې دی، ؟ جبرائیل ﷺ جواب ورکړو، رابللې شوې دی، ، ددې نه پس زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه،

Scanned with

نو اچانک زمونږ ملاقات حضرت ادم علیه السلام سره اوشو نو حضرت ادم علیه السلام ماته مرحبا اوئیل، او ماته ئې د خیر دعا اوکړه، بیا جبرائیل علیه السلام څه دویم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، نو د هغوی نه تپوس اوکړې شو چې څوک؟ نو وئې فرمائیل چې جبرائیل یم، تپوس اوکړې شو، چې تاسره نور څوک شته؟ وئې فرمائیل محمد ﷺ، معلومه کړې شوه چې ایا دوی رابللې شوې دی؟ جواب ئې ورکړو چې او رابللې شوې دی، چنانچه زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک د یحیی او عیسی (علیهما السلام) سره ووم، کوم چې د ترور ځامن دی. دواړو ماته مرحبا اووئیل، او د خیر دعا ئې راته اوکړه، بیا جبرائیل علیه السلام څه دریم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، تپوس اوکړې شو چې څوک؟ وئې فرمائیل جبرائیل، سوال اوشو چې تاسره څوک دی؟ جواب ئې ورکړو چې محمد ﷺ، معلومه کړې شوه چې هغه رابللې شوې دې که نه،؟ وئې فرمائیل چې رابللې شوې دې، نو زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک زمونږ ملاقات یوسف علیه السلام سره اوشو، اومې کتل نو پته اولږیدله چې د ټول حسن نه هغوی ته نیم ورکړې شوې دې، نو هغوی ماته مرحبا اووئیل، او د خیر دعا ئې اوکړه، بیا جبرائیل څه څلورم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، تپوس اوکړې شو چې څوک؟ وئې فرمائیل جبرائیل، سوال اوشو چې تاسره څوک دی؟ جواب ئې ورکړو چې محمد ﷺ، معلومه کړې شوه چې هغه رابللې شوې دې که نه،؟ وئې فرمائیل چې رابللې شوې دې، نو زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک زمونږ ملاقات ادریس علیه السلام سره اوشو نو هغوی ماته مرحبا اووئیل او د خیر دعا ئې راکړه، ددې نه پس جبرائیل علیه السلام څه پنځم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، تپوس اوکړې شو چې څوک؟ وئې فرمائیل جبرائیل، سوال اوشو چې تاسره څوک دی؟ جواب ئې ورکړو چې محمد ﷺ، معلومه کړې شوه چې هغه رابللې شوې دې که نه؟ وئې فرمائیل چې رابللې شوې دې، نو زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک زمونږ ملاقات هارون علیه السلام سره اوشو، نو هغه ماته مرحبا اووئیل او د خیر دعا ئې راته اوکړه، بیا څه جبرائیل علیه السلام څه شپږم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، تپوس اوکړې شو چې څوک؟ وئې فرمائیل جبرائیل، سوال اوشو چې تاسره څوک دی؟ جواب ئې ورکړو چې محمد ﷺ، معلومه کړې شوه چې هغه رابللې شوې دې که نه،؟ وئې فرمائیل چې رابللې شوې دې، نو زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک زمونږ ملاقات موسی علیه السلام سره اوشو، هغوی ماته خوش امدید اووئیل او ماته ئې د خیر دعا اوکړه، بیا جبرائیل علیه السلام څۀ اووم اسمان ته بوتلم، نو جبرائیل علیه السلام دستک اوکړو، تپوس اوکړې شو چې څوک؟ وئې فرمائیل جبرائیل، سوال اوشو چې تاسره څوک

دی؟ جواب ئې ورکړو چې محمد ﷺ ، معلومه کړې شوه چې هغه رابللې شوې دې که نه؟ وئې فرمائیل چې رابللې شوې دې، نو زمونږ د پاره دروازه کولاؤ کړې شوه، نو اچانک زمونږ ملاقات ابراهیم ﷺ سره اوشو، هغوی بیت المعمور ته ډډه وهلې وه، او په دې کښې روزانه اویا زره فرښتې داخلیږي، ددې نه پس دوباره د هغې نمبر نه راځی، بیا ئې څه سدرة المنتهی ته بوتلم، نو اومې کتل چې د هغې پاڼې د هتیانو د غوږونو هومره وې، او د هغې میوې د چاټئ (خُم) برابر وې، چې کله دې اونې لره د الله حکم پټه کړه یعنی چې کوم نور پټ کړه، نو ددې اونې حالت داسې بدل شو، چې د الله یو مخلوق به ددې د حسن تعریف اونکړې شی، نبی ﷺ اوفرمائیل چې ددې نه پس الله چې زما طرف ته کومه وحی غوښتله وئې کړه، او ما باندې پنځوس وخته مونځ فرض کړې شو، چنانچه چې کله څۀ لاندې راغلم، نو موسی ﷺ څما نه تپوس اوکړو چې ستا رب ستا په امت باندې څه فرض کړل، نو اومې وئیل چې پنځوس مونځونه روزانه، نو موسی ﷺ اوفرمائیل چې واپس لاړ شه او د الله نه د تخفیف سوال اوکړه، ځکه چې ستا امت ددې بوجه اوچتولې نشی، او ما بنی اسرائیل څه ازمیښت کړی دی، نبی ﷺ اوفرمائیل چې څه خپل پروردګار ته واپس لاړم نو عرض مې اوکړو چې اې پروردګار څما په امت باندې سپکوالې اوکړې، نو ماته پنځه مونځونه کم کړې شول، ددې نه پس موسی ﷺ ته لاړم، هغوی تپوس اوکړو چې تاسو څه اوکړل؟ ما عرض اوکړو چې پنځه مونځونه کم شول، نو موسی ﷺ اوفرمائیل چې ستا امت ددې بوجه هم اوچتولې نه شی، خپل رب ته واپس لاړ شه او د خپل امت د پاره د سپکولې سوال اوکړه، نو حضور ﷺ اوفرمائیل چې ما د موسی ﷺ او د رب په مینځ کښې مسلسل چکرې وهلې، او الله تعالی به په هر ځل باندې پنځه مونځونه معاف کول، تر دې چې الله تعالی اوفرمائیل اې محمد ﷺ په شپه او ورځ کښې دا پنځه مونځونه دی او د هر مونځ په عوض باندې د لس مونځونو ثواب دې، دغه شان دا ټول پنځوس مونځونه شول، او کوم کس چې د نیکئ اراده اوکړه او عمل ئې اونکړو نو د هغه د پاره یوه نیکی لیکم، او که هغه عمل اوکړو نو د هغه د پاره لس نیکئ لیکم، او کوم سړې چې د ګناه اراده اوکړی او هغه وخت هغه کار اونکړی نو څۀ هغه نه لیکم، او که هغه دا کار اوکړی نو د هغه د پاره یوه بدی لیکم، ددې نه پس څه موسی ﷺ ته لاړم، نو ما ددې صورت حال خبر ورکړو، نو بیا موسی ﷺ اوفرمائیل چې ستا امت ته به دا هم ګرانه شی، خپل رب ته لاړ شه او د سپکوالی سوال ترې اوکړه، نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چې څه بار بار د خپل رب مخکښې حاضر شوم اوس ماته شرم رازی، (رواه الشیخان، او الفاظ د مسلم دی) او حاکم په مستدرک کښې د ابن عباس نه روایت کړې دې، چې رسول الله ﷺ خپل رب لیدلې وو،

Scanned with

الله تعالی فرمائي او مونږ موسی علیه السلام ته کتاب تورات ورکړو او مونږ دې د بني اسرائيلو د پاره رهنما جوړ کړې ووچې ځما نه سوا بل څوک کار ساز مه جوړوئی، چې هغه ته خپل معاملات حواله کړئ، او په يو قراءت کښې (تتخذوا) بطور التفات تاء فوقانيه سره ده، (ان) زائده او لفظ (قول) مضمر دې، اې د هغه خلقو اولاد، څوک چې مونږ نوح علیه السلام سره په کشتۍ کښې سوار کړل، هغه ځمونږ شکر ګذار بنده وو، يعني زمونږ ډير شکر کولو والا، په هر حالت کښې تعريف کولو والا، او مونږ بني اسرائيل ته د وحی په ذريعه په تورات کښې ښکاره وئيلي وو، چې تاسو به د شام په ملک کښې د ګناهونو په ذريعه دوه ځله فساد جوړوئی، او تاسو به ډير لوئ زياتئ کوئی، يعني ډير ظلم به کوئی، او چې کله دې دواړه موقعو کښې يعني دفساد په دواړو موقعو کښې اولنۍ موقع راغله، نو مونږ ستاسو د سزا د پاره داسې بندګان راولېږل چې ډير قوت والا وو، يعني په جنګ او نيولو کښې ډير تکړه وو، هغوی ستاسو په تلاش کښې ستاسو کورونو ته دننه شول، چې هغوی تاسو قيد يا قتل کړي، او د الله دا وعده خو پوره کيدل وو، او دې خلقو اولنې فساد د زکريا علیه السلام د قتلولو سره اوکړو، نو الله تعالی په دوی باندې جالوت او دهغه لښکر راوليږلو، چې هغه دوی قتل کړل، او ددوی اولاد ئې قيديان کړل، او بيت المقدس ئې وران کړو، بيا مونږ ستاسو د جالوت د قتل نه سل کاله پس، په دوی باندې دبدبه او غلبه واپس کړه، يعني ستاسو ورځې مو واپس کړې، او مال او اولاد سره مو ستاسو مدد اوکړو، او مونږ تاسو لوئ دلې والا جوړ شی، او مونږ اووئيل که چرې تاسو د اطاعت په ذريعه ښه کارونه اوکړل، نو خپلې فائدې د پاره ځکه چې ددې اجر تاسو ته به ميلاؤيږي، او که د فساد په ذريعه تاسو خراب اعمال اوکړل، نو ددې سزا به هم ستاسو وی، او چې کله (ستاسو د فساد) دويمه موقع راغله، نو بيا مونږ دوی راوليږل، چې هغوی ستاسو مخونه وران کړي، يعني هغوی تاسو ته د قيد او د قتل په ذريعې داسې خفګان اورسوی چې د هغې اثر ستاسو په مخونو باندې پريوزی، او داچې هغوی مسجد يعني بيت المقدس ته داخل شی، او هغه وران کړي، څنګه چې هغوی مخکښې داخل شوې وو، او بيت المقدس ئې وران کړې وو، او هغه مکمل تس نس کړي، چې په کوم باندې هغوی غلبه حاصله کړې ده، او دوی حضرت يحيی علیه السلام شهيد کولو سره دويم فساد جوړ کړو، نو الله تعالی په دوی باندې بخت نصر راوليږلو، هغه په دوی کښې په زرګونو خلق قتل کړل، او د هغوی اولاد ئې قيد کړل، او بيت المقدس ئې وران کړو، او مونږ کتاب توراة، کښې اووئيل که دويم ځل نه پس هم تاسو توبه اوکړه، نو اميد دې چې ستاسو رب به په تاسو باندې رحم اوکړي، او که تاسو بيا فساد جوړ کړو، نو بيا به مونږ سزا درکړو، چنانچه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تکذيب کولو سره ئې بيا فساد اوکړو نو الله په دوی باندې د قريظه د قتل، او د بنو نظير د وطن نه د ويستلو او په دوی باندې د جرمانې لګولو د پاره محمد صلی الله علیه وسلم

Scanned with

په دوی باندې مسلط کړو، او جهنم مونږ د کافرانو د پاره قید خانه جوړه کړې ده، بې شکه قرآن د نيغې لارې طرف يعنى درمياني او صحيح لارې ته رهنمائي کوي، او نيک عمل کونکو مومنانو ته ددې خوشخبري ورکوي چې ددوى د پاره لوئې اجر دې، او کوم خلق چې په آخرت باندې ايمان نه راوړي هغوى ته ددې خبرې خبر ورکوي چې مونږ ددوى دپاره دردناک عذاب تيار کړې دې، او هغه اور دې.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله:سبحان: دا د فعل محذوف مصدر دې، اى سبحت الله سبحانا

قوله:ليلا نصب على الظرفية: يعنى ليلا، د اسرى ظرف زمان دې، نه چې مفعول، ځکه اسرا، او سرا دواړه لازم دى.

سوال: اسرى، سير فى الليل ته وائى، بيا د ليلا د ذکر کولو څه ضرورت وو، ؟

جواب: دا دې چې سير فى الليل اګرچې په اسرى کښې داخل دې، خو ليلا نکره ذکر کولو سره د لږې مودې طرف ته اشاره شوې ده، د ليلا تنوين دلته د قلت د پاره دې.

قوله:لبعده منه: دا د مسجد اقصى وجه تسميه طرف ته اشاره کوى، ځکه چې د مسجد حرام او د مسجد اقصى په مينځ کښې د يوې مياشتې مزل دې، يا ځکه چې دغه وخت د مسجد حرام او د مسجد اقصى په مينځ کښې هيڅ يو مسجد نه وو، ددې وجې نه ددې نوم مسجد اقصى کيخودلې شو.

قوله: كالقلال: قلال، دقلة جمع ده، په معنى د منګى، غونډئ.

قوله:لا تتخذوا: ان مصدريه دې، او لام د تعليل مقدر دې، کوم چې شارح ښکاره کړې دې، لاتتخذوا په حذف د نون سره منصوب دې، او لا نافيه ده، او دا ترکيب ياء د تختانيه په صورت کښې دې، او د تاءفوقانيه په صورت کښې د نون په حذف سره به مجزوم وى، او لا ناهيه به وى، او دلته (ان) به زائده وى

قوله:القول مضمر: اي مقولا لهم لا تتخذوا، او بعضې حضراتو وئيلې دى، چې ان مفسره کيدل راجح دى، ځکه چې اتينا د قلنا په معنى کښې دې، کوم چې د ان مفسره د پاره شرط دې.

قوله:نفيرا: دا د نفر جمع دې، په معنى د خاندان، جمعت.

قوله:ان اسأتم فلها:

سوال: نقصان د پاره صله على رازى، حالانکه دلته لام استعمال شوې دې، کوم چې د نفع د پاره استعماليږى؟

جواب: دا ازدواج، يعنى د مقابلې په توګه د (على) په ځائې لام استعمال شوې دې.

Scanned with

[اياتونه: ۱۱ - ۲۲]

﴿ويدعو الإنسان بالشرّ﴾ عَلَى نَفْسه وَأهله إذَا ضَجِرَ ﴿دُعَاءَهُ﴾ أيْ كَدُعَائِهِ لَهُ ﴿بِالْخَيْرِ وَكَانَ الْإِنْسَانُ﴾ الْجِنس ﴿عَجُولًا﴾ بِالدُّعَاءِ عَلَى نَفْسه وَعَدَم النَّظَر فِي عاقبته ﴿وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ﴾ دَالَّتَيْنِ عَلَى قُدرَتنَا ﴿فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ﴾ طَمَسْنَا نُورهَا بِالظَّلَامِ لِتَسْكُنُوا فيه والإضافة للبيان ﴿وجعلنا آية النهار مُبْصِرَةً﴾ أيْ مُبْصِرًا فِيهَا بِالضَّوْءِ ﴿لِتَبْتَغُوا﴾ فِيهِ ﴿فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ﴾ بِالْكَسْبِ ﴿وَلِتَعْلَمُوا﴾ بِهِمَا ﴿عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ﴾ لِلْأَوْقَاتِ ﴿وَكُلَّ شَيْءٍ﴾ يُحْتَاج إلَيْهِ ﴿فَصَّلْنَاهُ تَفْصِيلًا﴾ بَيَّنَّاهُ تَبْيِينًا ﴿وَكُلَّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ﴾ عَمَله يَحْمِلهُ ﴿فِي عُنُقِهِ﴾ خُصَّ بِالذِّكْرِ لِأَنَّ اللُّزُوم فِيهِ أَشَدّ وَقَالَ مُجَاهِد مَا مِنْ مَوْلُود يُولَد إلَّا وَفِي عُنُقه وَرَقَة مَكْتُوب فِيهَا شَقِيّ أَوْ سعيد ﴿ونخرج له يوم القيامة كِتَابًا﴾ مَكْتُوبًا فِيهِ عَمَله ﴿يَلْقَاهُ مَنْشُورًا﴾ صِفَتَانِ لكتابا ويقال له ﴿اقرأ كتابك كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا﴾ محاسبا ﴿مَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ﴾ لِأَنَّ ثَوَاب اهْتِدَائِهِ لَهُ ﴿وَمَنْ ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا﴾ لِأَنَّ إثمه عليها ﴿وَلَا تَزِرُ﴾ نَفْس ﴿وَازِرَةٌ﴾ آثِمَة أَيْ لَا تَحْمِل ﴿وِزْرَ﴾ نَفْس ﴿أُخْرَى وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ﴾ أَحَدًا ﴿حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولًا﴾ يُبَيِّن لَهُ مَا يَجِب عليه ﴿وإذا أردنا أن نهلك قرية أمرنا مُتْرَفِيهَا﴾ مُنَعَّمِيهَا بِمَعْنَى رُؤَسَائِهَا بِالطَّاعَةِ عَلَى لِسَان رُسُلنَا ﴿فَفَسَقُوا فِيهَا﴾ فَخَرَجُوا عَنْ أَمْرنَا ﴿فَحَقَّ عَلَيْهَا الْقَوْلُ﴾ بِالْعَذَابِ ﴿فَدَمَّرْنَاهَا تَدْمِيرًا﴾ أَهْلَكْنَاهَا بِإِهْلَاكِ أهلها وتخريبها ﴿وَكَمْ﴾ أَيْ كَثِيرًا ﴿أَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُونِ﴾ الْأُمَم ﴿من بعد نوح وكفى بربك بذنوب عباده خَبِيرًا بَصِيرًا﴾ عَالِمًا بِبَوَاطِنِهَا وَظَوَاهِرهَا وَبِهِ يَتَعَلَّق بذنوب ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ﴾ بِعَمَلِهِ ﴿الْعَاجِلَةَ﴾ أَيْ الدُّنْيَا ﴿عجلنا له فيها ما نشاء لمن نريد﴾ بالتعجيل لَهُ بَدَل مِنْ لَهُ بِإِعَادَةِ الْجَارّ ﴿ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ﴾ فِي الْآخِرَة ﴿جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا﴾ يَدْخُلهَا ﴿مَذْمُومًا﴾ مَلُومًا ﴿مَدْحُورًا﴾ مَطْرُودًا عَنْ الرَّحْمَة ﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا﴾ عَمِلَ عملها اللائق بها ﴿وهو مؤمن﴾ حال ﴿فأولئك كان سعيهم مَشْكُورًا﴾ عِنْد اللّه أَيْ مَقْبُولًا مُثَابًا عَلَيْهِ ﴿كُلًّا﴾ مِنْ الْفَرِيقَيْنِ ﴿نُمِدُّ﴾ نُعْطِي ﴿هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ﴾ بَدَل ﴿مِنْ﴾ مُتَعَلِّق بِنُمِدّ ﴿عَطَاءِ رَبِّكَ﴾ فِي الدُّنْيَا ﴿وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ﴾ فِيهَا ﴿مَحْظُورًا﴾ مَمْنُوعًا عَنْ أَحَد ﴿انْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ﴾ فِي الرِّزْق وَالْجَاه ﴿وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ﴾ أعظم ﴿دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا﴾ مِنْ الدُّنْيَا فَيَنْبَغِي الِاعْتِنَاء بِهَا دُونهَا ﴿لا تجعل مع الله إلها آخر فتقعد مذموما مخذولا﴾ لا ناصر لك

ترجمه: او چې کله د انسان زړه تنګ شي نو د خپل خاندان د پاره داسې خيرې کوی څنګه چې د هغوی د پاره د خير دعا کوئی، او هر انسان، د ځان دپاره خيرو کولو کښې جلدباز او انجام نه ناخبره واقع شوې دې، او مونږ شپه او ورځ زمونږ په قدرت باندې دلالت کولو د پاره نښې پيدا کړې دی، نو مونږ د شپې نښه تياره جوړه کړه، يعنی مونږ د هغې نور په تيارې سره ختم کړو چې تاسو په هغې کښې ارام حاصل کړئ، او په (آية الليل) کښې اضافت بيانيه دې، او مونږ د ورځې نښه رڼرا جوړه کړه، يعنی داسې چې په هغې کښې د رڼرا د وجه نه هر څيز په نظر راځی، او چې تاسو د کار کسب په ذريعه د خپل رب فضل تلاش کړئ، او دا چې

Scanned with

تاسو دده‌ي په ذریعه سره د کلونو شمیر او د وختونو حساب اوکړئ، او مونږ د هر ضرورت څیز پورا تفصیل سره ذکر کړې دې، یعنی ښکاره مو بیان کړې دې او مونږ د هر کس عمل د هغه د غاړې هار کړې دې، چې کوم هغه اوچت کړې دې، غاړه ئې خاص طور سره ځکه ذکر کړه، چې په غاړه کښې نیول سخت وی، او مجاهد وئیلی دی چې یو ماشوم نه پیدا کیږی خو دا چې د هغه په غاړه کښې یو خط وی، چې په هغې کښې لیکلې وی چې دا بدنصیبه دې یا خوش نصیبه، او د قیامت په ورځ به مونږ د هغه اعمال نامه راوباسو او مخې ته ئې کیږدو، چې په هغې کښې به د هغه عمل لیکلې شوې وی، کوم چې به هغه د ښکاره کتاب پشان اوګوری، (یلقاه او منشورا) د کتاب صفت دې او ورته به اووئیلې شی ته خپله اعمال نامه خپله اولوله، نن ته خپله د ځان نه حساب اغستلو د پاره کافی یې، چا چې هدایت اوموندلو هغه دخپلې فائدې د پاره هدایت اوموندلو، ځکه چې د هغه د هدایت ثواب هم د هغه د پاره دې، او څوک چې د لارې نه واوړیدلو نو د اوړیدلو نقصان هم د هغه دې، ځکه چې د ګمراهئ ګناه هم په هغه باندې ده، او یو ګنهګار کس به د بل ګنهګار کس بوج اوچتولې نشی، او زمونږ سنت نه دی چې مونږ څوک د رسول لیږلو نه مخکښې چې هغه ته د هغه واجبات وخائی عذاب ورکړو، او چې مونږ د یو کلی د هلاکولو اراده اوکړو نو دده‌ې کلی مالدار خلقو لره یعنی د هغه کلی سردارانو ته د خپل رسول په ذریعې سره د تابعدارئی حکم ورکوو، نو هغوی دده‌ې حکم نافرمانی کوی، یعنی زمونږ د حکم نه مخ اړوی، نو په دوی باندې د عذاب فیصله نافذه شی، نو مونږ دوی پورا طور سره نیست اونابود کړو، یعنی دده‌ې کلی خلقو لره بربادولو سره، دا کلی هم ختم کړو، او د نوح عليه السلام نه پس مونږ څومره کلی تباه کړل او ستا پروردګار خپلو د بندګانو د ګناهونو نه باخبر او ټول هرڅه ته د کتلو په اعتبار سره کافی دې، یعنی د ښکاره او د پټو خبرو نه خبردار دې، او خبیر او بصیر سره بذنوب متعلق دې، مونږ سره موجود نسخه کښې هم داسې ده، (غالبا چې دا خطا ده اصل عبارت داسې پکار وو وبذنوب یتعلق بخبیرا وبصیرا) او کوم کس د خپل عمل بدله په دنیا کښې غواړی، نو مونږ چې څومره غواړو او چاته زر ورکول غواړو نو هغوی ته ئې په تیزئی سره ورکړو لمن نرید، د (له) نه د اعادهٔ جار سره بدل دې بیا ددوی د پاره په آخرت کښې جهنم مقرر کړو، چه په هغې کښې به هغوی ذلیل او مردود شوی داخلیږی او دچا اراده چه د آخرت وی او هغه دهغې لائق عمل هم کړې وی حال دا چه هغه مؤمن هم وی همدا هغه خلق دی چې د دوی د اعمالو د الله په نیز قدر دې، او مقبول او د اجر لائق دی او مونږ په دواړو ډلو کښې هرې یوې ته دې ته هم او دې ته هم د ښائست سامان ورکوو، هؤلاء و هؤلاء) د کلا نه بدل دې، او (من) د نمد متعلق دې، په دنیا کښې دا ستا د رب ورکړه ده، او په دنیا کښې ستا د رب ورکړه منع کونکې څوک نشته، یعنی د چا نه هم څه منع کونکې نشته اوګورئی مونږ رزق او مرتبه کښې بعضو لره په بعضو باندې څنګه فضیلت ورکوو، او آخرت خو د

درجو په اعتبار سره د دنیا نه ډیر فضیلت لري، لهذا د آخرت طرف ته د توجو ضرورت دې، نه چې دنیا طرف ته د الله سره د هغه نه بغیر بل معبود مه نیسه، گنی نو ملامته او بې یارو مددګار به ناست پاتې شې، چې ستا به څوک مددګار نه وي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: الجنس: په دې کښې اشاره ده چې په الانسان کښې الف لام د جنس دې، نه چې د استغراق، لهذا اوس دا اعتراض نشي راتلې چې ټول انسانان په دعا کښې جلدي نه کوي.

قوله: الاضافة للبيان: یعنی په آیة اللیل کښې اضافت بیانیه دې، دا ددې شبهې جواب دې چې مضاف د مضاف الیه نه غیر وي، حالانکه په آیة اللیل کښې مضاف او مضاف الیه یو دی؟

د جواب حاصل دادې چې دا اضافت بیانیه دې، او دا اضافت د عدد الی المعدود قبیل نه دې، څنګه چې په عشرسنین کښې اضافت بیانیه دې، په آیة النهار کښې هم دا صورت دې

قوله: اي مبصرا فيها: په دې کښې مجاز عقلی دې څکه چې ورځ نه ګوری بلکه په ورځ کښې کتلې شی، د علاقې د ظرفیت د وجه نه اضافت نهار طرف ته شوې دې، یعنی اسم فاعل ذکر دې او ظرف مراد اخستلې شوې دې.

قوله: بالضوء اي بسبب الضوء دی.

قوله: الزمناه طائره في عنقه: د ډیر لزوم بیانولو د پاره دا یو عربی تعبیر دې، د عربو عادت دا دې چې کله به یو اهم کار پیښ شو نو هغوی به د مرغئ نه پال اخستلو، ددې صورت به دا وو چې مرغئی به ئې والوزوله یا هغه به په خپله والوته، که هغه به ښی طرف ته لاړه نو دا به ئې نیک فال ګڼړلو، چې کله په عربو کښې دا رواج عام شو، نو نفس شر او خیر به یې د مرغئی سره تعبیر کولو، او دا د تسمية الشي باسم لازمه نه قبیل نه شماریدلو.

قوله: خص بالذكر: دا ددې سوال جواب دې چې اعمال د ټولو انسانو د پاره لازم وي نه چې صرف دغټ د پاره، حالانکه اعمال دلته د غټ د پاره لازم ګڼړلې شوې دی؟

د جواب حاصل دادې چې څنګه قلاده (د غاړې هار) غاړې لازم غیر منفک وي، دغه شان د انسان اعمال دانسان د پاره لازم دی. په دې تعبیر کښې د ډیر لزوم او د ډیر همیشګیریت طرف ته اشاره کړې شوې ده.

قوله: وقال المجاهد: الغرد مجاهد د قول مطابق په دې کښې به مجاز عقلی نه وي.

قوله: صفتان لكتابا: یلقه جمله دکتاب صفت اول دې، او منشورا صفت ثانی دې، او دا هم صحیح دی چې منشورا د یلقاه د ضمیر مفعولی نه حال وي.

Scanned with

قوله: ويقال له: د ماقبل سره د نظم او ربط د پاره ئې يقال محذوف ګڼرلې دې.

قوله: نفس: دا د (تزر) وجه تانيث طرف ته اشاره ده.

قوله: لاتحمل: د لاتزر تفسير دې.

قوله: وبه: ضمير على سبيل الانفراد خبيرا او بصيرا طرف ته راجع دې، ښه به دا وه چې عبارت داسې وو وبذنوب يتعلق بخبيرا وبصيرا.

قوله: بدل من له: الخ يعنى (لمن نريد) د (له) نه د اعادې د جار سره بدل البعض من الكل دې

[اياتونه: ۲۳ - ۳۰]

{وقضى} امر {ربك أ} نْ أيْ بِأنْ {لَا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَ} ان تحسنوا {بِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا} بان تبروهما {إما يبلغن عندك الكبر أحدهما} فاعل {أو كلاهما} وَفِي قِرَاءَة يَبْلُغَانِّ فَأَحَدهمَا بَدَل مِنْ أَلِفه {فلا تقل لهما أُفّ} بِفَتْحِ الْفَاء وَكَسْرهَا مُنَوَّنًا وَغَيْر مُنَوَّن مَصْدَر بِمَعْنَى تَبًّا وَقُبْحًا {وَلَا تَنْهَرْهُمَا} تَزْجُرهُمَا {وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا} جَمِيلًا لَيِّنًا {وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ} أَلِنْ لَهُمَا جَانِبك الذليل {من الرحمة} اي لرقتك عليهما {وقل رب ارحمهما كَمَا} رَحِمَانِي حِين {رَبَّيَانِي صَغِيرًا} {رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ} مِنْ إِضْمَار الْبِرّ وَالْعُقُوق {إِنْ تَكُونُوا صَالِحِينَ} طَائِعِينَ لِلَّهِ {فإنه كان لِلْأَوَّابِينَ} الرَّجَّاعِينَ إِلَى طَاعَته {غَفُورًا} لِمَا صَدَرَ مِنْهُمْ فِي حَقّ الْوَالِدَيْنِ مِنْ بَادِرَة وَهُمْ لَا يُضْمِرُونَ عُقُوقًا {وَآتِ} أَعْطِ {ذَا الْقُرْبَى} الْقَرَابَة {حَقَّه} مِنْ الْبِرّ وَالصِّلَة {والمسكين وابن السبيل وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا} بِالْإِنْفَاقِ فِي غَيْر طَاعَة الله {إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ} أَيْ عَلَى طريقتهم {وكان الشيطان لربه كَفُورًا} شَدِيد الْكُفْر لِنِعَمِهِ فَكَذَلِكَ أَخُوهُ الْمُبَذِّر {وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمْ} أَيْ الْمَذْكُورِينَ مِنْ ذِي الْقُرْبَى وَمَا بَعْدهمْ فَلَمْ تُعْطِهِمْ {ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِنْ رَبِّكَ تَرْجُوهَا} أَيْ لِطَلَبِ رِزْق تَنْتَظِرهُ يأتيك فتعطيهم منه {فقل لهم قَوْلًا مَيْسُورًا} لَيِّنًا سَهْلًا بِأَنْ تَعِدهُمْ بِالْإِعْطَاءِ عِنْد مَجِيء الرِّزْق {وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ} أَيْ لَا تُمْسِكهَا عَنْ الْإِنْفَاق كُلّ الْمَسْك {وَلَا تَبْسُطْهَا} فِي الْإِنْفَاق {كُلَّ الْبَسْط فَتَقْعُدَ مَلُومًا} رَاجِع لِلْأَوَّلِ {مَحْسُورًا} مُنْقَطِعًا لَا شَيْء عِنْدك راجع للثاني {إن ربك يَبْسُطُ الرِّزْقَ} يُوَسِّعهُ {لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ} يُضَيِّقهُ لِمَنْ يَشَاء {إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا} عَالِمًا بِبَوَاطِنِهِمْ وَظَوَاهِرهمْ فَيَرْزُقهُمْ عَلَى حسب مصالحهم

ترجمه: او ستا رب حکم کړې دې چې د هغه نه سوا د بل چا عبادت مه کوئی، او مور پلار سره ښه سلوک کوئی په داسې طريقه چې هغوى سره صحيح رويه ساتئى که تاسو سره چاته ددوى نه يو يا دواړه د بوډهاوالى عمر ته اورسى احدهما د (يبلغن) فاعل دې، يو قراءت کښې يبلغان دې، په دې صورت کښې به (احدهما) د (يبلغان) د الف نه بدل وى. نو تاسو دوى ته اف قدرې هم مه وائى اف د فاء په فتحې او کسرې سره، په تنوين يا بغير د تنوين نه مصدر دې، په معنى د (تبا او قبحا) کښې دې، (يعنى ستا دې تباهى وى) او نه دوى رټه، او دوى

Scanned with

سره په احترام سره په نرمۍ خبرې کوه او په مينه سره دوی ته ګوره، يعنی د خپلې عاجزۍ لاسونه دوی ته ښکته کوه، ستا په دوی باندې د شفقت د وجه نه او داسې دعا کوه چې ای پروردګار په دوی دواړو باندې خپل رحمت او کړه څنګه چوی دوی په ماشوموالی کښې ځما د پرورش په وخت په ما باندې شفقت کړې وو، د فرمانبردارئی نه څه چې ستاسو په زړونو کښې پټ دی هغه ستاسو رب ښه پيژنی، که تاسو نيکان يئ، يعنی دالله تعالی حکم منئ، نو بې شکه هغه ده تابعدارئی طرف ته د رجوع کونکو خطاګانې معاف کوی، يعنی په توندۍ کښې چې ددوی نه د مور پلار په حقوقو کښې څه شوې وو هغه معاف کونکې دې، په شرط ددې چې ددوی په زړه کښې نافرمانی موجود نه وی، او رشته دارو سره ښه سلوک او صله رحمی سره ددوی حق ورکوه او محتاجو او مسافرو ته ددوی حق هم ورکوه، او د الله په نافرمانۍ کښې مال فضول مه خرچ کوه، بې شکه بې موقع مال الوزونکی د شيطانانو رونړه دی، يعنی د شيطانانو په طريقه بادې دی، او شيطان د خپل رب دير ناشکرا دې، يعنی د هغه د نعمتونو دير زيات ناشکری کونکې دې، دغه شان فضول خرچ کونکې د هغه رور دې، او که تاته په ذکر شوو کښې يعنی په رشته دارو او هغه څوک چې ددې نه پس ذکر دی د خپل رب د رحمت د اميد په طلب کښې د کوم چې ته اميد ساتې، مخ اړوې، يعنی هغه رزق غوښتل چې د هغې د حاصلولو تاته انتظار دې، چې ددې نه هغوی ته هم ورکړی، ته دوی سره د نرمۍ او د اساتتيا خبرې کوه، په داسې طريقه چې د مال حاصليدو په صورت کښې دو ی ته د ورکولو وعده کوه او نه خپل لاسونه څټ پورې اوتړه، يعنی ته خپل لاسونه بالکل مه بندوه، او نه د خرچ د پاره پوره کولاوهه، چې ته ملامت ګرځې اول صورت طرف ته راجع دې، او خالی لاس کينې، يعنی تاسره هيڅ هم پاتې نشی، دا دويم صورت ته راجع دې، بې شکه ستا رب چې چاته غواړی، په رزق کښې ورته فراخی ورکوی، او چاته چې اوغواړی نو تنګ ئې کړی، بې شکه هغه د خپلو بندګانو د حالت نه ښه خبردار ليدونکې او کتونکې دې، يعنی ددوی د باطن او ظاهر نه ښه خبردار دې، ددوی د مصلحت د تقاضې مطابق دوی ته رزق ورکوی.

د قيوداتو فوائد او تسهيل

قوله: بأن: په دې تقدير کښې دې طرف ته اشاره ده، چې ان مصدريه دې په دې صورت کښې به لاء نافيه وی، او تعبدون به دعبادة په معنی کښې وی، يعنی ستا رب دا تاکيد کړې دې چې د هغه نه سوا د بل چا عبادت نشته، او دا هم جائز ده چې (ان) مفسره وی څکه چې قضی د قال په معنی کښې دې، په دې صورت کښې به لاء ناهيه وی.

قوله: يبلغن: واحد مذکر غائب مضارع بانون ثقيله

قوله: وان تحسنوا: دا ديو سوال جواب دې.

سوال: ان تحسنوا مقدر ګڼړلو څه ضرورت وو؟

Scanned with

جواب: بالوالدين جار مجرور كيدو سره د احسانا مؤخر متعلق نشى كيدې، ځكه چې د مصدر متعلق مقدم كيدې نشى نو ځكه مجبورا (ان تحسنوا) مقدر اوګڼړلې شو، دويمه وجه دا ده چې ان تحسنوا مقدر اونه ګڼړلې شى، نو د بالوالدين عطف به په لا تعبدوا باندې وى، دا عطف به د جمله اسميه په فعليه باندې وى، او كله چې ان تحسنوا مقدر اوګڼړلې شو نو عطف به د جمله فعليه په جمله فعليه باندې وى

قوله: عندك: اى فى كفالتك وحرزك

قوله: فاعل: يعنى احدهما فاعل دې ددې اضافې مقصد دا ښودل دى چې په يبلغن كښې دفاعل ضمير مستترنه دې چې دفاعل د تكرار اعتراض راشى، بلكه احدهما فاعل دې

قوله: فاحدهما بدل من الفه: دا د دويم قراءت تركيب طرف ته اشاره ده، ددې خلاصه داده چې په يو قرات كښې د يبلغن په ځائې يبلغان دې، په دې صورت كښې به د فاعل دتكرار اعتراض خامخا كيږى؟

ددې جواب دادې چې په يبلغان كښې الف فاعل دې، او احدهما ددې نه بدل دې، نه چې د يبلغان فاعل، لهذا په دې قراءت كښې به هم د فاعل دتكرار اعتراض نه وى.

قوله: الن لهما جانبك: يعنى دجناح نه مجازا د جانب اراده كړې شوې ده، او دا ذكر د خاص او د اراده عام دقبيل نه دې،

قوله: الذليل: په دې كښې اشاره ده چې د جناح اضافت د الذل طرف ته بيانيه دې.

قوله: اي لرقتك: په دې كښې اشاره ده چې په من الرحمة كښې (من) د اجل د پاره دې.

قوله: رحمانى: ددې اضافې مقصد تشبيه صحيح كول دى.

قوله: وهم لايضمرون: دا جمله حاليه ده،

قوله: فى غيرطاعة الله تعالى: په دې كښې اشاره ده چې په صحيح كار كښې كه مناسب خرڅ اوكړې شى نو بيا به هم په فضول خرڅۍ كښې نه حسابيږى.

[ايا تونه: ۳۱ـ۴۰]

(وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ) بِالْوَأْدِ (خَشْيَةَ) مَخَافَة (إِمْلَاقٍ) فقر (نحن نرزقهم وإياكم إن قتلهم كان خطئا) إثما (كبيرا) عظيما (ولاتقربوا الزنى) ابلغ من لا تاتوه (إنه كان فَاحِشَةً) قبيحا (وَسَاءَ) بئس (سَبِيلًا) طريقا هو (وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بالحق ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لِوَلِيِّهِ) لِوَارِثِهِ (سُلْطَانًا) تَسَلُّطًا عَلَى الْقَاتِلِ (فَلَا يُسْرِف) يَتَجَاوَزِ الْحَدَّ (فِي الْقَتْلِ) بِأَنْ يَقْتُلَ غَيْرَ قَاتِلِه أَوْ بِغَيْرِ مَا قُتِلَ بِهِ (إنه كان منصورا) (ولا تقربوا مال اليتيم إلا بالتى هى أحسن حتى يبلغ أشده وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ) إِذَا عَاهَدْتُمُ اللَّهَ أَوِ النَّاسَ (إن العهد كان مسئولا) عنه (وأوفوا الكيل) اتموه (إذا كلتم وزنوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ) الْمِيزَانِ السَّوِيِّ (ذَٰلِكَ خَيْرٌ

Scanned with

وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ مالا ﴿ولا تقف﴾ تتبع ﴿ما ليس لك به علم إن السمع والبصر وَالْفُؤَادَ﴾ الْقَلْب ﴿كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا﴾ صَاحِبه مَاذَا فَعَلَ بِهِ ﴿وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا﴾ أَيْ ذَا مَرَح بِالْكِبْرِ وَالْخُيَلَاء ﴿إِنَّكَ لَنْ تَخْرِقَ الْأَرْضَ﴾ تَثْقُبهَا حَتَّى تَبْلُغ آخِرهَا بِكِبْرِك ﴿وَلَنْ تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا﴾ الْمَعْنَى أَنَّك لَا تَبْلُغ هَذَا المبلغ فكيف تختال ﴿كل ذلك﴾ المذكور ﴿كان سيئة عند ربك مكروها﴾ ﴿ذلك مما أوحى إليك﴾ يا محمد ﴿ربك من الحكمة﴾ الموعظة ﴿ولا تجعل مع الله إلها آخر فتلقى في جهنم ملوما مَدْحُورًا﴾ مَطْرُودًا عَنْ رَحْمَة الله ﴿أفأصفاكم﴾ اخلصكم يا اهل مكة ﴿ربكم بالبنين واتخذ من الملائكة إناثا﴾ بنات لنفسه بزعمكم ﴿إنكم لتقولون﴾ بذلك ﴿قولا عظيما﴾

ترجمه: او تاسو خپل اولاد د لوږې د وجې نه ژوندی خښولو سره مه قتلوئ، مونږ به دوی ته هم رزق ورکوو او تاسو ته هم، او بې شځه ددوی قتلول لويا گناه د، او زنا ته نژدې هم مه ورزئ، دا تعبير د (تاسو زنا مه کوئی) نه زيات بليغ دې، بې شکه دير بد کار دې، او ديره خرابه لاره ده، او د نفس دقتل جرم مه کوئی، کوم چې الله حرام کړې دې، خو خق سره او کوم کس چې په ظلم سره قتل کړې شو نو مونږ دده وارث ته د ده قاتل نه د قصاص اخستلو د حق مطالبه ورکړې ده، نو هغه ته په قتل کښې د شريعت : حد نه تجاوز کول پکار نه دی، په داسې طريقه چې د قاتل نه علاوه بل څوک قتل کړی يا د هغه اسلحې نه علاوه باندې قتل کړې په کومه چې قتل شوې دې، بې شکه د هغه مدد کړې شوې دې، او د يتيم مال ته هم نژدې مه ورزئی، خو په داسې طريقه کومه چې شرعا احسان وی، تردې چې هغه بلوغت ته اورسی، او تاسو چې کله د الله سره يا د خلقو سره څه وعده اوکړئ، نو دې وعدې لره پورا کړئ، بې شکه د عهد په باره کښې به تپوس کيږی او چې کله تول کوئی نو ډکې پيمانې سره ناپ اوکړئ، او صحيح تلې سره تلئ، دا ښه طريقه ده او د انجام په اعتبار سره هم بهتره ده، او داسې څيز پسې مه لگا چې د هغې تا ته علم نه وی يقينا د سترگې غوږونو او د زړه د ټولو به تپوس کيږی، يعنی د سترگو غوږونو او زړه والو ټولو نه به تپوس کيږی، چې ددې نه مو څه کار اخستې دې، او په زمکه باندې په غرور سره مه گرزه، يعنی د غرور او د تکبر په انداز سره مه گرزه، او دا واقعی خبره ده چې نه ته د تکبر په وجه زمکه شلولې شې چې ته د هغې ويخ ته اورسې، او نه په اوچتوالې کښې د غرونو سر ته رسيدلې شې، مطلب دادې چې ته دې درجې ته رسيدلې نشې نو بيا ولې په غرور سره گرځې؟ ددې ټولو کارونو خرابوالې ستا د رب په نيز دير ناخوښه دې، او اې محمد ﷺ دا د حکمت نصيحت هغه خبرې دی کومې چې ستا رب تا ته د وحی په ذريعه سره نازل کړې دی او ته الله سره بل څوک معبود مه جوړه، گنی ملامته او د الله د رحمت نه به لرې کيدو سره جهنم ته واچولې شې، او اې اهل مکه، آيا ستاسو رب تاسو د ځامنو د پاره خوښ کړې يئ او لوريانې يې د ځان د پاره جوړې کړې دی يعنی ستاسو د قول مطابق ئې جينکئ د ځان د پاره خوښې کړې، تاسو دا خبره يقينا دير لويه وايئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: املاق: (افعال) غریبی، مسکینی

قوله: الواد: (ض) نه مصدر دې، ژوندې دفن کول.

قوله: خطأ: خطا، غلطیدل، (س) نه مصدر دې.

قوله: ابلغ من لاتأتوه: یعنی ﴿لا تقربوا الزنی﴾ په تعبیر او معنویت کښې د ﴿لاتأتوه﴾ نه زیات ابلغ دې، ځکه چې په لاتقربوا کښې زنا ته د نیزدې ورتلو نه هم منع شوې ده، چې په هغې سره د دواعی د زنا او د هغې د مقدماتو نه هم منع شوې ده، په خلاف د لاتأتوه.

قوله: انه کان منصورا: ضمیر ولی د مقتول طرف ته راجع دې، ولی د مقتول ځکه منصور دې چې شریعت هغه ته د قصاص حق ورکړې دې.

قوله: مسئولا: عنه، یعنی په قیامت کښې به د وعدې د ماتولو په باره کښې تپوس کیږی.

قوله: لاتقف: ته شاته مه ځه، ته اتباع مه کوه، (ن) قفوا، روستو تلل، تابعداری کول، مضارع واحد حاضر فعل نهی.

قوله: ذامرح: مضاف محذوف ګڼړلو سره دې طرف ته اشاره ورکړې شوې ده چې (مرحا) د ﴿لاتمش﴾ د ضمیر نه حال دې حالانکه د مصدر حمل د مصدر په وجه صحیح نه دې؟

د جواب حاصل دادې چې مضاف محذوف دې ای ذامرح، ای مارحا.

[ایاتونه: ۴۱ـ۵۲]

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا﴾ بَيَّنَّا ﴿فِي هَذَا الْقُرْآن﴾ مِنَ الْأَمْثَال وَالْوَعْد وَالْوَعِيد ﴿لِيَذَّكَّرُوا﴾ يَتَّعِظُوا ﴿وَمَا يَزِيدُهُمْ﴾ ذَلِكَ ﴿إِلَّا نُفُورًا﴾ عَنِ الْحَقِّ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿لَوْ كَانَ مَعَهُ﴾ أَيِ اللَّه ﴿آلهة كما يقولون إذا لا بتغوا﴾ طَلَبُوا ﴿إِلَى ذِي الْعَرْش﴾ أَيِ اللَّه ﴿سَبِيلًا﴾ ليقاتلوه ﴿سُبْحَانَه﴾ تَنْزِيهًا لَهُ ﴿وَتَعَالَى عَمَّا يَقُولُونَ﴾ مِنَ الشركاء ﴿علوا كبيرا﴾ ﴿تسبح له﴾ تنزهه ﴿السماوات السبع والأرض ومن فيهن وَإِنْ﴾ مَا ﴿مِنْ شَيْءٍ﴾ مِنَ الْمَخْلُوقَات ﴿إِلَّا يسبح﴾ مُتَلَبِّسًا ﴿بِحَمْدِهِ﴾ أَيْ يَقُول سُبْحَان اللَّه وَبِحَمْدِهِ ﴿وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ﴾ تَفْهَمُونَ ﴿تَسْبِيحَهُمْ﴾ لِأَنَّهُ لَيْسَ بِلُغَتِكُمْ ﴿إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا﴾ حَيْثُ لَمْ يُعَاجِلكُمْ بالعقوبة ﴿وإذا قرأت القرآن جعلنا بينك وبين الذين لا يؤمنون بالآخرة حجابا مَسْتُورًا﴾ أَيْ سَاتِرًا لَك عَنْهُمْ فَلَا يَرَوْنَك نَزَلَ فِيمَنْ أَرَادَ الْفَتْك بِهِ صَلَّى اللَّه عليه وسلم ﴿وجعلنا على قلوبهم أَكِنَّة﴾ أغطِيَة ﴿أَنْ يَفْقَهُوهُ﴾ مِنْ أَنْ يَفْهَمُوا الْقُرْآن أَيْ فَلَا يَفْهَمُونَهُ ﴿وَفِي آذَانهمْ وَقْرًا﴾ ثقلا فلا يسمعونه ﴿وإذا ذكرت ربك في القرآن وحده ولوا على أدبارهم نفورا﴾ عنه ﴿ونحن أعلم بما يستمعون بِهِ﴾ بِسَبَبِهِ مِنَ الْهُزْء ﴿إِذْ يَسْتَمِعُونَ إِلَيْك﴾ قِرَاءَتك ﴿وَإِذْ هُمْ نَجْوَى﴾ يَتَنَاجَوْنَ بَيْنهمْ أَيْ يَتَحَدَّثُونَ ﴿إِذْ﴾ بَدَل مِنْ إِذْ قَبْله ﴿يَقُول الظالمون﴾ في تناجيهم ﴿إِنْ﴾ مَا ﴿تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَسْحُورًا﴾ مَخْدُوعًا مغلوبا على عقله قال تعالى ﴿انْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَك الْأَمْثَال﴾ بِالْمَسْحُورِ وَالْكَاهِن وَالشَّاعِر ﴿فَضَلُّوا﴾ بِذَلِكَ عَنِ الْهُدَى ﴿فَلَا

Scanned with

(يَسْتَطِيعُونَ سبيلا) طريقا إليه (وقالوا) منكرين للبعث (ءإذا كنا عظاما ورفاتا أئنا لمبعوثون خلقا جديدا) (قل) لهم (كونوا حجارة أو حديدا) (أَوْ خَلْقًا مِمَّا يَكْبُرُ فِي صُدُورِكُمْ) يَعْظُم عَنْ قَبُول الْحَيَاة فَضْلًا عَنْ الْعِظَام وَالرُّفَات فَلَا بُدّ مِنْ إيجَاد الرُّوح فِيكُمْ (فَسَيَقُولُونَ من يعيدنا) إلى الحياة (قل الذي فَطَرَكُمْ) خَلَقَكُمْ (أَوَّلَ مَرَّةٍ) وَلَمْ تَكُونُوا شَيْئًا لِأَنَّ الْقَادِر عَلَى الْبَدْء قَادِر عَلَى الْإِعَادَة بل هي أهون (فسينغضون) يحركون (إليك رؤوسهم) تَعَجُّبًا (وَيَقُولُونَ) اسْتِهْزَاء (مَتَى هُوَ) أَيْ الْبَعْث (قل عسى أن يكون قريبا) (يَوْمَ يَدْعُوكُمْ) يُنَادِيكُمْ مِنْ الْقُبُور عَلَى لِسَان إسْرَافِيل (فَتَسْتَجِيبُونَ) فَتُجِيبُونَ دَعْوَتَهُ مِنْ الْقُبُور (بِحَمْدِهِ) بامره وقيل وله الحمد (وتظنون إنْ) مَا (لَبِثْتُمْ فِي الدُّنْيَا) (إلَّا قَلِيلًا) لِهَوْلِ مَا تَرَوْنَهُ

ترجمه: مونږ په دې قرآن کښې مختلف مثالونه او وعده او وعيد بيانولو سره ښکاره کړل چې خلق پوهه شي نصيحت حاصل کړي، خو دې سره خو د هغوی د حق نه نفرت نور هم زيات شو اې محمد ﷺ دوی ته اووايه که چرې الله سره بل معبود وو څنګه چې دې خلقو وائی نو اوسه پورې به دا خلق د عرش مالک الله طرف ته خامخا لار راويستې وه، چې هغه سره جنګ اوکړي، د کومو شريکانو چې دوی دا خبره کوی هغه ددې نه پاک او اوچت دې، په اووه زمکو او اسمانونو کښې چې څه دی د هغه پاکی بيانوی، او هر مخلوق د حمد سره د هغه تسبيح بيانوی، يعنی سبحان الله وبحمده وائی خو تاسو د هغوی په تسبيح باندې نه پوهيږئ ځکه چې هغه ستاسو په ژبه کښې نه دی بې شکه هغه ډير صبرناک او ډير بخښونکې دې دغه وجه ده چې هغه ستاسو په سزا کښې توندی نه کوی او چې کله ته د قرآن تلاوت کوې، نو مونږ ستا او په آخرت باندې ايمان نه راوړنکو په مينځ کښې پرده ساتر واچوو، چې د هغې د وجې نه هغوی تا نه وينی، او دا مخکښې آيت د هغه کس په باره کښې نازل شوې دې چا چې د حضور ﷺ د اچانک قتل اراده کړې وه هغه ددوی په زړونو باندې داسې پرده اچوو چې هغوی په هيڅ نه پوهيږی، يعنی داسې غلاف چې هغه د قرآن د پوهې نه منع کوی، يعنی په هغې باندې نه پوهيږی، او ددوی په غوږونو کښې دروندوالې پيدا کوو، چې د مغې د وجې نه دوی هغه نه اوری، او چې تاسو کله په قرآن کښې د يو رب ذکر کوئې نو دوی د هغې نه په نفرت سره مخ اړوی، او چې کله غوږ ايښودلو سره ستا قراءت د ټوقو د پاره اوری نو مونږ ته هغه وخت هم پته ده چې دوی څه اوری، او چې کله دوی په خپلو کښې پټې خبرې کوی، نو هم او (اذ) د ماقبل د (اذ) نه بدل دې، او هغه وخت هم چې کله دا ظالمان په خپل مينځ کښې پټې خبرې کوی، وائی، چې تاسو د هغه کس تابعداری کوئې په چا چې جادو شوې دې، يعنی د هغه کس چې مسحور او مغلوب العقل دې، اوګورئې ستاسو باره کښې څنګه مثالونه ورکوی، يعنی د سحر شوې، کاهن او د شاعر مثال، ددې وجې نه دا خلق د هدايت نه اوريدلې دی، دوی ته الله ته د رسيدلو لاره نه ملاويږی، او د قيامت نه انکار کونکی وائی چې کله مونږ هډوکی او زره زره شو نو آيا مونږ به

بیا په نوي ژوندون پیدا کیږو؟ تاسو دوی ته اووایئ چې تاسو کاڼي یا اوسپنه یا څه داسې مخلوق چې د ژوند په قبلولو کښې ستاسو په خیال کښې د هډوکو او د ریزو نه هم لرې وی، شئ نو بیا به هم هغه په تاسو کښې ساه اچوی، نو دوی به خامخا تپوس کوی چې هغه څوک دی چې مونږ به ژوند طرف ته واپس کړی، (په جواب کښې اووایه چا چې په اول ځل باندې پیدا کړی یئ حالانکه تاسو هیڅ هم نه وئی، ځکه چې څوک په ابتدا باندې قادر دې هغه دوباره پیدا کولو کښې هم قادر دې، بلکه دوباره پیدا کول خو ډیر اسان دی نو دوی به په حیرانتیا سره تاته سر ښکته کړی، او تپوس به اوکړی خا نو دا دوباره ژوندی کیدل به وی کله؟ ته ورته اووایه چې کیدې شی چې هغه وخت نژدې راغلې وی چې په کومه ورځ باندې د اسرفیل په ژبه باندې قبرونو ته اواز اوکړی نو تاسو به د هغه په حکم باندې لبیک وئیلو سره د قبرونو نه بهر راوځئ، او وئیلې شوی دی چې (له الحمد) وئیلو سره راوزځئ، کوم منظر ته چې تاسو ګورئی نو د هغې د هیبت د وجې نه ستاسو ګمان به دا وی چې تاسو په دنیا کښې ډیر لږ وخت پاتې شوی یئ.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: ولقد صرفنا في هذا القرآن: واؤ عاطفه دې لام قسمیه دې، (صرف) ډیرو معنو کښې استعمالیږی، دلته بینا وأوضحنا په معنی کښې مستعمل دې، ددې مفعول محذوف دې، تقدیری عبارت دادې ولقد صرفنا امثالا

قوله: ساترا: په دې کښې اشاره ده چې مفعول په معنی د فاعل دې، ځکه چې حجاب ساتر وی نه چې مستور.

قوله: الفتك: بتثليث الفاء القتل على الغفلة، اچانک د غفلت په حالت کښې قتل کول.

قوله: من ان يفهموا: په دې کښې اشاره ده چې (ان) مصدریه دې، نه چې تفسیریه، په (من ان یفهموا) کښې د (من) اضافه دا ښودلو د پاره چې (ان یفقهوه) د (من) تقدیر سره د (اکنة) صله ده، او (اکنة) د منع معنې ته مشتمل دې، نه دا چې ان یفقهوا مفعول له دې، چې د مضارع د حذف کولو ضرورت به وی، او تقدیری عبارت دا وی. کراهة ان يفقهوه؟

قوله: وحده: مصدر دې په ځاې د حال کښې واقع دې.

قوله: نفورا: مصدر دې کوم چې د (ولو) مفعول له واقع دې،

قوله: اذ يستمعون: الخ، او اذ هم نجوى، دا دواړه د (اعلم) ظرف دی.

قوله: قراءتك: مضاف محذوف ګڼړلو سره ئې اووئیل چې د استماع مفعول قراءت محذوف دې، ځکه چې د ذات اوریدل ناممکن دی، او نه ذات داوریدو څیز دې.

قوله: مخدوعا: أي مسحورًا یعنی داسې مسحور چه دسحر په وجه دهغه عقل زائل شوې وی.

Scanned with

قوله: رُفَاتًا: رُفات هغه څيز چه هغه اوچ شی او چوره چوره شی.

قوله: ينغضون: إِنغاض د ﴿افعال﴾ نه مضارع جمع مذکر غائب، هغه سر خوزوی، نَغض (ض ن) د پورته نه لاندې سر خوزول.

[اياتونه: ۵۳ ـ ۶۰]

﴿وقل لعبادي﴾ المؤمنين ﴿يقولوا﴾ للكفار الكلمة ﴿التي هي أحسن إن الشيطان ينزغ﴾ يفسد ﴿بينهم إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوًّا مُّبِينًا﴾ بَيِّن العداوة والكلمة التي هي احسن هي ﴿رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِن يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ﴾ بِالتَّوْبَةِ وَالْإِيمَان ﴿أَوْ إِن يَشَأْ﴾ تَعْذِيبكُمْ ﴿يُعَذِّبْكُمْ﴾ بِالْمَوْتِ عَلَى الْكُفْر ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا﴾ فَتُجْبِرهُمْ عَلَى الْإِيمَان وَهَذَا قَبْل الْأَمْر بِالْقِتَالِ ﴿وَرَبُّكَ أَعْلَمُ بِمَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ فَيَخُصّهُمْ بِمَا شَاءَ عَلَى قَدْر أَحْوَالهمْ ﴿وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَى بَعْضٍ﴾ بِتَخْصِيصِ كُلّ مِنْهُمْ بِفَضِيلَةٍ كَمُوسَى بِالْكَلَامِ وَإِبْرَاهِيم بِالْخُلَّةِ وَمُحَمَّد بِالْإِسْرَاءِ ﴿وآتينا داود زبورا﴾ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُم﴾ أَنَّهُمْ آلِهَة ﴿من دونه﴾ كالملائكة وعيسى وعزير ﴿فلا يملكون كشف الضر عنكم ولا تحويلا﴾ لَهُ إِلَى غَيْركُمْ ﴿أولئك الذين يدعون﴾ هم آلِهَة ﴿يَبْتَغُونَ﴾ يَطْلُبُونَ ﴿إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ﴾ الْقُرْبَة بِالطَّاعَةِ ﴿أَيُّهُمْ﴾ بَدَل مِنْ وَاو يَبْتَغُونَ أَيْ يَبْتَغِيهَا الَّذِي هُوَ ﴿أَقْرَبُ﴾ إِلَيْهِ فَكَيْفَ بِغَيْرِهِ ﴿وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ﴾ كَغَيْرِهِمْ فَكَيْفَ تَدْعُونَهُمْ آلهة ﴿إن عذاب ربك كان محذورا﴾ ﴿وإن﴾ ما ﴿من قرية﴾ اريد اهلها ﴿إلا نحن مهلكوها قبل يوم القيامة﴾ بِالْمَوْتِ ﴿أَوْ مُعَذِّبُوهَا عَذَابًا شَدِيدًا﴾ بِالْقَتْلِ وَغَيْره ﴿كَانَ ذَٰلِكَ فِي الْكِتَابِ﴾ اللَّوْح الْمَحْفُوظ ﴿مَسْطُورًا﴾ مكتوبا ﴿وَمَا مَنَعَنَا أَن نُّرْسِلَ بِالْآيَاتِ﴾ الَّتِي اقْتَرَحَهَا أَهْل مَكَّة ﴿إِلَّا أَن كَذَّبَ بِهَا الْأَوَّلُونَ﴾ لما ارسلناها فاهلكناهم ولو ارسلناها إلى هولاء لَكَذَّبُوا بِهَا وَاسْتَحَقُّوا الْإِهْلَاك وَقَدْ حَكَمْنَا بِإِمْهَالِهِمْ لِإِتْمَامِ أَمْر مُحَمَّد صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴿وَآتَيْنَا ثَمُودَ النَّاقَةَ﴾ آيَة ﴿مُبْصِرَةً﴾ بَيِّنَة وَاضِحَة ﴿فظلموا﴾ كفروا ﴿بها﴾ فاهلكوا ﴿وما نرسل بالآيات﴾ الْمُعْجِزَات ﴿إِلَّا تَخْوِيفًا﴾ لِلْعِبَادِ فَيُؤْمِنُوا ﴿و﴾ اذكر ﴿إِذْ قُلْنَا لَكَ إِنَّ رَبَّكَ أَحَاطَ بِالنَّاسِ﴾ عِلْمًا وَقُدْرَة فَهُمْ فِي قَبْضَته فَبَلِّغْهُمْ وَلَا تخف احدا فهو يعصمك منهم ﴿وما جعلنا الرؤيا التي أريناك﴾ عِيَانًا لَيْلَة الْإِسْرَاء ﴿إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ﴾ أَهْل مَكَّة إِذْ كَذَّبُوا بِهَا وَارْتَدَّ بَعْضهمْ لَمَّا أَخْبَرَهُمْ بِهَا ﴿وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فِي الْقُرْآنِ﴾ وَهِيَ الزَّقُّوم الَّتِي تَنْبُت فِي أَصْل الْجَحِيم جَعَلْنَاهَا فِتْنَة لَهُمْ إِذْ قَالُوا النَّار تُحْرِق الشَّجَر فَكَيْفَ تُنْبِتهُ ﴿وَنُخَوِّفُهُمْ﴾ بِهَا ﴿فَمَا يَزِيدُهُمْ﴾ تخويفنا ﴿إلا طغيانا كبيرا﴾

ترجمه: او ځما مومن بندګانو ته اووايه چې کافرانو ته ښه خبره کوئي، بې شکه شيطان ددوی په مينځ کښې فساد اچوی يقينا شيطان د انسان ښکاره دشمن دی، يعنی د هغه دشمنی ښکاره ده، او هغه کلمه چې ښه ده هغه داده چې ستاسو رب ستاسو په باره کښې ستاسو په نسبت ډير پيژنی، که هغه اوغواړی نو د توبې او د ايمان په ذريعې به په تاسو باندې رحم اوکړی يا که تاسو ته عذاب درکول اوغواړی، نو تاسو ته به په کفر باندې مرګ درکولو سره تاسو ته عذاب

Scanned with

درکړي، او مونږ تاسو ددوی ذمه دار لیږلې نه یئ، چې تاسو دوی په ایمان باندې مجبوره کړئ، او دا حکم د جهاد د حکم نازلیدو نه مخکښې وو، او هغه د اسمانونو او د زمکې د مخلوقاتو په باره کښې ډیر خبردار دې، او ددوی د احوالو مطابق چې څه اوغواړي دوی سره ئې خاص کوي، او یقینا مونږ بعضو نبییانو ته په بعضې باندې فضیلت ورکړې دې، په دوی کښې هر یو ته خاص فضیلت ورکولوسره مثلا موسی علیه السلام ته ئې دخپل خان سره د خبرو فضیلت، ابرهیم علیه السلام ته ئې د دوستئ مرتبه ورکولو سره، او محمد ﷺ ته ئې په دې دواړو باندې د معراج د سفر په ذریعه (فضیلت ورکولو سره) او دواد علیه السلام ته مونږ زبور ورکړې وو، تاسو ص) دوی ته اووایئ څوک چې تاسو د هغه نه علاوه معبود ګنړئ، مثلا ملائکه، عیسی او عزیر (علیهما السلام) هغوی ته اواز اوکړئ خو هغوی نه ستاسو نه څه تکلیف لرې کولې شی، او نه ئې بدل کولو سره به بل چا باندې وراچولې شی، او څوک چې دا خلق معبود ګنړلو سره رابلې په خپله د طاعت په ذریعې سره خپل رب ته د نزدې کیدو کوشش کوي، چې په دوی کښې به څوک وی چې هغه ته ډیر نزدې شی، نو د غیر اقرب به څه حال وی؟ (ایهم) د یتبعون د واؤ نه بدل دې، یعنی کوم چې هغه ته نزدې دی، هغه نور هم د نزدې کیدو کوشش کوي، او هغه د هغه د رحمت امیدوار او د نورو پشان د عذاب نه ویرېږي، نو بیا دا خلق هغوی د معبود په حیثیت سره ولې رابلی؟ حقیقت دادې چې ستا د رب عذاب هم د ویریدلو لائق دې، او یو کلې داسې نشته، مراد ترې نه کلی والا دی، چې مونږ هغه د مرګ په ذریعې سره د قیامت نه مخکښې هلاک نه کړو، یا د قتل وغیره په ذریعې سره هغه ته سخت عذاب ورنکړو، دا په لوح محفوظ کښې لیکلې شوې دی، مونږ نښې یعنی د اهل مکې فرمائشی نښې لیږلو نه دې خبرې منع کړې یو، چې کله مونږ دا فرمائشی معجزې لیږلې وی نو مخکښینو خلقو ددې تکذیب کړې وو، او که مونږ ددوی فرمائشی معجزې دوی ته لیږلې وې نو دوی به هم د هغې نه تکذیب کولو، چې د هغې د وجې به د هلاکت لائق شوی وو، او مونږ د محمد ﷺ مشن پورا کولو د پاره دوی ته د مهلت حکم ورکړې دې، او مونږ ثمودیانو ته د ښکاره معجزې په طور اوښه ورکړه نو هغوی په دې باندې ظلم اوکړو، یعنی ددې ناشکري ئې اوکړه نو هغوی هلاک کړې شول، او مونږ خو خلقو لره د ویرولو د پاره نښې معجزات رالیږو، چې مغری ایمان راوړي، او یاد کړه چې کله مونږ تا ته وئیلې وو چې بې شکه ستا رب د خلقو د علم او قدرت په اعتبار سره احاطه کړې ده، نو دا د هغه په قبضه کښې دی، تاسو دوی ته تبلیغ کوئ او د چا ویره مه کوئ، هغه به ستاسو ددوی نه حفاظت کوي، د شپې په سفر کښې چې څه مونږ تا ته په ښکاره اوښودل، هغه د اهل مکې والو د پاره صرف امتحان دې، څکه چې هغوی تکذیب کړې وو، او چې کله دوی ته د واقع خبر ورکړې شو نو بعضې ضعیف الایمان په دوی کښې مرتد شول، او هغه اوني لره هم په کومه

Scanned with

چې په قرآن کښې لعنت کړې شوې دې، او هغه د زقوم اونه ده، کومه چې د جهنم په لاندې طبقه کښې راښتلې ده، هغه هم مونږ ددوی د پاره امتحان جوړ کړو حالانکه دوی اوونیل چې اور خو اونه سوزوی نو بیا به دا څنګه دې کښې راخیژی، او مونږ دوی له ددې په ذریعې سره ویره وو، خو زمونږ دا ویرول دوی نور هم په سرکشۍ باندې راوچتوی.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: الكلمة التي هي احسن: التى اسم موصول، هى مبتدأ، احسن ددې خبر، مبتدأ سره د خبر نه جمله صله، موصول سره د صله نهه صفت دې د الكلمة محذوف د پاره، موصوف سره د صفت نه مقوله شوه:

قوله: يقولوا: مفسر علام الكلمة محذوف ګڼړلو سره د التى وجه تانيث ته اشاره کړې ده.

قوله: هي ربكم اعلم: الخ، د الكلمة هى أحسن تفسير دې، او په مينځ کښې جمله معترضه ده، لهذا مفسر او مفسر په مينځ کښې د فصل اعتراض ختم شو.

قوله: بما شاء اي بالنبوة وغيرها

قوله: واتينا داود زبورا: په دې کښې دې خبرې ته اشاره ده چې د حضرت داود عليه السلام فضيلت ددې وجې دې چې دوی ته په ذريعه د وحى زبور نازل شوې وو، نه چې دده د ملک او د مال د وجه نه.

قوله: اولئك الذين يدعون هم: په دې کښې دوه ترکيبه دى:

① اولئک اسم اشاره موصوف، الذين اسم موصول، يدعون فعل با فاعل، هم ضمير صله، مفعول محذوف آلهة، د هم نه تميز، يدعون د خپل فاعل او مفعول سره صله شوه، موصول سره د صلې نه جمله، صفت شو د اولئک د پاره، موصوف سره د صفت نه مبتدأ، يبتغون الى ربهم الوسيلة خبر شو د دې مبتدأ د پاره.

② دويم ترکيب: اولئک مبدل منه، او الذين يدعون بدل، بدل مبدل منه سره مبتدأ، او يبتغون جمله ددې خبر.

قوله: ايهم اقرب: مبتدأ خبر دې، او دا هم صحيح ده چې ايهم د يبتغون د ضمير نه بدل وى، اى يبتغى من هو اقرب اليه تعالى الوسيلة فكيف من دونه مفسر علام هم دا ترکيب اختيار کړې دې.

قوله: مبصرة: مبصرة، د آية، موصوف محذوف صفت دې، نه چې د الناقة، لهذا په موصوف صفت کښې د عدم مطابقت اعتراض ختم شو.

قوله: عيانا: په دې کښې اشاره ده، چې رويا په معنې د رويت بصرى دې.

قوله: الشجرة: ددې عطف په الرؤيا باندې دې، يعنى مونږ دواړه د امتحان وجه جوړه کړه.

Scanned with

قوله: الشجرة الملعونة: په دې كښې مجاز دې يعنى لعنت په شجر باندې نه دې، بلكه په اونه خوړلو والا باندې دې، ځكه چې په اونه باندې د لعنت وئيلو څه مطلب نشته.

[اياتونه: ٦١ - ٧٠]

{وَ} اُذْكُرْ {إِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ} سجود تحية بالانحناء {فسجدوا إلا إبليس قال أأسجد لمن خلقت طينًا} نُصِبَ بِنَزْعِ الْخَافِضِ أَيْ مِنْ طِين {قَالَ أَرَأَيْتَكَ} أَيْ أَخْبِرْنِي {هَذَا الَّذِي كَرَّمْتَ} فضلت {علي} بالأمر بالسجود له و {أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ} {لَئِنْ} لام قسم {أخرتن إلى يوم القيامة لَأَحْتَنِكَنَّ} لَأَسْتَأْصِلَنَّ. {ذُرِّيَّتَه} بِالْإِغْوَاءِ {إِلَّا قَلِيلًا} مِنْهُمْ ممن عصمه {قَالَ} تَعَالَى لَهُ {اذْهَبْ} مُنظَرًا إِلَى وَقْتِ النفخة الأولى {فمن تبعك منهم فإن جهنم جَزَاؤُكُمْ} أَنْتَ وَهُمْ {جَزَاءً مَوْفُورًا} وَافِرًا كَامِلًا {واستفزز} استخف {من استطعت منهم بِصَوْتِكَ} بِدُعَائِكَ بِالْغِنَاءِ وَالْمَزَامِيرِ وَكُلِّ دَاعٍ إِلَى الْمَعْصِيَةِ {وَأَجْلِبْ} صِحْ {عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ} وَهُمُ الرُّكَّابُ وَالْمُشَاةُ فِي الْمَعَاصِي {وَشَارِكْهُمْ فِي الْأَمْوَالِ} الْمُحَرَّمَةِ كَالرِّبَا وَالْغَصْبِ {وَالْأَوْلَادِ} مِنَ الزِّنَى {وَعِدْهُمْ} بِأَنْ لَا بَعْثَ وَلَا جَزَاءَ {وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ} بِذَلِكَ {إِلَّا غُرُورًا} بَاطِلًا {إن عبادي} المؤمنين {ليس لك عليهم سُلْطَانٌ} تَسَلُّطٌ وَقُوَّةٌ {وَكَفَى بِرَبِّكَ وَكِيلًا} حَافِظًا لهم منك {ربكم الذي يزجي} يجري {لكم الفلك} السفن {في البحر لِتَبْتَغُوا} تَطْلُبُوا {مِنْ فَضْلِهِ} تَعَالَى بِالتِّجَارَةِ {إنه كان بكم رحيمًا} في تسخيرها لكم {وإذا مسكم الضُّرُّ} الشِّدَّةُ {فِي الْبَحْرِ} خَوْفَ الْغَرَقِ {ضَلَّ} غَابَ عَنْكُمْ {مَنْ تَدْعُونَ} تَعْبُدُونَ مِنَ الْآلِهَةِ فَلَا تَدْعُونَهُ {إِلَّا إِيَّاهُ} تَعَالَى فَإِنَّكُمْ تَدْعُونَهُ وحده لأنكم في شدة لا يكشفها إِلَّا هُوَ {فَلَمَّا نَجَّاكُمْ} مِنَ الْغَرَقِ وَأَوْصَلَكُمْ {إلى البر أَعْرَضْتُمْ} عَنِ التَّوْحِيدِ {وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا} جَحُودًا للنعم {أفأمنتم أن يخسف بكم جَانِبَ الْبَرِّ} أَيِ الْأَرْضِ كَقَارُونَ {أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا} أَيْ يَرْمِيكُمْ بِالْحَصْبَاءِ كَقَوْمِ لُوطٍ {ثم لا تجدوا لكم وكيلا} حافظا منه {أم أمنتم أن يعيدكم فيه} أي البحر {تارة} مرة {أخرى فيرسل عليكم قَاصِفًا مِنَ الرِّيحِ} أَيْ رِيحًا شَدِيدَةً لَا تَمُرُّ بِشَيْءٍ إِلَّا قَصَفَتْهُ فَتَكْسِرُ فُلْكَكُمْ {فَيُغْرِقَكُمْ بما كفرتم} بكفركم {ثم لا تجدوا لكم علينا به تَبِيعًا} نَاصِرًا وَتَابِعًا يُطَالِبُنَا بِمَا فَعَلْنَا بِكُمْ {وَلَقَدْ كَرَّمْنَا} فَضَّلْنَا {بَنِي آدَمَ} بِالْعِلْمِ وَالنُّطْقِ وَاعْتِدَالِ الْخَلْقِ وَغَيْرِ ذَلِكَ وَمِنْهُ طَهَارَتُهُمْ بَعْدَ الْمَوْتِ {وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ} عَلَى الدَّوَابِّ {وَالْبَحْرِ} على السفن {ورزقناهم من الطيبات وفضلناهم على كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا} كَالْبَهَائِمِ وَالْوُحُوشِ {تَفْضِيلًا} فَمَنْ بِمَعْنَى مَا أَوْ عَلَى بَابِهَا وَتَشْمَلُ الْمَلَائِكَةَ وَالْمُرَادُ تَفْضِيلُ الْجِنْسِ وَلَا يَلْزَمُ تَفْضِيلُ أَفْرَادِهِ إِذْ هُمْ أَفْضَلُ مِنَ الْبَشَرِ غَيْرِ الْأَنْبِيَاءِ

ترجمه: هغه وخت ياد كړه، چې مونږ فرښتو ته حكم اوكړو چې د آدم په مخكښې سجده اوكړئ، د تعظيم په طور سره نو ټولو سجده اوكړه سوا د ابليس نه، هغه اووئيل چې آيا چه هغه چاته تيټ شم څوك چې تا د خاورې نه پيدا كړې دې، طينا د حذف جار د وجه نه منصوب دې، اى من طين، (ابليس) اووئيل اوګوره آيا دې ددې قابل وو چې تا ماله د سجدې كولو حكم راكړو او

په ما باندې دې ورله فضيلت ورکړو، حالانکه څۀ دده بهتر يم ځکه چې تا څه د اور نه پيدا کړم، ځما دې قسم وي، لام قسميه دې، که تا ماته د قيامت پورې مهلت راکړو، نو ځه به هم په اغوا کولو سره ددوى جرړې اوباسم، او په دوى کښې به ډير لږ خلق بچ شي، کوم چې ته بچ کول اوغوارې، الله تعالى ده ته اوفرمائيل خا زه تاته د اولنې شپيلۍ پورې مهلت دې څوک چې ددوى نه ستا تابعدارى وکړي، نو ستاسو ټولو ځاى جهنم دې، لهذا ته چې څوک څوک په دوى کښې په ګانو بجانو او د هر ګناه د دعوت په ذريعې سره دوى وخويوه او ته خپل سواره او پيادل په دوى باندې واچوه، يعنى هر يو حربه استعمال کړه، د خيل نه مراد په اس باندې سور، او د مشاة نه مراد پياده دې. او په حرام مال کښې مثلا سود، د غصب مال، او د زنا په اولاد کښې خپله حصه واچوه او هغوى سره وعده اوکړه، چې نه د مرګ نه پس ژوندى کيدل دى او نه څه حساب شته، او شيطان چې دوى سره کومې وعدې کوى، هغه د دهوکې نه سوا بل هيڅ نه دى، ځما مومن مخلص بندګانو باندې به ستا قابو او زور نه چليږي، او ستا رب ددوى حفاظت د پاره ستا د طرف نه کافى دې، ستاسو رب خو هغه دې کوم چې په درياب کښې ستاسو کشتۍ چلوى، چې تاسو د تجارت په ذريعې سره د هغه فضل روزى تلاش کړئ، حقيقت دا دې چې هغه د کشتو ستاسو د پاره تابع کولو سره په تاسو باندې مهربان دې، او چې کله په سمندر کښې په تاسو باندې د غرقيدو د ويرې نه مصيبت راشي، نو هغه وخت تاسو هغه معبودان غائب شي د کوم کوم چې معبودانو چې تاسو بندګى کوله، يعنى په هغه وخت کښې تاسو هم هغه يو وحده لاشريک لره رابلئ ځکه چې تاسو په داسې مصيبت کښې يئ چې صرف هم هغه ئې لرې کولې شي، بيا چې کله تاسو لره د ډوبيدلو نه بچ کړي، او تاسو اوچکئې ته راورسئ نو تاسو د توحيد نه مخ واړوئې او انسان دې د نعمتونو ناشکره، او ايا تاسو دې خبرې نه داسې بې ويرې شوئې، چې تاسو به د قارون په شان په زمکه کښې خښ کړې يا په تاسو بندې تيره کاڼړو والا هوا اوچلوى يعنى د قوم لوط پشان د کاڼړو باران درباندې وکړي بيا تاسو د هغې نه د بچ کيدو څوک حمايتى ونه مومئ آيا تاسو د دې خبرې نه بې فکره شوئ چې هغه بيا تاسو لره سيند ته بوځي او په تاسو باندې طوفانى هوا اوچلوى، يعنى داسې هوا چې په چا باندې ورشى نو هغه ټکړې ټکړې کړي او ستاسو کشتيانو لره هم ماتې کړې، بيا تاسو لره ستاسو دکفر د وجه نه غرق کړي بيا ستاسو په دې خبره باندې څوک مدد کولو والا هم نه وي، يعنى څه داسې مددګار يا حمايتى چې کوم کار مونږ تاسو سره اوکړو د هغې په سلسله کښې زمونږ نه تپوس اوکړي او مونږ اولاد د آدم ته په علم او د خبرو په ذريعې سره او د اعتدال خلقت وغيره په ذريعې سره عزت ورکړو او هم په هغې کښې ستاسو د مرګ نه پس پاکول هم دى، او مونږ دوى لره په اوچه کښې په څناورو باندې سواره کړل او په درياب کښې مو په کشتو سواره کړل، او دوى ته مو پاک څيزونه ورکړل او مونږ

Scanned with

دوی ته په خپل ډیر مخلوق کښې فضیلت ورکړو لکه چې ساتلو والا او وحشي څناور، ما په معنی د من دې، یا په خپل حال باندې دې، او دا فوقیت په فرشتو باندې هم شامل دې او مراد فضیلت جنس علی الجنس دی،او څکه د افرادو فضیلت لازم نه دې، څکه ملائک د انبیاؤ نه علاوه د هر انسان نه افضل دی،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: اخبرني: ارایتک: کاف حرف خطاب دې، نه چې اسم، بلکه د مخاطب فاعل د اسناد د تاکید د پاره دې، لهذاددې څه محل اعراب نشته، او هذا د اریتک مفعول اول دې، او الذی کرمت د هذا صفت ذې، او د ارایتک مفعول ثانی محذوف دې، او هغه لِمَ کرمت علیّ دې، په دې حذف باندې صفت دلالت کوی.

قوله: فضلت: دا د یو سوال جواب دې

سوال: کرمت تفسیر ئې فضلت سره ولې اوکړو؟

جواب: څکه چې د تکریم صله (علی) نه واقع کیږی

قوله: منظرا: ای ممهلا، اذهب د دهاب نه نه دې کوم چې د المجئ ضد دې، بلکه ددې معنی ده امض لشأنك الذی اخترته، یعنی تا چې کومه اراده کړې ده هغه پوره کړه.

قوله: أنت وهم: دا اضافه ددې سوال جواب دې چې په منهم کښې هم د جمع غائب ضمیر دې، او په جزاوکم کښې کم جمع حاضر، په دواړو کښې مطابقت نشته؟

جواب: حاصل دادې چې په اصل کښې ان جهنم جزاوءك وجزاءهم، وو، بیا مخاطب ته په غائب باندې غلبه ورکړې شوه، لهذا په دواړ ضمیرونو کښې د مخالفت اعتراض ختم شو.

قوله: استفزز: (استفعال) امر واحد مذکر حاضر، ته اویروه.

قوله: لأحتنكن: (احتناک افتعال) څه به خامخا دبیخه راوباسم، څه به خامخا په قابو کښې راولم، څه به ورته خامخا پیزوان اچوم، صیغه واحد متکلم مضارع بانون تاکید ثقیله

قوله: لاستأصلن: څه به ئې د بیخ نه اوباسم، د جرړو نه به ئې اوباسم

قوله: اوصلکم:

سوال: د نجاکم تفسیر په اوصلکم سره ئې ولې اوکړو؟

جواب: چونکه د نجاکم صله الی نه رازی او دلته صله الی واقع شوې ده، کومه چې صحیح نه ده، نو د هغې وجه ئې اوښودله، چې نجاکم د اوصلکم معنې لره متضمن دې، چې د هغې صله الی رازی.

قوله: الحصباء ای الحصاة:

Scanned with

قوله: بكفركم: په دې كښې اشاره د ه چې په بما كفرتم كښې ما مصدريه ده، لهذا د عدم عائد اعتراض به نه رازى،

قوله: اعتدال الخلق: او هم د اعتدال هغه خبره ده كوم چې ابن عباس ﷺ ذكر كړې ده چې هر ځناور مخ ښكته كولو سره خوراک كوى خو انسان خوراک ته د مخ ښكته كولو په ځائې باندې خوراک خلې طرف ته اوچتوى.

قوله: المراد تفضيل الجنس: دا اضافه د يو سوال جواب دې

سوال: مونږ دا نه منو چې ټول انسانان د ټولو فرشتو نه افضل دى؟

جواب: د جنس انسان په جنس فرشتو باندې فضيلت حاصل دې يعنى خاص فرشتې د عامو انسانانو نه افضل دى نه چې د خاص انسانانو نه، مثلا د انبياؤ نه،

تنبيه: كه لفظ (على كثير) ته اوكتلې شى، نو دا اعتراض به پيدا نشى.

[اياتونه: ۷۱ ـ ۷۷]

اذكر {يوم ندعوا كل أناس بإمامهم} نبيهم فيقال يا أمة فلان أو بكتاب أعمالهم و يقال يا صاحب الخير و يا صاحب الشر وهو يوم القيامة {فمن أوتى} منهم {كتابه بيمينه} وهم السعداء أولو البصائر في الدنيا {فأولئك يقرؤون كتابهم ولا يظلمون} ينقصون من أعمالهم {فتيلا} قدر قشرة النواة {ومن كان في هذه} أي الدنيا {أعمى} عن الحق {فهو في الآخرة أعمى} عن طريق النجاة وقراءة الكتاب {وأضل سبيلا} أبعد طريقا عنه ونزل في ثقيف وقد سألوه صلى الله عليه وسلم أن يحرم واديهم والحوا عليه {وإن} مخففة {كادوا} قاربوا {ليفتنونك} ليستنزلونك {عن الذي أوحينا إليك لتفتري علينا غيره وإذا} لو فعلت ذلك {لا تخذوك خليلا} {ولولا أن ثبتناك} على الحق بالعصمة {لقد كدت} قاربت {تركن} تميل {إليهم شيئا} ركونا {قليلا} لشدة احتيالهم وإلحاحهم وهو صريح في أنه صلى الله عليه وسلم لم يركن ولا قارب {إذا} لو ركنت {لأذقناك ضعف} عذاب {الحياة وضعف} عذاب {الممات} أي مثلي ما يعذب غيرك في الدنيا والآخرة {ثم لا تجد لك علينا نصيرا} مانعا منه ونزل لما قال له اليهود إن كنت نبيا فالحق بالشام فإنها أرض الأنبياء {وإن} مخففة {كادوا ليستفزونك من الأرض} أرض المدينة {ليخرجوك منها وإذا} لو أخرجوك {لا يلبثون خلافك} فيها {إلا قليلا} ثم يهلكون {سنة من قد أرسلنا قبلك من رسلنا} أي كسنتنا فيهم من إهلاك من أخرجهم {ولا تجد لسنتنا تحويلا} تبديلا

ترجمه: هغه ورځ ياد ساتل پكار دى چې په كومه ورځ به مونږ هر ډله (امت) د هغوى نبى سره راوغواړو، داسې به اووئيلې شى اې د فلانكى نبى امته يا به دوى د اعمالنامو سره رابللې شى داسې اواز به اوكړې شى اې د خير صاحبه او اې د شر صاحبه، هغه به د قيامت ورځ وى، نو په دوى كښې چې چا ته په ښى لاس كښې اعمالنامه وركړې شى نو دا خلق

په خوش نصیب او په دنیا کښې به د بصیرت خاوندان وو، نو دوی به خپلې اعمالنامې په خوشحالۍ خوشحالۍ لولی، او ددوی په اعمالنامو کښې به د هډوکی د پوستکی برابر هم کمې نه کیږی، او څوک چې په دې دنیا کښې د حق لیدلو نه ړوند شی نو په آخرت کښې به هم د نجات لار او د اعمالنامې د لوستلو ړوند وی او دیره روکه شوې لاره باندې به وی. یعنی د نیغې لارې نه به ډیر لرې وی، او دا راروان آیت د بنوثقیف په باره کښې نازل شوې، چې کله هغوی د نبی ﷺ نه مطالبه اوکړه، چې د دوی وادی طائف حرم جوړ کړه، او په دې خبره باندې ئې زور راوړو، او بې شکه نیزدې وه چې دا خلق تا د هغه وحی نه کوم چې مونږ تاته نازلوو، لرې کړی، اخوا کړی چې تاسو زمونږ طرف ته د خپل جوړ شوو نسبت اوکړئ، که چرې تاسو ددوی د وئیلو مطابق کړې وو نو دې خلقو به تاسو لره خپل دوست جوړ کړې وو، او که د حفاظت په ذریعه مونږ تاسو لره په حق باندې قائم نه ساتلو نو نزدې وه چې تاسو ددوی د ډیرې بهانو او د اصرار کولو د وجه دوی طرف ته څه نه څه مائل شوې وئې، دا په دې خبره کښې صریح دې چې نه نبی علیه السلام مائل شوې وو او نه مائل کیدو ته نزدې شوې وو. او که مائله شوې وې نو مونږ به تاسو باندې خامخا څکولې وو، دوچنده عذاب په دنیا کښې او دوچنده عذاب په آخرت کښې، د هغې دوچند کوم چې نورو ته په دنیا او آخرت کښې ورکولې شی، بیا به تاسو زمونږ د طرف نه څه مددګار نه موندلو، یعنی ددې عذاب نه د بچ کولو والا، او راروان آیت هغه وخت نازل شو چې کله یهودیانو حضور ﷺ ته اووئیل چې که ته نبی ئې نو شام ته لاړ شه ځکه چې هغه د پیغمبرانو زمکه ده، او بې شکه دا خبره نزدې وه چې دوی ستا قدمونه د مدینې د زمکې نه اوباسی، چې تاسو لره د مدینې نه اوخویوی، که دې خلقو تاسو لره اوباسلئ نو دوی به خپله ستاسو نه پس په مدینه کښې پاتې نه شی، خو ډیر لږ. بیا به دوی هلاک کړې شوې وو، دغه شان دستور د هغه رسولانو وو کوم چې مونږ ستا نه مخکښې لیږلې وو، یعنی د هغه خلقو د هلاکولو زمونږ د دستور مطابق، چا چې پیغمبرانو لره ویستلې وو، او تاسو به زمونږ په دستور کښې تبدیلی نه مومئ.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: اناس: خلق، د نوس نه ماخوذ دې، چې د هغې معنی حرکت کول دی، دا د انسان جمع بغیر لفظه ده، په مصباح کښې دی چې انسان د ناس نه ماخوذ دې، او دا اسم جنس دې، ددې اطلاق په مذکر مؤنث واحد او جمع ټولو باندې کیږی.

قوله: بأصاحب الشر: په دې کښې مضاف محذوف دې، ای صاحب کتاب الشر.

قوله: یقرءون ای یقرءون سرورا: په خوشحالۍ خوشحالۍ به لولی.

قوله: قدر قشرة النواة: مفسر علام د فتیلا تفسیر په قشرة النواة سره کړې دې، ښه به وه چې

الخيط الذي في نقرة النواة طولا، سره ئې کړې وو، ځکه چې دکهجورې په هډوکی کښې درې ځيزونه وی ①فتيل، ②قطمير ③نقير، فتيل هغه تار ته وائی، چې د هډوکی په شا باندې په اوږدوالی سره په يوه شق کښې وی، او د هډوکی د پاسه د جالئ په شان يو غلاف وی هغې ته قطمير وائی، او د هډوکی شاته يو سورې وی په هغې کښې چې کومه ريشه يا تار وی هغې ته نقير وائی.

قوله: ابعد طريقاً عنه اي ابعد طريقاً عن الاعمى في الدنيا: يعنی روند چې څنګه د لارې کتلو نه لرې وی، کافر به په آخرت کښې د خلاصيدولو والې لارې نه ډير لرې وی.

قوله: ركوناً: په دې کښې اشاره ده چې شيئا مفعول مطلق د وجه نه منصوب دې، نه چې د مفعول د وجې، ځکه چې ترکن لازم دې نه چې متعدی، د لته د شيئا موصوف رکونا محذوف دې،

قوله: يستفزونك: اى ليزعجونك (استفزاز استفعال) مضارع جمع مذکر غائب، (ک) ضمير مفعول، ستاسو قدمونه اوخويوی.

[اياتونه: ۷۸ ـ ۸۴]

{أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ} أَيْ مِنْ وَقْت زَوَالهَا {إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ} إِقْبَال ظُلْمَته أَيْ الظُّهْر وَالْعَصْر وَالْمَغْرِب وَالْعِشَاء {وَقُرْآنَ الْفَجْرِ} صَلَاة الصُّبْح {إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا} تَشْهَدهُ مَلَائِكَة اللَّيْل وَمَلَائِكَة النَّهَار {وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ} فَصَلِّ {بِهِ} بِالْقُرْآنِ {نَافِلَةً لَكَ} فَرِيضَة زَائِدَة لَك دُون أُمَّتك أَوْ فَضِيلَة عَلَى الصَّلَوَات الْمَفْرُوضَة {عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ} يُقِيمك {رَبُّكَ} فِي الْآخِرَة {مَقَامًا مَحْمُودًا} يَحْمَدك فِيهِ الْأَوَّلُونَ وَالْآخِرُونَ وَهُوَ مَقَام الشَّفَاعَة فِي فَصْل الْقَضَاء ونزل لما أمر بالهجرة {وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي} الْمَدِينَة {مُدْخَلَ صِدْقٍ} إِدْخَالًا مَرْضِيًّا لَا أَرَى فِيهِ مَا أَكْرَه {وَأَخْرِجْنِي} مِنْ مَكَّة {مُخْرَجَ صِدْقٍ} إِخْرَاجًا لَا أَلْتَفِت بِقَلْبِي إِلَيْهَا {وَاجْعَلْ لِي مِنْ لَدُنْكَ سُلْطَانًا نَصِيرًا} قُوَّة تَنْصُرنِي بِهَا عَلَى أَعْدَائِك {وَقُلْ} عِنْد دُخُولك مَكَّة {جَاءَ الْحَقُّ} الْإِسْلَام {وَزَهَقَ الْبَاطِلُ} بَطَلَ الْكُفْر {إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا} مُضْمَحِلًّا زَائِلًا وَقَدْ دَخَلَهَا صَلَّى اللَّه عليه وسلم وحول البيت ثلاثمائة وَسِتُّونَ صَنَمًا فَجَعَلَ يَطْعَنهَا بِعُودٍ فِي يَده وَيَقُول ذَلِكَ حَتَّى سَقَطَتْ رَوَاهُ الشَّيْخَانِ {وَنُنَزِّلُ مِنَ} للبيان {الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ} مِنَ الضَّلَالَة {وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ} بِهِ {وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ} الْكَافِرِينَ {إِلَّا خَسَارًا} لِكُفْرِهِمْ بِهِ {وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ} الْكَافِر {أَعْرَضَ} عَنْ الشُّكْر {وَنَأَى بِجَانِبِهِ} ثَنَى عِطْفه مُتَبَخْتِرًا {وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ} الْفَقْر وَالشِّدَّة {كَانَ يَئُوسًا} قَنُوطًا مِنْ رَحْمَة اللَّه {قُلْ كُلٌّ} مِنَّا وَمِنْكُمْ {يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ} طَرِيقَته {فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَى سَبِيلًا} طَرِيقًا فَيُثِيبهُ

ترجمه: نور غورزيد و نه پس د شپې تياره خوريدو پورې د شپې د تيارې راتلو پورې مونځ قائم کړه، يعنی ظهر عصر مغرب او عشاء او د فجر قرآن يعنی د سحرې مونځ قائم کړه يقينا د

Scanned with

فجر مونځ وخت د حاضرئی وخت دې چې په هغې کښې فرښتې د شپې او ورځې حاضیرېږي، او د شپې په څه حصه کښې مونځ ادا کړه د تهجد مونځ قرآن سره ادا کړه، دا ستاسو د پاره اضافی فریضه ده، ستا امت د پاره نه، یا زائد دې په فرضو مونځونو باندې (یعنی نفل دې) امید دې چې ستا پروردګار تا لره په آخرت کښې په مقام محمود باندې فائز کړي، چې هلته به اولین او آخرین ستا تعریف کوي او هغه د شفاعت ځائې دې، د مقدماتو فیصله کولو کښې، او دا راروان آیت هغه وخت نازل شو چې کله هغوی ﷺ ته د هجرت حکم اوشو او دعا اوکړه چې اې پروردګار ما مدینې ته په رشتونی سره داخل کړه، یعنی په خوښه سره داخل کړه چې په هغې کښې څه ناخوښه اونه وینم، او د مکې نه ما په رشتیا اوباسه یعنی داسې اوباسه چې په زړې کښې دې طرف ته متوجه نه یم، او ماته په خپل فضل سره داسې غلبه راکړه چې هغې سره ستا مدد وي، یعنی داسې قوت چې د هغې په ذریعې سره ته مالره په دشمنانو باندې غلبه راکړې، او مکې ته د داخلیدو په وخت کښې اووایه چې حق یعنی اسلام راغې او باطل یعنی کفر لاړو، یقینا باطل ختمیدونکې رژیدونکې دې او چې کله نبی علیه السلام مکې ته داخل شو نو د بیت الله شریف په څلورو واړو طرفونو کښې درې سوه او شپیته بتان پراته وو، او تا (نبی علیه السلام) په هغه لښتې سره کومه چې د هغوی په لاس کښې وه اشاره ئې کوله او جاء الحق الخ ئې لوستلو، تردې چې هغه غورزیدل، (رواه الشیخان) او دا قرآن چې مونږ نازلوو د ګمراهئ نه شفا ده، او په دې باندې یقین ساتلو والا د پاره رحمت دې او د ظالمانو کافرانو د پاره ددوی د کفر د وجې نه په نقصان کښې اضافه کیږي، او چې کله مونږ په یو کافر انسان باندې انعام وکړو نو د هغه د شکر نه اعراض کوي او شا کوي، یعنی په تکبر سره ددې بدله کړي او چې کله هغه لره د غریبئ تکلیف لاحق شي نو د الله د رحمت نه مایوسه شي، تاسو ورته اووایئ چې په مونږ او تاسو کښې هر سړې په خپله طریقه باندې عمل کوي، کوم خلق چې پورا هدایت باندې وي هغوی لره ستا رب ډیر ښه پیژني، نو هغه به ده ته اجر ورکوي.

د قیوداتو فوائد او تسهیل

قوله: من وقت زوالها: په دې کښې اشاره ده چې په لدلوک الشمس کښې (لام) په معنی د (من) دې، ځکه چې د وخت د پاره د مونځ کولو هیڅ مطلب نشته، صلوة فجر ته قرآن اووئیلې شو ځکه چې قرآن (قراءة) د صلوة رکن دې، څنګه چې سجدې وئیلو سره مونځ مراد وي او رکوع وئیلو سره مونځ مراد وي، دغه شان قرآن وئیلو سره صلوة مراد وي، او د القرآن عطف په الصلوة باندې دې، ای اقم الصلوة واقم القرآن.

قوله: من اللیل ای بعض اللیل:

قوله: دلوك: د نور غورزیدل، د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې، چې د دلوک معنی

غروب ده، عبدالله بن عباس ابن عمر او جابر(رضى الله عنهم) د زوال الشمس معنی ښودلې ده، د زوال شمس معنی د اکثرو حضراتو نه منقول ده، او هم دا معنی مراد اخستل زیات بهتر ده، خو چې کله د دلوک معنی د زوال واخستې شی نو آیت ټولو پنځو مونځونو ته به شامل شی، دلوک الشمس ظهر او عصر ته شامل دې، او الى غسق الليل مغرب او عشاء ته شامل دې، او قرآن الفجر د سحر مونځ ته شامل دې.

قوله: غسق الليل: الغسق ظلمت، او وئیلې شوې دی د شپې د اولې حصې داخلیدل.

قوله: فتهجد، الهجود، ترك النوم للصلوة

قوله: نافلة: په معنی د زیاتی سره.

[ایاتونه: ۸۵ - ۹۳]

{وَيَسْأَلُونَك} أَيْ الْيَهُود {عَنْ الرُّوحِ} الَّذِي يَحْيَا بِهِ الْبَدَن {قُلْ} لَهُمْ {الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي} أَيْ عِلْمه لَا تَعْلَمُونَهُ {وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا} بِالنِّسْبَةِ إِلَى عِلْمه تعالى {ولئن} لام قسم {شئنا لنذهبن بالذي أَوْحَيْنَا إِلَيْك} أَيْ الْقرآن بِأَنْ نَمْحُوهُ مِنْ الصدور والمصاحف {ثم لا تجد لك به علينا وكيلا} {إِلَّا} لكِنْ أَبْقَيْنَاهُ {رَحْمَةً مِنْ رَبِّك إِنَّ فَضْله كَانَ عَلَيْك كَبِيرًا} عَظِيمًا حَيْثُ أَنْزَلَهُ عَلَيْك وَأَعْطَاك الْمَقَام الْمَحْمُود وَغَيْر ذَلِكَ مِنْ الفضائل {قل لئن اجتمعت الإنس والجن على أن يأتوا بمثل هذا القرآن} في الفصاحة والبلاغة {لا يأتون بمثله ولو كان بعضهم لبعض ظَهِيرًا} مُعِينًا نَزَلَ رَدًّا لِقَوْلِهِمْ وَلَوْ نَشَاء لقلنا مثل هذا {ولقد صرفنا} بينا {لِلنَّاسِ فِي هَذَا الْقرآن مِنْ كُلّ مَثَل} صِفَة لِمَحْذُوفِ أَيْ مَثَلًا مِنْ جِنْس كُلّ مَثَل لِيَتَّعِظُوا {فَأَبَى أَكْثَر النَّاس} أَيْ أَهْل مَكَّة {إِلَّا كُفُورًا} جُحُودًا للحق {وقالوا} عطف على أبي {لن نؤمن لك حتى تفجر لنا من الأرض ينبوعا} عينا ينبع منها الماء {أو تكون لك جنة} بستان {من نخيل وعنب فتفجر الأنهار خلالها} وسطها {تفجيرا} {أو تسقط السماء كما زعمت علينا كسفا} قطعا {أو تأتي بالله والملائكة قبيلا} مقابلة وعيانا فنراهم {أو يكون لك بيت من زُخْرُف} ذَهَب {أَوْ تَرْقَى} تَصْعَد {فِي السَّمَاء} بِسُلَّمٍ {وَلَنْ نُؤْمِن لِرُقِيِّك} لَوْ رَقِيت فِيهَا {حَتَّى تُنَزِّل عَلَيْنَا} مِنْهَا {كِتَابًا} فِيهِ تَصْدِيقك {نقرؤه قُلْ} لَهُمْ {سُبْحَان رَبِّي} تَعَجُّب {هَلْ} مَا {كُنْت إِلَّا بَشَرًا رَسُولًا} كَسَائِرِ الرُّسُل وَلَمْ يكونوا يأتون بآية إلا بإذن الله

ترجمه: یهودیان ستا نه د روح باره کښې چې د هغې د وجه نه د انسان بدن ژوندې کیږی سوال کوی تاسو دوی ته جواب ورکړه چې روح ځما د رب حکم دې، چې د هغې د حقیقت هغه ته پته ده تاسو ته نشته، او د هغه د علم په نسبت تاسو ته ډیر کم درکړې شوې دې او که مونږ اوغواړو نو مونږ چې کومه وحی تاته رالیږلې ده یعنی قرآن واخلو په داسې طریقه چې هغه د سینو او د صحیفو نه اوباسو بیا به تا نه ددې د پاره زمونږ په مقابله کښې څوک مددګار نه میلاویږی، خو دا ستاد رب د طرف نه د رحمت په توګه باقی ساتلې دې یقینا په تا باندې د هغه لوې فضل دې، ځکه چې دا هغه په تا باندې نازل کړو، او تاسو ته ئې مقام محمود درکړو او ددې نه علاوه

Scanned with

نور فضائل ئې هم درکړل، ته ورته اووایه که جنات او انسانان په دې باندې متفق شي چې په فصاحت او بلاغت کښې ددې مثال راوړي نو هغوی به ددې مثال راونړی شي، اگر چې دوی په خپل مینځ کښې د یو بل مددگار شي، دا آیت ددې قول په جواب کښې نازل شو چې که چرې مونږ اوغواړو نو مونږ هم داسې کتاب راوړې شو، مونږ خو په دې قرآن کښې د خلقو د پوهې د پاره هر قسم مثالونه بیان کړې دی، (من کل مثل) د مثلا محذوف صفت دې، ای مثلا من جنس کل مثل، چې ددې نه نصیحت حاصل کړی، (هر قسم عمده مضمونونه مو بیان کړې دی) خو د اهل مکې نه اکثر خلق د انکار نه نه منع کیږی، هغوی اووئیل چې مونږ په تا باندې هیڅ کله ایمان راوړونکی نه یو، تر دې چې ته زمونږ د پاره د زمکې نه یو چینه جاری نه کړې، داسې چینه چې د هغې نه اوبه راوزی، خپله ستا د انگورو او کهجورو یو باغ وی، او ددې په مینځ کښې ته نهرونه جاری کړې، یا اسمان ټکړې ټکړې کولو سره په مونږ باندې راوغورزوې، ځکه چې ستا دعوی ده، یا الله تعالی او فرشتو له زمونږ مخې ته راولې، که ته اسمان ته هم اوخیژې نو مونږ ستا د ښتلو یقین نه کوو، تر دې چې یو خط راونړې، چې په هغې کښې ستا د ښتلو تصدیق وی چې هغه مونږ اولولو، اې محمد ﷺ ته دوی ته اووایه چې پاک دې ځما پروردگار دا د حیرانتیا اظهار دې، ځه خو صرف د نورو رسولانو په شان پیغام راوړونکې یو انسان یم، او هغوی هم یو معجزه د الله د اجازت نه بغیر نه ده راوړی،

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: عن الروح: ای عن حقیقة الروح

قوله: علمه: یعنی الروح من الامور التی خص الله نفسه بعلمه، فالامر بمعنی الشان، ای الروح من شان ربی.

قوله: بالنسبة الی علمه تعالی: دا د دې شبه جواب دې چې الله تعالی اوفرمائیل ومن یؤت الحکمة فقد اوتی خیرا کثیرا، او دلته ئې اوفرمائیل ما اوتیتم من العلم الا قلیلا: په دواړو کښې تعارض دې؟

جواب: د جواب حاصل دادې چې د ټول کائنات علم د الله د علم په مقابله کښې لږ دې.

قوله: لام قسم: دا د قسم په حذف باندې دلالت کوی، لنذهبن جواب قسم دې، کوم چې د جواب شرط قائم مقام هم دې، او بعضې حضراتو ذهبنا به جواب شرط گرځولې دې.

قوله: لکن ابقیناه: د الا تفسیر په لکن سره کولو کښې ئې اشاره اوکړه چې دا مستثنی منقطع ده نه چې متصل، ځکه چې د الا ماقبل د رحمت د جنس نه نه دې.

قوله: ابقیناه: ابقیناه ئې محذوف اومنلو چې کلام تام شی، ځکه چې ددې نه بغیر کلام ناتمام دې.

قوله: صفة لمحذوف: دا ددې سوال جواب دې، چې بينا متعدى بنفسه دې، دې لره د (من) په ذريعې سره د متعدى كولو ضرورت نشته؟
جواب دادې چې ددې مفعول محذوف دې او هغه مثلا دې، او (من كل شئى) د (كائنا) متعلق كيدو سره د مفعول محذوف صفت دې.

قوله: الاكفورا:

سوال: چې كله ضربت الا زيدا جائز نه دې، نو بيا ابى أكثر الناس الاكفورا ولې صحيح دې؟ دا خو په مثبت كښې مستثنى مفرغ واقع ده او دا جائز نه ده؟

جواب: ابى د نفى فائده وركوى گويا چې وئيلې شوى دى فلم يرضوا الاكفورا: (فارسى) پس قبول نه كرد بيشتر مردما مرگ رناسپاسى را.

قوله: عطف على قالوا: يعنى په مستثنى باندې عطف نه دې، چې د هغې د وجې نه د معنې فساد لازم شى.

[اياتونه: ۹٤ ـ ۱۰۰]

{وما منع الناس أن يؤمنوا إذ جاءهم الهدى إلا أن قالوا} أيْ قَوْلهمْ مُنْكِرِينَ {أبعث الله بشرا رسولا} وَلَمْ يَبْعَث مَلَكًا {قل} لهم {لوكان في الأرض} بدل البشر {ملائكة يمشون مطمئنين لنزلنا عليهم من السماء ملكا رسولا} إذْ لَا يُرْسَل إلَى قَوْم رَسُول إلَّا مِنْ جنسهم ليمكنهم مخاطبته والفهم عنه {قل كفى بالله شهيدا بيني وبينكم} عَلَى صِدْقِي {إنه كان بعباده خبيرا بصيرا} عَالِمًا بِبَوَاطِنِهِمْ وظواهرهم {ومن يهد الله فهو المهتد ومن يضلل فلن تجد لهم أولياء} يهدونهم {من دونه ونحشرهم يوم القيامة} ماشين {على وجوههم عميا وبكما وصما مأواهم جهنم كلما خبت} سَكَنَ لَهَبهَا {زدناهم سعيرا} تلهبا واشتعالا {ذلك جزاؤهم بأنهم كفروا بآياتنا وقالوا} منكرين للبعث {ءإذا كنا عظاما ورفاتا أئنا لمبعوثون خلقا جديدا} {أولم يروا} يَعْلَمُوا {أن الله الذي خلق السماوات والأرض} مَعَ عِظَمهمَا {قادر على أن يخلق مثلهم} أيْ الْأَنَاسِيّ فِي الصِّغَر {وجعل لهم أجلا} للموت والبعث {لا ريب فيه فأبى الظالمون إلا كفورا} جُحُودًا لَهُ {قل} لَهُمْ {لو أنتم تملكون خزائن رحمة ربي} مِنْ الرِّزْق وَالْمَطَر {إذا لأمسكتم} لَبَخِلْتُمْ {خشية الإنفاق} خوف نفادها بالإنفاق فتقتروا {وكان الإنسان قتورا} بخيلا

ترجمه: خلقو لره د هدايت د رارسيدو نه پس د ايمان نه منع كونكى د منكرينو دوى ته صرف دا وينا وه چې آيا الله انسان رسول راوليږلو او فرشته ئې راونه ليږله، تاسو ورته اووايئ چې كه په زمكې باندې فرشتې گرځيدې راگرځيدې او اوسيدې نو مونږ به هم دوى ته اسمانى فرشته د رسول په شكل كښې راليږلې وه، ځكه چې قوم ته د هغوى د جنس نه رسول ليږلې كيږى، چې د هغه خبرو او ښودنې باندې پوهيږى، تاسو ورته اووايئ چې ځما او ستاسو په مينځ كښې ځما په رشتوالى باندې د الله گواهى كافى ده، هغه د خپلو بندگانو د حالاتو نه ښه خبردار دې، او دير

Scanned with

خه ليدونكې دې، يعنى د هغوى دپټو او ښكاره حالاتو نه خبردار دې، او الله چې د چا رهنمائى اوكړى، هغه هدايت موندونكې دې، او څوك چې د نيغې لارې نه واړوى نو ناممكن ده چې ته د هغه مددگار اومومې، چې د هغه رهنمائى اوكړى، داسې خلقو لره به مونږ د قيامت په ورځ پر مخې رابنكلو سره جمع كړو، په داسې حال چې دوى به ړانده وى او كاڼړه به وى، ددوى ځائې به جهنم وى، او چې كله هغه مړ كيږى نو مونږ به هغه نور هم تيزوؤ، هغې باندې به نورې هم شعلې لگى، اور په لمبه به وى دا ددوى ددې خبرې سزا ده چې هغوى زمونږ د آيتونو انكار اوكړو، او منكرينو اووئيل چې كله مونږ هډوكى شو، او ريزه ريزه شو نو آيا مونږ په د نوى سر نه ژوندى كيږو، آيا دوى په دې خبره كښې غور نه دې كړې، چې بې شكه هغه الله چا چې زمكه او اسمانو لره د دوى د عظمت باوجود پيدا كړل، هغه په دې باندې قادر دې چې ددوى په شان واړه انسانان پيدا كړى، هم هغه ددوى د پاره د مرگ او د واپس ژوندى كيدو يو وخت مقرر كړې دې، چې په هغې كښې هيڅ شك نشته، خو ظالمان د انكار نه بغير نه پاتې كيږى، تاسو دوى ته اووايئ چې كه چرې تاسو ځما د رب د رحمت رزق او باران د خزانو مالكان وئى نو تاسو د خرچ كيدو په ويره كښې كنجوسى كوله، يعنى خرچ كولو سره د ختميدو د ويرې نه، چې تاسو به بيا محتاجه شئ، او انسان خو دې تنگ زړه.

د قيوداتو فوائد اوتسهيل

قوله: أي قولهم: په دې كښې اشاره ده چې أن مصدريه دې، يعنى دوى ته په قرآن او په تاسو باندې ايمان راوړلو كښې هيڅ شك نشته، سوا د منكرينِ بعث نه، كوم چې مومنانو ته وائى چې ايا الله ته د رسول ليږلو د پاره صرف انسان پاتې وو؟.

قوله: مطمئنين: اسم فاعل جمع مذكر منصوب، وطن جوړولو والا، قيام كولو والا.

قوله: لوأنتم:

سوال: لو شرطيه هميشه په فعل باندې داخليږى، خو دلته په اسم باندې داخل دې؟

جواب: د أنتم نه مخكښې فعل محذوف دې، او مابعد فعل ددې تفسير كوى، تقديرى عبارت داسې دې، لوتملكون انتم تملكون خزائن رحمة ربى أنتم په تملكون كښې د ضميرِ فاعل تاكيد دې، دا د ماأضمرعامله د قبيل نه دې.

[اياتونه: ۱۰۱ ـ ۱۱۱]

{وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ} وَهِيَ الْيَد وَالْعَصَا وَالطُّوفَان وَالْجَرَاد وَالْقُمَّل وَالضَّفَادِع وَالدَّم أَوْ الطَّمْس وَنَقْص الثَّمَرَات {فَاسْأَلْ} يَا مُحَمَّد {بَنِي إِسْرَائِيل} عَنْهُ سُؤَال تَقْرِير لِلْمُشْرِكِينَ عَلَى صِدْقك أَوْ فَقُلْنَا لَهُ اسْأَلْ وَفِي قِرَاءَة بِلَفْظِ الْمَاضِي {إِذْ جَاءَهُمْ فَقَالَ لَهُ فِرْعَوْن إِنِّي لَأَظُنّك يَا مُوسَى مَسْحُورًا} مَخْدُوعًا مَغْلُوبًا عَلَى عَقْلك {قَالَ لَقَدْ عَلِمْت مَا أَنْزَلَ هَؤُلَاءِ} الْآيَات {إِلَّا رَبّ السَّمَاوَات وَالْأَرْض بَصَائِر} عِبَرًا وَلَكِنَّك تُعَانِد

Scanned with

وَفِي قِرَاءَة بِضَمِّ التَّاء ﴿وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَا فِرْعَوْنُ مَثْبُورًا﴾ هَالِكًا أَوْ مَصْرُوفًا عَنِ الخير ﴿فَأَرَادَ﴾ فِرْعَوْن ﴿أَنْ يَسْتَفِزَّهُمْ﴾ يُخرج مُوسَى وَقَوْمه ﴿من الأرض﴾ ارض مصر ﴿فأغرقناه ومن معه جميعا﴾ ﴿وقلنا من بعده لبني إسرائيل اسكنوا الأرض فإذا جاء وعد الآخرة﴾ أي السَّاعَة ﴿جِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا﴾ جميعًا أَنْتُمْ وَهُمْ ﴿وَبِالْحَقِّ أَنْزَلْنَاهُ﴾ أي القرآن ﴿وَبِالْحَقِّ﴾ الْمُشْتَمِل عَلَيْهِ ﴿نَزَلَ﴾ كَمَا أُنزلَ لَمْ يَعْتَرِهِ تَبْدِيل ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ﴾ يَا مُحَمَّد ﴿إِلَّا مُبَشِّرًا﴾ مَنْ آمَنَ بِالْجَنَّةِ ﴿وَنَذِيرًا﴾ مَنْ كَفَرَ بِالنَّار ﴿وَقُرْآنًا﴾ مَنصوب بِفِعْلٍ يُفَسِّرهُ ﴿فَرَقْنَاهُ﴾ نَزَّلْنَاهُ مُفَرَّقًا فِي عشرين سنة أو وثلاث ﴿لتقرأه على الناس على مُكْث﴾ مَهَل وَتُؤَدَة لِيَفْهَمُوهُ ﴿وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلًا﴾ شَيْئًا بَعْد شَيْء عَلَى حَسَب الْمَصَالِح ﴿قُلْ﴾ لِكُفَّارِ مَكَّة ﴿آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تؤمنوا﴾ تهديد لهم ﴿إن الذين أوتوا العلم من قبله﴾ قبل نزوله وهم مؤمنوا أهل الكتاب ﴿إذا يتلى عليهم يخرون للأذقان سجدا﴾ ﴿وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا﴾ تَنْزِيهًا لَهُ عَنْ خُلْف الْوَعْد ﴿إِنْ﴾ مُخَفَّفَة ﴿كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا﴾ بِنُزُولِهِ وبعث النبي صلى الله عليه وسلم ﴿لمفعولا﴾ ﴿وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ﴾ عَطْف بِزِيَادَةِ صِفَة ﴿وَيَزِيدُهُمْ﴾ الْقرآن ﴿خُشُوعًا﴾ تَوَاضُعًا لِلَّهِ وكان صلى الله عليه وسلم يقول يا الله يَا رَحْمَن فَقَالُوا يَنْهَانَا أَنْ نَعْبُد إِلَهَيْنِ وَهُوَ يَدْعُو إِلَهًا آخَرَ مَعَهُ فَنَزَلَ ﴿قُلْ﴾ لَهُمْ ﴿ادْعُوا اللَّهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ﴾ أَيْ سَمُّوهُ بِأَيِّهِمَا أَوْ نَادُوهُ بِأَنْ تَقُولُوا يَا اللَّه يَا رَحْمَن ﴿أَيًّا﴾ شَرْطِيَّة ﴿مَا﴾ زَائِدَة أَيْ أَيّ هَذَيْنِ ﴿تَدْعُوا﴾ فَهُوَ حَسَن دَلَّ عَلَى هَذَا ﴿فَلَهُ﴾ أَيْ لِمُسَمَّاهُمَا ﴿الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى﴾ وَهَذَانِ مِنْهَا فَإِنَّهَا كَمَا فِي الْحَدِيث اللَّه الَّذِي لَا إِلَه إِلَّا هُوَ الرَّحْمَن الرَّحِيم الْمَلِك الْقُدُّوس السَّلَام الْمُؤْمِن الْمُهَيْمِن الْعَزِيز الْجَبَّار الْمُتَكَبِّر الْخَالِق الْبَارِئ الْمُصَوِّر الْغَفَّار الْقَهَّار الْوَهَّاب الرَّزَّاق الْفَتَّاح الْعَلِيم الْقَابِض الْبَاسِط الْخَافِض الرَّافِع الْمُعِزّ الْمُذِلّ السَّمِيع الْبَصِير الْحَكَم الْعَدْل اللَّطِيف الْخَبِير الْحَلِيم الْعَظِيم الْغَفُور الشَّكُور الْعَلِيّ الْكَبِير الْحَفِيظ الْمُقِيت الْحَسِيب الْجَلِيل الْكَرِيم الرَّقِيب الْمُجِيب الْوَاسِع الْحَكِيم الْوَدُود الْمَجِيد الْبَاعِث الشَّهِيد الْحَقّ الْوَكِيل الْقَوِيّ الْمَتِين الْوَلِيّ الْحَمِيد الْمُحْصِي الْمُبْدِئ الْمُعِيد الْمُحْيِي الْمُمِيت الْحَيّ الْقَيُّوم الْوَاجِد الْمَاجِد الْوَاحِد الْأَحَد الصَّمَد الْقَادِر الْمُقْتَدِر الْمُقَدِّم الْمُؤَخِّر الْأَوَّل الْآخِر الظَّاهِر الْبَاطِن الْوَالِي الْمُتَعَالِي الْبَرّ التَّوَّاب الْمُنْتَقِم الْعَفُوّ الرَّءُوف مَالِك الْمُلْك ذُو الْجَلَال وَالْإِكْرَام الْمُقْسِط الْجَامِع الْغَنِيّ الْمُغْنِي الْمَانِع الضَّارّ النَّافِع النُّور الْهَادِي الْبَدِيع الْبَاقِي الْوَارِث الرشيد الصبور رواه الترمذي قال تعالى ﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ﴾ بِقِرَاءَتِك بِهَا فَيَسْمَعك الْمُشْرِكُونَ فَيَسُبُّوك وَيَسُبُّوا الْقرآن وَمَنْ أَنْزَلَهُ ﴿وَلَا تُخَافِتْ﴾ تُسِرّ ﴿بِهَا﴾ لِيَنْتَفِع أَصْحَابك ﴿وَابْتَغِ﴾ اقْصِدْ ﴿بَيْنَ ذَلِكَ﴾ الْجَهْر وَالْمُخَافَتَة ﴿سَبِيلًا﴾ طَرِيقًا وَسَطًا ﴿وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا ولم يكن له شريك فِي الْمُلْك﴾ فِي الْأُلُوهِيَّة ﴿وَلَمْ يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ﴾ يَنصرهُ ﴿مِنْ﴾ أَجْل ﴿الذُّلِّ﴾ أَيْ لَمْ يَذِلّ فَيَحْتَاج إِلَى نَاصِر ﴿وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا﴾ عَظِّمْهُ عَظَمَة تَامَّة عَنْ اتِّخَاذ الْوَلَد الشَّرِيك وَالذُّلّ وَكُلّ مَا لَا يَلِيق بِهِ وَتَرْتِيب الْحَمْد عَلَى ذَلِكَ لِلدَّلَالَةِ عَلَى أَنَّهُ الْمُسْتَحِقّ لِجَمِيعِ الْمَحَامِد لِكَمَالِ ذَاته وَتَفَرُّده فِي صِفَاته وَرَوَى الْإِمَام أَحْمَد فِي مُسْنَده عَنْ مُعَاذ الْجُهَنِيّ عَنْ رَسُول اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَقُول آيَة الْعِزّ ﴿الحمد لله الذي لم يتخذ ولدا ولم يكن له شريك في الملك﴾ إِلَى آخِر السُّورَة وَاَللَّه تَعَالَى أَعْلَم قَالَ مُؤَلِّفه هَذَا آخِر مَا كَمَّلْت بِهِ تَفْسِير الْقُرْآن الْكَرِيم الَّذِي أَلَّفَهُ الشَّيْخ الْإِمَام الْعَالِم الْمُحَقِّق جَلَال الدِّين الْمُحَلِّي

Scanned with

الشَّافِعِيّ رَضِيَ اللّٰه عَنْهُ وَقَدْ أَفْرَغْت جهدى وبذلت فيه فكرى فى نفائس اراها ان شاء الله تجدى والفته فى مدة قدر ميعاد الكليم وجعلته وسيلة للفوز بجنات النعيم وهو فى الحقيقة مستفاد من الكتاب المكمّل وَعَلَيْهِ فِي الْآيِ الْمُتَشَابِهَة الِاعْتِمَاد وَالْمُعَوَّل فرحم الله امرءا نَظَرَ بِعَيْنِ الْإِنْصَاف إِلَيْهِ وَوَقَفَ فِيهِ عَلَى خَطَأ فَأَطْلَعَنِي عَلَيْهِ وَقَدْ قُلْت:

حَمِدْت اللّٰه رَبِّي إِذْ هَدَانِي :: لِمَا أَبْدَيْت مَعَ عَجْزِي وَضَعْفِي

فَمَنْ لِي بِالْخَطَإِ فَأَرُدّ عَنْهُ :: وَ مَنْ لِي بِالْقَبُولِ وَ لَوْ بِحَرْفِ

هَذَا وَلَمْ يَكُنْ قَطّ فِي خَلَدِي أَنْ أَتَعَرَّض لِذَلِكَ لِعِلْمِي بِالْعَجْزِ عَنْ الْخَوْض فِي هَذِهِ الْمَسَالِك وَعَسَى اللّٰه أَنْ يَنْفَع بِهِ نَفْعًا جَمًّا وَيَفْتَح بِهِ قُلُوبًا غُلْفًا وَأَعْيُنًا وَآذَانًا صُمًّا وَكَأَنِّي بِمَنْ اعْتَادَ الْمُطَوَّلَات وَقَدْ أَضْرَبَ عَنْ هَذِهِ التَّكْمِلَة وَأَصْلهَا حَسْمًا وَعَدَلَ إِلَى صَرِيح الْعِنَاد وَلَمْ يُوَجِّه إِلَى دَقَائِقهَا فَهْمًا ﴿وَمَنْ كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلْءَاخِرَةِ أَعْمَىٰ﴾ رَزَقَنَا اللّٰه بِهِ هِدَايَة إِلَى سَبِيل الْحَقّ وَتَوْفِيقًا وَاطِّلَاعًا عَلَى دَقَائِق كَلِمَاته وَتَحْقِيقًا وَجَعَلَنَا بِهِ ﴿مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَ وَحَسُنَ أُو۟لَٰٓئِكَ رَفِيقًا﴾ والحمد لله وحده وصلى الله على سيدنا محمد وأله وصحبه وسلم تسليمًا كثيرًا وحسبنا الله ونعم الوكيل قال مؤلفه عامله الله بلطفه فرغت مِنْ تَأْلِيفه يَوْم الْأَحَد عَاشِر شَوَّال سَنَة سَبْعِينَ وَثَمَانِمِائَةٍ وَكَانَ الِابْتِدَاء فِي يَوْم الْأَرْبِعَاء مُسْتَهَلّ رَمَضَان مِنْ السَّنَة الْمَذْكُورَة وَفَرَغَ مِنْ تَبْيِيضه يَوْم الْأَرْبِعَاء سَادِس صَفَر سَنَة إِحْدَى وَسَبْعِينَ وَثَمَانِمِائَةٍ

ترجمه: او موسى عليه السلام ته مونږ نهه معجزې بالكل واضحه وركړې وې، او هغه دادې ①يد بيضا②عصا③طوفان④ملخان⑤سپږې⑥وينه⑦د اموال هلاكت⑧قحط او د ميوو كمې، اې محمد ﷺ ته خپله د موسى (ع) په باره كښې د بنى اسرائيل نه تپوس اوكړه، دا سوال ددوى په صداقت باندې د مشركينو نه د اقرار په توګه دې، يا مونږ موسى عليه السلام ته اووئيل چې د فرعون نه د بنى اسرائيلو د خلاصى سوال اوكړه، او په يو قراءت كښې سئل دماضى صيغې سره دې، يعنى سوال ئې اوكړو چې كله هغه دوى ته راغلو نو فرعون موسى عليه السلام ته اووئيل څه تا لره جادو كړې شوې يعنى مغلوب العقل، ګنړم، موسى عليه السلام اوفرمائيل اې فرعون ته پوهه يې، چې د بصيرت نه ډكې ننښې د اسمانونو او د زمكې مالك نازل كړې دى، خو ته په دشمننى او عناد باندې راغلې او په يو قراءت كښې د تاء د ضمې سره دې، اې فرعون څه خه پوهيږم چې ته به يقينا هلاك كړې شې، يا به د هر خير نه محرومه كړې شې، اخر فرعون اراده اوكړه چې موسىٰ او د هغه قوم د مصر د ملك نه بهر كړى، نو مونږ هغه او د هغه ټول ملګرى غرق كړل، ددې نه پس مونږ بنى اسرائيلو ته اووئيل چې تاسو هم په دې زمكه كښې اوسيږئى، بيا چې كله آخرت يعنى د قيامت وعده راشى، نو مونږ به تاسو او دا ټول حاضر كړو، او مونږ قرآن لره په رشتيا سره نازل كړې دې، او په حقه سره هغه نازل شو، څنګه چې راليږلې شوې وو په حق باندې مشتمل كيدو سره، په دې كښې څه قسم تبديلى نه ده شوې او مونږ تا اې محمد ﷺ د ايمان راوړونكو د پاره د جنت خوشخبرى اورولو والا او كافرانو

Scanned with

لره د اور نه ويرولو د پاره راليږلې يئ، او مونږ قرآن لږ لږ ۲۰ يا ۲۳ کالو کښې نازل کړو، چې ته خلقو ته لږلږ واوروې، يعنی په قلاره او وقفې سره، چې هغوی پرې پوهه شی، او مونږ دا لږ لږ نازل کړو يعنی پرله پسې، د مصلحت مطابق، تاسو کافرانو ته اووايئ چې که تاسو دا منئی يا نه منئ دا ددوی د پاره تهديد دی، بې شکه هغه خلق چاته چې د قرآن دنازليدو نه مخکښې علم ورکړې شوې وو او په اهل کتاب کښې هغه خلق دی چا چې ايمان راوړې وو، چې کله دوی ته قرآن لوستلې شی نو هغوی پر مخې په سجده کښې پريوزی، او وائی چې زمونږ رب پاک دې، يعنی د وعده خلافی نه د هغه د پاره پاکی ده، او زمونږ د رب دا د قرآن نازلولو او دنبی د بعثت وعده بې شکه پورا کيدو والا ده، او هغوی په ژړا سره پر مخ په سجده پريوزی د زيادت د صفت سره په ماقبل کښې يعنی په يخرون باندې د صفت د زياتيدو سره عطف دې، او قرآن الله د پاره ددوی عاجزی او خشوع و خضوع زياتوی، او د الله رسول به يا الله يا رحمن وئيلو، نو مشرکانو اووئيل چې مونږ خو ددوو معبودانو نه منع کوې او په خپله الله سره بل معبود رابلی، نو دا راروان آيت نازل شو تاسو دوی ته اووايئ چې الله وئيلو سره اواز کوئی يا رحمن وئيلو سره، يعنی د هغې په دې دواړو کښې چې کوم نوم هم غواړئی نوم کيږدئ، او هغه ته يا الله يا يا رحمن وئيلو سره اواز کوئی، په دې دواړو نومونو کښې چې کوم سره هم اواز کوئی تول ښه نومونه د هغه دی، ايا شرطيه ده، (ما) زائده ده، دا دواړه نومونه هم د هغې نه دی.

الله تعالی اوفرمائيل او نه ته خپل مونځ په ډير اوچت اواز سره لوله، يعنی په مونځ کښې خپل قراءت، ځکه چې ستا قراءت به مشرکين واوری نو هغوی بهٔ تاپسې او قرآن پسې بدې ردې وائی، او هغه ذات ته هم چا چې دا نازل کړې دې، او نه په پټ اواز سره وايه، چې ستا ملګری فائده واخلی، د اوچت او پټ دواړو په مينځ کښې لار اختيار کړه، او اووايه چې تول تعريفونه الله لره دی، چې نه اولاد لری او نه د هغه په عبادت کښې څوک شريک شته، او نه هغه کمزورې دې، چې د هغې د وجه نه هغه ته د مددګار ضرورت وی، يعنی هغه کمزورې نه دې، چې هغه ته د مددګار حاجت وی، او ته د هغه پوره پوره لوئ بيانوه، يعنی ته د هغه د اولاد نيول، د شريک او د کمزورئ نه او د هر هغه څيز نه کوم چې د هغه د شان سره مناسب نه وی، د هغه لوئې والې بيان کړه، او په صفات عدميه باندې د حمد مرتب کول، ددې دلالت د وجې دې چې هغه د تولو تعريفونو د خپل کمال ذات او په صفاتو کښې د منفرد کيدو د وجې مستحق دې.

امام احمد په خپل مسند کښې د معاذ جهنی رضي الله عنه په سند سره د نبی کريم ﷺ نه روايت کړې دې چه هغوی ﷺ اوفرمائيل چه آيت دعزت د: الحمد لله الذي لم يتخذ ولدا، نه تر آخر د سورت پورې دې. (والله أعلم).

Scanned with

دي مؤلف اوفرمائيل: دا آخري جزء دې چه په دې باندې د قرآن عظيم هغه تفسير مكمل ددې چه امام علامه محقق جلال الدين المحلى شافعي رحمه الله تاليف كړې دې، او ما په شو كوم په كښې خپل پوره طاقت لګولې دې او ما ددې په نكتې راويستلو كښې خپل پوره ذهنى قوت خرچ كړې دې، اې مخاطبه! زه ګنړم چه ته به ددې نه فائده واخلې، انشاء الله، او ما دا دموسى كليم الله (دقيام) مقدار يعنى په ۴۰ ورځو كښې تاليف كړو، اوما دا په جنت نعيم كښې دكاميابئ ذريعه جوړه كړه، اودا حصه (اول نصف) په حقيقت كښې دكتاب دهغه حصې (دويم نصف) نه مستفاد دې كوم چه مكمل شوې دې، اود متشابه آيتونو په باره كښې ما هم په دغه (دويم نصف) باندې اعتماد او بهروسه كړې ده، الله تعالى دې په هغه سړي باندې رحم اوكړي څوك چه دې ته دانصاف په نظر سره اوګوري اوكه هغه په دې كښې په څه غلطئ باندې پوهه شي نوما دې دهغې نه خبركړي، اوما دا شعر اووئيلو (په بعضو نسخو كښې لفظ د شعر نشته).

ترجمه: ما دخپل رب حمد بيان كړو څكه چه هغه ماته دهغه څيز توفيق راكړو چه هغه ما دخپلې عاجزئ او كمزورئ باوجود شروع كړو، څوك چه زما غلطى ښكاره كړي نو زه به رجوع كوم (يعنى اصلاح به كوم) اوڅوك چه ماته د قبوليت (عند الله) خوشخبرى راكوي اګرچه يوحرف ولې نه وي (زه به دهغه شكريه اداكوم).

(هذا) أي خذ هذا، اودا خبره زما به زړه كښې بالكل نه وه چه زه به دا كار شروع كوم، په دې لارو كښې دغور او فكر كولونه د عجز نه د خبرتيا په وجه، د الله تعالى د ذات نه اميد دې چه هغه به ددې په ذريعه ډيره نفع راكوي، اوهغه به ددې په ذريعه بند زړونه او ړندې سترګې او كانړه غوږونه كهلاؤ كړي، ګويا چه زه دهغه سړي پشان يم چه هغه ته د مطولات (لويو لويو كتابونو د مطالعې) عادت وي او حال دادې چه دهغې تكمله اودهغې اصل (يعنى مكمَّل اومكمِّل) نه ئې مخ اړولې وي، او صريح عناد طرف ته ئې مخ اړولې وي، اود پوهيدو دپاره دې دواړو طرف ته متوجه شوې نه وي، نوڅوك چه ددې ړوند پاتې شو نوهغه به د نورو نه هم ړوند پاتې كيږي، الله مونږ ته ددې (قرآن) په ذريعه دحق لارې توفيق راكړو او ددې (قرآن) د كلماتو په باريكتيا باندې ئې د پوهيدو اود تحقيق كولو توفيق راكړو، (اود الله نه دعا ده) چه مونږ ددې په وجه دهغه خلقو سره كړي چا باندې چه الله انعام كړې دې او هغه انبياء او صديقين او شهداء او صالحين دي، او دا حضرات د رفيق كيدو په اعتبار سره بهترين رفيقان (ملګري) دي. او ټول تعريفونه د الله وحده لاشريك له دپاره دي، او زمونږ په سردار محمد ﷺ باندې دې د الله د طرفه بې شميره درود اوسلام وي، او الله زمونږ دپاره كافى بهترين كارساز دې، مؤلف رحمه الله ، الله دې ددوي سره د لطف اوكرم معامله اوكړي، اووئيل: زه ددې دتاليف نه د شوال په

میاشت ۸۷۰ هـ د اتوار په ورځ فارغ شوم، او(د تالیف) ابتدا مې د رمضان په شروع کښې د چهارشنبې په ورځ په هم دې کال کښې کړې وو، اوددې د تبییض (نظرثانی) نه فراغت په ۶ صفر د چهارشنبې په ورځ ۸۷۱ هـ کښې اوشو.

د قیوداتو فوائد اوتسهیل

قوله: تقریر: دا اضافه ددې سوال جواب دې، چې حضور ﷺ ته خو معلومه وه نو بیا د سوال کولو څه ضرورت وو؟

جواب: دا سوال د استفهام نه دې، بلکه سوال د تقریر دې.

قوله: قبل نزوله: نزول مضاف محذوف ګنړلو سره مفسر علام اشاره اوکړه چې د قبل القرآن مطلب دې قبل نزول القرآن او دا ممکن نه ده ځکه چې قرآن قدیم دې، لهذا ددې نه وړاندې د علم ورکولو څه مطلب نشته.

قوله: عطف بزیادة: دا ددې سوال جواب دې چې د یخرون للاذقان عطف په مخکښینی یخرون للأذقان باندې دې، چې د هغې د وجې نه معطوف او معطوف الیه متحد دی، حالانکه په دې دواړو کښې مغائرت پکاردې؟

جواب: په معطوف کښې د یبکون صفت اضافه ده، چې د هغې د وجې نه اتحاد باقی پاتې نه شو.

قوله: اي شئ: په دې کښې اشاره ده چې په ایا کښې تنوین د مضاف الیه په عوض کښې دې نه چې د ندا په معنی کښې.

قوله: فهواحسن: په دې کښې اشاره ده چې ایاما د شرط جزاء محذوف ده، او په حذف باندې دلالت کونکې فله الاسماء الحسنی دې جزاء حذف کولو سره دال برجزاء ددې قائم مقام کړې شو.

قوله: لمسماهما: په دې کښې اشاره ده چې د فله ضمیر مسمی محذوف طرف ته راجع ده، نه چې اسم طرف ته ګنی د اسم د پاره به اسم لازم شی.

قوله: ترتیب الحمد علی ذلك للدلالة علی أنه المستحق..الخ: دا عبارت د یو سوال مقدر جواب دې:

سوال: دادې چه حمد وائی دچا د ښه اختیاری کار تعریف ته (الحمد هو الثناء علی الجمیل الاختیاری) مذکوره آیت: قل الحمد لله الذی لم یتخذ ولدا ولم یکن له شریك فی الملك، ولم یکن له ولی من الذل» په دې آیت کښې درې اوصاف مذکور دی او درې واړه سلبی دی ایجابی نه دی، حالانکه حمد په وصف ایجابی باندې کیږی په سلبی باندې نه کیږی، ځکه چه په سلبی باندې تنزیهه وی.

Scanned with

جواب: په لكمال ذاته سره ددې اعتراض جواب دې چه مذكوره درې واړه سلبى صفات دهغې امكان نفى كوى كوم چه داحتياج مقتضى وى اوپه واجب الوجود لذاته باندې دلالت كوى، يعنى ټول دهغه محتاج دى هغه دچا محتاج نه دې، لهذا هم هغه دحمد مستحق دې (جمل).

د جواب حاصل دادې چه څرنګه د صفاتو په وجه مستحق دحمد وى دغسې د ذات په وجه سره هم مستحق دحمد وى، اود تمثيل په طريقه جواب دادې چه مذكوره درې واړه سلبى صفاتو كښې نعمت دادې چه دبادشاه كله ښځه اوبچى وى نو په غلامانو باندې دښځو او د بچو نه پاتې شوې خرچ كوى اوكله چه دهغه ښځه اوبچى نه وى نو بادشاه ټول احسانات او انعامات په غلامانو باندې خرچ كوى دغسې د ولد نفى غلامانو باندې د انعاماتو د زيادت مقتضى وى، اوپه نفى د شريک كښې نعمت دادې چه د شريک كيدو په نسبت د شريک نه كيدو په صورت كښې بادشاه په انعام وركولو كښې د مزاحم (مقابل) نه كيدو په وجه زيات قادر وى او د نفى د نصير په صورت كښې نعمت دادې چه د نصير نفى په قوت او استغناء باندې دلالت كوى او دا دواړه په زيات انعام باندې په قادر كيدو باندې دلالت كوى، په دې طريقې سره مذكوره درې واړه سلبى صفات ايجابى جوړيږى لهذا په دې باندې حمد بيانول صحيح دى.

قوله: آيت العز: يعنى الحمد لله الذى لم يتخذ ولدا (الآية) يعنى رسول الله ﷺ دې آيت ته د عزت آيت فرمائيلى دى چه څوک دا آيت پابندئ سره روزانه وائى الله تعالى به هغه ته عزت او شرافت وركړى، د وئيلو طريقه ئې داده چه اول به توكلت على الحى الذى لايموت، اووائى ددې نه پس دې روزانه ٣٥١ ځل روزانه قل الحمد لله الذى لم يتخذ ولدا ولم يكن له شريك فى الملك ولم يكن له ولى من الذل وكبره تكبيرا، پابندئ سره وائى. (حاشيه جلالين، صاوى)

قوله: قد افرغت فيه جهدى أى فى ما كملت به: يعنى د فيه ضمير ماكملت طرف ته راجع دې، دغسې د رزقنا الله پورې ټول ضميرونه ماكملت طرف ته راجع دى.

قوله: فى نفائس: دا د فيه نه بدل دې يا بيا په فى نفائس كښې فى په معنى د مع دې، أى مع نفائس، اود نفائس نه دقائق او حقائق او نكات نفيسه خوښ شوى مراد دى.

قوله: اراها: په همزه باندې فتحه او ضمه دواړه جائز دى، بمعنى أعلم وأظن، تمدى د أرى مفعول ثانى دې، او ها مفعول اول دې، أى أراها تمدى ان شاء الله جدوها، يعنى اې مخاطب زه پوهيږم چه دا نكات به تاته نفع در رسوى، كه الله اوغواړى چه دا تاته نفع در اورسوى. تمدى په معنى د تنفع.

Scanned with

قوله: وألفته في مدّة قدر ميعاد الكليم: يعني موسى عليه السلام چه څومره ورځې په کوه طور باندې مقيم پاتې شوي وو اوهغه موده څلويښت ورځې دی، د تاليف ابتداء د يکم رمضان نه اوشوه اوپه لسم دشوال باندې تکميل اوشو، او ددې مودې اظهار مفسر علام سيوطی د تحديث نعمت په طور باندې اوکړو، ځکه چه عام طور باندې په دومره لږه موده کښې دومره لوئې کار خلاف عادت دې، حالانکه دغه وخت د علامه سيوطی عمر ۲۲ کاله نه هم کم وو. (كما ذكره الكرخي) يعني هغه حصه کومه چه علامه سيوطی تاليف کړې ده.

قوله: وهو مستفاد من الكتاب المكمّل: علامه سيوطی رحمه الله دا د نفس د عاجزئ په طور باندې فرمائيلی دی.

قوله: عليه: يعنی د علامه محلی تاليف کړې شوې.

قوله: اذهداني: اذتعليليه ده، أي لأجل هدايته للذي ابديته واظهرته، او هغه تکمله مذکوره ده.

قوله: فمن لي بالخطاء أي من أظهرلي الخطاء: يعنی څوک چه زما غلطی ښکاره کړی زه به دهغې غلطئ نه رجوع کوم يعنی دهغې اصلاح به کوم.

قوله: اضرب، صفحًا: أي أعرض اعراضًا.

قوله: من كان في هذه: في په معنی د عن دې، أي من كان عن هذه اعمٰى يعنی څوک چه د جلالين د سابقه او لاحقه (د مخکينی او اوسنی) دواړو حصو نه بې خبره او ناپوهه وی هغه به د نورو کتابونو نه هم بې خبره او ناپوهه وی. فهو في الآخرة أعمٰى، دلته هم في په معنی د عن دې، اود آخرة نه مراد مطولات دی، مطلب دادې چه څوک ددې مختصر نه ناپوهه او ناخبره پاتې شی هغه به د مطولات نه هم محروم پاتې شی.

قوله: رزقنا الله: به ضمير قرآن طرف ته راجع دې، ددې نه پس نور ضميرونه هم قرآن طرف ته راجع دی، خو زياته مناسب د کلام د سياق سره مطابق دادی چه دا ضمير او ورپسې نور ضميرونه لما كمل به يعنی لاحصه حصې طرف ته راجع وی.

قوله: فرغت من تأليفه..الخ: علامه سيوطی فرمائی چه زه د نصف اول د تسويد نه په ۱۰ شوال د اتوار په ورځ ۸۷۰ هـ کښې فارغ شوم، اود تاليف ابتداء مې په يکم رمضان ۸۷۰ هـ کښې کړې وه، او ددې تبييض نه فراغت په ۶ صفر د چارشنبې په ورځ ۸۷۱ هـ کښې اوشو.

(تمت جلد الثاني)

Scanned with